هذا بيان للناس وهدى وموعظة للمتقين

# معراج الواعظين


تالیف:

الحاج مولوی گل رحمن حقانی فاضل دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

تصحیح و نظر ثانی: حافظ مولوی محمد ولي (بطلاني)


معراج الواعظين


ناشر: مکتبه فاروقیه
محله جنگی ۰ پشاور
فون: 2217161
موبائل: 0300-9007650



واٹس ایپ گروپ
کفایت دینی کتب خانہ
کفایت اللہ ابن صدیق
ٹیلی گرام واٹس نمبر
+923247442395
+923052488551
کفایت pdf واٹس ایپ ٹیلی گرام چینل دینی کتب خانہ


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

بسم اللہ الرحمن الرحیم

هَـٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ

# معراج الواعظین


تألیف : الحاج مولوی گل رحمن حقانی فاضل دارالعلوم حقانیہ اکوڑہ خٹک

تصحیح ونظر ثانی : حافظ مولوی محمد ولی (بغلانی)



ناشر

مکتبہ فاروقیہ محلہ جنگی پشاور

فون نمبر : ۲۲۱۷۱۸۱

موبایل : ۰۳۰۰۹۰۰۷۵۵۰



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# فهرست


| موضوع | صفحه |
|---|---|
| تقریظونه | ۱۳ |
| سریزه | ۱۶ |
| **دالله پاک پیژندل** | ۱۸ |
| دالله تعالی دوجود مسئله | ۱۸ |
| دالله تبارك وتعالی په وجود نقلی دلائل | ۱۹ |
| دالله تعالی په کائناتو کې تفکر | ۱۹ |
| دانسانانو دحواسو ادراکی کمزورتیا | ۲۰ |
| دالله تعالی په وجود عقلی دلائل | ۲۱ |
| دامام اعظم رحمه الله مستنده کامیابی | ۲۱ |
| دامام مالك اوامام شافعی رحمهما الله قناعت بخش دلائل | ۲۳ |
| دامام احمدبن حنبل رحمه الله یو دلکش دلیل | ۲۳ |
| دعالم په حدوث باندې معتمد دلائل | ۲۴ |
| دکمونستانو پوچه مفکوره | ۲۵ |
| دالله تعالی دوحدانیت مسئله | ۲۶ |
| په معاملاتو اواخلاقو باندې دایمان اثر | ۲۷ |
| دکامل ایمان نښې | ۲۸ |
| دایمان خوږوالي حاصلول | ۲۸ |
| دالله تعالی په وحدانیت نقلی دلائل | ۲۸ |
| دالله تعالی په وحدانیت عقلی دلائل | ۲۹ |
| دالله تعالی دصفاتو مسئله | ۳۱ |
| دالله تعالی ذاتی صفات | ۳۱ |
| دالله تعالی فعلی صفات | ۳۳ |
| دالله تعالی ثبوتی اوسلبی صفات | ۳۳ |
| **درسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت اواودهغه اطاعت** | ۳۴ |
| درسول الله صلی ابتدائی حالات | ۳۴ |
| دمحبت او اطاعت تلازم | ۳۶ |
| درسول محبت اوآزمایش | ۳۷ |
| دمحبت علائم | ۳۸ |
| درسول الله صلی الله علیه وسلم احسانات | ۳۸ |
| درسول الله صلی الله علیه وسلم دکمال او جمال اومال صفتونه | ۳۹_۴۰ |
| دمحبت لازمی نتیجه | ۴۰ |
| داطاعت صحیح طریقه | ۴۰_۴۱ |
| د أسوه حسنه مصداق | ۴۱ |
| درسول الله صلی الله علیه وسلم دژوند لنډه تاریخچه | ۴۳ |
| **دمؤمن معراج ((لمونځ))** | ۴۵ |
| دلمونځ دنیاوی او اخروی فوائد | ۴۵ |
| دلمونځ ددولسوزرو مسائلو انحصار په دولسو شیانو کې | ۴۶ |

دطبعي حقوق محفوظ دي

دکتاب نوم : معراج الواعظين
دمؤلف نوم : الحاج مولوی گل رحمٰن حقانی صاحب فاضل دارالعلوم حقانيه اکوړه خټك .
تصحيح اونظر ثاني : حافظ مولوی محمد ولی (بغلاني)
کمپوزنگ : حافظ مولوی محمد ولی (بغلاني)
ناشر : مکتبه فاروقيه محله جنگي پشاور
فون نمبر : ۲۲۱۷۱۸۱ موبايل : ۰۳۰۰۹۰۰۷۵۵۰
دمکتبي مدير : عبدالباري منيب (لغماني)



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

| موضوع | صفحه |
| --- | --- |
| **په احادیثوکې دلمونځ اهمیت** | ۴۸ |
| دتکبیراولی حیثیت | ۵۱ |
| دائمه وو فتواګانې | ۵۲ |
| دخلفاء راشدینو رضی الله تعالی عنهم | |
| سره دمونځ اهتمام | ۵۲ |
| دائمه اربعه سره دمونځ اهتمام | ۵۳ |
| دمونځ څخه استنباط شوې لارښوونې | ۵۴ |
| **داقتصادی نظام مهم جزء زکوٰة** | ۵۴ |
| داقتصادی نظام په ارتباط قرآنی | |
| لارښوونې | ۵۵ |
| داقتصادی نظام په ارتباط نبوی | |
| لارښوونې | ۵۷ |
| شدید وعیدات | ۵۷ ـ ۵۸ |
| دزکوٰة دورکړې اته آداب | ۶۰ |
| دزکوٰة دفرضیت حکمتونه | ۶۰ |
| په مقرره وخت کې دزکوٰة فوائد | ۶۲ |
| دحصول ثواب وسائل | ۶۲ ـ ۶۳ |
| **دجنت دروازه ((باب الریّان)) روژه** | ۶۵ |
| دروژې خواص او حکمتونه د آیاتونو | |
| او احادیثو په رڼا کې | ۶۶ |
| دروژې اهمیت | ۶۶ |
| جامعه اودلکشه خطبه | ۶۶ |
| نبوی صلی الله علیه وسلم خطبی | |
| باندې تبصره | ۶۸ |

| موضوع | صفح |
| --- | --- |
| دشب قدر دشپې اهمیت | |
| دپیشمنی اوروژه ماتی اهمیت | |
| ددریو لسیزو اهمیت | |
| دنںواتی ((اعتکاف)) اهمیت | |
| دروژې آداب اومنهیات | ۳ |
| په رمضان کې ددې أمت پنځه خواص | ۴ |
| **دعشق مظاهره ((حج))** | ۶ |
| دعشق مراحل | ۷۶ |
| دبیت الله تاریخچه | ۷ |
| دحج اوعمرې اهم مسائل | ۹ |
| دحج فوائد اوفضائل | ۱ |
| دروضی مطهری زیارت | ۸۲ |
| **غمخوار ملګرې ((علم))** | ۸۳ |
| دعلم روشنائی | ۸۳ |
| دمستوراتو لپاره دعلم مقدار | ۸۴ |
| دعلم ضرورت او اهمیت | ۸۵ |
| په جامعه کې دعلماؤحیثیت داحادیثوپه رڼاکې | ۸۶ |
| **سترمسؤولیت ((دعوت اسلامی))** | ۸۹ |
| سترمسؤولیت پیژندل | ۸۹ |
| په جامعه کې دمبلغ حیثیت اودده | |
| لپاره مهم آداب | ۹۰ |
| یوه مهمه نکته | ۹۲ |
| دسترمسؤلیت احساس | ۹۳ |
| بی علمه دعوت | ۹۵ |


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

| | |
|---|---|
| ددعوت اوتبليغ اهم اصول | ٩٦ |
| **نبوي صلى الله عليه وسلم هجرت** | ٩٧ |
| دهجرت پيژندل | ٩٨ |
| دهجرت آغاز | ٩٨ |
| عجيبه تضاد | ١٠٠ |
| غارثور كي دصديق اكبر رضي الله تعالى عنه حيثيت | ١٠١ |
| دمديني منورې دباشندگانو استقباليه | ١٠١ |
| دهجرت اهميت اوفوائد | ٢٠١ |
| **دنجات ذريعه ((جهاد))** | ١٠٤ |
| په اسلام كي دجهاد مقام | ١٠٥ |
| دټولنيز نظام مرجع | ١٠٥ |
| دجهاد اهداف | ١٠٥ |
| دجهاد آداب | ١٠٦ |
| جهادته يوه كتنه دآيتونو په رڼاكي | ١٠٧ |
| ديوصحابي عظيمه كارنامه | ١١٠ |
| دجهادفضيلت په احاديثو كي | ١١٢ |
| دخانه جنگي په ارتباط اسلامي لارښوونې | ١١٣ |
| **انساني زيور ((اسلامي اخلاق))** | ١١٥ |
| داخلاقو پيژندل | ١١٥ |
| داخلاقو درې اقسام | ١١٦ |
| دنبي اكرم صلى الله عليه وسلم اخلاق عظيمه | ١١٧ |
| دسيد الثقلين يوه جامعه نوښته | ١٢٠ |
| داجتماعي اخلاقو توضيح | ١٢١ |
| دمؤمنانه اخلاقو پيژندل | ١٢٢ |
| په مذمومه اخلاقو كې د دروغو قباحت | ١٢٣ |
| **دبرى راز ((اتفاق))** | ١٢٤ |
| په اسلام كي د اتفاق اهميت | ١٢٤ |
| داسلامي ورورولى فضائل دآيتونو او احاديثو په رڼاكي | ١٢٥ |
| داسلامي ورورولى شرائط | ١٢٦ |
| داسلامي ورورولى دتحكيم وسائل | ١٢٨ |
| دحقوقو آدائيگي | ١٢٩ |
| دمقاطعي حرمت | ١٣١ |
| داتفاق فوائد | ١٣٢_١٣٣ |
| **اقتصادي پلټنه حلاله گټه ((تجارت))** | ١٣٣ |
| په اسلام كي داقتصادي ستونزو حل | ١٣٣ |
| په اسلام كي دصناعت او دكسب اهميت | ١٣٥ |
| په اسلام كي دمزدوري اهميت | ١٣٥ |
| په اسلام كي دزراعت اهميت | ١٣٨ |
| په اسلام كي دتجارت اهميت | ١٣٩ |
| او دتجارت آداب | ١٣٩ |
| **كورني تشكيل ((نكاح، وليمه))** | ١٤٠ |
| په اسلام كي دكورنۍ تشكيل شريح | ١٤٠ |
| په كورنۍ تشكيل كي دمشر مسؤوليت | ١٤٠ |
| د ازدواج اهميت دآيتونو په رڼاكي | ١٤١ |


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

یوه عبرتناکه واقعه ............ ۱۴۴
دازدواج آداب ............ ۱۴۵
دمهر او ولیمې اسلامی ترتیب ............ ۱۴۶
ددعوت لپاره شرعی هدایت ............ ۱۴۷
**لویه معجزه ((قران مجید))** ............ ۱۴۸
دعظیمې معجزې تشریح ............ ۱۴۹
دتلاوت آداب ............ ۱۵۰
دقرآن کریم داعجاز دلائل ............ ۱۵۱
دیوعالم دین تبصره ............ ۱۵۲
دقرآن کریم فضائل داحادیثوپه رڼاکې ............ ۱۵۳
دقرآن کریم حقوق ............ ۱۵۴
دقرآن کریم جامعیت ............ ۱۵۵
دقرآن کریم داوریدلو فضائل ............ ۱۵۶
**دتصوف بنیادی اصل ((ذکر))** ............ ۱۵۷
دذکرپیژندل ............ ۱۵۷
په اسلام کې دذکر اهمیت ............ ۱۵۸
داسماء الحسنی فضائل ............ ۱۵۹
داسم اعظم تعرّف ............ ۱۵۹
د((سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيْمِ)) فضیلت ............ ۱۶۱_۱۶۲
د دریمې کلمې فضیلت ............ ۱۶۲
دابراهیم علیه السلام پیغام ............ ۱۶۲
د احادیثو تطبیق ............ ۱۶۳
**اسلامی همدردی (انفاق فی سبیل الله)** ............ ۱۶۴
داسلامی همدری تعرّف ............ ۱۶۴_۱۶۵
په اسلام کې داسلامی همدردی اهمیت ............ ۱۶۶
داصحاب کرامورضی الله تعالی عنهم دلکش واقعات ............ ۱۶۷
دمن او اذی توضیح ............ ۱۶۸
دصدقې فضائل ............ ۱۶۹
دصدقې فوائد ............ ۱۷۱
**انسانی حقوق ((بشردوستی))** ............ ۱۷۲
په اسلام کې دبشردوستی تشریح ............ ۱۷۲
د والدینو حقوق ............ ۱۷۳
دخاوند اوښځې حقوق ............ ۱۷۳
دخپلوانو حقوق ............ ۱۷۵
دګاونډیانو حقوق ............ ۱۷۶
دیتیمانو حقوق ............ ۱۷۸
دمیلمنوحقوق ............ ۱۷۹
دعامومسلمانانوحقوق ............ ۱۸۰
دحیواناتو حقوق ............ ۱۸۱
**حسن پرستی ((شرعی حجاب))** ............ ۱۸۳
په اسلام کې دشرعی حجاب تشریح ............ ۱۸۳
دسیدنا فاروق اعظم رضی الله تعالی عنه دغیرت اجابت ............ ۱۸۳
دښځو لپاهره خصوصی آداب ............ ۱۸۴
دنظر دحفاظت فوائد ............ ۱۸۸
دبدعملی سزاء ............ ۱۹۰
**اسلامی حکومت (سیاسی کړنلاره)** ............ ۱۹۲
په اسلام کې دسیاسی کړنلارې تشریح ............ ۱۹۲

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

دووټ ((رایه گیری)) شرعی حیثیت ...... ۱۹۳
دامیر دانتخاب اهمیت ............ ۱۹۵
دامیر مسؤولیتونه ............ ۱۹۶
دصدیق اکبر رضی الله تعالی عنه
جامعه بیانیه ............ ۱۹۷
د رعیت مسؤولیتونه ............ ۱۹۸
**دزندگی طریقه یعنی ((اداب))** ......... ۱۹۹
په اسلام کې د آدابو تشریح .......... ۱۹۹
دلس فطرتی شیانو توضیح .......... ۱۹۹
دنظافت اوخوراك څښاك آداب ......... ۲۰۲
دمجلس آداب ............ ۲۰۴
دسفر آداب ............ ۲۰۵
ضروری نکته ............ ۲۰۶
دکالیو آداب ............ ۲۰۸
**نبوی صلی الله علیه وسلم معراج** ......... ۲۱۰
دمعراج تشریح ............ ۲۱۰
مهمه نکته ((تصویب)) ............ ۲۱۱
دبراق حکمت ............ ۲۱۲
دمعراج عجائبات ............ ۲۱۳
دسیدنا علی مرتضی رضی الله تعالی عنه
دښځو په ارتباط عجیبه روایات ......... ۲۱۴
دمسجد اقصی او آسمانونو
نندارہ ............ ۲۱۶
دمونځ فرضیت او اهمیت ............ ۲۱۸
مهمه نکته ............ ۲۱۹
**ژوره کتنه ((ددنیاحقیقت))** ............ ۲۱۹
ددنیا حقیقت ته یوه کتنه ............ ۲۱۹
په اسلام کې ددنیا حیثیت ............ ۲۲۰
یوه عجیبه مباحثه ............ ۲۲۳
دامام غزالی رحمه الله تبصره ............ ۲۲۵
دبزرگان دین په نظر کې ددنیا حقیقت ...... ۲۲۷
**لوئ نعمت ((حقوق الوالدین))** ............ ۲۲۸
په اسلام کې دوالدینو دحقوقو
تشریح ............ ۲۲۸
دمور حق ............ ۲۲۹
عجیبه واقعه ............ ۲۳۰
دمور او پلار دنافرمانی سزاء ............ ۲۳۲
دمرگ څخه وروسته د
والدینو حق ............ ۲۳۴
په مور او پلار باندې داولاد
حقونه ............ ۲۳۵
دعقیقې توضیح ............ ۲۳۶
لنډه تبصره ............ ۲۳۷
**دنفس داصلاح طریقه ((تقوی))** ............ ۲۳۸
په اسلام کې دتقوی حیثیت ............ ۲۳۸
دمراتبو توضیح ............ ۲۳۹
دامام غزالی رحمة الله علیه دځان اصلاح
ته یوه جامعه کتنه ............ ۲۴۰
په روح او جسد باندې دعلامه عمربن احمد
رحمة الله علیه یوه عجیبه تبصره ............ ۲۴۲


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

يوه مهمه نکته ...... ۲۴۲
دنفس په اوو (۷) مراتبوباندي دعلماء
تصوف څرګندوني ...... ۲۴۳
دتقوی موانع ...... ۲۴۴
دزړه ، غوږ اوژبې آفات ...... ۲۴۵
دسترګو .لاسونو ... آفات ...... ۲۴۶
دباقي بدن آفات ...... ۲۴۷
دعالم داصلاح موقوف علیه ...... ۲۴۷
**الهي مرسته ((دبدرغزاء))** ...... ۲۴۹
دبدر دغزاء تشریح ...... ۲۴۹
داصحاب کرامو رضی الله تعالی عنهم
دلکشه ویناګانې ...... ۲۵۰
مهمه نکته (دشوراهمیت) ...... ۲۵۰
دلشکربیرغچیان (علم برداران) ...... ۲۵۱
میدان جنګ کې مهمه خطبه ...... ۲۵۲
دسیدنامعوذ اوسیدنامعاذ رضی الله
تعالی عنهما جرأت ...... ۲۵۳
په اسلام کې دشهادت مقام ...... ۲۵۴
دشهادت انواع ...... ۲۵۴
**ممتاز شخصیتونه ((اصحاب کرام))**
(**رضی الله تعالی عنهم اجمعین**) ...... ۲۵۶
په اسلام کې دممتازو شخصیتونو حیثیت ...... ۲۵۶
دکمالات نبوت آیندار شخصیتونه ...... ۲۵۷
داصحاب کرامو رضی الله تعالی عنهم
مبارک عادات ...... ۲۵۸
داصحاب کرامو رضی الله تعالی
عنهم مقام ...... ۲۵۸
داصحاب کرامو رضی الله تعالی
عنهم فضائل ...... ۲۵۹
داصحاب کرامو رضی الله تعالی
عنهم مراتب ...... ۲۶۰
اُمهات المؤمنین رضی الله تعالی عنهن ...... ۲۶۱
بنات سیّد المرسلین رضی الله تعالی عنهن ...... ۲۶۱
داصحاب کرامو رضی الله تعالی عنهم
دژوند حالات ...... ۲۶۲
دسیدناابوبکرصدیق رضی الله تعالی
عنه ژوند ته یوه کتنه ...... ۲۶۲
دصدیق اکبررضی الله تعالی عنه ځینې
تاریخي کارنامې ...... ۲۶۳
دسیّدنا عمرفاروق رضی الله تعالی عنه
ژوند ته یوه کتنه ...... ۲۶۶
دسیدنا فاروق اعظم رضی الله تعالی
عنه سترخدمتونه ...... ۲۶۶
دسیّدنا عثمان ذی النورین رضی الله
تعالی عنه ژوندته یوه کتنه ...... ۲۶۸
دسیدنا ذی النورین عظیمې کارنامې ...... ۲۶۹
دسیدنا علی مرتضی رضی الله تعالی
عنه ژوند ته یوهکتنه ...... ۲۷۰
دسیدنا مرتضی رضی الله تعالی عنه
بې مثاله کارنامې ...... ۲۷۱


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

| | |
|---|---|
| **وجدانی محکمه ((فضائل، رزائل))** | ۲۷۲ |
| په اسلام کې دوجدانی محکمې تشریح | ۲۷۲ |
| دریښتیاؤ فوائد | ۲۷۲ |
| دسخاوت فوائد | ۲۷۳ |
| دعفت (پاکدامنی) فوائد | ۲۷۳ |
| د آمانت داری فوائد | ۲۷۴ |
| دحیاء فوائد | ۲۷۵ |
| ددروغو عواقب | ۲۷۶ |
| دمنافق علامات | ۲۷۶ |
| دبدګمانی اوبخل عواقب | ۲۷۸ |
| دچغل خوری سزاء | ۲۷۹ |
| دغلا وغیره سزا | ۲۸۰ |
| دخیانت سزاء | ۲۸۰ |
| په وزن کې دکمی زیاتی سزاء | ۲۸۱ |
| دحب ذات امراض | ۲۸۱ |
| دحسد اوتکبر نتائج | ۲۸۱ |
| **دحکمت ملغلری (دخدای خلقو خبري)** | ۲۸۲ |
| دحکمت دملغلرو تشریح | ۲۸۲ |
| دعلماء حق دولس علامې | ۲۸۳ |
| طلباء کراموته یوولس نصائح | ۲۸۶ |
| په یوه وینښته باندې دعارفینو تبصره | ۲۸۹ |
| داسلافو زرین اقوال | ۲۹۰ |
| **په اسلام کې تاریخی ورځ (جمعة المبارکه)** | ۲۹۱ |
| په اسلام کې دجمعې دورځی حیثیت | ۲۹۱ |
| دجمعې ځینې ضروری مسائل | ۲۹۲ |
| دجمعې دورځې فضائل | ۲۹۳ |
| دجمعې دلمونځ پرینبودونکی سزاء اودجمعې ځینې آداب | ۲۹۶ |
| **دیو والی پیغام ((وړوکې اختر))** | ۲۹۷ |
| دیو والی دپیغام تشریح | ۲۹۷ |
| داختر دشپو او ورځو فضائل | ۲۹۸ |
| داختر دلمونځ ضروری مسائل | ۳۰۱ |
| دصدقه فطر توضیح | ۳۰۱ |
| **دامتحان ورځ ((لوی اختر))** | ۳۰۳ |
| دامتحان دورځې تشریح او دعظیمې واقعې توضیح | ۳۰۳-۳۰۴ |
| دتشریق دتکبیرونو مسائل | ۳۰۶ |
| دقربانی فضائل | ۳۰۸ |
| داختردلمونځ ضروری مسائل | ۳۰۹ |
| **دمحرم الحرام میاشت** | ۳۱۰ |
| داسلامی تاریخ ابتداء | ۳۱۰ |
| دعاشورې دورځې تاریخی واقعات | ۳۱۱ |
| دعاشورې دورځی فضائل | ۳۱۲ |
| په اسلامی تاریخ کې دسیدنا امام حسین رضی الله تعالی عنه عظیمه قربانی | ۳۱۳ |
| په اسلام کې دماتم مذمت | ۳۱۷ |
| مهمه نکته | ۳۱۸ |
| **دظفر المظفر میاشت** | ۳۱۹ |
| حیرانوونکې واقعه | ۳۱۹ |
| دسیدنا یحیی علیه السلام دشهادت واقعه | ۳۲۰ |

دسيدنا زكريا عليه السلام دشهادت واقعه ............ ۳۲۲
دنبي ضمرؤ سره معاهده ............ ۳۲۳
په دې مياشت کې ځينې بدعتونه ............ ۳۲۴
**دربيع الاول مياشت** ............ ۳۲۵
دربيع الاول دمياشتې برکات ............ ۳۲۵
دنبي اکرم صلى الله عليه وسلم ژوند ته يوه کتنه ............ ۳۲۶
دانسانيت غمخوار صلى الله عليه وسلم عظيمه رهبري ............ ۳۲۹
**دربيع الثاني مياشت** ............ ۳۳۱
دسريه تشريح ............ ۳۳۱
دخليفه اورعيت اړيکوته يوه کتنه ............ ۳۳۲
په خيبرکې دحيدر رضى الله تعالى عنه دشجاعت مظاهره ............ ۳۳۴
دحضرت على رضى الله عنه زرين اقوال ............ ۳۳۶
د آيام بيض دروژې فضائل ............ ۳۳۶
**دجمادي الأولى مياشت** ............ ۳۳۸
تاريخي غزاگانو ته يوه کتنه ............ ۳۳۸
دبيرغچيانو دلاورى ............ ۳۴۰
دخالدبن وليد رضى الله تعالى عنه باحکمته رهبرى ............ ۳۴۱
**دجمادي الثاني مياشت** ............ ۳۴۵
دام المؤمنين سيده ام سلمه رضى الله تعالى عنه ژوند ته يوه کتنه ............ ۳۴۵
دام المؤمنين سيّده صفيه رضى الله تعالى عنها دژوند حالات ............ ۳۴۹
دښځو په حقله دبزرگانو اقوال ............ ۳۵۳
**درجب المرجب مياشت** ............ ۳۵۳
دحبشې دهجرت توضيح ............ ۳۵۳
دکافرانو ناکامې هلې ځلې ............ ۳۵۶
ددې مبارکې مياشتې فضيلت ............ ۳۵۹
**دشعبان المعظم مياشت** ............ ۳۶۰
ددې مياشتې دپنځلسمى اهميت ............ ۳۶۰
دتقدير دمسئلې تشريح ............ ۳۶۲
ددې مياشتى متعلق مسائل ............ ۳۶۵
**درمضان المبارک مياشت** ............ ۳۶۶
ددې مياشتى برکاتوته يوه کتنه خصوصًا دمکې مکرمې فتحه ............ ۳۶۶
دحاطب بن ابى بلتعه عجيبه واقعه ............ ۳۶۹
دسيدنا نبى کريم صلى الله عليه وسلم حسن سلوك ............ ۳۷۲
**دشوال المکرم مياشت** ............ ۳۷۳
دطائف تاريخى واقعه ............ ۳۷۳
داسلام دداعى مسؤوليتونه ............ ۳۷۶
دحُنين غزاکى جهادى تکتيکونه ............ ۳۷۷
د نبى اکرم صلى الله عليه وسلم شجاعت ............ ۳۷۹
دشوال دشپږوروژو فضيلت ............ ۳۸۰
**دذوالقعدى مياشت** ............ ۳۸۰
دحديبيى صلحه ............ ۳۸۱

| | |
|---|---|
| بیعت رضوان | ۳۸۲ |
| دمعاهدې سرتکی | ۳۷۴ |
| دسیدنا ابوجندل رضی الله تعالی | |
| عنه فداکاری | ۳۸۴ |
| دمسلمانانو ترمینځ دصلحې هدایات | ۳۸۶ |
| **دذوالحجې میاشت** | ۳۸۸ |
| ددې میاشتې فضائل | ۳۸۸ |
| عظیمه رهنمایي | ۳۸۹ |
| په عرفات باندې دسیدنا نبي کریم صلی | |
| الله علیه وسلم دخطبې غټ مطالب | ۳۹۱ |
| دعرفات دورځې مهم درسونه | ۳۹۳ |
| **دآخـرې اُمت افـتـخـارات** | |
| **«خصائص او امتیازات»** | ۳۹۵ |
| په اسلام کې دانسانانو امتیازي خصلت | ۳۹۵ |
| دامت محمدي صلی الله علیه وسلم | |
| درې قسمونه | ۳۹۷ |
| دآذان او اقامت فضائل | ۳۹۷ |
| داودس او تسمیه افتخارات | ۳۹۸ |
| دسیدنا ابوهریرة رضی الله تعالی عنه په | |
| روایت کې لوی افتخارات | ۳۹۸ |
| خصوصي افتخارات | ۴۰۱ |
| **دخطرناکونه «دقیامت علامې»** | ۴۰۱ |
| دقیامت درې قسمه علائم | ۴۰۲ |
| تیرې شوې علامې | ۴۰۲ |
| بنکاره شوې علامې | ۴۰۲ |
| **انتظاري علامې** | ۴۰۳ |
| **دسیدنا امام مهدي رحمة الله علیه** | |
| **معلوماتو ته یوه کتنه** | ۴۰۴ |
| ددجال علیه اللعنة دحالاتو ته تشریح | ۴۰۵ |
| دسیدنا عیسی علیه السلام نزول | ۴۰۸ |
| دیأجوج او مأجوج کار روایی | ۴۰۹ |
| **وړوکې قیامت «مرګ»** | ۴۱۲ |
| دمرګ لپاره تیاري | ۴۱۲ |
| په مړو باندې دژړا سزا | ۴۱۴ |
| دځنکدن حالات | ۴۱۵ |
| دقبر حالات | ۴۱۶ |
| یوه عجیبه واقعه | ۴۱۷ |
| **دنړانجو اعلان «یوم حشر»** | ۴۱۸ |
| دحشر دورځې تشریح | ۴۱۸ |
| دقیامت اول منظر | ۴۱۹ |
| دحشر په ارتباط توضیحات | ۴۱۹ |
| دشفاعت کبری تشریح | ۴۲۳ |
| دعملنامو تقسیم | ۴۲۴ |
| **اُخروي قرارګاه «جنت او دوزخ»** | ۴۲۵ |
| داُخروي قرارګاه تشریح | ۴۲۵ |
| دجنت نعمتونه | ۴۲۶ |
| دجنت بازارونه | ۴۲۸ |
| دجنت نهرونه | ۴۲۹ |
| دجنت مقامونه | ۴۳۰ |


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ددوزخ دحالاتو توضیح ........ ۴۳۰
ددوزخیانو حالات ........ ۴۳۱

**چراغ اُمت**

**((امام ابو حنیفة رحمة الله علیه))** ........ ۴۳۳
دامام اعظم رحمة الله علیه
ابتدائی حالات ........ ۴۳۳
دده دتابعیت ثبوت ........ ۴۳۴
دده مقام دسلفو په نظر کې ........ ۴۳۵
دامام اعظم رحمة الله علیه صفات ........ ۴۳۷
دامام اعظم رحمة الله علیه زیرکتیا ........ ۴۳۹
**ضمیمه خاتمه** ........ ۴۴۰
دخلوېښتو احادیثو دحفظ
فضیلت ........ ۴۴۰
ددوو اهمو احادیثو تشریح ........ ۴۴۰
دمحبت رسول صلی الله علیه وسلم
مقدار ........ ۴۴۱
دایمان تکمیل اود رد بدعت
توضیح ........ ۴۴۲
په مړی باندې دژړا اودمال
تشریح ........ ۴۴۳
دسحر اوماسخوتن لمونځونه په
منافقانو درانده وی ........ ۴۴۳
دبیت الله شریف تکریم ........ ۴۴۴
دذاکر، شاکر، صابر تشریح ........ ۴۴۴
دحلال کسب کوونکی فضیلت ........ ۴۴۵
دخائن اوسخت زړی تشریح ........ ۴۴۵
دښو اخلاقو اوفتنة النساء او عبث
تشریح ........ ۴۴۶
دحب الدنیا زیرکتیا اوزهد اوتوبی
تشریح ........ ۴۴۷
مجاهد. شهید اوغنی تشریح ........ ۴۴۸
دتدبر، بخل، بزدلی او سوال کولو
اوصله رحمی تشریح ........ ۴۴۹
دبخل اوبداخلاقی اوخدونکی
دروغجن تشریح ........ ۴۵۰
دپیشمنی چغلخوری تشریح ........ ۴۵۰
دمهمان نوازی، تکبر، لافې وهونکی
تشریح ........ ۴۵۱
دجهنم څخه دنجات اوجنت ته د
داخلیدو تشریح ........ ۴۵۲
دمؤلف اعتذار ........ ۴۵۳

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# تقریظ

للامام النبیل والشیخ الجلیل کاشف الاسرار الخفیة والجلیة مــاهرالعلوم العقلیــة والنقلیة فقیه العصر مفتی الاعظم محمد فرید مدظله العالی

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله والسلام علی عباده الذین اصطفٰی : امّا بعْد : فقد رأیت الکتاب المسمّٰی بمعراج الواعظین فوجدته نافعًا اسئل الله تعالیٰ ان یجعل نافعًا مقبولاً.

(محمد فرید عفی عنه)

# تقریظ

الشیخ المشائخ العظام فرد الواصلین الکرام صاحب المقامات والکرامات الشــیخ الحدیث بدارالعلوم تہل معزالحق دامت برکاتهم

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم وعلی آله وصحبه اجمعین ، اما بعد : فانی رأیت معراج الواعظین اللّٰهمّ اجعل هذا الکتاب هدایة للانام ونجاة لمصنفه

(معزالحق عفی عنه)

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# تقریظ

فضیلة الشیخ حضرت علامة صاحب الشجاعة حامل الشریعة والطریقة المحقق المدقق بقیة السلف مولانا عبد الستارجان نفع الله المسلمین بعموم فیضه شیخ الحــدیث ورئـیس المدرسین بجامعة العلوم الاسلامیة زرگری

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله وکفٰی والصّلوة والسّلامُ علیٰ عباده الذین اصطفٰی وبعد : فانی طالعت بعــض المباحث المهمة من معراج الواعظین الذی الفه اخونا فی الله مولانا گل رحمان فاعجبت بــه جدًا وادعو الله سبحانه وتعالی ان یتقبله بقبولٍ حسن وینفع به الطلبة والعلمآء والــواعظین وان یجعله هدایة للمسملین ومن الباقیات الصالحات للمؤلف المحترم حفظه الله تعالی .

(العبد الضعیف عبدالستار عفیٰعنه)

# تقریظ

للامام المحققین شیخ المدققین جامع المعقول والمنقول مجمع الکمالات العلمیة والعملیــة شیخ الحدیث بدارالعلوم حقانیه اکوړه خټک مغفورالله دامت برکاتهم

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله وکفٰی وسلامٌ علی عباده الّذین اصطفٰی :

اما بعد : فانی رأیت کتاب معراج الواعظین للمحقق الفاضل گل رحمان الجاجی الحقانی النقشبندی لم یتیسر لی مطالعته ولکن لاجل حسن الظن اقول واسئل الله تعالی ان یجعل هذا الکتاب هدایة للانام وزخرًا لمؤلفه لیوم الدین، آمین

احقرمغفورالله مدرس جامعه حقانیه اکوړه خټک

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# تقريظ

للفاضل المحقق والحبر المدقق ماهرالعلوم العقلية والنقلية الشيخ الحديث بجامعة منهاج العلوم نرياب هنگو باكستان الشيخ محمد معلم دامت بركاتهم.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين وعلى آله واصحابه الطاهرين

اما بعد : فانى قدسرحت نظرى على فهارس الكتاب الذى الفه اخونا فى الله العالم الفاضل مجمع الكمالات العلمية والعملية الواقف باحكام الشرية المحمدية وصاحب الاسرار السرية المولوى گل رحمان الحقانى وسماه بمعراج الواعظين فهو كتاب وافق اسمه لمسماه وجامع لجميع ما يحتاج اليه الواعظ وعامة المسلمين ووقاية لهم عن كثير ما اشتمل عليه كتب الوعظ من ادخالات الملاحدة والاحاديث الموضوعية اللّٰهُمَّ اجْعله زريعة جيدة لهداية الأُمّة المحمدية ونجاة كاملة لمؤلفه فى الدنيا والأخرة وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وعلى آله واصحابه وسلم اجمعين.

انا العبد الضعيف معلم خادم العلوم الاسلامية
بجامعة العلوم نرياب هنگو باكستان

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

# سریزه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِی اَلَّف بَیْنَ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِیْنَ بِاِخْوَةِ الْاِسْلاَمِ وَالْاِیْمَانِ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلاَمُ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ الْمَبْعُوْثِ فِی آخِرِالزَّمَانِ ، وَعَلٰی آلِه وَاَصْحَابِه الَّذِیْنَ جَاهَدُوْا فِی اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ بِالرُّؤُوْسِ وَالاَمْوَالِ وَاللِّسَانِ، وعَلٰی جَمِیْعِ مَنِ اقْتَدٰی بِهِمْ فِی تَبْلِیْغِ الشَّرِیْعَةِ الغَرَّاءِ فِی جَمِیْعِ الاَحْوَالِ وَالاَزْمَانِ ، اَمَّا بَعْدُ :

پس وائي بنده مفتقر الی الله الرحمن گل رحمن ځاځي والحقاني والنقشبندي والديوبندي بن الحاج عبدالرحمن الجاجي : دالله تعالى په لکونو او کروړونو شکر دی چه ما غوندي بی بضاعته اوکم علمه ته يې دا توفيق راکړو چه دمعراج الواعظين ترعنوان لاندي کتاب ټېلو مسلمانانو ورونو تـه تقديم کړم، پدې مختصر کتاب کی مې پنځوس موضوعگانی او يوه ضميمه دقرآن مجيد او احاديث نبوی (صلی الله عليه وسلم) او داکابرو دتحريراتو څخه را جمع کړل چه لوستونکي ته داسلام له اساساتو نه نيولي تر جهاد او حکومت کولو پوری لارې چارې په روښانه توگه ورپه گوته کوی او لوستونکی ته دانفرادی او اجتماعی ژوند زده کړه ورکوی او لوستونکی ته د اسلام دمقدس دين ترسيوری لاندی دپوهنې او معرفت داسی بله ډيوه په لاس کښې ورکوی چه خطباء کرام دجمعو پـه مبارکو ورځو کښې او مقررين حضرات پـه اجلاسو او جلسو کی

او طلباء عظام په انجمنونو کی ترینه استفاده وکړی، دعنواناتو کتلو په وخت
کی ښائی له لوستونکی سره دا پوښتنه پیداشی چه پدی موضوعګانو ولی
زیات تحقیق او مفصل بحث ندی شوی خوکه دا په نظر کښی ونیولی شی چه دا
دځو دقیقو تاکلی پروګرام مطالب دی نو دغه پوښتنه خو پخپله ځوابیدی شی کنه
نو دا ښکاره خبره ده چی هر عنوان دیو مستقل کتاب یا رسالی موضوع ده او
دمدرسی نعمانی کارونو او دقوم دقضاء ستونځو کښی مصروفیت هم ددی
فرصت رانکړ چی زه دعنوان پوره حق اداء کړم، په هرحال داد ((برګ سبز تحفه
درویش)) په توګه خپلو مسلمانانو ورونوته وړاندی کوم الله پاك جل جلاله دی
وکړی چه دا استفادی وړ وګرځی او دبنده دپاره ددین او دُنیا په لحاظ سره دخیر
اوبرکت صلاح او فلاح ذریعه وګرځی آمین بجاه سید المرسلین

(حقانی عفی عنه)

بسم الله الرحمن الرحيم

# دالله پاک جل جلاله پیژندل

محترمو مسلمانانو : عَالَمْ دالله پاك جل جلاله دوجود او دهغه دقدرت يو عظيم مظهر او دالله پاك جل جلاله دمعرفت يو لوی باب دی مونږ چه کله یو مصنوع وگورو نو دهغی دصانع علم مونږ ته حاصل شی بلکه دهغی دجلالت شان او دهغه دحکمت اوکمال علم اویقین هم ورسره راشي په دنیا کښ یو مصنوع داسی نشته چه دمولانا روم رحمه الله په قول «هیچ چیزی خودبخود چیزی نشد + هیچ آهن خود بخود تیغی نشد» پس مونږ پدی مقام کښ دری مسائل ذکر کوو : ۱ـ یو دالله پاك جل جلاله په وجود دلائل نقلی اوعقلی ، ۲ـ اودوهم دالله جل جلاله په وحدانیت دلائل نقلی اوعقلی ، ۳ـ او دریم دالله پاك صفات.

هرچه اوله مسئله ده نو مونږ پدی کلکه عقیده لرو چی دټولو کائناتو پیدا ایښت پداسی عجیب نظم او نسق سره لکه دکال دفصلونو ، دشپو او ورځو او دداسی نورو پدیدو په منظمه توگه راتلل دا ټول دلالت په دی کوي چه یوداسی پیدا کوونکی او مدبر ذات شته چه دغو کائناتو ته یی دپیدا ایښت یوخاص نظم او نسق ورکړیدی او دغه خالق ذات الله تعالی جل جلاله دی ، هغه هیچا ته محتاج ندی او همیشه داسی دی اوهمیشه به وی هیڅوك دهغه په شان «مثل» نشته.

**نکته** : ایمان په لغت کی دزړه باور او تصدیق ته وایی او په شریعت کی دزړه تصدیق ، باور او په یقین سره دټولو هغو شیانو منل دی چی رسول کریم صلی الله علیه وآله وسلم مونږ ته دالله جل جلاله له جانبه ښودلی دي ، ددی لپاره چه انسان په ټولنیزو چاروکی دیوه مسلمان په صفت وپیژندل شی او اسلامی احکام ورباندی اجراء شی ، دیوه لومړنی ضرورت په حیثیت په ژبه اقرار ورباندی یو لازم شرط دی دا امر دضرورت په وخت کی ساقطیږی لکه څوك چه دکفر دکلیمی په ویلو سره مجبور شی اویا گونگ وی پدی وخت کښی دزړه باور کافی بلل کیږی پدی هکله الله تعالی جل

جلاله په قرآن کریم کی داسی فرمایلی دی «إِلاَّ مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالإِيمَانِ» (سوره نحل) **ترجمه**: مگر هغه څوك چه مجبور کړی شی اوزړه یی داده وی په ایمان باندی.

## دالله تبارك وتعالی جل جلاله په وجود نقلی دلائل

الله رب الجلیل فرمائی: «إِنَّ فِي اخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللَّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَّقُونَ» (سورة یونس) **ترجمه**: بی شکه چه په تلو راتلو دشپی او دورځی کی او په هغه څیزونو کښ چه پیدا کړیدی الله پاك په اسمانونو کی او په ځمکه کی خامخا علامی دی دقدرت دالله پاك، لپاره د هغه قوم چه ویریږی دالله پاك جل جلاله څخه.

بل ځای ارشاد دی «وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ» (سورة روم) **ترجمه**: ﴿او (بعضی) دعلامو د(قدرت) دده نه پیداکول دآسمانونو دی او دځمکی دی او (بل) مخالفت دژبو ستاسو دی﴾ یعنی په دنیا کښ په دومره ژبو سره روزگار کیږی چه په شمار کی نه راځی او هریوشی په بیل بیل نوم ستایلی شی، دا هم یوه دتعجب خبره ده ﴿او (بل) مخالفت دی درنگونو ستاسی﴾ یعنی په سر دځمکی چه څومره خلق تیرشو او څومره چه حاضر دی او څومره چه به نور راځی نو پدی کی دهرچارنگ او شکل سره بیل بیل دی حالانکه دانسان په علم کښ به څومره رنگونه وی یعنی شین، سور، تور، وغیره، او کوم رنگونه چه د انسانانو دی نو ددی شمار دانسان په عقل او فکر کی نه راځی او د ښځو او دسړیو په رنگونو او آوازونو کی فرق دی او دهر فرد آواز دبل فرد دآواز څخه جدا او بل شان دی دا هم دتعجب خبره ده، خامخا علامی دی لپاره دعقل مندانو خلقو چه څوك عقل لری او پدی کی فکر په کار واچوی.

اوبل ځای ارشاد دی: «أَلَمْ يَرَوْاْ إِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرَاتٍ فِي جَوِّ السَّمَاء مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلاَّ اللَّهُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ» **ترجمه**: ﴿آیا نه گوری دا خلق دغو مرغانو ته چه

تابع کړی شویدی الوتو ته په هوا دآسمان کی، نه ساتی دوئ په دی هوا کی مګر الله جل جلاله﴾ یعنی پدی هوا کی چه دا رنګ رنګ مرغان الوزی چه ورو ورو خی او تیز هم خی او خمکی ته نژدی هم خی او ډیر اوچت هم تللې شی نو په دوئ کی دا ماشین ګیری چا لګولی ده او دا په هوا کی طاقت چا ورکړی دی؟، نو الله جل جلاله فرمائی بیشکه پدی کار کی خامخا علامی دقدرت دالله تعالی دی لپاره دهغه قوم چه ایمان راوړی په الله جل جلاله او دهغه په رسول باندی، او پدی دریو مبارکو آیتونو باندی اکتفا وکړئ (لانّ الغرفة تدل علی البحر...).

قال شیخ محمد الجامی: بدانکه ائمه کلام علماء اسلام رحمهم الله متفق اند بر آنکه حقیقت ذات حق سبحانه وتعالی مدرك عقول واوهام ومعلوم خاص وعام نیست بلکه عقل همه عاقلان وفکر همه عارفان در پیدای الوهیت او سرگردان وحیران است وهمه از ادراك عظمت وکبریاء اوعاجز وقاصر اندوبعدگفت وازینجاست که رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمود: ((تفکروا فی آلائه ولاتفکروا فی ذاته)) یعنی په انسانی حواسو سره هم دالله پاك پیژندل ناممکن دی ځکه چه دانسان قوت باصره ((یعنی دلیدلو قوت)) ډیر کمزوری دی حتّی چه دډیرو حیواناتو څخه هم کمزوری دی انسانی نظر په تیاره کی کارنه ورکوی او دپیشو او مږی نظر په توره تیاره کی هم کار کوی تپوس دلس میله څخه لری مرداره لیدی شی، دانسان ((قوت سامعه)) داوریدو طاقت هم ډیر ضعیف دی ((ګڼی)) چه کوم ځناور سره وروسته خښیږی بعضی خلك ورته شینی وایی دوه ځلویښت میله پوری معمولی آواز اوری، مخکی زمانه کی به چه غلو قافله لوټ کوله نو ځان سره به یی کونی واخستلو اوپه لاره کی به یی پری خودلو چه هغه به کوم طرف ته روان شو نو دوئ به پوه شول چه له دی طرف څخه قافله را روانه ده نو دوئ به هم هغه طرف ته روان شول اوقافله به یی لوټ کړه، دانسان ((قوّت شامه)) هم معمولی ده، میږی ((چونټی)) ته دری ملیه څخه دیوبوئ پته لګیږی اوورپسی ورځی انسان ددی په نسبت ډیر کمزوری دی، په حقیقت کی دالله تعالی دذات پیژندل دادی چه په زړه کی راځی او په سوچ او سمجھ کی نه راځی، داکبر آبادی رحمه الله په قول:

تو دل میں تو آتا ہے سمجھ میں نہیں آتا
بس جان گیا میں تیری پہچان یہی ہے

دالله تعالی وجود زمونږ په زړه کی راځی مگر دهغه حقیقت او کیفیت په ویلو کی نه راځی ددی مثال په شان د روح دی چه په انسان وغیره کی روح موجود دی لکه څنگه چه روح دجسم او جهت څخه پاك دی دغه رنگی الله تعالی هم د جسم او جهت څخه منزّه او پاك دی، دروح په شان ده ته هم اشاره نشی کیدی چه فلانکی مقام کی موجود دی، البته دکائناتو په ذره ذره کی ددوئ جلوه موجوده ده ((وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ)) **ترجمه** : ﴿هغه ستاسو سره دی په هرځای کی چه یاستئ﴾ یعنی په هرځای کی درسره موجود دی ، او په حدیث شریف کی راځی چه (( رأس العلم معرفة الله تعالی))، الله تعالی دی په صحیح طریقی سره مونږ ته خپل معرفت نصیب کړی.

## دالله تبارک وتعالی په وجود عقلی دلائل

دا هرڅه پدی باندی شاهدی وایی چه دغه ټول نظام یو منتظم اویو مدبر لری او دعقل خاوند انسان هیڅکله دا نشی منلی چه دغه ټول نظام دی بی له کوم منتظم او دمدبر نه دکروړونو کلونو په اوږدو کی همدغسی وچلیږی او هیڅ کومه نیمگړتیا دی پکی رانشی اونه دی دلمر او سپوږمئ ستورو او سیاروڅرخ او گردش کی څه توپیر راشی یو پوه او عقلمند انسان خو لا دا هم نشی منلی چه څوك ورته ووایی چه په فلانی بازار کی یو دوکان دی چه دوکاندار یی نشته نه پکی څوك مال متاع اچوی نه یی څوك خرڅوی خو دا په خپله چلیږی او په خپله مال او متاع راځی او په خپله یی خریدارانو لپاره وړاندی کیږی، لکه یوعمارت بغیر دمعمار څخه نشی جوړیدی نودومره لوی کائنات څنگه بغیر دجوړونکی او پیدا کوونکی څخه پیدا شول.

۱ ـ داموی خلیفه مهدی په دربار کی یو ځل یودهری اعلان وکړو چه زه دالله جل جلاله وجود نه منم، دا جهان په خپله پیدا دی که څوك بحث کول راسره غواړی زه حاضر یم، امام ابوحنیفة رحمه الله پدی وخت کی لوئ عالم وو بلکه حافظ حدیث او داکابرو مجتهدینو څخه وو ، امام شافعی رحمه الله فرمایی چه امام ابوحنیفة رحمه الله په فقه کی مسلم وو که څوك فقه زده کوی نو د هغوئ شاگردی دې وکړی، دتاریخ

بغداد صفحه ۳۴۶، جلد ۱۳، کی دی چه هغه ته دمهدی له طرف نه طلاع اوشوه چه
دربار ته ددی دهری دچپ کولو او مناظری لپاره راشه! امام صاحب رحمه الله ورته
اوفرمائل ته څه! څه درځم، استازی دربار ته واپس راغلو او دهغوئ دراتلو خبر یی
ورکړو چونکه په بغداد کی ددریایی دجله په یو طرف شاهی محلات وو. بل طرف ته
شهری آبادی وه امام ابو حنیفة صاحب رحمه الله هم پدی ښار کی اوسیده. نو هغوئ
رحمه الله دربار ته په راتلو کی قصداً تاخیر وکړو. ټول دربار او میلمانه په انتظار وو.
دهری هم په ډیره خوشحالئ سره دخپلی کامیابئ دعوی کولی. حتّی چه امام صاحب
دشپی ناوخته تشریف راوړو، بادشاه او حاضرینو یی تعظیم وکړو خلیفه مهدی ورته
دتاخیر په باب پوښتنه وکړه نو امام صاحب رحمه الله په ځواب کی ورته اوفرمائل چه
یوه عجیبه واقعه وشوه چه کله زه دربار ته دحاضریدو په غرض را روان شوم او د
دریاب غاړی ته را ورسیدم نو کشتئ نه وه، زه حیران شوم چه اوس به په کومه طریقه
پوری خواته پوری وځم، پدی وخت کی ددریاب څخه تختې راووتی هغه پخپله
یوځای شوی کشتئ ترینه جوړه شوه او زما طرفته را روانه شوه او زما څنګ ته
اودریده چه گویا زما سپرول غواړی زه پکی کیناستم نو دا کشتئ په خپله روانه شوه
او محل سره اودریده زه ترینه کوز شوم او بیا هغه کشتئ غائبه شوه زه په سوچ کی
پری وتم چه دا څه قصه ده نو پدی وجه زه په تاخیر سره راورسیدم. دهری وویل امام
صاحب داخو تا صریح دروغ وویل او داخو تا دماشومانو خبری وکړی دا څنګه کیدی
شی چه تختې دی پخپله یوځای شی میخونه دی پری ووهلی شی بیا دی په خپله را
روانه شی او تا دی، دی محل سره کوز کړی آخر ددی جوړونکی نشته چلونکی یی
نشته؟ اوبغیر دجوړونکی او چلونکی څخه جوړیدل او چلول ناممکن دی. امام صاحب
ورته جواب ورکړو چه ښه یوه کشتئ بغیر دجوړونکی نه نشی جوړیدی اوبغیر
دچلوونکی نه نشی چلیدی نو دومره لویه کارخانه دعالم چه پدی کی په کروړونو
مخلوقات دی، نمردی، سپوږمئ ده، ځناور دی، انسانان دی، آسمانونه دی، زمکی
دی، دا ټول په خپله پیدا شول؟ ضرور ددی جوړونکي او چلوونکي موجود دی چه هغه
الله پاک جل جلاله دی نو اوس اووایه چه ته دماشومانو خبري کوې او که زه. مناظره

ختمه شوه او هغه دهری مغلوب شو.

**نکته**: انسان که سوچ وکړی نو قدم په قدم باندی دهغه دوجود ثبوت موجود دی دهغه وجود او معرفت ددلائلو محتاج ندی بلکه زړه کی دننه یو فطرت دی چه هغه دا وایی چه دده جهان جوړونکی موجود دی چلونکی موجود دی.

۲_ دامام شافعی رحمه الله په باره کی راځی چه دهغه څخه چا تپوس وکړو چه تا الله پاك څنګه وپیژنده؟ هغه ورته وفرمائیل چه ما دتوت دپاڼی څخه وپیژنده چه کله دا پاڼه چیلۍ «بزه» وخوری نو پچې ترینه جوړی شی اوچه کله یی دریښمو چینجی وخوری نو ریښم ترینه جوړشی او چه کله یی اوسۍ «غرڅه» وخوری نو مشك ترینه جوړشی اوچه کله یی دشهدو مچۍ وخوری نو شهد «ګبین» ترینه جوړ شی ګویا دیو څیز څخه مختلف حقیقتونه جوړیږی، دا دپاڼی طبعیت هرګز ندی، پاڼه خو صرف یو کار کولی شی ضرور ددینه بره «سیوا» یو جوړوونکی موجود دی چه هغه قادر مطلق ذات دی چه کله ترینه یوشی جوړوی اوکله بل شی، هغه ذات ته الله پاك ویلی شی.

۳_ امام مالك رحمه الله څخه چا دالله پاك جل جلاله دثبوت په باره کی پوښتنه وکړه، هغه ورته وفرمائیل چه دهرانسان شکل، عمر، اخلاق، علم او آواز کی فرق دی دا صرف دهغه عظیم قوت فعل دی چه هغه ته الله تعالی ویلی شی، بیا ددوئ لپاره دژوندون اسباب او ضروریات تیارول داصرف دپروردګار عالم کار کیدی شی دا دبل چا دوس کار ندی، لکه چه یو سالك فرمایی:

برګ درختان سبز در نظر هوشیار

هر ورقه دفتریست معرفت کردګار

ددی عالم ذره ذره دالله تعالی دربوبیت نظاره پیش کوی، په دنیا کی شپږ ویشت زره کسان په یو ساعت کی پیدا کیږی، او اتلس زره په یو ساعت کی مری مګرپه دوئ کی دا دومره فرقونه راوستل داصرف دقادر مطلق فعل کیدی شی.

۴_ دامام احمدبن حنبل رحمه الله څخه چا پوښتنه وکړه چه تاته څنګه معلومه ده چه الله پاك موجود دی اوهغۀ دا عالم پیدا کړی دی، هغه جواب ورکړو چه ما په دنیا

کی دسپینوزرو یو محل ولیدلو چه په هغه کی هیڅ قسم سوراخ (سوری)، دروازه یاروشندان وغیره نشته بیا په هغی کی دننه دسرو زرو محل جوړ دی، په هغی کی هم سوراخ (سوری) وغیره نشته په دی دواړو محلاتو کی نه څوك دننه ورتلی شی اونه دننه والا بهر ته راوتلی شی، ما اوکته چه نا ځاپه هغه محل وچاودیده او له هغه څخه یو جاندار راووت او هغه داسی کار شروع کړو چه هغه تجربه کار ځناور کوی، زه پوهه شوم چه ضرور څوك پدی محل کی جوړونکی او هغه ته تعلیم ورکوونکی موجود دی چه هغه الله پاك جل جلاله دی، خلقو پوښتنه وکړه چه حضرت! داسی محل کوم ځای کی موجود دی؟ هغه ورته وفرمائیل چه دا هګۍ ((انډه)) ده چه هغه دچاندۍ محل دی په دی کی دننه زیړ دسرو محل دی او اچانك (ناګهانه) شل ورځی وروسته هګۍ ماته شوه بچې ترینه راووت او فوراً یی دزړو چرګو په شان خوراك هم شروع کړو، پدی محلاتو کی بند تعلیم خودل دا صرف د ذوالجلال والاکرام کار دی دا ځکه چه په هګۍ ((انډه)) کی بچی پیدا کول دچرګو په هګو باندی دناستی پابند کول دبچی دجوړیدو وخت معلومول دا ټول الهامی دی اوهغه ملهم الله پاك جل جلاله دی.

۵ـ پدی جهان کی یومکمل نظام موجود دی، پدی جهان کی هرشی خپله خپله وظیفه ترسره کوی لکه چه یو مِل اوکارخانه کی یونظام دی او دهری پُرزی خپله خپله وظیفه وی او هره پُرزه هم هاغه خپله وظیفه پوره کوی پوره کوی او دغور اوفکرنه وروسته دا معلومیږی چه دا نظام ددی جهان قابل د زوال دی مثلاً ددی جهان دسپوږمۍ څخه یوه کیلو ماده راوړل ممکن دی نو په متعددو مراتو کی دټولی سپوږمۍ ختمیدل اودنظام قمری زوال هم ممکن شو او چه دځمکی څخه یو کیلو ماده وړل ممکن دی نو په متعددو مراتو کی دټولی ځمکی ختمیدل او دنظام ارضی زوال هم ممکن شو او چه دیو کیلو اوبو څخه بخارات جوړیدل ممکن دی نو دټولو اوبو څخه بخارات جوړیدل او داوبو ختمیدل هم ممکن شو او چه دیو انسان مړه کیدل ممکن دی نو دټولی نوعی انسانی ختمیدل هم ممکن شو، همدارنګه لمر، سپوږمۍ وغیره.....، او دا قاعده ده چه کوم شی په زمانه حال او مستقبل کی قابل دزوال وی او ددوام قابلیت نلری نو په زمانه ماضی کی به هم ددوام ازلیّت قابلیت نلری. نو عالم

حادث شو ازلي او ابدلي ندي، دا عالم پيدا شويدی آيا پيدا كوونكی يی يوجُز ددی جهان دی؟ نه هيڅكله نه، چه هركله دا ټولو جهان معدوم وو نو جز به يی هم معدوم وی نو پيدا كول به څرنگه وكړی، او ټول اجزاء هم پيدا كوونكی ندی ځكه چه ټول جهان معدوم دی نو اجزاء يی معدوم دی او معدوم پيدا كول نشی كولی نو دا لازمه ده چه دجهان پيدا كوونكی به داسی ذات وی چه ددی جهان څخه به خارج وی لكه كارخانی څخه چه جوړوونكی خارجي ذات وی، نو ددی جهان پيدا كوونكی هم خارجي ذات دی چه هغه الله تعالی دی.

**نكته**: دغسی نور دلائل هم په سلهاوو زرهاوو موجود دی، نه يوازی داچه يو دعقل لرونكی انسان ددغو چارو خودبخود سرته رسيدل په هيڅ شان نشی منلی بلكی كه څوك دغه خبری ورته كوی ضرور به دهغه په ليونتوب اوجهالت باندی فيصله صادره كړی اوس راشه وگوره چه دكمونيزم دجاهلی اوحيوانی فلسفی وحشی پيروان تركومی اندازی پدغه ليونتوب اوداعصابو په خرابی كی اخته دی، كمرنستان وايی دا ځمكه آسمان وغيره خودبخوده پيدا شوی دی څوك يی پيدا كوونكی نشته پخپله چليږی څوك مدبر او چلوونكی يی نشته.

ړوند كوڼ بی حسه بی شعوره طبعيت ددی ټولو شيانو پيدا كوونكی گنی اونه الله جل جلاله منی اونه دالله جل جلاله كتاب منی اونه پيغمبر منی نه يی لارښوونی منی، نه مذهب منی نه شريعت اونه اخوت منی نه مكافات اومجازات منی، بلكه دوئ دهغه متل مصداق دی چه وايی «ديوانه بده ميخندد، ده به ديوانه» دغه جاهل وحشی ليونيان هغه چاته دليونی نسبت كوی چه هغه دالله جل جلاله په وجود او وحدانيت او دالله جل جلاله په كتاب او پيغمبر او دآخرت په راتلو او ددنيوی عملونو په تصفيه او حساب باندی عقيده لری، كمونستان دالله پاك حبيب (صلی الله عليه وسلم) ته دسرمايه دارو گوډاگی وايی، قرآن ته ارتجاعی فلسفه او زوړكتاب وايی، مذهب ته دملتونو افيون او ترياك وايی، مسلمانانو ته دمرتجعينو لقب وركوی او خپل ځان ته دمترقی؟ ددوئ په حيوانی فلسفه كی چه كوم شی ته ارزښت اوخاص اهميت وركول كيږی بلكی دكوم شی پر بنسټ باندی چه كمونستی نظام په ظاهره دروول شويدی

کی دښو او بدو په نوم او دحلالو
هغه اقتصاد دی او ځنګه چه په کمونستی قاموس کی ښتی نوم او عناوین نشته نود اقتصاد
او حرامو په نوم او دظلم او عدل په نوم سره خطونه او عناوین نشته نود اقتصاد
تقویی لپاره یی هم داسی اصول وضع کړیدی چه دظلم، طبقاتی کشمکش، خونریز
جنګونو، انسان وژنی او غصب اولوټماری له لاری باید عملی شی، کمونستان
دشپیتو کلونو په اوږدو کی دبی علمه او کم عقله او په عین حال کی دغریبو خلکو
دغولولو لپاره دکورکالی ډوډئ شعارونه ورکړل خوتر اوسه پوری نه یوازی دا چه په
کمونستی تولنو کی دغریبو په اقتصادی حالت کی دکتنی وړ کوم بدلون رانغی بلکی
پدغه شعار سره یی په زرګونو لکهونو بیوزله خواران دګیډی قربان کړل پداسی حال
کی چه دکمونستانو په وړاندی اصل هدف دانه وو، بلکه اصل هدف دادی چه له دغی
ځمکی نه داسلام نور «خدای مکړه» ورك کړی خود الله جل جلاله ددین پتنګان وایی
چه اسلام له مینځه نه ځی بلکه که الله جل جلاله غوښتی وی نو یو وخت به داسی
راشی چه دکمونیزم شیطانی سره بیرغونه به نسکور شی او په ځای به یی د اسلام
ځلانده بیرغ رپانده وی، انشاء الله تعالی.

**دویمه مسئله دوحدانیت**: هرڅوك مکلف دی چه الله تعالی په وحدانیت
او یو والی سره وپیژنی اوداسی عقیده اوباور ولری چه لوئ الله جل جلاله یودې او
هیڅ شریك اوساری نلری پخپل ذات اوصفاتو کی یوازی او بی ساری دی یوازی
همدغه لوئ الله جل جلاله د عبادت او بندګی وړدی دبشپړ اوکامل قدرت خاوند دی
او د ایمان بالله مفهوم پدی حدیث شریف کی واضح شوی دی: «قَالَ اَتَدْرُوْنَ مَاالاِيْمَانُ
بِاللهِ وَحْدَهُ قَالُوْا اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ اَعْلَمُ، قَالَ شَهَادَةُ اَنْ لاَّ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ وَاَقَامِ
الصَّلٰوةِ وَاِيْتَاءِ الزَّكٰوةِ وَصِيَامِ رَمَضَانَ» [مشکوة شریف] **ترجمه**: رسول کریم صلی الله علیه
وسلم دقبیلی عبدالقیس نماینده جماعت څخه پوښتنه وکړه، تاسو پدی پوهیږئ چه
په یو الله جل جلاله دایمان راوړلو څه مطلب دی؟ هغوئ عرض وکړو چه الله جل جلاله
او دهغه رسول (صلی الله علیه وسلم) ښه پوهیږی، نو رسول کریم صلی الله علیه وسلم
ورته وفرمائیل چه ایمان دادی چه سړی ددې حقیقت ګواهی ورکړی چه دالله پاك څخه

سیوا بل معبود نشته او محمد (صلی الله علیه وسلم) دالله پاك رسول دی، لمونځ په صحیح طریقه اداء کړی، زکوة ورکړی او درمضان روژی ونیسی.

**نکته**: دژوند په معاملاتو دایمان اثرپدی حدیث کی څرگندشویدی.

((عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَلَّمَا خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِلاَّ قَالَ لاَ اِیْمَانَ لِمَنْ لاَ اَمَانَةَ لَهُ وَلاَدِیْنَ لِمَنْ لاَ عَهْدَ لَهُ)) ل[مشکوٰة المصابیح] **ترجمه**: حضرت انس رضی الله تعالی عنه فرمایی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم کله هم خطبه ورکړیده نو هغه کی یی ضرور فرمایلی دی چه په چا کی امانت نه وی او په چاکی دوعدی لحاظ نوی نوپه هغه کی ایمان او دین نوی. ددی ارشاد مطلب دادی چه کوم سړی د الله جل جلاله حقوق او دبندگانو حقوق چه دهغی پوره تفصیل دالله کتاب کی موجود دی نه اداء کوی نو هغه دایمان دپوخوالی نه محروم دی اوڅوك چه دیوی خبری قول اواقرار وکړی بیایی نه پوره کوی نو هغه ددینداری دنعمت څخه محروم دی. دچاپه زړه کی چه دایمان جرړی مظبوطی سره ځم شوې وی هغه دټولو حقوقو په ادائیگی کی امین وی، دهیچا دحق په اداء کولو کی هغه خیانت نه کوی دغه شان په کوم سړی کی چه دینداری وی هغه ترمرگه پوری وعده نه ماتوی، معلومه دی وی چه دټولو څخه لوئ حق دالله تعالی دی او دهغه درسول (صلی الله علیه وسلم) دی، دهغه دکتاب دی او دټولو څخه لوئ عهد دادی چه سړی یی خپل الله سره اودهغه دنبی سره اودهغه دنبی دراوړلی شوی دین سره کوی.

**په اخلاقو دایمان اثر**: ((عَنْ عَمْرِوبْنِ عَبَسَةَ قَالَ قُلْتُ یَارَسُوْلُ اللهِ مَاالاِیْمَانُ قَالَ الصَّبْرُ وَالسَّمَاحَةُ)) [مسلم]. ترجمه: حضرت عمروبن عبسة رضی الله عنه فرمایی مادنبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چه ایمان څه ته وایی؟ نو حضور اوفرمائیل ایمان دصبر او سماحت نوم دی، یعنی ایمان دادی چه دخپل ځان لپاره سړې دالله تعالی لار غوره کړی او په دی لاری کی چه ورته څه مصیبت پیښ شی هغه برداشت کړی او دالله جل جلاله په داد مخ په وړاندی ځی ((داصبر دی)) اوڅوك چه خپله گټه دالله جل جلاله په محتاج اوبی اسری خلقو باندی خالص دالله جل جلاله

درضا لپاره خرچ کوی اودی خرچ سره خوشحالی محسوس کوی ((نو دا سماحت دی)) او دسماحت نوم دنرم خوئی او عالی ظرفی په معنی کی هم استعمالیږي.

**دکامل ایمان نښې**: ((قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَحَبَّ لِلّٰهِ وَاَبْغَضَ لِلّٰهِ وَاَعْطَى لِلّٰهِ وَمَنَعَ لِلّٰهِ فَقَدْ اسْتَكْمَلَ الايمَانَ)) [ابوامامة] ترجمه: پیغمبر صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو چاچه دالله جل جلاله لپاره دوستی وکړه او دالله لپاره یی دښمنی وکړه دالله لپاره یی ورکړه وکړه، او دالله لپاره یی دیوڅیزممانعت وکړو نوهغه خپل ایمان مکمل کړلو مطلب دا چی محبت اونفرت دخپل ذاتی غرض لپاره نوی بلکه صرف دالله لپاره او دهغه ددین لپاره وی چه دا حالت یی جوړشی نوپوهه شه چه ایمان یی مکمل شولو.

**دایمان خوږوالی حاصلول**: ((قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاقَ طَعْمَ الاِيْمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا وَبِالاِسْلَامِ دِيْنًا وَبِمُحَمَّدٍ رَّسُوْلاً)) [متفق علیه عن ابن عباس رضی الله عنه] **ترجمه**: دایمان مزه هغه چا واخسته چه ألله جل جلاله خپل رب ومنی، اسلام خپل دین ومنی او دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم دپیغمبری په تسلیم کولو راضی شولو، یعنی خپل ځان یی دالله تعالیٰ په بندگی کی ورکړو او داسلامی شریعت پیروی یی قبوله کړه او دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په رهنمائی مطمئن شولو نو دکوم سړی چه دا حال شی نو پوهه شه چه هغه دایمان خوږوالي بیاموندہ.

## دالله تبارک وتعالی دوحدانیت دلائل

**نقلی دلائل**: **الف**: ((قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ)) (سورة اخلاص) **ترجمه**: ووایه ای محمده (صلی الله علیه وسلم) دوئ ته، شان دادی چه الله جل جلاله یودی، په ذات اوصفاتو خپلو کی، الله جل جلاله بی پروا دی، الله جل جلاله ته هرشی محتاج دی، نه یی زیږولی ((هیڅوک)) اونه دی زیږولی شوی ((له هیچانه)) اونشته دغه الله جل جلاله لره برابر سیال

((هیڅوك)).

ب : ((لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ)) (سورة انبیاء) **ترجمه** : کچرې وی پدغه آسمان اوځمکه کی نور معبودان ((حاکمان)) بې له الله جل جلاله څخه نو خامخا وران شوی به وو دواړه (په سبب داختلاف ددوئ عادتًا) نو پاك دی الله جل جلاله چه رب دعرش دی له هغو نالائیقو شیانو څخه چه دوئ یې ورته صفتوی.

ج : ((وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ)) (سوره بقره) **ترجمه** : ﴿اومعبود ستاسی معبود یو دی نشته بل څوك لائق دعبادت مګر همدا هو (یعنی پخپله) دی مهربان او پوره رحم لرونکی دی﴾.

**عقلي دلائل** : الله پاك جل جلاله یودی هیڅ ساری اوشریك نلری فرض محال کچرې دوه خدایان فرض کړی شی که یو له دوئ څخه وغواړی چه کوم شی جوړ کړی او دوهم یې دجوړولو مخالفت وکړی که لوسړی په جوړولو دهغه شی قادرشی اودوهم عاجزشی نو هغه خدای نشی کیدی ځکه عجز له خدای سره نه ښایی اوکه لومړی په جوړولو دهغه شی قدرت پیدا نکړی او دوهم یې په مخنیوی کی قادر شی نو داهم خدای نه شو ځکه چه مغلوبیت اوعجز خدای پاك ته نشی ثابتیدلی، الله پاك جل جلاله له هرقسم عیبونو او نقصونو څخه پاك او منزه دی، واحد او لاشریك دی، قرآن کریم دغه مطلب ته داسی اشاره کړیده ((لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا)) (سوره انبیاء) **ترجمه** : ﴿کچیری وی پدغه آسمانونو اوځمکه کی نور معبودان (حاکمان) بی له الله جل جلاله نه نوخامخا وران (رنګ) شوی به وو دواړه ((په سبب داختلاف ددوئ عادتًا))﴾ دتوافق صورت هم ناممکن اومحال دی ځکه که فرض محال دټول مخلوق لپاره دوه خدایان فرض کړی شی اوپه خپل منځ کی دوئ اتفاق وکړی چه دجهان ټولی چاری او امور به په ګډه توګه او په اتفاق سره سرته رسوو، داصورت هم باطل دی ځکه

پدی صورت کی داختلاف امکان شته او په امکان داختلاف دیو ددوئ کی دعجز امکان راځی او حقیقت دادی چه الله جل جلاله دعجز له امکان څخه پاك او منزه دی . او همدارنگه اتفاق دعجز له وجهی څخه کیږی او الله تعالی له عجز څخه مبرّاء دی.

**نکته** : دشرك څخه ځان ساتل پکاردی ځکه چه شرك دانسان لپاره یوه لویه بدبختی ده ځکه چه الله تعالی فرمائی : ((إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ)) (سوره نساء) بل ځای ارشاد فرمایی : ((وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا)) (سوره نساء) بل ځای ارشاد فرمایی : ((وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ ٱلطَّيْرُ)) (سوره حج) ، یعنی په شرك والاو باندی جنت حرام دی، نو چه جنت پری حرام شو نو ددوئ ابدی ځای جهنم شو او شرك داسی شی ندی چه یوه جنډه ده او دنصرانی او یهودی په سر ولاړه ده ، عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمایی چه : شرك یوتورمیږی دی په توره شپه کی یعنی څرنگه چه تورمیږی په توره شپه کی نه معلومیږی همدا رنگه شرك په اعمالو کی پټ دی نه معلومیږی یعنی دمثال په طور رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی چه ریا شرك دی او دغه رنگی مضمون د سورت نساء هم دی نو الله تعالی فرمایی چه دا خلق خیرات ، صدقه کوی په خپلو مالونو کی لپاره دځان ښودنی خلقو ته او ایمان نه راوړی په الله جل جلاله او په ورځی دقیامت باندی نو هندو سترپی او خدای ناراضه . ځکه چه سړی جهاد وکړی یا حج یا لمونځ وکړی یا مال وغیره صدقه کړی او نیت کی یی خلقو ته دخپل ځان ښودنه وی، نو دځان څخه دی خبر شی چه په بلا گرفتارشو ، ((یا الله زمونږ نیك اعمال خالص ستا درضاء مطابق کړی او هغه کارونه ته رانه واخلی چه په هغی ته خوشحالیږی اللهم آمین))

(فقیرگل رحمٰن حقانی عفی عنه)

## دریمه مسئله د الله تبارک وتعالی صفات

الله جل جلاله فرمايي: ((وَلِلَّهِ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ فَٱدْعُوهُ بِهَا)) (سوره اعراف) **ترجمه**: ﴿او خاص الله جل جلاله لره دی ټول نومونه ډيرښه، نو وبولئ دغه الله په همغو ښو نومونو سره﴾ له پورتينو دلائلو او قرائنو څخه دا معلومه شوه چه د ټولو ممكناتو دوجود او پيدايښت سلسله يوازی او يوازی يو واجب الوجود او لوئ خدای ته رسيږی نو لازمه خبره ده چی ددی داسی عالم او جهان خالق هرومرو دعالی او كمالی صفاتو خاوند دی او دټولو عيبونو او نواقصو څخه ضرورتًا پاك او منزّه دی.

**دالله جل جلاله صفات په دوه ډوله دی**: ۱_ ذاتی صفات، ۲_ فعلی صفات:

**اول دالله جل جلاله ذاتی صفتونه**: هغه صفتونه دی چه ثبوت يی دلوئ الله جل جلاله لپاره ضرور وی او الله جل جلاله دهغو صفاتو په ضد او نقيض سره نشی موصوف كيدلی، ذاتی صفات اوه (۷) دی: ۱_ حيات، ۲_ قدرت، ۳_ علم، ۴_ كلام، ۵_ سمع، ۶_ بصر، ۷_ اراده.

۱_ **حيات**: پس حيات دالله تعالى هغه ازلی صفت دی چه خپل محل صالح دعلم گرځوی او په ذات دالله تبارك وتعالی پوری قائم او قديم دی مرگ چه د حيات ضد دی هيځكله الله تعالى ته نشی راتلی دثبوت دليل يی دا آيت كريمه دی ((هُوَالْحَيُّ لَاۤاِلٰهَ اِلاَّ هُوَ)) (سوره مؤمن) **ترجمه**: ﴿همدی ژوندی دی، تل په يو حال باقی دی، دكامل تدبير والادی، نشته بل هيڅوك لائق دعبادت مگر همدا الله جل جلاله دی يوازی﴾.

۲_ **قدرت**: دالله پاك جل جلاله هغه ذاتی صفت دی چه په وجرد او عدم داشياؤ كی مؤثر او په ذات دالله تعالى پوری قائم او قديم دی، ضد يی عجز ((ناتوانی)) ده، نو الله تعالى هيځكله د ناتوانی په صفت نه موصوفيږی او دهيڅ شی له كولو څخه عاجز ندی، ددی صفت دثبوت لپاره دا آيت كريمه دی ((اِنَّ اللّٰهَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْر)) (سوره بقره) **ترجمه**: ﴿بی شكه الله تعالى دی په هرشی چه اراده وفرمائی ښه قادردی﴾

۳_ **علم**: دالله پاك جل جلاله هغه ازلی صفت دی چه په ذات دالله تعالى پوری قائم

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

دی، اومبدء دکشف داشیاؤ دی که موجود وی او که معدوم وی او دالله تعالی صفت
علم دی ددی صفت ضد ناپوهی ده نوالله تعالی هیڅکله د ناپوهئ په صفت نه
موصوفیږی او هیڅ شی له علم ده څخه دباندی یعنی بهر ندی اوددی صفت دثبوت
لپاره دلیل دا آیت کریمه دی «اِنَّ اللّٰهَ کَانَ بِکُلِّ شَیْئٍ عَلِیْمًا» (سوره نساء) **ترجمه**: ﴿بیشکه الله جل جلاله دی په هرشی ښه عالم، ډیر دانا﴾
۴_ **کلام**: دالله پاك جل جلاله هغه ازلی صفت دی چه دالله تعالی په ذات پوری
قائم اوقدیم دی کلام لفظی یی اثراوورباندی دال (دلالت کوونکی) دی، ددی صفت
ضدگونگوالی دی، الله تعالی ته هیڅکله داگونگوالی نشی ثابتیدلی اودثبوت دلیل یی
دا آیت کریمه دی «وَکَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰی تَکْلِیْمًا» (سوره نساء) **ترجمه**: ﴿اوخبری اوکلام
کړیدی الله تعالی له موسیٰ (علیه السلام) سره په خبرو کولو ـ الخ ـ﴾
۵_ **سمع**: «اوریدل» دالله پاك جل جلاله هغه ازلی صفت دی چه دمسموعاتو
داوریدل کیدونکو، دکشف مبدء اوپه ذات دالله پاك پوری قائم اوقدیم دی ضد یی
کوڼوالی دی، یعنی الله تعالی دکوڼوالی له صفت څخه پاك او منزّه دی او ددی صفت
دثبوت دلیل دا آیت کریمه دی «اِنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ» (سوره انفال) **ترجمه**: ﴿بیشکه الله
ښه اوریدونکی (دټولو اقوالو) ښه عالم دانا دی (په ټولو احوالو)﴾
۶_ **بصر**: «لیدل» دالله پاك هغه ازلی صفت دی چه دمبصراتو دلیدل کیدونکو،
دکشف مبدء او په ذات دالله تعالی پوری قائم اوقدیم دی، ضدیی ړوندوالی دی، الله
تعالی دړوندوالی څخه پاك دی، او ددی صفت دثبوت دلیل دا آیت کریمه دی «اِنَّهُ بِکُلِّ
شَیْئٍ بَصِیْرٌ» (سورة ملك)، ترجمه: بیشکه هغه الله په هرڅیز باندی بناء اوښه لیدونکی دی
۷_ **اراده**: دالله پاك هغه ازلی صفت دی چه دفعل اوترك ددواړو له جملی څخه
یوه ته ترجیح ورکوی پداسی حال کی چه دقدرت نسبت دواړو ته مساوی او برابر وی،
ددی صفت ضد بی اراده توب دی لکه دبنده په فعل کی دگوزنډ (فالج)، وهلی حرکت،
الله تعالی هیڅکله دبی واکئ اوبی اختیارئ په صفت موصوف کیدی نشی او د ارادی
دثبوت لپاره دلیل دا آیت کریمه دی «اِنَّ اللّٰهَ فَعَّالٌ لِمَایُرِیْدُ» (سوره هود) **ترجمه**:

(بیشکه الله تعالی په کوونکی دی او په کمال قدرت سره د هر هغه شي چه اراده یی اوفرمائی) او یا هم د هغه آیت کریمه ((انما امره اذا اراد شیئا ان یقول له کن فیکون))

۸_ **تکوین** ابو منصور ماتریدی رحمه الله چه د احنافو له جملې څخه دی تکوین هم دالله جل جلاله له ذاتی او حقیقی صفاتو له جملې څخه شمیری پدی صورت کی دالله تعالی ذاتی صفات اته کیږی

**دوهم دالله تعالی فعلی صفتونه** هغه صفتونه دی چه ثبوت یی دالله تعالی لپاره ضروری نوی او له عدم څخه یی دالله پاک ذات ته کوم نقص نه راجع کیږی. الله تعالی په اصلی صفت او دهغه په ضد هم موصوف کیدی شی. لکه (احیاء) یعنی ژوندی کول چه ضد یی (اماتت) یعنی مړه کول دی یارحم چه ضد یی غضب دی اوداسی نور هغه دلائل چه دالله پاک په وجود او وحدانیت باندی دلالت کوی لکه اسمانونه ځمکی اوددوئ انتظام او حرکت او داسی نور دالله په نورو صفتونو باندی هم دلائل دی. ځکه هغه ذات چه آسمانونه یی پدی لویوالی. اوستوری یی په دی منظمو حرکاتو پیدا کړیدی، دکال څلور فصلونوته یی بیل بیل خصوصیتونه ورکړیدی ټول ددی دلیلونه دی چه دکائناتو خالق قدیر. علیم. سمیع. بصیر. اراده کوونکی او متکلم ذات دی چه دخپل حیات ، قدرت ، علم. حکمت. سمع. بصر. اراده اودکلام په اقتضاء سره یی داسی عظیم مخلوق پدی متین او ټینګ نظم او نسق سره پیدا کړی دی. دالله تبارك وتعالی په صفاتو کی یوبل تقسیم هم شته چه ورته ثبوتی او سلبی صفات ویلی کیږی. ۱_ ثبوتی صفتونه: هغه دی چه ثبوت یی دالله تعالی لپاره ضروری وی لکه حیّ، سمع ...اونور ۲_ سلبی صفتونه هغه دی چه ثبوت یی الله تعالی ته محال وی اوسلب یی ضرور وی، الله تعالی له داسی صفاتو څخه پاك دی . سلبی صفتونه په لاندی ډول دی: جهت. مکان یعنی دالله تعالی لپاره جهت او مکان نشته ځکه که جهت او مکان ولری نو بی دجهت او مکان څخه به موجود پیدا نشی جهت او مکان ته به محتاج وی او وجوب منافی دی داحتیاج سره. جسم ندی ځکه چه جسم له بیوی خوانه مکان ته احتیاج لری اوله بلی خوانه جسم مرکب دی اوهرمرکب حادث وی

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

او وجوب له حدث سره منافي دی، الله تبارك وتعالى نه جوهر دی او نه عرض، ځکه کړ
جوهر شی نو مکان ته احتیاج راځی او وجوب داحتیاج سره منافی دی او که عرض شی
محتاج کیږی بل ته ځکه عرض په وجود خپل کی محتاج وی غیر ته او واجب الوجود
ذات منافی دی له احتیاج سره، او داسی نور... او ځینی صفتونه چه په قرآن کریم کی
ذکر شوی دی داسی صفتونه دی چه الله تعالی ته ثابت وی اما د کیفیت (پوهیدلو)
څخه یی زمونږ عقول عاجز دی لکه (یَدْ ، وجه، نفس) چه په قرآن مجید کی دالله تعالی
لپاره ذکرشوی او الله تعالی ته بلاکیف ثابت دی دداسی صفاتو په څرنګوالی او
کیفیت کی بحث کول بدعت دی.

**نکته**: دالله تبارك وتعالى نومونه ((وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَا)) دالله جل
جلاله لپاره نومونه حصر ندی او دده نهه نوی (۹۹) نومونو تفصیل په دی لاندی
حدیث شریف کی ذکر شویدی: دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت
دی چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی ((اِنَّ لِلّٰهِ تِسْعَةً وَتِسْعِيْنَ اِسْمًا مَنْ
اَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ ـ الحديث ـ)) **ترجمه**: په تحقیق سره شته الله تعالی لره نهه نوی
(۹۹) نومونه هغه څوك چه وشمیری ((زده او حفظ یی کړی)) دغه نومونه داخل به
شی جنت ته. نو الله تعالی دی په بحر معرفت کی مونږ ته ترقی نصیب کړی آمین بجاه
سید المرسلین.

## محبت او اطاعت رسول صلی الله علیه وسلم

محترمو مسلمانانو: په ټوله نړۍ کی تپه تیاره وه دشرك او دغیر الله دبندګی
تیاره وه او دظلم او وحشت تیاره، هرڅه دزورورو خلکو وو، کمزوری له هرشی څخه
محروم وو دمنحرف شوی انسانیت دهدایت لپاره هادی او مصلح ته ضرورت وو،
ددغه ضرورت ددفع کولو لپاره دالله پاك جل جلاله لخوا منتخب شوئ عظیم انسان
حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دعام الفیل یعنی دفیل په کال چه (۵۷۰

میلادی کال سره سمون خوری دربیع الاول دمیاشتی په (۱۲) نیټه دنیا ته راغی دغه مبارك مولود پداسی حال کی نړی ته تشریف راووړ چه پلاریی عبدالله صاحب وو دده له ولادت څخه شپږ میاشتی مخکی وفات شوی وو، دشپږ کالو په عمر کی یی دخپل ژوند یواځینۍ اسره مهربانه اوخواخوږی مور آمنه بی بی له لاسه ورکړه، له هغی وروسته دخپل نیکه عبدالمطلب ترسر پرستۍ لاندی وو خو څومره عمر؟ صرف دوه کاله، او دعمر په اته کلنۍ کی دهغه نیکه هم وفات شو له نیکه وروسته دهغه تره ابوطالب دهغه دروزنی اوپالنی متکفل شو. دالله پاك څومره ژور حکمت دی هغه څوك چه په نژدی آینده کی درسالت عظیم الشان منصب ورسپارل کیږی، هغه څوك چه د هغه په وسیله به یو انقلاب راځی، دتوحید او حریت انقلاب دعدل او انصاف انقلاب دظلم له زولنو نه دمظلومانو دازادی انقلاب چه دشرك گمراهی اوطغیان دتپو تیارو لپاره روشانه سهار دی دیتیمۍ اوبیوسۍ په دردوونکو څپو کی له یوی غیږی څخه بلی ته ځی نو داحکمت شو چه سبا دیتیمانو خواخوږی پلار وی، بیکسه شو چه سبا دبیکسانو یاروی بیوزله وو چه سبا ته دغریبانو مددگار وی له سختیو اوکړاونو سره یی بلد کیدل او آشنا کیدل پکار وو ځکه چه سباته یی لاره دسختیو او کړاونو په طرف وه، مور ((دائی)) اوتره یی که څه هم دده جسمی روزنه پالنه وکړه خو دغه پوهه غیره هم دده دمعنوی او روحانی روزنی مدرسه نشوونما کیدی، دده معنوی روزنه دالله تعالی دتعلیم اوتادیب په مدرسه کی کیدله، په خپله فرمائی ((اَدَّبَنِی رَبِّی فَاَحْسَنَ تَأدِیبِی)) یعنی ماته ادب الله تعالی را وښوده ډیر ښه ادب، دټول قوم مفکوره یو شانته، دده بل شانته، دټول قوم عمل، کړه وړه، اخلاق یوشانته دده بل شانته هغوئ مشرکان، ظالمان، کاذبان، خائنان وو او دی (صلی الله علیه وسلم) موحد، عادل، صادق، امین وو، له ماشوم توب نه ترځوانۍ، دزلمی توب نه ترخلویښت کلنۍ ټول عمر یی په پاکی او سپیڅلتیا کی تیرکړو، یوی خواته یی له حضرت خدیجة الکبری رضی الله تعالی عنها سره دپنځویشتو کالو په عمر کی په نکاح کولو کورنۍ تشکیل کړی وه اوحیاتی معاملات او چاری یی سرته رسولی، خوبلی خواته به یی په غار

حراء کی گوښه ناسته غوره کوله ، الله پاك سره به یې مناجات کاوه په کائناتو کی به په فکر کولو مصروف وو ، عمریې دڅلویښتو کالوشو هغه وخت راغی چه دانسانانو داصلاح اوهدایت لپارهٔ درسالت عظیم الشان منصب سرلوړی کړیشی د رمضان میاشت وه دحراء په سمڅه کی په غور او فکر او عبادت مصروف وو دسهار وخت وو په ناڅاپی ډول یوه ملائکه راغله غږیې وکړو ((اقراء)) یعنی ولوله دډیرو تکالیفو وروسته هغه توحید او رسالت چه یوه ورځ په مکه کی چانه مانه داسی دور وربانـدی راغی چهٔ دسمندر په ټاپوګانو او دافریقا په ځنګلونو کی په دښتو او غرونو کی دنړی په ګوټ ګوټ کی دمسجدونو لـه منارونـه د ورځی پنځه ځله آواز پورتـه کیږی چه ((اَشْهَدُ اَنْ لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ)).

دوه شیان دی : ۱ـ محبت رسول ، ۲ـ او اطاعت رسول ، کـه څوك درسول اقدس صلی الله علیه وسلم سره دمحبت دعویٰ لری لیکن دهغوئ داحکاماتو اطاعت نکوی نو دیته عارفان شریعت بدعت وایی ، دعشق اولینه تقاضا داده چه دمحبوب هری اشاری ته غاړه کیخودی شی ،

بغیرعاشقی چیست بگوبنده جانان بودند

دل بدست وگیری دادن وحیران بودند

دغه رنګی که یوتن اطاعت خوکوی مګر محبت رسول موجود ندی نو اصحاب فهم بصیرت دی ((اطاعت بلامحبت)) ته نفاق وایی او ددوئ دا اقوال تریو حده درست هم دی ځکه چه ډیر کرته یوتن دخارجی فشار نه مطیع اوفرمانبردار وی ، مګر چونکه دتنه تسلیم اورضاء موجود نوی لهذا چه کله دا بیرونی دباؤ ختم شی نو نفس بیا په سرکشئ اماده شی دغه وجه ده چه په اسلام کی اطاعت رسول سره سره محبت رسول بانـدیٰ هم زور اچولی شویدی لکـه چـه رسول اکرم صلی الله علیـه وسلم فرمایی : ((لاَيُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى اَكُوْنَ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ وَّالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ)) (متفق علیه)

**ترجمه** : ((پهٔ تاسو کی یوتن مؤمن نشی جوړیدی ترڅوچه زه هغه ته دخپل والد ، اولاد او ټولو انسانانو څخه زیات محبوب نشم)) یعنی دخپل پلار او زوئ سره محبت کول

دطبعیت تقاضاء ده لیکن پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره محبت دوجدان طلب دی،
شاه ولی الله رحمه الله فرمایی چه کمال دین هغه دی چه عقلی تقاضی په طبعی تقاضو
باندی غالبی شی دغه وجه ده چه شریعت محض ظاهری اطاعت نه منظوره وی چه
ترڅو ورسره محبت رسول شامل حال نه وی.

**درسول محبت او ازمائش**: «جَاءَ رَجُلٌ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنِّيْ اُحِبُّكَ قَالَ اُنْظُرْ مَاتَقُوْلُ قَالَ وَاللهِ اِنِّي لَاُحِبُّكَ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ قَالَ اِنْ كُنْتَ صَادِقًا فَاَعِدَّ لِلْفَقْرِ وَاَسْرِعْ اِلَى مَنْ يُّحِبُّنِيْ مِنَ السَّيْلِ اِلَى مُنْتَهَاهُ» (رواه الترمذی) **ترجمه**: حضرت عبدالله رضی الله عنه فرمایی: یو سړی حضور صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته یی عرض وکړو چه زه تاسو سره ډیر محبت لرم. حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمائل دا څه چه ته وایی پدی غور وکړه، هغه دری ځلی وویل په الله تعالی می دی قسم وی چه زه ستاسو سره محبت لرم، حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمائل که ته خپلی خبری کی رینتونی وی نو دفقر او فاقه، لوږی، تندی وغیره. دمقابلی لپاره سامان برابر کړه، کوم خلق چه ماسره محبت ساتی هغوئ ته لوږه تنده دسیلاب نه هم زیاته تیزئ سره راځغلی، یعنی دهغه په قربت، صحبت اورضاء هرشی قربان کړه، دحضور صلی الله علیه وسلم دمحبوب جوړولو مطلب دادی چه هر کار کی دهغوئ پیروی وکړی اوددین په لارکی دفقر او فاقی مقابله صرف توکّل اودمحبت الهی اسلحی سره کیدی شی داسی وخت کی مؤمن خپل وکیل یو الله گڼی او دغلام په شان دخپل مالك مرضی پوره کوی خپل کار کی لگیدلی وی چه الله تعالی رحیم او عادل دی، زمامحنت به نه ضائع کیږی پدی طریقه هر مصیبت آسانیږی او دشیطان هره وسله بیکاره شی، یو ځل دعمر فاروق رضی الله تعالی عنه قابل زوئ حضرت عبدالله رضی الله تعالی عنه شکایت وکړو چه تاسو حضرت اسامه رضی الله تعالی عنه لره زما څخه ماسوا په وظیفه مقرر کړیدی حالانکه مونږ یو شان کار کوو نو حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ورته جواب ورکړو «لِاَنَّ زَيْدًا كَانَ اَحَبُّ اِلَى رَسُوْلِ اللهِ مِنْ اَبِيْكَ وَكَانَ اُسَامَةُ اَحَبُّ اِلَى رَسُوْلِ اللهِ مِنْكَ» ای زویه! رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حضرت زید رضی الله عنه دحضرت اسامه

رضی الله عنه والد ستا د پلار نه ډیرمحبوب وو او هغوئ (صلی الله علیه وسلم) ته اسامه رضی الله عنه ستانه زیات محبوب وو معلومه شوه چه دمحبت تقضاء دا هم ده چه محبوب کوموخیزونو ((شیانو)) سره محبت لری هغی سره هم محبت وکړی شی، دحضرت عائشی رضی الله عنها په خدمت کی یوه ښځه راغله او ورته یی وویل چه ماته حجره خلاصه کړه چه دحضور صلی الله علیه وسلم دروضی مبارکی زیارت وکړم کله چه حجره ورته خلاصه کړی شوه نو روضی سره په ژړا شوه حتّی چه پدی ژړا ژړا کی وفات شوه، دصحابه کرامو رضی الله عنهم دحضور صلی الله علیه وسلم سره دعشق او محبت واقعات دحدنه زیاتی دی پدی اکتفاء کوو، اوددینه علاوه په نبی کریم صلی الله علیه وسلم کی دمحبت هغه اسباب هم موجود وو چه کومو وجهو سره محبت کولی شی ، علماء کرامو دمحبت پنځهٔ اسباب اوعلائم خودلی دی ، احسان، قرب، کمال، جمال اومال.

۱_ **احسان** :دهغه داحساناتو شمارل خونا ممکن دی مگر یوخو عرض کول غواړم : ۱_ ټول عالم ددوئ له وجهی نه وجود ته راغلی دی، کذا فی الحدیث، ۲_ دنوح علیه السلام کشتئ ددوئ دبرکته نجات موندلئ وو او دوئ صحیح سالم پاتی شوی وو، اوچونکه دپوره عالم ازسرنو تعمیر دنوح علیه السلام نه شویدی لهٰذا دحضور صلی الله علیه وسلم په برکت دا محفوظ کیدل دټول عالم دوجود سبب شو، ابراهیم علیه السلام هم ددوئ دبرکته د اور نه نجات موندلی وو، او اور پری گل گلزار شوی وو ((کذا فی مواهب لدنیه)) ابراهیم علیه السلام داکثرو بنی آدمو نسبی پلار کیدلو نه علاوه روحانی پلار هم دی ددوئ په اولاد کی ډیر انبیاء علیهم السلام هم راغلی دی چه هغه دعالم لپاره دهدایت باعث جوړشوی وو، ۳_ هغه سختی سزاگانی چه داُمم سابقه لپاره مقرری شوی وی دحضور صلی الله علیه وسلم له برکته دامت محمدیه صلی الله علیه وسلم نه مرتفع کړی شویدی ، مثلاً دپوره قوم مسخ، بلاقتل توبه نه قبلیدل وغیره هغه سخت احکامات هم چه کوم په اُمَم سابقه باندی مقرر وو منسوخ کړی شول، مثلاً بغیر دمسجد نه لمونځ نه کیدل، داوښ دچربی (وازگی) حرمت وغیره .

۲_ **قرب** : یعنی دمسلمان لپاره دخپل ځان پیژندل دومره ضروری ندی څومره چه

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم پیژندل ورته ضروری دی ځکه چه څوك نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه پیژنی هغه به خپل ایمان او اسلام څنگه اوپیژنی، مؤمن دخپل ایمان په وجود کی سراسر دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دوجود محتاج دی که یوملت لره هم دپیغمبر دوجود نه قطع نظروکړی شی نو دمؤمن په وجود کی ایمان باقی نشی پاتی کیدلی، دغه وجه ده چه الله تعالی فرمایی ((النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ))

**ترجمه**: ((نبی دمؤمنانو په حق کی ددوئ دځان نه هم ماسِوا قریب دی)). یعنی زمونږ په نفوسو هغوئ زمونږ څخه ماسِوا ولایت لری، یوتن ته دا اجازه نشته چه دی په خپل خواهش ځان هلاك کړی، لیکن دحضور صلی الله علیه وسلم په اشاره ځان قربانول فرض او انتهائی سعادت دی.

۳_ **کمال**: یعنی کمالات په هغوئ کی دومره ډیروو چه دهغی بیان ناممکن دی:

((لایمکن الثناء کما کان حقه + بعد ازخدا توبزرگ این قصه مختصر))

پدی دامت اجماع ده چه دحضور صلی الله علیه وسلم جسم مبارك سره پیوست زمکه دخانه کعبی او دډیرو محققینو په نزد دعرش اوکُرسی نه هم بهتره ده.

۴_ **جمال**: دحضور صلی الله علیه وسلم جمال دټولی دنیا نه زیات وو:

حسن یوسف دم عیسی ید بیضاء داری
آنچه خوبان همه دارند تو یك تنها داری

کځوك ووایی چه یوسف علیه السلام خو دومره ښائسته وو چه برقع به یی اچوله ځکه چه خلق به پری مین کیدل، جواب دادی چه حسن په دوه قسمه دی، یودا چه لیدلو سره عشق پیداشی مگر چه څنگه ورو ورو مخالطهٔ، مجالسه اومکالمه کیږی نو د حسن اثر کمیږی، دیوسف علیه السلام حسن ددی جملی څخه وو، چه دکومو ښځو نظر په یوسف علیه السلام باندی اچانك (ناگهانه) ولگیدلو نو هغوئ خو لاسونه کټ کړل مگر زلیخی لاس پری نکړو ځکه چه هغه دا ختلاط دوجهی نه متحمل شوی وه، دحسن دویم قسم دادی چه دځه عارض دوجهی نه فوراً ظاهریږی اوبیا ورو ورو مخالطه مجالسه کیږی حسن زیاتیږی دحضور صلی الله علیه وسلم حسن سره چونکه

رعب هم موجود وو. دهغوئ چهره انور ته چاكتلي نشول. لهذا فوراً به حسن په هغو
نه ظاهريدو بلكه ورو ورو مجالسي اومكالمي سره به چه رعب كي واقع شو نو حسن
به يي ښكاره شو. حسان بن ثابت رضي الله تعالى عنه فرمايي :

واحسن منك لم ترقط عيني　　　واجمل منك لم تلد النساء
خلقت مبرئًا من كل عيب　　　كأنكَ قد خلقت كما تشاء

حضرت عائشه رضي الله تعالى عنها فرمايي چه دحضور صلى الله عليه وسلم
چهره انور په رنړا كي ما ستن موندلي وه. جابربن سمرة رضي الله عنه فرمايي چه
څوارلسمي سپوږمۍ په شپه دسپوږمۍ اودحضور صلى الله عليه وسلم دچهرې
موازنه كول وغوښتل نو دحضور صلى الله عليه وسلم چهره (مخ) ماته زياته نوراني او
حسنه ښكاره شوه. دغه وجه وه چه حضور صلى الله عليه وسلم سره دانسانانو
علاوه دحيواناتو هم محبت وو. مواهب لدنيه كي يي ليكلي دي چه دحضور صلى الله
عليه وسلم دوفات په صدمه كي دهغوى (خر) ځان كوهي ته وغورزولو اوهلاك شو.

**د_ مال** : هغوئ صلى الله عليه وسلم سره ددنيا اومال هيڅ كمي نه وو مگر هغوئ
قصداً فقر اختيار كړي وو. غرونو هغوئ ته ويلي وو چه مونږ ستا دپاره سره زر (سونه)
شو مگر هغوئ انكار كړي وو. خلاصه دا چه دا ټول اسباب دمحبت په هغوئ كي
موجود وو. لهذا دهغوئ سره په زړونو كي دمحبت لطيف جذبات پيدا كول
دهرمسلمان لپاره ضرور دي. او ددي محبت لازمي نتيجه بيا دهغوئ اتباع ده ځكه چه
بغير داتباع نه دمحبت دعوىٰ عبث ده. قال صلى الله عليه وسلم ((كُلُّ اُمَّتِي يَدْخُلُوْنَ
الْجَنَّةَ الاَّ مَنْ اَبٰى قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ وَمَنْ اَبٰى قَالَ مَنْ اَطَاعَنِى دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِى فَقَدْ
اَبٰى)) **ترجمه** : ځما ټول اُمت به جنت ته داخليږي مگر انكار كوونكي به نه
داخليږي. تپوس وكړي شو يارسول الله انكار كوونكي كوم خلق دي. حضور صلى الله
عليه وسلم اوفرمائيل ځما اتباع كونكي به جنت ته داخليږي او چاچه زما نافرماني
وكړه هغه زما انكار كوونكي دي.

**درسول الله صلى الله عليه وسلم داطاعت صحيح طريقه** : ((جَاءَ ثَلاثَةُ رَهْطٍ الى

اَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُوْنَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أُخْبِرُوْا بِهَا كَاَنَّهُمْ تَقَالُوْهَا فَقَالُوْا اَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ غَفَرَ اللّٰهُ مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ وَمَا تَاَخَّرَ فَقَالَ اَحَدُهُمْ اَمَّا اَنَا فَاُصَلِّي اللَّيْلَ اَبَدًا وَقَالَ الآخَرُ اَنَا اَصُوْمُ النَّهَارَ اَبَدًا وَلاَ اُفْطِرُ، وَقَالَ الآخَرُ اَنَا اَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلاَ اَتَزَوَّجُ اَبَدًا فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَيْهِمْ فَقَالَ اَنْتُمُ الَّذِيْنَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا ؟ اَمَا وَاللّٰهِ اِنِّيْ لَاَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَاَتْقَاكُمْ لَهُ لٰكِنِّيْ اَصُوْمُ وَاُفْطِرُ وَاُصَلِّي وَاَرْقُدُ وَاَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي)) (رواه مسلم عن انس رضی الله تعالی عنه) **ترجمه**: دری سړی دحضور صلی الله علیه وسلم دعبادت په باره کی دمعلومات دحاصلولو لپاره دحضور صلی الله علیه وسلم بیبیانو مبارکوته راغلل، چه معلومات ورکړی شو، نوهغوئ دحضورصلی الله علیه وسلم دعبادت مقدار کم وګڼلو اوویی ویل ((نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره زمونږ څه مقابله کیدی شی)) هغوئ نه خونه مخکی ګناه شویده او نه وروسته اومونږ دګناه نه پاك نه یو مونږ له پکار دی چه زیات نه زیات عبادت وکړو، نوهغوئ کی یوکس دځان لپاره دا خبره خوښه کړه چه همیشه به ټوله شپه په نفلو کی تیروم، او دویم دا وویل چه زه به همیشه نفلی روژه نیسم اوهیڅکله به روژه نه ماتووم اوهغه دریم صاحب وویل چه زه به دښځو نه بالکل جدا اوسم هیڅکله به واده نه کوم، کوم وخت چه حضور صلی الله علیه وسلم ته دا معلومه شوه نو هغوئ له ورغی او پوښتنه یی ترینه وکړه: هغه خلق تاسی یئ چه داسی مو ویلی دی؟ بیا ورته حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمایل بیشکه زه ستاسو نه زیات دالله تعالی نه ویریدونکی یم او دهغه دنافرمانی نه بچ کیدونکی یم، خو ګورئ زه (نفلی) روژی کله نیسم او کله یی نه نیسم، دغه شان زه دشپی (نفلونه) هم کوم او اوده کیږم هم، زما بیبیانی هم شته، نو ستاسو لپاره ښیګړه ځما په پیروی کی ده، او دچا په نظر کی چه زما دسنت (طریقی) قدر نوی اوبی رُخی ترینه کوی نو هغه زما دډلی څخه ندی.

**اُسوه حسنه**: **الله تعالی فرمایی**: ((لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُو اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الآخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا)) (سوره احزاب) **ترجمه**: ﴿په حقیقت کی

دهرهغه چا لپاره چه الله سبحانه و تعالی ته امید لري، په رسول کی یوه بهترینه نمونه ده ، دهرهغه چا لپاره چه الله تعالی او دآخرت دورځی هیله من وی او الله تعالی ډیر ډیر یاد کړی﴾ دغه آیت کریمه دسورة احزاب چه په کوم سیاق او سباق کی نازل شوی دی دهغه په لحاظ سره درسول اکرم صلی الله علیه وسلم کړنلاره دنمونی په ډول وړاندی کړی شوه اوددی هدف هغه کسانو ته درس ورکول وو چه هغوئ داحزاب دجگړی په وخت کی دمفاد پرستی او ځان ژغورنی څخه کار اخیستی وو ، هغه ته ویلی کیږی چه که تاسی دایمان او درسول د پیروی مدعیان وئ باید تاسی کتلی وی چه دکوم پیغمبر په پیروانو کی تاسی شامل شوي یئ پدی وخت کی دهغه څه کړنلاره وه دکومی ډلی مشر په خپله سوکالئ ، آرام ژوند خوښوونکی وی اوهغه دپیروانو لحاظ نه ساتی مگر دلته خو درسول اکرم صلی الله علیه وسلم حال داوو چه دهری سختئ دزغملویی چه له نورو نه غوښتنه کوله دهغی په گاللو کی دهری سختئ په خپله له ټولو سره برخوال وو ، بلکی هغوئ به له نورو نه زیات پکی برخه وال وو ، دخندق په کیندلو کی هغه صلی الله علیه وسلم په خپله شامل وو ، دلوږي او یخنی دکړاوونو په زغملو کی له یو ادنی مسلمان سره دهغه ونډه بیخی برابره وه ، دمحاصری په دوران کی هغه هر وخت دجنگ په محاذ کی موجود وو او دیوی شیبی لپاره هم ددښمن له مقابلی څخه په شا نشو ، یعنی دده صلی الله علیه وسلم ژوند دمسلمانانو لپاره نمونه وه او هغه دتوحید په انقلاب سره هزار ستونزی وگاللی حتی چه دخپلو نژدی خپلوانو لخوا په شعب ابی طالب کی دی پخپله محاصره کړی شو ، دالله پاك په حرم کی دهغه له مبارکی غاړی نه دقتل په ناوړه قصد څادر تاو کړی شو ، په طائف کی دهغه مبارکی وینی څڅیدلی وی دخپل کور کلی اوښار پرینښودلو ته اړیستل شوی وو ، اودهغه پیروی مدعیان دی ددغو صحنو له جملی څخه دیوی لیدلو ته هم تیار نه وی نو دهغه دایمان او پیروی دعوه دروغ ده ، بلکه اسوة حسنة پیروی ضروری ده په ریښتیا سره ، اوهغه صلی الله علیه وسلم دحق په بنیاد دفیصلی صادرولو په وخت کی هیڅکله دخپلو اوپردیو اعلی انسب او ادنی نسب قوی او کمزوری ملگری اوبیگانه حتّی دوست او دښمن په منځ کی یوه زره توپیر(فرق) نه کاوه چه البته هغه واقعه ددی خبری ښه بیلگه ده چه یوځلی فاطمه نومی

یوه ښځه د غلا په تور د لاس قطع کولو په حد باندی محکومه شوه ،او څنګه چه هغه داشرافو د کورنۍ ښځه وه نو ددی خپلوانو حضرت اسامه رضی الله تعالی عنه دهغی دمعافی لپاره دحضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضورته واسطه کړو مګر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه یوازی داچه دهغوئ داشرفیت په خاطر دهغی له حدنه تیر نشو بلکه دغوسی نښی نښانی یی په مبارکه چهره کی پیدا شوی، پاڅیده دیوې خطبې په ترځ کی یی وویل پخوانی قومونه له همدی امله هلاك شویدی چه دقدرت اولوړ نسب خاوندان به یی حمایه کول که به چیرته کوم جرم له اشرافو صادریده هغوئ به یی معاف کول او که به له غریبو اوبیچاره وو خلکونه صادریده هغوئ به یی محکوم کول، زما په دین کی دی هیڅوك هیڅکله ددی خبری تمعه نکوی،زما په خدای قسم که زما لور فاطمی غلا کړی وی نو ما به یی لاس پریکړی وو، او همدارنګه دحجة الوداع په موقع دعرفات په تاریخی خطبه کی چه اسلامی پوهانو ورته داسلام داساسی قانون نوم ورکړی ، دمساوات په باب اوفرمایل :((یا ایها الناس ! الا ان ربکم واحد وان اباکم واحد کلکم لادم وآدم من تراب لافضل لعربی علی عجمی ولا لعجمی علی عربی ولا لاحمر علی اسود الابالتقوی )) (اوکما قال علیه الصلوة والسلام) **ترجمه** : ای خلکو خبردار اوسئ ستاسی ټولو رب یودې اوستاسی ټولو پلار یودې ،ټول دآدم علیه السلام اولاد یئ او آدم دخاورو نه پیداوو، هیڅ عرب پر عجم اوهیڅ عجم پر عرب هیڅ سپین پوستی پر تورپوستی اوهیڅ تورپوستی په سپین پوستی بهتری اولوړتیا نلری. دبهتر یوازینې معیار له الله جل جلاله نه ویریدل دی، نو څوك چه دخپلولی پخاطر دپیسو او قدرت په خاطر دخپلو شومو اهدافو پخاطر دخپلو خپلوانو حمایه کوی دظالمانو طرفداری کوی، مظلومان لاپسی ټکوی ،آیا هغه ته داسلام او داسلام دلاربښود صحیح پیرو ویلی شي؟ جواب دادی چه نه.

**نکته . درسول اکرم صلی الله علیه وسلم لنډه تاریخچه (پیدایش مبارک)** (سنه ۵۷۱)

یوه هفته پس دحضرت حلیمی رضی الله تعالی عنها په غیږ کی دپنځو کالو په عمر کی دمور په جولۍ کی واپس راغی دشپږو کالو په عمر کی دحضرت آمنی رضی الله تعالی عنها داتو کالو په عمر د نیکه عبدالمطلب وفات، ددولسو کالو په عمرکی

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

بې شام ته لوړې تجارتي سفر اختيار کړو، دپنځویشتو کالو په عمر کې یې دحضر
خدیجې رضي الله تعالی عنها سره نکاح وکړه، ددیرشو کالو په عمرر کې قوم دصاد
او آمین لقب ورکړو دپنځه دیرشو کالو په عمر کې دټولو قبائلو دطرف نه دحجر اسو
په معامله کې ثالث جوړ کړې شو ، داوه دیرشو (۳۷) کالو په عمر کې دغار حراء
خلوت گدئ کې په عبادت مصروفه وو دڅلویښتو کالو په عمر کې په غار حراء کې
دړومبئ وحې نازلیده په (۴) سنه نبوي ددرې څلویښت کالو په عمر کې د
څلویښتو ښځو او سړو دهغه صلی الله علیه وسلم په لاس مبارك بیعت کول داسلا
قبلول، په سنه (۵) نبوي کې دپنځه څلوښت کالو په عمر کې دحبشې طرفته ی
اصحابو ته دهجرت حکم وکړو، په سنه (۶) نبوي کې دشپږ څلویښتو کالو په عمر ک
دحضرت حمزه رضي الله تعالی عنه او حضرت عمر فاروق رضي الله تعالی عنه اسلا
قبلول، په سنه (۷) نبوي کې داوه څلویښت کالو په عمر دکفارو دطرف نه بائکاټ، پ
سنه (۱۰) نبوي کې دپنځوسو کالو په عمر کې دبائکاټ ختمیدل، دتره انتقال
دحضرت خدیجې رضي الله تعالی عنها رحلت، دطائف سفر، دمعراج سفر او دحضر
عائشې رضي الله تعالی عنها سره نکاح، په سنه (۱۲) نبوي کې ددوه پنځوس کالو پ
عمر کې دمدینې (۷۲) کسانو داسلام قبلول او مدینې ته هجرت کول، په سنه (۱)هجر
کې دڅلور پنځوسو کالو په عمر دمدینې منورې دښار دانتظام ساتنه، په سنه (۲ه
دپنځه پنځوس، شپږ پنځوس کالو په عمر کې دکفارو دویمه حمله جنگ احد کې
داسلام بې مثاله فتح، په سنه (۴هـ) کې داوه پنځوس کالو په عمر کې دبنو عامر قبیل
چل ول او دقراؤ شهادت، په سنه (۵هـ) کې داته پنځوس (۵۸) کالو په عمر کې دکفار
دریمه حمله (جنگ خندق)، په سنه (۶هـ) دنه پنځوس (۵۹) کالو په عمر کې دصل
حدیبې معاهده وشوه، په (۷هـ) دشپیتو کالو (۶۰) په عمر کې بادشاهانو ته دعو
نامې دخیبر فتح، په سنه (۸هـ) دیوشپیته کالو په عمر کې دموته واقعه، فتح مکه، ا
د حنین واقعه، په سنه (۹هـ) کې ددوه شپیته کالو (۶۲) په عمر کې دتبوك جنگ
دمسلمانانو حج کول د وفدونو راتلل، په سنه (۱۰هـ) ددرې شپیتو کالو (۶۳) په عم
کې حجة الوداع او مشهوره آخري خطبه، په (۱۱هـ) کې ددرې شپیته کالو (۶۳) په عم

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

کی بیماری او وصال. ((الله پاك جل جلاله دی مونږ دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم کامله اتباع نصیب کړی، آمین بجاه سید المرسلین (مولوی صاحب حقانی عفی عنه))

# دمؤمن معراج ((لمونځ))

محترمو مسلمانانو : لمونځ دایمان نه وروسته دمسلمان فریضه ده او داسلام له ارکانو څخه لومړنی رکن دی، الله جل جلاله اورسول الله صلی الله علیه وسلم پری امر کړیدی، دواړو دلمانځه د اداء کولو کلکه غوښتنه کړیده ، دترك کولو یی سخته غندنه کړیده ، لمونځ ددین ستن ده، دجنت کُنجی ده، تر ټولو صالحاتو اونیکیو غوره دی، هغه لومړني عمل دی چه دقیامت په ورځ به دالله تعالی په محکمه کی دهغه پوښتنه کیږی دټولو پیغمبرانو عمل دی، دمؤمن اود کافر ترمینځ توپیر او معیار دی ، تردی چه حافظ ابن قیم په خپل کتاب زاد المعاد کی لیکلی چه : لمونځ دروزی ((رزق)) راښکونکی دی، دصحت محافظ دی، دمرضونو دفعه کوونکي دي، زړه ته طاقت رسوی، مخ ښائسته او روښانه کوی، بدن ته خوشحالی ورکوی، اندامونوکی نشاط اوخوشحالی پیدا کوی، سستی لری کوی، شرح صدر ((دسینی پرانستلو)) سبب دی، دروح خوراك دی،زړه روښانه کوی، دالله تعالی دانعام محافظ دی او دالله تعالی دعذاب نه دحفاظت سبب دی، شیطان لری کوی اورحمن سره قرب پیدا کوی، همدغه شان ددنیا او د آخرت دنقصانونوپه لری کولوکی او دواړه جهانو کی فائده پیدا کولو کی دیته ډیرخصوصیت دی، قرآن مجید دلمانځه په حق کی فرمایی :۱ـ ((وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ)) (سورة روم) **ترجمه** : او سم اودروئ مونځ اومه کیږئ تاسو له مشرکانو نه. ۲ـ ((إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا)) (سورة نساء) **ترجمه** : بیشکه مونځ چه دی په مؤمنانو فرض شویدی وخت په وخت ، ۳ـ ((وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ + أُولَئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ)) (سورة مؤمن) **ترجمه** : اوهغه کسان چه دوئ په مونځونو خپلو باندی ساتنه کوی (یعنی دتمامو آدابو

او شرطونو سره مونځ په پابندۍ سره کوي، همدغه کسان میراث اغستونکي دي (په
بدله ددی لمانځه سره دجنت) ۴_ ((وَأَقِمِ الصَّلاَةَ إِنَّ الصَّلاَةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء
وَالْمُنكَرِ))(سورة عنکبوت) **ترجمه** : او ودروه مونځ (ځکه) بیشکه (دا) مونځ منع کوي
سړي له قبیح کارنه) ، ۵_ ((إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ)) (سورة هود) **ترجمه** :
اوبیشکه نیکیانی یعنی مونځ معاف کوي بدی لري) ۶_ ((وَإِذَا قَامُواْ إِلَى الصَّلاَةِ قَامُواْ
كُسَالَى))(سورة نساء) **ترجمه** : او په هغه وخت کی چه راپاسی دوئ مانځه ته نو راپاسی
دوئ سُست یعنی دا به دمنافق نښانه وي چه نه به ځی لمانځه ته او کچیری ځی نو
سُستي به کوي تردی چه اصلی وخت تیرشی او بی وخته ټونګی ووهی لکه دچرګ
، ۷_ ((الَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلاَتِهِمْ دَائِمُونَ)) (سورة معارج) **ترجمه** : هغه کسان چه دوئ په
مونځونو خپلو باندی همیشوالی کوونکی وی.

دلمانځه په فضائلو اوپه تاکید کی دقرآن مجید صفحی ډکی دی مونږ پدی
اکتفاء کوو ، چنانچه الله پاك بندګانو خپلو ته په سختی سره حکم کړیدی او دا حکم
یو مخصوصی طبقی ته متوجه ندی بلکه مزدوراومالدار ، امیراوغریب ، وزیر اوصدر
مملکت ، همدارنګه یو ادنی مؤمن او بزرګ عالِم او پیغمبر ، دارنګ ځوان اوضعیف
جوړ او ناجوړه حتی چه دجنګ په محاذ کی الله پاك خپل حبیب ته هم طریقه کار
دلمانځه وښودله ، بل خصوصیت دلمانځه داهم دی چه حج ، روژه ، زکوة تمام فرائض
الله جل شانه په دنیا کی فرض کړیدی او مونځ داسی فریضه ده چه دا الله پاك په عرش
معلی کی فرض کړیده .

**نکته** : صوفیانو کرامو فرمایلی دی چه په لمونځ کی دولس زره (۱۲۰۰۰) مسائل ،
شیان دی چه هغه الله پاك په دولسو (۱۲) شیانو کی مُنْضَمْ ((راغونډ)) کړیدی ، ددغو
دولسو شیانو زیاتِ خیال ساتل پکار دی چه مونځ مکمل شی او ددی پوره فائده
حاصله شی ، هغه دولس شیان دادی :

**اول علم** : دنبی علیه الصلوة والسلام ارشاد مبارك دی چه علم سره لږ غوندی
عمل هم دجهل دحالت دډیر عمل نه بهتر دی ، اوعلم دری جزؤنه دی : ۱_ چه فرض او

سنت بيل بيل معلوم کړي، ۲_ دا معلوم کړي چه په اودس او لمونځ کي څومره شيان فرض او څومره سنت دي ، ۳_ دا معلوم کړي چه شيطان په کوم فريب (چل) سره په لمونځ کي خرابي اچوي.

**دويم اودس** : او ددي هم دري جزؤنه دي: ۱_ دا چه زړه دکيني او حسد نه پاک کړي، لکه څنگه چه ظاهري اندامونه پاکوي، ۲_ ظاهري اندامونه ددي گناهونو نه پاک ساتي، ۳_ په اودس کولو کي دي نه اسراف ((او به زياتي لگول)) کوي او نه کمي

**دريم جامې** : ددي هم دري جزؤنه دي : ۱_ چه حلالي گټې څخه وي، ۲_ چه پاکي وي، ۳_ چه دسنت موافق وي، چه خنگري (کعبين) پټ نوي څکه بيا په اورسوزي (يعني بايد دتکبر او لوئي په خاطريې وانه غوندي.

**څلورم وخت** : پدي کي هم دري جزؤنه دي :۱_ دا چه دلمر، ستورو خيال ساتل چه وختونه ورته صحيح معلوميږي، زمونږ په زمانه کي ساعت (گهړئ) ده ۲، او وخت صحيح ساتل چه وړاندي وروسته نه وي، ۲_ په زړه کي دوخت خيال ساتل چه وخت تيرنشي.

**پنځم قبله** : پدي کي هم دري جزؤنه دي :۱_ قبلي طرفته په مخ کولو کي ظاهري بدن قبلي ته متوجه وي، ۲_ په زړه سره دالله تعالى طرفته توجه ساتي چه دزړه کعبه هم هغه وي، ۳_ دمالك مخکي چه څنگه ټول تن متوجه کيدل پکاردي هغه رنگ دي متوجه شي

**شپږم نيت** : داهم دري جزؤنه لري : ۱_ دا چه دا کوم لمونځ دي، ۲_ دا چه دالله تعالى په مخکي ولاړدي او هغه ويني، ۳_ هغه دزړه حالت هم ويني.

**اوم تکبير تحريمه** : دا هم دري جزؤنه لري : ۱_ دا چه لفظونه صحيح وي، ۲_ دا چه لاسونه تر غوږونو پوري اوچت کړي (گويا) ديته اشاره ده چه دالله تعالى نه سوا ټول شيان يې وروسته وغورځول، ۳_ دا چه دالله اکبر ويولو په وخت کي دالله تعالى لويي او عظمت يې هم په زړه کي موجود وي.

**اتم قيام** : (يعنې ولاړه) پدي کي هم دري جزؤنه دي :۱_ چه نظر يې دسجدي په ځاى وي، ۲_ چه زړه سره يې دالله تعالى په مخکي داودريدلو فکروي، ۳_ بل طرفته متوجه نه وي، وايي چه يو سړي په ډيرو زار ديو څوکيدار (پيره دار) په واسطه دبادشاه دربار ته ورسي چه کله ورننږدي شي بادشاه ورته متوجه شي او دي يو خوا بل

خوا گوري نو پداسي صورت كې به بادشاه دهغه طرفته څه توجه وكړي.

**نهم قرائت**: داهم دري جزؤنه لري: ۱ـ په صحيح ترتيل سره دي لولي، ۲ـ دهغې په معانيو دي غور كوي، ۳ـ چه څه لولي په هغې دي عمل كوي.

**لسم ركوع**: دا هم دري جزؤنه لري: ۱ـ ملا دي په ركوع كې بالكل نيغه او برابره ساتي نه دي زيات ټيټ وي اونه زيات جګ، علماؤ ليكلي دي چه سر او ملا او كوناټي دري واړه به برابر ساتي، ۲ـ د لاسونو ګوتي دي په فراخي سره په پنډو كيږدي، ۳ـ تسبيحات دي په عظمت او وقار سره وايي.

**يوولسم سجده**: پدې كې هم دري جزؤنه دي: ۱ـ دا چه دواړه لاسونه دي په سجده كې دغوږونو برابروي، ۲ـ دلاسونو څنګلي دي ولاړي وي، ۳ـ تسبيحات دي په عظمت سره وايي.

**دولسم قعده**: پدې كې هم دري جزؤنه دي: ۱ـ دا چه ښئ خپه دي اودروي او په چپه خپه دي كيني، ۲ـ دا چه په عظمت سره دي دمعانيو لحاظ كوي او تشهد دي وايي چه پدې كې په نبي اكرم صلى الله عليه وسلم باندي سلام دي، او دمؤمنانو لپاره دعاء ده، ۳ـ او په فرشتو اونبي او چپ طرفته چه كوم خلق دي په هغوئ دي دسلام نيت وكړي اودغه ټول به مكمل وايي په اخلاص سره، او داخلاص هم دري جزؤنه دي: ۱ـ دا چه دلمونځ نه صرف دالله تعالى رضاء مقصود وي، ۲ـ دادي وګڼي چه دالله تعالى په توفيق سره دا مونځ اداء شو، ۳ـ پدې دثواب اميد ساتي، ((فعليك بالتفصيل)).

**په احاديثو كې دلمونځ اهميت**: ۱ـ ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهْرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ هَلْ بَقِيَ وَفِي نُسْخَةٍ هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ قَالُوا لاَ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ قَالَ فَذَلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللّٰهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا)) (متفق عليه). **ترجمه**: حضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه څخه روايت دي فرمايي چه ما دنبي اكرم صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چه ارشاد يي اوفرمايه: اوښايئ چه دچا په دروازي باندي يو نهر وي چه په هغې كې هغه پنځه واري، روزانه غسل كوي آيا دهغه په بدن به څه خيري باقي

پاتی شی؟ اصحاب کرامو رضی الله عنهم عرض وکړو هیڅ به باقي پاتي نشي. نبي اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل هم دا حال دپنځو مونځونو دی چه الله جل شانه ددوئ په وجه ګناهونه زائلوی «لرې کوی» یعنی اسلام له مؤمن څخه داسی لمونځ غواړي چه هغه تش اقوال او تش افعال نه وی بلکه باید هغه لمونځ وی چه له پوهی او ادراك اودزړه خشوع پکی وی. دا یو داسی روحانی حمام دی چه په څلورویشت ساعتونو کی پنځه ځله مسلمان ته غسل ورکوی او دغفلت اوګناه له خیرونه یې پاکوی

۲ـ «عَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ زَمَنَ الشِّتَاءِ وَالْوَرَقُ يَتَهَافَتُ فَأَخَذَ بِغُصْنَيْنِ مِنْ شَجَرَةٍ قَالَ فَجَعَلَ ذَلِكَ الْوَرَقُ يَتَهَافَتُ قَالَ فَقَالَ يَا أَبَا ذَرٍّ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَيُصَلِّ الصَّلَاةَ يُرِيدُ بِهَا وَجْهَ اللَّهِ فَتَهَافَتُ عَنْهُ ذُنُوبُهُ كَمَا يَتَهَافَتُ هَذَا الْوَرَقُ عَنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ» «رواه احمد باسناد حسن»

**ترجمه**: حضرت ابوذرغفاری رضی الله تعالی عنه فرمایی چه یوځلی نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دژمی په موسم کی باهر تشریف راوړو اوپاڼي دونو څخه غورزیدی، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دیوی ونی څانګه ونیوله دهغې پاڼي نوري هم وغورزیدی، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: ای ابوذره! مسلمان بنده کله چه په اخلاص سره دالله تعالی لپاره لمونځ کوی نو ګناهونه ترینه داسي غورزیږی لکه دا پاڼي چه ددې ونې څخه غورزیږي یعنی ټول ګناهونه یې معاف شی، یوه هم پاتی نشي، مګر یوه خبره دلحاظ قابله ده اوهغه داچه دعالمانو تحقیق دقرآنی او دنبوی احادیثو په وجه دادی چه مونځ وغیره عباداتو سره صرف صغیره «واړه» ګناهونه معاف کیږی او کبیره «لوئ» ګناهونه بغیر دتوبی ایستلو څخه نه معاف کیږی. ددې لپاره دلمانځه سره دتوبی او استغفار اهتمام هم پکار دی. ددینه غافله کیدل ندی پکار البته که الله تعالی جل شانه په خپل فضل او کرم سره دچاکبیره ګناهونه هم معاف کړی نو دا بله خبره ده. اوحضرت عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها فرمایی چه حضور صلی الله علیه وسلم به مونږ سره وو او مونږ به دحضور صلی الله علیه وسلم سره خبری اتری کولې لیکن کله به چه دلمانځه وخت راغی نو داسې به رانه پورته شو «لمونځ ته»

گویا که مونږه یی بیخی پیژندو هم نه، دحضرت ابو واقد رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه کله به حضور صلی الله علیه وسلم دلمونځ امامت کولو نو مختصر (لنډ) به وو او چه کله به یی تنها مونځ کولو نو ډیر اوږد مونځ به یی کولو.

۳ـ (( عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ قُرْطٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلَ مَا یُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ یَوْمَ الْقِیَامَةِ الصَّلَاةُ فَاِنْ صَلُحَتْ صَلُحَ سَائِرُ عَمَلِهِ وَاِنْ فَسَدَتْ فَسَدَ سَائِرُ عَمَلِهِ )) (طبرانی فی الاوسط)

**ترجمه**: له حضرت عبدالله بن قرط رضی الله تعالی عنه نه روایت دی فرمایی چه: نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاداوفرمایلو : چه په قیامت کی به دټولو نه ړومبی دلمونځ حساب کولی شی کچرې هغه ښه اوپوره راووته نوباقی عملونه به یی هم پوره راووزی اوکچرې هغه خراب شو نوباقی عملونه به یی هم خراب راووزی))، اوحضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه دخپل خلافت په زمانه کی یو اعلان دټول ځایونو حاکمانوته لیږلې وو چه دټولو نه زیات مهتم بالشان (غوره) شی زما په نزدلمونځ دی، ځوك چه ددې حفاظت او اهتمام کوی هغه ددین دنورو اجزاؤ (حصو) هم اهتمام کولی شی او ځوك چه دا ضائع کړی هغه به ددین نورو اجزاؤ لره زیات برباد کړی، پدې حدیث کی دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد او دحضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه داعلان مقصد په ظاهر کی دادې کوم چه په بل حدیث کی راغلی دې چه شیطان دمسلمان نه ترهغه وخته ویریږی تر ځو چه دې دا لمونځ په پابندی سره کوی او دا په ښه شان سره اداء کوی بیا د ویرې دوجهې نه هغه ته زیات جرأت ((زړه ورتیا)) نه کیږی خو دې چه کله لمونځ ضائع کړی نو دشیطان جرأت ډیر زیات شی او ددی کس دگمراه کولو اُمیدیی پیدا شی او بیا په ډیرو مهلکاتو او لویو گناهونو کی اخته شی. (منتخب کنز)

۴ـ ((عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ (فی حدیث) وَلَادِیْنَ لِمَنْ لَاصَلٰوةَ لَهُ اِنَّمَا مَوْضِعُ الصَّلٰوةِ مِنَ الدِّیْنِ کَمَوْضِعِ الرَّأْسِ مِنَ الْجَسَدِ)) (رواه طبرانی فی اوسط صغیر) **ترجمه**: ((دحضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چا سره چه مونځ نه وی ((یعنی

څوك چه لمونځ نه كوي)) هغه سره دين نشته، دلمانځه او ددين داسې نسبت دې لكه دسر له نور بدن سره﴾ يعني كه سر له بدن سره نوي نو بدن بې روحه او مړدى دغه شان كه مونځ له دين سره نوي نو نور عملونه يې بې روحه دي.

۵ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى لِلَّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا فِي جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبِيرَةَ الأُولَى كُتِبَتْ لَهُ بَرَاءَتَانِ بَرَاءَةٌ مِنْ النَّارِ وَبَرَاءَةٌ مِنْ النِّفَاقِ ((رواه الترمذى)) **ترجمه**: دحضرت انس بن مالك رضى الله تعالى عنه نه روايت چه دنبى اكرم صلى الله عليه وسلم ارشاد دى چه څوك څلويښت ورځې په اخلاص سره داسې لمونځ وكړي چه تكبير اولى ترينه فوت نشي نوده ته دوه پرواني وركولي شي. يوه پروانه يعني انعام ددوزخ نه دخلاصيدو او دويمه دنفاق نه دلرې كيدو يعني خلاصيدل دي.

۶ـ عَنْ نَوْفَلَ بْنِ مُعَاوِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ فَاتَتْهُ صَلاَةٌ فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ)) **ترجمه**: ((دخوږنبى صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارك دى چه دچا څخه هم يو لمونځ فوت شو گويا دهغه څخه دكورخلق او مال اودولت ټول لوټ كړى شول))، دلمونځ ضائع كول اكثر يادبال بچ له وجهې كيږى چه څومره رنج او صدمه چه پدې حالت كې وي هغه هومره غم دلمانځه په پريخودو كې كول پكار دي.

۷ـ ((عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ذَكَرَ الصَّلاَةَ يَوْمًا فَقَالَ مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُورًا وَبُرْهَانًا وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ يَكُنْ لَهُ نُورٌ وَلاَ بُرْهَانٌ وَلاَ نَجَاةٌ وَكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ)) ((رواه احمد)) **ترجمه**: ((دحضر عبدالله بن عمرو رضى الله تعالى عنه نه روايت دى فرمايي چه: يوځلې خوږ نبى صلى الله عليه وسلم دلمونځ ذكر وكړو او ارشاد يې اوفرمايلو چه څوك دلمونځ اهتمام اومحافظت كوي نو لمونځ به دهغه لپاره دقيامت په ورځ نور ((رڼا)) وي او دحساب دپيش كيدو په وخت كې به حجت او دليل وي يعني دليل دجنتى كيدو، او ددوزخ نه دخلاصي ثبوت، او دنجات اوخلاص سبب به وي، او څوك چه دلمانځه اهتمام نه كوي دهغه لپاره به دقيامت په ورځ نه نور وي او نه به هغه سره څه حجت (دليل) وي اونه به دنجات څه ذريعه وي، دهغه حشر به فرعون،

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

هامان او اُبی بن خلف سره وی)). یعنی په دوزخ کی به ددوئ سره وی اگر چه هغوئ به
همیشه دپاره وی او دې به دهمیش لپاره نه وی بیا هم ددوزخ یو ساعت هم ډیر سخت دی
الله تعالی دی له مونږ سره ټول مسلمانان دهغي نه په امان کړی. آمین یارب العالمین.

**نکته: دبي نمانځه په حق کې دائمه (رحمهم الله) فتوی**: امام احمد رحمه الله
فرمایی چه څوك لمونځ قضاء کړی پدې وجه چه دا لازم ونه مني نودا کافردی دده قتل
واجب دي پدې کې دیومذهب هم اختلاف نشته. او چه کوم کس لمونځ فرض مني
مگر دسُستی اوبې پرواهئ په وجه ترې مونځ قضاء کیږی نو دې باید دلمانځه لپاره
وغوښتې شی کچیرې په را غوښتو هم حاضر نشی او وخت آخر کیږی نودې کافر دې
کچیرې درې ورځو کې دې توبه ونه باسی او لمانځه ته رانشی نو دینه پس په توره دده
قتل جائزدې. ځکه چه دې مرتد دې. مسلمانانو له جائز دي چه دده مال لوټ کړي
اوبیت المال کی یې داخل کړی او جنازه دې نکوی او دمسلمانانو په مقبره کی دې نه
دفن کوی. او امام محمد رحمه الله فرمایی چه دهغه تارك الصلوٰة قتل واجب دي چه
دسُستی په وجه درې لمونځونه قضاء کړی او څلورم ته نه راځی تردې چه وخت
آخرشی. نو دده دا قتل دحد شرعی له مخه دی دکفر په وجه ندې یعنې څرنگه چه زنا
کار لره حد مقرر دې همدارنگه ده لره هم دا حد مقررشی او چه څه دده مال. هغه
هغه دده مسلمانانو وارثانو ته حواله شي او امام اعظم ابو حنیفة رحمه الله فرمایی چه
دا قسم بی نمازه دې نشی قتلولې. بلکه جیل کې دې واچولې شی ترهغې چه لمونځ
وکړی او توبه وباسی او که توبه تائب نه شی او لمانځه ته رجوع ونکړی نو ترهغې دې
قید کړې شی چه ترڅو پورې په جیل کې مړشی. او امام شافعي رحمه الله فرمایی چه
هرهغه کس چه تارك الصلوٰة شی نو په ده دې حد جاری شی او په توره دې قتل شی
مگر کافر کیږی نه بلکه دا دې شرعی حد شی. وللتفصیل موضع آخر.

**لمونځ ددین دبزرگانو په نظر کی**: دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه په
باره کی روایت دې چه ټوله شپه به په لمانځه ولاړوواو دارنگ حالت به یې وو لکه یو
وچ لرگی چه ولاړوی یعنی دخوف الهی نه به داسې بې ځانه ولاړوو او دحضرت عمر
فاروق رضی الله تعالی عنه په حق کی راغلی دی چه دده به په لمانځه کی داسی حالت

وو چه کچیرې نوې سرې به راغې او وبه یې کتل نو هغه به داسې پوهه شو چه ده نه روح تللې دې او هسې جوسه ولاړه ده. دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په باره کې روایت دې چه ده به دشپې په لمانځه کې پوره قرآن مجید ختم کولو. او دحضرت علی رضی الله تعالی عنه متعلق نقل دی چه کله به وخت دلمانځه راغې نو د هغه رنګ به بدل شو یعنې زیړ زبیښلې به شو چاترینه پوښتنه وکړه چه جناب دا ولې؟ وې فرمایل چه اوس ددا سې آمانت یعنې دلمانځه وخت راغې. کوم چه الله پاك آسمانونو او ځمکې او غرونو ته پیش کړو او هغوئ انکار وکړو پدې وجه چه دا فریضه به زمونږ نه پوره نشي او خیانت به پکې راشي نو زه نه پوهیږم چه دا آمانت به زمانه پوره اداء شي او که نه. او کله چه په جهاد کې دده مبارك په وجود کې غشي ننوتلو نو چا ترینه ویستلې نشو او چه په لمانځه ودریده نو دې دالله تعالی طرفته متوجه وو او چا غشې ترینه راکش کړو او دده توجه بدله نشوه. ((کما فی غنیه)) حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه به چه کله د آذان آواز واوریدو نو دومره به یې ژړل چه څادر به یې لوند شو. رګونه به یې اوپړسیدل، سترګې به یې سرې شوې، چا عرض وکړو چه مونږ خو آذان اورو خو هیڅ اثر را باندې نه کیږي او تاسو دومره ډیر ویریږئ، ارشاد یې اوفرمایلو: کچیرې خلقو ته دا معلومه شي چه مؤذن څه وایي نو د راحت او آرام نه به محروم شي او خوب به یې اوتختي دینه وروسته یې دآذان دهرې یوې جملې تنبیه ((خبردارې)) مفصل ذکر کړو. او دحضرت امام اعظم ابوحنیفة رحمه الله متعلق چه دیرش یا څلویښت یا پنځوس کاله یې دماسخوتن اوسحر مونځونه په یو اودس کریدی او اختلاف دناقلینو ترعلم پورې اړه لري. لیکلي یې دي چه دوئ به صرف دغرمې په وخت کې معمولي لږ ساعت دپاره اوده کیدل. اودغه به یې ارشاد فرمایلو چه دغرمې داوده کیدو په حدیث کې حکم دې. او دحضرت امام شافعي رحمه الله معمول وو چه په رمضان کې به یې شپیته واړې قرآن شریف په لمانځه کې لوستلو. یو کس وایي چه زه څو ورځو پورې امام شافعي رحمه الله سره پاتې شوم صرف دشپې به لږ ساعت اوده کیدو. او حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله به درې سوه رکعته نفلي لمونځ هره ورځ کولو او کله چه دوخت پادشاه په کوړو ووهلونو ددې په وجه ډیر

کمزورې شو نو بيابه يې يونيم سل ركعته نفلي لمونځ هره ورځ كولو ، او تقريبًا د
اتياوو كالو عمر يې وو ، او حضرت اويس قرني رحمه الله تعالى مشهور بزرگ او په
تابعينو كې وو او دټولو تابعينونه افضل دې ، كله خوبه يې ركوع كوله او ټوله شپه به
يې په دې حالت كې تيره كړه ، كله به يې په سجده كې داحالت شو چه ټوله شپه به يې
په يوه سجده كې تيره كړه ، وايې چه پدې حضراتو كرامو كې به دچانه تكبير اولى
فوت شو تر درې ورځو پورې به يې دهغې غم كولو او چه دچا نه به دجمعې لمونځ لا رو
نو تر اوو (۷) ورځو پورې به يې هغې پسې افسوس ((تعزية)) كولو ((احياء العلوم)) .

**نكته** : لمونځ څومره غوره روزونكې دې دلمانځه لپاره دبدن جامو او ځاى
دپاكوالى شرط مسلمان دنظافت او طهارت سره عادت كوى دبدنى رياضت او
تمرين، روحى او نورانى قوت اخلاقى ودې او لوړتيا ، عسكرى تربيت، خپل منځى
مساوات، ټولنيز نظم او انسجام لپاره ډير په زړه پورې درس او سبق دې ، دلمانځه په
وخت كې له خوبه راپاځيږى ، له دنيوى چارو څخه ځان وزگاروى او دخپل پروردگار
دبندگى دفتر ته ورځى او خپله وظيفه اجراء كوى په انفرادى شكل نه بلكه كوشش
كوى چه ترځانگړى ټولنيز نظم او انسجام لاندى يې په جومات (مسجد) كى په
جماعت سره اداء كړى او هلته تل دمساوات ښه نمونه گورى چه په يوصف كى امير
اوفقير دلوړنسب او ټيټ نسب خاوند اوږه په اوږه ولاړوى، نو حقيقت دادې چه لمونځ
خورا ډير غوره روزونكى دى.

## داقتصادى نظام ډير مهم جزء ((زكٰوة))

محترمو مسلمانانو ! دلمونځ نه وروسته په اسلام كى دټولونه لوئ ركن زكٰوة دې
په عامه توگه چونكه دعبادتونوپه لړكې به لمونځ پسى دروژې نوم اخستلې شى نو له
دې امله خلك دا خيال كوى چه دلمونځ نه پس دروژې نمبر دې خو دقرآن پاك نه مونږ
ته دا معلوميږى چه په اسلام كې دلمونځ څخه وروسته زيات اهميت زكٰوة لرى، او دوه
لويې ستنې دي چه د اسلام عمارت پدې ولاړدې،دمكې مكرمې په دوركې چه لازكٰوة

نه وو فرض شوې اسلام دټولنې دبېوزلو ، مسکينانو ، فقراؤ او يتيمانو په حال باندې خواخوږی او زړه سوې کاوه څومره به يې چه دوګړو عقيدوی، عملی او اخلاقی سمون ته پاملرنه کوله هغومره به يې دهغو اقتصادی ورانوويجاړو سمون ته هم نظر کولو ، کله چه مونږ مکی سورتونه لولو نو داجتماعی تکافل په برخه کې مود قرآن مجيد څرګندې لارښوونې تر سترګو کيږی، دسورة البلد له (۱) نه تر (۶) پورې آيتونه مطالعه کړئ ، په سورة والضُحٰی کی فرمايی ((فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلاَ تَقْهَرْ + وَأَمَّا السَّائِلَ فَلاَ تَنْهَرْ)) **ترجمه** : ﴿نو پر يتيم باندی زور زياتې مه کوه او سوالګر مه رټه﴾ په سورة الماعون کی فرمايی : ((أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ + فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ + وَلاَ يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ)) **ترجمه** : ﴿آيا تا وليد هغه څوک چه دآخرت مکافات اومجازات دروغ ګنی؟ هغه څوک دې چه يتيم ټيلوهی او مسکين ته دډوډئ په ورکړه هڅونه نکوی﴾ دغه راز په نورو يوشمير مکی سورتونو کی داجتماعی تکافل او دټولنې داقتصادی نمګړتيا ، دلرې ((رفع)) کولو په برخه کې الهی کلکی لارښوونې موجودې دې ، په هغه دور کې يواسلامی مستقل رياست او حکومت موجود نه وو، دغوسپارښتنو اخلاقی بڼه لرله نه قانونی دسرغړوونکی لپاره دأُخروي سزا خبر ورکول کيده نه ددنيوی مجازاتو او قانونی چلند اوبرخورد، بيا کله چه له هجرت نه وروسته په مدينه منوره کی په ابتدائی شکل داسلام احکام په عملی ډول نافذ شول، شرعی قضاء لاس په کار شوه نو داجتماعی تکافل مسئله دتبرعاتو او د انفاق او احسان په چوکاټ کې محدوده پاتې نشوه بلکه دزکوٰة په نوم يې داسلام ديومهم رکن حيثيت غوره کړو، ځانګړی مقررات ورته وضع شول معيار او اندازه يې وټاکل شوه دمَصْرَف او لګښت ځايونه يې تعين شول دنه ورکوونکی لپاره يې شرعی سزاء او مجازات وټاکل شول زکوٰة په اسلام کی داسی لازمی فريضه ده چه منکر يې دفرضيت څخه کافر دې او که په ورکولو کی انکار وکړي هغه فاسق دې او کچيرې دمسلمانانو ټولنې د نه ورکولو هڅه وکړی نو مقاتله ورسره روا ده حتّی چه اول خليفه حضرت ابوبکر صديق رضی الله تعالی عنه له هغه قوم سره دجنګيدو لپاره مجهز لښکر تيارکړو چه هغوئ دزکوٰة د

ورکولو څخه انکار کړې وو او وی فرمایل چه قسم په الله تعالی چه څوك دلمونځ او زکوة په مابین کې فرق وکړی زما دې په الله تعالی قسم وی که دوئ له ماڅخه دڅپلئ بند «او په یوبل روایت کې دی چه دوزې بچې » حصار کړی چه هغه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په زکوة کی ورکاوه زه به هرو مرو پدې باندې له دوئ سره وجنګیږم . چه څوك دمال په خرچ اودزکوة په ورکولو کې بُخل کوی نو دهغه په حق کې الله تعالی فرمایی

«وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ»(سورة توبه) **ترجمه** : ﴿هغه کسان چه خزانه کوی سره زر او سپین زر اونه یې خیرات کوی هغه په لاره دالله تعالی کی پس زیرې ورکړه «یعني خبر ورکړه» ته دوئ ته په عذاب دردناك سره﴾ اوهغه عذاب به څرنګه وی ، که قرآن پاك راواخلئ او وې ګورئ ،تاسوبه ووینئ چه دپخوانو نبیانو ټولو امتونو ته دلمانځه او زکوة حکم هرومرو ورکړې شویدې او داسلام دین دیونبی په زمانه کې هم ددې دواړو څیزونو څخه خالی ندې پاتې شوې، دسیدنا حضرت ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام اودهغه دنسل دنبیانو دذکر نه پس داسې ارشاد فرمایی:

«وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاء الزَّكَاةِ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ» (سورة انبیاء) **ترجمه** : مونږ هغوئ دانسانانو لپاره پیشواء وګرزول هغوئ به زمونږ دحکم مطابق دخلکو رهنمائی کوله، مونږ دوحی په ذریعه هغوئ له نیکو کارونو دلمانځه کولو دزکوة ورکولو تعلیم ورکړو او هغوئ زمونږ عبادت ګزار وو، او بل ځای کی ارشاد دی : «وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِينَ + الَّذِينَ لاَ يُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُم بِالآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ» **ترجمه** : تباهی ده دهغو مشرکانو لپاره کوم چه زکوة نه ورکوی او دآخرت څخه منکروی، نورهم داسې ډیر آیتونه شته چه پکې دلمانځه سره سم دزکوة ورکولو حکم دې، دلته مونږ صرف په همدې اکتفاء کوو. اوددې نه وروسته به دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم یوڅو مبارك احادیث دزکوة داهمیت په هکله ذکر کړو.

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## داقتصادي نظام په ارتباط نبوي لاربنووني:

۱۔ ((عَنْ اَبِی دَرْدَاء رَضِیَ اللهُ تَعَالی عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الزَّكٰوةُ قَنْطَرَةُ الاِسْلَامِ)) **ترجمه**: ﴿دحضرت ابوالدرداء رضی الله تعالی عنه نه روایت دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: زکوة داسلام پُل دي یا داسلام اوچته آبادی ده﴾ یعنی که څوك زكوة نه ورکوی هغه داسلام په پول نشی تیریدي یا داسلام اوچته درجې ته نشی رسیدې، لاندې لاندې درجو کې به پروت وی، لدینه معلومه شوه چه زكوة ورکول څومره اوچتې درجې (مرتبې) دی اونه ورکول یې څومره غټ نقصان دی.

۲۔ ((عَنْ اَبِی هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلاَ فِضَّةٍ لاَ يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا إِلاَّ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ صُفِّحَتْ لَهُ صَفَائِحُ مِنْ نَارٍ فَأُحْمِيَ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَيُكْوَى بِهَا جَنْبُهُ وَجَبِينُهُ وَظَهْرُهُ كُلَّمَا بَرَدَتْ أُعِيدَتْ لَهُ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ)) (بطوله فی المشکوة عن مسلم) **ترجمه**: حضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه فرمایی چه خوږ نبی صلی الله علیه وسلم ارشادوفرمایلو چه څوك دسروزرو یا دسپینو زرو مالك وی اودهغی حق ((یعنې زكوة)) نه اداء کوی نو دقیامت په ورځ به ددغې سرواو سپینو زرو پتری جوړکړې شی اوهغه به ددوزخ په اور کې داسې ګرم کړې شی چه ګویا هغه پخپله داور پتری دی، بیا به په هغې سره دهغه کس اړخ او تندې او شاته داغ ورکولې شی اوبیابه دغه شان دا ګرمولې شی اوده ته به داغ پرې ورکوی دقیامت په پوره ورځ کې چه دهغې اندازه به ددنیا په حساب سره پنځوس زره کاله وی دینه پس به هغه ته چه کوم خواتلل وی جنت ته یا دوزخ ته به لاړشی یعنی دا به معلومه شی چه خپل نور عملونه آیا ددې قابل دی چه دهغی په وجه به معافی وشی جنت ته دتللو اجازت به ملاؤ شی اوکه چیرې ددې قابل نوی اودمعافی صورت نوی یا دزكوة نه وروسته څه نور عذاب زغمل باقی وی نو دوزخ کی به اغورزولی شی هلته چه پرې څه تیریږی هغه په تقریر اوتحریر (لیکلو) کی بالکل راتلی نشی، په یوحدیث

شريف کی دی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چه دابه نه وی چه روپی
باندی روپئ یا اشرفئ باند اشرفئ کیښودلې شی بلکه دهغه بدن به دومره وسیع غټ
او پلن کړې شی چه په هغه به دا ټولې برابر کیښودې شی او دغو خلقو ته به وویلی شي
چه دخپلو خزانو مزه وڅکئ ؟ (اللهم اغفر لکاتبه ولمؤلفه آمین)

۳ـ ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ آتَاهُ
اللّٰهُ مَالاً فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ لَهُ زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ
يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ يَعْنِي بِشِدْقَيْهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا مَالُكَ أَنَا كَنْزُكَ ثُمَّ تَلاَ لاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ
الآيَةَ )) (رواه البخاری) **ترجمه** : دحضرت ابو هريرة رضی الله تعالی عنه نه روایت
فرمایی چه دخوږ نبی صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : چاته چه الله تعالی مال ورکړی
وی او هغه دهغې زکوة نه ادا کوی نو دهغه (مال نه) به دقیامت په ورځ یوداسې
مارجوړ کړې شي چه گنجې به وی اودهغه په سترگو به دوه ټاکی وی بیابه هغه مار
دهغه په غاړه کی دطوق ((اوگئ)) په شان واچولی شی دهغه دواړه وخکی به ونیسی او
وایی به زه ستا مال یم، ستا خزانه یم، دینه پس نبی کریم صلی الله علیه وسلم ددې په
تائید کی دقرآن پاك دا آیت کریمه ولوستلو ((وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ ــ الآيَــةَ )).
یعنې شجاع نر مار یاچه لکئ یی نیغه ودریږی اومقابله کوی اوگنجې مار ډیر زیات
زهرجن وی اوتورټاکې مار هم ډیرزیات زهرجن وی اوعمر یی هم زیات وی (فتح
الباری)، خلاصه داچه سخت مار پدې حدیث کې دزکوة نه ادا کولو وعید مار اوطوق
ذکر شواو په پرومبی حدیث کی په اور گرم کړی داغ ورکول ذکر شول دغه دواړه قسمه
عذابونه په قرآن عظیم الشان کی هم موجود دی، په دواړو عذابونو کی هیڅ اشکال
نشته دمختلفو وختونو په اعتبار سره هم فرق کیدې شی اودمختلف مال په اعتبار
سره هم او دمختلفو کسانو په اعتبار سره هم .او دادواړه عذابونه جمع کیدې هم شی

۴ـ ((عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتَ يَزِيدَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
أَيُّمَا امْرَأَةٍ تَقَلَّدَتْ قِلاَدَةً مِنْ ذَهَبٍ قُلِّدَتْ فِي عُنُقِهَا مِثْلَهُ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَيُّمَا امْرَأَةٍ
جَعَلَتْ فِي أُذُنِهَا خُرْصًا مِنْ ذَهَبٍ جُعِلَ فِي أُذُنِهَا مِثْلُهُ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)) (رواه ابوداؤد

والنسائی) **ترجمه** : (حضرت اسماء رضی الله تعالی عنها فرمایی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمایلو چه کومه زنانه په خپله غاړه کی دسرو زرو هار (امیل) واچوی دهغی په غاړه به دهغی په شان داور هار دقیامت په ورځ واچولې شي او کومه زنانه چه په خپل غوږ کې دسروزرو غوږوالئ (لختی) واچوی دهغې په غوږونو کې به دهغی په شان داور لختې دقیامت په ورځ واچولې شی) ، له دې حدیث شریف څخه دزنانه وو لپاره دسروزرو استعمال ناجائز او حرام معلومیږی پدې وجه ځینې علماؤ دا په ابتداء داسلام محمول کړیدې ځکه چه دنورو علماؤ په نزد دنورو احادیثو په بنا د زنانه وو لپاره دسرو زرو کالی جائز دی لیکن ځینې علماء دغه حدیث دنورو احادیثو په شان دزکٰوة نه اداکولو باندې محمول کړیدې او بعضی روایتونه ددې تائید کوي لکه پخپله دحضرت اسماء رضی الله تعالی عنها روایت دې چه زه او زما ترور دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضرې شو او زمونږ په لاسو کې دسرو زرو بنګړې وو ، نبی علیه الصلوٰة والسلام پوښتنه وکړه چه آیا ددې زکات ورکوئ؟ مونږ عرض وکړو چه نه، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : آیا تاسو لدې څخه نه ویریږئ چه الله تعالی تاسو ته داور بنګړی واچوی، ددې زکٰوة ادا کوئ.

٥_ ((أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ)) (متفق علیه) **ترجمه** : رسول الله صلی الله عیله وسلم اوفرمایل بیشکه الله تعالی په خلقو صدقه (زکٰوة) فرض کړیدې چه دمالدارو خلقونه به اخستلی شی او هغو ضرورتمندو خلقو ته به واپس ورکولې شی یعنې دزکٰوة دراغونډولو اهتمام داسلامی حکومت له وجائبو څخه دې، حکومت له اغنیاؤ څخه دزکٰوة په اخستلو کی دفقراؤ نیابت کوی او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هم چه کله معاذ رضی الله تعالی عنه یمن ته دوالی په توګه لیږه هغه ته یې هدایت ورکړو چه ((هغوئ پوهه کړه چه الله تعالی ورباندې زکٰوة فرض کړیدې دهغوئ له شتمنو څخه به اخستل کیږی او دهغوئ بیوزلوته به ورکول کیږی دغه مبارك حدیث دامعلومه اوثابته کړه چه داسلام په نظر کې زکٰوة بل څه ندی مګر یولاس نه بل لاس ته دهغه مال انتقال دې چه دهغې حقیقی

مالك الله تعالی دې او شتمن خلك دهغې امانتګر دی ، یادقرآن کریم پـه اصطلاح
مستخلفین دی دحکومت نیابت پدې خاطر چه دغه واك دافرادو پـه لاس کی پاتی
نشی ځکه زیاتر افراد دا تضمن نشی کولی چه مستحقینو تـه دهغوئ حقوق ورسوی
بل دا چه دشتمن نه زیات ابرو اوکرامت ساتنه له حکومت څخه اخستل دی اوبل داچه
دزکوٰة ځینې دلګنبت ځایونه چه قرآن مجید معرفی کړیدی پـه هغوئ کی مصرفول
دافرادو له طاقت نه پورته دی لکه دفی سبیل الله جهاد په لاره کی دمجاهدینو مجهز
کول یا دعامو مسلمانانو ښیګنې پدې خبره هم پوهیدل پکار دی چه زکوٰة اګر که بیت
المال ته تحویلږی خو دهغی دبودجې فصل او باب باید جدا وی او یوازې په هغو لارو
کې باید مصرف کړې شی چه قرآن کریم ټاکلی دی، حکومتی واکمنان په هغه کی په
خپله خوښه تصرف نشی کولې

**نکته** : امام غزالی رحمه الله دزکوٰة ورکولو اتـه آداب ذکر فرمایلی دی : ۱ـ آدب
دادې چه دټولو نه مخکې پدې خبره پوهیدل پکار دی چه آخر زکوٰة ولی واجب شو؟
دایی ولی داسلام رکن مقرر کړو؟ ددې درې وجهې دي (**الف**) چه پـه ژبـه دکلمې اقرار
دې یعنې دا چه هغه سره بل هیڅ یو څیز شریك نشته دې او ددې تکمیل هلته کیدې
شی چه دهغه یو پاك ذات نه سیوا دمحبت ددعویدارو پـه زړه کې پـه اختیاری طور څه
دبل څیز ګنجائش پاتی نشی ځکه چه پـه محبت کې هرګز شرکت نشی راتلې یعنې
برداشت یې نشی کولې اومحض پـه ژبـه دمحبت دعوی بیکاره ده پـه دې وجـه داالله
تعالی سره محبت او دهغه دتنهاء معبودیت پـه اقرار کې دامتحان پـه طور باندی دمال
خرچ کول فرض کړې شوچه پدې سره دخلقو داالله تعالی سره محبت اندازه کیږی ، هم
پدې وجه داالله تعالی ارشاد دې ((إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ
الْجَنَّةَ)) ( سورة توبه) نو بنی آدم پـه دې امتحان کې پـه درې قسمه شو : ۱ـ پـخپلـه دخپلې
کلمې اقرار، عهد (لوظ) یې پوره پوره اداء کړو چه خپل ټول مال یې دهغه پـه نوم قربان
کړو له همدې وجهې نه ځینې بزرګانو څخه چا پوښتنه وکړه چه پـه دوه سوه کې څومره
زکوٰة دې هغوئ ورته اوفرمایل چه دشریعت مطهره دضابطی موافق پنځه روپئ دی

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

لیکن مونږ ته ټول مال خرچ کول پکار دي. همدا وجه ده چه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه خپل ټول مال دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې پیش کړو او دمحبت دعوی یې داسې پوره کړه چه دمحبوب نه سیوا یې هیڅ هم پرې نښودل، ۲_ دویم قسم خلق هغه دی چه درمیانه «منځنی» درجې کې دی چه هغوئ په قدر دحاجت او دضرورت مال باقی ساتی په مقدارِ زکوٰة اکتفاء نکوی بلکه زیات مال چه څومره ور سره وی هغه ټول خرچ کوی له همدې وجهې نه بعضو حضراتو تابعینو لکه امام نخعی، شعبی وغیره رحمهم الله حضرات وایی چه دده په مال کې زکوٰة نه علاوه هم حقوق واجب دی ، ددوئ په نزد په مالدارو باندی واجب دی چه محتاج وگوری او زکوٰة څخه علاوه دهغه احتیاج رفع کړی لکه دفقهی په اعتبار سره دمضطر حاجت پوره کول فرض کفائی دی ،۳_ قسم دادنی درجی خلق دی چه صرف واجب مقدار اداء کوی نه یې له هغه څخه کموی اونه یی زیاتوي، عام اکثر خلق په دې کې داخل دی ځکه چه ددوئ له مال سره محبت وی ددې په خرچ کولو کې بخل کوی ددوئ دآخرت سره رغبت هم دې، امام غزالی رحمه الله درې قسمه بنی آدم لیکلی دی، ده څلورم قسم ندې ذکر کړې اودا هغه دی چه هغه مقدار واجب هم پوره نه اداء کوی یایی بالکل زکوٰة نه ورکوی نو دا خلق پخپله دعویٰ دمحبت کې بالکل دروغژن دی ،ددا سې خلقو ذکر ته څه ضرورت نشته ځوك چه په دروغو دمحبت دعویدار دی.

ب : پدې وجهې سره زکوٰة رکن مقرر شوې دې چه دا دانسان نه یو مهلك اوهلاکوونکی صفت لرې کوی چه هغه بخل دی، دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دې چه درې شیان مُهلك دی، یو هغه حرص اوبُخل (یعنې لالچ، شومتیا) دې چه دکوم اطاعت وکړې شی (یعنې کچیرې طبعًا ځوك شوم وی خو عمل دخپل طبعیت نه خلاف کوی په طبعیت باندې جبر کوی نو دا خو مُهلك ندې، مُهلك هغه بُخل دی چه عمل هم دهغه موافق وی) ، دویم چه دخپل نفس دخواهشاتو اتباع وکړې شی ، دریم شی هغه دې چه هرکس خپله رأیه اونظر دټولو څخه بهتر گڼی، ددینه علاوه په گڼو آیتونو او احادیثو کې دبُخل مذمت راغلي دې

ج پدې سره هم دا دالله تعالی دنعمت مال شکرانه ده، یعنې طاعت بدنیه دبدنی

انعاماتو شکرانه ده او طاعت مالیه دمالی انعاماتو شکرانه ده، څومره بدبخت دی هغه انسان چه فقیر وګوری بیاهم دده په زړه کې دالله تعالی دهغه نعمت دشکرانی خیال رانشی بلکه دغه انسان یې ددې قابل کړو چه بل کس دده په مخکې خپل ضرورت پیش کړو، آیا ددې شکرانه دا نده چه دخپل مال لسمه (عشر) یا څلویښتمه (زکوة) حصه دالله تعالی په نامه خرچ کړی.

۲ـ دویم ادب دزکوة دادا کولو دوخت په اعتبار سره دې، پکاردی چه زکوة د واجب کیدلو نه مخکی اداکړی پدیکې د الله تعالی دحکم په منلو کې درغبت او شوق اظهار دې، دفقیرانو په زړه کې خوشحالی پیداکول دی، ځکه چه په تاخیر کې په خپل مال اوجان باندې د آفاتو دراتللو احتمال شته او دځینو علماء کرامو په نزد فوراً اداء کول ضروری دی دهغوئ په نزد د تاخیر ګناه مستقله ده، دزکوة اداء کولو خیال چه پیدا شی دا په حقیقت کې دملائکو تحریك (ښودنه) اوترغیب دې، دیوحدیث شریف مضمون هم دې ، اوښه صورت دادې چه یوه میاشت مقرره کړی چه ثواب یې زیاتی حاصل شی لکه دمحرم میاشت چه دهجری کال دشروع کیدو میاشت ده اوپه اشهر الحرم کې داخله ده پدې کې یوه ورځ دعاشوری هم ده چه پدې کې خیرات اوپه اهل او عیال باندی په خرچ کولو کې دوسعت فضیلت راغلې دې ، بهتره داده چه لسم تاریخ مقرر کړې شی، یا مثلاً درمضان المبارك میاشت ده چه په احادیثو کې راغلی دی چه خوږ نبی صلی الله علیه وسلم به پدې میاشت کې په سخاوت او بخشش کولو کې دټولوبنیادمو نه زیات وو، پدې کې لیلة القدر هم شته چه دزرو میاشتو څخه بهتره ده او همدارنګه دذوالحجې (لوئ اختر) میاشت هم دلوئ فضیلت په میاشتو کې ده پدې کې حج شته پدې کې آیام تشریق هم شته اویابله میاشت ورته مقرره کړی، پدې کې یوه خبره په ذهن کې ساتل پکار دی چه دزکوة دارومدار دقمری په کال دی (یعنې دسپوږمۍ دمیاشتې په حساب سره دې) په شمسی کال باندې ندې، بعضې خلق په انګریزی میاشتی دزکوة حساب ساتی پدې کې دلسو ورځو تاخیر هرکال کیږی، دینه علاوه به په شپږ دیرش کالو کې دیو کال زکوة کم شی نو دا بیا دده په ذمه پاتې شو.

۳ـ دریم آدب دزکوة په مخفی (پټه) طریقه ادا کول دی ځکه پدې کې دریا او

شهرت نه په آمان کیدل دی او داخستونکی پرده پوشی ده او دهغه دذلت څخه بچ کول دی .او بهتره هم داده چه کچرې څه مجبوری په ښکاره والی کې نوی.

۴ـ څلورم ادب دادې کچیرې دینی مصلحت داظهار «ښکاره والی» وی مثلاً نوروتـه ترغیب مقصود وی یانور خلق دده دعمل تابعداری کوی یابل څه دینی مصلحت پکې وی نوهغه وخت اظهار بهتر دې.

۵ـ پنځم ادب دادې چه خپله صدقه په من (احسان) او اذی (تکلیف رسولو) سره برباد نکړی.دمن معنی داحسان وریادولو ده یعنې ورتـه ووایی چه ما نیکی در سره کړیده ، او داذی معنی تکلیف رسول دی.یعنې دغرور اوکبر په طریقه ورتـه یوقسم اذیت رسوی، لکه چه ورته ووایی : زما لاسته ناست دې ، حاجتمند دې، وغیره وغیره.

۶ـ شپږم ادب دادې چه خپله صدقه حقیره اولږه گڼې لویه گڼلو سره دعجب «لویی» پیدا کیدو خطره ده چه دلویۍ هلاکت څیزدې او دنیکو عملونو بربادونکی دې

۷ـ اوم ادب دادې چه دالله تعالی په لاره کې صدقه کولو لپاره خصوصاً زکوة اداکولو کې کوم چه هغه یو اهم حکم او فریضه ده بهتر نـه بهتر مال ورکوی ځکه چه الله تعالی په خپله طیّب (پاک) دې دهرقسم عیب څخه پاك دې، ځکه طیّب مال قبلوی، په یوحدیث کې راغلی دی چه یوه روپۍ کله دیولاکهه روپونه زیاتیږی ، او هغه دارنگه ده چه بنیادم دحلالی گټی نه ښه پاك مال دزړه په خوشحالی سره ورکړی په ځای ددې چه دمکروه مال نه یولاکهه روپۍ ورکړی.

۸ـ اتم ادب دادې چه خپله صدقه پداسې موقع کی خرچ کړی چه په هغې سره دهغې ثواب نور هم زیات شی.

اوشپږ صفتونه داسې دی چه چاته زکوة ورکول کیږی په هغه کې باید دا موجود وی اوهمدار رنگه که په چاکې ددینه یوصفت هم وی دهغه د زکوة دورکولو ثواب نورهم ډیر زیاتیږی یعنې چه څومره ورکی دا صفتونه زیاتیږی هغومره یی ثواب زیاتیږی اودثواب په اعتبار سره یی هغومره صدقه زیاتیږی.

**الف** : مُتّقِی : چه دوینا څخه بی رغبته او دآخرت په کارونو کی مشغول وی دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دې چه ستا طعام دې دمتقیانو نـه سیوا

هیڅوك نه خوری

ب : اهل علم وی، ځکه چه دوئ سره ستا امداد دهغوئ په علم حاصلولو او خورولو کښ تعاون کوی او ته به له هغوئ سره پدې کښ شامل شې اوعلم په ټولو عبادتونو کښ اشرف او اعلی عبادت دی.

ج : دغه کس په خپله تقوی او خپل علم کښ حقیقی موحد وی او دده علامه دا ده چه کله په هغه څوك احسان وکړی نوهغه دالله تعالی شکر اداء کړی او دزړه نه دا خبره وګڼی چه حقیقی احسان دهغه پاك ذات دی هم هغه په اصل کښ ورکوونکی دی اوکوم ورکوونکی چه په ظاهر کښ څه ورکوی هغه صرف واسطه او سفیردی.

د : په چاچه صدقه کولی شی هغه به دخپلو حاجتونو او ضرورتونو پټوونکی وی خلقو ته به خپل قلت معاش یعنی دآمدنی دکمی اظهار نه کوی، خصوصًا هغه کسان کوم چه دمُرَوَّت (عزت) والا وی یعنی فیّاض اوسخی خلقو نه وی. دداسی خلقو په تعریف کښ الله تعالی جل شانه فرمایلی دی : ((يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاء مِنَ التَّعَفُّفِ

ترجمه : دغه خلق دروزی دطلب دپاره چرته په مُلك کښ دګرځیدو راګرځیدو (عادت) طاقت نلری او نا واقف کس هغوئ لره د مالدار خیال کوی

ه : اوهغه څوك چه عیال داروی،دبال بچ خاوند وی. یا په څه بیماری کښ مبتلاوی یابل داسی سبب کی ګرفتار وی چه مال ګټلی نشی دا په قرآن پاك کښ ذکر شویدی ((أُحصِرُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ)) کښ داخل دی.

و : اوهغه څوك چه رشته دار وی پدی کی دصدقی ثواب بیل دی او دصله رحمی ثواب بیل دی(احیاء العلوم باختصار وزیادة).

☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# دجنت دروازه باب الرّيّان ((روژه))

محترمو مسلمانانو : روژه نیول هم لکه دلمونځ او زکوة داسلام یوغټ رکن او لازمی حکم دي خو په روژه کې یوه خاصه خبره داسې ده چه هغه په نورو عبادتونو کې نشته هغه دا چه روژه پټ کار دي سیوا دالله پاك نه وربانديې بل څوك نه خبريږی، نو دا په هغه بنده ساتی چه دچا په زړه کې دخپل رب سره مینه او دهغه نه یی ویره وی، اوکه فی الحال پدې تعلق کې څه کمې وی نو په تجربې سره ثابته شوې ده چه دمحبت اوعظمت په کارونو کولو محبت او عظمت پیدا کیږی نو په روژې نیولو سره دا کمې پوره کیږی او اسلامی عبادات ځینې قولی او ځینې بدنی دی او ځینې مالی دی اوځینې هم بدنی دی او هم مالی دی خو روژه نه دژبې په وینا سره سرته رسیږی اونه دبدن په حرکاتو سره اونه مالی تکلیف دی، بلکه یو روحی ارادی عمل دې چه په ظاهره سلبی او په حقیقت کې ایجابی دی، په ظاهره کې له خوراك څښاك اونفسی خواهشاتو څخه پرهیزدې په حقیقت کې هغه نیت او تصمیم دې چه دهرفعل اوترك دکولو اونه کولو بنیاد اوبنسټ معنی لری او د روژې دلوږې تندې په لیدلو سره له یوې خوا روژتي دخپل رب دنعمتونو قدر پیژنی دا هلته معلومیږی چه وږی اوتږی شی، لکه دترمذی په یوحدیث کې دی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : الله تعالی ماته دا پیشکش وکړو چه دمکی غرونه راته سره زر وگرځوی خو ما عرض وکړو ((نه)) ای زما ربه زه دا خوښوم چه یوه ورځ په مړه گیډه وخورم او یوه ورځ په لوږه تیره کړم، کله چه وږې شم تاته تضرع اوعاجزی وکړم اوستا یادونه وکړم اوکله چه ځان موړکړم نو ستا شکر اداء کړم او ستا ستاینه وکړم له بلی خوا دروژی اجتماعی رازونو سره آشنا کیږی څکه چه دلوږې په لیدلو سره یې وږو او بیوزلو فقراؤ ته پام وراوړی اوپه دې وپوهیږی چه پدې ټولنه کې څومره محتاج کسان ژوند کوی نو پدې وخت کې فغوئ ته دمرستې او تعاون لاس ورغځوی چه پدې توگه پخپله هم دالله تعالی درحمت مورد گرځی ، په یوحدیث شریف کې دی چه ((الراحمون رحمهم الرحمٰن ،ارحموا من

فی الارض یرحمکم من فی السماء» **ترجمه**: «په رحم کوونکو باندی مهربان خدای رحم کوی تاسې دځمکې پرخلقو رحم وکړئ ترڅوچه هغه ذات پر تاسې رحم وکړی چه په آسمان کې دی «یعنې پورته او لوړ ذات دې» روژه د ارادې دپوخوالی اوصبر او زغم انتهائی ښه درس دې اونفسی خواهشاتو سره مبارزه ده، او روژه دجهاد او مبارزې ښه سبق دې ځکه چې دجهاد لومړنئ وسیله صبر او زغم اومحکمه اراده ده، څوک چه خپل نفس سره جهاد ونکړې شی هغه به دشمن سره څنګه جهاد وکړې شی څوک چه لوږه، تنده ونشی زغملې هغه به ددین دښمنانو ته خپله سینه څنګه سپر «ځرګند» کړې شی او څوک چه خوراك څښتاك نه بیلتون ته تن ورنکړې شی هغه به له کورکلی وطن او خپلی کورنئ نه جدایی څنګه وګاللې شی؟ ، پدې اساس ویلی شو چه روژه داخلاقی اوروحانی لوړتیا او تکامل لپاره ډیره مؤثره وسیله ده ددغې فریضې دسرته رسولو لپاره په اسلام کې هغه بختوره او غوره میاشت ټاکلې شوې ده چه په هغې کې مالك الملك پرخپل غوره بنده محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم باندې خپل مبارك کتاب قرآن مجید نازل کړیدې. «شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيَ أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ» (سوره بقره) **ترجمه**: یعنې درمضان میاشت هغه ده چه نازل شویدې پدې کې قرآن لاره ښوونکې دې خلقوته او واضح دلیلونه دلارې سمې نه او جدا کول دحق او باطل نه. بل ځای ارشاد فرمایی «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ» (سوره بقره) **ترجمه**: یعنی ای دایمان خاوندانو په تاسو روژه فرض کړې شویده لکه څرنګه چه ستاسو نه وړاندې خلقو باندې هم فرض کړې شوې وه شاید چه تاسو پرهیزګارشئ، اوداسې نور آیتونه په قرآن شریف کې په آسانئ سره موندې شی، اومونږ دلته صرف په همدې اکتفاکوو اوس به په دې هکله یوڅو احادیث ذکر کړو:

۱ـ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم درمضان دراتلونه مخکې مسلمانانو ته یو وعظ وکړو: «وَعَنْ سَلْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ فِي آخِرِ يَوْمٍ مِنْ شَعْبَانَ قَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ أَظَلَّكُمْ شَهْرٌ عَظِيمٌ مُبَارَكٌ، شَهْرٌ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ شَ

جَعَلَ اللّٰهُ صِيَامَهُ فَرِيضَةً، وَقِيَامَ لَيْلِه تَطَوُّعاً، مَنْ تَقَرَّبَ فِيه بِخَصْلَةٍ مِنَ الْخَيْرِ كَانَ كَمَنْ أَدّٰى فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ، وَمَنْ أَدّٰى فَرِيضَةً فِيه كَانَ كَمَنْ أَدّٰى سَبْعِينَ فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ، وَهُوَ شَهْرُ الصَّبْرِ، وَالصَّبْرُ ثَوَابُهُ الْجَنَّةُ، وَشَهْرُ الْمُوَاسَاةِ، وَشَهْرٌ يُزَادُ فِي رِزْقِ الْمُؤْمِنِ فِيه، مَنْ فَطَّرَ فِيه صَائِماً كَانَ مَغْفِرَةً لِذُنُوبِه وَعِتْقَ رَقَبَتِه مِنَ النَّارِ، وَكَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِه مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أَجْرِه شَيْءٌ». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰه، لَيْسَ كُلُّنَا يَجِدُ مَا يُفَطِّرُ الصَّائِمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰه صلى الله عليه وسلم: «يُعْطِي اللّٰهُ هٰذَا الثَّوَابَ مَنْ فَطَّرَ صَائِماً عَلَى تَمْرَةٍ، أَوْ عَلَى شَرْبَةِ مَاءٍ، أَوْ مَذْقَةِ لَبَنٍ، وَهُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ، وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ، وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ، مَنْ خَفَّفَ عَنْ مَمْلُوكِه فِيه غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ، وَأَعْتَقَهُ مِنَ النَّارِ، وَاسْتَكْثِرُوا فِيه مِنْ أَرْبَعِ خِصَالٍ؛ خَصْلَتَيْنِ تُرْضُونَ بِهِمَا رَبَّكُمْ، وَخَصْلَتَيْنِ لَا غِنَاءَ بِكُمْ عَنْهُمَا. فَأَمَّا الْخَصْلَتَانِ اللَّتَانِ تُرْضُونَ بِهِمَا رَبَّكُمْ: فَشَهَادَةُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَتَسْتَغْفِرُونَهُ؛ وَأَمَّا الْخَصْلَتَانِ اللَّتَانِ لَا غِنَاءَ بِكُمْ عَنْهُمَا فَتَسْئَلُوْنَ اللّٰهَ الْجَنَّةَ وَتَعُوْذُوْنَ بِه مِنَ النَّارِ وَمَنْ سَقٰى صَائِمًا سَقَاهُ اللّٰهُ مِنْ حَوْضِيْ شَرْبَةً لَا يَظْمَأُ حَتّٰى يَدْخُلَ الْجَنَّةَ» (رواه ابن خزيمة كذا في ترغيب ، صـ ۲۰۳) ترجمه: حضرت سلمان رضی الله تعالی عنه فرمایي چه خورِ نبی صلی الله علیه وسلم دشعبان په وروستئ ورځ کې مونږ ته وعظ اوفرمايلو چه ای خلقو: په تاسو باندی یوعظیم الشانه اومبارکه میاشت را روانه ده پدې کې یوه شپه ده «شب قدر» چه دزرو میاشتو نه زیاته ده، الله تعالی ددې میاشتې روژې فرض کړیدی اوددې دشپې قیام یعنې لمونځ یې دثواب شی گرځولې دې ځوك چه پدې میاشت کې په یوه نیکی دالله تعالی نزدیکت حاصل کړی هغه داسې دی لکه چه په غیر رمضان کی فرض ادا کړی اوځوك چه پدې میاشت کی یوفرض اداء کړی هغه داسې دې لکه چه په غیر رمضان کې اویا(۷۰) فرض اداء کړی، دا میاشت دصبر ده او دصبر بدله جنت دې، او دا میاشت خلقو سره دغمخوارئ کولو ده پدې میاشت کې دمؤمن رزق زیاتولې شی، ځوك چه دیوه روژه دار روژه افطار کړی یعنې دروژه ماتی لپاره څه ورکړی نودهغه لپاره دگناهونو دمعاف کیدو او د اور نه دخلاصیدو سبب گرځی او دروژه دار دثواب په

شان به دده ثواب هم اوشی خو ددغه روژه دار دثواب نه به هیڅ هم نشی کمولی
صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم عرض وکړو چه ای دالله تعالی رسوله (صلی الله
علیه وسلم) په مونږ کی خو هریو کس دومره طاقت نلری چه دروژه دار افطار وکړی
نو خوږ نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمایل ((چه دا په مره گیده خوړلو باندې موقوف
نده)) دا ثواب خو الله جل شانه په یوه کجوره روژې ماتولو یا په یو گوټ (غړپ) اوبو
په یو غړپ پیو (شیدو) څښلو هم ورکوی، دا یوه داسې میاشت ده چه ددې اوله حصه
یی دالله تعالی رحمت دې او منځنۍ حصه یی مغفرت دې او وروستۍ حصه یی داور نه
آزادی ده ، څوك چه پدې میاشت کې دخپل غلام او خادم نه بوج سپك کړی ،الله تعالی
جل شانه دهغه مغفرت فرمایی او د اور نه آزادی ورکوی، (اوبیایی اوفرمایل چه
تاسو پدې میاشت کې دڅلورو شیانو کثرت کوئ چه په هغې کې دوه شیان خو دالله
تعالی درضاء لپاره دی اودوه شیان داسې دی چه دهغې نه بغیر ستاسو خلاصی
نشته، ړومبی دوه شیان چه په هغی تاسو خپل رب راضی کړئ هغه دکلمه طیبه او
داستغفار ډیر والې دې، اونور دوه شیان چه ستاسو ترینه خلاصې نشته هغه دادی چه
پدې میاشت کې دجنت طلب زیات کوئ او داور نه پناه زیاته غواړئ، څوك چه په کوم
روژه دار اوبه وڅښی الله تعالی جل جلاله به دقیامت په ورځ څما دحوض نه په هغه
داسې اوبه اوڅښی چه هغې نه پس به جنت کی تر داخلیدو پورې نه تږدی کیږی؟.

**نکته** : دخوږ نبی صلی الله علیه وسلم مقصد ددې خطبی نه دمسلمانانو په زړو کې
درمضان اهتمام کینول وو چه درمضان هره لمحه کی عبادت الهی کول پکار دی او
دروژې مقصد فاقه او دجسم تکلیف ندې بلکه ددینه مقصد دنفس اصلاح ده چه ددې
وجهی نه په نفسی خواهشاتو قابو راشی او اخلاق حسنه پیدا شی او په دغه مبارکه
خطبه کې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دغی میاشتې ته دلوئې اوبرکتی لقب
ورکړو ، ددې مطلب دادې چه پدې کې الله تعالی دمؤمنانو لپاره داسې فرصتونه
اوزمینې برابروی چه دوئ ورکې بی شمیره برکتونه ترلاسه کولای شی او هر څومره
زیات نیك عملونه چه سرته ورسوی هغه ټول به دده لپاره د زیات روحانی پرمختګ
وسیله وگرځی نو اوس به لیدې شی چه مؤمن دڅان لپاره څومره استفاده ترینه کوی

له یوې خوا پدغه میاشت کې دیو فرض د اداء کولو اجر او ثواب په نورو وختونو کې
داویا (۷۰) فرضونو په اندازه ښودلې شویدی او له بلې خوا هر نفلی عبادت دنورو
وختونو دفرض عبادت په درجې کی معرفی شویدې ، دورځې قیام وظیفه سرته رسول
او دشپې قیام په خپله خوښه او د زړه په مینه درضا کارانه خدمتونو بل انعام
دې پدې مقدسه میاشت کې دشپې شل رکعته تراویح سنّت مؤکده دی او لوئ عبادت
دې، حضرت مولانا شاه عبدالحق صاحب محدث دهلوی رحمه الله په (ماثَبَتَ بالسّنّة)
کتاب کې دفقهی ځینې کتابونو نه نقل کړیدي کچیرې دیوښار خلق تراویح پریږدی نو
بادشاه دوقت دې ورسره جنګ وکړی خو دلته دیوې خبرې خیال ساتل پکار دی هغه دا
چه ټول قرآن شریف په تراویحو کې لوستل یا اوریدل دا مستقل ځانته سنت دې او
پوره رمضان شریف کې تراویح کول مستقل او ځانته سنت دې کچیرې یوهم پاتې شی
نو یو سنت پاتې شو ، اوپدې خطبه کې ټولونه اول نبی اکرم صلی الله علیه وسلم
شبقدر ته د خلقو توجّه وګرځوله چه دا په حقیقت کی ډیره اهمه شپه ده اولیلة القدر
هغه مبارکه شپه ده چه په هغې کې قرآن کریم دلوح محفوظ نه ددنیا آسمان ته یوځای
نازل شوی وو، پدې شپه کې عبادت دزرو میاشتو دعبادت نه بهتر دې له زرو
میاشتونه درې اتیا (۸۳) کاله او څلور میاشتې جوړیږی، په دغه شپه کې جبرئیل آمین
علیه السلام اوبې شماره فرشتې لاندې راکوزیږی ددې لپاره چه عظیم الشان خیر
اوبرکت نه خلق مستفیض کړی ، په حدیث مبارک کې راغلی دی ((تحرّوا اللیلة القدر
فی الوتر من العشر الاواخر من رمضان)) یعنې لیلة القدر درمضان دآخری عشرې په
طاقو شپو کې تلاش کوئ ځکه چه په دغو شپو کې ددې احتمال ډیر دې ، اوه ویشتم
(۲۷) درمضان خو ډیر زیات محتمل دې مګر دا شپه متعین نده بلکه بدلیږی
رابدلیږی ددې وجهې نه چه خلق ددې تلاش وکړی پدې کې حتی الوسع ډیر عبادت
لمونځونه تلاوت قرآن او استغفار وغیره کول پکار دی که یوانسان نوره هیڅ هم
ونشی کولې نو دمانښام ، ماسخوتن او سحر په لمونځونو کی که پابندی وکړی نو هم
یوکافی حصّه ثواب بې وموندلو ، دا شپه په حقیقت کې دامت محمدیه یو خصوصیت
دې مخکی امتونو ته دا نه وه ورکړې شوې په بعضې احادیثو کې دا راځی چه یو واری

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دخلورو پیغمبرانو ذکر اوفرمایلو ، دحضرت ایوب علیه السلام ، حضرت ذکریا علیه السلام ، حضرت حزقئیل علیه السلام او حضرت یوشع علیه السلام، چه هغو اتیا ، اتیا کاله عبادت پداسې طریقې سره کړې وو چه دیوې زرې په اندازه نافرمانی یې هم نه وه کړې پدې باندې صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم اجمعین حیران شول ، تردې چه حضرت جبرئیل علیه السلام راغې او سورة قدر یې واورولو ، په یوبل حدیث شریف کې راغلی دی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دمخکی امتونو عمرونو ته وکتل چه دهغوئ عمرونه خو ډیر زیات وو او زما دامت عمرونه خو ډیر کم دی که چیرې دوئ په نیکو اعمالو کې دهغوئ سره برابری کول وغواړې نو ناممکنه ده، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ډیر رنجیده شو نو الله تعالی دهغه دتلافی لپاره دا شپه مرحمت وګرځوله. او په همدې خطبې کې دیته اشاره ده چه دا دصبر میاشت ده ، یعنې که په روژې نیولو کې څه تکلیف وی نو په ذوق او شوق سره یې برداشت کول پکاردی ، نه دا چه چغې سورې، فریادونه او شکایتونه کوی، لکه څرنګه چه داکثرو خلقو دګرمۍ په رمضان کې عادت وی، یا پیشمنې ترینه پاتې شی نوچغې سورې کوی یا په تراویحو کې څه تکلیف وی، دا ډیره دمحرومۍ خبره ده ، ددنیاوی اغراضو لپاره خوړل، څښل، راحت او آرام ټول پریږدو نو دالله تعالی درضاء دحاصلولو په مقابله کې ددې ټولو شیانو څه حیثیت کیدې شی او څنګه چه دورځې په اوږدو کې الله تعالی حرام کړیدی نو هغه کنترولول همدا دصبر مفهوم دی.

پیشمنی کول مسنون او باعث دبرکت اوثواب دی، په یومبارك حدیث کې راځی ((تَسَحَّرُوا فَإِنَّ فِي السَّحُورِ بَرَكَةً)) یعنې پیشمنې کوئ ځکه چه پدې کی برکت دې، په یوبل حدیث کې راځی چه په دریو څیزونو کې برکت دې : ۱ـ جماعت، ۲ـ ثرید (ماته شوې ډوډئ) ، ۳ـ پیشمنی ، او هم الله تعالی او هم دهغه فرشتې په پیشمنی کوونکو درود وایی ((إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ وَمَلاَئِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الْمُتَسَحِّرِينَ)) ،اوپه یوبل حدیث دی چه د اهل کتابو اوزمونږ په روژو کې فرق په پیشمنی کولو سره دې چه هغوئ پیشمنې نکوی اومونږ یې کوو ، خلاصه دا چه په پیشمنی کولو کی اتباع دسنت هم ده او داهل

ځکه مخالفت هم دې او مونږ په اتباع دسنت او مخالفت داهل کتابو حتی کتابو مامور یو ، دنیمې شپې نه وروسته دپیشمنی وخت دې اوصبح صادق ته قریب الوسع کول یې بهتر دی، دخوراك نه بعد دې دروژې نیت داسی وکړی «بِصَوْمِ غَدٍ نَوَيْتُ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ» که صرف په زړه کې یې نیت وکړو نو هم کافی دې ځکه چه نیت دزړه دقصد او ارادې نوم دې، دروژې لپاره نیت شرط دې که نیت یې ونکړو نوروژه نه صحیح کیږی، دشپې ځخه نیت کول بهتر دی که دشپې ځخه یې نیت ونکړو نو که خوراك ښباك یې نوی کړی نودنصف النهار نه مخکی یعنی دزوال نه یونیم ساعت مخکې پورې نیت کولې شی، بیا ارشاد دې چه دا دغمخوارئ میاشت ده یعنې غریبانو مسکینانو سره ښیگړه کول، غرض دادې چه څومره قدرې دې همت کیدې شی دخپل روژه ماتی او دپیشمنی په خوراك کې دغریبانو حصه هم ضرور ورکول پکار دی، او حمّاد بن سلمه رحمه الله یومشهور محدّث دې هغه به روزانه دپنځوسو کسانو دروژه ماتی بندوبست کولو «روح البیان» . اوهمدارنگه په مبارکی خطبی کی درمضان المبارك میاشت په دریو برخو ویشل شویده ، لومړی لسیزه درحمت ورځی دی، دویمه لسیزه دمغفرت اودریمه لسیزه دنجات ورځی ښودل شویدی، ددغه درانه عبادت له پیل سره سم دمؤمن په ژوند کی یوخاص کیفیت پیداشی دبندگی او عبدیت کیفیت دخپل حقیقی بادار دمخلصانه اطاعت کیفیت او دحیوانی ساحی نه لوړ ملکوتی کیفیت چه دورځی په اوږدو کی دسهار له سفیده داغ نه تر ماښامه پورې ترخوراك اوښباك اوترڅنگ خپل نفسانی خواهشات هم کنترولوی اودشپې قیام دی زړه یې خوب او استراحت غواړی خو مؤمن عبادت ته پر خوب باندی ترجیح ورکوی نوځکه خود مهربان خدای جل جلاله رحمت هم پیل کړې چه ټوله اسلامی نړۍ پرې خوربه کیږی بیا ورپسی دغفار خدای دمغفرت اوبښنې وار راشی روژتیانو مؤمنانو نه چې دروژې نیولو ټول آداب یې رعایت کړیدې دهغوئ قصور اوگناهونه ښنی هغوئ نه معافی کوی دعصیان خیرو نه یې پاکوی هغوئ سره همدا ښایدله چه داطاعت سرښکته کړی په خپل قصور او خطاء اعتراف وکړی دالله پاك له لوئ شان سره دا وړ

ده چه هغوئ ته معافي او مغفرت وکړي او دمغفرت په نتیجه کې نجات ورپربرخه کړي دفرمانبرداری غوره مکافات اوانعام ورکړي، اوس چه درمضان المبارك وروستئ لسیزه ده پدیکې دعبادت بیل کم او کیف دې چه په تیرو دووبرخو کې نه وو، پدې برخه کی داعتکاف ریاضت دې چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به یی خاص اهتمام کولو، درمضان شریف په آخری لسو شپو کې اعتکاف ډیر فضیلت لري، اعتکاف عبارت دې په مسجد کې په نیت دتقرب الهی سره له ناستې نه اوله دنیانه دمنقطع کیدو او دالله تعالی په دروازه کې دپریوتونه ، اعتکاف په درې قسمه دې: ۱ـ واجب، ۲ـ سنت، ۳ـ اونفل.

اول واجب: که څوك په ځان دیوڅوورځو اعتکاف نذر کړي نو ددې پوره کول واجب دی، دویم سنت دې چه کوم درمضان په آخری عشره کې کولې شی، دریم نفل دې مثلاً مسجد ته د داخلیدو په وخت کې داعتکاف نیت کول ددې لپاره وخت یا مقدار نشته دې، دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم عادت مبارك درمضان په آخری عشره کې اعتکاف ووچه دیویشتمې (۲۱) شپې نه داختر ترمیاشت ښکاره کیدو پورې به وو، په آخری لسو شپو کې اعتکاف سنت کفایه دې، که دلوئ کلی په هره محله کې او په واړه کلی کې یوتن هم معتکف شی نو دټولو ذمّه به فارغه شی، او که نه نو ټول به تارك سنت وی، داعتکاف دپاره بهترین ځای مسجد حرام دې، بیامسجد نبوی دې، بیا مسجد اقصیٰ دې، بیا مسجد جامع دې، بیا مسجد محله دې.

بیا نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دخطبی په یوه بله برخه کې فرمایلی دی چه په غلام اونوکر باندی پدې میاشت کې دکار کموالې کوئ ځکه چه هغه روژه دار دې دکار په سختی سره به په روژه کې تکلیف ورته جوړشی، کچیرې کار زیات وی نو پکار دی چه یوبل زیات نوکر ونیسی چه په ټولو کار سپك شی ، ددینه پس خوږ نبی صلی الله علیه وسلم دځلورو شیانودډیروالی حکم فرمایلی دې، اول کلمه طیبه چه په احادیثو کی ورته افضل الذکر ویلی شویده، په یوحدیث شریف کی دی چه څوك په اخلاص سره دا کلمه ووایی نود آسمان دروازې دهغه لپاره سمدستی لرې شی او عرش ته درسیدو په وخت کې ورته هیڅ قسمه بندیز نوی خوپه شرط ددې چه ویونکې

دکبائرو يعنې غټو ګناهونو نه ځان ساتي ، دويم استغفار دې، ددې هم ډير
ېې فضيلتونه راغلی دی، په يو حديث شريف کې راغلی دی، ((من لزم الاستغفار جعل الله
له من کل ضيق مخرجًا ومن کل همّ فَرَجًا ورزقه من حيث لايحتسب)) (رواه ابوداؤد)
يعنې چه څوك ډير ډير استغفار کوی الله تعالی به ورته په تنګسيا کې لاره راوباسی او
دهرغم نه به يې خلاصې نصيب کړی، او په داسې طريقه به ورته روزی رسوی چه دهغه
په وهم اوګمان کې به هم نوی، ددينه پس خوږ نبی صلی الله عليه وسلم ددوه څيزونو
دغوښتلو حکم وکړوچه دهغې نه بغير خلاصې نشته ، يو دجنت حاصليدل اوبل ددوزخ
نه په امن کيدل ، الله پاك جل جلاله دې په خپل فضل سره دهغه ښکلې جنت زما هم
نصيب کړی او ستاسو هم، آمين يارب العالمين.

۲ ـ ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَـمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَـرَابَهُ)) (رواه البخاری)
**ترجمه** : (دحضرت ابوهريرة رضي الله تعالی عنه نه روايت دې چه درسول الله صلی الله
عليه ارشادمبارك دې : کوم سړی چه دروژې نيولو با وجود ددروغو ويل او پـه هغې
باندې عمل کول پرې نښودل نو دالله تعالی داسې سړی سره هيڅ دلچسپی نوی هغه
وږې وی ياتږې) ، يعنې دروژی ساتلو نه دالله تعالی مقصود انسان نيك جوړول دی که
هغه نيك نشو او خپل ژوند يې په ريښتياو ښائسته نکړو: په رمضان المبارك کې هم
په باطلو اوناحقو خبروکې مشغو وو، او درمضان نه بغير يې هم ژوند دريشتياوو نه
خالي وو نوداسې سړی تـه سوچ او فکر کول پکاردی چه آخر دځه لپاره دسحر نه
ترماښامه پوري لوږه تنده تيروی، ددې حديث شريف نه مقصود دادې چه دروژې
دساتلو نه اصلی مقصد داصل روح نه واقف کيدل پکار دی او هروخت دا خبره په ذهن
کې ساتل پکار دی چه دڅه لپاره يې خوراك څښاك پريښې دې.

۳ ـ ((الصِّيَامُ جُنَّةٌ وَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلاَ يَرْفُثْ وَلاَ يَصْخَبْ فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ)) (رواه البخاری ومسلم) **ترجمه** : نبی کريم صلی الله عليه
وسلم اوفرمايل : روژه ډال دې اوپه تاسو کې چه دچا روژه وی نو د خپلې ژبې نه دې

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

فحش خبره نه اوکاڼي اونه دې شور اوهنګامه کوی اوکه څوك ورته کنځل وغیره وکړی یا ورسره جنګ ته تیارشی نودې روژه دار ته سوچ کول پکاردی چه اووایی زه خو روژه داریم ((زه څنګه چاسره کنځل یا جنګ جګړه کولې شم))

۴ـ ((عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ حِكَايَةً عَنْ رَّبِهِ تَعَالَى كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلاَّ الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ)) **ترجمه** : نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه حکایت یې کړې د ې دپروردګارخپل نه : هرعمل دبنی آدم ده لره دې بې له روژې نه چه دا هم ما لره ده اوزه به یې پخپله جزاء ورکومه ((څکه چه دا پټ راز دې دالله تعالی او دبنده ترمنځ نو اجربه یې هم الله تعالی په خپله ورکوی)).

۵ـ ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُعْطِيَتْ أُمَّتِي خَمْسَ خِصَالٍ فِي رَمَضَانَ لَمْ تُعْطَهَا أُمَّةٌ قَبْلَهُمْ خُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ وَتَسْتَغْفِرُ لَهُمُ الْحِيْتَانُ حَتَّى يُفْطِرُوا وَيُزَيِّنُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ كُلَّ يَوْمٍ جَنَّتَهُ ثُمَّ يَقُولُ يُوشِكُ عِبَادِي الصَّالِحُونَ أَنْ يُلْقُوا عَنْهُمُ الْمَئُونَةَ وَيَصِيرُوا إِلَيْكِ وَيُصَفَّدُ فِيهِ مَرَدَةُ الشَّيَاطِينِ فَلاَ يَخْلُصُوا فِيهِ إِلَى مَا كَانُوا يَخْلُصُونَ إِلَيْهِ فِي غَيْرِهِ وَيُغْفَرُ لَهُمْ فِي آخِرِ لَيْلَةٍ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَهِيَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ قَالَ لاَ وَلَكِنَّ الْعَامِلَ إِنَّمَا يُوَفَّى أَجْرَهُ إِذَا قَضَى عَمَلَهُ)) (رواه احمد والبیهقی) **ترجمه** : حضرت ابو هریرة رضی الله تعالی عنه دخوږ نبی صلی الله علیه وسلم څخه نقل کوی چه زما امت ته په رمضان شریف کې پنځه شیان په خاص طور ورکړې شویدی او مخکینو امتونوته نه وو ورکړې شوی اول دا چه دروژه دار لپاره ددریاب تر کبانو (ماهیانو) پورې دعاء کوی، او دروژه ماتی تروختـه پورې یې کوی ، دویم داچه جنت هره ورځ دهغوئ لپاره ښائیسته کولې شی، بیا الله جل شانه فرمایی : چه نژدې ده چه زما نیك بندګان به (ددنیا) مشقتونه دخپل ځان نه وغورځوی او ستا طرف تـه به راشی ، څلورم پـه رمضان کې سرکش شیطانان قیدولې شی چه هغوئ پـه رمضان کې دهغه بدو کارونو طرف تـه نشی رسیدلې چه کومو تـه بغیر درمضان نه رسیدلې شی، پنځم درمضان په آخری شپه کې روژه دارتـه مغفرت کیږی. صحابه کرامو عرض وکړو چه آیا دمغفرت شپه شب قدر ده؟ نبی علیه الصلوة والسلام ورته اوفرمایل : نه بلکه قاعده داده چه مزدور ته دکار ختمیدو په وخت کې

مزدوری ورکولې شي.

**نکته** : دروژه دار دخولی بدبویی(خلوف) په لفظ کې مختلف اقوال دی، یو داهم دې چه دقیامت په ورځ به کله چه خلق دقبرونو څخه راپورته شي نودا نښه به یی وی چه دروژه دار دخولې څخه به یوقسم خوشبوئی چه دمشکو دخوشبوئی نه به زیاته بهتره وی راوزی اوځینې امامانو رحمهم الله دورژه دار لپاره دماښام په وخت کې مسواك وهل منع کړیدی او دحنفیانو رحمهم الله په نزد مسواك وهل هر وخت مستحب دی ځکه چه مسواك سره دغاښونو بدبوی لرې کیږی او په حدیث شریف کې چه کوم بوئ ذکر شوې دی هغه دمعدې دې چه کوم وخت معده خالی شی بدبوئ ترینه راخیژی اوبل داچه محبوبیت دومره زیات شی چه ماهیان هم ورته دعاګانی کوی اوپه یوحدیث کې راغلی دی چه کله الله تعالی کوم بنده سره محبت کوی نوجبرئیل آمین علیه السلام ته ارشاد اوفرمایی چه زما فلانکې بنده خوښ دې ته هم دهغه سره محبت کوه، هغه ورسره پخپله محبت کوی اوپه آسمان کې آواز کوی چه فلانکې بنده دالله تعالی خوښ دې تاسو ټول ورسره محبت وکړئ ، بس آسمانو والا ورسره محبت کوی، بیا دهغه لپاره په ځمکه کې قبولیّت کیښودې شي (رواه مسلم) ، اوبل داچه په ځینې روایتونو کې دی چه دکال دشروع نه درمضان لپاره دجنت ښائسته کول شروع شی او دا قانون دې چه دچا دتللو څومره اهتمام وی هغه هومره دهغه لپاره دمخکې نه انتظام کیږی درمضان انتظام په میاشتو دمخکی نه کولې شی اول داچه په مشاهده سره ثابته ده چه رمضان المبارك دنورو میاشتو په نسبت خلك پرهیزګاره شی ځکه چه شیطان قید شی اوکه څه ګناهونه کیږی هغه دمخکی څخه یاعادت وی یا نفس امّاره یی پرې کوی چه هغه دانسان بدترین دشمن دې، ((إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ)) اوبل داچه رمضان المبارك په آخری شپه کې دروژه دار مغفرت کولې شی ځکه چه قانون دادې چه دکار په ختمیدو سره مزدور ته مزدوری ورکولې شی، اوس نو دا دمؤمن کاردې چه له دغونه څومره فیوضات ترلاسه کولې شی او ترکومې اندازې پورې خپل ځان دالله تعالی دانعام مستحق ګرځولې شی. (اللهم سهل علینا کل صعب بحرمة سید العرب والعجم، آمین یارب العالمین).

# دعشق مظاهره ((حج))

محترمو مسلمانانو : حج کول هم لکه دلمونځ ، زکوٰة ، روژې د اسلام ستر رکن او لازمي حکم دي لیکن په حج کې یوه خاصه خبره ده او هغه داسې ده چه په نورو عبادتونو کې نشته، هغه داده چه په نورو عبادتونو کې خو په ځینې کارونو عقلي مصلحتونه او فائدې هم شته چه بنده پرې پوهیږي، لیکن د حج کارونه ټول عاشقانه دي او حج په صحیح طریقې سره هغه څوك کولې شي چه په عقل یې عشق غالب وي او که په شروع کې ورکې څه کمې هم وي بیا هم دا تجربه ده چه عاشقانه کارونو کولو سره عشق زیاتیږي نو په حج کولو به یې دا کمې پوره شي او بیا خصوصًا چه څوك د حج کارونه پدې خیال او فکر وکړي نو په حج کولو کې د دین د مظبوطولو خاصیت دې، خلاصه دا چه په اصل کې عبادت په دوه قسمه دې : ځینې د الله تعالی د شان حاکمانه سره تعلق لري او بعضي نوریې د شان محبوبانه سره تعلق لري ، لمونځ د شان حاکمانه سره تعلق لري، حاکمانه مطلب دا چه هغه حاکم دې مونږ محکوم یو . زکوٰة دواړو سره تعلق لري ځکه چه عشر زکوٰة سلطاني حقوق هم دي او د محبوب په لاره کې مال خرچ کول هم دي، روژه او حج د خالص شان محبوبیت سره تعلق لري او د عشق مظاهر دي ، دعشق اوله مرحله دا وي چه عاشق د نیوي لذتونه خوراك څښاك، خوب او جماع پریږدي، روژه د دې درجې د محبت مظهر دې کما مرّ في الصوم، اعتکاف هم د دغه عاشقانه کړئ سلسله ده چه کله عشق سیوا شي نو خپل کور اولاد خپلوان پریږدي او په مسجد کې ځان بند کړي چه یا الله ستا په در کې پروت یم، رابانديې رحم وکړې، د رمضان په ختمیدو سره اشهر حج شروع شي، دا هم د عشق یو اظهار دې چه کله عشق سیوا شي نو خپل کور اولاد خپلوان پریږدي او د مجنونانو (لیونو) په شان یې نه په جامو پروا وي او نه په ویښتو او زیب او زینت، د دې حج مظهر دې چه کله طواف کوي کله حجر اسود ښکلوي کله ملتزم سره جوختیږي کله عرفات ، منی ته ځي قدم په قدم د تلبیې د نعرې غرض دا چه د حج ټول افعال د داسې عشق کامل مظهر دی

چې هغه دجنون حالت ته رسيدلی وی، بيا دعشق آخری درجه دځان قربانی ده مګر الله تعالی دځناور قربانی دهغې قائم مقام ګرځولې ده ، اوحج داسلام له ارکانو څخه هغه رکن دې چه ترټولو وروسته دنبوی هجرت په نهم کال کی فرض شويدې، بدنی اومالی مرکبه فريضه ده په ټول عمر کې يوځلی په هر هغه مسلمان باندی فرض دې چه بلد الامن (مکې معظمې) ته دورتګ قدرت او استطاعت پيداکړی، ((وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً)) **ترجمه** : دالله تعالی لپاره په خلکو باندی دبيت الله حج لازم دې په هر هغه چا باندې چه هغه ته دورتلو توان يی وی، اوبل ځای ارشاد دې : ((وَأَتِمُّواْ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰه)) **ترجمه** : اوپوره کړې حج او عمره خاص الله تعالی لره، اوبل ځای ارشاد فرمايی : ((الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلاَ رَفَثَ وَلاَ فُسُوقَ وَلاَ جِدَالَ فِي الْحَجِّ وَمَا تَفْعَلُواْ مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللّٰهُ وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى وَاتَّقُونِ يَا أُوْلِي الأَلْبَابِ)) **ترجمه** : ﴿وخت دحج چه دې څو مياشتې دی معلومې نو هرچا چه فرض کړو په خپل ځان باندې پدې مياشتو کې حج پس ندی کوی جماع اونه ګناه او جنګ په ورځو دحج کې هرڅه چه کوې تاسې له نيک کار څخه نوپوهيږی په هغې باندې الله تعالی اوتوښه واخلئ له ځانونو سره پس بيشکه بهتره توښه ځان ساتل دی له (سواله) او وه ويريږئ له ما ځينې ای خاوندانو دعقلونو صافو﴾ دلته مونږ صرف په همدې اکتفاء کوو.

**نکته** : **دبيت الله تاريخچه** : دځمکې دپيدا کيدونه مخکې چه کله رب العالمين ددې دپيدا کولو اراده اوفرمايله نو په اوبو کې تلاطم اوڅپې پيدا شوې چه دهغې دوجهې نه زګ (جاګ) جوړشو او دهغې سختيدو سره دځمکې بنياد جوړ شو دا اولنې بنياد دځمکې همدغه دخانه کعبې بنياد وو بيا باقی ځمکه ددې دلاندې خوره کړې شوه لکه چه نبی اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايی : ((ان الارض دحيت من تحتها)) يعنې بيت الله شريف اول دعالَمْ هم دې اومرکز دعالم هم دې او وسطْ دعالم هم دې او اصل دعالم هم دې، دا ټول داحاديث او آثار صحابه وو (رضی الله تعالی عنهم اجمعين) څخه ثابت دی، چونکه مونږ ټول دځمکې نه پيدا يو لِهذا زمونږ اصل هم بيت

الله شو ، دعمرو بن العاص رضی الله تعالی عنه دروایت مطابق چه کله آدم علیه
السلام اوبی بی حواء رضی الله تعالی عنها ځمکې ته راغلل نو الله تعالی په ذریعه
دجبرائیل علیه السلام دوئ ته دبیت الله دتعمیر حکم راولیږلو . دوئ خانه کعبه جوړه
کړه بیا ورته حکم اوشو چه ددې طواف وکړئ او ورته وویل شول چه ته اول انسان یې
او دا اول کور دې چه دخلقو دپاره مقرر کړې شوې دې بیا هرکله چه طوفان دنوح علیه
السلام راغلو نو خانه کعبه اوچته کړې شوه، ډیره موده بعد حضرت ابراهیم او حضرت
اسماعیل علیهما السلام ددې تعمیر وکړو څه موده بعد بیا ړنگه شوه. بیا دجرهم قوم
ددې تعمیر وکړو ، بیا څه موده وروسته عمالقه ددې تعمیر وکړو. بیا قریشو ددې
تعمیر درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې کړې وو. چه رسول الله صلی الله
علیه وسلم په هغې کې حجر اسود په خپل لاس مبارك کیښودلې وو. او چه کله
ابراهیم علیه الصلوة والسلام دخانه کعبې دتعمیر څخه فارغ شو نو دالله پاك په
حضور کې یې عرض وکړو چه یا الله دبیت الله تعمیر پوره شو ، دالله پاك له طرفه حکم
راغلو چه خلقوته دحج دفرضیت اعلان وکړه، ابراهیم علیه الصلوة والسلام عرض
وکړو چه یا رب العالمین زما آواز به ترکومه ځایه پورې ولاړشی، یومیل دې لاړشی یا
دوه میله نورخو زیات نشی تلی ، دالله تعالی له طرف نه حکم وشو چه آواز کول ستا
کار دې اورسول یې ځما کار دې، نوبیا حضرت ابراهیم علیه الصلوة والسلام جبل ابی
قبیس ته وختلو په غوږونو یې گوتې کیښودې اوڅلور واړه طرفونو ته یې اعلان
وکړوچه ای خلقو ! ستاسو رب خپل کور جوړکړې دې او په تاسې ددې کور حج فرض
دې تاسو دخپل رب دحکم تعمیل وکړئ. دا اعلان دکائناتو هرشی واوریده. ژوندیو
خلقو هم او ترقیامته دپیداکیدونکو خلقو روحونو هم، په یو حدیث مبارك کې راځی
چه چا یوځل دې آواز ته لبیك ویلې وی هغه به یوځل حج کوی اوکه ډیر ځله ویلې وی
هغه به ډیر ځله حج کوی، «الله تعالی دې مونږ ته حج نصیب کړی سره دټولو
مسلمانانو ، آمین یارب العالمین بجاه سید المرسلین».

بل دآیت وضاحت پدې طرز باندې دې چه چاسره دومره مال وی چه دحیثیت سره
مناسب دده دکرایی اودنفقی اودده دعیال دنفقی لپاره دواپسی تر وخت پورې کافی

وي نو په ده باندې حج فرض دې ((شامي))، چاسره چه دومره مال وي چه دحج لپاره کافي وي ليکن دمدينې منورې دتلو او دتبرکاتو گنجائش نلري نو ده باندې حج فرض دې ((قواعد فقهيه)) ، داستطاعت او دارنگې دنورو شرطونو دحج اعتبار به دشوال دشروع کيدلو نه کولې شي او دکوم وطن خلق چه دشوال نه مخکې روانيږي نو دوخت د روانگې نه به اعتبار کولې شي مثلاً چه يوسړې په شعبان کې غني دې اوصاحب استطاعت دې او درمضان په آخر کې فقير شو نو کچيرې ددغه سړي روانگې په اول درمضان کې کيدله نو ده باندې حج فرض شويدې اوکه دده دوطن څخه روانگي په رمضان کې نه کيدله نو په ده باندې حج فرض شوې ندې ((شرح لباب))، او چاسره چه دروانگي دقافلې په وخت کې ياد شوال دشروع کيدو په وخت کې دومره مال وي چه صرف حج پرې کيږي يا صرف واده پرې کيږي نو په ده باندې اول فرض دی چه اول حج وکړي ((فتاوی هنديه)) ، اوچاسره چه مال وي ليکن مکان يې نه وي نوده که دقافلو دروانگي نه مخکې يا دشوال دشروع کيدلو نه مخکې مکان وانه خستلو نو ده باندې حج فرض شو ((هنديه)) ، او چا سره چه نقد مال نوي.ليکن دومره ځمکه يادوکانونه يې وي چه دې دحج لپاره ترينه څه ځمکه يا دوکانونه خرڅ کړي نو دباقي ځمکي يادوکانونو پيداوار اوکرايي دده دمعيشت دپاره کافي کيږي نوپه ده باندې حج فرض دی ((هنديه)) اودزائدمقدار خرڅول ورباندې واجب دی ((شرح لباب)) او په چا باندې چه حج فرض شي اوحج ونکړي اوبيامسکين شي نو دده په ذمّه باندې حج شته اوساقط شوې ترينه ندې ((هنديه)) که يومسکين تکليف برداشت کړي او ميقات ته ځان ورسوي اونيت دحج وکړي يا نيت دفرضووکړي نو دده ذمّه دفرضي حج نه فارغه شوه ددينه وروسته که دې غني شو نو ده باندې دوباره حج ندې فرض ، او که مسکين دميقات څخه نفلي نيت وکړو نو دا حج يې نفلي شو اوفرض حج به بيا کوي ((شرح لباب)) او ړوند ،گوډ ، شل چه غني وي حج ورباندې فرض ندې ((فتح القدير)) که يوغني سړې په اخيري عمر کې ړوند ، گوډ اويا شل شي نو په ده باندې حج فرض دې بل سړې به دحج بدل لپاره ليږي ((فتح القدير)) اوچاچه په حرام مال باندې حج وکړو نو دا حج يې قبول ندې اوثواب يې نه کيږي، البته ذمّه يې فارغه شوه ((شامي)) ، په چا

باندې چه قرض وی لکه مهر وغیره شو نو دقرض مقدار نه علاوه که دسابق مقدار مال
ورسره پاتی کیږی نو حج ورباندې فرض دې که نه نو فرض ندې «شامی» یو تاجر چه
دده ذریعه معاش تجارت وی نوده باندې حج هلته فرض کیږی چه دکرایه اونفقې نه
علاوه دومره سرمایه ورته پاتې کیږی چه دې پرې دتجارت کاروبار روانولې شي
«هندیه» یوه زنانه به بی دخاوند نه اوبی دمحرم څخه حج ته نه ځی اگر که ډیره بوډۍ
اوزړه وی، او دمحرم نفقه اوکرایه دواړه په دې زنانه واجب ده اودخاوند صرف کرایه
پرې واجب ده نه نفقه «شامی» که یوه زنانه بی دخاوند اوبی دمحرم نه دحج سفر
وکړی نو حج یې اوشو لیکن دا سفر یې دگناه سفردې اگر که په بندرگاه «یا ائیرپوټ»
کې ورته محرم ولاړ وی «شرح تنویر» ، محرم هغه سړی ته ویلی شی چه هغه سره یې
نکاح دهمیشه لپاره حرامه وی ، البته په دې زمانه دفسق کی درضاعی ورور سره او
ددیوث اوبی غیرته خاوند سره اویا دځواني خواښې دخپل زوم سره هم سفر تلل ناجائز
دی «شامی» چاچه بغیردوالدینو داجازت نه فرض حج وکړو او والدین یې دده خدمت
یا نفقې ته محتاج وو نو دا حج دده مکروه تحریمی دې «شامی» حج په عمر کې یو
واری فرض دې په صاحب استطاعت باندې اوعمره په عمر کې یوځل سنت مؤکد ده
په صاحب داستطاعت باندې او دبعضې محققینو په نزد باندې واجب ده «شرح لباب»
اوعمره هر وخت جائزه ده، البته دعرفی په ورځ اوداختر په ورځ او دمیاشتې په
یوولسمه،دولسمه ، دیارلسمه ورځ چه دوئ ته ایام تشریق ویلی شی مکروه تحریمی
ده «بحر» او په رمضان کې عمره مستحب ده ددې عمرې دحجة الوداع په شان ثواب
دې«ابوداؤد» اودحج دوجوب شرائط اووه دی، کچیرې یو ددې شرائطو څخه نوی حج
پرې فرض ندې اوهغه دادی : ۱_ اسلام فرض دې چه کافر نه وی، ۲_ علم په وجوب
دحج (که یو سړې په دارالحرب کی وی اوهغه ته علم په وجوب دحج باندې نه وی په
هغه هم فرض ندې) «ارشادالساری» ، ۳_ بلوغ دې چه کوچنې نوی «خلاصة
الفتاوی» ، ۴_ عقل دې چه لیونې نوی «فتح القدیر» ، ۵_ طاقت دزاد او راحلې دې
چه فقیر نه وی«شامی» ، ۶_ حرّیت (آزادی) ده چه مریه اوغلام نه وی (ردالمحتار) ،
۷_ قدرت په میاشتو دحج کی «عینی کنز».

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

داخو دحج متعلق یو څو مسائل وو چه مونږ دنمونې په طور بیان کړل اوس ددې نه وروسته دحج دفضائلو متعلق یو څو احادیث هم ذکر کوو :

١ـ ((عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ یَا اَیُّهَا النَّاسُ قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ عَلَیْکُمُ الْحَجَّ فَحَجُّوْا)) ، **ترجمه** : حضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم تقریر اوفرمایلو ای خلقو الله تعالی په تاسو باندې حج فرض کړیدې نو حج کوئ.

٢ـ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَرَادَ الْحَجَّ فَلْیَتَعَجَّلْ فَاِنَّهُ قَدْ یَمْرَضُ الْمَرِیْضُ وَیَضِلُّ الرَّاحِلَةَ وَتَعْرِضُ الْحَاجَةُ)) ((رواه ابن ماجة عن ابن عباس رضی الله تعالی عنه)) **ترجمه** : ((رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : څوك چه دحج اراده وکړی نو هغه لره بیړه (تادی، تلوار) کول پکاردی ځکه چه ممکنه ده هغه بیمارشی ، ممکنه ده اوښه یې ضائع شی (یعنې دسفر ذریعی یې بندی شی لاره خطرناکه شی، سفر خرچ ورسره باقی پاتې نشی) اوممکنه ده چه څه داسې ضرورت ورته پیښ شی چه دحج سفر ورته ناممکن کړی)) (نوبیړه دې کوی) معلومه نده چه څه به پیښ شی، اوتاسو به دحج نه محروم شئ.

٣ـ ((قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَرَجَ حَاجًا اَوْ مُعْتَمِرًا اَوْغَازِیًا ثُمَّ مَاتَ فِیْ طَرِیْقِهٖ کَتَبَ اللّٰهُ لَهٗ اَجْرَ الْغَازِیْ وَالْحَاجِّ وَالْمُعْتَمِرِ)) (مشکوة عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه) **ترجمه** :﴿رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی څوك چه دخپل کورنه دحج ،عمری یا جهاد په اراده اووتلو بیا په لارکی پرې مرگ راغې (یعنې مړشو نو الله پاك به هغه ته هغه اجر او ثواب ورکوی چه دهغه په نزد حاجی، غازی، اوعمره کوونکی لپاره مقرردی﴾

٤ـ ((مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ یَرْفُثْ وَلَمْ یَفْسُقْ رَجَعَ کَیَوْمٍ وَلَدَتْهُ اُمُّهٗ)) (متفق علیه) **ترجمه** : ﴿چاچه دالله تعالی درضا لپاره حج وکړو او په حج کې یی نه فحش خبره وکړه اونه یی فسق او حکم عدولی وکړه، دې به دحج نه داسې واپس کیږی لکه چه کومه ورځ دگناهونو نه پاك دمور نه پیدا شوې وو﴾ اوپه یوبل حدیث کې دی چه دصفا اومروا په

مابين کې سعی داویا (۷۰) غلامانو دآزادولو په شان ثواب لری.

۵_ ((قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَمْنَعْهُ عَنِ الْحَجِّ حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ أَوْ سُلْطَانٌ جَائِرٌ أَوْ مَرَضٌ حَابِسٌ فَمَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ فَلْيَمُتْ إِنْ شَاءَ يَهُودِيًا وَإِنْ شَاءَ نَصْرَانِيًا)) (رواه الدارمی) **ترجمه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: چه کوم سړی لره ښکاره ضرورت یا ظالم بادشاه یا دبندوالی قابل مرض دحج نه نوی منع کړی اوبیا هم ((سره دفرض کیدلونه)) هغه حج نوی کړی نو که خوښه یی وی هغه دې یهودی مړشی اوکه خوښه یی وی نو نصرانی دی مړشی)) ځینې علماؤ لیکلی دی چه دا حدیث په تشدید اوتهدید بانديې محمول دې، په یوبل حدیث کی رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: چه حج او عمره یوځای کوئ ځکه چه هغه فقیری او گناهونه داسې لرې کوی لکه څرنگه چه بټۍ داوسپنې او دسپینو زرو خیری لرې کوی اودحج مبرور((یعنې مقبول)) بدله دجنت نه بغیر بل څه نه ده (ترمذی) دحج اکبر په حقله وایی کوم چه دجمعی په ورځ راشی دهغه ثواب ډیرزیات دې پدې وجه ورته حج اکبر وایی، نوحقه خبره داده چه هر هغه حج چه دشرعی داحکامو مطابق پوره پوره اداء کړې شی نو هغه حج اکبر دې او حج اصغر عمرې ته وایی.

**نکته**: اودحج متعلق یودریم کارهم دې یعنې درسول الله صلی الله علیه وسلم دروضی مبارکې زیارت افضل اودمندوباتو څخه دې، په شرح المختار کې وایی چه وجوب ته نژدې دې ((فتح القدیر)) اوځنگه چه په حج کې عشق الهی دې همدارنگه پدې زیارت کې دعشق نبوی صلی الله علیه وسلم شان دې دعاشقانه شان اندازه ددې حدیث شریف نه لگیدې شی. ((عَنْ ابن عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ مَرْفُوْعًا: مَنْ حَجَّ فَزَارَ قَبْرِیْ بَعْدَ مَوْتِیْ كَانَ كَمَنْ زَارَنِیْ فِیْ حَيَاتِی)) (رواه البیهقی، مشکوة) **ترجمه**: ((چاچه حج وکړو اوبیایی زیارت وکړو دقبر زما وروسته دوصال زمانه گویا که هغه زیارت کړې ماله ځما په ژوندانه کې)) ، اوپه یوبل حدیث کې راځی چه: ((مَنْ زَارَ قَبْرِیْ وَجَبَتْ لَهُ شَفَاعَتِیْ)) (دارقطنی) ترجمه: ((چه کوم سړې زما دقبر زیارت وکړو دهغه لپاره ځما شفاعت واجب شو)) ، اوپه یواوږد حدیث کې دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه نه روایت چه: ((وَاَنَّهُ دَعَاكَ لِمَكَّةَ وَاَنَا اَدْعُوْكَ لِلْمَدِيْنَةِ بِمِثْلِ مَا دَعَاكَ لِمَكَّةَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ))

مشكوٰة ازمسلم) **ترجمه** : يا الله حضرت ابراهيم عليه الصلوٰة والسلام ستانه دمكې دپاره سوال كړې وو، زه ستانه دمدينې دپاره سوال كوم، هغه هومره څه چه ابراهيم عليه السلام غوښتې وو اوهغه هومره نور هم (يعنې دهغې دوچنده بركت اوشان)، اوددې دعا اثر بالكل څرګند ليدې شي ، لكه چه ابن ابى حاتم رضى الله تعالى عنه دسدى نه روايت كړيدې چه : يو مسلمان هم داسې نشته چه زړه يې دبيت الله شريف په مينه كې ګير نه وى، حضرت ابن عباس رضى الله تعالى عنه فرمايى كه چيرې ابراهيم عليه السلام پخپله دعاء كې ټول خلق ياد كړى وې يعنى ((اَفْئِدَةَ النَّاس)) يې ويلى وى نو دلته به ديهوديانو او عيسايانو هم ډيره ګڼه وه، خو هغه خپله دعا صرف د ايمان وارو لپاره كړيده ، يعنى ((اَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ)) يې ويلى دى (منثور)، خلاصه دا چه كه دمكې لپاره ابراهيم عليه الصلوٰة والسلام دمحبوبيت دعا غوښتې ده نو دمدينې دپاره ددوچنده محبوبيت دعا شوه ((الله پاك دې زمونږ حج او دنبى اكرم صلى الله عليه وسلم زيارت نصيب كړى، آمين بجاه سيد المرسلين).

## غمخوار ملګرې ((علم))

محترمو مسلمانانو ! ټولنې اوملتونه هغه وخت رښتونې پرمختګ كولې شى له غفلت نه راويښيدې شى ضعف اوكمزورى يې په قوت انحطاط او تنزل يې په لوړتيا بدليدې شى داصلاح اوسمون په لورى سوق كيدې شى چه فكر تحوّل او انقلاب پكى راشى چه هغه علم دې، ظاهره ده چه ددين علم او فهم دټولو نيكو سرچشمه ده چاته چه داشى حاصل شو نو ددين دنيا سعادت ورته حاصل شو ، دې سره هغه خپل ژوند هم ښائسته كړى او دالله تعالى دنورو بندګانو دژوند ښائسته كولو هم كوشش كوى، الله پاك فرمايى : ((هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ)) **ترجمه** : ((آيا برابر دى هغه خوك چه عالمان دى او هغه خوك چه بې علمه دى)) ، صيغه داستفهام انكارى ده يعنى برابر ندى ، بلكه عالم دين ترينه په ډيرو درجو سره بهتر دې لكه چه بل ځاى ارشاد دې ((يَرْفَعِ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ)) **ترجمه** : ((اوچتوي الله

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

پاك مؤمنانو لره اوهغه چا لره چه علم ورکړې شويدې په ډېرو درجو سره» ، يعنې ددې څخه دعلم لوئی څرګندیږی چه اول يې دايمان والا تعریف وکړو اوبيا يې په هغوئ کې علم والا خاص اوممتاز کړل اودلويې مرتبې خاوندان يې ورته وويل، الله تعالى چه چاته لوئ ووايی دهغوئ دلوئی څه حد دې؟ ، بل ځای کې الله تعالى فرمايی : «إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ» **ترجمه** : «ندی مګر ویریږی الله تعالى نه له بندګانو ده ځينې عالمان» ، يعنې الله تعالى عالمان په خشية الله «يعنې دالله پاك نه په ويره کولو» سره خاص اوممتاز کړل اودا دکمال ايمان او اسلام لويه علامه ده، موږ ورته علم دين عالمان ځکه وويل چه ددين اسلام نه غير علمونه په کسبونو او صنعتونو کې داخل دی يعنې کسب او صنعت زده کول دی، دا په حقيقت کې هغه علم ندې چه الله تعالى دهغه مدح کړيده په طالبانو عالمانو دعلم دين باندې دا لازم دی چه په علم کې خالص دالله پاك رضا مقصود وګرځوی، بايد چه ددنيا مال اونوم اونشان په علم دين سره مقصود نکړی، په پاك نيت او نيکې ارادې سره ددې لويې مرتبې دحفاظت دپاره پوره کوشش وکړی چه په توفيق دالله تعالى دشيطان دلغزش نه بچ شی او دعلم قدرمنی مرغلری بی محله اوبی ځایه صرف نه شی اومهمل اوبی نفعی هم پاتی نشی او دکوم کارکول چه په بنده فرض شی دهغه طريقه او چل زده کول هم وربانـدی فرض شی، لکه لمونځ، روژه په تجارت کې جائز ناجائز وغيره شو، کوم کار چه مستحب وی دهغې طريقې اوچل زده کړه هم مستحب ده ، اوبعضې علوم داسې دی که څوکسان يې په کلی کې حاصل کړی نو باقی خلقو باندې به دفرضو ذمه پاتې نشی، مثلاً په هرکلی اوښار کې څوکسان عالمان داسې ضروری دی چه هغوئ ددين په مسئلو دقرآن اوفقهې په علومو تـول خبر وی چه داسلام دمخالفينو داعتراضاتو جواب کولې شی اوچه څوك ترينه د څه مسئلې تپوس وکړی چه بې تکليفه يې جواب کولې شی دومره علم په هرچا فرض ندی البته که چاته فرصت وی اوشوق يې وی نوحاصلولو کې يې ډېر ثواب دې او بل داچه مستوراتو باندې هم تعليم الدين فرض دې ، ځکه چه مشاهده پدې ګواه ده چه دعلم نه بغير داعمالو صحت تقريبًا نامم‍کن

دي بيا هم دښځو اکثري مسئلي داسي دی چه دسړونه یاد سړو په خولی یی پوښتنه نشی کولي ددي مشکلاتو بغیر ددینه بل څه حل نشته چه په ښځو کي خپله داسي ددین عالماني وی چه عامي ښځي ترینه دخپلو دینی ضروریاتو پوښتنه کوی چه عقائد او اصلاح او دمعاملاتو معاشرت او اخلاقو اصلاح یی نصیب شی، که چیري پرده داره اوپاکدامنه استاذه نه پیدا کیږی نو دکور سړی دی ورته پخپله تعلیم ورکوی اول دي ورباندي قرآن شریف په صحیح طریقه ختم کړی بیا دي دینی کتابونه آسان آسان چه ددین دټولو اجزاء ورکي مکمل وی، لکه بهشتی زیور اوتعلیم الدین اونور الایضاح وغیره او که کومه مسئله ورکي دشرم وی هغه دي پریږدی دښځو په واسطه دی پوهه کړی یا دخپل خاوند په ذریعه دکوم عالم څخه پوښتنه وکړی اولیک کي که دا معلومیده چه طبعیت کي بی باکی نشته نو خیر دي او کچیري دڅه خرابی اندیښنه وه بیا لیک لیکل ښه ندی اودښځو نان نفقه دسړیو په ذمه ده او پدي وجه هم چه شریعت کي دپردي سخت تاکید دي او دکسب معاش علومو په پرده کي حاصلیدل ډیر سخت گران دی پدي وجه دښځو سره ددنیاوی تعلیم بی کاره بلکه نقصانی دي، البته بقدر ضرورت لیکل حساب کتاب او دستکاری چه دسخت ضرورت په وخت کي ورنه کار اخستي شی زده کول پکار دی او په علمی رازنو حکمتونو او ښیگڼو هله پوهیدی شو چه انسانی مقام وپیژنو آیا انسان همدغه ولاړه جوسه ده، همدغه جوړه شوي ډانچه ده، همدغه دپوستکی غوښي، هډوکی، وینې، رگونه لری اوکولمو مجموعه ده؟

که همدا وی نو بیا خو ډیر حقیراو بی ارزښته موجود دی، حقیقت دادي چه انسان دغه محسوس هیکل او یوه لیدل کیدونکي ډانچه نده بلکه آسمانی روح دي چه په ځمکنی جسم کي اوسیږی په ختین کالبُد کي دپاسنی نړی رمز او راز دي دالهی روح او روحانی لوړ مقام له امله آدم علیه السلام دفرشتو مسجود شو دخمیره شوی ختې په برکت په قرآن کریم کي داسي ندی ویلی شوی چه «اذقال ربك للملائكة انی خالق بشرًا من طین فقعوا له ساجدین» بلکه ویلي شویدی «فاذا سویته ونفخت فیه من روحی فقعوا اله ساجدین» انسان روح او جسد دواړه دي دجسد غوښتني لاندینی

نري نه او دروح غوښتني یې له پاسنی نري څخه دی کله چه روح دجسد دغوښتن
آغیزې لاندې راولی نو دحیوانیت درجې ته راټیټیږی او کله چه روحانیت پکې غال
کیږی اوانسان دخپل ځان قیمت پیژنی په خپل ځان کې دالله تعالی رمز او راز د
کوی سماوی ارخ یې په ځمکنی ارخ حکومت کوی نو پدې صورت کې دمخلو
غوره جزء ترینه جوړیږی ((إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُوْلَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ))
اوس دلته پدې هکله یو څو احادیث ذکرکوو:

۱ـ ((عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ وَّمُسْلِمَةٍ)) (ترغیب ،ابن ماجه) **ترجمه** : ((دعلم طلب په
مسلمان نر اوښځې باندې فرض دې)) ددې حدیث شریف څخه ثابته شوه چه په
مسلمان نروی اوکه ښځه شهری وی اوکه دباندې وی، امیر وی او که غریب وی
ټولو باندې ددین علم حاصلول فرض دی. کمامرّ

۲ـ ((وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَرَجَ فِيْ طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِي سَبِيْلِ اللهِ حَتّٰى يَرْجِعْ)) (ترمذی) **ترجمه** : دحضرت انس رضی ا
تعالی عنه نه روایت دې چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: څوك چه
کوره اووتلو په طلب دعلم دین کې پس دې په لاره دالله تعالی کې دې ترڅو چه واپ
کورته راشی.

۳ـ ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلاَّ نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ)) (رواه مسلم) **ترجمه**
((دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه
وسلم فرمایلی دی کوم سړې چه دعلم دین دحاصلولو لپاره سفر وکړی نو الله پاك به
دهغه لپاره دجنت لاره آسانه کړی او کوم خلك چه دالله تعالی له کورونو نه په یو
کور(مسجد) کې یوځای شی دالله تعالی کتاب لولی او به هغې بحث اوخبرې اترې

کوی نو په هغوئ باندې د الله تعالی له طرف نه ایمانی سکون نازلیږی رحمت پرې وربیږی، فرښتې ترینه چاپیره وی او الله تعالی دهغه خلکو ذکر دخپلو فرښتو په مجلس کی کوی، او څوك چه خپل عمل وروسته پاتې کړلو نو دهغه نسب هغه مخکې کولې نشی)) پدې حدیث شریف کې یو طرفته نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دعلم دین حاصلوونکی ته خوش خبری ورکړه او بل طرفته یې ددې خطری نه آگاه کړی چه ددین زده کولو څخه مقصد په هغې عمل کول دی که چا عمل ونکړو نودتول علم با وجود به وروسته پاتې شی. نه یی یوازې علم مخکې کولې شی اونه یی خاندانی شرافت په څه کار راتللې شی، پورته کوونکې شی صرف عمل دې. (یا الله دعلم سره سره زمونږ عمل هم نصیب کړې. آمین ثم آمین. یارب العالمین بجاه سید المرسلین).

۴_ ((عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَـا أَبَا ذَرٍّ لَأَنْ تَغْدُوَ فَتَعَلَّمَ آيَةً مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تُصَلِّيَ مِائَةَ رَكْعَةٍ وَلَأَنْ تَغْدُوَ فَتَعَلَّمَ بَابًا مِنَ الْعِلْمِ عُمِلَ بِهِ أَوْ لَمْ يُعْمَلْ خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تُصَلِّيَ أَلْـفَ رَكْعَـةٍ)) (رواه ابن ماجة)

**ترجمه** : دحضرت ابو ذررضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل:ای ابوذره (دا دیوصحابی نوم دی) چه ته صبا کړې (یعنې چه ته چرته لاړشی) دچانه یو آیت زده کړې ستا دپاره دسلو رکعتو نفلونه ډیر بهتر دې او چه ته چرته لاړشی دعلم دین یو مضمون زده کړې برابره خبره ده چه عمل دې پرې وی اوکنه ستا لپاره دزرو رکعتو نفلونه بهتر دې)). ددې حدیث شریف څخه ددین دعلم زده کولو غټ فضیلت ثابتیږی او دا هم ترې معلومه شوه چه ځینې خلق چه دا وایی چه عمل پرې نه کوې نو دزده کولو او پوښتنو څه خیردې؟ دا خبره غلطه ده . ګورئ په حدیث شریف کې واضحه ویلی شوی دی چه عمل پرې وی او که نه وی دزده کولو ثواب یی شته. ددې لپاره درې وجهې دی : ۱_ یوه دا چه ددین خبره ورته معلومه شوه اودګمراهی نه بچ شو . داهم غټ دولت دې، ۲_ دویم دا چه ددین خبره ورته معلومه شوه نو انشاء الله کله خوبه پرې عمل هم وکړی، ۳_ دریم دا چه بل ته به یې اوښایی اوداهم یوضروری کار او دثواب خبره ده. اودحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ښځه روایت دي چه حضرت سلیمان علیه السلام ته اختیار ورکړې شو په مابین دعلم او بادشاهی کې نو هغه علم غوره کړو نوورکړې شول ده ته علم او بادشاهی دواړه، او حضرت سلیمان علیه السلام فرمایلی دی چه علم درې تکی دی ، یو عین دې او بل لام دې او بل میم دې ، او اشتقاق دعین دعلیین څخه دې چه خپل صاحب علیین ته رسوی او اشتقاق دلام له لطف څخه دې چه خپل صاحب یی مهربانی ته گرزوی. او اشتقاق دمیم له ملك څخه دې چه میم گرزوی صاحب خپل بادشاه په خلکوباندی

۵ـ ((قَالَ عَلَيْهِ الصَّلوٰةُ وَالسَّلَامِ اِنَّ اللهَ تَعَالٰى خَلَقَ تَحْتَ الْعَرْشِ مَدِيْنَةً مَّكْتُوْبَــةٌ عَلَـى بَابِهَا مَنْ زَارَ الْعُلَمَاءَ فَكَاَنَّمَا زَارَ الاَنْبِيَاءِ وَلِذَا قَالَ عَلَيْهِ الصَّلوٰةُ وَالسَّلَام جُلُوْسُ سَاعَةٍ عِنْدَ الْعُلَمَاءِ اَحَبُّ اِلَى اللهِ تَعَالٰى مِنْ عِبَادَةِ اَلْفِ سَنَةٍ )) **ترجمه** : ((فرمایلی دی نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه بیشکه الله تعالی پیدا کړی دی لاندې دعرش نه یوښار او لیکلی یی دی په دروازه دهغې باندې چاچه زیارت وکړلو دعالمانو داسې ده لکه چه زیارت یی وکړلو دپیغمبرانو. ځکه فرمایلی دی نبی علیه الصلوة والسلام ناستې یو ساعت دعالمانو سره بهتر دې الله تعالی ته له عبادت دزور کالو نه)).

۶ـ ((قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَامِنْ مُؤْمِنٍ يَّحْزَنُ بِمَوْتِ الْعَالِمِ اِلاَّ كَتَبَ اللهُ تَعَالٰى لَهُ ثَوَابَ اَلْفِ عَالِمٍ وَاَلْفِ شَهِيْدٍ وَكَذَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَوْتُ الْعَالِمِ مَـوْتُ الْعَالَمِ)) **ترجمه** : ((فرمایلی دنبی کریم صلی الله علیه وسلم : نوی هیڅ مؤمن چه خفه شی په مرگ دعالم سره مگر الله تعالی ده لره ثواب دزرو عالمانو اوزرو شهیدانوورکوی، اوهمدارنگه ارشاد دې چه مرگ دعالِم مرگ دعالَم دی)).

۷ـ ((عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰـهُ عَلَيْـهِ وَسَلَّمَ مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُجَارِيَ بِهِ الْعُلَمَاءَ اَوْ لِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَاءَ اَوْ يَصْرِفَ بِهِ وُجُوهَ النَّاسِ اِلَيْهِ اَدْخَلَهُ اللّٰهُ النَّارَ )) ((رواه الترمذی)) **ترجمه** : ((دحضرت كعب بن مالك څخه روایت دې چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چاچه طلب دعلم وکړو ددې لپاره چه مقابله وکړی پدې باندې دعالمانو سره یا ددې لپاره چه جگړه (جنگ) وکړی پدې باندې دجاهلانو سره یا راوگرزوی پدې باندې مخونه دخلقو ځانته ، داخل به کړی ده

لره الله تعالى اورته» ،اوگوره څومره سخت وعيد دي چه دالله تعالى درضاء دحصول لپاره علم حاصلول نوی. «الله پاك جل جلاله دی مونږ ته ددي وعيد څخه خلاصي او امان راكړی. آمين ثم آمين يا رب العالمين»

**نكته** تاسوته دآيتونو مباركو او احاديثو شريفو نه معلومه شوه چه دعامو مسلمانانو شرعی ذمه واری دعلم دين او دعلم دين دعالمانو احترام او عزت كول دی او دعالمانو په وينا عمل كول دی او دعالمانو شرعی ذمه واری په خپل علم عمل كول او خاص دالله تعالى درضا لپاره داسلام تبليغ جاری ساتل دی. ديو حديث شريف مضمون دي چه عنقريب دی را به شی داسی زمانه به أمت خما جه تښتی به له عالمانو اوفقهاؤ نه نو مبتلاء به كړی دوئ الله تعالى په دريو بلاگانو سره اوله دا چه پورته به كړي شی بركت له كسب ددوئ نه. اودويم دا چه مسلط به كړی الله تعالى په دوئ باندي بادشاه ظالم. او دريم دا چه ووځی به دوئ لدي دنيا نه بی ايمانه (العياذبالله) او په كواشی كی راغلی دی چه «مَنْ شتم امرءً مِنْ اهل الْعِلْم بكلمة الجماع يكْفُرُ وتطلّق امْرَأتهُ طلاقًا بائنًا عند مُحمّد وعند اهل الْفقْه وقال الصّدْرُ الشّهيدُ فِیْ فتاوی بدیع الدّين مَنْ استخفّ بالْعالم يكْفُر وتطلّق امرأ ته طلاقًا بائنًا» يعني جا چه كنځل وكړل يو كس ته له اهل علمو څخه په لفظ دجماع سره كافر كيږی اوطلاقيږی ښځه يی په طلاق بائن سره عند محمد واهل الفقه او ويلی دی صدر شهيد په فتاوی بديع الدين كي جاچه سپك وكتل عالم ته كافر كيږی اوطلاقيږی ښځه يی په طلاق بائن سره

## ستر مسؤوليت «دعوت اسلامی»

محترمو مسلمانانو درسول الله صلی الله عليه وسلم له وفات نه وروسته دنبوت دروازه دتل لپاره تړل شوې ده او ترقيامته پوري به دغه دور محمدی دور وی نو نوروته دغه دراوړی پيغام رسول دپوهولني اصلاح دنيكيو تعميم او دبديو مخنيوی دنورو ټولو نيكورو له مينځه وړل او د اسلامی نظام نافذول دمسلمانانو دغاړي فريضه ده چه امربالمعروف اونهی عن المنكر يعني په نيكو امر او له بديو نه منع كول دی كه مونږ

وه وينو چه دحق پر خلاف چارې لکه خيانتونه، ظلمونه، گمراهي وغيره سرته رسيږي اوځان پدې قانع کړو چه پخپله مونږ خو دا کارندې کړې مونږ خو بریٔ الذمه يو گناه دهمغه چا په غاړه ده چه ددغو گمراهيو خورونکې او ددغو خيانتونو مرتکب دي نو دېتې خولې کيناستل به مو لويه اشتباه وی، پدې صورت کې مونږ دالله تعالی له مؤاخذی اومحکمې څخه نشو ژغورل کيدای، په نتيجه کې به يوازی مفسد اوبدکار وگړې نه بلکه دټولې جامعې دسعادت کشتی به دغرقيدو له خطر سره مخامخ شی په مسلمان فرض دی چه دغه مسؤليت وپيژني او ورته متوجه شی او ترسره يې کړی اوطريقه يې داده چه ددين حقه تبليغ او نشر او اشاعت ډير په مينه او دلسوزۍ سره پکاردې چه داعی په وسعت ظرف او لويې حوصلې سره ددين نه بی خبره او غافله ورونو لره دين طرفته راوه بلی او دبدی او گناهونو خراب انجام نه يی خبردار کړی مبلّغ لره پکار دی چه ددې حکمت اوموعظت په زرينه ضابطه عمل وکړی ځکه چه دا نهايت مبارك کار او ابدی فوز وفلاح لپاره مدار دې، تاسو وگورئ چه الله پاك دتبليغ اسلام دپاره کومه احسنه طريقه او اوچت درجات فرمايلي: «ادْعُ إِلى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ» **ترجمه**: «را وبله خلقو لره رب طرفته په حکمة سره اوپه ښه طريقه وعظ سره اوبحث وکړه دوئ سره په ښه طريقه په تحقيق سره رب ستا ښه پيژني هغه کسان چه هغه دلارې نه بې لارې شول اوهغه ښه پيژني هدايت يافته خلقو لره» يعني چه کله ددين تبليغ کولې شی نو بايد چه ددې دريو زرينو اصولو پابندې وکړې شی:

۱ـ حکمت سره دې رابلل وکړی: دينه معلومه شوه چه مضبوطو اومحکمو مضامينو اوروښانه دلائلو اوناصحانه اوحکيمانه انداز سره د اسلام تبليغ کول پکار دی اومخاطب لره دعقائدو، اعمالو وغيره نه خبرول پکاردی.

۲ـ دويمه مرحله ددې فريضې «الْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ» ده يعنې داسې مؤثرې طريقی او عمده مثالونه اوعبرت آموزو واقعاتو سره تبليغ پکار دې چه په هغې کې دلسوزی او نرم خوی وی، دې سره به سخت زړونه هم نرم شی.

۳ـ دریمه مرحله ددې فریضې په ((احسنه طریقه جدال)) دې یعنې چه کله مبلغ پوهه شي چه دا مخکې صورتونه دده لپاره غیر مفید ثابت شول او دې په بحث آماده دې نو ده لره دې په عمده طریقې سره لاجواب کړي چه دده زړه د اسلام په حقانیت شهادت ورکړي اوبل ځای کې ارشاد دې چه: ((وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّن دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ)) **ترجمه**: ((او دهغه (شخص) نه بهتره خبره دچا کیدې شي چه څوك الله تعالی طرفته بلنه کوي او نیك عمل کوي او وایي چه زه له فرمانبردارونه یم))، مفسرینو حضراتو لیکلي دي: کوم کس چه الله تعالی طرفته څوك راوبلي هغه ددې بشارت (زیری) او تعریف مستحق دې، خواه په هره طریقه یې راوبلي، مثلاً انبیاء علیهم السلام یې په معجزو وغیره سره رابلي او عالمان یې په دلیلونو سره او مجاهدین یې په توزرو او مؤذنین یې په آذان سره، غرض دا چه هرڅوك چه چاته دعوت الی الخیر وکړي هغوئ پدې کې داخل دي، برابره خبره ده که ظاهري اعمالو طرفته یې رابلي او یا یې باطني اعمالو طرفته لکه مشائخ، صوفیه ((پیران صاحبان)) معرفة الی الله طرفته بلنه کوي (تفسیرخازن)، او ځینې مفسرینو حضراتو لیکلي دي چه ((إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ)) کې دې خبرې ته اشاره ده چه مبلغ دې خپل اسلامي امتیاز په فخر او عزت سره هم کوي ((چه الحمد لله زه مسلمان یم)) او ځینو مفسرینو حضراتو لیکلي دي چه مقصد دادې چه دغه انسان دې ددې وعظ او نصیحت او تبلیغ په وجه ځانته لویه هستي نه وایي بلکه دادې وایي چه دعامو مسلمانانو په شان یو مسلمان زه هم یم، اوبل ځای ارشاد دې چه: ((كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ)) **ترجمه**: ((تاسو بهتر امت یئ چه خلقوته (دفائدې رسولو) دپاره لیږلي شوي یئ تاسو دنیك کار حکم کوئ او له بدو کارونو نه منع کوئ او په الله تعالی باندې ایمان لرئ)) یعنې دې امت ته خیر اُمت ویلي شوې دې او ورسره یې ددې علت (وجهی) طرفته اشاره هم فرمایلې ده چه تاسې بهترین امت یئ پدې شرط چه ستاسې کار امر بالمعروف او نهی عن المنکر وي، مفسرینو حضراتو لیکلي دي چه پدې آیت شریف کې امر بالمعروف او نهی عن المنکر د ایمان څخه

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

مخکې ذکر شول، سره لدینه چه ایمان دټولو شیانو اصل (بنیاد) دي او دایمان څخه بغیر یو عمل هم معتبر ندې، ددې وجه داده چه په ایمان کې مخکې امتونه هم شریک دی دا خاص خصوصیت چه دهغې په وجه امّت محمّدیه اوچتوالې په نورو امتونو باندې ورته حاصل دې هغه امر بالمعروف اونهی عن المنکر دې چه ددې امت لمحه دامتیاز ده او همدارنګه پدې ځای کې مقصود بالذکر دې ځکه یې هغه لومړې ذکر کړو.

**نکته**: په دنیاکې دالله تعالی لخوا یوچا یا یوې ډلې ته دتنها ماموریت سپارل کیدل «لتکون شهداء علی الناس» او «تامرون بالمعروف وتنهون عن المنکر» په حقیقت کې هغه ته دامامت او پیشوایی مقام په برخه کیدل دی، څومره چه پدې کار کې فضیلت اوسر لوړی شته هغومره یې مسئولیت هم درونډ دې دحق خواته دعوت امربالمعروف اونهی عن المنکر هغه کسان کولې شي چه دصدق، شجاعت، قوی حوصلی، لوړ همت، بشپړ دیانت او پر الله تعالی باندې دټینګ ایمان له صفتونو څه برخوردار وی، کله چه دټولنې وګړي له دغو صفتونو څخه خالي او محروم شي نو وګڼه چه هغې ټولنې پخپله ځان دزوال منګولو ته وسپاره که خلك پدې وپوهیږي چه دحق په څرګندونه او دخیر په دعوت کې څومره عظمت او عزت دې، نوهیڅ یوبه ددغې درنې وظیفې له اداء کولو نه سر ونه غړوي پدې کار سره نه دمرګ نیته له خپل وخت څخه رامخکې کیږي اونه دټاکلې رزق مخه نیولی کیږي دلومړنیو مسلمانانو دمجدعظمت رمز راز په همدې کې وو چه یوبیخې کمزوری فرد هم یو مقتدر فرد ته په څرګنده کومه حقه وینا کولې شوه او هغه به هم په سړه سینه اوریدله او عمل به یې وربانډې کاوه، ددې لپاره یوه واقعه دمثال توګه راوړو چه: یوه ورځ حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه دمعلی بن جارود السعیدی په ملګرتیا روان وو په لاره کې دقریشو یوه میرمن په مخه ورغله، هغې عمررضی الله تعالی عنه په لاره کې ودراوه او ورته یې وویل: عمره! مونږ یوه موده ته دعمیر په نوم پیژندلې بیا درنه عمر جوړشو بیا درڅخه امیر المؤمنین جوړشو له الله تعالی نه ویریږه ای دخطاب زویه دخلکو چارو ته پام ساته ځکه چه څوك دالله تعالی له محاکمې نه ویریږي هغه ته لرې

او نژدې يو شانته وي څوك چه له مرګه ويرېږي فرصت له لاسه نه باسي، پدې وخت کې معلي ووېل دا څه کوي او ښځې! تاخو اميرالمؤمنين په ژړا کړو، حضرت عمر رضي الله تعالى عنه هغه ته ووېل چوپ شه دا ښځه پيژنې چه څوك ده؟ دا خوله بنت ثعلبه ده هغه بې بې چې ددې غږ او شکايت له اوو آسمانونو څخه پورته الله تعالى اوريدلې دې نو عمر خوبه ضرور ددې خبره اوري او عمل به وربانديې کوي، هو، حق ويل او دحق په لورې دعوت دمسلمانانو ستر مسؤليت دې دهرچا په وړاندې او په هر راز ترڅو شرائطو بې بايد ترسره کړي.

اوس پدې هکله يو څو احاديث شريف ذکر کوو : ((عَنِ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْمُدْهِنِ فِي حُدُودِ اللّٰهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا مَثَلُ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا سَفِينَةً فَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَسْفَلِهَا وَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَعْلاَهَا فَكَانَ الَّذِي فِي أَسْفَلِهَا يَمُرُّونَ بِالْمَاءِ عَلَى الَّذِينَ فِي أَعْلاَهَا فَتَأَذَّوْا بِهِ فَأَخَذَ فَأْسًا فَجَعَلَ يَنْقُرُ أَسْفَلَ السَّفِينَةِ فَأَتَوْهُ فَقَالُوا مَا لَكَ قَالَ تَأَذَّيْتُمْ بِي وَلاَ بُدَّ لِي مِنَ الْمَاءِ فَإِنْ أَخَذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَنْجَوْهُ وَنَجَّوْا أَنْفُسَهُمْ وَإِنْ تَرَكُوهُ أَهْلَكُوهُ وَأَهْلَكُوا أَنْفُسَهُمْ)) (رواه البخاري) **ترجمه** : حضرت نعمان بن بشير رضي الله تعالى عنه فرمايي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل څوك چه دالله تعالى احکام ماتوي، اوڅوك چه دالله تعالى داحکامو ماتوونکې وينې اوهغه نه منعه کوي اوهغه سره روا داري کوي، نو ددې دواړو مثال داسې دې لکه چه څه خلقو يوه کشتۍ واخسته او قرعه ((پچه)) يې واچوله دې کشتۍ کې مختلفې درجې دې پورته ښکته څوسرې پورتنۍ حصه کې کيناستل اوځولاندې حصه کې نو کوم خلق چه لاندې حصه کې ناست وو هغوئ داوبو حاصلولو دپاره دپورته حصې په خلقو تيريدل چه دسمندر نه اوبه ډکې کړي خو پورته خلقو ته ددينه تکليف شولو آخر دلاندې حصې خلقو تبر واخست او دکشتۍ بيخ وهل ((راخيرې کول)) يې شروع کړل نو دپاس حصې خلق دوئ ته راغلل چه تاسو څه کوئ؟ هغوئ ورته ووايې چه مونږ ته داوبو ضرورت دې او دسمندر نه اوبه دپورته نه راخستلې شي او تاسو ته زمونږ دتګ راتګ نه تکليف دې نو اوس به دکشتۍ تختې ماتوو چه اوبه حاصلې کړو (رسول الله

صلی الله علیه وسلم دا مثال ورکړو او وې فرمایل ، که پورتنی خلق دلاندینو سرو لاس و نیسی او د کشتئ دسوری کولو نه یې منع کړی نو هغوئ به هم ډوبیدو نه بچ کړی او ځان به هم بچ کړی او که هغوئ ددې حرکت څخه نه منع کوی او سترګې پرې پټوی (چشم پوشی کوی) نو هغوئ به هم ډوب کړی او ځان به هم ډوب کړی)) . یعنې هغه څوك چه د الله تعالی حکمونه پوره کوی او چه څوك یې ماتوی لکه داوبو په جهاز کې ناست وی دلاندې طبقې خلق وایی چه دپاس طبقې خلقو ته تکلیف دې چه تګ راتګ پرې کوو نو دتبر په ذریعه دجهاز په ماتوالی باندې شروع وکړی چه دلته اوبه نژدې هم دی، که دپاس طبقې خلق یې منع کړی نو نجات به بیا مونده کړی او که منع یې نکړل نو ټول به تباه شی، او په ګڼو روایتونو کې دا مضمون راغلې دې چه کله یوه ګناه پټه کولې شی دهغې ضرر او وبال په کوونکی باندې وی خو کله چه ګناه ښکاره کولې شی او خلق دهغې په منع کولو باندې قادر وی او بیا یې نه منع کوی نو دهغې ضرر او نقصان هم عام وی.

سفیان ثوری رحمة الله علیه فرمایی چه کوم کس چه په خپلو ګاونډیانو کې محبوب (خوښ) وی او په خپلو ورونو کې محمود (ښه) وی غالبه داده چه هغه به مُداهن وی یعنې خوشامندی دې یعنې په مخامخ دهرچا دخوښې خبره کوی څوك نه خفه کوی بلکه پکار دی چه څوك دده په وړاندې دشریعت څخه خلاف کار وکړی پرې خفه یې کړی.

۲ـ ((عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ دَخَلَ عَلَیَّ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَعَرَفْتُ فِیْ وَجْهِهِ اَنْ قَدْ حَضَرَهُ شَیْئٌ فَتَوَضَّأَ وَمَاکَلَّمَ اَحَدًا فَلَصِقْتُ بِالْحُجْرَةِ اَسْتَمِعُ مَایَقُوْلُ فَقَعَدَ عَلَی الْمِنْبَرِ فَحَمِدَاللّٰهَ وَاَثْنٰی عَلَیْهِ وَقَالَ یَا اَیُّهَا النَّاسُ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی یَقُوْلُ لَکُمْ مُرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَوْا عَنْ الْمُنْکَرِ قَبْلَ اَنْ تَدْعُوا فَلاَ اُجِیْبَ لَکُمْ وَتَسْاَلُوْنِی فَلاَ اُعْطِیْکُمْ وَتَسْتَنْصِرُوْنِیْ فَلاَ اَنْصُرَکُمْ فَمَا زَادَ عَلَیْهِنَّ حَتّٰی نَزَلَ)) (رواه ابن ماجه. کذا فی الترغیب)

**ترجمه**: ((حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمایی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم، یوځلی کورته تشریف راوړو. نو مایی په مخ مبارك کی یو خاص اثر ولیده،

محسوسه مې کړه چه څه ضروري خبره پېښه شوې ده، حضور صلی الله علیه وسلم چا سره څه خبره اتره ونه فرمایله او اودس یې وکړو، جماعت ته یې تشریف یوړو، زه دحجرې ((کوټګۍ)) دیوال سره جُختته اودرېدلو لپاره اودرېدمه، چه څه ارشاد فرمایي، نبي علیه الصلوة والسلام په منبر تشریف فرما شو، اوحمد او ثناء نه پس یې وفرمایل ، ای خلقو ! دالله تعالی ارشاد دې چه تاسو امر بالمعروف اونهی عن المنکر کوئ، هسې نه چه هغه وخت راشي چه تاسو به دعا غواړئ اوهغه به نه قبلیږي اوتاسو به سوال کوئ اوسوال به مونه پوره کیږي تاوس به دخپلو دشمنانو خلاف مانه امداد غواړئ اوزه به ستاسو مدد نکوم دا پاکې او مبارکې خبرې نبي علیه الصلوة والسلام ارشاد اوفرمایلې او دمنبر نه ښکته را کوز شو))، یعنې دمسلمانانو اعانت او امداد هم ددین په پوخوالی کې مضمر (پټ) پروت دې، او حضرت ابو الدرداء رضی الله تعالی عنه یوجلیل القدر صحابی دې فرمایي چه تاسو امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوئ اوکه نه نو الله تعالی به په تاسو داسې ظالم بادشاه مقرر کړي چه ستاسو دمشرانو عزت به نکوي او ستاسو په کشرانو به رحم نکوي، په هغه وخت کې به ستاسو خوښ نیکان خلق دعاګانې کوي نو قبلیږي به نه تاسو به مدد غواړئ مدد به درسره نشي کولې ښښنه به غواړئ ښښنه به درته نشي کولې.

۳ـ **بی عمله دعوت** : ((عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي رِجَالاً تُقْرَضُ شِفَاهُهُمْ بِمَقَارِيضَ مِنْ نَارٍ فَقُلْتُ يَا جِبْرِيلُ مَنْ هَؤُلَاءِ قَالَ هَؤُلَاءِ خُطَبَاءُ مِنْ أُمَّتِكَ يَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَيَنْسَوْنَ أَنْفُسَهُمْ)) (رواه احمد ،مشکوة) ، **ترجمه** : ((دحضرت انس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : چه دمعراج په شپه ما څینې خلق ولیدل چه دهغوئ شونډې داور قینچیانو سره پرې کولې شوې، ما دجبرئیل علیه السلام نه پوښتنه وکړه چه دا کوم خلق دي؟ جبرائیل علیه السلام راته وویل چه دا ستا دامت مقررین (تقریر کوونکي) دي دوئ به خلقو ته دنیکۍ اوتقوی نصیحت کولو اوخپل ځان به یې هیرولو)) ، الله پاك جل جلاله دې مونږ ټول مسلمانان دداسې ورځې نه په

امان کړي، اللهم آمین.

۴_ ((قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تُبْغِضُوْا عِبَادَ اللهِ عِبَادَةَ اللهِ)) (مبسوط)

**ترجمه**: (( داسې طريقه مه اختياروئ چه دهغې په وجه خلق دالله پاك دبندګئ نه نفرت شروع کړي)) يعني کوم وخت چه خلق مطالبه وکړي يا دهغوئ دچهرې نه اندازه ولګی چه اوس ددين خبر ته تيار دې نو بيا ورته وعظ او نصيحت کول پکاردي.

۵_ بخاري او مسلم دحضرت عباده بن صامت رضی الله تعالی عنه حديث نقل کړيدې، هغه فرمايلی دی چه: ((بَايَعْنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى اَنْ نَقُوْلَ بِالْحَقِّ اَيْنَمَا كُنَّا لاَنَخَافُ فِي اللهِ لَوْمَةَ لاَئِمٍ)) **ترجمه**: يعې مونږ درسول الله صلی الله عليه وسلم سره پدې خبره بيعت کړيدې چه هرچيرته اوپه هر رازشرايطو کې به حق وايو دالله تعالی په لاره کې به دهيچا له تهديد او محاکمې نه نه ويريږو.

**نکته: ددعوت او تبليغ اهم اصول**: حضرت عکرمه رضی الله تعالی عنه فرمايی چه حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه اوفرمايل: هره هفته کی صرف يوځل وعظ کوئ اودوه ځله يې هم کولې شئ او ددريو ځلورو نه زيات وعظ مه کوئ او دقرآن کريم نه دخلقو زړونه مه توروئ اوداسې دې هيڅکله نه وی چه تاسو خلقو ته ورشئ هغوئ په خپله څه خبره کې مشغول وی اوتاسو دې ورته وعظ شروع کړئ اودهغوئ خبره پريکړئ که داسې وکړئ نوهغوئ به دوعظ نه کرکجن کړئ بلکه په داسې موقع خاموش پاتې شئ اوکله چه دهغوئ خواهش معلوم کړئ اوهغوئ تاسونه مطالبه وکړي نو بيا ورته وعظ کوئ، او له مستجمع اومقفّی عبارتونو نه ځان بچ کړئ، ځکه چه ما حضور صلی الله عليه وسلم او اصحاب رضی الله تعالی عنهم ليدلی دی چه هغوئ به تکليف سره عبارت آرائی نه کوله ((بخاری شريف)) حضرت علی رضی الله تعالی عنه فرمايلی دی چه: بهترين عالم هغه دې چه خلق ((دخپل تقرير او وعظ په واسطه)) دالله تعالی درحمت نه نا اميده کوی نه اونه دالله تعالی دنافرمانئ دپاره هغوئ ته رخصتونه ورکوی، اونه دالله تعالی دعذاب نه هغوئ بې خوفه کوی. (کتاب الخراج، امام ابويوسف رحمه الله). يعني په داسې اندازکې تقرير پکاردې چه نه خلق

نا امیده شي او نه دا چه الله تعالی غفور اورحیم دي. او دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دشفاعت غلط مطلب اوښايي چه دالله تعالی په نافرمانی کې خلك جرئت کول شروع کړي، بلکه صحیح طریقه داده چه دواړه اړخه دي بیان کړي چه نه نا اُمیدي پیدا شي اونه د نافرماني جرأت، الله تعالی دي مونږ صحیح مبلغین ددین جوړ کړي، آمین یارب الغالمنین.

# نبوی صلی الله علیه وسلم هجرت

محترمو مسلمانانو ! هرکله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مبعوث شو نو قریشو او اهل مگه دهغوئ سخت مخالفت او داشاعت اسلام دبندولو کوششونه یې شروع کړل، دولید بن مغیره په صدارت کې به اجلاسونه کیدل دمال اودولت اوحکومت او ښځو پیشنهادونه اولالچونه به یې ورکړل چه پدې ونه شوه نو بیهوده اومهمل سوالونه یې شروع کړل، کله به یې ویل چه که ته په ریښتیا دالله تعالی پیغمبر یې نوزمونږ دا علاقه دشام په شان سره سرسبزه کړه یا زمونږ آباء او اجداد ژوندي کړه که هغوئ ستا تصدیق وکړي نو مونږ به هم ستا تصدیق وکړو او کله به یې ویل چه مونږ ته داصحاب کهف او ذوالقرنین صحیح واقعه بیان کړه او دروح حقیقت راته اوښایه چه په قرآن کې دهغې جوابات موجود دی.

**فائده**: روح یو جسم لطیف دي چه په بدن کې داسې جاري اوساری دي لکه ښنه لښته کې چه اوبه جاري وی او ددې شکل بعینه دانسان دي، بلکه هغه اصل دي او دا ظاهري جسم دروح دپاره په منزله دلباس دي؛ سر دروحاني سر دپاره په منزله دتوپۍ سره دي، همدارنگه روح داخلاق حمیده سرچشمه ده او نفس (نفس اماره) داخلاق مذمومه سرچشمه ده.

اوچه پدې هم ونشوه نو سخته تکلیف، ایذاء (ضرر) رساني یې شروع کړه دډیرو ظلمونو زغملو له امله مسلمانان پخپل کوراو وطن کې په تنگ شول، داسلام په جرم خوك په سرو شگو کې سوځول کیدل دچا بدن غوښې په امبورونو شکول کیدلې،

دچالمدو غوښتوته دسرو سیخانو داغونه ورکول کیدل، او په چا باندې دوهلو ټکولو زیندۍ کولو ترخې صحنې راتلې، نوره حوصله پاتې نشوه چه دغه حالات وګالي، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : «تفرقوا فی الارض فان الله سیجمعکم»، او بیا ډیرو صحابه کرامو حبشې ته هجرت اوفرمایلو، په سنه (۷) نبوی کې هغه بنوهاشم یې سره دحمایت کوونکو په شعب ابی طالب کې ګیر کړل او درې کالو پورې دوئ سره هر قسمه لین دین، راشه درشه او پابندی وه ، په سنه (۱۰) نبوی کې هغه عهد مات شو او دوئ آزاد شول دحج په موقع دمدینې منورې ډیرو خلقو ایمان راوړو او په مدینې منورې کې داسلام ابتداء وشوه، کله چه دانصارو ددې قبیلې درسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس بیعت وکړو او دوئ تابعدار وو، دمدد اوحمایت وعده یې وکړه نو ډیر مسلمانان ددوئ په پناه کې راغلل، دالله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم ټولو مسلمانانو ته څو چه دوئ سره وو په مکه معظمه کې مدینې منورې ته دهجرت کولو او دانصارو سره ملاقی کیدو حکم وکړو او وې فرمایل چه الله تعالی ستاسو دپاره څه دامن ځای او کورونه را پیدا کړی دی چرته چه تاسو په امن سره اوسیدې شئ، ددې خبر په اوریدو سره خلقو په ډلو ډلو هجرت شروع کړو او پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه معظمه کې دحکم انتظار کولو او قریشو دهغوصحابه وو ددې آبادی دانتقال او نقل او حرکت په لاره کې قسم قسم خنډونه اودرول، ولې مهاجرین هم ددې ارادې بدلولو اومخ په وروستو تللو ته تیار نه وو، هغوئ په هیڅ حالت کې په مکه کې اوسیدل نه خوښول څکه خو چا خپل بال بچ په مکه کې پریښودل او یواځې یې مدینې منورې ته هجرت وکړو لکه چه څنګه ابو سلمه رضی الله تعالی عنه داسې وکړل، او چا دخپل ژوند ټوله ګټلې پنګه پریښوده لکه چه صهیب رومی رضی الله تعالی عنه داسې وکړل، مطلب دا چه دغه دلوبې تماشې کار نه وو بلکه صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین ډیره لویه قربانی ورکړه دخپل دین حفاظت او درسول الله صلی الله علیه وسلم داطاعت لپاره چه سارې یې نشی لیدلې او هرمسلمان ته په هره زمانه کې پداسې شرائطو کې همدغسې قربانی پکار ده.

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دمدینې منورې تکل وکړو پدې وخت کې قریشو

دبیر وار خطاوو، داسلامی دعوت لپاره دورځ په ورځ فراخیدونکې ساحی په لیدو سره
اندیښمن وو خپل سر او مال اقتصادی او سیاسی موقف هرڅه یې په خطر کې لیدل نو
ځکه په دار الندوه ((چه په اصل کې دا دقصی بن کلاب کور وو او قریشو به خپل ټول
مهم معاملات دلته فیصله کول)) سره را غونډ شول، غوښتل یې چه داسلام دخپانده
سیند په مخ کې دشګو بند واچوی بیلا بیلې رأیی وړاندې شوې، ابو البختری وویل
چه د محمد (صلی الله علیه وسلم) په لاسونو او پښو کې هتکړۍ او زولنې واچوئ په
کوم کور کې یې بند کړئ او پدې شورۍ کې ابلیس علیه اللعنة هم دنجد دقوم دمشر
په صفت ځان معرفی کړې وو نونجدی مشر یعنې ابلیس وویل دا کمزوری رایه ده،
دده دتابعدارو جماعت به راشی اودې به ستاسو دلاس نه خلاص کړی . او هشام بن
عمرو وویل چه لدې ځایه یې وباسئ چیرته لرې سیمې ته یې بوځئ ، نجدی ورته
وویل ستاسې رایه هم ناقصه ده ضرور به یو قوم ته ورسیږی او دده ملګرتیا به وکړی
اوستاسو مقابلې ته به تیار شی، ابو جهل وویل چه مونږ به له هرې قبیلې نه یویو
زړور او تکړه ځوان انتخاب کړو ټولوته به توری په لاس ورکړو او ټول به په یوځای
حمله ورباندې وکړو پدې ډول به هغه له منځه ولاړشی او مونږ به ورڅخه بیغمه شو او
وینه به یې په ټولو قبیلو وویشل شی، بنی هاشم به ددې قصاص نه عاجزشی که دیت
راشی ټولی قبیلې به یې په ګډه ورکړو، نجدی شیخ ورته وویل داصحیح رایه ده
ټولوخوښه کړه او پرې خوشحال شول چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لاړو له دنیا
څخه او اسلام ناکام شو او نور به ددې دعوت غږ پورته نشی خودیته یې نه کتل چه
دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم او اسلام ساتندوئ شته، قوی مقتدر، جبّار،
قهّار، مالك الملك، احکم الحاکمین ساتندوئ رب ، دهغه تدبیر به دغه ټولې
شیطانی دسیسې شنډې کړی: ((وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُواْ لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ
يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللّهُ وَاللّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ)) **ترجمه**: ((او یاد کړه ای پیغمبره
هغه وخت چه کفارو ستا دضرر لپاره حیله او فریب کولو، ددې خبرې چه تا په کوټه کې
بند کړی یا تاقتل کړی او یا تاله وطنه اوباسی اودوئ همیشه داحیلې او فریب خالی

ستا دضرر دپاره کوی او الله تعالی ددوئ ددې فریب اومکر جزاء دوئ لره ورکوی الله تعالی پدې فریب عالم دې اودوئ لره به جزاء ورکړی او تا به ددوئ دضرر نه بچ کړی اوفتح او غلبه به الله تعالی ستا نصیب کړی.

خلاصه دا چه حضرت جبرئیل علیه السلام دالله تعالی په فرمان سره رسول الله صلی الله علیه وسلم لدې مشوری دکفارو څخه خبر کړو او مدینې منورې ته دهجرت کولو امربی ورته وکړو ، اوقریشو دجمعې شپې ته اراده دحملې کړې وه اونبی اکرم صلی الله علیه وسلم چه حضرت علی رضی الله تعالی عنه هم ورسره وو هغه ته یی اوفرمایل ماته دهجرت حکم شویدې دښمنانو کور محاصره کړیدې زما دقتل دپاره چارچاپیره ولاړدی ای علی «رضی الله تعالی عنه» زه نن شپه ووځم ته زما په بسترې ویده شه ، شین څادر هم واغونده که الله تعالی غوښتی وی هیڅ تکلیف به درپیښ نشی چه سبا شی نو ټولو خلقو ته امانتونه ورکړه بیا ته راپسې راځه.

**نکته**: «عجیبه تضاد» دقریشو درسول الله صلی الله علیه وسلم سره دښمنی او ددوئ په مخالفت کې ددومره غټ اتحاد باوجود په دیانت ، امانت او ددوئ په لویه سینه او حوصله مکمل اعتماد وو په ټوله مکه کې چه به چاته دخپل څه شی دضائع کیدو یا په زور داخستو ویره وه نو هغه به دغه درسول الله صلی الله علیه وسلم سره کینبودل، دغه شان ددوئ سره قسم قسم امانتونه جمع شوی وو، دوئ حضرت علی رضی الله تعالی عنه ته ددې امانتونو ذمه داری وسپارله چه دې به تر هغې په مکه کې پاتې وی ترکومه چه امانتونه خلکو ته وسپاری، الله تعالی ریشتیا وایی: «قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لاَ يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللّهِ يَجْحَدُونَ»

**ترجمه**: مونږ ته معلومه ده چه ددې کافرانو خبرې تا خفه کوی ولې دوئ تاته دروغژن نه وایی بلکه ظالمان دالله تعالی دآیتونونه انکار کوی.

حضرت علی رضی الله تعالی عنه په بستره کې څملاست په شنه څادر کې ونغښتنه، رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه یا درې ورځې مخکې حضرت ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه دهجرت له حکم نه پټ خبر کړې وو، پدې شپه هلته ورغې

هغه یې له ځانه سره ملګرې کړو، دمدینې لاره چه دمکې شمال خواته ده هغه یې پرېښوده دجنوب په لاره دغار ثور خواته روان شول ترڅو چه کافران ونشی کولې چه هغوئ تعقیب کړی، محاصره کوونکو چه سهار ولیدل چه په بستره کې حضرت علی رضی الله تعالی عنه ویده وو نو دافسوس منګولې یې ومښلی او حیران هك پك اودریدل نو دوئ په رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې تلاش شروع کړو، قیافه شناسان او فال شناسان یې په مختلفو لارو باندې خواره کړل کوم فال شناس چه په لاره دجبل ثور تللې وو هغه قریشو لره خبر ورکړوچه محمد (صلی الله علیه وسلم) او ابو بکر صدیق (رضی الله تعالی عنه) په طرف دجبل ثور تللی دی، دقریشو ځوانانو توري او شلګې را واخستلې او جبل ثور ته وختل اوغار ثورته نژدې راغلل دننه دغارنه دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه نظر په دوئ ولګیده ډیر خفګان پرې راغي اورسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې اوفرمایل که زه قتل شم خو یوکس یم هیڅ پروا نشته اوکه ته قتل شوې نو لوئ امت به هلاك شی، نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته تسلی ورکړه او ورته یې اوفرمایل: ((لاَ تَحْزَنْ إِنَّ اللّهَ مَعَنَا)) یعنې مه خفه کیږه په تحقیق سره الله تعالی زمونږ سره دې، مشرکانو غار ته دننوتو اراده وکړه، اُمیه بن خلف وویل پدې غار کې هرګزنشته ځکه چه دغار په خوله کې دپخوا زمانې نه دعنکبوت (جولاګی) جاله موجوده ده که دوئ غارته ننوتلی وی څه فرق خو به پکې راغلې وو، نوځکه غار ته دننوتلو نه بند شول ((والتفصیل فی المطولات)).

خلاصه دا چه دوئ په غار کې درې ورځې پاتې شول کافران یې په نیولو موفق نشول، اخوا مدینې منورې ته دکائناتو دسردار دراتلو خبر رسیدلې وو خلك هره ورځ داستقبال لپاره دیاندې وتل، انتظاریې کولو، دبخت او اقبال دسهار دستوری، چه دانتظار موده پوره شوه دالله تعالی رسول هلته ورسیده، هرې خواته خوښی وه جشن رو داسې جشن چه دمدینې په اوږده تاریخ کې هیڅکله دهغه سارې اومثل نه وو لیدلی شوې، هر خواته دغه نعرې وی چه الله اکبر محمد صلی الله علیه وسلم راغې، الله اکبر دالله تعالی رسول راغې، وړوهلکانو اوماشومانو نجونو دکورونو په بامونو

باندې ولاړ دخوښۍ په څپو کې يې دا بيتونه ويل چه په مستدرك حاكم كې دحضرت انس رضی الله تعالی عنه څخه روايت شويدی :

۱ـ نَحْنُ جَوَارٍ مِنْ بَنِی النَّجَّارِ يَا حَبَّذَا مُحَمَّدٌ مِنْ جَارِ

ژباړه : مونږ جينكۍ دبنی نجار څخه يو ، ای خلكو ډير محبوب اوبهتر دی محمد صلی الله عليه وسلم گاونډی اوميلمه زمونږ.

۲ـ چه كله يې تشريف راوړو نودغه ابيات يې وويل :

طَلَعَ الْبَدْرُ عَلَيْنَا مِنْ ثَنِيَّاتِ الْوَدَاعِ وَجَبَ الشُّكْرُ عَلَيْنَا مَا دَعَى لِلّٰهِ دَاعِ

ژباړه : راختلی ده دخوارلسمې سپوږمۍ په مونږ باندې دثنيّة الوداع څخه «دا دمدينې منورې نه بهر ددوه غونډيو يا دوه وړو غرونونومونه دی . لدې ځايه به رسول اكرم صلی الله عليه وسلم وفدونه رخصتول» ، واجب دی شكر كول په مونږ ترڅو چه بلی الله تعالی لره بلونكې يعنې ترقيامته پورې.

۳ـ اَيُّهَا الْمَبْعُوْثُ فِيْنَا + جِئْتَ بِالْاَمْرِ الْمُطَاعِ

ژباړه : ای مونږ ته رالیږل شوی ، دلته ستاخبر اوريدل كيږی اونبی كريم صلی الله عليه وسلم دمسجد نبوی صلی الله عليه وسلم دجوړولو دپاره دخښتو وړلو په وخت كې دا دعا هم ولوستله :

اَللّٰهُمَّ لَاخَيْرَ اِلَّا خَيْرَ الْاٰخِرَةَ + فَاغْفِرِ الْاَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَةَ

ترجمه : يا الله يقيناً لوئ اجر هغه اجر دآخرت دی + پس رحم وكړې په انصارو او مهاجرينو باندې ، دغه وه نبوی صلی الله عليه وسلم هجرت ته لنډه كتنه.

**نكته** : هجرت ددينی وجوهاتو په بناء باندې خاص دالله تعالی درضاء لپاره دوطن پريښودلو ته وايی ، خواه كه دوئ پخپله ولاړشی او يا دوئ داسلام ددښمنانو له خوا وه ويستل شی «لكه په موجوده زمانه كې دافغانيانو هجرت» په قرآن مجيد كې په ډيرو آيتونو كې دهجرت دفضيلت او بركت بيان موجود دی :

«وَالَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي اللَّهِ مِن بَعْدِ مَا ظُلِمُواْ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَلَأَجْرُ الآخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ» **ترجمه** : هغه كسانو چه هغوئ د الله تعالی دپاره هجرت كړيدی

پس دهغه نه چه په دوئ ظلم کړی شوی وو مونږ به دوئ ته په دنیا کې بهترینه ټیکاونه
ورکړو او دآخرت ثواب خوډیر لوئ دی ، کاش که دا خلق پوهیدې.
بل ځای ارشاد مبارك دې چه : ((وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا
كَثِيرًا وَسَعَةً وَمَن يَخْرُجْ مِن بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ
عَلَى اللَّهِ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا)) **ترجمه** : هغه څوك چه هغه ددين لپاره وطن پریښوده
هغه به په ځمکه کې ډیرځای او ډیر وسعت بیاموومی، دا خو دنیاوی کامیابی ده، او
دآخرت کامیابی خوښکاره ده ځکه چه دالله تعالی قانون دادې چه څوك هم دالله تعالی
او دهغه درسول ددین لپاره مهاجر شول او کور یې پریښوده او بیا مقصد حاصلیدونه
مخکې ورلره مرگ راغې نوبالتحقیق کامل اومکمل اجر دهجرت دالله تعالی په ذمه
شو ((یعنې گویا الله تعالی نیت ته گوری)) او الله تعالی ډیر مغفرت کوونکې دې)).
په دې دواړو آیتونو کې دهجرت دظاهری اوباطنی برکاتو بیان دې چه مهاجرینو
ته به الله پاك په دنیاکې هم فراخی اووسعت ور په برخه کړی او دآخرت درجات عالیه
خو دوهم او گمان نه بالاتر دی ، په دنیاکې به ورته دمخکې نه ښه عزت او ښه آرام
ورکړی، البته که څوك په نیت کې مخلص نه وی نو دهغوئ لپاره دفراخی دا وعده
نشته ، حضرت ابراهیم علیه السلام چه دعراق نه شام ته هجرت وکړو الله پاك ورته
ډیر نعمتونه ورکړل، موسی علیه السلام اوبنی اسرائیلو مصر پریښودلو الله پاك ورته
بهتر ملك شام ورکړو ، اوبیایې مصر ورته هم ورکړو ، نبی کریم صلی الله علیه وسلم
چه مکه معظمه پریښوده بهترین مسکن مدینه منوره ورته الله تعالی ورکړه، ډیر
صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم اجمعین په مکه معظمه کې ډیر فقیران وو، په
مدینه منوره کی الله تعالی غنیان وگرزول او په ((هاجروا فی الله)) کې دیته اشاره ده
چه دهجرت غرض دالله تعالی رضا وی، دنیاوی اشیاء نه وی نوهغه ته به دغه ثواب
ورکولې شی، لکه چه په بخاری شریف کې یو روایت مسطور دې، ((فمن کانت هجرته
الی الدنیا یصیبها او الی امرأة ینکحها فهجرته الی ماهاجر الیه)) یعنې هغه څوك چه
دهغه هجرت دالله تعالی او دهغه درسول دپاره وکړی هغه ته به مکمل دهجرت ثواب

ورکولې شي او که ددنیا دپاره وي نوثواب نه به محروم وي، بل حدیث مبارك کې ارشاد دې چه ((اَلْهِجْرَةُ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ)) یعنې هجرت سابقه ټول ګناهونه ختموي او همدارنګې که دهجرت په لار کې وفات شي لکه څنګه چه خالدبن حزام رضی الله تعالی عنه لره راغلې وو چه حبشی ته یې هجرت کولو او مار وچیچلو نو شهید شو. او انصاروته پکاردی چه دمهاجرینو عزت وکړي لکه دمدینې خلقو دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین چه کوم استقبال وکړو او کوم ددوئ عزت او میلمستوب یې کړې وو چه دهغې نظیر موجود ندې حتّی چه بعضې مهاجرینو اصحابو اوفرمایل: یارسو الله! مونږ داسې خلقوته راغلی یو چه مونږ سره خو خطره ده چه هسی نه چه ټول ثوابونه ددوئ شي او مونږ به محرومه پاتې شو، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل چه داسې نشي کیدې چه ترڅو تاسو دوئ ته دعاء ګانې کوئ ((البدایه والنهایه، جلد: ۳، صفحه: ۲۲۸)) یعنې ددعا مرتبه هم ډیره زیاته ده حتّی چه دتمام عالم خزانی که یوطرفته وي او یو داخلاص دعاء بل طرفته شي ددعاء طرف به درونه وي، دهجرت څخه هر چا ته سبق دې لکه الله تعالی چه فرمایي: ((يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ أَرْضِي وَاسِعَةٌ فَإِيَّايَ فَاعْبُدُونِ)) (سورة عنکبوت) **ترجمه**: ای زما بندګانو چه ایمان مو راوړې دې زما ځمکه فراخه ده نو صرف زما عبادت کوئ.

# دنجات ذریعه جهاد فی سبیل الله

محترمو مسلمانانو: نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په مدینه منوّره کې دټولونه اول یواسلامی ریاست قائم کړو په مهاجرینو او انصارو کښې یې مواخات یعنې دوروروالی چارې قائمې کړې ((دا مواخات دهجرت په شپږمه میاشت د (۴۵) مهاجرینو او (۴۵) انصارو په مابین کې شوی وو ((فتح الباری جلد: ۷)) او انصارو دډیر مخلصانه ایثار ثبوت ورکړې وو، اوبیا یې دجهاد لپاره تیارې شروع کړو، حتی چه هغوئ په لسو کالو کې دیرش وارې په نفس نفیس په جهاد کې شریك شویدی په کومو غزاګانو

کې چه ندی شریك شوی دهغې تعداد خو ډیر دې، حتّی چه ابن جوزی (۵۴) پوری شمار کړیدی ((زرقانی : جلد: ۱، صفحه: ۳۸۸))، دجهاد معنی داده چه خپل طاقت دمال دپاره نه دقومیّت دپاره نه دخپلې بهادرئ ښودلو دپاره نه بلکه محضې داعلاء کلمة الله دپاره استعمال کړې شی چه هغه دالله تعالی جل جلاله دخوشنودی دپاره وی ددنیاوی اغراضو نه پاك وی، که دنیاوی اغراض مثلاً مال اودولیت یاقومیّت اوشجاعت ښودل مقصود شی دا بیا جهاد ندې بلکه جنګ دې دجهاد نه مقصد دکافرانو مړه کول ندی بلکه ددین الٰهی غالب کول او حاکم کول دی چه مسلمانان باعزته وی او د امن او عافیت سره زندګی تیروی اودالله تعالی عبادت کول دی او دانسانی ژوند په ټولو انفرادی، اجتماعی، اقتصادی، سیاسی اوقانونی چاروکې دهماغه لخوا ټاکل شوې تګلارې اوکړنلارې باید مراعات شی، یعنې دین باید په اصولی اوفروعی لحاظ قائم، نافذ او تطبیق شی، داسې نه چه په عقیدوی چارو کې الله تعالی واجب الاطاعة وګڼل شی اوپه تعبدی او ژوندنیو چارو کې یاپه بل عبارت په تشریعی امورو کې آزادی غوره کړې شی، دعملی کیدو صورت یې یوازې هماغه دې چه حاکم نظام دې اسلام وی او دحکومت واګې دې دمسلمانانو په لاس کې وی او هرڅوك پدې خبر دی چه هغه صلی الله علیه وسلم په تبلیغ او تورې دواړو سره ټوله عربی ځمکه تسخیر او په هغې کې یې دیوبشپړ حکومت نظام له داسې مفصّل شریعت سره قرار کړ چه له عقیدوی او تعبدی چارون واخله تر انفرادی کړو وړو، ټولنیزو اخلاقو، تهذیب اوتمدن، اقتصادی او اجتماعی معاملات سیاست او قضاء سولې اوجنګ پورې دژوند ټولې څانګې یې احاطه کړې وې، اودغه کتاب دخپل نازلیدو هدف را بیانوی ((إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ))

**ترجمه**: ((مونږ دغه کتاب پر تا باندې په حقه نازل کړیدې ترڅو چه ته دخلکو په منځ کې په هغې رڼا کې فیصله وکړې چه الله تعالی درښودلی دی))، خلاصه دا چه درسالت په (۲۳) کلنه موده کې پخپله دالله پاك دحبیب صلی الله علیه وسلم کارنامې هم دهمدې شاهدی وایی چه اسلام دحاکمیت په خاطر راغلی دی نه دمحکومیت په

مفروضه، دجهاد دمفهوم څخه وروسته بايدووايو څو پوري چه نبی کريم صلی الله
عليه وسلم نه ووکړي هغې پورې دمشرکين مکه نه دانتقام اخستو حکم نه وو ورکړی
عفوې او درگزی حکم وو «فَاعْفُواْ وَاصْفَحُواْ حَتَّى يَأْتِيَ اللّهُ بِأَمْرِهِ» حتی چه کله نبی کريم
صلی الله عليه وسلم دهجرت حکم وکړو نو دجهاد حکم راغلو «أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ
بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا» ترجمه اجازت وکړې شو هغه کسانو ته چه هغوئ سره کفار جنگ کوي
او په دوئ ډيرظلم کړې شويدې ، دنبی اکرم صلی الله عليه وسلم دمبعوث کيدو نه
مخکی جنگ دوحشت او بربريت يوه ډرامه وه نه ورلره څه حدود وو اوته څه اخلاقي
ضابطه وه هرکله چه هغوئ صلی الله عليه وسلم پدې ميدان کې قدم کيښودلو حکم
يې وکړو چه ماشومانو ، ښځو ،گوشه نشينو ، بوډاگانو اوبيمارانو ته څه مه وايي .
صرف هغه چا سره جنگ کوئ چه هغوئ تاسو سره جنگ کوی که هغوئ دمصالحت
لپاره غاړه ږدی نو تاسو هم مصالحت ورسره کوئ، اول به کفاروته داسلام دعوت
ورکوئ بيابه ورته دجزيي وړانديز کوئ چه جزيه ومنی که دينه هم انکار وکړی نو بيابه
ورسره قتال کيږی ، او دجهاد دکاميابی دپاره قرآن کريم هدايات او آداب پدې ايت
کې بيان کړيدی : «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُواْ وَاذْكُرُواْ اللّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ
تُفْلَحُونَ ○ وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَنَازَعُواْ فَتَفْشَلُواْ وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللّهَ مَعَ
الصَّابِرِينَ ○ وَلاَ تَكُونُواْ كَالَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَارِهِم بَطَرًا وَرِئَاء النَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ
اللّهِ وَاللّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ» ترجمه : «ای ايماندارو کله چه په جهاد کې يوجماعت
سره ستاسو مقابله راشي نو ثابت قدمه اوسئ ، تښتئ مه او دالله تعالی ذکر کثرت
سره کوئ اُميد دي چه کاميابی به بيامومئ اودالله اودهغه درسول اطاعت کوئ
وخلاف مه کوئ پس بزدله به شئ او رُعب به موختم شی او صبر کوئ ځکه دالله تعالی
محبت دصابرينو سره دې او تاسو دهغه خلکو په شان مه کيږئ چه هغوئ دکورونو نه
په داسې حالت کې راوتلی وو چه تکبريی کولو او خلکوته يی خپل شان او سامان
ښودلو «واقعه بدرکې» اوخلك يی دالله تعالی ددين نه منع کول ، الله تعالی ددوئ په
اعمالو باندې احاطه کړې ده» . په اولو دوو آيتونو کې دمسلمانانو دپاره يوخاص

هدايت نامه ده چه په هغې کې ددنيوي کاميابۍ او داخرت دنجات نسخه ذکرده چه هغه دا ځوشيان دي.

۱_ آدب: «فاثبتو» ثابت او سيرې که قلبي وي که قدمي څکه چه دثابت قدمي لپاره دزړه ثابتوالي هم ضروري دې يعنې دمجاهد دلاړې تر ټولو قوي اسره په الله جل جلاله باندې قوي ايمان، باور او اعتماد دې او په هردول کړاونو باندې صبر کول او په هرراز سختيو کې پر خپل موقف باندې ثابت قدم او سيدل دي ايمان او صبر هغه قوي او ماتې نه خوړونکې وسله ده چه يوازې له مجاهد سره شته او دهغه دشمن ترينه محروم دې، دشمن په مادي وسايلو باندې لکه طياره، ټانکونه، درنې او سپکې مهلکې وسلې متکې او مغرور دې خو تاريخي پيښو او تجربو دا ثابته کړيده چه دا شيان دبرې راز ندي کاميابي او برې دهغو کسانو په نصيب کيږي چه قرباني ته چمتو وي په زړونو کې يې ويره او رُعب نه وي له مرگ اوژوبلې څخه نه ويريږي پدې باندې يې پوخ ايمان او باور وي چه الله تعالى دحق پالونکې، مرستندوی دې او هرڅه چه رسيږي دالله تعالى له خوا څخه دي او دالله تعالى په قضاء دمؤمن رضاء وي، هغه دقرآن په ژبه وايي «لَّن يُصِيبَنَا إِلاَّ مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا» يعنې مونږ ته به هيڅ ونه رسيږي مگر هغه چه الله تعالى راته مقرر کړيدي «هُوَ مَوْلاَنَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ» الله تعالى زمونږ کارساز، سرپرست دې، او پرهغه باندې دې مؤمنان توکل وکړي، دمجاهد لپاره له سره ذلت نشته، پر خپلو کړو پښيمانتيا نشته هرڅه چه ورته رسيږي هغه عين هدف دې، که غالب شي نو فاتح دې، فتح او برې يوهدف دې، او که مرگ ورته پيښ شي شهيد دې، شهادت بل هدف دې ډيرلوړ او لوئ هدف، ابدي ژوند، دعزت او افتخار لاره ده، لکه چه قرآن کريم کې ارشاد دې «قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا إِلاَّ إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَن يُصِيبَكُمُ اللَّهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِندِهِ أَوْ بِأَيْدِينَا فَتَرَبَّصُواْ إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ» **ترجمه**: «آيا تاسې زمونږ لپاره لدې پرته دبل څه انتظار لرئ چه له دوو نيکيو څخه يوه ارومرو را رسيدونکې ده او مونږ ستاسې لپاره دعذاب انتظار لرو يا دالله تعالى له لوري په مستقيم ډول يا زمونږ په لاسونو نو تاسې انتظار وباسئ

او مونږ هم لـه تاسې سره يو ځاى انتظار وبستونكي يو›› تريخ او منفور
انگيرنـه مؤمن تـه خوږ او مطلـوب شي چـه پخـوا پيغمبرانـو، صديقانو،
اوصالحينو دالله تعالى پـه لاره كې قرباني وركړيده او همدغـه تـگ لاره ديو
مؤمن صحيح تگ لاره ده دمال، جايداد او شتمنى پاتى كيدل يى نـه زوروى
دا هرڅه پاتې دى او هغه دنه ختميدوونكو ابدى نعمتونو خواته ور روان دي.
عكس هغه كسان دئ چه ملحدان،دهريان، اوكافران دى، كه ثابت دريغ نلري
چا غلامان او سبا دبل چا، او ددينا او آخرت پـه زيان كى اخته دى، يا خو دالله
له طرفه پرې مستقل عذاب راشى لكه څوك يى پـه اوبـو كې غرق كړل لكـه قوم د
عليه السلام اوپه چايى اور وه وروړلو لكه قوم دشعيب عليه السلام، پـه چا يى زلزله
راوستله،دچا صورتونه مسخه شول، پـه حقيقت كې عذاب وركوونكې الله پاك دى
مگر هغه هميشه دپاره عذاب په يوه واسطه سره نه راليږى بلكه پـه مختلفو واسطو
سره يى راليږى، كلـه يى داوبـو پـه ذريعـه كلـه دفرښتـو پـه ذريعـه كلـه دانبياء عليهم
السلام پـه ذريعه اوكله دهغوئ عليهم السلام دملگرو پـه ذريعـه ‹‹قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ
بِأَيْدِيكُمْ›› يعني دوئ سره جهاد وكړئ چه الله پاك ستاسو پـه لاس دوئ ته عذاب وركړي
دمسلمانانو پـه لاس دوئ تـه عذاب وركولونه جهادوايي، او همدارنگـه مجاهد صابر
بايد دزغم خاوند وى، لكه چه ارشاد دې: ‹‹وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا
وَهَنُواْ لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا اسْتَكَانُواْ وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ›› ترجمه
‹‹يعنې زيات شمير پيغمبران داسې تيرشويدى چه دهغوئ پـه ملگرتيا كې دكفار و
ضدډيرو خداى پالونكو جهاد كړيدې نو دالله تعالى پـه لاره كې چې څه مصيبتونه
ورتـه ورسيدل نـه يى بدنى كمزورى محسوس كړه نـه يى پـه اراده كې سستي راغلى او نه
يې دباطل پـه وړاندې سرونـه ښكته كړى او الله تعالى صابرانو سره مينه لري››، هو
څومره قيمتى ده دالله پاك مينه اومحبت دټولې دنيا ومافيها نه زيات قيمتى هيڅ
نعمت دالله تعالى له مينې او محبت سره نشى برابريدې،مسلمان نـه مايوسه كيږي
مايوسى كفردې، الله تعالى فرمايى ‹‹وَلاَ تَيْأَسُواْ مِن رَّوْحِ اللَّهِ إِنَّهُ لاَ يَيْأَسُ مِن رَّوْحِ اللَّهِ

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

الا القوم الکافرون» **ترجمه** «یعني دالله تعالی له رحمت نه نا امیده کیږي دالله تعالی له رحمت نه نا اُمیدي دکافرانو کار دي». په دغسې حالاتو کې چه ظاهري اسره ختمه شي دربښتونې مجاهد ایمان او عقیده دتزلزل په ځای لاستحکمه شي ځکه چه الله پاك دېې اسرې بندګانو ډېرا قوي اسره ده دهغه مرسته او نصرت خو هله رانږدې شي چه پر انسان باندې ټولې لارې اوچارې بندې شي او غږ وکړي چه «متی نصر الله» نو دقبولی جواب ورکړې شي چه «الا ان نصر الله قریب» دا دالله تعالی کړنلاره ده چه خپلو مخلصو بندګانو ته له سختۍ نه وروسته اساني او له زحمت نه وروسته راحت په نصیب کوي «ان مع العسر یسرا» او دا دهغه مقتدر رب کړنلاره او وعده ده چه دخپل دین له مرستندویانو سره مرسته کوي او دهغوی قدمونه نښوئیدونه نه پرېږدي، لکه چه فرمایي: «ان تنصروا الله ینصرکم ویثبت اقدامکم» او تجربې ثابته کړیده چه یو موټی متحد مسلمانان په عاجزۍ الله تعالی ته لاس په دعاء او زاری دمعرکې ډګر ته ورغلی دي سرلوړي راستانه شویدي او کافران مغرور راغلی دي او شرمیدلی بیرته تللی دي.

خلاصه دا چه غوره عاقبت دمسلمانانو په برخه دي اګر چه دامتحان لپاره پرې تکالیف راشي چه دحق پالونکو ټولګی دضعف ، نفاق دوه مخی او مادیت پرستی له خیرونه پاك، سوتره کړي، لکه چه الله تعالی فرمایي: «ما کان الله لیذر المؤمنین علی ما انتم علیه حتی یمیز الخبیث من الطیب» ترجمه: «یعني دا له سره الهي سنت نه دی چه مؤمنان پدې حالت کې پرېږدی چه اوس پکې واقع یئ دغه اوسنی حالت نه مؤمنان هغه پاتې چه ناپاك له پاکونه بیل کړي او دغه بیلیدل دا زمینت په بڼه کې له غورځیدلو پرته نشی راتللی دراحت، اطمینان او ظاهري ګټو په وخت کې خو په هرڅوك دپاخه اوکره ایمان مدعی شي، همدارنګه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه چې «ای الناس اشد بلاء یارسول الله؟» یعني ډیر سخت ازمېښتونه پر کومو خلکو کیږي ای دالله تعالی رسوله؟ هغوئ صلی الله علیه وسلم او فرمایل «الانبیاء» یعني ترټولو سختی ازموینی او امتحانونه پر پیغمبرانو باندې کیږي یعنی

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

مستضعف کیدې شي، هو ضعیف کیدې نشي، مظلوم واقع کیدې شي خو
ته غاړه نشي کیښودلې، ویرول کیدې شي خو ویرې ته په زړه کې ځای نشي
بیوزلي، لوږه تنده محرومیت، تکلیف او کړاؤ زغملې شي خو ذلت، بی پښتی
عزتي نشي زغملې ، له الله تعالی او دهغه له رسول او مؤمنانو څخه پرته بل
عزت او درناوی نشي قائلیدې او نه عزت دبل چا حق ګڼلې شي، ځکه چه د
مالك وايي «وَ لِلّه العزة ولرسوله وللمؤمنين» یعنې دعزت خاوند یوازې الله تعال
او دهغه رسول دې او مؤمنان دي، مادي طاقتونه که خپل ټول زور استعمال کړي
انسان دځان غلام نشي ګرځولې چه دهغه له خپل انساني کرامت، پت او عزت
وي او حریت غواړي او همیشه لپاره دباطل په مقابل کې ثابت قدمه وي ددې
شمیره مثالونه داسلام په تاریخ کې موندل کیږي، رومي عسکرو یو صحابي حضرت
عبد الله بن حذیفة رضی الله تعالی عنه بندي ونیوه خپل بادشاه ته یې ورووست
ورته وویل له اسلام نه واوړه «وګرزه» نصراني شه، پدې صورت کې به زه پخپل
بادشاهي کې تاته برخه درکړم، خپله لوربه په نکاح درکړم، حضرت عبد الله بن حذیفة
رضی الله تعالی عنه ورته وویل که ته خپله ټوله بادشاهي او دعربو ټول جایداد
راکړې دې دپاره چه زه دې دسترګو درپ په اندازه دمحمد صلی الله علیه وسلم له دین
نه واوړم نو هیڅکله به دا کار ونکړم، بیا بادشاه ورته وویل وبه دې وژنم، ځواب یې
ورکړو، مرګ ته تیار یم، بیایې په راز راز تعذیبونو وځوراوه، په تیرو یې وه ویشت
دده تر نظرلاندې یې مس ویلې کړل، یو مسلمان بندي یې راووست په هغې کې یې
دنصرانیت بلنه ورکړه خو وې نه منله، بادشاه امر وکړو چه دې هم پکې وغورځوئ
چه یې غورځولو ته نژدې کړو نو ده وژړل دبادشاه تمه پیدا شوه له ده نه یې دژړا دلیل
وغوښت ده په ځواب کې ورته وویل ما ددې لپاره وژړل چه زما یو ځان دې چه په دغه
دشمیر په اندازه مسلمانان دالله تعالی په خاطر اچول کیږي کاشکې زما دبدن دوېښتو
روایت کې داهم راغلی دي چه هغه یې په لاره کې ددغه عذاب خوند څکلې وي په
روایت کې داهم راغلي دي چه هغه یې په زندان کې بندي کړو او خواره او به

وربانديٍ منع کړل څو ورځي وروسته يې ورته شراب او دخوګ (خنزير) غوښه ولېږله خو هغه ورته نشو پوښتنه يې ترينه وکړه چه دادې ولې ونه خوړل. ځواب يې ورکړو که څه هم د اضطراري حالت له مخې ماته ددې خوراك روا دې خونه غواړم چه ستا په وړاندې ذليل ښکاره شم په پای کې بادشاه ورته وويل زما تندې ښکل کړه تابه خوشې کړم، حضرت عبدالله بن حذيفة رضی الله تعالی عنه ځواب ورکړو آيا ديته حاضري چه ټول مسلمانان بنديان له ماسره يوځای خوشې (خلاص) کړې، هغه وويل هو. بيا يې دمسلمانانو بنديانو دنجات په خاطر دا کار وکړو او ټول خلاص شول. کله چه بيرته راغې حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه اوفرمايل په هر مسلمان باندې لازمه ده چه دحضرت عبدالله بن حذيفة رضی الله تعالی عنه تندې ښکل کړی اوزه تر ټولو لومړې دا کار کوم بيا پاڅيد او دهغه تندې يې ښکل کړ.

۲_ آدب : ((وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا)) په کثرت سره دالله تعالی ذکر کوئ دا دمؤمن لپاره معنوی اسلحه ده دمسلمانانو مقابله چه ددې هداياتو مطابق وی نو ددښمن اسلحه سازوسامان هيڅ نشی کولې، کاميابی به دده وی ((لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ)) کې ديته اشاره ده کچيرې تاسوثابت او دالله تعالی ذاکرين يئ نوفلاح او کاميابی به ستاسو وی

۳_ آدب : ((أَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ)) هر امرکې دالله تعالی او دهغه درسول اطاعت کوئ خلاف شرع کارونو نه اجتناب کوئ ځکه چه دهغه اطاعت دهغه درضاء او دهغې دامداد سبب دې او خلاف شرع اموروکې دهغه خفگان دې مثلاً ځان سره باجې او سپی بوتلل اوخيانت اومسلمانان زورول وغيره ځکه چه داسې قافله کې ددوئ فرشتې ملگرتيا نه کوی ((مسلم))

۴_ آدب : ((وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ)) تاسو اختلاف په خپل مابين کې مه پيدا کوئ ، ورنه دوه نتيجې به يې راووځی : ۱_ پخپله به بزدله او کمزوری شئ ، ۲_ ددښمن په نظر کې به هم ستاسو رعب ختم شی اوحقير به شئ.

۵_ آدب : ((وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ)) اوکه يوه ناگواره خبره هم وشی نو تاسو صبر کوئ چه دالله تعالی نصرت صبر کوونکو سره دې او چه دالله تعالی معيت حاصل شی نوهم به کاميابی يقينی وی ، نبی اکرم صلی الله عليه وسلم دجهاد په موقع بعضې

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

موقعو کې دغه خطبه ورکړې وه «اې خلقو دُښمن سره دمقابلې کولو خواهش مه کو
بلکه دالله تعالی نه عافیت غواړئ او که مقابله جوړه شی نو بیا صبر کوئ او ثابت قد
اوسیږئ او دا گڼئ چه جنت دتورو په سورو کې دی» (مسلم).

۶_ آدب: «وَلَاتَكُونُوا كَالَّذِينَ خَرَجُوا. الخ.» پدې آیت کریمه کې دا هدایت دی چه
تاسو داهل مکه په شان «څنگه چه هغوئ دبدر په موقع راوتلی وو، دتکبر په حال
کې مه اوځئ او مه په خپل سازاوسامان باندې مغرور کیږئ بلکه داخلاص څخه کا
اخلئ ځکه چه دغه دواړه شیان دناکامئ باعث دی.

۷_ آدب: بل ځای دا هدایت هم موجود دې چه له خپل قلّت نه مه ویریږئ په هر
حالت کې په الله تعالی باندې بهروسه ساتئ که ددې آدابو لحاظ وساتلی شی نو هرو
مرو به مسلمان کامیابیږی.

**په احادیثو کې هم دجهاد ډیر فضیلت راغلې دې:**

۱_ «عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدِ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
قَالَ رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا» (رواه البخاری، مشکوة عن سهل
بن سعد رضی الله تعالی عنه). **ترجمه**: «له حضرت سهل بن سعد الساعدی رضی الله
تعالی عنه نه روایت چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی، یوه ورځ سرحد
دمؤمنانو ساتل له دنیا او ددنیا دټولو شیانو نه بهتر دی»

۲_ «عَنْ أَبُو عَبْسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا اغْبَرَّتْ قَدَمَا عَبْدٍ فِي
سَبِيلِ اللّٰهِ فَتَمَسَّهُ النَّارُ» (رواه البخاری عن ابی عبس رضی الله تعالی عنه). **ترجمه**: «له
حضرت ابو عبس رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم
فرمایلی دی ندی گردمند شوی قدمونه دیو بنیادم په لاره دالله تعالی کې پس (چه
مسح به کړی هغه لره اور (یعنې دمؤمن غازی گردمن شوی قدمونه به په اور دجهنم نه
سوزی)»

۳_ «قَالَ أَبُو عَلِيٍّ التُّجِيبِيُّ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا رَيْحَانَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ يَقُولُ حُرِّمَتْ عَيْنٌ عَلَى النَّارِ سَهِرَتْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ» (رواه النسائی)، **ترجمه**

((ابو علی تجیبی رضی الله تعالی عنه فرمایلی دی چه ده دابو ریحانه رضی الله تعالی عنه نه اوریدلی دی ، ده ویلی دی چه ما درسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی، چه فرمایل یی حرام شویدی په اور (هغه) سترګې چه شوګیره یی تیره کړی ده په لاره دالله تعالی کې))

۴ـ ((عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ ظَنَّ أَنَّ لَهُ فَضْلاً عَلَى مَنْ دُونَهُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا يَنْصُرُ اللَّهُ هَذِهِ الأُمَّةَ بِضَعِيفِهَا بِدَعْوَتِهِمْ وَصَلاَتِهِمْ وَإِخْلاَصِهِمْ)) (رواه النسائی) **ترجمه**: حضرت مصعب بن سعد رضی الله تعالی عنه دخپل پلار نه روایت کړیدې چه ده ګمان کولو چه ده لره فضیلت دې په نوروباندې له ملګرو دنبی علیه الصلاة والسلام نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: چه بیشکه الله تعالی دې امت له رزق ورکوی اودوئ له امداد ورکوی په برکت دضعیفانو ددعاګانو او مونځونو اواخلاص ددوئ سره.

۵ـ ((عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى يَسْتَقِلَّ كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ حَتَّى يَمُوتَ أَوْ يَرْجِعَ)) (رواه ابن ماجه) **ترجمه**: دحضرت عمربن خطاب رضی الله تعالی عنه نه روایت دې فرمایی چه ما درسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه هغوئ به فرمایل: چاچه تیار کړو غازی په لاره دالله تعالی کې تردې چه واپس راشی کیږی ده لره په شان داجر دهغه ترهغه وخته پورې چه یا هغه وفات شی او یا واپس راشی)).

۶ـ ((عَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ دِينَارٍ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ عَلَى أَصْحَابِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ)) (رواه ابن ماجه) **ترجمه**: ((بهتر دینار هغه دې چه خرچ یی کړې یو سړې په ملګرو خپلو باندې په لاره دالله تعالی کې))، یعنې دمسلمانانو ورونړو امداد فرض دې دا تعاون داسلحې په صورت کې وی یا دنقدمال وی، بدنی وی یا اخلاقی اومالی وی، اوددوئ امداد هم دجهاد کولو په حکم کې دی

**نکته**: دمسلمانانو ترمنځ په دنیاوی معامله باندې جنګ کول حرام دی لکه چه الله تعالی فرمایی: ((وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا)) (سوره نساء) **ترجمه**:

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

«څوك چه مسلمان قصداً قتل کړی په جزاء دده دوزخ دي همیشه به وی په دوزخ کې» يعنې په دنيا کې به قصاص کیږی اوپه آخرت کې به مستحق دعذاب خداوندی شی په يوحديث شريف کې دارنګه راغلی دی «عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ حَمَلَ اَحَدُهُمَا عَلَى اَخِيْهِ السِّلَاحَ فَهُمَا فِي حَرِّ جَهَنَّمَ فَإِذَا قَتَلَ اَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ دَخَلَاهُمَا جَمِيْعًا، وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهُ قَالَ اِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ هٰذَا الْقَاتِلُ فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ قَالَ إِنَّهُ كَانَ حَرِيْصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ» (متفق عليه) **ترجمه** : له حضرت ابوبكر صديق رضى الله تعالى عنه نه روايت دي چه نبی كريم صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی هر كله چه دوه مسلمانان مخامخ شي اوحمله كوی يو په بل باندې سلاح را اوچته كړی دواړه به په ګرمئ ددوزخ كی وی كه يولدوئ څخه قتل كړی دواړه به اورته ځی ، په يوبل روايت كې دی چه دوه مسلمانان په يوبل باندې توری راوچتی كړی دواړه به ددوزخ په اوركې وی، ما وويل چه داقاتل خو به په اور كی وی نودامقتول ولی اورته ځی ، ده صلى الله عليه وسلم اوفرمايل ځكه چه مقتول حريص وو په قتل دورور مسلمان باندې» او په فتح القدير كې يې ليكلی دی «محمول على قتالهما حمية وعصبية لاجل الدنيا والمملكة» يعني قاتل او مقتول به په هغه صورت كې په اوركې وی چه ددوئ جنګ لپاره دطلب ددنيا وی اول خو پكار دی چه صلحه وكړی كه ممكنه نه وه نو بيا ځان څخه دفاع كول پكاردی لكه په حديث شريف كې دی چه « من قتل دون دينه فهوشهدي ومن قتل دون اهله فهو شهيد ، وكلمة دون بمعنى الحفظ. قال ابن مالك وعامة العلماء على ان الرجل اذا قصد ماله اودمه او اهله فله دفع القاصد بالامن فان لم يمتنع الاّ بالمقابلة فقتله فلاشئ عليه» (ترمذی، مرقات، جلد: ۷ ، صفحه: ۹۹). خلاصه دا چه كه مظلوم وو په مدافعه كې قتل شو نو شهيد دې او حتّى په يو حديث شريف كې راغلی دی چه څوك قومنده وركړی چه مسلمان قتل كړه نودصاحب الامر په تندی باندې به ليكلی وی «آئس من رحمة الله» يعني دالله تعالى درحمت څخه نا اميده ، الله پاك دې مونږ صحيح مجاهدين جوړ كړی ، آمين ثم آمين.

اوهمدا رنګه دالله تعالی پر بندګانو دشیطان قانون تطبیق کول فتنه ده چه په هر وخت کې دغسې حالت پیداشي دا فتنه ده ددغې فتنې ددفع کولو او له مینځه وړلو لپاره مسلمان په جهاد کولو مکلف شویدي ((وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ)) یعنې له دښمنانو سره تر هغه وخته وجنګیږئ چه فتنه پاتې نشي اودین ټول دیو الله تعالی لپاره شي دغه فتنې، طاغوتي نظام برقرارول دابدي هلاکت باعث دی هغه چه انسانیت اوحریّت وژني دغه فتنه له قتل نه ډیره بد تره ده ((وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ)) نو اسلامي جهاد پردې بنسټ ولاړدې چه باغیانه او طاغوتي رژیمونه نسکور کړي او پرځای یې دعدل داسې نظام قائم کړي چه په هر ځای کی دحق خواته دبلنې او دبلونکي دآزادی تضمین کوی پدې لاره کې جهاد به تر هغه پورې پر مسلمانانو باندې فرض وی ترڅو چې دغه لوړ انساني هدف ته رسیدلی نه وی. ((الْجِهَادُ مَاضٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ))

# انساني زیور((اسلامي اخلاق))

محترمو مسلمانانو: په انسان کې اخلاقی حس یو فطری حس دې چه ځینې صفتونه یې خوښیږي اوځینې نوریې بدیسي، دغه حس که په انفرادی ډول په اشخاصو کې لږډیر وی خو په مجموعی ډول دانسانیت شعور په ځینې اخلاقي صفتونو باندې تل دښه توب او په ځینو باندې تل دبدی حکم کړیدې، ریښتنوالې، انصاف په وعده باندې وفا کول او امانت داری صبر او زغم، پخه اراده، او شجاعت او دنفسی هیلو کنترول، پت ساتنه، وفاداری، فرض پیژندنه اودمسؤلیت احساس اواعتدال او انضباط وغیره دتل لپاره په انسانسی اخلاقیاتو کې دستاینې وړګڼل شویدی داسې ندی شوی چه دروغ، ظلم، بدلوظي اوخیانت خود عرضی بخل اوتنګ نظری بی صبری وارخطائی اودخواهشاتو پیروی حقیر حرکتونه بیوفایی اوخپلو فرائضو اومسؤلیتونو هیرول وغیره یې غوره کړی وی بلکه انساني نیمګړتیاوی ګڼل شویدی، داخلاقو حمیدوو لپاره درسول الله صلی الله علیه وسلم په زندګی نظر اچول

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

اوبیا عملي جامه ور اغوستول کامیابه لاره ده، اومسلمان باید په معامله کې هم
دهغه ژوند دخان لپاره دتقلید ورنمونوی ژوند وګڼي خپل سیر اوکړه وړه له هغه
سم کړي او دمسلمان خویونو ته الله پاك په قرآن مجید کې داسې اشاره کوي
﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا﴾ (سورة فتح) **ترجمه** : «محمد صلی الله علیه وسلم دالله پاك رسول دی اوهغه جماعت (ټولګې) چه ده سره دې سختې کوونکې دې په کفارو. رحم او شفقت، کوونکې دې په خپلو کې ته به وینې دوئ رکوع کوونکی اوسجده کوونکی طلبوی به فضل دالله تعالی اورضاء دده» یعنې الله تعالی درسول الله صلی الله علیه وسلم دربینتنې مؤمنانو اُمتیانو علامې ارشاد کړیدی یعنې دوئ په خپلو کې داسلام او ایمان په رشته، مینه، محبت کوونکی دی او په کفارو خپل قوت، شجاعت، شدّت اوهمت ښکاره کوونکی وی او په دوئ کې به دالله تعالی دطاعت. عبادت نښانې په رکوع، سجده اونورونیکیو سره ښکاری او سره دحقوق العباد او حقوق الله شرعی پابندی به پخپل تقصیر اوکمزوری قائل وی اوالله تعالی نه دفضل او مهربانی کولو طلبګار وی اوبل ځای ارشاددې : ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾ (سورة آل عمران) **ترجمه** : پس په سبب درحمت دالله تعالی له جانبه ته دوئ ته نرم یې او که ته بدخویه (ترش رویه) سخت زړې وای نو اصحاب (امتیان) به چاپیره ستانه تار په تار (خواره واره) شوی وو پس له دوئ نه عفوه وکړه او ددوئ لپاره الله پاك نه ښننه وغواړه او دوئ سره مشوره کوه په کار کې ﴿فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ﴾، **ترجمه** : پس په کوم وخت کې چه قصد کارته وکړې پس توکل په الله تعالی کوه بیشکه الله پاك توکل کوونکی خوښه وي یعنې دغه آیتونه دمخکې آیتونو تائید اوتاکید کوي یعنې الله تعالی خپل حبیب صلی الله علیه وسلم ته فرمایي چه ته زما په فضل اواحسان خپلو اصحابو امتیانو ته رحم دل اونرم خویه یې ستا په ګفتار او کردار کې اوپه تعلق او سلوك کې خپلو امتیانو مؤمنانو سره دمحبت شفقت جذبه

ښکاره معلومیږی که ته سخت ژړی سخت گویه او بدسلوکه وای نو له تانه گیر چاپیره ټول خپل پردی به تار په تار او خواره واره شوی وو، ته الله تعالی دښائسته اخلاقو مجمع اومنبع اوصاحب دخلق عظیم گرځولې یی اوبل ځای ارشاد فرمایی ((وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيمٍ)) **ترجمه** : ((چه بیشکه تاسو په خوئ لوئ باندې یئ))، په یوروایت کې راځی چه دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم (خلق عظیم) قرآن مجید وو. اودنبی علیه الصلوة والسلام دبعثت مقصد دادې چه دخلکو اخلاق او معاملات درست کړی دهغوئ نه خراب اخلاق لرې کړی اودهغې په ځای کې بهتر اخلاق پیدا کړی هم دا تزکیه دحضور دراليږلو مقصددې، نبی کریم صلی الله علیه وسلم خپل قول اوعمل سره دټولو اخلاقو فهرست مرتب کړو اوپه پوره ژوند اودژوند په ټولو شعبویی نافذ کړلو او هر قسم حالاتو کې په هغې دعمل کولو هدایت یی وکړلو لکه چه په لاندینی حدیث شریف کې دیته اشاره موجوده ده. ((اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بُعِثْتُ لِاُتَمِّمَ حُسْنَ الْاَخْلَاقِ)) (موطا امام مالك رحمه الله) **ترجمه** : ((رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: زه دالله تعالی دطرفنه راليږل شوې يم چه اخلاقی خوبیانې کمال ته ورسوم))، اوعبدالله بن مبارك رحمه الله دحسن اخلاق تفسير داسې کړيدې: ((هُوَطَلَاقَةُ الْوَجْهِ وَبَذْلُ الْمَعْرُوْفِ وَكَفُّ الْاَذٰى)) یعنې حسن اخلاق اوښه اخلاق دخوش روئی (روڼ تندی) دمال خرچ کول اوچاته دتکلیف نه ورکولو نوم دې، گوره دښو اخلاقو دایره څومره وسیعه ده یا په بل عبارت دالله تعالی دمخلوق په وړاندې دانسان پرغاړه دټاکلیو تعلقاتو دحق آداکولو مجموعی ته اخلاق ویلی کیږی که انسانی ټولنې خپلې اخلاقی فریضی مکلفیتونه او وظیفې په بشپړه توگه تر سره کړی هیڅرې به هم بشری قوانینو ته اړتیا موجوده نشی ځکه چه اسلامی شریعت اخلاقی تعلیمات په دریو برخو ویشلی: ۱ـ حقوق، ۲ـ فضائل او رذائل، ۳ـ آداب، او حضرت ابوثعلبه رضی الله تعالی عنه فرمایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه دقیامت په ورځ به ماته دټولو نه عزیز او محبوب او نژدې خلق هغه وی کوم چه تاسونه زیات خوش اخلاقه وی، او دټولو نه زیات لرې (اوبدترین) خلق به هغه وی چه بد

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

اخلاقه وی (مشکوة)

اوهمدارنگه ښه اخلاق دالله تعالی دمحبت ذریعه دی پدې هکله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: ((اَحَبُّ عِبَادِ اللهِ اِلَی اللهِ اَحْسَنُهُمْ اَخْلاَقًا)) طبرانی یعنې الله پاك ته په خپلو بندګانو کې ډیر ګران هغه څوك دی چه دهغو اخلاق له ټولو څخه ښه وی، او په یوبل ځای کې درسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دې ((اَکْمَلُ الْمُؤْمِنِيْنَ اِيْمَانًا اَحْسَنُهُمْ خُلُقًا)) (ابوداؤد) یعنې په مسلمانانو کې دکامل ایمان خاوند هغه شخص دې چه دهغه اخلاق ترټولو څخه ښه وی. یعنې په اسلام کې له ایمان څخه پورته بل کوم زیات اوښه شې نشته خو دایمان بشپړتیا یواځې اویواځې دښو اخلاقو په واسطه وده کوی او همدا ښه اخلاق دیو مسلمان دایمان ښکاروندوی بللی کیږی نو په هره معامله او عبادت او په اخلاقو عاداتو کې اقتداء په رسول اکرم صلی الله عیله وسلم پسې په هرمسلمان باندې لازم دی.

**اوس دلته پدې هکله یوڅو احادیث ذکرکوو:**

۱ـ ((فَکَانَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحْسَنَ النَّاسِ وَاَجْوَدَ النَّاسِ وَاَشْجَعَ النَّاسِ)) (متفق علیه). **ترجمه**: ((نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دټولو مخلوقاتونه ډیر ښکلې وو (هم په صورت کې او هم په اخلاقو کې) اود ټولو (مخلوقاتو) نه زیات سخاوت کوونکې وو او دټولو (مخلوقاتو) نه زیات بهادر وو)).

۲ـ ((عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالی عَنْهَا قَالَتْ: مَا ضَرَبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا قَطُّ بِيَدِهِ وَلاَ امْرَأَةً وَلاَ خَادِمًا اِلاَّ أَنْ يُجَاهِدَ فِي سَبِيلِ اللّٰـهِ)) (رواه مسلم). **ترجمه** ((دحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دې، فرمایی چه هیڅکله رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅ شې په لاس مبارك سره نه وو وهلې اونه یې کومه بی بی وهلې وه اونه یې کوم خادم وهلې وو مګر داچه دوئ صلی الله علیه وسلم دالله پاك په لاره کې جهاد کوونکی وو (نو په هغه وخت کې خو وهل یی وکړل بلکه قتل کول یې ورې هم نوبت (وار) راغلې دې)).

۳ـ ((لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلاَمُ فَاحِشًا وَلاَ مُتَفَحِّشًا وَلاَ صَخَّابًا فِي الاَسْوَاقِ وَلاَ

يَجْزِي بِالسَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ وَلٰكِنْ يَعْفُو وَيَصْفَحُ» (رواه الترمذي) **ترجمه**: «او نه رسول الله صلى الله عليه وسلم دبی حيايئ خبره کوله او نه يې په تکلف سره داسې خبره کولی شوه (يعني د دوئ د ژبې مبارکې نه دبې حيايي خبره په تکلف او قصد سره هم نه شوه وتلې) او نه بازارونو کې شور کوونکې وو او نه به يې د بدی بدله په بدو سره وکوله. معافي به يې کوله او درگزر کيدلو به»

۴_ «وَكَانَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ يَعُوْدُ الْمَرِيْضَ وَيَتْبَعُ الْجَنَازَةَ وَيُجِيْبُ دَعْوَةَ الْمَمْلُوْكِ» (ابن ماجه وبيهقی) **ترجمه**: «او وو نبی اکرم صلى الله عليه وسلم چه بيمارپرسی به يې هم کوله او د جنازې سره به يې هم تشريف وړلو او د غلام به يې هم دعوت قبلولو»

۵_ «كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْصِفُ نَعْلَهُ وَيَخِيطُ ثَوْبَهُ وَيَعْمَلُ فِي بَيْتِهِ كَمَا يَعْمَلُ أَحَدُكُمْ فِي بَيْتِهِ وَيَفْلِيْ ثَوْبَهُ وَيَحْلُبُ شَاتَهُ وَيَخْدِمُ نَفْسَهُ» (ترمذی) **ترجمه**: «او وو نبی اکرم صلى الله عليه وسلم چه خپل پايزار به يې پخپله گنډلو او خپلې جامې به يې هم گنډلې، او خپل کورکې به يې کاروبار کولو لکه چه تاسو نه هرڅوك خپل کور کې کارکوی او خپلو جاموکې به يې سپگې کتلې (چه شايد د چا سپگه راختلې وی او که نه نو دوئ صلى الله عليه وسلم خود سپگو نه پاك وو) او چيلئ به يې لوشله او خپل کار به يې پخپله کولو»

۶_ «وَكَانَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ طَوِيلَ الصَّمْتِ» (شرح سنة) **ترجمه** او وو نبی اکرم صلى الله عليه وسلم زيات چپ او سيدونکې

۷_ «وَقَالَ أَنَسٌ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ خَدَمْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ سِنِيْنَ فَمَا قَالَ لِي أُفٍّ وَلَا لِمَ صَنَعْتَ وَلَا أَلَّا صَنَعْتَ» (متفق عليه) **ترجمه**: «او حضرت انس رضی الله تعالى عنه فرمايلی دی چه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم لس کاله خدمت وکړو نو ماته يې هيڅ کله اُف و نه فرمايل او نه يې په څه (کارباندې) داسې او فرمايل چه تاسو ولې وکړو او نه يې د څه (کار متعلق) دا او فرمايل چه ولې دې ونکړو.»

۸_ «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قِيلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ادْعُ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ

قَالَ إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ لَعَّانًا وَإِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً،، «رواه مسلم» **ترجمه**: «حضرت ابوهر... الله تعالی عنه فرمایی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړی ... دالله تعالی رسوله دمشرکینو لپاره بد دعائی وکړه. هغوئ صلی الله علیه ... اوفرمایل چه زه لعنت کوونکي نه یم لیږلې شوې، بلکه رحمت لیږلې شوی یم.

۹_ «عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ حَيَاءً ... عَذْرَاءَ فِي خِدْرِهَا وَكَانَ إِذَا كَرِهَ شَيْئًا رُئِيَ ذٰلِكَ فِي وَجْهِهِ» «متفق علیه» **ترجمه**: «دحضرت ابوسعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دې فرمایی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دهغه پیغلې نه هم زیات شرم کوونکي وو چه پخپله پرده کې وی نو هرکله ... څه نا خوښه خبره به یې لیدله نو مونږ به هغه ناخوښوالی ددوئ په چهرې مبارکې باندې پیژندلو. مګر دوئ دشرم له وجهې نه په ژبه مبارکه سره نه ښکاره کولو».

۱۰_ «عَنْ أَبِي جَابِرِ بْنِ سُلَيْمٍ قَالَ قُلْتُ اعْهَدْ إِلَيَّ قَالَ لَا تَسُبَّنَّ أَحَدًا قَالَ فَمَا سَبَبْتُ بَعْدَهُ حُرًّا وَلَا عَبْدًا وَلَا بَعِيرًا وَلَا شَاةً قَالَ وَلَا تَحْقِرَنَّ شَيْئًا مِنَ الْمَعْرُوفِ وَأَنْ تُكَلِّمَ أَخَاكَ وَأَنْتَ مُنْبَسِطٌ إِلَيْهِ وَجْهُكَ إِنَّ ذٰلِكَ مِنَ الْمَعْرُوفِ وَارْفَعْ إِزَارَكَ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ فَإِنْ أَبَيْتَ فَإِلَى الْكَعْبَيْنِ وَإِيَّاكَ وَإِسْبَالَ الْإِزَارِ فَإِنَّهَا مِنَ الْمَخِيلَةِ وَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمَخِيلَةَ وَإِنِ امْرُؤٌ شَتَمَكَ وَعَيَّرَكَ بِمَا يَعْلَمُ فِيكَ فَلَا تُعَيِّرْهُ بِمَا تَعْلَمُ فِيهِ فَإِنَّمَا وَبَالُ ذٰلِكَ عَلَيْهِ» «رواه ابوداؤد» **ترجمه**: دحضرت جابربن سلیم رضی الله تعالی عنه نه روایت دې فرمایی چه ما دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم په حضور کې عرض وکړو چه یا رسول الله ماته وصیت ... اوفرمایه هغوئ صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه هیچاته کنځل «زیړې» مکوه. جابر رضی الله تعالی عنه فرمایی چه دینه وروسته ما نه اصیل ته کنځل کړیدی اونه مریی ته اونه اوښ ته اونه ګډ ته. او رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل هیڅ شی له نیکی نه سپک مه ګڼه اګر که وررور «مسلمان» سره خبرې په فراخ تندی وکړې، بیشکه داهم له نیکی څخه دی، او ترنیمې پنډئ پورې لنګ اوچت کړه اوکه دا نه کوې نو بیا ترخنګرو «ګیټو» پورې یې اوچت کړه او ځان وساته داوږدولو دلنګ نه «زیات له حده شرعی نه» پس دغه دتکبر څخه دې، او بیشکه الله تعالی تکبر نه خوښوی اوکه ...

پوسړي تاته کنځل وکړي او عار (پيغور) درکړي تاته په هغه نقصان چه دي پرې عالم وي چه په تاکې شته پس عار مه ورکوه ده ته په هغه نقصان چه ته پرې عالم يې چه په ده کې شته پس نه دی مګر ګناه ددې په ده باندې ده

۱۱ـ **اجتماعي اخلاق توضيح** ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَنَاجَشُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللّٰهِ إِخْوَانًا)) (متفق عليه) **ترجمه** ((دحضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی خپل ځان دبدګمانو نه بچ کړئ ځکه چه بدګماني سره کومه خبره وکړی شی هغه دټولونه زياته دروغژنه خبره وی او دنورو په باره کې معلومات حاصلولو پسې مه ګرځئ، اومه ديو بل (په عيب پسی) لټون کوئ او مه په خپلو کې (تناجُش) کوئ اومه په خپلو کې بغض کوئ اومه ديوبل پښې وهئ دالله تعالى بندګان شئ اوپه خپلو کې دورو ولئ ژوند تيروئ))

**ددې حديث شريف يو څو الفاظ په لاندې ډول تشريح کوو**

۱ـ ((تحسُس)) معنى غوږ ايښودل اونظر لګول دی، دنبى اکرم صلى الله عليه وسلم دارشاد مطلب دادې چه دچادخبرو اوريدو لپاره پټ اودريدل بيا دهغه خبره دهغه خلاف استعمالول اوهغه دخلکو په نظر کې غورځول، دا دايمان او اسلام نه خلاف کاردې.

۲ـ ((تجسُس)) معنى دچا عيب پسې لګيدل چه کله به ترې څه غلطى وشى او کمزوری به ترې ظاهره شی چه سمدستى يې په خلکو کې خوره کړی.

۳ـ تناجُش : دا لفظ دخريد او فروخت سره تعلق لری دهغې لپاره مناسبه معنى دلالی کيدې شی، د دلال اوتاجر ترمنځه دا خبره فيصله شوې وی چه دلال به زياتی بولی ورکوی او دهغه اراده به دهغې مال داخستو نه وی بلکه دنورو خريدارو دتيزولو دپاره به هغه داسې کوی چه نور خلك جال کې بند کړی.

۴ـ تدابر : معنې خپلو کې دشمنی کول هم دی او دتعلق قطع کول هم.

۱۱ـ **دمؤمنانه اخلاق پیژندل** «انَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلاثٌ مِنْ أَخْلاَقِ اْلاِيْمَانِ مَنْ اِذَا غَضِبَ لَمْ يُدْخِلْهُ غَضَبُهُ فِيْ بَاطِلٍ وَمَنْ اِذَا رَضِيَ لَمْ يُخْرِجْهُ رِضَاهُ مِنْ حَقٍّ وَمَنْ اِذَا قَدَرَ لَمْ يَتَعَاطَ مَالَيْسَ لَهُ» (مشکوة عن انس رضی الله تعالی عنه، **ترجمه** نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل دري شیان دمؤمنانه اخلاقو ځیني دي یو دا چه سړی له غصه راشی نو غصه یی په ناجائزکارکي داخل نکړی ، دویم دا چه هغه خوشحاله وی نو دهغه خوشحالی هغه دحق ددائرې نه بهر نکړی او دریمه دا چه د قدرت باوجود دبل چا شی قبضه نکړی چه دهغي داخستو ورته حق نوی

۱۴ـ «عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ اَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم قَالَ لاَ تُصَاحِبْ إِلاَّ مُؤْمِنًا وَلاَ يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلاَّ تَقِـيٌّ». (رواه ابوداؤد) **ترجمه** «دحضرت ابو سعید رضی الله تعالی عنه نه روایت دي فرمايي چه : بیشکه ده دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه دوئ صلی الله علیه وسلم فرمایل : ملګرتیا چا سره مکوه مګر مؤمن سره اوستا طعام دي نه خوری مګر پرهیزګار».

**نکته** : د حسنه اخلاقو دپیدا کولو لپاره ډیرې طریقي دی لیکن سلطان الطرق تصوّف دي چه پیر کامل یادپیر کامل دخلیفه څخه لاس نیوې وکړی او ددي تفصیل مي په «الرسالة الحقانية» کي ذکر کړیدي. بیا هغه مطالعه کړئ . او همدا رنګه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم هرکله چه چا سره به یی مصافحه کوله نو دوئ به خپل لاس مبارك دهغه سړی دلاس څخه نه جداکولو ترهغی پورې چه هغه پخپله خپل لاس نه وي جدا کړې اونه به دوئ دشخه دطرف نه مخ ګرځولو ترهغي چه هغه پخپله (خبرې وغیره دپوره کولونه پس به) خپل مخ اوګرځولو ، او دوئ هیڅکله له خپل همنشین نه مخکي خپلو زنګنونو لره وړاندي کوونکي ونه لیدلی شو (بلکه په صف کي به دنورو سره برابر کیناستل). (ترمذی)

اونبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلي دي چه هرڅوك تاسو پخپل مخکي صفت کوونکی ووینئ نو دهغه په مخکي خاوره واچوئ (مسلم). یعنې هغه په سختی سره منع کړئ خامخا که دڅه وجهي نه دسختی همّت نوی یا مناسب نوی نو په نرمئ سره دمنع کولو نقصان نشته او ارشاد دي چه ددنیا محبت دهرې ګناه جرړه ده

(بیهقی). یعنې دمال محبت هغه ناکاره دی چه په هغه کې پخپله مال محبوب بذاته وی
یا هر کله چه هغه مال دداسې کار دپاره وی چه په هغې سره الله تعالی راضی نه وی
او که صحیح غرض دپاره وی نو ناکاره ندې او همدارنګه ریښتیا دټولو اخلاقی
ښیګڼو اصلی بنیاد دی.

وایی چه یو شخص نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته راغې اوعرض یی وکړو چه یا
رسول الله په ماکې څلور بدخویونه دی: ۱ـ بدکاری. ۲ـ شراب څښم، ۳ـ غلاکوم، ۴ـ
دروغ وایم. نو اوس ته چه ماته دهرې یوې حکم کوې چه هغه پریږده نو زه به هغه
ستاسې په خاطر پریږدم، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم هغه ته اوفرمایل: چه دروغ
پریږده اوهغه ورسره ددروغو پرېښودو ژمنه (وعده) وکړه، کله چه شپه شوه شرابو ته
بی زړه وشو اوبدکاری ته چمتوشو، پدې وخت کې دا فکر ورسره پیدا شو چه که نبی
اکرم صلی الله علیه وسلم سباته څما څخه پوښتنه وکړی چه آیا تا دشپې شراب وڅښل
اوبدکاری دې وکړه او کنه؟ نوزه به هغه ته ځواب ورکوم، که اقرار کوم نو پدې
صورت به دشرابو او زنا سزا راکړې شی اوکه انکار وکړم نو پدې صورت کې به مې له
خپلې ژمنې (عهد) څخه مخالفت کړې وی. پدې خیال اوفکریی دغه دواړه کارونه
ونکړل کله چه شپه ډیره تیره شوه دغلا په نیت یې له کور څخه دوتلو خیال وکړو پدغه
وخت کې ورسره بیا دا سودا ملګرې شوه چه که نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سباته له
ما څخه پوښتنه وکړی نو څه به ورته وایم که اقرار کوم لاس مې غوڅیږی اوکه انکار
کوم نو عهداو وعده مې ماتیږی، ددې فکر او خیال په اثر له دغه بد عمل څخه هم
لاس په سرشو، کله چه سهار شو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته راغې اوعرض یی
ورته وکړوچه یا رسول الله ددروغو دنه ویلو په سبب زه له ټولو بدو عملونو څخه
خلاص شوم، ددې خبرې په اوریدلو سره رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ډیر
خوشحاله شو یعنې دریښتیا ویلو عادت انسان له ډیرو بدیو څخه ژغوری، څوك چه
ریښتیا وایی هغه به هرومرو دا کوشش کوی چه له هرې بدی څخه ځان پاك وساتی
هغه به تل ریښتنې وی. تل به ریښتیا وایی، ایمانداره به وی اوتل به خپله وعده پالې
وی. (الله پاك جل جلاله دې مونږ ته ښه اخلاق رانصیب کړی، آمین، ثم آمین)

# دبرى راز دې ((اتفاق))

محترمو مسلمانانو : دقرآن مجيد دآيتونو او درسول الله صلى الله عليه وسلم داحاديثو لـه مخـې دنـړۍ ټـول مسـلمانان يوملـت ، يو اُمـت بلکـه يوبدن دي شويدى، دالله پاك جل جلاله په کتاب کې سربېره پدې چه پـه بې شميره ځايونو کې داسلامى عقيدې پيروانو ته په ((يا ايها الذين آمنو)) سره خطاب شويدې يعنې اى هغه کسـانو چـه ايمـان مـو راوړې دې، او داسـې نـدى ويـل شـوى چه اى دفلانى هيواد اوسيدونکو . اى دفلانۍ ژبې ويونکو . اى فلانۍ قبيلې اوقوم تـه منسوب خلکو بلکـه داددغـه عـام متحد خطاب ترڅنګ ځاى پـه ځاى ديو والى او اتحاد حکم په خصوصى ډول ورته شويدې او له ځان ځانى او تفرقى نـه پـه کلکـه منع کړى شوىدى اتحاد دحکم په اساس فرض اوتفرقه او اختلاف دالله تعالى د نهى اومنعې په اساس حرام اودالله تعالى له امرنه سرغړونه ده.

((وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ)) (سورة آل عمران) **ترجمه** : ))دالله تعالى په دين بانـدې پـه دسـته جمعـى ډول منګولى ښخې کړۍ اوبيلتـون او ځـان ځـانى مـه اختيـاروۍ)) اوبـل ځـاى ارشـاد دې : ((إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُـمْ فَاعْبُدُونِ)) (سورة سبا) **ترجمه** : په تحقيق سره دغه ملت ستاسو ملت يودې زه ستاسو پروردګار يم پس زما عبادت وکړۍ . بـل ځـاى ارشـاد دې : ((وَاذْكُرُواْ نِعْمَةَ اللّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاء فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا)) (سورة آل عمران) **ترجمه** : ((يادکړۍ نعمت دالله تعالى پر تاسو بانـدې پـه هغـه وخت کې چه وۍ تاسو دښمنان يو دبل سره پس الفت اومحبت يې واچولو پـه مـابين دزړونو ستاسو کې پس شولۍ پـه نعمت دالله تعالى ورونه يوتربله)) ، يعنې په مدينه منوره کې دعربو دوه قبيلې وى ديوې قبيلې نوم اوس وو او دبلې قبيلې نوم خزرج وو ، اور دعـداوت پـه مينـځ ددوۍ کې بل وو ددوۍ ددشـمنى شپږ شلې (۱۲۰) کالـه جـارى راغلـى وو پـه اسـلام قبلولـو سره يې اسلامى اخوت قائم شو دشمنى يې پـه دوستى سره بدلـه شوه يعنې درنـګ. نـل

نژاد، وطن، ژبې، اقتصاد، او سیاست نامعقول تو پیبرونه چه دهغو په اساس انسان خپل جهالت او ناپوهی له امله یې انسانیت تقسیم کړې وو. اسلام هغه ټول له منځه یوړل او دانسانیت په ماده کې یې ټول انسانان یو له بل سره په یوه مرتبه کې وګرځول او په اسلامي چوکاټ کې یې را جمعه کړل. پدې ډول اسلام چه دکوم ملیّت دایره رسم کړیده هغه کومه حسي او مادي دائره نده بلکه له سره ترپایه یوه عقلي دائره ده دیوه کور دوه تنه پدې دائره کې بیلیدی شي او دختیز او لویدیز دوه تنه پدې دائره کې داخلیدې شي، ددې دائرې چاپیریال یوه کلمه ده «لآاِلهَ الاّ الله مُحمَّدٌ رَسُولُ الله» پدې کلمه دوستي هم ده او په همدې کلمه دشمني هم ده دهمدې کلمې اقرار یو ځای کول کوی هیڅ شې هغوئ نشي جدا کولې او دهمدې کلمې انکار جدا کول کوی. دې کلمې په ځوک جدا کړیدی هغوئ نه دوینې پیوند یوځای کولی شي نه دخاوری نه دژبې نه درنګ نه داقتصاد نه دحکومت. او همدارنګه اسلام مسلمانانو ته دصلة رحمي امر کړیدې، درحم قطع کولو یې ناروا کړیدی، دمور او پلار د اطاعت اوفرمانبرداری تاکید یې کړیدې دوینو په خپلولیو کې یې دمیراث نظام جاری کړیدې. په صدقاتو اومالي لګښتونو کې یې خپلوانو ته له بیګانه وو ځخه درومبی والی حق ورکړیدې. او دشمنانو ځخه یې دخپل اهل اوعیال خپلې کورنئ او خپلې شتمنئ دژغورلو او ساتلو امر کړیدې. دظلم په مقابل کې یې دجنګیدلو امر کړیدې وژل کیدونکی یې شهید معرفي کړیدې.

خلاصه داچه: مسلمانان یو متحد ملت لری چه هغه اسلام دې او په همدې چوکاټ یې دټولو مشکلاتو حل موجود دې او دباطل لپاره یو متحد صف دې او په یوه درجه سره یې یاد کړیدی، ښوتوپیر یا فضیلت په اعتبار دتقوی سره دې «اِنَّ اَکْرَمَکُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقَاکُمْ» (سورة الحجرات) **ترجمه**: «یعنې بهترین په نزد دالله پاك پرهیزګاران دي ستاسو نه» نو اخوت اسلامي بِدون دایمان ځخه نه راځي لکه ارشاد دې: «اِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ اِخْوَةٌ». لکه صداقت بِدون له تقوی نه اوتقوی بدون له صداقت ځخه نه متصور کیږی. لکه چه ارشاد دې: «اَلْاَخِلاَّءُ یَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِـبَعْضٍ عَـدُوٌّ اِلاَّ

الْمُتَّقِيْن»(سورة زخرف، **ترجمه** «يعنې دوستان په هغه ورځ کې يوبل سره دښمن
مگر متقيان به نوی» يعني تقوی څخه غير صداقت ملگرتيا نه راځي . په يو ...
کې راغلی دی «اَلْمَرْءُ عَلٰى دِيْنِ خَلِيْلِه فَلْيَنْظُرْ اَحَدُكُمْ مَـنْ يُخَالِـل» (جامع صغير
**ترجمه** يعنې انسان په دين ددوست خپل باندې وی پس بايد پکاردی چه وگوري
يوستاسو چه چا سره (يعني څه قسم انسان سره) دوستی کوی.

اوس داخوت اسلامی يوڅوفضايل داحاديثو څخه ذکر کوو :

۱ـ «اِنَّ الْمُسْلِمَ اِذَا لَقِيَ اَخَاهُ الْمُسْلِمَ فَاَخَذَ بِيَدِه تَحَاتَّتْ عَنْهُمَا ذُنُوْبُهُمَا كَمَا تَتَحَاتُّ
الْوَرَقُ عَنِ الشَّجَرَةِ الْيَابِسَةِ فِي يَوْمِ رِيْحٍ عَاصِفٍ وَاِلاَّ غُفِرَ لَهُمَا ذُنُوْبُهُمَا وَلَوْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ
الْبَحْرِ» (طبراني)، **ترجمه**: يعنې هرکله چه يومسلمان دبل مسلمان سره مخامخ شی او
لاس دهغه ونيسی (مصافحه ورسره وکړی) گناهونه ددوئ دواړو داسې ريژيږی لکه
سخت باد کې چه دوچی ونې څخه ـ الخ ـ مگر اوبښلې شی دوئ دواړو لره گناهونه
ددوئ اگر که په شان دزگ دبحر وی.

۲ـ «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَجُلاً زَارَ
أَخًا لَهُ فِي قَرْيَةٍ أُخْرَى فَأَرْصَدَ اللّٰهُ لَهُ عَلَى مَدْرَجَتِه مَلَكًا فَلَمَّا أَتَى عَلَيْهِ قَالَ أَيْنَ تُرِيدُ قَالَ
أُرِيدُ أَخًا لِي فِي هٰذِهِ الْقَرْيَةِ قَالَ هَلْ لَكَ عَلَيْهِ مِنْ نِعْمَةٍ تَرُبُّهَا قَالَ لاَ غَيْرَ أَنِّي أَحْبَبْتُهُ فِي اللّٰهِ
عَزَّ وَجَلَّ قَالَ فَإِنِّي رَسُوْلُ اللّٰهِ إِلَيْكَ بِأَنَّ اللّٰهَ قَدْ أَحَبَّكَ كَمَا أَحْبَبْتَـهُ فِيـه» (رواه مسلم)
**ترجمه**: يوسړي چه زيارت يی کولو دورور خپل په بل کلی کې پس واستولو الله
تعالی ملائکه پس هرکله چه راغله ملائکه نو لده څخه يې پوښتنه وکړه چه کوځای ته
اراده لرې؟ هغه ورته وويل زه اراده لرم چه خپل ورور پدې کلی کې وگورم . ملائکې
ورته وويل چه هغه سره مال اونعمت لرې (باغ ځمکه وغيره) چه ته ځې ، هغه ووينې
پرورش يی وکړې. هغه سړی ورته وويل : نه ځما هغه سره خدايی دوستی ده، ملائکې
ورته وويل چه زه الله پاك راستولې يم تاته چه بيشکه الله تعالی تا خوښه وی لکه
څنگه چه ته دالله پاك لپاره دوستی کوې.

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

٣ـ ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَيْنَ الْمُتَحَابُّونَ بِجَلَالِي الْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِي ظِلِّي يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلِّي)) (رواه مسلم)، **ترجمه** يعني دقيامت په ورځ به الله پاك ووايي چه چرته دي هغه كسان چه زما د رضاء په خاطر يې يوبل سره دوستى كوله هغه به نن ورځ زما دعرش دسيورى لاندې وى هغه ورځ چه سيورى نوى مگر سيورې زما دعرش به وى.

**اوس دلته داخوت اسلام يو څو شرائط ذكر كوو**

١ـ اول دا چه اخوت خالص دالله پاك لپاره وى لكه مخكې روايتونو كې ذكر شول، او همدارنگه په روايت دشيخينو كې ذكر دى چه داوو (٧) طائفو څخه يوه طائفه دا هم ده چه دعرش دسيورى لاندې به ولاړ وى. ((وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللّٰهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ)) (متفق عليه) (يعني دقيامت په ورځ به هغه دوه كسان هم دعرش دسيورى لاندې وى چه خاص دالله تعالى لپاره دوستى كوى)، او همدارنگه په وخت دملاقات كې يوبل سره او په وخت دجدايي كې يو دبل څخه تعهد اخلى چه په شريعت دالله تعالى باندې به عمل كوو

٢ـ دغه محبت به مقرون په ايمان او تقوى سره وى لكه ارشاد دې ((لَا تُصَاحِبْ إِلَّا مُؤْمِنًا وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيٌّ)) (ترمذى) يعنې ملگرتيا مه كوئ سيوا دمؤمن څخه اوستا غذايت (خوراك) سواد متقى څخه دې بل څوك ونه خورى.

٣ـ ديو بل خير خواهي به كوى: ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُؤْمِنُ مِرْآةُ الْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنُ أَخُو الْمُؤْمِنِ يَكُفُّ عَلَيْهِ ضَيْعَتَهُ وَيَحُوطُهُ مِنْ وَرَائِهِ)) (رواه ابوداؤد، مشكوة) **ترجمه**: دحضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه نه روايت دې چه نبى اكرم صلى الله عليه وسلم فرمايلى دى: مسلمان دمسلمان آينه ده او مسلمان دمسلمان ورور دې هغه دې دبربادى نه بچ كوى او دهغه پسى شا يې حفاظت كوى) يعنې مسلمان دبل مسلمان آينه ده مطلب يې دادې چه دهغه تكليف خپل تكليف گڼى ځكه چه په خپل تكليف درديږى دغه شان دبل مسلمان په تكليف

هم درديږي

۴_ څلورم شرط دادې چه دبل سره به معاونت کوی لکه چه په قرآن مجيد کي ارشاد دې ((وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى)) (سورة المائده) يعنې په نيك كار او پرهيز گاری کې يوبل سره تعاون کوئ. اوپه حديث شريف کې ارشا دې چه: ((أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)) (بخاری. مسلم عن ابی هريرة رضی الله تعالى عنه). **ترجمه**: ((رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه مسلمان دمسلمان ورور دې نه په هغه ظلم کوی اونه هغه بی يار اومددگار پريږدی اوڅوك چه دخپل ورور حاجت روايی کوی الله تعالی به دهغه حاجت پوره کړی اوڅوك چه ديو مسلمان پرده پوشی وکړی نو دقيامت په ورځ به الله پاك دهغه پرده پوشی وکړی)). په دې حديث کې دآخری لفظ مطلب دادې چه که يونيك مسلمان څه غلطی وکړی دهغه دسپکاوی لپاره ځای په ځای بيان ندې پکار، بلکه دهغه په عيب پرده اچول پکار دی ددې برخلاف که څوك علی الاعلان دالله پاك داحکامو خلاف ورزی کوی نو دهغه ديرده پوشی په ځای نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دهغه دبی پردې کولو حکم کړيدې ځکه چه نور خلك ترينه ځان وساتي.

**اوس پدې مقام کې وسائل دتحکيم دروحيه ذکر کوو:**

۱_ هرکله چه ديوسړی دبل سره محبت وی نو پکار دی چه ورته ووايی چه ځما ستا سره محبت دې: ((قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَحَبَّ الرَّجُلُ أَخَاهُ فَلْيُخْبِرْهُ أَنَّهُ يُحِبُّهُ)) (رواه ابوداؤد). **ترجمه**: يعنې هرکله چه سړې د ورور سره دوستی کوی پس پدې محبت دوستی دې هغه بل خبر کړی چه ته زما دوست يې.

۲_ هرکله چه ورور دبل ورو مسلمان څخه جدا شی پکاردی چه په غياب کې ورته دعاء وکړی: ((عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يَدْعُو لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ إِلاَّ قَالَ الْمَلَكُ وَلَكَ بِمِثْلٍ)) (رواه مسلم)

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ترجمه: يعنې هيڅ بنده مسلمان نشته چه لپاره دورور خپل په غياب کې دعا کوي مگر فرښتې ورته وايي چه ستا لپاره دې هم په مثل دهغه وي

۳_ په فراخ تندی سره ملاقات کول: ((عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ تَعَالى عَنْهُ قَالَ قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ)) (رواه مسلم)، **ترجمه**: يعنې هيڅ يونيك كار ناچيزه مه شماره اگر كه هغه نيك كار صرف دمسلمان ورور سره په فراخ تندی ملاقات كول وي.

۴_ دملاقات په وخت کې دوررولی دمضبوطوالی وسيله مصافحه كول دی: ((عَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللهُ تَعَالى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَلْتَقِيَانِ فَيَتَصَافَحَانِ إِلاَّ غُفِرَ لَهُمَا قَبْلَ أَنْ يَفْتَرِقَا)) (رواه ابوداؤد)، **ترجمه**: دحضرت براء رضی الله تعالی عنه نه روايت چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمايل: نشته داسې هيڅ دوه مسلمانان چه يوبل سره ملاقات وکړی اومصافحه وکړی مگر اوبه ښيلې شی دوئ دواړو لره (گناهونه) ددوئ مخکې لدينه چه جدا شي.

۵_ په خصوصی مناسباتوکې بايديوبل ته تبريکی ورکړی لکه دجهاد څخه تشريف راوړی: ((اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ نَظَرَكَ وَاَعَزَّكَ وَاَكْرَمَكَ)) (رواه مسلم عن عائشة رضی الله تعالی عنها)، اويا دحج نه راشی: ((قَبِلَ اللهُ حَجَّكَ وَغَفَرَ ذَنْبَكَ وَاَخْلَفت نَفَقَتَكَ)) (ابن سينی ازابن عمررضی الله تعالی عنه)، يا نكاح وكړی: ((بَارَكَ اللهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِيْ خَيْرٍ)) ،وغير ذلك، اوهمدارنگه په مناسباتوكې هديه وركول ((تَهَادُوا تَحَابُّوا)) (طبرانی ازعائشه رضی الله تعالی عنها)، يعنې يوبل ته هديه وركوئ چه محبت مو زيات شي.

خلاصه دا چه پكاردې چه مسلمان ورور دحقوقو ادائگی په مكمله توگه ترسره کړی كه هغه حقوق عمومی وی اوكه خصوصی وی، عمومی حقوق لكه:
۱_ سلام اچول، ۲_ دسلام جواب وركول، ۳_ بيمار پرسی، ۴_ جنازې ته حاضريدل، ۵_ دعوت قبلول، ۶_ پرنجې (عطس) ته يرحمك الله ويل، ۷_ دقسم پوره كول لكه ورته دوايی چه قسم دركوم چه دغرمې ډوډئ به له ما سره خورې، ۷_ مظلوم سره كومك

کول. ۹ـ دمسلمان خیرخواهی کول. ۱۰ـ دغمگینو څخه غم لرې کول. ۱۱ـ تنگدستو ته سهولت نیارول. ۱۲ـ چشم پوشی دعیوبو دخلقو څخه. ۱۳ـ تکلیف نه ورکول لکه په حسد، بُغض، ظلم او تحقیر وغیره سره. دغه حقوق اصول حتمی دیوې جامعې شمارلې شی، او په یو حدیث شریف کې ورته داسې شویده «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم قَالَ حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ قِيلَ مَا هُنَّ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ إِذَا لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَإِذَا دَعَاكَ فَأَجِبْهُ وَإِذَا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللَّهَ فَسَمِّتْهُ وَإِذَا مَرِضَ فَعُدْهُ وَإِذَا مَاتَ فَاتَّبِعْهُ» «رواه مسلم». **ترجمه**: دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه: دیو مسلمان په بل مسلمان باندې شپږ حقونه دی. چا عرض وکړو چه یا رسول الله کوم کوم دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل: ۱ـ کله چه ته یو مسلمان ورور سره یوځای شی نو ورته سلام کوه یعنې دسلام کولو مطلب صرف والسلام علیکم الفاظ ویل ندی بلکه ددې خبرې یو اعلان او اقرار دې چه زما دطرف نه ستا جان مال اوعزت محفوظ دی زه به په هیڅ طریقه تاته تکلیف نه رسوم او ددې خبرې دعا ده چه الله تعالی دې ستا دین او ایمان سلامت کړی او په تا دې خپل رحمت نازل کړی ، ۲ـ او کله چه تاته دعوت درکړی نو هغه دعوت قبول کړه، ۳ـ اوکله چه تانه خیر خواهی وغواړی نو هغه سره خیر خواهی کوه ، ۴ـ اوچه کله هغه پرنجې وکړی او الحمد لله ووایی نو ته دهغې جواب ورکوه یعنې «یَرْحَمُكَ الله» ورته وایه «معنی داده چه په تا دې الله تعالی خپل رحمت نازل کړی اوتا دې په خپل طاعت کې ثابت قدم کړی اوتانه دې داسې څه غلطی ونشی چه نورو ته پرې دخندا موقع په لاس ورشی، ۵ ـ اوکله چه هغه بیمار شی نو پوښتنه یې وکړه ، ۶ـ چه کله هغه مړشی نو دهغه جنازې سره لاړشه، او باقی حقوقو ته په مخکې احادیثو کې اشارې موجودې دی ، اوهرچه خصوصی حقوق دی هغه دادی چه مخکې ذکر شول اودویم دا چه جواز دخوراك دې دکور ددوست څخه بدون دعلم او اجازې دهغه نه لکه چه فرمایی: «وَلاَ عَلَى أَنفُسِكُمْ أَن تَأْكُلُوا مِن بُيُوتِكُمْ» یعنې هیڅ

ګناه نشته پر تاسو چه په خپل کور کې خوراک کوئ يعني مفسرينو حضراتو فرمايلي دي چه دلته اجازه اخستل مقصود ندی بلکه مراد دادې چه خوراک په کورونو داقرباؤ او دوستانو کې داسې دې لکه خپل کور کې يې چه خورې. او امام قرطبي رحمه الله په أَوْصَدِيْقِكُمْ باندې استدلال کړيدې . وللتفصيل موضع آخر

۲ـ دمقاطعي حرمت «عَنْ أبِي أَيُّوب الأنْصَارِيّ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ يَلْتَقِيَانِ فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ» (متفق عليه) . **ترجمه** دحضرت ابو ايوب انصاري رضی الله تعالى عنه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل ديوسړي لپاره جائز ندی چه هغه خپل ورور سره له درې شپو نه زيات تعلق قطع کړي چه دواړه په لاره کې مخامخ شی يوبل نه مخ واړوی او دې دواړو کې بهتر هغه دې چه په سلام کې مخکې وی، يعنې ممکنه ده چه ددوئ ترمنځ څهٔ نارضګی راشی خو ددريو ورځو پورې يې حل پکار دې او څکه بهتر هغه چاته ويلې شويدې چه اول سلام وکړی او يوصورت کې جوازلرې چه داکار ددين په خاطر وی . لکه چل په قرآن کريم د الله تعالى ارشاد دې : «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ آبَاءكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَاء إَنِ اسْتَحَبُّواْ الْكُفْرَ عَلَى الإِيمَانِ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ» (سورة توبه) **ترجمه** «ای مسلمانانو په دوستئ سره مه نيسئ پلاران خپل او ورونه خپل چه دوئ کفر غوره کړې وی په ايمان باندې که چا ور سره دوستی وکړه پس هغه ظالمان دی» او په يو حديث شريف کې راځی چه : «أَوْثَقُ عُرَى الإِيْمَانِ اَلْمُوَالَاةُ فِي اللهِ وَالْمُعَادَاةُ فِي اللهِ وَالْحُبُّ فِي اللهِ وَالْبُغْضُ فِي اللهِ» (جامع صغير عن ابن عباس رضی الله تعالى عنه)، **ترجمه** : «يعنې محکم ترينه رشته د ايمان دوستی او ملګرتيا ده لپاره دالله تعالى او دشمنی ده لپاره دالله تعالى او محبت لپاره دالله تعالى او کينه لپاره دالله تعالى»، او همدارنګه دبخاري شريف يوباب منعقد شويدې چه عنوان دې «مايجوز من الهجر لمن عصى»

**نکته** : مخکی آيتونه او احاديث چه پکې داخوت اسلامی مفهوم اوفضائل واضح شول او دهغې شرايط او وسائل هم په ډاګه بيان شو اوحقوقو ته يې هم اشاره وکړه،

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

کچیرې عملی جامه ور واغوستلې شی هیڅکله به مسلمان ناکام نشی بلکه
، مُلك ، وطن، قریه کی به سرفراز وی او غیراسلامی قوتونه به یې زیر تاثیر
دغه تجربی ثابته کړیده اوپه تاریخ کې یې ډیر مثالونه هم موجود دی حتی
اکرم صلیٰ الله علیه وسلم فرمایلی دی چه ((عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ
صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا ثُمَّ شَبَّكَ
(متفق علیه) **ترجمه** ((یعنې مسلمان دمسلمان لپاره دعمارت په شان دې چه
یوه حصه بلې حصی ته قوت رسوی، بیا نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دیولاس
دبل لاس گوتو سره پیوستې اوښودلې)) یعنې پدې حدیث شریف کې اسلامی
معاشری ته دعمارت سره تشبیه ورکړې شویده چه څنگه دهغې خښتې یوې بلې
ورغلې وی دغه شان مسلمانان هم خپلو کې یو موتې وی لکه څنگه چه یوه
دبلی خښتی تکیه وی دغه شان یو مسلمان دبل مسلمان تکیه وی او څنگه چه
خښتی یو ځای شی او دیو مضبوط عمارت شکل اختیار کړی دغه شان دمسلمانانو
دقوّت راز خپلو کې یوځای کیدوکې دې، که هغوئ دخورو ورو خښتو په شان وی
د هوا هره چپه به یې والوزوی او اوبو هره یوه چپه به یې ځان سره وبهوی، په اخر
نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دا حقیقت داسی په یومحسوس شکل کې بیان کړو چه
دپنجه بندی په شان دې، او په بل ځای کې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد
فرمایی چه: ((تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ كَمَثَلِ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى
عُضْوًا تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى)) (متفق علیه) ، عن نعمان بن بشیررضی
الله تعالی عنه) **ترجمه**: ته به او وینې مسلمانان په خپلو کې رحم کوونکی. محبت
کوونکی، اویوبل ته میلان کوونکی لکه چه څرنگه دیوجسم حال وی، که یو اندام ته
څه بیماری ورسیږی نو دجسم باقی اندامونه بی خوبی او تبه کې هغه اندام سره
ملگری او شریك وی. یعنې که مؤمنان ووینې نو په رحمت او شفقت سره به یې وینې
او همدارنگه هرمسلمان که په هرځای کې اوسیږی ،سپین پوستی وی اوکه تور
پوستې چه په هره ژبه غږیږی دهر حکومت رعیت چه وی، هر راز اقتصادی او سیاسی

نظامونه چه ولری دمسلمان ملت یوفرد دې. داسلامي ټولنې غړي دي. داسلامي سلطنت رعیت دي، داسلامی اُردو عسکر دي. داسلامی قانون دساتنې حقدار دي او دهر باطل په مقابل کې خند دي او شمره به یې دا وی چه دوی به په حقیقت کې دشهدو دمچو دګبین په شان وی چه شفاء به وی نوروته . الله تعالی دي زمونږ دمسلمانانو په خپل مینځ کې اتحاد او اتفاق نصیب کړی. اللهم آمین ثم آمین. ځکه چه دالله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی ((یدُ اللهِ علی الجماعة ومن شذَّ شُذَّ فی النّار)) یعنې دالله تعالی تائید له متحدې ټولنې سره دې او څوك چه له ټولنې څخه ووځی ځانځانی غوره کړی نو ددوزخ خواته به ګوښه کړې شی اللهم ارحمنی

## اقتصادی پلټنه، حلاله ګټه ((تجارت))

محترمو مسلمانانو: داسلامی نظام له روح سره نا اشنا خلك انګیری چه په اسلام کې داقتصادی ستونزو علاج نشته نه یواځې علاج بلکه دین او اقتصاد دوه ضدین دی چه په خپلو کي یو دبل سره نشي یوځای کیدي، اقتصاد دژوند مادی اړخ دې اودین روحی . اقتصاد مادی لوړتیا ده اودین دهغې مغلوبول غواړی، خو داسلام په باب دغه انګیرنه بیخی غلطه ده اوبی بنیاده هم ده ځکه چه قرآن مجید مال دژوند دقوام وسیله اووقایه ښیئ وایی: ((وَلاَ تُؤْتُواْ السُّفَهَاء أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللّهُ لَكُمْ قِيَاماً))، **ترجمه**: ((او خپل مالونه چه الله تعالی ستاسې لپاره دژوند دقوام او بسیا کیدو وسیله ګرځولې ده ناپوهه او کم عقلو خلقوته مه سپارئ)) او الله تعالی شتمنی اوغنی هغه نعمت معرفی کړیدې چه دخپلو خاصو پیرزوینو په لړ کې یې یادونه کوی ((وَوَجَدَكَ عَائِلاً فَأَغْنَى)) **ترجمه**: ((او ای پیغمبره ته یې بیوزله وموندلې اوبیا یې شتمن کړې)) یعنې په مال دخدیجة الکبری رضی الله تعالی عنها باندی. اوبل ځای کې ارشاد دې: ((فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ)) (سورة جمعه)، **ترجمه**: نو هركله چه د (جمعې) لمونځ شي نو (بيا تاسو لره اجازت دې) چه تاسو په ځمکه لاړشئ وګرځئ او دالله د روزي تلاش وكړئ (په دې حالت كې هم) تاسو دالله تعالى ډيرډير ذكر كوئ او سيرېږئ، ددې دپاره چه تاسو لره خلاصي اوشي (اونجات اوشي)

اوهمدارنګه قرآن او حديث په انساني ژوند او چلن كې داقتصادياتو له اهميت اثرنه سترګې نه پټوي بلكه په جامعو الفاظو كې دخلكو پاملرنه ور اړوي. لكه چه الله تعالى فرمايي: ((وَلاَ تَقْتُلُواْ أَوْلادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلاقٍ))، **ترجمه**: ((خپل اولادونه دلوږې ويرې څخه مه وژنئ))، بل دا چه په اسلام كې دپنځو اركانو له جملې نه يو مالي عبادت دې چه هغه زكوة دې، او داوو مهلكو لويو ګناهونو څخه يوه مالي كبيره ګناه هغه سود خوړل دى، زكوة دټولنيز تكافل اغيزناكه لاره اوسود دبيوزلې طبقې دبربادۍ عامل دې، لكه چه ارشاد دې: ((وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ)) (سورة البقره) **ترجمه**: او دهغه سود پاتې برخه پرېږدئ كه تاسې واقعي مؤمنان يئ.

اودصنعت اوحرفت (كسب) په باب داسلام نه ښه څرګنديدې شي چه قرآن مجيد ديوشمير پيغمبرانو او صالحانو داعمالو دستاينې په ترڅ كې دهغو دكسبونو يادونه كوي، لكه: حضرت نوح، حضرت ابراهيم، حضرت اسماعيل، حضرت داؤد اوحضرت ذوالقرنين عليهم السلام، لكه چه دالله تعالى ارشاد دې: ((وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّن بَأْسِكُمْ فَهَلْ أَنتُمْ شَاكِرُونَ)) (سورة انبياء)، يعنې داؤد عليه السلام به زغرې جوړولې . او آدم عليه السلام به دزراعت جامې جوړولو كسبونه لرل. او دريس عليه السلام كسب دجامو ګنډل وو، اوحضرت يحيى عليه السلام به پڼې ګنډلې اوحضرت لقمان عليه السلام به پوزكې جوړول او رسئ به يې اوبدلې اوخرڅولې به يې . دنبي اكرم صلى الله عليه وسلم په مباركو احاديثو كې هم مال او شتمنى ته دالله تعالى نعمت ويلى شويدې: ((عَنْ اَبِى الاَحْوَصِ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ اَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَىَّ ثَوْبٌ دُوْنٌ فَقَالَ لِى اَلَكَ مَالٌ فَقُلْتُ نَعَمْ قَالَ مِنْ اَىِّ الْمَالِ؟ قُلْتُ مِنْ كُلِّ الْمَالِ قَدْ اَعْطَانِى اللهُ مِنَ الاِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ وَالْخَيْلِ وَالرَّقِيْقِ قَالَ فَاِذَا اَتَاكَ مَالاً فَلْيُرَ اَثَرُ

نعْمَةَ اللهِ عَلَيْكَ›› ‹‹مشكوة›› **ترجمه** حضرت ابو الاحوص رضی الله تعالی عنه دخپل پلار نه روایت کوی، دهغه پلار وویل چه زه دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شوم دغه وخت زما په جسم کپړې (جامې) ډیرې معمولی شانته وې، نو حضور صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه آیا تاسې سره مال نشته؟ ما عرض وکړو مال شته، نو حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمایل څنګه مال دې؟ ماعرض وکړو هرقسم مال الله پاک راکړې دې. اوښان هم شته، غوایان هم شته، چیلۍ (بزې) هم شته آسونه هم شته او غلامان هم شته، نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل هرکله چه الله پاک مال درکړې دې نو دهغه دفضل او احسان اثر اوښه ستا په جسم ظاهریدل پکار دی›› .

مطلب دا چه هرکله الله پاك هرڅه درکړی دی نو دخپل حیثیت مطابق خوره او اغونده داسې نه چه یو سړې ښه مالدار وی لیکن حالات یی داسې جوړکړی وی لکه بیخی غریب اوناداره ، دا صرف یو خراب عادت ندې بلکه دالله پاك دنعمتونو ناشکری هم ده، په یوبل حدیث شریف کې راځی چه غوره مال څومره ښه دې چه دصالح شخص په لاس کې وی اوحلال کسب عبادت دې عادی چاره نه بلکه ددینی فرائضو ترڅنګ یوه فریضه ده، په حدیث شریف کې راغلی دی ‹‹طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ فَرِيْضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ›› ‹‹رواه البیهقی›› ، **ترجمه** : ‹‹په حلال کسب پسې ګرځیدل له دینی فریضې نه وروسته دمسلمان فریضه ده››. اوهمدارنګه دلاس دګټې فضیلت په حدیث شریف کې هم راغلې دې : ‹‹عَنْ الْمِقْدَامِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ وَإِنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ›› ‹‹رواه البخاری، عن مقدادبن معدیکرب رضی الله تعالی عنه›› ، **ترجمه** : ‹‹دخپل لاس دګټې نه بهتر رزق هیچانه دې خوړلې ، او دالله تعالی نبی داؤد علیه السلام به دخپلو لاسونو ګټه خوړله›› ددې حدیث مطلب دخلقو دسوال کولونه منع کول دی او ددې خبرې تعلیم ورکول دی چه سړی له خپله روزی خپله ګټل پکار دی په چاپوج کیدل ندی پکار، بلکه دنورو خلقو بوج په خپل سر اوچتول پکار دی یعنې مددیی پکار دې، بل ځای ارشاد دې : ‹‹قَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ اِذْهَبْ فَاحْتَطِبْ

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

وَبِغْ ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تَجِيْءَ الْمَسْأَلَةُ وَجْهِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» «رواه ابوداؤد» ، **ترجمه** رسول الله صلى الله عليه وسلم د باب كې اوفرمايل چه لاړشه او لرگي جمعه کړه او خرڅ يې کړه «نو هغه سړي لاړو لرگي يې راوړل او خرڅول به يې بيا حاضر شو دنبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كې او لس روپئ يې گټلې وې او په بعضو روپيويې جامې او په بعضو يې خوراك اخستې وو» نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل چه: دا كار ستا دپاره بهتر دې لدينه چه دقيامت په ورځ دا سوال كول ستا په مخ كې زخم راوړي.

دحرامې گټې انجام: «عَنْ عَبْدَ اللّٰهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ لَايَكْسِبُ عَبْدٌ مَالَ حَرَامٍ فَيَتَصَدَّقَ مِنْهُ فَيُقْبَلَ مِنْهُ وَلَا يُنْفِقُ مِنْهُ فَيُبَارِكُ لَهُ وَلَايَتْرُكُهُ خَلْفَ ظَهْرِهِ الَّا كَانَ زَادَهُ اِلَى النَّارِ اِنَّ اللّٰهَ لَايَمْحُو السَّيِّئَ بِالسَّيِّءِ وَلٰكِنْ يَمْحُو السَّيِّئَ بِالْحَسَنِ اِنَّ الْخَبِيْثَ لَايَمْحُو الْخَبِيْثَ» «مشكوة» ، **ترجمه**: «حضرت عبدالله ابن مسعود رضى الله تعالى عنه فرمايي چه: نبي اكرم صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمايلو كه څوك بنده حرام مال وگټي بيا هغه دالله تعالى په لاره كې صدقه كړي نو دا صدقه به دهغه دطرف څخه نه قبليږي اوكه په ځان اوكور والاوو يې خرچ كړي نو دبركت څخه به خالي وي كه دا پريږدي او مړشي نو دهغه دجهنم په سفر كې به دهغه دلارې توښه وي. الله تعالى بدي دبدي په ذريعه نه بدلوي بلكه بد عمل په نيك عمل كولو سره لرې كيږي. خبث، خبث نشي لرې كولې» اوهمدارنگه ديوحديث شريف مفهوم دې چه: په خلكو به داسې يو زمانه راشي چه هغې كې به سړې ددې خبرې پروا نه كوي چه هغه څنگه مال گټلي دې هغه حلال دې اوكه حرام «بخارى شريف» ، په يوبل حديث شريف كې راغلي دي چه «بيشكه موسى عليه السلام خپل ځان داتو يا لسو كلنو پورې مزدور جوړكړو دخپل شرمگاه دپاك ساتلو او دخوراك او څښاك دپاك ساتلو په غرض» «رواه احمد، ابن ماجه» ، او همدا رنگه ارشاد دې چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كې دوه ورونه وو دهغوئ نه يو ورور دنبي اكرم صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضريدلو اوبل ورور يې څه كار او كسب كولو نو هغه كسب كوونكي ورور نبي اكرم صلى الله

عليه وسلم ته دخپل ورور نه شکایت وکړو ،چه دا ورور مې څه کار کسب اوګټه نه کوي، نبي اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه شاید تا لره هم دده دوجهی نه رزق درکولې کیږي (رواه الترمذي).

خلاصه دا چه ددې روایاتو نه دکسب حلال ضرورت اوفضیلت ثابتیږي، ددې وجهې نه پدې کې سعی اوکوشش لازم دې ، خامخا داسې سړې چه قوی القلب وی چه دهغه دپاره کسب په کومو واجبو کې نه خلل انداز کیږي هغه لره دترك کسب اجازت دې، لکه چه دمخکې حدیث دوروڼو څخه معلومیږي بلکه بعضو حالاتو کې متوکلینو دپاره ترك کسب افضل دې چه دهغې تفصیل له ((التکشف)) وغیره دتصوف له کتابونو نه معلومیدې شی ، اوله کسب حرام نه خوپه هر حال کې بچ کیدل ضروری دی ، څنګه چه اسلام دکارکسب خواته هڅونه کوی دغه رنګه دکاریګر حمایت اوملاتړ هم کوی، کاریګر ته دهغه دکار په تناسب اودهغه داړتیاوو پوره کولو په اندازه اُجرت ورکوی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم دغنیمت (ولجې) په مالونو کې پلی مجاهد ته یوه برخه او سپاره ته دوه یا درې برخې ورکولې څکه چه دپلی اوسپاره په اړتیاوو او فعالیت کې توپیردې، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د((فیئ)) په مالونو کې مجرد ته یوه اومتأهل ته دوه برخې ورکولې څکه چه دمجرد او متأهل په اړتیاوو کې توپیر دې دهمدې نبوی ویش اوتوزیع په پیروی حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه اوفرمایل قسم په هغه الله دې چه دفیئ په مال کې دهرچا حق شته دهرچا کړاوو دهرچا مسابقه او دهرچا اړتیا په نظر کې نیولې کیږي ، پدې اساس اسلام دکمونیزم پر خلاف هم دې چه هر چاته یوازې دهغه داړتیا په تناسب دمعاش ورکولو مدعی دې او دسوسیالیزم پر خلاف هم دې چه هرچاته یوازې دهغه دکار په تناسب دمعاش ورکولو دعوی کوی کار ګر که په انفرادی ډول استخدامیږي دمربوط کار له سرته رسولو نه وروسته باید دهغه اُجرت په پوره ډول سمدلاسه ورکړې شی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه : ((أَعْطُوا الأَجِيْرَ قَبْلَ اَنْ يُّجِفَّ عَرَقُهُ)) (رواه ابن ماجه) ، **ترجمه**: ((مزدور ته دخولې داوچیدو نه مخکې خپله مزدوری ورکړئ))، څکه چه هغه هم دبال

کوی او دمزدور وکالت به الله تعالی کوی ...
بې دخیښې مړولو لپاره محنت (خواری) کوی او دمزدور وکالت به الله تعالی کوي
چه په حدیث شریف کې راغلی دی «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللّٰهُ ثَلَاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ وَرَجُلٌ بَاعَ
حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ وَلَمْ يُعْطِ أَجْرَهُ» (بخاری شریف)

**ترجمه**. دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه روایت دې چه درسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دې چه الله پاك جل جلاله فرمایي: درې سړي دي چه دقیامت په ورځ به ورسره زما جنگ جګړه وی ۱ـ یوهغه سړې دې چه زما نوم یې واخیست او معاهده یې وکړه بیا یې هغه معاهده (وعده) ماته کړه، ۲ـ دویم هغه سړې چه هغه یو شریف او آزاد سړې اغواء کړو (یعنې وې تښتولو) اوهغه یې خرڅ که اوهغه قیمت یې وخوړلو. ۳ـ او دریم هغه سړې دې چه هغه یومزدور په مزدورۍ ولګوی او دهغه نه پوره کار واخلی او دکار اخستلونه پس هغه ته مزدوری ورنکړی.

او همدارنګه په اسلام کې دزراعت اوبڼوالی ستاینه هم تر داسې حده پورې شویده چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خپل یو مبارك حدیث شریف کې فرمایلی دی که دیوچا دمرګ شیبې رانزدې شوی وی او په دې وخت کې دهغه په لاس کې ننه لخته وی هغه دې وکری. اوپه یوبل ځای کې ارشاد دې: «عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ» (متفق علیه). **ترجمه**: «دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی کوم مسلمان چه دزمینداری (زراعت) کار کوی یا بوټی لګوی اوهغې کې مرغئ یاڅوك انسان یا یو څناور خوراك وکړی نو دا دهغه دپاره صدقه جوړه شی». او همدا رنګه په اسلام کې دتجارت په باب خوبه هغه حدیث بیخی کافی شاهد وی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دصادق امانت دار تاجر درجه دا ښودلې ده چه په جنت کې به دانبیاؤ ملګرې وی او همدا راز دانسانانو د ورځنیو اړتیاو برابرولو په باب داسلام داهتمام ښکاره بیلګه داده چه دالله تعالی حبیب صلی الله علیه وسلم محتکر ملعون

بنو دلي او ټګی کوونکي تاجر یې دمسلمانانو له ډلې نه وتلي معرفي کړيدي ((عن رافع ابن خدیج قال قیل یارسول الله ای الکسب اطیب قال عمل الرجل بیده وکل بیع مبرور)) (مشکوة) **ترجمه** رافع بن خدیج رضی الله تعالی عنه فرمایي چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه ای دالله تعالی رسوله دټولونه زیات ښه کسب ګټه کومه یوه ده؟ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل دسړي خپل لاس سره کارکول او هغه تجارت چه هغې کې تاجر بی ایمانی اودروغو نه کارنه اخلی

**نکته** دتجارت بنیادی اصول دادی: ۱ـ دیانت داری دتجارت دکامیابی راز په ایمانداری اودیانت داری کې مضمر دې چه لوظ او قول یې درست وی. ۲ـ پوره وزن، پوره پیمانه: ځکه چه عکس یې یوڅو ورځې مزه وی آخر انجام یې تباهي وی ((عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِ الْمِكْيَالِ وَالْمِيزَانِ إِنَّكُمْ قَدْ وُلِّيتُمْ أَمْرَيْنِ هَلَكَتْ فِيهِ الأُمَمُ السَّالِفَةُ قَبْلَكُمْ)) (رواه الترمذی، عن ابن عباس رضی الله تعالی عنه)، **ترجمه**: ((دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت دې فرمایي چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دناپ اوتول والا تاجران مخاطب کړل او ورته یې اوفرمایل: تاسو خلق دداسې دوو کارونو ذمه وار کړې شوی یئ چه دهغې په وجه تاسونه مخکې تیرشوی قومونه هلاك شول))، ۳ـ خوږه او پسته خوله، پوست خوئ، روڼ تندې: ((عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَحِمَ اللَّهُ رَجُلاً سَمْحًا إِذَا بَاعَ وَإِذَا اشْتَرَى وَإِذَا اقْتَضَى)) (رواه البخاری، عن جابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه)، **ترجمه**: ((دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: په هغه سړي دې الله تعالی رحم وکړی چه په خرید او فروخت کې اودخپل قرض په تقاضا کولو کې (یعنې دخپل قرض په واپس غوښتلو کې) دنرمی او خوش اخلاقی نه کار اخلی)).

او دمبیعې عیب بیانول ضرور دی: ((قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَيَحِلُّ لِاَحَدٍ اَنْ يَّبِيْعَ شَيْئًا اِلاَّ بَيَّنَ مَافِيْهِ وَلاَيَحِلُّ لِاَحَدٍ يَعْلَمُ ذٰلِكَ اِلاَّ بَيَّنَهُ)) (متفق علیه) **ترجمه**: ((نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه یوسړی دپاره دا جائز ندی چه یو شې

او چا دپاره دا جائز ندی چه غیر خرخوی او اخستونکی ته دهغې عیب بیان نکړی او چا دپاره دا جائز ندی چه غیر
عیب ورته معلوم وی او صاف صاف یې بیان نکړی)) ، په روایت کې ددریو کسانو
خخه یو هغه هم دی چه ددروغو قسمونو په ذریعه دتجارت مال له ترقی ورکوی
دقیامت په ورځ به الله تعالی نه خبرې ورسره وکړی او نه به ورته درحمت په نظر وکوری
او نه به یې پاك کړی چه جنت ته یې داخل کړی، بلکه هغوئ ته به دردناك عذاب
ورکړی (رواه مسلم)، ((الله پاك دې مونږ ته دحلالې روزی آسانتیا مهیا کړی، اللهم
آمین ثم آمین))

# دکورنی تشکیل ((نکاح ، ولیمه))

محترمو مسلمانانو کورنی داسلامی ټولنې لومړنی خښته ده اسلام په کلکه سپارښت کړیدې چه دغه اساس او بنسټ دې دفطری نظام سره سم محکم ودرولې شی ترڅو چه د ټولنې دموجودیت او سلامتیا ماڼۍ محکمه ودریدلی شی ، یا په بل عبارت دکورنی ژوند دمسئلو داهمیت نه هر سړې واقف دې چه کور هغه اولنی مدرسه ده چه ماشوم پکې دخپلو مشرانو دژوند تیرولو چل زده کوی دقامونو په ترقی اوتنزل کې دمور اغیز او دکور ماحول بنیادی حیثیت لری، همدا وجه ده چه په اسلام کې یې دکورونو چاروته ډیر اهمیت ورکړیدې اودښځې او خاوند ترمنځه دبهتر تعلق په هکله قرآن مجید، احادیث شریف، اودفقهې په کتابونو کې ځای په ځای ضروری احکام موجود دی، نو متأسفانه دکورنی ژوند متعلق ډیرې خبرې داسی دی چه هغه عام خلك دناپوهتیا ،شرم اوحیاء دلاسه دچانه پوښتنه نکوی او په بی علمی کې په سختو غلطیو او گناهونو کې مبتلاء دی او اسلام نارینه دخپل اهل او عیال دروزنې ،پالنې اوڅارنې ساتنې مسؤل گرځولی دی : ((كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه))
**ترجمه** ((درسول الله صلی الله علیه وسلم مبارك حدیث دې چه له تاسو نه هریو حاکم دې اوهرڅوك دخپل رعیت په باب مسؤول دې)) اودا معلومه خبره ده چه ښځه په

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

فطری ډول ضعیفه ده نو ځکه خوېدي لحاظ نارینه وربانديې فضیلت لري ((الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاء)) دالله تعالی ارشاد مبارك دي چه ((نارینه پر ښځول څارونکي دي)) دکورنۍ درهبري اولارښوونې وظیفه نارینه ته ورپه غاړه شویده له گمراهی اوبدوعملونو څخه دخپلې کورنۍ دغړو ژغورل اوپه سمه لاره باندې دهغو برابرول دکورنۍ دمشر فریضه ده: (( أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا)). **ترجمه**: الله تعالی فرمایي چه: ((ای مؤمنانو ! خپل ځان او خپل اهل اوعیال ددوزخ له اوره وساتئ)) له نارینه څخه وروسته دکورنۍ نظام په سمون اوجوړولو کې ښځې ته ستر اهمیت ورکړې شویدې لکه څنگه چه اولاد دپلار په احترام او له هغه سره ښه سلوك کولو باندې مکلّف شویدی همدغسې دمور په احترام او خدمت هم مامو شویدی، خلاصه دا چه دکورنۍ چاپېریال دانسان لپاره ترټولو لویه تعلیمي او اخلاقي مدرسه ده، ددې ترڅنگ اسلام په ازدواجي اړیکو باندې ډېر سخت بندیزونه لگولي دی ترڅو چه دکورنۍ نظام گډوډ نشي اونه دکورنۍ سپیڅلتیا عزت، ابرو او وقار ته زیان ورسیږي په ازدواجي اړیکوکې دبد دیانتی سزا اسلام ډېره درنده ټاکلې ده ترڅو چه کورنۍ له هرې بدی، نفاق، نفرت اونیت پرک کیدو څخه خوندی وساتلې شي ورنه دټولنې موجودیت به له منځه لاړشي نو کوم نر یاښځه چه دڅه عذر په وجه دنکاح نه معذور نه وی نوهغوئ دپاره کله دمصلحت په درجه کې اوکله دضرورت په درجه کې دا حکم دې چه نکاح دې کوی.

نو اوس دنکاح فضیلت دقرآن مجید دآیتونو په رڼاکې ذکر کوو: دالله تعالی ارشاد دي: ((وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلاً مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً)) **ترجمه**: ای څما پیغمبره بیشکه ما ستانه وړاندې هم پیغمبران لیگلی وو او هغوئ ته مې ښځې او بچي ورکړې وو یعنې نکاح دټولو انبیاؤ سنت طریقه ده: ((وَأَنكِحُوا الأَيَامَى مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِن يَكُونُوا فُقَرَاء يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ)) **ترجمه**: اوپه تاسو کې چه کومې بې نکاح ښځې دی دهغوئ نکاح وکړئ او ستاسو په وینځو غلامانو کې چه څوك لایق وی نودهغوئ نکاحونه هم وکړئ کچیرې دوئ

غریبان او خوار وی نو الله پاك به یې غنیان او مالداره کړی په خپل فضل
بیشکه الله پاك ډېر وسعت او علم خاوند دي

**نکته** دنفس تقاضا او خواهش داسې دې کچیرې یو سړې نکاح نه کوی
حرامو کارونو کې دمبتلا کیدلو خطره وی، زنا یا حرامو شیانو ته کتل یا
ذریعه حرام خواهش پوره کول پدې صورت کې نکاح کول واجب دی که دنفس
دومره نه وه خو بیا هم په اعتدال سره خواهش موجود وو نو نکاح کول سنت دی
دواړو صورتونو کې دنان ،نفقې او دمهر ادا کولو قدرت ضروری دې که مهر
«هغه مهر چه نیتبه پکې وی» باندې قدرت لری اگر که فی الحال ورسره دومره
بیا هم نکاح ضروری ده که په نفقه او مهر قادر نوی بیا دې نکاح نکوی او خپل
خواهشات دې په روژې سره مات کړی . او د درې تنو مدد د الله تعالی په ذمه دی
نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه لازم دی په الله تعالی باندې «په لزوم
استحسانی سره» ددریو تنو امداد کول :

۱ـ هغه مکاتب چه داداء کولو نیت لرې. ۲ـ هغه نکاح کونکې سړې چه پدې نکاح
سره ځان دحرام کاری نه بچ کول غواړی. ۳ـ مجاهد جهاد کوونکې (ترمذی عن ابی
هریرة رضی الله تعالی عنه).

**نو اوس به دنکاح فضیلت داحادیثو په رڼا کې ذکر کړو :**

۱ـ «عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ» (متفق علیه) . **ترجمه** : حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمایي
چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : ای دزلمو ډلې ! تاسو کې چه څوك
دنکاح دذمه وارو اوچتولو طاقت لری هغوئ له نکاح کول پکار دی ځکه چه دانظر
ښکته لری او دشرمگاه حفاظت کوی (یعنې نظر یو خوا بل خوا زغلیدو نه او شهوانی
طاقت بدی واگو (بی گام) کیدو نه بچ کوی) او څوك چه دنکاح دذمه وارو بوج نشی
اوچتولې هغوئ له پکار دی چه دشهوت زورماتولو لپاره وخت په وخت روژه ونیسی

۲۔ ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تُنْكَحُ الْمَـرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَلِجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ)) (متفق عليه. عن ابی هريرة رضی الله تعالی عنه)، ترجمه ((دحضرت ابوهريرة رضی الله تعالی عنه نه روايت دي چه نبی اکرم صلی الله عليه وسلم اوفرمايل چه ښځې سره دڅلورو شيانو په بناء واده کولې شی دهغې دمال په وجه دهغې دخاندانی شرافت په بناء دهغې دخوبصورتی په بناء او دهغې ددينداری په بناء نو تاسو ديندار ښځه حاصلوئ ستاسو لپاره دا ښه ده)) ، يعنې څوك يی مال ته څوك يی جمال ته او څوك يی خاندان ته نظر کوی، څوك يی ديندارۍ ته ليکن نبی اکرم صلی الله عليه وسلم مسلمانانو ته هدايت کوی چه اصلی شی کوم چه دليدلو دې هغه دښځې ديندارئ او تقویٰ ده کچيرې دا ټول صفتونه په يوه بی بی کې بيامونديې شی نو بيا خو نورعلی نور دې ، ليکن دينداري پريښودل صرف دمال اوجمال خاندان په خاطر ورسره واده کول دمسلمان کارندې، اوهمدارنگه يو روايت کې دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی ښځو سره دحسن او جمال په وجه واده مه کوئ کيدې شی دهغوِ حُسن هغوئ تبا کړی اومه دمالدارئ په خاطر ورسره واده کوئ کيدې شی دهغوئ مال هغوئ په نافرمانی اوسرکشی کې اخته کړی، بلکه ددين په بناء ورسره واده کوئ ((وَلَأَمَةٌ سَوْدَاءُ ذَاتُ دِيْنٍ أَفْضَلُ)) او توره (سياه) رنگه وينځه چه ديندار وی دالله په نظر کې دسرې ((گوری)) خاندانې ښځې نه بهتره ده(منتقی)

۳۔ ((عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ تَزَوَّجُوْا النِّسَاءَ يَأْتِيْنَكُمْ بِالْأَمْوَالِ))، ترجمه : ((دحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روايت دې فرمايی چه نبی اکرم صلی الله عليه وسلم اوفرمايل چه : ښځو سره نکاح وکړئ هغوئ به تاسو ته مال راوړی)) يعنې کله چه ښځه اوخاوند دواړه هوښيار او يوبل خيرخواه وی نو دهغوئ نکاح دمالداری ذريعه وگرځی ځکه چه سړې دا فکر کوی چه ځما په سر ذمه داری ډيره شوه اوهغه دگټې دپاره زيات کوشش کوی او ښځه دکور انتظام داشان کوی چه سړې هغه نشی کولې پدې وجه به ددواړو ژوند په آرام او

راحت کې وی نو داسې شوه لکه چه دې ښځې ځان سره مال راوړو ، او همدا
حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه محتاج دې، محتاج دی
سړې چه ښځه یې نوی ، خلکو پوښتنه وکړه کچیرې دې سړی سره ډیر مال وی نو
محتاج دې نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه : که ډیر مال ورسره وی نو
محتاج دې، بیا یې اوفرمایل چه : محتاجه ده، محتاجه ده هغه ښځه چه خاوند یې
نوی، خلکو پوښتنه وکړه چه کچیرې ډیر مال لری هم محتاجه ده ، نبی اکرم صلی الله
علیه وسلم اوفرمایل : چه اګر که ډیر مال لری نوهم محتاجه ده ((رواه رزین)) یعنې
نکاح دآرام ژوند تضمین کوی.

۴_ ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا
خَطَبَ إِلَيْكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَزَوِّجُوهُ إِلاَّ تَفْعَلُوا تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الأَرْضِ وَفَسَادٌ
عَرِيضٌ)) (رواه الترمذی) ، **ترجمه** : ((دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه نه روایت
دې فرمایی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : هرکله چه تاسو ته څوك داسې
سړې دواده پیغام راوړی چه دهغه دین او اخلاق تاسو خوښوئ نو هغه سره واده کوئ
که تاسو داسې ونکړئ نوځمکه کې به لویه فتنه اولویه خرابی پیداشی)). یعنې که
داسې سړی له لوز ورنکړی او مالدار ځای ورته ګوری نو په داسې صورت کې به ډیرې
جینکۍ اوهلکان بې واده پاتې شی چه بیا به ددې په وجه زنا ډیره شی چه نتیجه یې
دموسی علیه الصلوة والسلام په قوم کې تاسو لیدلې شئ چه حضرت موسی علیه
الصلوة والسلام دجبّارینو سره دجهاد لپاره بنی اسرائیل دځان سره کړل چه کنعان ته
اورسیدل نو دبلعم بن باعور په تدبیر سره ددې قوم خوبصورتې جینکۍ دحضرت
موسی علیه الصلوة والسلام لښکر ته لاړې یوه جینۍ پکې دبنی اسرائیلو یو سردار
ولیده نو پرې عاشق شو او دلاسه یې ونیوه دحضرت موسی علیه الصلوة والسلام
مخې ته یې بوتله اوحضرت موسی علیه الصلوة والسلام ته یې اوویل چه دا ښځه په
ما حرامه ده، حضرت موسی علیه الصلوة والسلام ورته اوفرمایل : چه آو (بلی) په تا
حرامه ده، دیته به هر ګز نزدې نه ورځې، دې سردار ورته وویل چه زه ستا خبره نه منم

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

اودایی وویل اوخپلې خیمې ته یې بوتله اوبدکاری یې ورسره وکړه نو پدې باندې دالله پاك غضب به جوش راغې او په یوه ورځ کې دبنی اسرائیلو او زره (۷۰۰۰۰) سړي هلاك شول. نو تاسو وګورئ چه دیوسړي په زنا کولو سره څومره تباهي راغله. کچیري زنا عامه شي نوبیابه څه حال وي. پدې وجه امام مالك رحمه الله تعالی فرمایي چه په هلك اوجینئ کې صرف دینداري ته کتل پکار دي. رزق یې چه په قسمت کې څه وي هغه به ورته ضرور رسیږي. ډیرې جینکۍ دفقیرانو کورته تللي دي. او بیا پسې داسې خوشحالي رغلي ده چه اندازه یې نشته اوډیرې دامیرانو کورونو ته تللي دي لیکن دخپل قسمت په وجه بیا دیوې ټکرې محتاجه شوي دي اوبله داچه نکاح سره ددوئ ترمنځه محبت هم پیدا کیږي. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چه دښځې خاوند دنکاح په ذریعه چه کوم محبت راځي داسې یو محبت ندې لیدلې شوې (ابوداؤد. عن ابن عباس رضی الله تعالی عنه). نو دمحبت خاصه داده چه دمحبوب په وصال کې دهرقسم تکلیفونه په خوشحالي سره برداشت کولې شي نوبیا تاسو دمالدارو هلکانو په تلاش کې دجینکو ژوند ولې خرابوئ.

۵_ ((عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجُوا الْوَدُوْدَ الْوَلُوْدَ فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ)) (ابوداؤد) . **ترجمه** : ((دحضرت معقل بن یسار رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي : داسې ښځې سره نکاح کوئ چه مینه ناکه وي او اولاد راوړونکې وي (که کونډه وي نو لمړئ نکاح څخه یې اندازه لګیدلې شي اوکه پیغله جینئ وي نو دهغې دصحت او دنور خاندان دواده شوو جینکو دحالت نه یې اندازه لګیدی شي) ځکه چه زه به دستاسو په ډیروالي په نورو اُمتونو فخرکوم)) . یعنې چه زما امت دومره ډیر دې) یعنې اولاد څومره غټه فائده په ژوند کې هم چه اولاد دټولو نه زیات خدمتګار. تابعدار او خیر خواه وي او دمرګ نه وروسته هم چه دُعا ورته کوي او داولاد په نیکو اعمالو کې هم دثواب برخه لري کچیري نابالغه اولاد مړشي نو هغوئ به یې په الله پاك ښښي اوکه بالغ نیك اولاد وي هغه به یې په قیامت کې سفارش کوي. دټولو نه غټه خبره داهم ده

چه د مسلمانانو شمیر پرې زیاتیږي او د اسلام قوت پرې محکم کیږي او د ...
ورځ نبی کریم صلی الله علیه وسلم پرې خوشحالیږي او فخر به پرې کوي. نو ...
واده، نه کولو د ومره غټې فائدې برباد ول دي او همدا رنګه علماء کرامو ...
چه د جا دکومې جینۍ سره درشتی (نکاح) کولو خیال وی نو پکار دی چه د پیغا...
نه اول جینۍ اوګوري. دا لیدل مستحب دی چه آینده کې بیا کش مکش نوی. او ...
خای نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه درشتې کولو نه اول که ممکنه وی
چه دغه جینۍ وګوري (ابوداؤد عن جابر رضی الله تعالی عنه).

او همدا رنګه پکار دی چه لږ مهر سره د کورنۍ تشکیل جوړشی. لکه چه ددې
حدیث شریف نه معلومیږی «عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ الصَّدَاقِ اَيْسَرُهَا» (نیل الاوطار). یعنې مهر هغه دی چه
معمولی (لږ) وی نوهغه خاوند او ښځې ته دغټ (دروند) مهر په وجه کور جهنم جوړ
شی او بل دا چه پکار دی د مهر ادائګی وکړی. «عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ
عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ أَحَقَّ الشُّرُوْطِ أَنْ تُوفُوا بِهِ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ
الْفُرُوجَ» (متفق علیه. عن عقبة ابن عامر رضی الله تعالی عنه). **ترجمه**: د حضرت عقبه
بن عامر رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم
اوفرمایل په شرطونو کې دټولو نه زیات مستحق شرط د پوره کولو لپاره هغه دې چه
دهغې په ذریعه تاسو دښځو دعصمت (پاکدامنۍ) مالکان جوړیږئ.

۶- «قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيمَةِ يُدْعَى لَهَا الْأَغْنِيَاءُ
وَيُتْرَكُ الْفُقَرَاءُ وَمَنْ تَرَكَ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» (متفق
علیه). **ترجمه** «نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: بدترین خوراک، خوراک
دهغه ولیمې دې چه هغې ته مالدارو ته دعوت ورکړې شی او غریبانان پریښودې شی
او کوم سړې چه دولیمې دعوت قبول نکړی نوهغه د الله تعالی او دهغه د رسول
نافرمانی وکړه». ددې حدیث شریف نه معلومه شوه چه ولیمه سنت ده خو د واده نه
پس دولیمې دخوراك دعوت مسنون طریقه ده چه بغیر دخه تکلف او ډیر تاوان نه هر ...

چه موجود وی هغه دي خپلو دوستانو او خاص خپلوانو باندي او خوري که دیو سري دومره طاقت نه وی چه ولیمه وکړی نو دهغه رشته دارو او ګاونډیانو ته پکار دی چه خپلو کورونو نه دی څه خوراك او طعام را جمع کړی او په واده کي دي ددي سړي سره امداد وکړی. دولیمي ددعوت په شرکت کي دعلماؤ اختلاف دي بعضي وای چه دا دعوت قبلول واجب دی او بعضي وايي چه مستحب دی او اودا واجب یا مستحب په ولیمه کي شرکت کول دی خوراك ضروری ندی او دولیمي نه علاوه نور دعوتونه قبلول مستحب دی. که قبول یی کړو نو ثواب به یی اوشي ورنه ګنهګار ندي او ددعوت وجوب یا استحباب په څو وجوهو سره ساقطیږی

۱ـ چه په خوراك کي شك او شبه وی چه حلال دي او که حرام دي. ۲ـ پدي دعوت کي دمالدارانو خصوصیت وی. ۳ په دعوت کي داسي سړي شریك وی چه دهغه په وجه دعوت قبلوونکی ته دروحانی یا جسمانی ضرر رسیدو خطره وی. ۴ـ یا په دعوت کي داسي خلك شریك وی چه هغوئ کي دده کیناستل مناسب نوی. ۵ـ چه ددعوت کوونکی مقصد داوی چه زما سره په ناحقه خبره کی امداد وکړی. ۶ـ او چه په دغه مجلس کي څه ممنوع شی وی لکه ډولونه . سندري وغیره. ۷ـ چه داعی فاسق وی. ((نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اِجَابَةِ طَعَامِ الْفَاسِقِيْنَ)) (مشکٰوة).

حضرت عمران بن حصین رضی الله تعالی عنه فرمایی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دفاسقو خلکو ددعوت قبلولو نه منع فرمایلي ده او فاسق هغه ته وایی چه دالله تعالی او دهغه درسول صلی الله علیه وسلم احکام به په جرأت سره ماتوی او یا دغه دعوت دفخر او تکبر او ریاء والا وی.

۷ـ ((قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَحْدَثَ فِىْ اَمْرِنَا مَالَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ)) (اعتصام بر حواله بخاری)، **ترجمه** دحضرت عائشه رضی الله تعالی عنها څخه روایت دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: څوك چه زمونږ دین کي نوی څیزونه داخل کړی کوم چه په دین کي داخل نوی نو هغه مردود (نامقبول دی)، نو په واده کي هم نن سبا داسي رسمونه ایجاد شویدی چه په شریعت کي یی هیڅ اصل نشته لکه

بالغی جینکۍ یوځای شی او ګډیږی او په زوره زوره سندرې وایی چه آوازونه‌ئې دکور نه بهر راوځی او غیر محرم سړی یې اوری دا په اتفاق سره حرام دی . دوېیم داچه دکاغذونو وغیره نه ګلونه جوړوی او کور پرې ښائسته کوی داهم په اسراف کی داخل دی او حرام دی، دریمه دا چه ښځه دخلکو خپوته ټیټوی دا انحناء ده داهم حرامه ده . څلورم داچه داختر په میاشت کې نکاح کول ځینې بی عقله خلك منحوس (بدفاله) ګڼی دا غلط دی بلکه داختر په میاشت کې نکاح واده کول مستحب دی او حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمایی چه زما کوژدن او زما واده دشوال (دوارو اختر) په میاشت کې شویدی (رواه مسلم)، پنځم: دا چه دښځو داخل کې خپل رسم او رواجونه لکه کنځل وغیره شول هم بدعت دې وغیر ذلك.

# لویه معجزه ((قرآن مجید))

محترمو مسلمانانو : قرآن مجید دحضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم یوه داسې لویه اومهمه معجزه ده چه دقیامت تر ورځې پورې به باقی وی او اعجاز یی به تل پاتې وی چه دټولو عربو او نړی علماء، فصحاء، بلغاء اولوئ لوئ پوهان ((هغه دقرآن) دمقابلې اومعارضې څخه عاجز پاتی شویدی، اوهمدارنګه دعربو یونامتو شاعرو چه نورو شاعرانو به یوشعر جوړکړو نو دامتحان لپاره به یی دشپی ورته په دروازه یادیوال ولګولو سحربه چه هغه دکور نه بهر شو او وبه یی لیدلو نو هغه به پکې ترمیم وکړو څه حصه به یی پکې بدله کړه او قافیه به ورته برابره کړه کله چه دا سورت نازل شول : ((بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیمِ + إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ + فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ + إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ)) ، نو یونفر دغه درې واړه آیتونه ورته په کور ولګول سحرچه راووت څه سوچ او فکر یی وکړو مګر مخکې یی ورته ولیکل : ((مَاهٰذَا قَوْلُ الْبَشَرِ)) یعنې ندې دا کلام دبشر زه به پدې کې څه بدل کړم نو په دنیا کې دالله تعالی دشمنان تیرشول اوتیر به شی او موجود هم شته ډیرې دعوی یی وکړی چه سپوږمۍ ته ختلی،

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

یو څو تر او سه پورې دا اعلان ونکړو او نه به یې وکړي چه مونږ قرآن مجید غوندي یو سورت جوړ کړیدي نو معلومه او ثابته شوه چه دا قرآن مجید دالله تعالی کلام او دنبوت دا ثبات لپاره یو بې مثاله دلیل او لویه معجزه ده او قرآن مجید دالله تعالی هغه کلام دي چه د جبرائیل علیه الصلوة والسلام په واسطه په حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم باندې نازل شویدي. ټول قرآن مجید دریش (۳۰) سپارې، او یو سل څوارلس (۱۱۴) سورتونه او پنځه سوه څلویښت (۵۴۰) رکوع ګانې، او شپږ سوه شپږ زره او شپږ شپیته (۶۶۶۶) آیتونه (بنابر اختلاف) لري. او دلوح محفوظ څخه په یوځل په همدغه طریقه او ترتیب چه اوس موجود دې آسمان ددنیا ته دروژې په میاشت کې دلیلة القدر په شپه نازل شویدې او بیا په نبی اکرم صلی الله علیه وسلم باندې په درویشتو (۲۳) کالو کې دضرورت په اساس لږ لږ کله یو آیت څخه کم. کله یو آیت. کله څه زیات. کله لس آیتونه او کله یو سورت نازل شویدې. او مونږ ته په متواتر ډول بې له کوم شك او شبهې څخه را رسیدلې دې. دحروفو په واسطه په ورقو کې ثبت شویدې. په ژبه ویل شوي دي، په غوږونو اوریدل شویدې او په زړونو کې ساتل شویدې. ټول مطالب یې حق او ریښتیا دی له دروغو او خطاګانو څخه پاك دي. ټولې لارښوونې یې عین حکمت او دبشریت ددینی او دنیوی نیکمرغیو ضمانت او کفالت کوي او دظاهری او باطنی مرضونو لپاره دا شفاء کامله نسخه ده او قرآن مجید دالله تعالی جل جلاله قدیم کلام او دهغه په ذات پورې قائم او غیر مخلوق صفت دي چه دعلم کلام په اصطلاح کې ورته کلام نفسی وایی. قرآن مجید څلور قسمه وجود لري ۱ـ وجود نفسی هغه کلام چه لیکلې شویدې په لوح محفوظ کې. ۲ـ وجود لفظی هغه کلام چه په ژبه تلاوت او تلفظ کیږی. ۳ـ وجود ذهنی هغه کلام چه په ذهن کې موجود دې. ۴ـ وجود عینی هغه کلام چه دالله تعالی صفت او قدیم دې

خلاصه دا چه اګر که کلام لفظی حادث او مخلوق دې لیکن صاحب دشرح عقائد لیکلی دی چه تادیبًا دغه اطلاق پکار ندې او کلام نفسی قدیم غیر مخلوق دې. دومره قرآن شریف یادول چه په هغې لمونځ روا کیږی. په هر مسلمان فرض دې او دټول قرآن شریف یادول فرض کفایه دی کچیرې څوك هم (العیاذ بالله) حافظ پاتې نشی نو ټول

مسلمانان گنهگاریږی . بلکه زرکشي نه ملاً علی قاری رحمه الله نقل کړیدی چه ...
کوم بناز یا کلي کی څوك هم دقرآن لوستونکي نه وی نو ټول گنهگار دی او شرح احیا...
العلوم کي دامام صاحب رحمه الله څخه یې نقل کړیدی چه په کال کي دوه واری خـ...
کول دقرآن شریف حق دي . دځيني علماؤ فتوی ده چه هره میاشت یو واري ختم کول...
پکار دی او بهتره داده چه په اوه (۷) ورځو کي یو واري قرآن شریف ختم کړی چه دا...
داصحاب کرامو رضی الله عنهم اجمعین معمول وو . عام طور دغه رنگه نقل کولی...
شی نودجمعي په ورځ دی شروع وکړی او په اوه ورځو کی دی یو منزل روزانه وایی...
دپنج شنبي په ورځ دي ختم کړی . دیو حدیث شریف مضمون دی . کچیری دقرآن مجید...
ختم دورځي په اول کي وشی نو ټوله ورځ او که دشپي په شروع کی وشی نو بیوله شپه...
فرشتي ددغه بنده لپاره درحمت دعاگاني کوی . نوعلماؤ ددي خبري نه دا استنباط...
کړیدي چه کچیري ورځي اوږدي وی نو په ورځ کي بهتر دي او که شپي اوږدي وی نو...
په شپه کي بهتر دي چه دفرشتو دا دعاگاني ورته حاصلي شي او دځيني علماؤ مذهب...
دي چه څلویښتو نه دي زیاتي ورځي په ختم نه لګوی . ددي حاصل دادی چه کم نه ک...
دري پاوه هره ورځ لوستل ضروری دی . که ورته پاتي شي نو بله ورځ دی دهغي قضا...
راوړی خو څلویښتو ورځو کي دننه دننه دي پوره شی . دجمهورو علماؤ په نزد دا...
ضروري ندی . خو بیاهم دبعضی علماؤ مذهب دي . نو احتیاط دادی چه ددی څخه...
دي کم نه وی . په یو حدیث شریف کی دی چه ((من قرا القرآن فی اربعین لیلة فقد...
عزب)) ((مجمع)) یعنی چاچه قرآن شریف په څلویښتو شپو کي ختم کړو نو ډیروخت...
یي تیر کړو . او دیو حدیث شریف مضمون دی چه ددریو ورځو نه په کم وقت کي ختم...
کوونکي تدبر، غور او فکر نشی کولي . هم دا وجه ده چه ابن حزم رحمه الله ددري ورځو نه...
کم ختم کول نه حرام وایي دی . خو دغه په اعتبار داکثرو افرادو سره دی ځکه چه په...
اصحابو کرامو کي دیوي ډلي نه ددري ورځو نه په کمه موده کي لوستل هم ثابت دی

خلاصه داده چه دجمهورو علماؤ په نزد څه تحدید ((مقرر نیا)) نشته خو مر...
ورځو کي چه په آسانتیا کولي شي قرآن شریف دي ختموی . په شرح احیاء کي چ...

ليکلي دي چه دبزرگانو عادت مختلف وو. بعضو به په ورځ کي يو ختم کولو لکه امام شافعي رحمه الله درمضان نه علاوه . بعضو به دوه ختمونه کول په ورځ کي لکه هم امام شافعي رحمه الله په رمضان کې او خينو به دري ختمونه روزانه کول لکه مشهور تابعي سُليم بن عتر رحمه الله. او امام ابوحنيفة رحمه الله به په رمضان المبارك کې يوشپيته (۶۱) ختمونه کول. يو په ورځ کې يو په شپه کي او يو په تراويحو کي او ابن قدامه رحمه الله دحضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله نه نقل کړيدی چه ددې خه حد اومقدار نشته دا دلوستونکي دطبعيت په تازگۍ پورې موقوف دي

پس هر کله چه قريشو په قرآن کريم باندې ايمان رانه وړو رسول کريم صلی الله عليه وسلم ته يې وويل چه دغه تا له خانه جوړکړيدي نو دغه آيت کريمه الله تعالی خپل حبيب ته نازل کړو «اَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ بَل لاَ يُؤْمِنُونَ + فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِ إِن كَانُوا صَادِقِينَ» سورة طور. **ترجمه** «آيا دوئ وايي چه محمد صلی الله عليه وسلم دا قرآن له ځانه جوړکړيدې. بلکه دوئ ايمان نه راوړي (دوئ فصيحان. بليغان دي نو دقرآن په شان دي دوئ له خانه جوړکړي که دوئ رښتني وي». خو قريش عاجز شول بيا له دوئ نه مطالبه دلسو سورتونو وشوه. پدې آيت شريف سره «اَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ» هود.

**ترجمه** «آيا دوی وايي چه دا قرآن شريف محمد صلی الله عليه وسلم له ځانه جوړ کړی. ورته ووايه کچيرې تاسو رښتني يئ نو صرف لس سورتونه دقرآن په شان په فصاحت او بلاغت او په ښاسته نظم او ترتيب سره له ځانه جوړکړئ. او را وبلئ هغه ځوك چه ستاسو په وس کې وي بغير دالله تعالی نه نور خدايان چه تاسو سره مدد وکړي که تاسو رښتني يئ . او عرب ددې مقابلې نه هم عاجز شول بيا الله تعالی ددوی نه ديو سورة مطالبه وکړه پدې آيت کريمه سره «وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ» سورة بقره.

**ترجمه** «کچيرې تاسو په شك کې يئ دهغه کتاب نه چه ما په خپل بنده (رسول) نازل کړی دی پس تاسو دقرآن شريف په شان صرف يو سورت راوړئ او خپل مشران هم دامداد لپاره

راوړلو کچیرې سناسې ریښتني یئ». نو عرب دمقابلې نه عاجزه سول او چې سول ورو ستـه لدینـه الله تبارك وتعالى حقيقت داعجاز دقرآن شریف پـه دې آیتونو سره بیانوی «قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَـٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا» «سورة بني اسرائيل» . **ترجمه** «او ووايه ای محمده صلى الله عليه وسلم! خدا دي قسم وی خامخا کچیرې پیریان او بنی آدم اتفاق وکړی چه دقرآن شریف په مثل دکتاب جوړ کړی نو هرګز به داسې کتاب جوړ نکړی شی اګر ګډ دوی یو بل سره یوړه امداد وکړی» او قرآن حکیم به ترقیامته داسې دالله تعالی کتاب وی هیڅوك به هیڅکله پـه دی کې تحریف ونکړې شی، ددې دحفاظ ذمه داری پخپله الله تعالی اخستې ده. «إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ» . **ترجمه** «په تحقیق سره ما قرآن کریم نازل کړیدې او پـه تحقیق سره زه ددې حافظ او ساتونکې یم». په قرآن کریم کې اوه اویا زره نهه سوه او څلور دیرش «۷۷۹۳۴» کلمات دی او دقرآن حکیم ټولو وړو کې سورة سورة الکوثر دی پـه دې سورة الکوثر کې لس کلمات دی او س په ۷۷۹۳۴ چه پـه لس تقسیم کړې نو اوه زره اوه سوه او دری نوی «۷۷۹۳» حصې ترې دسورة الکوثر پـه اندازه جوړې شوی . مخالفینو ددې واړه سورة مقابله ونکړه . بلکه وی ئیلې «وَاللَّهِ مَا هَـٰذَا قَوْلُ الْبَشَرِ» نو دبل کتاب یا دزیاتې حصې مقابله به څنګه وکړی . بلکه نه ئی شی کولی. او علامه جلال الدین سیوطی رحمه الله داعجاز قرآن ډیر وجوهات ذکر کړیدی اوله دا چه قرآن مجید دخپل نظم اسلوب پـه صورت کې عجیب او غریب دی دا دعربو داسالیبو مطابق ندی او قرآن کریم چه پـه کوم ترتیب او نظم مشتمل دی او پـه هغه باندې چه دآیتونو مقاطع او دکلماتو فواصل دی او په عبارت کې دا وعاقو کوم نظام دې دا هرڅه بی نظیره او بی مثاله دی. دویمه دا چه قرآن کریم پـه داسې غیبی اخبارو مشتمل دی چه هغه وخت کې لا واقع شوی نه وو او چه کله واقع سول نو پـه هغه طریقه واقع سول څرنګه چه هغه خبر ورکړی وو. لکه چه ارشاد دی «لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ إِن شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ» دغه خبر دحدیبیې دواقعې څخه وروسته را څرګند شو. او بل ځای کې ارشاد دی چه «سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ

دغه آیت معجزه او خبر په واقعه د بدر کې خرګند شو. او همدا رنګه په سل ځایونو کې (وآیة لهم انا حملنا ذریتهم في الفلك المشحون. وخلقنا لهم من مثله ما یرکبون) دغه آیت ارشاد دی. دغه آیت اثر سل کاله وروسته ظاهر شو لکه طیاري. سټاري. موټرو غیره او ګڼ شمیر نور دي. اوس چه قرآن کریم محکمې د دې سپین ګیرې کړې ده. دریم دا چه د قرون ماضیه او شرایع سابقه خبرونه د دې قسم په وو چه هغو لره د اهل کتاب نه یوکس هم واقفه وو چه ملي شو خو سوري چه هغه د خپل عمر اکثره حصه د هغو په حاصلولو کې صرف نکړی. رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه خبرونه په هغه طریقه سره چه په کومه سره چه هغه منصوص وو په قرآن مجید کې بیان کړل. حال دا چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم بالکل امي وو. لوستل او لیکل یې د چانه زده کړي نه وو. وغیر ذلك من وجوه الاعجاز.

## د قرآن کریم فضائل د احادیثو په رڼاکې

۱- عن عثمان رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال خيركم من تعلم القرآن وعلمه (رواه البخاري) ترجمه: حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه نه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا ارشاد نقل شوی دی چه په تاسو ټولو کې بهتر هغه کس دی چه قرآن مجید یې زده کړی او بل ته یې ورزده کړي. یعنی بل ته یې وښئی. مطلب دا چه تر ټولو نه بهتر هغه څوک دی چه علم یې زده کړی او وښائي بل ته وښائي او څنګه چې د ټولو کې کلمه ده او اغلی ده. په دې صورت کې غوره والی او فضیلت هغه شو چه علم یې زده کړي یا یې نورو ته وښائي د دواړو لپاره مستقل خیر او بهتری ده. او کامله درجه دا ده چه مطلب او مقصد سره یې زده کړي او ادنی درجه یې دا ده چه فقط الفاظ یې زده کړي. د دې حدیث شریف مضمون دی چه چا د کلام پاک علم حاصل کړو هغه د ټولو علومو په خپل سینه کې جمع کړل. او په شرح احیاء کې د امام ابو عبد الرحمن سلمي نه نقل دي چه د خلکو فهرست کې یې هغه خلك هم ښکاري چه څوک د مسلمانانو بچو ته د قرآن مجید تعلیم ورکړي او هغه کسان هم چه تعلیم ورکوونکو ته په قرآن شریف زده کړي او چه لوی شي نو د هغه د تلاوت

اهتمام کوی. نومسلمانان باید په جمع سره دداسي مدرسو اومکتبونو انتظام وکړي چیرته چه ماشومانوته دقرآن شریف دښودلو بندوبست وی. اوزیات عمر والا اولویانوته یکار دی چه دوی هم دخپلو کارونو نه لږ لږ وخت بچت کوی اولږلږ دی قرآن کریم زده کوی. او په کور کې هم باید ښځو اوجینکو ته دقرآن کریم دزده کولو پروگرام جوړکړی کچیري خوك روند او معذور وو په سپاری کي لوستل ورته گران وو هغه دي په یادو څو سورتونه یاد کړي.

**دقران مجید یوڅو حقوق دی** ۱ـ یوخودا چه څومره قرآن کریم چې زده کړی وی هغه دی همیشه لولی چه هیر ترینه نشي. ۲ـ که چا دقرآن شریف دترجمی دزده کولو شوق وی نو ځان سره دي نه گوری ځکه چه پدي طریقه دغلط پوهیدو خطره وی دچا عالم نه دي سبق . سبق زده کړی. ۳ـ دقرآن کریم ډیر ادب یکار دی . قرآن کریم ته شا مه کوئ. قرآن کریم ته ښپې مه غزوئ دقرآن نه اوچت ځگ، مه کینئ . قرآن په ځمکه یافرش مه کیږدی. په رحیل یا تکیه باندي یی کیږدئ . او د اوداسه په حالت کي دي په ډیر احترام سره را اخلی او مخ په قبله دي کینی . اوپه لوستلو کي یی ډیره او تیزی مه کوئ . په ترتیب اوتجوید سره یی لولی . دتلاوت په وخت کي دژړا کوشش کوی اگرچه په تکلف سره هم وی. اوکه ریاء پکي راتله او یا بل چاته ضرر رسیدلو نوپټ دي لولی اوکه نه نو په زوره آواز سره دي لولی او دخوش آوازی کوشش دي کوی. ۴ـ کله چه دقرآن کریم تلاوت کوی نو پدي سوچ اوفکر دي کوی چه مونږ دالله تعالی سره خبري کووییا اوگوری چه ئما زړه کي څنگه نور پیدا کیږی. کچیري د رحمت آیت راشی نوزړه یی پري دخوشحالی نه ډك شی او کچیري دعذاب آیت راشي نو زړه یی ډیر ته وریږی. ۵ـ قرآن شریف که زوړ شی او وشلیږی نو په پاکه کپړه دستمال وغیره کي دي ونغاړی او په داسي ځای کي دي ښخ کړي چه خوك پري کرځي نه

۲ قال رسول الله صلى الله عليه وسلم نزل القرآن على خمسة اوجه حلال وحرام ومحكم ومتشابه وامثال فاحلوا الحلال وحرموا الحرام واعملوا بالمحكم وآمنوا بالمتشابه واعتبروا بالامثال مشكوة. عن ابي هريرة رضي الله تعالى عنه

**ترجمه** رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلي دي چه قرآن کریم په پنځو وجوهو سره نازل شویدي ۱ـ حلال. ۲ـ حرام. ۳ محکم ۴. متشابه. ۵ امثال. نو حلال حلال وګڼئ او حرام حرام وګرځوئ . په محکم د قرآن هغه حصه چه په هغې کې عقیدې او قانون وغیره تعلیم ورکړې شوي وي، عمل وکړئ او په متشابه د قرآن کریم هغه حصه چه هغې کې د آخرت خبرې بیان شوي وي لکه جنت، دوزخ، عرش، کرسی وغیره ایمان وساتئ .او د امثالو، د قوموشو د تباهی د عبرتناکو قصو نه عبرت حاصل کړئ،، . یعني دغه قرآن شریف د استفادې طریقه ده

۳ ,,عن واثلة رضی الله تعالی عنهٔ رفعهٔ : أعطیتُ مکان التوراة السبع و أعطیت مکان الزبور المئین وأعطیتُ مکان الانجیلِ المثانیَ وفضّلتُ بالمفصّل،، جمع الفوائد .

**ترجمه** ,,حضرت واثله رضی الله تعالی عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کړیدی چه ماته د تورات په بدل کې سبع طوال راکړې شویدی او د زبور په بدله کې مئین او د انجیل په بدله کې مثانی راکړې شویدی او مفصّل خاص دی ما سره . . د سورة بقرې نه تر سورة یونس پورې طوال دی یعنې اوږده سورتونه دی. د سورة یونس نه تر سورة شعراء پورې مئین دی. یعنی د سلو نه زیات او یا ورته قریب دی او د شعراء نه تر سورة حُجرات پورې سورتونو ته مثانی وای دا د سلو آیتونو نه کم دی او قصې پکې مکرر دی نو ځکه ورته مثاني وایی د سورت حجرات نه تر آخر د قرآن کریم پورې سورتونو ته مفصل وایی . د فصل معنی جدا کول دی نو دا سورتونه ځکه داسې دی اوپه منځ کې یې فاصله په بسم الله سره نزد په نزدی راغلې ده . بیا منفصل په درې قسمه دی : (۱) طوال مفصل یعنې اوږده سورتونه . دا د سورة حُجرات نه تر (والسماء ذات البُرُوج) پورې دی (۲) اوساط مفصل یعنی منځنی سورتونه دا د (والسماء ذات البروج) نه تر سورة (لَمْ یَکُنْ) پورې دی. (۳) قصار مفصل یعنی واړه سورتونه دا د سورت (لم یکن) نه تر آخر د قران مجید پورې دی. فقهاء کرام فرمایی چه ښه خبره داده چه د سحر او ماسپښین په لمانځه کې قصار مفصل ووېلې شي

خلاصه دا چه څومره آسمانی کتابونه رومبی نازل شویدی د هغې ټولو نظر مثل په

قرآن شریف کې موجود دې او ددینه علاوه مفصل په قرآن شریف کې مخصوص دی په نبی علیه الصلوة والسلام پورې، چه دهغې مثال په رومبنو کتابونو کې نه موندل کیږی

۴_ ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ اسْتَمَعَ إِلَى آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ تَعَالَى كُتِبَ لَهُ حَسَنَةٌ مُضَاعَفَةٌ وَمَنْ تَلَاهَا كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ)) (رواه احمد) . **ترجمه** ((حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کړیدی چه څوك یو آیت دقرآن شریف واوری دهغه لپاره دوچنده نیکی لیکلې کیږی او چه څوك یې تلاوت کوی دهغه دپاره دبه دقیامت په ورځ رڼا وی)) یعنی قرآن حکیم اوریدل ډیر ثواب لری حتی چه بعضی علماؤ اوریدل دلوستلو نه هم افضل بنودلی دی. عبدالله ابن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمایی چه یو وارې رسول الله صلی الله علیه وسلم په منبر تشریف فرماوو ارشاد یی اوفرمایلو چه ماته قرآن واوروه. ماعرض وکړو چه دا خو پخپله په تاسو نازل شویدې نو تاسوته به یی زه څنګه واوروم وې فرمایل چه زما زړه غواړی چه دبل چانه یې واوروم نو ددې نه وروسته ما تلاوت شروع کړو. کله چه ما هغوئ ته وکتل نو دهغوئ دمبارکو سترګونه اوښکې روانې شوې.

۵_ ((عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الَّذِي لَيْسَ فِي جَوْفِهِ شَيْءٌ مِنْ الْقُرْآنِ كَالْبَيْتِ الْخَرِبِ)) (رواه الترمذی) . **ترجمه** ((دحضرت عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت دې فرمایی چه دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دې چه دچاپه زړه کې دقرآن شریف څه حصه هم محفوظ نه وی هغه په شان دوران کور دې)). په فارسی کې یوه لطیفه ده چه ((خانه خالی را دیو میگیرد)) یعنی په خالی او وران کور باندې پیریان او دیوان قبضه کوی دغه شان چه کوم زړه دقرآن پاك نه خالی وی دشیطانانو په هغه زیاته قبضه وی. په یو روایت کې داهم دی چه خالی کور هغه دې چه په هغه کې دقرآن شریف تلاوت نه کیږی. او په یو روایت کې دی چه تاسو خلك الله جل جلاله طرفته رجوع او تقرب دهغه شی نه زیات په بل شی سره نشئ حاصلولې چه کوم پخپله دالله تعالی له طرفه راغلی دې یعنې قرآن پاك ((یا الله مونږ دقرآن مجید خادمان جوړ کړې او عمل راته ورباندې نصیب کړې. آمین. ثم آمین))

# دتصوف بُنیادی اصل ((دالله تعالی ذکر))

محترمو مسلمانانو : ذکردتصوف دبنیادی اصولوڅخه دي او دتمامو صوفیانو په ټولو طریقو کې شته. دچا دپاره چه دذکر دروازه خلاصه شوه هغه د پاره الله تعالی ته درسیدلو دروازه خلاصه شوه او څوك چه الله تعالی ته اورسیده هغه چه څه غواړی نو هغه به مومی. دالله تعالی سره دهیڅ شی کمې نشته او په ذکر سره مراقبه نصیب کیږی کومه چه انسان مرتبه احسان پورې رسوی. هم دا مرتبه ده چه په دې کې دالله تعالی عبادت داسې نصیب کیږی گویا چه الله تعالی وینې ، هم دا مرتبه دصوفیانو دمقصد مُنْتَها ((آخری نتیجه)) ده او زړه دزنگ څخه صفا کوی څنگه چه په حدیث شریف کې هم راغلی دی : (( په هرشی باندې دهغې مناسب خیرې میرې وی دزړه خیرې او زنگ خواهشات اوغفلت دې دا ذکر دهغې دپاره دصفایی کار ورکوی)) ذکر دالله تعالی سره ددوستی جرړه ده او دذکر نه غفلت هغه سره ددوشمنی جرړه ده دذکر کثرت دنفاق نه دخلاصیدو اطمینان ((سکون)) دې ځکه چه الله تعالی دمنافقانو صفت داسې بیان کړیدې ((وَلاَ یَذْکُرُونَ اللّهَ إِلاَّ قَلِیلاً)). **ترجمه** : ((اونه ذکر کوی دوئ الله تعالی لره مگر لږ شانته)). کعب احُبار رضی الله تعالی عنه نه نقل کړې شویدی چه څوك په کثرت سره دالله تعالی ذکر کوی هغه دنفاق نه بری ((آزاد)) دې او ذکر شیطان دفع کوی اودهغه قوت ماتوی دزړه نه فکر اوغم لرې کوی بدن او زړه ته قوت ورکوی مخ اوزړه روښانه کوی دالله تعالی جل جلاله دخوشحالی سبب دې او دالله تعالی سره محبت پیدا کوی اوهم دا محبت داسلام روح اوذدین مرکزدې او دسعادت ((نیك بختی)) او دخلاصی مدار دې څنگه چه لوستل او تکرار دعلم دروازه ده همدا رنگه دالله تعالی ذکر دهغه دمحبت دروازه ده.

خلاصه دا چه څومره کیدې شی دالله تعالی ذکر کول ښکار دی په قرآن مجید او احادیثو کې ددې حکم هم دې او فضیلت اوثواب هم او څه سخت کار هم ندې نو په داسې آسان کار کې ناراستی اوبې پروایی کول نافرمانی او غټ ثواب بر بادول

بیا دالله تعالی په یادولو او ذکر او خپل غم نقصان کولی دی. دا څومره بده خبره ده. بیا دالله تعالی په یادولو او ذکر کې نه دڅه شمار پابندي شته او نه د وخت او نه دتسبیحو ساتلو نه دچیغو وهلو نه په کې نه دڅه شمار پابندي شته نه قبلې ته مخ کولو نه دخاص ځای کیناستو نه په اختیار سره نه داودس پابندي شته نه قبلې ته مخ کولو نه دخاص ځای کیناستو نه په یو ځای کیناستو. هرقسم آزادي او اختیار دي نو بیا ورکې څه شی گران شول؟

سره ددې چه تولو نه آسان عبادت دی بیا دټولو عبادتونو نه بهتر دي ځکه چه ژبه خوزول دبدن دټولو اندامونو خوزولو نه آسانه ده دالله تعالی ذکر کې کچیرې هیڅ یو آیت یا حدیث نبوي صلی الله علیه وسلم هم نوې راغلي بیا هم دهغې مُنعم حقیقي ذکر داسې وو چه بنده ته به هیڅ یو وخت کې هم ددینه غافله کیدل پکار ندی چه دهغې پاک ذات انعام او احسان هروخت دو مره ډیري دي چه نه دهغې څه انتهاء شته او نه څه مثال. دداسې منعم ذکر یا دهغه شکر. دهغه احسان مندې فطري (پیدایشي) شی دی خو دترغیب او تحریض لپاره دقرآن کریم یو څو آیتونه او ودنبی اکرم صلی الله علیه وسلم یو څو احادیث ذکر کړو. او همدا رنگه دبزرگانو یو څو اقوال او احوال چه ددې پاک ذکر نه ډاک دی هغه هم ذکر کړو

**اول دلته مونږ دذکر په باره کې یو څو ایتونه او احادیث ذکر کوو**

۱ (یا أیها الذین آمنوا اذکروا الله ذکرا کثیرا) (سورة احزاب). **ترجمه** (ای ایماندارو دالله تعالی ذکر ډیر ډیر کوئ) یعنې په شپه کې. په ورځ کې په ځنگل کې . په دریاب کې. په سفر وغیره په هر حالت کې ذکر کوئ. او ابن کثیر رحمه الله دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه نقل کړیدی هغه فرمایي چه الله تعالی هیڅ یو شې په بندگانو باندې داسې فرض کړې ندې چه دهغې یې څه حد او اندازه مقرر کړې نوی او بیا یې دهغې عذر قبول کړې نوی سوا د الله تعالی دذکر نه . چه نه یې ددې لپاره څه حد مقرر کړیدې او نه یې دعقل پاتې کیدو پورې څوک معذور قرار کړیدی ځکه چه په تیر ارشاد مبارک کې ذکرشول

۲ (ولذکر الله اکبر) (سورة عنکبوت) **ترجمه** (اود الله تعالی ذکر ډیر لوئ شی دې) یعنې دایې عام حالت اودهروخت په اعتبار سره اوفرمایل او که نه نو دوقتي

ضرورت په اعتبار سره صدقه . جهاد وغیره دټولونه غوره کیږي. په همدې وجه بعضو احادیثو کې ددې شیانو فضیلت هم بیان شویدې لکه چه ارشاد دې چه لږ ساعت دالله تعالی په لارکې اودریدل په کور کې داویا ،۷۰، کالو لمونځونو نه غوره دی .حال دادي چه لمونځ بالاتفاق دټولونه افضل ترین عبادت دې خو دکافرانو دحملې په وخت کې جهاد ددینه ډیر زیات غوره کیږي چه ددې ضرورتونه وقتی دی اودالله تعالی ذکر همیشنې شی دې اودټولونه زیات اهم اوافضل دې. نو په احادیثو کې اشکال نشته او صاحب دمجالس الابرار وایی چه په دې حدیث کې دالله تعالی ذکریې دصدقې اوجهاد اوټولو عبادتونو څخه څکه افضل اوفرمایلو چه اصل مقصود دالله تعالی ذکر دې اوټول عبادتونه ددې ذریعه اوآله ،وسیله، دی . او ذکر هم په دوه قسمه دې یوزبانی ،دژبې ذکر ، اودویم قلبی ،دزړه ذکر، چه ژبې نه هم غوره دې اودا مراقبه او دزړه سوچ دې اوهمدا مراد دی ددې حدیث نه کوم کې چه راغلی دی چه دیوساعت سوچ اوفکرکول داویاو ،۷۰، کالو عبادت نه افضل اوغوره دی حتی په یوروایت کې دی چه دالله تعالی ذکر دالله تعالی په لارد کې خرچ کولونه اوه لکهه حصې زیاتیږی.

۳ـ ،،وَلِلَّهِ الأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا،، ،اعراف، . **ترجمه** ،،اودالله تعالی لپاره ډیر ښه ښه نومونه پس په هغې سره الله تعالی اوبلئ،،. اودحضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی دالله پاك یوکم سل،۹۹، نومونه دی څوك چه دا یاد کړی جنت ته به ځی ،،بخاری،، . هغه داکثر قرآن شریفونو په اوله صفحه کې لیکلی وی. یا یو کتاب دې چه دشرح اسماء الحسنی په نوم یادیږی هغه مطالعه کړئ. دلته مونږ په همدې آیتونو اکتفاء کوو

**اوس به دذکردفضیلت په باره کې یو څو احادیث ذکر کړو**

۱ـ ،،عَنْ أَسْمَاءَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا بِنْتِ يَزِيدَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اسْمُ اللهِ الأَعْظَمُ فِي هَاتَيْنِ الآيَتَيْنِ وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ وفاتحة سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ الم ، اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ،، ،رواه ابوداؤد، . **ترجمه** دحضرت اسماء

بنت یزید رضی الله تعالی عنها نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم
اوفرمایل چه. دېولونه لوئ نوم (کوم چه په اسم اعظم سره عام طور مشهوردې) په دې
دوه آیتونو کې دې (پدې شرط چه په اخلاص سره ولوستلې شی) ((وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَا
إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ)) (سورة البقره. رکوع ۱۹) او ((الم ، اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ
الْقَيُّومُ)) (سورة آل عمران. رکوع ۱) ، په ډېرو احادیثو کې راغلی دی چه کومه دعا
وروسته داسم اعظم څخه وغوښتلې شی هغه قبلیږی. البته داسم اعظم په تعین
(خاص والی) کې مختلف روایات راغلی دی او دالله تعالی دا عادت مبارك دې چه
دمهم شی په پېژوالی سره اختلاف پیدا کوی دمصلحت لپاره لکه . شب قدراو دجمعې
هغه ساعت چه دعاء پکې قبلیږی. ددی دپاره چه مسلمانان دهمیشه دپاره په عبادت
کې مصروف وی. او همدارنگه اسم اعظم هم دې . بلکه ددې کائناتو دنظام ددروست
ساتلو لپاره ضروری دی چه دبندگانو په لاس کې څه داسې اختیار ورنکړې شی چه
هغوئ بیا څه غواړی کولې یې شی . دکوم اسم اعظم چه دا خصوصیت دې چه ددې په
ذریعه کومه دعاء وغوښتلې شی هغه قبلیږی دحکمت خداوندی تقاضا هم داده چه
هغه پټ اوساتلې شی . کچیرې کم عقل سړی ته چاره ورکړې شی نو هغه ته دهلاکت
سامان ورکول ندی نوڅه دی ؟ البته کچیرې عاقل ، صبرناك اومتحمل وی هغه ته
معلوم شی نو خیر دې ،لکه چه دیوبزرگ قیصه یې لیکلی ده چه هغه ته اسم اعظم
یادوو . یو فقیر یې په خدمت کې حاضرشو ورته یې عرض وکړو چه ماته هم اسم اعظم
اوښایه . هغه بزرگ ورته اوفرمایل چه ښه ده ته فلانی ځای ته لاړشه او هلته کېنه او
چه څه واقعه هلته پیښه شی هغه بیا ماته بیان کړه . فقیر هغه ځای ته لاړو وې لیدل
چه یو زوړ ((بوډا)) سړی په خره باندې لرگی بار کړیدی او راوړی یې مخکې ورته یو
سپاهی راغې چه هغه دغه (بوډا) اوواهه او لرگی یې ترینه واخستل . فقیرته پدې
سپاهی ډېره غصه راغله. کله چه واپس راغی بزرگ ته یې قصه بیان کړه . بزرگ ورته
اوویل که چیرې تاته اسم اعظم یاد وای نو تا به دهغه سره څه کړی وو . هغه فقیر ورته
وویل کچیرې ماته اسم اعظم یاد وای نومابه دغه سپاهی ته ښیرې کړې وې . بزرگ

ورته اوویل چه ما ددغه بوډا سپين ګيرى نه اسم اعظم ياد کړيدي . اوس ته اندازه وکړه چه يوبوډا څومره صبر او ضبط لرلو چه سره ددومره ظلم نه يى هغه سپاهى ته ښيري ونکړې ترڅو چه دومره ضبط اوصبر چا سره نه وى ترهغې پورې اسم اعظم ورته نشى ښودلې . علامه شامى رحمه الله دامام اعظم ابو حنيفة رحمه الله نه نقل کړيدى چه اسم اعظم لفظ د ((الله)) دې اوليکلى يى دى چه همدا قول دعلامه طحاوى رحمه الله دې . اوډيرو عالمانونه نقل کړې شويدې او اکثرو عارفينو (لويوصوفيانو) هم دا تحقيق دې . پدې وجه ددوئ په نزد هم ددې پاکى نامې (الله) ذکر ډير کيږى. دحضرت شيخ عبدالقادر جيلانى رحمه الله نه هم دانقل کړې شويدى . فرمايى چه اسم اعظم لفظ د ((الله)) دې په شرط ددې چه نه دا پاك نوم واخلې نو ستا په زړه کې دهغه نه سيوا نور هيڅ نوى. ويلې شويدى چه قرآن شريف کې هم ذا پاك نوم دومره ډير ذکر شويدې چه څه حد او حساب يى نشته . تعداد يى دوه زره درې سوه او شپيته (۲۳۶۰) ځله راوړل شويدې. اودا لفظ بغير دالله پاك نه بل چاته ندې ويلې شوې. دا لفظ چه دکومې مادې نه جوړ شويدې دهغې دوه معناګانې دى ۱_ محبت سره چاته ورمخکې کيدل. ۲_ او دخطرونونه ديچ کيدو دپاره دچا پناه اخستل. نو الله تعالى زمونږ (اله) دې دهغې تقاضا داده چه زمونږ زړه دې دهغه دمحبت نه معمور وى. اوزمونږ په زړه کې دې دهغه څخه سيوا دبل چا محبت نه وى.زمونږ دجسم اوجان ټول قوتونه او صلاحيتونه دې دهغه لپاره وقف وى صرف دهغه عبادت اوبندګى دې وى . صرف دهغه مخکې دې ښکته کيدل وى. اوصرف هغه ته دې دنذر اوقربانى پيش کيدل وى. صرف په هغه دې اعتماد او توکل وى اوصرف دهغه دکار دپاره دې دځان وقف کول وى. دالله تعالى نه بغير دې دبل چانه په خپلو مشکلاتوك کې مددنه غواړى . دا دالله تعالى د (اله) کيدو تقاضا ده اوبالکل څرګنده تقاضا ده او بله خبره دا چه دمخکې دوو آيتونو يوه خاصه دا هم ده. کچيرې بچې ويريږى يا پرې دنظر لګيدو خطره وى نو دا آيتونه دې دهغې دپاره وليکلى شى.

۲_ ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالى عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَلِمَتَانِ

خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيمِ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ)) (متفق عليه)، **ترجمه**: دحضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه نه روايت دي فرمايي چه دنبي اكرم صلى الله عليه وسلم ارشاد دي فرمايي: دوه كليمې داسې دي چه په ژبه ډيرې سپكې (يعني آسانې) دى او په تله كې ډيرې درنې دى او دالله تعالى ډيرې خوښې دى هغه: (سبحان الله وبحمده و سبحان الله العظيم) دى. يعني دومره آسانې دى چه په وينا كې يى څه وخت نه لګيږى اونه يى په يادولو كې څه تكليف شته. اوامام بخارى رحمه الله خپل كتاب پدې حديث شريف باندې ختم كړيدې. په يو بل حديث شريف كې راغلى دى چه څوك سحر او مابښام يوه يوه تسبيح يعنې سل سل وارې سبحان الله وبحمده ووايى دهغه ګناهونه به معاف كړې شى، اګر كه دسمندر دځګونونه هم زيات وى، په يو بل حديث شريف كې راغلى دى چه ((سُبْحَانَ اللّٰهِ ،اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ،لَا اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرْ))سره ګناهونه داسې رژيږى څنګه چه په (يخنى كې) دونې نه پاڼې تويږى)) (مشكوٰة).

۳ـ ((عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِيتُ إِبْرَاهِيمَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَقْرِئْ أُمَّتَكَ مِنِّي السَّلَامَ وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ الْجَنَّةَ طَيِّبَةُ التُّرْبَةِ عَذْبَةُ الْمَاءِ وَأَنَّهَا قِيعَانٌ وَأَنَّ غِرَاسَهَا سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ ــ وَزَادَ ــ لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلاَّ بِاللّٰهِ)) وفى رواية عن ابن عباس رضى الله تعالى عنه مرفوعًا ((مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرْ غُرِسَ لَهُ بِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ شَجَرَةٌ فِى الْجَنَّةِ)) (رواه الطبرانى)، ((عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الْجَنَّةِ)) (رواه الترمذى).

دنبى اكرم صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارك دې چه دمعراج په شپه كله چه زما ملاقات دحضرت ابراهيم عليه السلام سره وشو، نوهغوئ اوفرمايل: اى محمده (صلى الله عليه وسلم) خپل اُمت ته زما سلام اووايه اودا ورته اووايه چه دجنت ډيره ښه

پاکیزه خاوره ده اوبهترینې خوږې اوبه یې دي خو هغه بالکل هموار میدان دي. اودهغې بعضې بوټې او ونې ((سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ)) دي . څومره چه دچا زړه غواړي ونې دې ولګوی، په یوبل حدیث کې ددې نه وروسته الفاظ ((لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ)) هم راغلی دی . په یوبل حدیث کې دی چه ددې کلمونه دهرې کلمې په بدله کې یوه ونه په جنت کې لګولې شی. په یوبل حدیث شریف کې دی چه څوك ((سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيْمِ وَبِحَمْدِهِ)) ووایی نو دده دپاره یوه ونه په جنت کې لګولې شی علماء کرامو لیکلی دی چه چاته دا حدیث ورسیږی هغه ته پکار دی چه دحضرت ابراهیم علیه السلام دسلام په جواب کې (وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ) ووایی . اوبل دا چه دجنت خاوره بهترینه ده او اوبه یې خوږې دی . ددې مطلب خو یا دادې چه جنت ډیر بهترین ځای دې . دخاورې متعلق یې په احادیثو کې راغلی دی چه دمشکو او دزغفرانو دی او اوبه یې ډیرې خوندناکې دی، نو هرڅوك داسې مسکن غواړی . او دتفریح وغیره دپاره دباغ وغیره لګولو اسباب موجود دی نوباید چه څوك دغه اسباب پرې نږدی، یایی مطلب دادې چه دکوم ځای خاوره او اوبه ښې وی دهغې پیدا وار هم ښه وی . صرف یو ځل چه تخم واچوی باقی ټول هرڅه پخپله کیږی نو په یو وارې (سبحان الله) ویلو سره یوه ونه به هلته اولګی. اوبل دا چه پدې حدیث شریف کې جنت یو میدان معرفی شویدې او په نورو احادیثو کې باغ معرفی شویدې . نو وجه ددفعې یې بعضې علماؤ دا ښودلې ده چه داصل په اعتبار سره هغه میدان دې خو په کوم حالت کې چه هغه نیك عملونه نیکانو خلکو ته ورکولې شی دهغوئ دعملونو موافق به په هغې کې باغ او ونې وغیره موجودې وی . او مولانارشید احمد ګنګوهی صاحب رحمه الله ارشاد کوم چه په کوکب دری کې نقل شویدې دادې چه دجنت ټولې ونې ضیرې (زوغالی) په شان یو ځای جمع دی هرڅوك چه څومره قدرې دخیر عملونه کوی هغه هومره دهغه دحصې په ځمکه کې ونې لګی اولوییږی اوترقی کوی . الله پاك جل جلاله دې مونږ دذاکرینو له جملې څخه حساب کړی، آمین یارب العالمین. ځکه چه په اعمال صالحه کې ذکر الهی په ټولو اعمالو کې افضل دې او دټول شریعت روح

دې هرعمل دذکر دوجهې نه قبلیږي . که په لمانځه کې ذکر خداوندی نوی نو دا لمونځ بې روحه دې . بیا دا عبادت ندې بلکه یو عادت او ورزش دې . که په روژه کې ذکر نه وی نودا هسې لوږه او تنده ده . که په حج کې ذکر نوی نو دا حج هم بې روحه او هسې سیر او سیاحت دې . ددنیا په هر یو شی کې زندگی دذکر الهی په وجه سره دوی اوبه دی . که ونې دی ترڅو چه دویٔ دالله تعالی ذکر کوی نو په دویٔ کې حیات موجود دې کله هم چه دویٔ دالله تعالی ذکر پریږدی نو اوبه وډریږی او خرابې شی . ونه زیړه شی او وچه شی . ددغه ذکر کولو په وجه الله تعالی ذاکر لره دعذاب قبر نه نجات ورکوی «قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ماعمل آدمی عملاً انجی له من عذاب القبر من ذکر الله» . او په ورځ دقیامت به دذاکرینو مخونه چمک کوی . اعلان به وشی چه اولو الالباب (خاوندان دعقل) چیرته دی پوښتنه به اوشی چه اولو الالباب څوک دی، جواب به ورکړې شی چه دا هغه کسان دی چه په هر حالت کې یی دالله تعالی ذکر کولو. «الله تعالی دې مونږ دذاکرینو په ډله کې شمارکړی آمین یارب العالمین»

# اسلامی همدردی «انفاق فی سبیل الله»

محترمو مسلمانانو ورونو : مالدار خلك دې صرف په زکوٰة ورکولو نه بې فکره کیږی چه اوس زمونږ په ذمه بل څه کار پاتې نه شو . زکوٰة خویو ترلې حق دې ددې نه علاوه هم ډیر داسې کارونه دی چه پکې مال خرچ کول او که چا سره مال نوی دلاس څپو امداد کول ضروری دی. باقی دا چه په کومه درجه کې ضروری دی دا په موقع باندې محمول دی لکه سائل او قرض خواه تش نه پریښودل. دعام استعمال شیان دچانه منع کول او اُوبه . مالګه او واړه واړه شیان غوښتونکی ته هسې ورکول . لکه دیو حدیث شریف مضمون دې چه دهر مسلمان په ذمه څه ناڅه صدقه ضروری ده، چا عرض وکړو یارسول الله صلی الله علیه وسلم که چا سره مال نه وی؟ نو حضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : څه دلاس محنت دې وکړی او خپل ضرورت دې هم پوره

کړی او صدقه دې هم ورکړی . چا عرض وکړو که معذور وی او دهغې په وجه محنت نشی کولې . حضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمایل که دچا پریشان اوحاجتمند حاجت پوره کولې شی دا نه په کار دی چه امداد یې وکړی (داهم صدقه ده) . چا عرض وکړو که دا هم نشی کولې ؟ نو حضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چاته دې ددین ده نه خبره اوښایی . چا عرض وکړو که داهم ونکړی شی . حضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چاته دې تکلیف نه رسوی (دهغه دپاره دا هم صدقه ده) (متفق علیه)

دې ټولو کارونو ته صدقه ځکه وایی چه څنګه په صدقه خلکو ته فائده رسیږی په دې کارونو هم مخلوق ته فائده رسیږی کنې دصدقې اصلی معنی خو دالله تعالی دپاره څه مال خرچ کول دی او نقصان نه رسول هم په نفع کې شمیرل څومره غټ رحمت دې. خلاصه دا چه الله پاك په دنیا کې چاته مال او دولت ورکړیدې او څوك یې مسکینان اومحتاج پیدا کړیدی. البته دهر چا لپاره امتحان دې چه مسکین په خپله مسکینی شاکر اوصابر وی دهغه لپاره ډیر اجر دې اومالدار چه په خپل مال شاکر وی نو دا دده دپاره هم داجر سبب دې اوبل دا چه دې مالدار سره پدې مال کې دمحتاجانو حق دې نودا پرې لازم دی چه د مسکین په حال به خیال ساتی

**نو اوس مونږ یوڅو ایتونه پدې هکله ذکر کوو**

۱ـ ((مَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَن يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ)) (سورة البقره) . **ترجمه** کوم خلق چه دالله تعالی په لاره کې (یعنې دخیر په کارونو کې) خپل مالونه خرچ کوی دهغوئ مثال داسې دې لکه څنګه چه یوه دانه وی چه په هغې کې اوه (۷) وګی زرغون وی په هریو وګی کې سل دانې وی (نو دیوې دانې نه اوه سوه دانې پیداشی) اوالله تعالی یې چاته چه وغواړی زیات هم ورکوی. الله تعالی دلوئ وسعت (فراخی) خاوند دې (هغه سره دهیڅ شی کمې نشته) اوښه خبردار دې (چه دخرچ کوونکی دنیت حال هم هغه ته ښه معلوم دې)

په یوحدیث شریف کې دی چه څوك یوه کهجوره دالله تعالی په لاره کې خرچ کوی

الله تعالی دهغې ثواب دومره زیات ورکوی چه هغه دأحد دغره نه لوئ شی ، دأحد غر دمدینې منورې ډیر لوئ غر دې ، پدې حالتکې داوه سوو نه ډیر زیات اجر او ثواب کیږی ، په یوبل حدیث شریف کې راغلی دی چه کله دغه آیت (اوه سوه چنده والا) آیت کریمه نازل شو نو رسول الله صلی الله علیه دالله تعالی نه دثواب دزیاتوالی دعاء وکړه ، نو الله تعالی بیا دا آیت کریمه نازل کړو ((إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ)) (سورة زمر) . یعنې صبر کوونکو ته به دهغوئ ثواب پوره ، پوره ورکړې شی چه هغه به بې اندازه اوبې شمیره وی ، اوپه یوبل حدیث شریف کې دی چه الله تعالی دډوډئ په یوه نمړئ (قپه) یا په یوموټې دکهجوری یا په بل څه داسی معمولی شی چه په هغې سره د مسکین ضرورت پوره کیږی درې کسان په جنت کې داخلوی ، یو دکور خاوند چاچه دصدقې وزکولو حکم وکړو ، دویم هغه بی بی چاچه ډوډئ وغیره پخه کړه . دریم هغه خادم چا چه فقیرته ورسوله ، ددې حدیث بیانولونه وروسته یې ارشاد اوفرمایلو : زمونږ ټول تعریفونه هغه الله تعالی لره دی چاچه زمونږ خدمت کوونکی هم ثواب کې هیرنکړل ، او همدا رنګه په یوبل حدیث شریف کې راغلی دی چه عملونه په شپږ قسمه دی : او بنی آدمان په څلور قسمه دی ، دعملونو شپږ قسمونه دادی چه : دوه عملونه خو واجب کوونکی دی ، اودوه عملونه برابر په برابر دی ، او یوعمل لس چنده ثواب لری ، اویوعمل اوه سوه چنده ثواب لری ، کوم چه واجب کوونکی دی هغه خو دادی چه څوك پداسې حالت کی مړشی چه شرك نکوی ، هغه به جنت کې داخلیږی او څوك چه په داسې حالت کې مړشی چه شرك کوی هغه به دوزخ کې داخلیږی . برابر په برابر عملونه دادی چه څوك دیوې نیکی اراده وکړی اوعمل ونکړی هغه ته یو ثواب میلاویږی اوچه څوك ګناه وکړی هغه ته یوه بدله میلاویږی او چه څوك یوه نیکی وکړی هغه ته لس چنده ثواب ورکول کیږی اوچه څوك دالله تعالی په لاره کې خرچ کوی هغه ته په هر یوخرچ اوه سوه چنده ثواب ورکولې کیږی.

اوبنی آدمان چه په څلور قسمه دی هغه دادی : ۱ـ یوهغه خلق دی چه په هغوئ باندې په دنیا کې هم وسعت (فراخی) وی او په آخرت کې هم ، ۲ـ دویم هغه دی چه په

هغوئ باندې په دنياكې وسعت وى اوپه آخرت كې تنگسيا وى، ۳ـ دريم هغه دى چه په هغوئ باندې په دنيا كې تنگسيا وى او په آخرت كې وسعت وى، ۴ـ او څلورم قسم هغه دى چه په هغوئ باندې په دنيا او آخرت دواړو كې تنگسياوى. (كنزالعمال).

۲ـ ((لَن تَنَالُواْ الْبِرَّ حَتَّى تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ)) (سورة آل عمران). **ترجمه**: ((اى مسلمانانو! تاسو (كامله) نيكى حاصلولې نشئ ترڅوچه هغه شې خرچ نكړئ كوم چه تاسوته ډير محبوب (خوښ) وى))، په يوروايت كې دى چه الله پاك نه قبلوى خيرات مگر حلال. اوسفيان ثورى رحمه الله فرمايى چاچه خيرات كړل حرام په اطاعت دالله تعالى كې داسې دى لكه چه پاكه كړى جامه په بولو (متيازو) سره اوجامه نه پاكيږى مگر په اوبو سره اوگناه نشى بښلې مگر په حلال مال سره، په يو روايت كې دى چه حضرت ابن عمر رضى الله تعالى عنه به شكره په بيعه واخستله اوپه غريبانو به يې تقسيم كړه، خپل خادم ورته عرض وكړو كچيرې دشكرې په ځاى ډوډئ وركړى نو غريبانوته پدې كې ډيره فائده ده، هغه اوفرمايل ستاخبره صحيح ده زما هم دا خيال دې خو دالله تعالى ارشاد دې: ((لَن تَنَالُواْ الْبِرَّ حَتَّى تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ)) او زما شكره (خوړ شې) زيات خوښ دې (درمنثور)، او حضرت انس رضى الله تعالى عنه فرمايى چه په انصارو كې دټولونه زياتې دكهجورو ونې دحضرت ابوطلحه رضى الله تعالى عنه وې اودهغه يوباغ وو چه دهغې نوم بَيْرَحَاء وو، هغه باغ دده ډير خوښ وو، دا باغ مسجد نبوى صلى الله عيله وسلم ته مخامخ وو، خوږ نبى صلى الله عليه وسلم به اكثر دې باغ ته تشريف وړو اودهغې اوبه به يې څښلې چه ډيرې خوندورې اوبه يى وې، كله چه دا آيت شريف نازل شو، نو حضرت ابوطلحه رضى الله تعالى عنه دنبى اكرم صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضرشو اوعرض يى وكړو چه اى دالله تعالى رسوله (صلى الله عليه وسلم) الله تعالى دغه ارشاد فرمايى چه: ((لَن تَنَالُواْ الْبِرَّ حَتَّى تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ)) او ماته په ټولو شيانو كې بَيْرحاء زيات خوښ دې زه دا دالله تعالى لپاره صدقه (خيرات) كوم او ددې داجر اوثواب دالله تعالى نه أميد لرم، تاسو يى چرته مناسب گنئ نو مصرف يى كړئ، نبى اكرم صلى الله عليه وسلم ارشاد

اوفرمايلو : واه . واه . ډير دګټې مال دی زه دا مناسب ګنم چه دا په خپلو رشته دارانو تقسيم کړه . حضرت ابو طلحه رضی الله تعالی عنه عرض وکړو چه ډيره ښه ده اوهغه يې دخپلوتره ځامنو اونورو رشته دارانو ترمينځ تقسيم کړو
په يو روايت کې دی چه حضرت ابو طلحه رضی الله تعالی عنه عرض وکړو چه ای دالله تعالی رسوله ځما باغ چه ددومره ماليّت دې هغه صدقه دې اوکچيرې ما ددې طاقت لرلې شوې چه چاته ددې باغ دصدقه کولو بالکل معلومات ونشي نو داسې به مې کړی وو خو باغ يو داسې شې دې چه پټ نشي پاتې کيدې. يعني دې حضراتو دالله تعالی اودهغه درسول (صلی الله عليه وسلم) په ظاهری الفاظو عمل کولو به يې اکثر کوشش کولو ددې ډير مثالونه په احاديثو کې موجود دی. دا دمحبت انتهاء ده. خودمحبوب (صلی الله عليه وسلم) دخولې مبارکې نه وتلې شوې خبرې باندې عمل کول دی خواه افضل بل شی هم وی په نزد دنورو

۳ـ ((الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لاَ يُتْبِعُونَ مَا أَنفَقُواْ مَنًّا وَلاَ أَذًى لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ)) (سورة بقره) . **ترجمه** : ((کوم خلق چه خپل مال دالله تعالی په لاره کې خرچ کوی بيانه خو (چانه يې چه ورکړی وی په هغه باندې) احسان وريادوی اونه (څه بل قسمه) هغه ته تکليف رسوی نوهغوئ دپاره ددوئ رب څخه دهغې ثواب دې او (دقيامت په ورځ) به دوئ ته نه خو څه قسمه ويره وی اونه به څه دوئ غمژن وی)) پدې مضمون کې دالله تعالی په لاره کې دخرچ کولو ترغيب او داحسان وريادولو باندې تنبيه مقصود دې چه رياء سره صدقات بربادېږی او امام غزالی رحمه الله په احياء العلوم کتاب کې دصدقې په آدابو کې ليکلی دی چه داه يه (مَنّ) او (آذی) سره مه بربادوئ. دمَنّ او د اذی په تفسير کې دعلماؤ څو قولونه نقل کړی دی : بعضې علماؤ ليکلی دی چه مَنّ دادې چه پخپله هغه ته دهغې تذکره (بيان) وکړی. او آذیٰ دادې چه دهغې نورو خلکو ته اظهار (ښکاره) وکړی. بعضو فرمايلی دی چه : مَنّ دادې چه ددې اعطاء (ورکولو) په بدله کې دهغه نه څه بيګار واخلی. او آذیٰ دادې چه هغه ته پيغور ورکړي. بعضو فرمايلی دی چه مَنّ دادې چه

ودغي ورکړي په وجه خپل لوئ والي په هغه ظاهروي . او اذئ دادي چه هغه دسوال په وجه بې ربې . امام غزالي رحمه الله فرمايي چه اصل مَنّ دادي چه په خپل زړه کې خپل احسان په هغه باندې گڼي هم پدې وجه بيا سَنَی خبرې پيدا کيږي حال دادې چه ددغې فقير احسان په خپل ځان باندې گڼل پکار دي چه هغه دالله تعالى حق دده نه قبول کړو، اوبايي برئ الذّمه کړو (يعني غاړه يې خلاصه کړه) او دده دمال دپاکوالي سبب جوړ شو. او ددوزخ دعذاب نه يې خلاصې ورکړو کوم چه دزکوة دنه ورکولو په وجه دده نه رسيدلو ((احياء العلوم)).

اويو مشهرو محدث امام شعبي رحمه الله فرمايي چه ځوك خپل ځان دثواب لپاره لدينه زيات محتاج نه گڼي څومره چه فقير لره دخپلې صدقې محتاج گڼي هغه خپله صدقه ضائع کړه اوهغه صدقه به دده پر مخ ور وه ويشتلې شي (احياء العلوم)

**اوس پدې هکله يوځو احاديث ذکر کوو** ۱ـ ((عَنْ عَلِي رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَادِرُوْ بِالصَّدَقَةِ فَاِنَّ الْبَلاَءَ لاَيَتَخَطَّاهَا)) (رواه رزين مشکوة). **ترجمه** ((درسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد دي چه صدقه کولو کې بيړه (تلوار) کوی ځکه چه بلاء په صدقه وردانگې نه شي)). يعني کچيرې څه بلا او مصيبت راتلونکې وی نو هغه دصدقې دوجهې نه وروسته پاتې کيږي. په يو حديث شريف کې راغلي دي چه صدقه کول اويا (۷۰) بلاگانې منع کوی چه په هغې کې کم نه کم درجه دجُذام او دبرص بيماری ده ((کنزالعمال)). په يو بل حديث شريف کې دي چه سحر وختي صدقه ورکوئ ځکه چه بلاء دصدقې نه مخکې نشي تلې ((ترغيب)). په يو بل حديث شريف کې راغلي دي چه صدقه دالله تعالى جل جلاله غصه لرې کوی او ناکاره مرگ لرې کوی (مشکوة). علماؤ ليکلي دي چه صدقه مسلمان لره دمرگ په وخت کې دشيطان دوسوسې نه محفوظ ساتي او دمرض دسختی له وجهی نه دناشکری دالفاظو دوتلو نه حفاظت کوی اوناگهانی مرگ منع کوی. غرض دا چه دښې خاتمې مددگارشې دي.

۲ـ ((رُوِیَ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ الصَّدَقَةُ اِذَا خَرَجَتْ مِنْ يَدِ صَاحِبِهَا

تَكَلَّمَتْ بِخَمْسِ كَلِمَاتٍ : الْاُوْلٰى كُنْتُ صَغِيْرَةً فَكَبَّرْتَنِيْ، وَالثَّانِيَةُ كُنْتُ حَارِسِيْ فَالْآنَ صِرْتُ حَارِسَكَ ، وَالثَّالِثَةُ كُنْتُ عَدُوًّا فَاَحْبَبْتَنِيْ ، وَالرَّابِعَةُ كُنْتُ فَانِيَةً فَاَبْقَيْتَنِيْ ، وَالْخَامِسَةُ كُنْتُ قَلِيْلَةً فَكَثَّرْتَنِيْ كَمَاقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى — مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ اَمْثَالِهَا) ، دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم څخه نقل شویدی چه هغوئ فرمایلی دی : خیرات چه ووزی له لاس دمالك نه نو خبرې کوی په پنځو خبرو سره : اول دا چه زه وړه ومه نو تا لویه کړمه . اودویمه دا چه ته ځما څوکیدار وې نواوس دې زه څوکیداره شوم، اودریم دا چه زه دې دوشمنه ووم نو تا راسره دوستی وکړه، اوڅلورم دا چه زه فانی وومه نو باقی دې کړمه. اوپنځمه دا چه زه لږه ومه نو تا ډیره کړم، لکه چه الله تعالی ارشاد فرمایلې دې «چاچه وکړله یوه نیکی نووربه کړو هغه ته لس چنده دهغې» ، یعنې دالله تعالی په لاره کې خرچ کول سبب درسیدلو دی لوئ اجر ته او خلاصیدل دی له ویرو او سختیو اوله بلاګانو نه په دنیا او آخرت کې، او دحضرت انس رضی الله تعالی عنه څخه روایت دې، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هرکله الله تعالی ځمکه پیدا کړه هغه شوریدله نو پیدا یی کړل غرونه پدې باندې نو په آرام شونو تعجب وکړو ملائکو او وې ویل ای ربه آیا ستا په مخلوق کې داسې شی شته چه دغرونونه هم سخت وی، الله تعالی اوفرمایل : او اُوسپنه ده ، بیا ملائکو وویل : ای ربه آیا داُوسپنې څخه بل زیات سخت شی شته ستا په مخلوق کې. الله تعالی اوفرمایل آو اُوردې، بیا ملائکو عرض وکړو چه آیا ستا په مخلوق کې د اُور نه هم څه سخت شی شته ، الله تعالی اوفرمایل : آو ، اُوبه دی ، بیا ملائکو عرض وکړو چه ستا په مخلوق کې له اوبو څخه سخت شی شته ، الله تعالی اوفرمایل : آو ، باد دې، بیا ملائکو عرض وکړ چه آیا دباد څخه ستا په مخلوق کې څه سخت شی شته ، الله تعالی اوفرمایل آو ځوئ دآدم دې چه ورکوی خیرات په ښی لاس سره اوکیڼ لاس ترینه خبر نشی ، نودې ډیر کلك دې حتّی چه ځینې علماء کرامو لیکلی دی چه سلفو به ړوند فقیر لټولو اوبعضو به خوب والا فقیرته په جامې پورې پیسې وتړلې ، اوبعضو به په لاره کې فقیر ته وغورزولې چه پوهه نشی چه خیرات راکوونکې څوك دې.

٣_ ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَا ابْنَ آدَمَ اسْتَطْعَمْتُكَ فَلَمْ تُطْعِمْنِي قَالَ يَا رَبِّ وَكَيْفَ أُطْعِمُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ قَالَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّهُ اسْتَطْعَمَكَ عَبْدِي فُلَانٌ فَلَمْ تُطْعِمْهُ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ أَطْعَمْتَهُ لَوَجَدْتَ ذَلِكَ عِنْدِي يَا ابْنَ آدَمَ اسْتَسْقَيْتُكَ فَلَمْ تَسْقِنِي قَالَ يَا رَبِّ كَيْفَ أَسْقِيكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ قَالَ اسْتَسْقَاكَ عَبْدِي فُلَانٌ فَلَمْ تَسْقِهِ أَمَا إِنَّكَ لَوْ سَقَيْتَهُ وَجَدْتَ ذَلِكَ عِنْدِي)) (رواه مسلم، عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه). **ترجمه**: ((رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاداو فرمایلو چه الله پاك به دقیامت په ورځ اوفرمایی: ای دآدم ځویه! ما تانه طعام غوښتلې وو تا رانکړو (تا راباندې ونه خوړلو) نوهغه به عرض وکړی ای ځما ربه! ما تاباندې ځنګه طعام خوړلې شو ته خو پخپله دټولو خلکو پرورش کوونکې یی؟ الله تعالی به ورته اوفرمایی: تاته یاده نده چه تانه زما فلانی بنده ډوډۍ غوښتلې وه لیکن تا په هغه ونه خوړله آیا تاته معلومات نشته که تا په هغه خوړلې وې نو خپله خوړلې شوې ډوډۍ (طعام) به دې نن ما سره بیاموندلې وو، ای دآدم ځویه ما تانه اوبه غوښتې وې لیکن تا په ما اوبه ونه څښلې. نوهغه به عرض وکړی ای زما ربه! ما تا باندې ځنګه اوبه څښلې شوې هرکله چه ته په خپله دټولو مخلوقاتو پالونکې یی. الله تعالی به ورته اووایی زما فلانی بنده تانه اوبه غوښتې وې لیکن تا هغه ته اوبه ورنکړې که تا په هغه باندې اوبه څښلې وای نوهغه اوبه به دې دلته له ماسره نن بیا موندلې وای))، ددې حدیث شریف نه معلومه شوه چه اوږې اوتږی باندې خوراك څښاك کول دلوئ اجر اوثواب کار دې، دې سره دالله تعالی قرب حاصلیږی، په یو حدیث شریف کې راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی. ((څوك چه یو مسلمان وروړته دبربنډۍ په حالت کې جامې ورکړی الله تعالی به هغه ته دجنت شنه جوړه ورکړی او کوم مسلمان چه بل مسلمان وروړ ته دلوږې په حالت کې خوراك ورکړی الله تعالی به ورته دجنت میوې ورکړی او کوم مسلمان چه بل مسلمان ورور باندې دتندی په حالت کې اوبه وڅښوی الله تعالی به ورباندې دجنت مهر لګیدلی شراب وڅښوی))، (رواه ابوداؤد عن ابن مسعود رضی

الله تعالی عنه، او همدارنګه په یو حدیث شریف کې دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي اوه شیان دي چه ثواب یې دبنده دمرګ نه پس هم جاري وي. دې به په قبر کې پروت وي او ثواب به یې ورته رسیږي، ۱_ چاچه بل ته ددین علم اوښودلو. ۲_ یا یې نهر اوکنستلو. ۳_ یا ای کوهی اوکنستلو. ۴_ یا یې ونه ولګوله. ۵_ یا یې مسجد جوړ کړو. ۶_ یا یې قرآن شریف پریښود چه څوک یې تلاوت کوي. ۷_ یا یې نیک اولاد پریښودلو چه دمرګ نه پس ورته دبخښش دعاء کوي. ذکر فی الترغیب. او دابن ماجه په روایت کې دی چه یا یې کوهی خیراتی کړو یا یې خیراتی مسافر خانه جوړه کړه. ددې حدیث نه ددیني مدرسو او دعامې فائدې دکارونو فضیلت ثابت شو. الله پاک دې مونږ ته دغه سعادت نصیب کړي. آمین یارب العالمین.

# انساني حقوق ((بشردوستي))

محترمو مسلمانانو: اسلامي قانون دیوې طبقې په ګټه اوبلې طبقې پر خلاف ندی اونه داصورت شته چه دیوه فرد قانون دالله تعالی لخوا نازل شویدې او دهغه پاک ذات له دینه ډیر لوړ دې چه دکوم یو فرد رعایت وکړي اونورو افراد له نظره وغورځوي یاپرکومه ځانګړې طبقه پیرزوینه وکړي او نورې طبقې محرومې کړي هغه خو دټولو انسانانو خالق دې اوټول انسانان دهغه په وړاندې برابر دي دهغه په وړاندې که څه امتیاز شته هغه صرف دادې چه دهغه له بندګانو څخه څوك زیات پرهیزګار دی ((إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ)) اوکله چه قرآن کریم فرمایي ((وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ)) یا داچه ((وَاللَّهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ)) او الله تعالی لتاسې نه ځینو ته په ځینو نورو باندې په روزي کې فضیلت اولوړتیا په برخه کړیده. ددې مطلب دادې چه یو واقعیت اونفس الامري حقیقت بیانول دي چه ګواکې امتیاز شته اوپه طبعي ډول موجود دې ځکه چه دخلکو صلاحیتونه او دهغو دکار او فعالیت استعدادونه سره توپیر لري خو په اسلام کې پدې امتیاز سره یوفرد ته داسې

انساني حق نه رسيږي چه نور افراد يې ونلري په اُمَّة مسلمه كې به يو ډير بيوزله کوم انسان ته هم هغه حقوق په برخه وي چه هر بل انسان ته په برخه کيدي شي دهغه سر او مال، عزت اوآبرو هرڅه به محفوظ وي او انسانان ديوه بل وړاندې او همدارنګه دبې وسه شيانو په هکله ځيني مسؤوليتونه او وظيفې لري چه دې مسؤوليتونو ته په اصطلاح کې حقوق ويل کيږي. ددې مسؤوليتونو پر ځاى کول تر څو چه ممکنه وي په هر انسان ضروري او لازمي دي چه ځينې يې په لاندې ډول ذکر کيږي.

۱ـ دمور اوپلار حقوق: الله تعالى فرمايي: ((وَاعْبُدُوا اللّهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا)) (سورة النساء). **ترجمه**: ((دالله تعالى عبادت وکړئ اودهغه سره په عبادت کې هيڅوك مه شريکوئ اوله مور اوپلار سره نيکى کوئ)).

دمور اوپلار عزت. خدمت او اطاعت په محمدی شريعت برسيره دموسى او عيسى عليهما السلام په تعليماتو کې هم ضروري ګڼل شويدي او ددوئ درجه دالله تعالى له اطاعت نه وروسته په انساني اړيکو کې ډيره لوړه ښودلې شويده. دالله تعالى داطاعت سره يوځاى دمور اوپلار داطاعت تاکيد شويدي او باقي تفصيل به په مستقل عنوان سره ان شاء الله تعالى راشي. لکه څنګه چه مور اوپلار په اولاد باندې حقوق لري همدغه راز اولاد هم پخپل مور اوپلار باندې ځيني حقوق لري چه دبديو. خرابيو اوهلاکتونو څخه خپل اهل اوعيال وژغورى، دهغوئ دسعادت لپاره دُعا وکړي پلرونه او ميندې بايد هلك اوجلکئ (جينئ) دواړو ته داولاد په سترګو وګوري، داسې نه چه دمينې اومحبت په وړاندې دلور اوځوئ توپير وکړي (باقي تفصيل به يې په آينده کې راشي ان شاء الله تعالى)

۲ـ دښځې اوميړه يوتربله حقوق: داسلام نه وړاندې دجاهليت په زمانه کې ښځو دميړونو په وړاندې کوم قدر اومنزلت نه درلود په يوه جزئي اومعمولي خبره به وهل کيدلې له حقوقو څخه محرومې وې شاقه (سخت) کارونه به يې پرې کول او دمريانو غوندې به ورسره معامله کيدله. اسلام دهغوئ قدر او منزلت تردې اندازې لوړ او زيات کړ چه په قانوني ډول يې هغوئ ته دنارينه وو په شان مساوي اوبرابر حقونه

ورکړل، په اخلاقي لحاظ سره دنارينه وو ښولنيز موقف دښځو په نسبت تو پير لري دا حقيقت قرآن مجيد داسې بيانوي: ((وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ))(سورة بقره) ، **ترجمه** : ((ددستور سره سم په نارينه وو داسې حقوق دي لکه دنارينه وو په ښځو باندې اونارينه وو لره په ښځو باندې يوه مرتبه او منزلت دي)). يعنې الله تعالى په فطري ډول نارينه ته په ښځو باندې دجسم طاقت، عقل او ذهن فوقيت اولويې ورکړيده، فطرتاً هم نارينه ددې مرتبې وړدي اوبل سبب دادې چه نفقه جامه کورنۍ معاملې اوپالنه او دهرډول مالي مسؤوليت اوذمه واري دنارينه وو پر غاړه اچول شوي دي او نارينه هم دغه درونډ بار پخپله غاړه اخستې دې دحق او انصاف تقضا داده چه نارينه دکور مشر وټاکل شي او همدارنگه دا دواړه له يوبل سره لازم او ملزوم دي يو دبل دپاره پرده ساتونکي اويودبل دتربيت اوتکميل ذريعه گڼل شويدي. ((هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ)) (سورة بقره)، **ترجمه** : ((ښځې ستاسې دپاره اوتاسې دهغوئ دپاره کالي ياستئ)) ، يعنې تاسې دهغوئ دپردې دتکميل په درجه کې ياستئ اوهغوئ ستاسې، په حقيقت کې همدا دښځې او ميړه حقوق دي او لکه په ساده الفاظو يې ذکر کړو نو دميړونو حقوق په ښځو باندې دا درې شيان دي چه دښځو مُهِمې وظيفې شميرلې کيږي: ۱ـ دميړه اطاعت، ۲ـ دميړه دعزت ساتنه، ۳ـ عفت او پاك دامني اوپه ميړه باندې لازم او واجب دي چه دښځې نفقه اونور ضروريات دشان اوحال سره مناسب تيارکړي، حکيم ابن معاوية رضى الله تعالى عنه دخپل پلار معاوية رضى الله تعالى عنه نه روايت کوي هغه فرمايي چه ما دنبي اکرم صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چه دښځې په خاوند څه حق دې؟ نبي اکرم صلى الله عليه وسلم اوفرمايل: دهغې حق دادې چه ته څه خورې نو په هغې يې هم خوره چه ته څه اغوندې نوهغې ته هم هغه څيزاغوندوه او په مخ يې مه وهه اوبد دعاء (خيرې) ورته مه کوه او که تعلق ورسره ترك کړې نو صرف په کور کې دننه (رواه ابوداؤد) ، دآخرې جملې مطلب دادې چه که دښځې دطرفنه نافرماني او شرارت ظاهر شي نودقرآن کريم دهدايت مطابق اول هغه په نرمۍ سره پوهه کړه، که دې سره ټيك اوصحيح نه شوه

نوکور کي ترې خپله بستره بیله کړه چه بهر څوك پرې خبرنشی که بیا هم اصلاح نه شوه نوبیا هغه وهلی کیدې شی لیکن پر مخ به یی نه وهی (اونه به یی په زړه یا بل خطرناك ځای وهی) بلکه په غیر ضروری ځای به وهلې شی خوپدې باره کې دا هدایت دې چه داسې دې نه وهی چه زخمی شی یا هډوکی یی مات شی.

اوهمدارنګه دښځو په منځ کې دعدل انصاف حکم کې زیات روایات راغلی دی چه یوڅوبی مونږ دنمونې په ډول لاندې ذکر کوو:

۱ـ ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ عِنْدَ الرَّجُلِ امْرَأَتَانِ فَلَمْ يَعْدِلْ بَيْنَهُمَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ سَاقِطٌ))، (رواه الترمذی، عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه)، **ترجمه**: ((دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: هرکله چه دیوسړی دوه ښځې وی اودهغوئ په حقونو کې انصاف، عدل او برابری ونه ساتی نودقیامت په ورځ به هغه داسې حال کې راځی چه دهغه نیم بدن په غورځیدلې وی))، یعنې څکه چه دیوې ښځې حقوقو ته یی نظرندې کړې، اوپه زړه مینه یی ګرفت نشته څو دباقی حقوقو خیال ساتل پکاردی اوبل خوا ښځې ته هم پکار دی چه دخاوند دحقوقو مراعات وکړی.

۲ـ ((قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا غَسَّلَتِ الْمَرْأَةُ ثِيَابَ زَوْجِهَا كَتَبَ اللهُ لَهَا ثَوَابَ اَلْفِ حَسَنَةٍ وَغَفَرَ لَهَا اَلْفَيْ خَطِيْئَةٍ وَاسْتَغْفَرَ لَهَا كُلُّ شَيْئٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ وَرَفَعَ لَهَا اَلْفَ دَرَجَةٍ)) (مسند الفردوس عن ابن مسعود رضی الله تعالی عنه)، **ترجمه**: ((نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: هرکله چه وه وینځی ښځه جامې دمیړه (خاوند) خپل ولیکی الله تعالی دې لره ثواب دزرو نیکیانو او معاف کړی دې لره دوه زره ګناهونه اوبښنه به غواړی دې لره هرشی چه لمر پرې راخیژی او پورته به کړی دې لره زرمرتبې)) نو ښځه چه یودروغ نه وایی اوبله دا چه دلمانځه پابندی کوی ډیر زرالله تعالی ته وصل کیږی حتی چه منصرفه هم جوړیږی.

۳ـ دخپلوانو حقوق: په اسلام کې دخپلوانو دحقوقو اهمیت ددنیا دنورو ټولو مذهبونو په نسبت ډیر زیاد دی په ډیرو آیتونو کې یی دصله رحمی په برخه کې ډیر

«وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ» ده وظيفه ګڼلي يوه فرضي او دا کار يې

ښکاره بيانونه کړيدي حتّی چه ځيني علماء ليکي
«سورة اسراء» . **ترجمه** : «او خپلوانو ته حق ورکړه» چه کچيرې هغه
خپلو خپلوانو څخه بل کلی ته خيرات نقل کول مکروه دی تردې
سره بدی کوي نو دهغې په بدله کې ته نيکي ورسره کوه . په يو روايت کې راځي «عن
أبي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ رَجُلاً قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لِي قَرَابَةً أَصِلُهُمْ وَيَقْطَعُونِي
وَأُحْسِنُ إِلَيْهِمْ وَيُسِيئُونَ إِلَيَّ وَأَحْلُمُ عَنْهُمْ وَيَجْهَلُونَ عَلَيَّ فَقَالَ لَئِنْ كُنْتَ كَمَا قُلْتَ فَكَأَنَّمَا
تُسِفُّهُمُ الْمَلَّ وَلاَ يَزَالُ مَعَكَ مِنَ اللهِ ظَهِيرٌ عَلَيْهِمْ مَا دُمْتَ عَلَى ذَلِكَ» . «رواه مسلم عن أبي
هريرة رضى الله تعالى عنه» . **ترجمه** حضرت ابو هريرة رضی الله تعالى عنه فرمايي چه
يو سړي نبي اکرم صلى الله عليه وسلم ته عرض اوکړو چه ای د الله تعالى رسوله «صلى
الله عليه وسلم» زما ځيني خپلوان دي زه د هغوئ حقوق اداء کوم او هغوئ ما سره
خپلولي پريکوي زه هغوئ سره ښه سلوك کوم او هغوئ را سره بد سلوکي کوی . زه
هغوئ سره د حلم بردباري «صبر» نه کار اخلم او هغوئ ما سره د جهالت نه کار اخلي .
نبي اکرم صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل : که ته داسې يې څنګه چه وايې نو ته
ګويا د هغوئ په مخونو سياهي راکاږې او د هغوئ په مقابله کې به الله پاك هميشه ستا
مددګار وي څو پورې چه ته پدې حالت قائم يې . حتی چه يو روايت کې راځي نبي اکرم
صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي : دچا چه دا خوښه وي چه روزي يې فراخه شي او په
عمر کې يې برکت شي نو هغوئ دې صله رحمي وکړي «بخاری کتاب الادب» ځکه چه
مالي مرسته ورسره وکړي نو ددې کار په سبب به الله پاك د هغه مال کې برکت
او فراختيا ورنصيب کړي . او دوهم دا چه که د عمر يوه برخه د خپلو خپلوانو په
خدمت کې صرف کړې شي نو ددې کار په نتيجه کې به الله پاك دده په عمر باندې
برکت کيږدي او اوږدوالې به يې په برخه شي .

۴ ـ دګاونډي حقوق : هغه دوه اشخاص چه يو تر بله څنګ په څنګ هستوګنه کوي
هغوئ يو د بل ګاونډي بلل کيږي د انسانيت او د تمدن بنسټ په خپلو کې يو بل سره
د همکاري مرسته او دوستي په اساس ولاړ دي او دا ځکه چه هر انسان د يو بل

مرستې نه اړ دی خصوصاً په خپلو خوړو کې یې برخه وکړی دهغه عزت او احترام وساتلې شی دهغه دناروغ پوښتنه او خدمت وشی اودغمجن گاونډی سره باید په غم کې گډون اوهمدردی وشی ترڅو چه اخلاقی نظام قائم شی که څه هم هر مذهب د انسانانو په منځ کې دیوبل مرستې ، مینه محبت ، مسؤولیتونه مقرر کړیدی خو داسلام سپیڅلی دین دگاونډیتوب لمن ډیره فراخه کړیده دسفر ملگری دمدرسې مکتب زده کوونکی دیوه کارگه مزدوران دیو استاذ شاگردان دا ټول په گاونډیتوب کې داخل دی ، په ټولو گاونډیانوکې اول حق دهغه چادې چه په گاونډیتوب برسیره کوم بل تعلق هم یوتربله سره ولری لکه خپلولی یا هم مذهبی او یا کوم بل تعلق ، قرآن پاك ددې موضوع په هکله داسې تصریح کړیده: ((وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنبِ)) ، (سورة نساء) ، **ترجمه** : ((او (نیکی کوئ) له همسایه گانو سره چه قریب دی (په نسب یاپه همسایه گئ کی) او (نیکی کوئ) له همسایه سره چه بعید وی په نسب یاپه همسایگی کی) او (نیکی کوئ) له هغه ملگری سره چه په څنگ ستاسو کې وی)) مطلب دا چه الله تعالی دخپل گاونډی اوبیگانه گاونډی او په څنگ کې دملگری سره دنیکی حکم کړیدې.

اونبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَاللَّهِ لاَ يُؤْمِنُ وَاللَّهِ لاَ يُؤْمِنُ وَاللَّهِ لاَ يُؤْمِنُ قِيْلَ مَنْ يَارَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ الَّذِيْ لاَ يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ)) (متفق علیه،ورواه احمد ، عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه) ، **ترجمه** : ((زما دې په الله تعالی قسم وی ، زما دې په الله تعالی قسم وی ، زما دې په الله تعالی قسم وی هغه سړې ایمان نلری، اصحاب کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین پوښتنه وکړه چه څوك یارسول الله ؟ هغوئ صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : هغه څوك چه دهغه گاونډی دهغه دشر څخه په آمان او محفوظ نه وی)) داسلام دین دنورو ادیانو په خیر پدې باب کې یوازې په ممانعت اکتفاء نده کړې، بلکه دا قسم گناهونه دنورو گناهونو په پرتله یوپه لس ښودلې ده دیوه سوال په جواب کې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه : زنا او بدکاری حرامه ده لکن دلسو بدکاریو

شخه هغه بدکاری زیاته ده چه دهمسایه دښځې سره وی (کتاب الادب للامام بخاری،
باب حق الجار)
همدارنگه دگاونډی له کور څخه غلا کول اویابل کوم بد عمل ، داهم باید واضح
شی چه په گاونډیانو کې ددوست اودښمن مسلمان اوکافر ترمنځ فرق او تمیز نشته
حتّی چه ابن عمررضی الله تعالی عنه یوه ورځ یوه بزه (چیلۍ) حلاله کړه یو یهودی هم
دده گاونډی وو دکور له خلکونه یې پوښتنه وکړه چه دیهودی کره مو غوښه ورلیږلې
ده اوکنه ؟ هغه وایی چه ما دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی دی چه ماته
جبرائیل علیه السلام دگاونډی سره په نیکی دومره تاکید کاوه چه آخر پدې فکر کې
شوم چه دترکې (میراث) حقدار یې ونه گرځوی ((رواه البخاری)) ، په یوبل حدیث
شریف کې راځی چه یوسړی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړو چه : فلانۍ
ښځه ډیر نفلی لمونځونه کوی ، روژې نیسی اوصدقه ورکوی پدې وجه زیاته مشهوره
ده لیکن گاونډیان دهغې دژبې نه تنگ دی ، نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم
اوفرمایل هغه به جهنم ته ځی ، هغه سړی بیا وویل : یارسول الله (صلی الله علیه وسلم)
دفلانۍ ښځې په باره کې مشهوره ده چه کمې نفلی روژې نیسی ، ډیر کم نفلی
مونځونه کوی اودپنیر څخه ټکړې صدقه کوی لیکن خپلې ژبې سره گاونډیانو ته
تکلیف نه ورکوی ، نونبی اکرم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل : دابه جنت ته ځی
((مشکوة ، عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه)) ، یعنې اوله ښځه به ځکه جهنم ته ځی
چه هغې دگاونډیانو حق وه وهلو چه هغه گاونډی ته تکلیف رسول دی او په دنیاکې
یی هم گونډی څخه معافی ونه غوښتله ، پدې وجه دهغې جهنم ته تلل پکار دی .

۵ ـ دیتیمان حقوق : هغه کوچنیان چه دپلار دمینی له سیوری نه محروم هغوئ ته
یتیمان ویلې کیږی دهغوئ په خصوص کې دمسلمانانو دټولی هر فرد وظیفه لری چه
دخپلی مینې په غیږ کې ځای ورکړی او دهغه هرډول خدمت وکړی دهغه دمال ساتنه
وکړی اودهغوئ روزنی ته پوره پاملرنه ولری کله چه پوره دعقل خاوند شی بیا دې
خپل مال اوجایداد پوره ورکړی ، الله تعالی فرمایی : ((وَلاَ تَأْكُلُوهَا إِسْرَافًا وَبِدَارًا أَن

يَّكْبَرُوا وَمَن كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَن كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ» (سورة النساء) ،
**ترجمه** : اوديتيمانو مال فضول خرچي او جلدي سره دهغوئ دلوى كيدو دويرې نه مه خورئ او څوك چه مالدار وى هغه ته پكاردى چه ديتيم مال دخوراك نه ځان بچ كړى او څوك (سرپرست) چه غريب وى نو هغه له ديتيم دمال نه ددستور مطابق خوراك پكاردي (يعني زياتي به نه كوى) ، په يوحديث شريف كې راغلى دى : «انَّ رَجُلاً شَكَا اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسْوَةَ قَلْبِهِ قَالَ امْسَحْ رَأسَ الْيَتِيْمِ وَاَطْعِمِ الْمِسْكِيْنَ» (مشكوة عن ابى هريرة رضى الله تعالى عنه) ، **ترجمه** : يو سړى نبى اكرم صلى الله عليه وسلم ته دخپل زړه دقساوت او سختى ذكر وكړو ، نو نبى اكرم صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل : چه ديتيم په سر دشفقت لاس راكاږه او مسكينانو باند طعام خوره.

په يوحديث شريف كې دى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل : زه او ديتيم سرپرست (او نورو محتاجو سرپرست) مونږ دواړه به جنت كې داسې يو ، دې فرمايلو سره يى خپلې منځنى او دشهادت ګوتې ته اشاره وكړله (يعني يوځاى يى كړې) او دهغې دواړو ګوتو مينځ كې يى لږ شان فاصله اوساتله يعني لږ غوندې به فرق وى ، دا بشارت (زيرې) يوازې ديتيم دسرپرست لپاره ندې دناچارو او محتاجو خلكو سرپرست ته هم شامل دې .

۶ـ دميلمه حقوق : مهمان نوازى دايمان تقاضا ده : «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ» (متفق عليه ، عن ابى هريرة رضى الله تعالى عنه) ، **ترجمه** : «نبى كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمايل : كوم خلك چه په الله او په ورځې دآخرت ايمان لرى هغوئ لره پكاردى چه دخپلو ميلمنو خاطر دارى وكړى» ، په يو روايت كې راغلى دى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دى چه : چا عزت وكړو دميلمه نو عزت يې وكړو ځما او چاچه ځما عزت وكړو نو هغه په حقيقت كې دالله تعالى عزت وكړو ، چاچه بد وګڼلو ميلمه نو بد يى وګڼلم زه او چاچه زما سره بغض وكړو نو بُغض يى وكړو دالله تعالى سره» ، په يو روايت كې راغلى دى هركله چه ميلمه ننوځى دمؤمن كور ته نو ننوځوى وركره زر بركته او زر رحمته ، او

همدارنګه په یوروایت کې دی چه رسول الله صلی الله علیه او فرمایل څوک چه په الله
تعالی او ورځې دآخرت باندې ایمان لری هغوئ له پکار دی چه دخپل میلمه دارومدار
وکړی ، رومبئ ورځ دانعام او عطیې ورځ ده چه په هغې کې میلیمه ته ښه ، ښه طعام
پیش کول پکاردی، او میلمستیا درې ورځو پورې ده (یعنې په دویمه او دریمه ورځ
هغه میلمستیاکې تکلّف کول اخلاقی لحاظ سره ضروری نه دی) دینه وروسته چه هغه
څه کوی هغه به هغه دپاره صدقه وی او میلمه دپاره جائز ندی چه خپل کوربه ((میزبان))
سره دیره شی دې پورې چه هغه پریشانی کې اخته کړی ((متفق علیه)) پدې حدیث
شریف کې کوربه او میلمه دواړو ته هدایت شویدې کوربه ته پکار دی چه دمیلمه خاطر
وکړی دخاطر کولو مطلب صرف خوراك او څښاك ندې بلکه خندا پیشانی او
خوشحالی ورسره پیش راتلل پکار دی او میلمه ته هدایت دې چه دومره دیره نشی چه
کوربه ترینه تنګ شی.

۷ـ دعامو مسلمانانو حقوق په خپلو منځونو کې : له اسلام څخه دمخه دجاهلیت
په زمانه کې به ډیر خلك دیوه بل وینو تویولو په هڅه او کوشش کې وو ځکه چه یوه
قبیله به د بلې قبیلې دُښمنه وه له یوې ورې مناقشې څخه به ترپیړیو پورې بدی
دُښمنی او جنګونه روان وو خوکله چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د اسلام دمقدس
دین په رسولو مامور شو دمسلمانانو ترمینځ یې یوه داسې مضبوطه او کلکه اړیکه
ټینګه کړه چه دمودو مودو جلا جلا او په بدیو اخته خلك یې بیرته بیا سره یوځای کړل
، دښمنان یې سره ورونه کړل او کچیرې دمسلمانانو په منځ کې کوم اختلاف پیداشی
نو ددې اختلاف دلرې کولو صورت دادې چه دالله تعالی او رسول الله صلی الله علیه
وسلم احکاموته رجوع وکړی، لکه چه ارشاددې ((فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ
وَالرَّسُولِ)) (سورة النساء) ، **ترجمه** : نو که تاسې مخالف شوئ ای مسلمانانو په کوم شی
کې نو هغه الله تعالی او دهغه رسول صلی الله علیه وسلم ته راجع کړئ، ددوو ډلو یا
افرادو مسلمانانو دمخالفت په صورت کې دنورو مسلمانانو وظیفه ده چه دسوله
ایزې بلنې له مخې دتیری کوونکې ډلې یا فرد لاس له ظلم څخه بند کړی او که تیری

ګوونکی اړخ سوله ایزه بلنه ونه مني دوئ دې هم ورسره وجنګیږي ترڅو صلحې اوروغې ته غاړه کیږدي کله چه روغې ته حاضرشي نو په عدل او انصاف سره دې وفعوئ په منځ کې روغه او جوړه وکړی دا د قرآن مجید فیصله ده، په یوحدیث شریف کې راځي چه : ((اُنْصُرْ اَخَاكَ ظَالِمًا اَوْ مَظْلُوْمًا)) (رواه البخاري)، **ترجمه** ((تاسې دخپل ورور سره مرسته وړئ هغه ظالم وی اوکه مظلوم))، صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین عرض وکړو : یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دمظلو سره خو مرسته کیدې شي خود ظالم سره به څنګه مرسته وکړې شي، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل دظالم لاس چه له ظلم څخه لنډ کړې شي دا دهغه سره مرسته ده، اوهمدارنګه یوبل سره کینه او حسد باید ونکړې شي ځکه کینه ډیره بده ګناه ده. ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ)) (رواه ابوداؤد)، **ترجمه** : دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : ځان وساتئ دحسد نه ځکه چه حسد نیکی داسې سوزی څنګه چه اُور لرګی سوزی)) یعنې دمسلمان په نعمت به خوشحالیږی دا به نه وایی چه ولې مسلمان عزتمند شو، بلکه مؤمن به متواضع وی لکه چه فرمایی : ((اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ)) (سورة المائده)، یعنې متواضعین او مهربان به وی پرمؤمنانو، نو مطلب دا چه مؤمن به دمؤمن سره په عاجزی اونرمئ ګذاره کوی.

**نکته** : دحیواناتو حقوقو ته هم اسلام خلك متوجه کړیدی، لکه چه فرمایی : ((مَرَّ رَسُوْلُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَعِيْرٍ قَدْ لَحِقَ ظَهْرُهُ بِبَطْنِهِ فَقَالَ اتَّقُوا اللَّهَ فِي هَذِهِ الْبَهَائِمِ الْمُعْجَمَةِ فَارْكَبُوهَا صَالِحَةً وَاتْرُكُوْهَا صَالِحَةً)) (رواه ابوداؤد)، **ترجمه** : ((رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو اوښ تیریدلو چه دهغه ملا او خیټه (دلوږې دلاسه) یوځای شوی وو نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : ددې بې زبانه ځناورو په باره کې دالله تعالی نه وه ویریږئ په دوئ باندې په ښه حالت کې سوریږئ او په ښه حالت کې یې پریږدئ))، مطلب دا چه ځناور وږی ساتل دالله تعالی دغضب باعث دی چه کار ترې اخلې نو ښه خوراك ځښاك ورکوئ یو روایت کې راغلی دی چه رسول الله صلی الله

عليه وسلم دځناور په مخ دوهلو نه او په مخ دداغلو نه منع فرمايلې ده «رواه مسلم عن
جابر رضى الله تعالى عنه» دنبي كريم صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارك دي: چاچه
يوه مرغۍ هم په ناحقه قتل كړه نو دهغې په باره كې به ترې الله پاك پوښتنه كوي، چا
پوښتنه وكړه: دمرغۍ حق څه دې، نبي اكرم صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل
دهغوئ حق دادې چه هغوئ دې ذبح كړې شي او ودې خوړې شي او دسرپريكولو
ورووسته دې دغسې نشي غورځولې «مشكوة». ددې حديث څخه معلومه شوه چه
دمرغيو ښكار دغوښې دخوراك په غرض جائز دې ليكن دتفريح لپاره په اسلام كې
منع دې، دتفريحي ښكار مطلب دادې چه سړې ښكار خو وكړي ليكن دهغې غوښه
ونه خوري اودغسې يې وغورځوي.

اوحضرت عبدالله بن عمر رضى الله تعالى عنه فرمايي چه ما درسول الله صلى الله
عليه وسلم نه اوريدلى دى چه: ددينه يې منع فرمايلې ده چه يوځناور مثلاً مرغۍ يا
انسان دې وتړلې شي يادې ودرولې شي اوبيا دې په تيرونو «غشو» وه ويشتلې شي
«متفق عليه»، اوعبد الرحمن رضى الله تعالى عنه دخپل والد څخه چه عبدالله رضى
الله تعالى عنه دې روايت كوي، وايي چه مونږ په يو سفر كې دنبي اكرم صلى الله عليه
وسلم سره ملگري وو، بنى اكرم صلى الله عليه وسلم دڅه ضرورت لپاره لاړو، پدې
كې مونږ يوه وړه شان مرغۍ وليده چه دوه بچي ورسره وو، مونږ دهغې دواړو بچي
ونيول نو هغې مرغۍ خپلې دواړه وزرې په ځمكه خورولې او چغې يې وهلې، پدې كې
نبي كريم صلى الله عليه وسلم تشريف راوړلو اودهغې مرغۍ بې آرامي يې وليدله نو
وې فرمايل چه دې ته دبچو په وجه چا تكليف رسولې دې، ديته خپل بچي واپس
پريږدئ، اونبي كريم صلى الله عليه وسلم دميږو «نَمل» هغه ځاى «كوُن» هم اوكتلو چه
هغه مونږ سوزولې وو، نبي اكرم صلى الله عليه وسلم پوښتنه وكړه چه دا چاسوزولي
دې؟ مونږ عرض وكړو چه مونږ سوزولې دې، نبي اكرم صلى الله عليه وسلم
اوفرمايل: داور سزا وركول داُور دمالك «الله پاك» حق دې. «رواه ابوداؤد»، او همدا
رنگه نبي كريم صلى الله عليه وسلم دځناورو په خپلو كې دجنگولو نه منع فرمايلې ده.
«ترمذي عن ابن عباس رضى الله تعالى عنه». «الله پاك دې مونږ په انساني حقوقو كې
ناكام نكړي، اللهم آمين بجاه سيد المرسلين».

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# حُسن پرستی ((شرعی حجاب))

محترمو مسلمانانو : داسلام په امتیازی مسئلو کې یوه مسئله دپردې هم ده ، دخپل حسن اوجمال پټ ساتلو ته پرده وایی او ستر اوپرده دزنانه وو دحیاء سره تعلق لری او په اسلام کې حیاء دایمان جزء دې ، دزنانه وو په ستر پردې کولو حیا محفوظ کیږی اوپه بی ستری کولو اوځان بی حجابه کولو دزنانه وو حیاء او عزت تباه کیږی، په یوحدیث شریف کې دی چه : ((اَلْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الاِيْمَانِ)) حیاء دایمان یو شاخ دې، په یوبل حدیث شریف کې راځی ((إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ))، الله تعالی فرمایی : ((ای انسانه کوم وخت چه تا حیاء پرېښوده پس بیا ستا چه څه خوښه وی هغه کوه)) یعنې ستاچه ما سره ددوستی او درحم کولو هیڅ تعلق پاتې نه شو او حیاء او شرم دانسان هغه فطری وصف دې چه ددې په اثر دانسان ډیرې اخلاقی ښېګنې وده مومی، دعفت دعالی وصف په درلودلو سره د انسان شخصیت تل پاك ساتلې کیږی دګناهونو څخه یی ژغوری او که څوك دبدوکارونو په کولو له چا څخه شرم او حیاء نه کوی او هیڅ باك یی نه ګڼی دهغوئ ددغه کار نوم زړورتیا نده بلکه ددوئ دغه عمل ته بی حیایی او بی شرمی ویلی کیږی او بل دا چه ساکتین بی غیرته وایی چه پرېږده دهر چا خپل قبر او خپل ګورستان دې دضرورت په وخت کې حق باید نیغ په نیغه بیان شی، او الله تعالی په قرآن شریف کې فرمایی : ((وَاللّٰهُ لاَ يَسْتَحْيِ مِنَ الْحَقِّ)) (سورة احزاب)، یعنې الله تعالی دحق په څرګندولو کې باك نه کوی، په یو حدیث شریف کې دی چه الله پاك دټولو نه زیات غیرتمند دې له همدې کبله الله پاك ټولې بدکاری منع او حرام کړیدی، حیا که څه هم دستاینې وړ وصف دې خو کله کله دانسان لپاره زیانمنه ثابتیږی، کله چه بی زړه توب او ویره سره ګډه شی بیانو ډیر دګټو ټولنیز کارونه یوازې دشرم او حیاء په سبب پاتې کیږی او کله یی کمزوری څرګندیږی، له همدې کبله مقدس شریعت دا ډول خوی اصلاح کړیدې هغه اصلاح داده چه دحق په اظهار کې شرم او حیاء باید مانع نشی ، لدې کبله حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی

عنه دزړه خواهش وو چه دپردې حکم نازل شي او په مختلفو طريقو يې دخپل خواهش اظهار هم وکړو نو الله پاك رب العزة يې دا خواهش قبول او پوره کړو چه په اسلام کې اول دپردې حکم وو چه نازل شو بلکه دهجرت په پنځم کال دا حکم نازل شو. ((اې ايماندارو تاسو دنبي (صلی الله عليه وسلم) کورته بغير داجازت نه مه ځئ)) (سورة احزاب) . نو اول دقرآن کريم مطالبه ده چه ښځې دې بغير دسخت ضرورت نه دکور څخه نه وځي لکه چه فرمايي : ((وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلاَ تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى)) (سورة احزاب)، **ترجمه** : ((په خپلو کورونو کې په ځای کينئ او د اول (پخوانی) جاهليت دزمانې په شان دخپل زينت اظهار مه کوئ)) يعنې په جاهليت کې دا رسم وو چه ښځې به ډول سنګار وکړو چه اکثر جسم به يې ښکاره کيدو په نخرو پيخو او ناز انداز اوبې باکی سره به په سړوکې ګرځيدلی نو اسلام اوله خبره دا وکړه چه ښځې به په کور کې وی بالکل به نه وځي او ډير ضرورت سره به وځی نو دجاهليت په شان په ډول سنګار به نه وځي ، په يوبل آيت کې دی چه ((لاَ تُخْرِجُوهُنَّ مِن بُيُوتِهِنَّ وَلاَ يَخْرُجْنَ إِلاَّ أَن يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ)) (سورة طلاق) ، ((دا (طلاق ورکړې شوې ښځې) دخپلو کورونو نه بهر ته مه اوباسئ اونه دې هغه په خپله ووځي ليکن دا چه څرګنده بې حيايي اختيار کړی نو دابيله خبره ده)) ، په يوبل آيت کې دی چه : ((وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ)) (سورة احزاب) ، ((اوچه تاسې دبيبيانو څخه څه شی غواړئ نو دپردې تر شاپې غواړئ)) ، يعنې دپردې ډير ضرورت دې که څه پکار هم شی نو دپردې جګولو ته حاجت نشته ، پس کچيرې دوتلو ضرورت پيدا شی نو دکور څخه وتلی شی ، لکه چه فرمايي : ((وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ)) ، (سورة الحج)، خو سره دشرائطو چه هغه شرائط دادی :

۱ـ دوتلو په وخت کې به خوشبويي نه لګوی ، په يوحديث شريف کې راځی چه هره يوه سترګه زنا کاره او کومه ښځه چه خوشبوئی ولګوی دخلکو په خوا تيريږی دا هم زنا کاره ده ((ابن کثير)) حتی چه ابوهريرة رضی الله تعالی عنه فرمايي : ما دنبی اکرم صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلی دی : کومه ښځه چه خوشبويي ولګوی

او مسجد ته ځي دهغې لمونځ ندې قبول.

۲_ دزينت جامې به نه اغوندي لکه چه فرمايي «وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنْهَا» (سورة النور)، «خپل حُسن جمال دې نه ځرگندوي البته چه کوم شي ځرگنديږي نو خير دي»، يعنې چه پټيدې نشي لکه قد او قامت، رفتار وغيره، او پردي سړي ته مخ يا لاسونه ښکاره کول اگرچه بوډۍ گانو (زړو) ښځو ته جائز دي ليکن پټوالي يې ددوئ لپاره هم مستحب دې او دځوانې او پخو ښځو دپاره مخ يا لاسونه پرديو سړيو ته ښکاره کول حرام دي، ددې وجهې نه دفقهاؤ دا حکم په همدې قاعدې باندې بناء شويدې: «وَتَمْنَعُ الشَّابَّةُ وُجُوْبًا عَنْ كَشْفِ الْوَجْهِ بَيْنَ الرِّجَالِ لاَ لاَنَّهُ عَوْرَةٌ بَلْ لِخَوْفِ الْفِتْنَةِ» (كذا في رد المحتار وغيره واللفظ للدر)، يعنې ځوانانو ښځو لره دپردو سړو په مخکې دمخ ښکاره کولو نه منع کول واجب دي ددې وجهې څخه نه چه مخ ستر بالذات دې بلکه دويرې دفتنې نه، نو دا ستر دعارض دوجهې نه شو.

۳_ په مينځ دلارې کې به نه ځي: «عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ لِلنِّسَاءِ نَصِيْبٌ فِي الْخُرُوْجِ اِلاَّ مَا مُضْطَرَّةٌ _ اِلَى قَوْلِهِ _ وَلَيْسَ لَهُنَّ نَصِيْبٌ فِي الطَّرِيْقِ اِلاَّ الْحَوَاشِي»، (رواه الطبراني)، **ترجمه**: «عبدالله بن عمر رضى الله تعالى عنه دنبي اكرم صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چه دښځو لپاره (دکورنه بهر ته دتلو هيڅ حق نشته مگر دا چه مجبوره وي)»، پدې حديث شريف کې دي چه دښځو لپاره په لاره کې د (تللو) هيڅ حق نشته بغير د کنارونه، په يو بل حديث شريف کې دي چه ښځې دې وروسته شي ښځو ته ضرور دي چه دلارې په غاړه باندې ځي (ابن کثير)، دينه وروسته به ښځو پدې عمل کولو او داسې به تلې چه جامې به يې دديوال سره لږيدې.

۴_ نرمې او باريکې او تنگې جامې به نه اغوندي، او همدارنگه چه دسړيو او کفارو دجامو سره مشابه نه وي: «عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ بَيْنَمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ إِذْ دَخَلَتْ امْرَأَةٌ مِنْ مُزَيْنَةَ تَرْفُلُ فِي زِينَةٍ لَهَا فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ انْهَوْا نِسَاءَكُمْ عَنْ لُبْسِ الزِّينَةِ وَالتَّبَخْتُرِ فِي الْمَسْجِدِ فَإِنَّ

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

بَنِي إِسْرَائِيلَ لَمْ يُلْعَنُوا حَتَّى لَبِسَ نِسَاؤُهُمُ الزِّينَةَ وَتَبَخْتَرْنَ فِي الْمَسَاجِدِ›› (رواه ابن ماجة)
**ترجمه** : ‹‹دحضرت عائشه رضی الله تعالی عنه نه روایت فرمایی چه یوځل نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په مسجد کې تشریف فرما وو چه یوه ښځه دمزینه قبیلې په زیب او زینت سره او په مستئ کې جماعت ته راغله، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : ای خلقو خپلې ښځې دزیب اوزینت په جامو کې په مسجدونو (وغیره) کې دمستئ نه منع کړئ ځکه چه په بنی اسرائیلو باندې ترهغې پورې لعنت نه وو ویلې شوې ترکومه پورې چه دهغوئ ښځو دزیب او زینت په جامو کې په مسجدونو کې مستئ نه وه شروع کړې›› ، په یوبل حدیث شریف کې دی چه : ‹‹الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ فَإِذَا خَرَجَتْ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ›› (رواه الترمذی)، **ترجمه** : ښځه دپټ ساتلو شې دې کله چه بهرته ووځی شیطان ورته په ځنگ کې ناستوی گوری یې››، یعنې دا ښځه هم گمراه کړی او ددې په ذریعه سره نورهم خلك هم گمراه کړی.

۵ـ داسې جامې او کالی به نه اغوندی چه آواز کوی، اوکه چیرې داسې کالی وو چه یوبل سرهاولگی نو آواز کوی خودبخود آواز نه کوی داخو جائز دی خو احتیاط کول پکاردی چه آواز ونکړی ، لکه چه فرمایی : ‹‹وَلاَ يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ›› (سورة النور)، **ترجمه** : ‹‹او په زوره دې خپې نه وهی (په ځمکه) چه پټ سنگاریې معلوم نشی››، نودغه سبب دفتنې دې نو دمخ څرگندوالی فتنه خودکالیونه زیاته ده پکار دی چه دا هم پټه وی.

دحضرت عائشه رضی الله تعالی عنها په خدمت کې یوه ښځه حاضره شوه او آوازکوونکې جامې یې اچولې وې نوهغې ورته اوفرمایل چه : لاړه شه دا لرې کړه نو بیا راشه ځکه چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : فرښتې هغه کورته نه داخلیږی چه جرس پکې وی (فتاوی عبدالحی).

۶ـ بغیر داجازې دمیړه نه او بغیر دضرورت نه به خبرې نه کوی ، اوداسې نرمې او پستې خبرې به نکوی چه دخلکو په زړونو کې ورته میلان پیدا شی ، او همدارنگه په خیال او تکبر سره به مزل نه کوی. ‹‹عَنْ مَعَاذٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَايَحِلُّ لِامْرَاَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الاٰخِرِ اَنْ تَاْذَنَ فِيْ بَيْتِ زَوْجِهَا اِلاَّ بِاِذْنِهٖ وَلَاتَخْرُجَ وَهُوَ كَارِهٌ وَلَاتُطِيْعُ فِيْهِ اَحَدًا» (رواه البیهقی والطبرانی فی الکبیر)، **ترجمه**: دحضرت معاذ رضی الله تعالی عنه روایت چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: هرې یوې ښځې دپاره چه په الله تعالی اودقیامت په ورځې ایمان لری دا جائز ندی چه دخپل میړه کورته بغیر دهغه داجازت نه څوك دننه پریږدی، همدارنګه ښځې دپاره دمیړه درضاء نه بغیر بهرته تلل جائز ندی او نه به پدې کې دبل چا تابعداری کوی» په یوبل روایت کې دحضرت عمر رضی الله تعالی عنه نه نقل دی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ددې نه منع فرمایلې ده چه څوك به دښځو سره بغیر دهغوئ دخاوند داجازت نه څوك خبرې نه کوی (طبرانی فی الکبیر).

دحضرت حسن بصری رحمه الله نه مرسلاً روایت دې چه ماته دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم خبره رسیدلی دی چه ښځې دې دخپلو محرمونه بغیر نورو سړیو سره خبرې نکوی (رواه ابن سعد)، که دکوم ضرورت په اثر ښځې دنامحرم سړی سره خبرو کولو ته اړې شی نو پدغه وخت کې باید ښځې دنارینه سره په داسې لهجه اونزاکت خبرې ونکړی چه هغه داوریدونکې په زړه کې بدخیالونه پیداکړی، لکه چه ارشاد دې: «فَلاَ تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهٖ مَرَضٌ وَّقُلْنَ قَوْلاً مَّعْرُوفًا»، (سورة احزاب)، **ترجمه**: پس مه کوئ نرمی په ویلو کې (پس که پسته خبره تاسې وکړئ) نو په طمعه کې به پریوزی هغه څوك چه په زړه کې یې مرض وی (دنفاق یا فجور) او وه وایئ تاسې خبره نېه (ښه خیره)، اوصاحب د رد المحتار دعلامه مقدسی په حواله سره نقل کړیدی چه دښځې آواز عورت (ستر) دې چه دسړیو زړونه مائله کوی نوپه همدې وجهه دښځو آذان کول جائز ندی ځکه چه پدې کې خوش آوازی کولې شی په خوش آوازی سره دښځې آواز جائز ندې چه سړی یې واوری، او همدارنګه دښځې په جهر لمانځه کې په زوره قرائت او په حج کې په زوره لبیك (تلبیه) اوچه څه عذر یا فتحه په لمانځه کې ضرور شی یا نامحرم سړی ته سلام اچول یا دچا چاپی کول یا مصافحه یا لاس په لاس کې ورکول یا دهغه عکسونه یا دپردیو ښځو خیال اوتصور کول دلذت لپاره دغه ټول

حرام او ناجائز دی تر دې پورې چه خپلې ښځې نه نفع اخلی اوتصور اوخيال دپردی ښځې کوی دا هم حرام دی . په يو حديث شريف کې دی چه ښځې دشيطان جال دی او دجال نه چه څومره احتياط کول اوځان بچ کولو ضروری دی دغه هومره ددوئ نه هم ځان ساتل ضروری دی ، په يوبل حديث شريف کې دی چه : ((أَيُّمَا امْرَأَةٍ خَرَجَتْ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا بِغَيْرِ اِذْنِ زَوْجِهَا كَانَتْ فِى سَخَطِ اللهِ حَتّٰى تَرْجِعَ اِلٰى بَيْتِهَا وَيَرْضٰى عَنْهَآ زَوْجُهَا)) (کنز العمال)، **ترجمه** : کومه ښځه چه بغير درضاء دخاوند څخه دکورنه ووځی دا په غضب دالله تعالی کې وی ترڅو چه واپس شی کورته او ميړه ترينه راضی شی .

۷ـ پردی سړی ته به په اِشتهاء سره نظر نه کوی او غير محرم سره به هم سفر نه کوی : ((قُلْ لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ)) ، **ترجمه** : ((ووايه ای محمده (صلی الله عليه وسلم) مسلمانانو ته چه سترگې ټيټې ساتئ او دخپل عزت حفاظت کوئ دغه ډيرصاف دی ددوئ لپاره، الله تعالی خبر دې په هغه څه چه دوئ يې کوی)) ، او ښځو ته هم دغه حکم دې : ((وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ)) (سورة النور)، **ترجمه** : او وه وايه ای پيغمبره مسلمانانو ښځو ته چه خپل نظر دې ټيټ ساتی اودخپل عزت حفاظت دې کوی

((عَنْ ابْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ يَا عَلِيُّ لاَ تُتْبِعْ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ فَإِنَّ لَكَ الْأُولَى وَلَيْسَتْ لَكَ الْآخِرَةُ)) ، (رواه ابوداؤد)، **ترجمه** : دحضرت ابن بريدة رضی الله تعالی عنهما نه روايت دې چه نبی اکرم صلی الله عليه وسلم حضرت علی رضی الله تعالی عنه ته اوفرمايل : ای علی که په يوې اجنبی ښځې دې نظر وغورځيدلو نو خپل نظر ترې واړوه دويم نظر پرې مه غورزوه ړومبنې نظر خو ستا دې اودويم نظر ستا ندې (بلکه دشيطان دې) ، په يوبل حديث شريف کې دی چه ((اَلْعَيْنَانِ زِنَاهُمَا النَّظَرُ وَالْأُذُنَانِ زِنَاهُمَا الاِسْتِمَاعُ وَاللِّسَانُ زِنَاهُ الْكَلاَمُ وَالْيَدُ زِنَاهَا الْبَطْشُ وَالرِّجْلُ زِنَاهَا الْخُطَا وَالْقَلْبُ يَهْوَى وَيَتَمَنَّى وَيُصَدِّقُ ذَلِكَ الْفَرْجُ وَيُكَذِّبُهُ)) ، (رواه مسلم، مشکوة) ، **ترجمه** : ((دسترگو زِنا ليدل دی، دغوږونو زنا اوريدل دی دژبې زِنا خبرې

كول دي دلاسونو زنا نيو دي او دخپو زنا تلل دي او دزړه زنا آرزو او خواهش كول دي او شرمگاه يې ياتصديق كوي يا يې دروغژن كوي»، په ابوداؤد شريف كې يو حديث دې چه عبدالله ابن أم مكتوم يو ړوند صحابي وو اودنبي اكرم صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شونو نبي اكرم صلى الله عليه وسلم حضرت ام سلمه رضى الله تعالى عنها او حضرت ميمونه رضى الله تعالى عنها ته اوفرمايل:چه پناه شئ هغوئ عرض وكړو چه هغه خو ړوند دې مونږ نه ويني ،نبي اكرم صلى الله عليه وسلم اوفرمايل تاسې خو ړندې نه يئ ولې تاسې يې نه وينئ؟.

اشرف على صاحب رحمه الله فرمايي : ښځې ته په شهوت سره دچا طرفته قصداً نظركول جائز ندى بغيردخپل خاوند نه اوبغير دشهوت نه په نظركولو كې تفصيل دې چه دښځې بدن ته دنوم نه ترزنگنونو پورې ددې نه علاوه نور بدن ته كتل جائز دى او دسړي بدن ته دنوم نه دزنگنونو پورې كتل په اتفاق سره حرام دى او ددې نه ماسوا ته كتل مختلف فيه دى ،دشافعيه ؤ په نزد حرام دى او داحنافو په نزد بغيردشهوت نه كه حرام ندى خو جائز هم ندى، په يوروايت كې دى چه دقيامت په ورځ به تولې سترگې ژړيدونكې وى ليكن يو څه سترگې به پكې خوشحاله وى يوه پكې هغه سترگه ده چه دالله تعالى دمحرماتو نه ساتلې شوې وى، په يو حديث كې دى چه : «لَعَنَ اللّٰهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُوْرَ اِلَيْهِ» (رواه مسلم) ،يعنې دالله تعالى لعنت دې وى په هغه چا چه (په بدنظر گورى اوپه هغه چا چه ورته ليدلې شى (كه ذهغې بى احتياطى وى) ، په يوبل روايت كې دى چه نبي اكرم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دى : د (پرديو) ښځوسره دتللو اوراتللو نه ځان ساتئ ، يوسړى عرض وكړو يارسول الله دليور په حق كې څه حكم دې، نبي اكرم صلى الله عليه وسلم اوفرمايل : چه ليور خو مرگ دې، دښځې دميړه ورور، په يوروايت كې دې چه كله يو سړې د (غيرمحرمې) ښځې سره كينى په تنهاء ځاى كې دريم ورسره شيطان وى.

خلاصه دا چه آمدورفته دبندولو ښه طريقه پرده ده او اسلام په سفر كې هم ددې عصمت ساتلو بندوبست كړيدې نو دالله پاك قانون دې چه ښځه په سفر كې تر هغې

نشی تللي ترڅوپورې چه محرم ورسره نوی، حج چه یو عبادت دې او د اسلام بنیادی رکن دې خودا رکن هم بغیر د محرم نه نشی اداء کولې ، په یو حدیث شریف کې دی چه دمؤمنې ښځې دپاره جائز ندی چه بغیر د محرم نه یوه شپه سفر وکړی ، محرم هغه دې چه نکاح یې ورسره حرامه وی لکه پلار، ورور، خاوند وغیره نو دپردې نه دشریعت مقصد عفت دې پس که داسې کار اختیار کړې شی چه په کوم کې په عفت باندې غلط اثر پریوځی نوهغه کار شرعًا ناجائز دې .

**نکته** : لواطت که دخپلې بی بی سره وی یا دبلې ښځې یا سړی سره خو په هر حال کې حرام دې او ټول دعلم خاوندان او سلیم الطبع ددې کار په قبح او خُبث باندې متفق دی حتی چه دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد گرامی دې کوم سړې چه دحائضې نه یادښځې دشا طرف (دُبر) نه خپل شوق پوره کړی او یا کاهن (دغیبو خبرې کوونکی) ته راشی نوده ددین محمدی (صلی الله علیه وسلم) نه انکار وکړو (رواه الترمذی) ، په یو روایت کې دی څوک چه تاسو دقوم لوط په عمل بیاموموئ قتل یې کړئ فاعل هم او مفعول هم (ترمذی)، نو اسلام دنورو بدیو سره سره ددې بدکارهم په سختنه سره منع کړیدې، یو وارې ددې خطرې داظهار په موقع نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : ځما سره دخپل اُمت دټولونه زیاته ویره دقوم لوط دعمل ده (جمع الفوائد، صفحه : (۲۸۹ ، جلد: ۱) دجمهورو علماؤ مذهب دې چه کوم سړې لواطت وکړی، دادې قتل شی که محض (واده شوې وی) اوکنه نو ددې جرم معافی بالکل نشته ، دحضرت ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه ، حضرت علی ، حضرت خالدبن ولید رضی الله تعالی عنهم اجمعین او امام مالك او امام احمد بن حنبل اویوقول دامام شافعی رحمهم الله دې ، اوځینې علماء وایی چه ددې حد په شان دحد د زِنا دې لکه سعید بن المسیب، حسن بصری، امام ابویوسف او امام محمد اویوقول دامام شافعی او امام احمد بن حنبل رحمهم الله هم دې ، او ځینې علماء وایی چه په زِناء او لواطت کې لوئ فرق دادې چه په زِناء کې حد مقرر دې او په لواطت کې ندې مقرر بلکه حاکم ته اختیار دې چه څومره زیاته دردناکه سزاء ورکولې شی چه دغره نه دې را وغورځوی اویا دې اورته واچوی ، دحضرت امام ابوحنیفة رحمه الله دا قول دې بهر حال دلوطی په قتل

تول متفق دی، اختلاف صرف دقتل په نوعیت کې دې اودعقل په لحاظ سره هم دا
دنولونه بیکاره اوبوغیر فطری عمل دې چه داسې په حیواناتو اوځناورو کې هم چرته
نه موندل کیږی ، پدې کار سره انسان دانسانیت څخه پلیتوی دنسل کشی اعلان کوی
او دښځو تباهی اوبربادی هم پدې کې ده اولوطی هم په بیماریو کې مبتلا کوی،
اندامونه یې سست شی مخ یې بې رونقه شی اوبیایی نتیجه داشی چه دښځو دکاره
بالکل وه وځی او دابد قسمته انسان داولاد دنعمت نه او دعفت دعظیم الشان دولت
نه دهمیشه لپاره محروم شی ترمرګه پورې دعذاب دګنجی څخه نه په امان کیږی ، او
دقوم لوط دبد عمل نتائج په قرآن مجید کې واضح بیان شویدی چه هغه هلاك شویدې
دیچ کیدو تدبیریې دادې چه دغه فطری بد عمل څخه ځان وساتی، ددې صورت دادې
چه دښائسته هلکانو نه ځان وساتی، حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی دمالدارو دبچو
سره دناستې پاستې نه ځان ساتل پکار دی ځکه چه دوئ پخپل شکل اوصورت ،
لباس او پوشاك سره سراسر فتنې دی، همدارنګه حضرت امام محمد رحمه الله لیکلی
دی چه ده په خدمت کې یو سړې حاضر شو چه یوپې مخې هلك ورسره هم وو امام
صاحب پوښتنه وکړه دادې څه دې؟ هغه وویل چه دامې خوریی دې . نوامام صاحب
ورته وویل چه دوباره به دا هلك ځان سره نه راولې اوځان سره یې په بازارونو کې مه
ګرځوه چه خوك درباندې بدګمانی ونکړی داخو دهغې بزرګانو رایه ده چه په علم او
عمل زهد او تقوی کې بې مثله اومسلم وو ، فقهاء رحمهم الله دشهوت دویرې په وخت
کې دپې مخې هلك مخ ته کتل حرام وایی چه دشهوت دمیلان ویره وی نودغه وخت
کې دښځې او پې مخی هلك مخ ته کتل حرام دی (درمختار، رد المحتار) .
پې مخې هغه هلك ته وایی چه ږیره یې نوی راختلې اوبریت یې نوی دشنه کیدو
په حال کې وی اولا شنه شوی نوی، بعضې علماء وایی چه پې مخې هلك که ښائسته
وی نو بیا خودښځې په حکم دې یعنې تول وجود اوجسم ته یې کتل پکار ندی، البته
ابوالقاسم رحمه الله فرمایی چه که په شهوت سره وو نو کتل او لیدل جائز ندی لیکن
که دشهوت ویره نه وی نو بیا خیردې، او ابن القطان فرمایی : دپې مخی چه ګیره یې
نوی راختلې دهغه مخ ته دخوند او مزې اخستو په ارادې سره لیدل په اجماع سره حرام

دی اوکه دا نوی اوکتونکې ددې فتنې نه په امن وی نو بيا په اجماع سره جائزدی ((رد المحتار ، صفحه :۲۸۵،جلد:۱)) ، شهوت نوم دې دزړه دميلان ((رد المحتار ، صفحه ۲۸۷ ، جلد:۱))

پدې سلسله کې دا عرض کول هم ضروری دی چه ددې فتنې په وجه سره نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه یوځای کې دې دوه تنه سړی نه څملی او همدارنګه دوه ښځې هم ((مشکوة)، شاه ولی الله رحمه الله ددې حدیث په تشریح کې فرمایی : ددواړو سړیو یوځای څملاستل او ویده کیدل جائزندی اګر که یود بسترې په یوه غاړه وی اوبل یی په بله غاړه وی (تفسیر کبیر،صفحه : ۲۵۹ ، جلد: ۶ (اللهم استرعوراتنا آمین یارب العالمین)، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایی : دغیر سړی سترته لاس وروړل (مسح کول) حرام دی پدې کې هیڅ فرق نشته چه دبدن دهرې یوې حصې سره سترمسح شی ټول حرام دی (فتح الباری، صفحه: ۱۲۸ ، جلد: ۱۱) ، زمونږ پدې دور کې هغه خلکوته عبرت پکاردې چه په هلکانو ځان چاپی کوی اوزنګنونه پرې مالش کوی اوعیب یی نه ګڼی، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: ((یوسړې به دبل سړی ستر ته نه ګوری)). (اللهم انی اسئلك الهدی والتقی والعفاف والغنی، آمین یا رب العالمین).

# اسلامی حکومت ((سیاسی ګړنلاره))

محترمو مسلمانانو : دټولونه اول داسلامی حکومت په جوړولو کې داسلام پالیسی داده چه له کوراوکورنۍ نه نیولې ترقبیلې ، قوم اوملت پورې مشترکې چارې باید دخلکو اوحقدارو کسانو په مستقیم ګډون کولو یا دهغوئ داعتماد وړنمایندګانو په اشتراك فیصله کړی شی او دشورئ هر غړې باید دخپلې رائی څرګندولو کې دپوره واك او آزادی خاوند وی دسیسه، مکر،فریب، غولونه، مادئ او سیاسی تطمیع باید پکې لاس ونلری دنمایندګانو په ټاکلو کې باید له تعقل اوځیرکی نه کار واخستل شی له الله تعالی نه ویریدونکی، متقیان، حق ویونکی، حق

خوښونکي، په حق مين او حق پالونکي کسان بايد دنمايندګانو ((وکيلانو)) په توګه وټاکل شي داسې کسان چه دناوړې نظريې او بد عمل خاوندان نوي ناوړه سابقه ونلري دخير او ښيګڼې هيله او توقع ترينه کيدې شي دبد دبيانتې او دين پلورنې ډاير او وبيره ورڅخه نوي امانت دار وي، لکه چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((اَلْمُسْتَشَارُ مُؤْتَمِنٌ)) ،(طبراني في الکبير)، يعني داسې څوك وي چه په ديانت او امانت داري باندې يې اعتماد وي چه دخپلو شومو اغراضو لپاره دملت او ټولنې ګټې تلف نکړي او دالله تعالی ددې حکم په وړاندې دمسؤوليت زور احساس ولري چه ((إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا)) . **ترجمه** ((په تحقيق الله تعالی تاسې ته امر کوي چه امانت خپل ذی حق ته وسپارئ)) وروسته له دې چه دشورې ترکيب سالم وي يعني په لنډو او عام فهمه تعبير دشورې غړي له اسلامي اصولو سره سم دايمان . تقاضت، عدالت، عقل او بلوغ له عام عُرف نه دباخبرې ،داعتماد وړ او وسيدلو دصفاتو لرونکي کسانو څخه جوړه شي نو بيا دهغې هره فيصله چه درايو په اتفاق يا درايو په اکثريت سره صادريږي داسلام له نظره دپوره اعتبار وړ ده او دشورې اقليت که څومره دقدرت او نفوس خاوندان وي هم دهغې دماتولو حق نلري خو پدې شرط چه فيصلی به دالله تعالی ددين دتشريعي حدودو په داخل کې وي لکه چه الله تعالی فرمايي ((فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ)) ((ستاسې ترمنځه چه هره شخړه او لانجه پيښه شي په هغې کې الله تعالی او دهغه رسول ته رجوع وکړئ))، او که چيرې داسې وشي چه په کومه موضوع کې د شورې داکثريت فيصله دخپلواکې پر بنسټ تړ وي او ددين دتشريعي حدودو پروا پکې نوي ساتلې شوې پدې صورت کې اقليت هم دهغې دماتولو حق لري او د شرعي استدلال په اساس احتجاج کولې شي، همدارنګه اسلامي تاريخ شاهد دې چه ((دقوم مشرانو)) او صالحانو خليفه ټاکه او وروسته بيا عوامو دبيعت په توګه ددغې ټاکنې منظوری ورکوله ددې زمانې جمهوري انتخاباتو سره يې توپير داوو چه په اسلامي ټولنه کې چا خپل خان درياست نامزد کړی نه کاناديد ولو بلکه دقوم دپوهانو لخوا ټاکل کيده پدغو مشرانو او لويانو

باندې داعتماد له امله به دمختلفو قبیلو مشران اوډلې راتللې او پخپله خوښه به ي
لـه خلیفـه سره بیعت کاوه او پدې توګـه بـه دخلیفـه دانتخاب موضـوع سرتـه رسید
اودغه خبره دې باید هم ژیرغور وی چه دآمر په انتخاب کې داسې نوی لکه پدې زمان
کې چه رواج دې چه هر ښه اوبد سړې، هرفاسق اوبدلاری، نارینـه اوښځې بـه ټول پـ
دغه انتخاباتو کې حصّه او شرکت لری اوکله یې نتیجه داهم شی چه آمریت ښځو او
وطن او اسلام فروشو ته وسپارلې شی «قَالَ لَمَّا بَلَغَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ
أَهْلَ فَارِسَ قَدْ مَلَّكُوا عَلَيْهِمْ بِنْتَ كِسْرَى قَالَ لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّـوْا أَمْـرَهُمْ امْـرَأَةً» «رواه
البخاری»، **ترجمه**: «هرکله چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم تـه خبر ورسیدلو چه
فارسیانو په خپلو ځانونو باندې دکسرٰی لور حکمرانه جوړه کړه نو وې فرمایل: چه
هرګز به کامیاب نشی هغه قوم چه دخپل کار زمام ښځو ته وسپاری».

په یوروایت کې دې چه «فَقَالَ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ إِذَا ضُيِّعَتْ الأَمَانَةُ فَانْتَظِرْ السَّاعَةَ قَالَ
كَيْفَ إِضَاعَتُهَا قَالَ إِذَا وُسِّدَ الأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرْ السَّاعَةَ»، «رواه البخاری»، **ترجمه**:
یواعرابي وویـل قیامت بـه کله وی نبی اکرم صلی الله علیـه وسلم اوفرمایـل چه کله
امانت بربادشی نودقیامت انتظارکوه،اعرابی وویل د امانت بربـادی څنګه وی ، نبی
اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایـل: چه کلـه اختیـارات «زمـام دکـار» نـا اهلو خلقوته
وسپارل شی پس دقیامت انتظار کوئ.

خلاصه دا چه ښځې، عوام، جاهلان اومریان اواهل ذمّه حق دانتخاب شرعًا نلری
او محروم دی نوعـام انتخابـات شـرعًا جائزنـدی، نوداهـل الحـل والعقـد شوری دا
مسؤولیت دی چه خپله رایه دحق لپاره استعمال کړی ځکه چه رایـه ورکول یو شخص
ته درې اعتباره لری: ۱ـ اول دا چه پدې شهادت دې چه دغه سړې ددې حقدار دې او
پـه اسلام کې پـه دروغـه شـهادت دګناه کبیره څخـه شمارل شویده. ۲ـ پدې حقله
شفاعت دې چه ددې اهل دې نوغیر اهل ته سفارش کول شرعًا ممنوع دی لکه چه الله
پاك فرمایی «مَّن يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُ نَصِيبٌ مِّنْهَا وَمَن يَشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَكُن لَّهُ
كِفْلٌ مِّنْهَا» «سورة النساء».

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

۴_ دخپل ځان اوقوم اوملت وکيل جوړول دی دغير ذی اهل دوکالت لپاره
انتخاب کول دخپل ځان اوقوم اوملت سره ستر خيانت دې په خيانت سره دځان او ملت
تباهي راځي، دا مسؤليت به هم دده په غاړه وی ، په يوه مخ په ترقی تولنه کې
دحکومت اهميت ډير زيات دې په حقيقت کې ديوملت تهذيب اوتمدن دهغې
پرمختګ دهغه قوت اوعظمت دهغه له حکومتی نظام څخه معلوميدې شی حتی چه
نبي اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی : ((اِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا كَانَ
ثَلَاثَةٌ فِيْ سَفَرٍ فَلْيُؤَمِّرُوْا اَحَدَهُمْ)) (رواه البخاری)، **ترجمه** : ((بنی اکرم صلی الله عليه
وسلم فرمايلی دی چه : کله درې سړی سفرته ووځی نوهغوئ ته پکار دی چه په خپلو
کې يوامير ((امرکوونکې اوحکم کوونکی مشر)) جوړکړی)) ، علماؤ ددې حديث
لاندې ليکلی دی چه دسفر په حالت کې په خلکو جماعت جوړول فرض کړی شويدی
نودا خبره په طريقه اولی سره ضروری ده چه اهل ايمان دې ديوجماعت شکل اختيار
کړی که دهغوئ جماعتی نظام تس نس شوې وی مسلمانانو دپاره جائزندی چه
انفرادی حالت کې ژوند تيرکړی، په يوحديث شريف کې دی چه : ((مَنْ سَرَّهُ اَنْ يَّسْكُنَ
بُحْبُوْحَةَ الْجَنَّةِ فَلْيَلْزِمِ الْجَمَاعَةَ فَاِنَّ الشَّيْطَانَ مَعَ الْوَاحِدِ وَهُوَ مِنَ الاِثْنَيْنِ اَبْعَدُ))، **ترجمه** :
رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی : څوک چه دجنت منځ کې خپل کورجوړول
غواړی هغه له جماعت سره اوسيدل پکار دی څکه چه ځانته سړی سره شيطان وی
اوکوم وخت چه هغوئ دوه شی نوشيطان تری لرې شی، خلاصه دا چه امام درول واجب
دی په خلکوباندې لکه چه شرح عقائد نسفی اوملاعلی القاری اوصاحب درمختار
بيان کړيدی چه مذهب داهل سنة والجماعة اودعامو معتزله وو دادې چه واجب دی په
خلکوله وجهی دقبلولو ددې قول دنبی اکرم صلی الله عليه وسلم نه ((مَنْ مَاتَ وَلَمْ
يَعْرِفْ اِمَامَ زَمَانِهٖ فَقَدْ مَاتَ مِيْتَةً جَاهِلِيَّةً)) (رواه مسلم)، يعنې هغه شخص چه مړشوبدون
دامام څخه ((يعنې امام دزمانې خپلې يې نه پيژندلو)) مړشو په مرګ دجاهليت سره
اوبل داچه صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعين دټولونه اول دامام درول
مقصود ګڼلی دی.حتی چه وړاندې کړی وو درول دامام په دفن کولو درسول الله صلی

نشته لکه امام چه قائم الله علیه وسلم باندې، لدې وجهې نه مسلمانانو لره خلاصې وی په تنفیذ داحکامو اوپه اقامت دحدودو اوبندولو اوساتلو دسرحداتو اوپه تیارولو دلشکر و او په اخستلو دصدقاتو او زکاتونو ددوئ، اوغلبه اوزور یی وی په باغیانو او په غلو او په قطاع الطرقویعنې لارو وهونکو اوقدرت یی وی په پوره اداء کولو دجمعو او داخترلمونځونو اوپه نکاح اخستلو وړو (هلکانو) ته او په نکاح ورکولو دوړو (جینکو) هغه چه دوئ اولیاء نلری اوپه ویشلو دغنیمتونو او مثل ددغو له هغه واجباتو شرعیه و څخه چه تصرف پکې نشی کولې افراد دأُمّت لکه ترل دپلونو یانور دغسې شیان اونه دی رواء دروّل ددوو کسانو امامانو په یوه زمانه کې ځکه چه وراندې کیږی منازعات مخاصماتو اوجنگونو ته او اختلاف دامورو ددین اودنیاته لکه په موجوده زمانه کې په سترگو لیدل کیږی اوکچیرې دغه شرائط ورکې موجود نه وی هغه شرعی آمر نشی بللې ((ملاعلی قاری، صفحه: ۱۴۶ ، درمختار، صفحه: ۴۰۵ ، جلد: ۱۱، وغیرذلك)).

په اسلام کې درعیت اوخلیفه حقوق او واجبات تاکل شویدی کله چه داسلامی نظام نوم اخلو هغه ځلویښت کلنه روښانه دوره مو سترگو ته دریږی چه درسول الله صلی الله علیه وسلم او خلفاء راشدینو ترقیادت لاندې په هغې کې یو مثالی حکومت بر قرار وودهغه داساسی منشور اولنې خصوصیت داوو چه یوازې په ژبه دانه ویل کیدل بلکه دزړه له کومی منل کیدل هم، او په عملی کړنلارې سره ددغې عقیدې اوباور پوره اثبات هم کیدلو چه ځمکه دالله پاك ده اوسیدونکی دالله پاك رعیت دې اوحکومت ددغه رعیت په برخه کې دالله پاك په وړاندې مسؤول دې اودهغه په رعیت باندې دهغه قانون نافذ کړی، داسې نه چه دځان غلامان یی جوړ کړی داسلامی دولت روح تقوی ده چه له الله پاك نه ویره او په ټولو چارو کې له الله پاك سره ارتباط ساتل دی، لکه چه په هغه مثالی دور کې همداسې وو ، ددغه روح ترټولو لوئ مظهر به هغه څوك وو چه دقدرت واگی یې په لاس کې وې دحکومت مؤظفین، قضات اوعسکری مسؤولین په همدغه روح ژوندی وو دایی هلې ځلې وې چه دټولنې په جسدونو کې همدغه روح ځای ونیسی په نیکیو امراو له بدیو نه منع کول داسلامی حکومت وجیبه

نو اگر چه دغه کار دهر مسلمان دي خو دقدرت خاوندان تر ټولو دمخه وربانديې مکلف دي. دغه اصل درعيت لپاره دحق او دحکومت لپاره دمکلفيت بڼه لري، پدې پورې اړولې خبرې دادي چه خليفه او دهغه حکومت دالله پاك او دخلکو دواړو په وړاندې مسؤوليت لري داسلامي دولت يو اصل دا هم دې چه بيت المال دالله تعالى مال او د مسلمانانو امانت دې په صحيح طريقه بايد مصرف کړې شي او داهم داسلام داساسامې يو پوخ اصل دې چه لاقانونيت دې نوى بلکه ديوعادي فردنه نيولې تر زمامدار پورې ټول بايد ديوه اسلامي قانون پابند وى او په ټولو باندې بايد قانون په يوشان تطبيق شي ، ددغه اصل له مخې دنسل ، رنګ، ژبې او وطن امتيازات لغوه دى او همدارنګه دښه سيرت، ښو اخلاقو، ښه عمل او ښه خدمت امتياز شرعي مسلّم امتياز دې ددښمنى او دوستى معيار دالله پاك دوستى ده که په وينه کې شريك او په عقيده کې بيل وى نو دوينې شرکت بى معنى دې او دعقيدې بيلتون داعتبار وړدې لکه چه ابو لهب داسلامى رياست دقائد نبى اکرم صلى الله عليه وسلم تره وو او دهغه ددښمنانو په صف کې حسابيږى ، اوسلمان فارسى رضى الله تعالى عنه له ايران نه او صهيب رضى الله تعالى عنه له روم نه اوبلال رضى الله تعالى عنه له حبشې نه راغلى دى هم په ژبه او هم په ثقافت او کتلور کې او هم په رنګ او نسب کې بيل دى خو په عقيده کې شريك دى نو سره نژدې خپلوان او اقارب دى ،دمسلمانانو عقيدوى او دينى اصلاحاتو ته دکلکى پاملرنې ترڅنګ دهغو داقتصادى چاروښه کيدو ته پوره توجه داسلامى اساسامې له مهمو اصولو څخه دې ، په اسلام کې مالى فرائض دهمدې هدف لپاره منځ ته راوړل شويدى. خلاصه داچه آمرته دحضرت ابوبکر صديق رضى الله تعالى لومړئ بيانيه په مسجد نبوى (صلى الله عليه وسلم) کې له عمومي بيعت نه وروسته واوروله هغه کافى ده چه په هغې کې يې اوفرمايل : ((زه پرتاسې حکمران ګرځولې شوې يم پداسې حال کې چه له تاسو ټولو نه غوره انسان نه يم په هغه ذات قسم چه زما دروح واکمن دې ما دغه منصب په خپله مينه او غوښتنه ندې اخستې نه ما داغوښتل چه دادې دکوم بل چاپه عوض ماته ورسيږى نه ماله الله تعالى نه ددې کار لپاره دعاء کړيده نه زما په زړه کې کله ددې هيله پيدا شويده ما دا په ناخوښى

سره ددي لپاره قبول کړيدي چه زه په مسلمانانو کې داختلاف دفتنې اوپه عربو کې دارتداد دفتنې له راولاړيدو نه انديښمن ووم ، زما لپاره پدې منصب کې څه راحت نشته بلکه دا يو درونـد پيتې دې چـه پرمـا بانـدې ايښـودل شـويدې پـه مـاکې دهغه دپورته کولو طاقت نشته مگر دا چه الله تعالى را سره مرسته وکړی که بل څوك دا مسؤوليت پورته کولي شي زما بيعت دهغه لپاره حائل ندې که زه سم کار وکړم نو زما مرسته وکړئ او که غلط کار وکړم نوما سم کړئ ، صداقت امانت دې او دروغ خيانت دې ستاسې کمزورې زما په نزد قوی دې تردې پورې چه زه دهغه حق ورته ورسوم که الله پاك اوغواړی ، اوستاسې زورور څما په نزد کمزورې دې تردې پورې چه له هغه نه حق واخلم که الله پاك وغواړی، هرقوم چه دالله تعالى پـه لار کې جهاد پريږدی الله تعالى هغه ذليله کوی اوپه هر قوم کې چه فحشاوی خوری شي هغه په عمومى مصيبت کې اخته کوی زما طاعت وکړئ ترڅو پورې چه زه دالله تعالى اودرسول صلى الله عليه وسلم اطاعت کوونکې اوسم اوکه زه دالله تعالى اودهغه درسول صلى الله عليه وسلم نافرمانى وکړم نوزما اطاعت پرتاسې نشته زه پيروی کوونکې يم دنوې لارې جوړونکې نه يم.

همدا رنگه درعيت په حق کې اسلام دا ندی ويلى چه که مشر هرڅه کوی پر هغه باندې به انتقاد نکيږی ځکه چه دا تخريب دې او دپاليسی پر خلاف کار دې پدې سره مصلحت ته زيان رسيږی دغير اسلامی پاليسی رعايت پخپله جرم دې اسلام خو دا وايي چه بهترين جهاد دظالم حاکم په وړاندې دحقه خبرې ويـل دی، دحق ويلو اوحق انتقاد په مقابل کې راز راز توطئی اودسيسې جوړول دهغه پر خلاف له سخت گيری اوتشدد نه کار اخستل اوهغه ځورول داسلامی عدل او انصاف داصولو نړول دی دا کړنلاره خود کمونيزم دشيطانی نظام ده چه دبشر دوستی اومساوات په نوم دانسانانو نه درايي آزادی اوحريت سلبوی ، الله پاك دې مونږ ته داسلامی پاليسی پياده کولو اسباب تيار کړی، آمين بجاه سيد المرسلين .

# طریقه زندگی ((آدب))

محترمو مسلمانانو: دانسان دژوندا و ژواك ټول هغه کړه وړه چه شریعت یی حدود ټاکلی دی اوله هغو څخه په ناسته ولاړه، هستوګنه، نظافت، خبرو اترو، ښځلو، اغوستلو اودژوند نورو اړخونوکې ورنه کار اخستل کیږی دهغوئ مجموعی ته آداب ویل کیږی دهمدغو آدابو مراعات ساتلو په واسطه دیوه متمدن فرد او ولس (مسلمان) اودیوه وحشی فرد او ولس (فاسق یا کافر) پیژندګلوی او امتیاز کیدلې شی د آدابو پر ځای راوړل او پخپل فردی او ټولنیز ژوندکې، دهغو مراعات ساتل دانسان ژونداوژواك ته درنښت او خوند ښښی او انسانی کرامت پکې په فطری توګه ښه وده کولې شی اسلام پخپله دفطرت دین دی له همدې کبله په اسلامی آدابو کې ډیره برخه دانسان دفطرت دغوښتنو سره سمون لری یعنې آداب فطرتًا غوره او دانسان دوجدان په وړاندې دمنلو وړ دی ټولو انبیاؤ علیهم السلام له بل هرچا دمخه پخپله ددغو آدابو پیروی او مراعات ساتلې اوبیایی خپل امتونه دهمدغو آدابو مراعات ساتلو ته رابللی دی، اسلامی آداب دانسانانو هغه معنوی ارزښتونه او امتیازات دی چه هغوئ له ځناورو څخه رابیلوی دمثال په توګه انسان په فطری ډول دخپل بربنډ ځان پټول هرومرو غواړی دانسان ویښتان او نوکان لوییږی ځان او جامې یې خیرنیږی خوفطرت یې ددې شیانو سمول غواړی، دهمدې ذکر شوو شیانو سمون دمتمدنو او ځنګلی انسانانو په منځ کې توپیر راولی. په مسلم شریف کې دحضرت عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها نه یو حدیث نقل دې کړې شویدې چه: لس شیان فطری دی: ۱ـ بریت واړه کول، ۲ـ ږیره لویول، ۳ـ مسواك سره غاښونه صفا کول، ۴ـ پوزه کې اوبه اچول اوصفاکول، ۵ـ نوکونه پرې کول، ۶ـ دګوتو په منځوکې دګوتونو مینځل، ۷ـ دتخرګونو ویښته لرې کول، ۸ـ دنامه لاندې ویښته لرې کول، ۹ـ په اوبو استنجاء کول، ۱۰ـ دخولې کنګالول، خو روایت کوونکې وایی چه لسم شئ له ما څخه هیر شوی دې خوغالب ګمان دادې چه مخکې کوم ذکر شو همدغه به وی. ((رواه مسلم فی

باب خصال الفطرة)، يعني بريت دشونډو سره هوار پريکول سنت دي او په کلولو (خرييلو) کې يې اختلاف دي ځينې ورته بدعت وايي او ځينې يې جائز ګڼي احتياط پدې کې دی چه کل نشی، دبريتونو څوکې اوږدې پريښودل خير دي هلته چه دشونډو په برابر کې بريت دشونډو برابر پريکړې شوی وی او بل ږيرې (ژيرې) لويول دی، دابن عمر رضی الله تعالی عنه نه روايت دې چه نبی اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی ((خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ أَحْفُوا الشَّوَارِبَ وَأَوْفُوا اللِّحَى))يعنې خلاف وکړئ دمشرکينو سره بريتونه کم کړئ او ږيرې اوږدې کړئ.

دحضرت ابوهريرة رضی الله تعالی عنه نه روايت دې چه نبی اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی: ((جُزُّوا الشَّوَارِبَ وَأَرْخُوا اللِّحَى خَالِفُوا الْمَجُوسَ))، (مسلم) يعنې بريت قينچی کړئ او ږيرې اوږدې پريږدئ، يعنې مشرکانو به ږيرې کلولې او مجوسيانو به قينچی کولې نودواړه طريقې دکفارو شوې، نونبی اکرم صلی الله عليه وسلم ددوئ په خلاف حکم وکړو اوس هغه حکم دږيرې چه کوم فطرتی وو دتمامو پيغمبرانو عليهم السلام هم خوښ وو اوبيا دمحمد رسول الله صلی الله عليه وسلم هم خوښ وو پخپله يې هم ږيره اوساتله او مونږ ته يې هم دږيرې دساتلو حکم راکړې دې چه زما منونکو او ځما سره مينه لرونکوتاسوهم ږيرې پريږدئ ، چه اوس يې څوک نه پريږدی يايې لنډه وی دموټی څخه پخپله دعوا دمحبت کې اوحکم منلو کې دروغجن دی، ابن عمر رضی الله تعالی عنه به خپله ږيره مبارکه په موټی کې ونيوله او دموټی نه به چه کومه زياته پاتې شوه هغه به يې پريکړه ((رواه ابوداؤد)) ، دقرآن کريم نه هم ثابتيږی چه پخوانيو پيغمبرانو عليهم السلام ږيرې به دموټی په اندازه وې ، کله چه حضرت موسی عليه السلام خپل ورور حضرت هارون عليه السلام دږيرې نه نيولې وو نو قرآن مجيد وايی ((قَالَ يَا ابْنَ أُمَّ لاَ تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلاَ بِرَأْسِي)) (سورة طه) ((وويل (هارون عليه السلام) ای ځما دمور ځويه ما دږيرې او سر نه مه نيسه))، يعنې دموټی نه کمه ږيره لاسونو ته نه راځی ، دُرمختارکې راځی چه پدې خبره دعامو سلفو اوخلفو دهرجماعت اتفاق دې ږيره به دقبضې هومره وی يعنې دموټی نه به کمه نه وی، به

يوحديث شريف كې دي چه : «سُبْحَانَ مَنْ زَيَّنَ الرِّجَالَ بِاللُّحٰی وَزَيَّنَ النِّسَاءَ بِالْقُرُوْنِ وَالذَّوَائِبِ» ، **ترجمه** : پاك دې هغه ذات چه ښائسته كړي يې دي سړي په ږيرو سره او ښائسته كړې يې دي ښځې په زلفو او په ښكرونو (غټو كمڅيو) سره .

اول حديث دې : «عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ لَعَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَشَبِّهِيْنَ مِنْ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنْ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ» (رواه البخاري) .

**ترجمه** : دحضرت عبد الله ابن عباس رضی الله تعالى عنه نه روايت دې فرمايي چه لعنت ويلې دې نبی اكرم صلی الله عليه وسلم په هغه سړو چه شكل جوړه وی په طريقه دښځو او (لعنت يې ويلې دې) پـه هغـه ښځو چه شكل جوړوی په طريقه دسړو) .

خلاصه دا چه : څوك ږيره (ژيره) قينچی كړی اودموټی نه يی كمه كړی نودغه سړی فاسق دې كه توبه ونه باسی نو مونځ وريسې مكروه تحريمی دې «كبيری، شامی» اودحلق ويښته لرې كول ښه ندی خودامام ابويوسف رحمه الله نه روايت دې چه څه حرج يی نشته ، دږيرې دښائسته كولو لپاره دهغې نه سپين ويښته لرې كول جائز ندی مگر دغازيانو لپاره چه په دښمن باندې دهيبت غورځولو پـه غرض وی جائز دی ،او دپوزې ويښته ويستل ښه ندی په قينچی يې پريكول پكار دی په هره هفته كې دنامه لاندې ويښته او دترخگونو ويښته لرې كول اودنوكونو پريكول ،غسل كول ، ځان صفاستره كول سنت دی، كه هره هفته نه وې په پنځلسمه ورځ پكاردی اوكه دا هم نوی نو په څلويښتمه ورځ كې ضرور پكاردی ،كه ددې نه زيات وخت تيرشی بيابه گنهگار وی دلاسونو نوكونه په داسې ترتيب پريكول ښه دی چه دښی لاس دشهادت دگوتې نه شروع شی تر كچی (وړې) گوتې پورې پريكړې شی، بيا دې چپ (گس) لاس دكچې (وړې) گوتې نه شروع شی تر غټې گوتې پورې بيا دې دښی لاس دغټې گوتې نوك پريكړې شی كه داسې ترتيب ونشی بيا هم جائز دی ، دخپو دښئ خپې دكچی (وړې) گوتې نه نيولې تر دچپی (گسې) خپې دكچې (وړې) گوتې پورې اوځينی علماؤ داهم ويلی دی چه ديكشنبې او سه شنبې په ورځ نوكونه پريكول ښه نه دی ځكه چه دفقر او دجزام «گوزڼ» دمرض خطره وی .

**نکته** : داحنافو دا مذهب دي چه ګیره (ږیره) پریښودل او اوږدول واجب دي (او دګیرې کلول اولنډولو حرام دی) اوڅوك چه ورته سنت وایی دهغې معنی داده چه ثبوت یې په سنت سره شویدې (شامي، صفحه :۳۸۸، جلد :۵)، دقبضې نه دزیاتې ګیرې په باره کې داحنافو اقوال مختلف دي دبعضو قول دادې چه پریکول یې بهتر دی او پریښودل یې جائز دی، تر دې حده پورې چه دخلکو دمسخرو سبب ونه ګرځی او بعضو ویلی دی چه پریښودل یې بهتر دی ، اول دا قول دجمهورو دي ((هندیه، صفحه :۳۵۸، جلد :۵))، اوفطرت په معنی دپیدایش سره دې اومراد دفطرت نه پدې ځای کې هغه سنت قدیمه دې چه هغه ټولو انبیاؤ علیهم السلام ته الله تعالی غوره کړیدې ګویا چه دسنت قدیمه یوخلقی اوپیدیشی امر دې اودوئ وربانډې پیداشوی دی ((السندهی علی هامش النسائی ، صفحه :۲۷۳، جلد :۲)) اوهمدا رنګه دمسواك ځو دپاسه اویا فائدې دی، یو دا هم ده چه زنکدن کې به کلمه ورته یادیږی اونور واضح دی

**اوس یوڅو نور اداب ذکر کوو** : ۱_ **طهارت او نظافت** : داخلاقو دښه والی په ډولونو کې ترټولو غوره ډول پاکی (طهارت) دې ، نظافت به له هرڅه لومړې پخپل بدن پخپل لباس اوپه خپل کور اوماحول کې عملی کوی او له هغې وروسته به دیو نظیف او پاك مسلمان په حیث دخپلې ټولنې په مینځ کې دنورو لپاره دمثال نمونه وګرځی، دنظافت مراعات سالت اوپه دې نیك عمل سره خپل ماشومان ، خپل خپلوان او خپله ټولنه عادت کول دنظافت اوپاکی دمینځ راتلو لپاره یولومړنې اصل دې په عمومی طور سره پاکی، نظافت دالله تعالی دمینې دلاس ته راوړلو یوه ذریعه ده ، لکه چه الله تعالی فرمایی ((إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ)) ، (سورة البقره) ، **ترجمه** بیشکه چه الله تعالی خوښوی بیا بیا توبه ایستونکی (له ګناهونو څخه) او خوښوی ځان ساتونکی (له پلیتو څخه) حتی چه دلمانځه دفریضې لپاره یې غسل او اودس او تیمم ضروری کړیدی او دجاموصفایی او دځای صفایی یې هم لازمی کړیده، همدارنګه دجمعې په ورځ دلمانځه داجتماع دشرکت په خاطر غسل سنت بلل شویدې .

۲_ **دخوراك اوڅښاك اداب** : دیوحدیث شریف مضمون دی چه : ((دخوراك

دخوړلو نه مخکې او وروسته باید لاسونه ومینځل شي، دخوړلو لـه پیـل ځخـه ترمخـه باید بسم الله الرحمٰن الرحیم وویل شي او که له چاځخه دخوراك په پیـل کـې دبسـم الله ویل هیرشي نوهر وخت چـه ورتـه پـه یادشـو نـو بسـم الله دې ووایـي» «ابـوداؤد کتـاب الاطعمة» ۲ـ خوراك باید پـه ښي لاس سره وشي «ابـوداؤد» ، خـواړه باید دلوښـي لـه غاړي ځنډې ځخـه وخـوړل شـي دخپلـو ملگـرو لـه اجازې پرتـه دکهجـورو او انگـورو اوداسې نورو شیانو دوه دوه داني په یو وار ونه خوړل شي ځکه پدې کار سره انسان دلکوته حریص ښکاریږي «رواه الترمذي باب الاطعمة»

دډوډۍ خوراك : یوځای او بیل بیل هم روادي خونبي اکرم صلی الله علیه وسلم په یوځای خوراك کې برکت ښودلي دي اوهمدارنگـه نوري اجتمـاعي ښیگنې هم لـري «ابوداؤد، کتـاب الاطعمـة» ، پـه خـوراك دټولونـه ړومبې شـروع مـه کـوئ دخـوراك شیانوته نیغ نیغ مه گورئ چه څوك خوراك خوري هغه ته هم نیغ نیغ مـه گـورئ ، زر زر خوراك مه کوئ په ډوډۍ باندې شخوند وهئ ترڅوچه یوه نوړئ «لقمـه» پـوره تیـره نـوی بله نمړئ «لقمه» خولې تـه مـه وړئ، دا خیـال دې ساتي چـه خـوروا «مرق» یـا بـل شـې پـه جامو باندې تویي نشي، «بهشتي زیـور» او اوبـه باید پـه دمـه دمـه پـه دوه او یـا درې ساوو وڅښلې شي ، انسان باید د اوبو پـه لوښي کې ساه وانخلي «بخـاري، ابـوداؤد، کتاب الاشربة».

له‌ضرورت او مجبوریت ځخه پرته باید اوبه په ولاړه ونه څښـل شـي البتـه دبرکـت له‌کبله دزم زم داوبو څښل په ولاړه سنت دی باید دخوړلـو اوڅښـلو دلوښـو سـرونه تـل پټ وساتل شي «صحیح مسلم کتـاب الاشربة» اوپـه دریـو گوتـو طعـام «ډوډۍ» خـوړل ښکاردي ، باید دمشك «ژی» یا گـړی «منگـی» اودنـورو لوښـو لـه خولې ځخـه اوبـه ونـه څښل شي ځکه چاته دانه معلومیږي چه پدې اوبو کې کوم مضر او خراب شې وو او که دډوډۍ دخوړلو نه وروسته باید دالله تعالی شکر ددې دعاء په ویلو سره اداء شي : الحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ» ، **ترجمه** : «حمد او ثناء هغه الله تعالی لره ده چه مونږ ته یې خوراك اوڅښـاك راکړو او مونږ یې مسلمانان کړي یو»

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

۳_ **دمجلس اداب**: دمجلس په آدابو کې اصولي کار دادې چه باید په مجلس کې دتهذیب او وقار مراعات ساتل په نظر کې ونیول شي هرڅومره خلك چه په مجلس کې سره شریك وي هریو باید په مجلس کې یوره او برابر حق ولري په مجلس کې ترکوم چه دایره وي نوي خلك چه راځي په هماغه قطار کې دې کیني داسې باید ونکړي چه ځان پورته اولوړځای ته ورسوي، پدې کې خو یو خلکوته تکلیف وي او بل خوا ده په غرور اولویې دلالت کوي، اصحاب کرام به درسول الله صلی الله علیه وسلم په مجلس کې په همدې ډول کیناستل «ادب المفرد» اوباید څوك داسې ونکړي چه په مجلس کې یوشخص له خپل ځای څخه پاڅوي او پخپله دهغه پر ځای کیني «ترمیذي ابواب الاستیذان» که یوشخص په مجلس کې په کوم ځای کیني اوبیا دضرورت په بناء دهغه ځای څخه پاڅیږي دبیرته راګرځیدو په صورت کې دغه اول ځای دهمدې سړي حق دي، که په مجلس کې دوه تنه سره یوځای ناست وي نوبل څوك حق نلري چه دهغوئ له اجازې پرته ددوئ په منځ کې کیني اوهغه سره جدا «جلا» کړي، که خلك په مجلس کې دحلقې په شکل ناست وي نو باید بل څوك ددغې حلقې په منځ کې کینه نی، اوکه څوك کیني نو په داسې شخص باندې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم لعنت ویلې دی «ترمذي ابواب الاستیذان»، په مجلس کې باید څوك دچا په مخکې او یا دهغه ګرد چاپیره ونه دریږي ځکه دغه یوغیر اسلامي سلوك دی لکه ځیني خلك چه په مجلس کې دبادشاهانو اودقدرت دخاوندانو داحترام په خاطر ددوئ په شاو خواکې دریږي ځکه چه دا کار له انساني کرامت سره مخالف دې «ابوداؤد، کتاب الأدب»، باید انسان په لاره کې (یعنې دلارې په خواکې) کینه نی اوکه دضرورت په اساس دې کارته اړشي نوباید چه دلارې حقوق پرځای کړي: خپلې سترګې دې ښکته وساتي، ضرر رسوونکي شیان دې له لارې څخه لرې کړي، دسلام ځواب دې خلکوته ورکړي دښوچارو دکولو حکم دې کوي اودبدو چارو څخه دې منع وکړي «ابوداؤد، کتاب الادب»، په انسان باندې له هرڅه نه زیات صحبت اثر کوي لدې کبله باید انسان دخپلو مجلسیانو په انتخاب کې ډیر زیات غور او کوشش وکړي چه غیر ذی اهلو سره کینه نی «ادب المفرد» په مجلس کې باید غوره ځای کې دکیناستلو کوشش ونکړي

او چاکره که لارشی دکوربه له اجازې نه پرته دې هغه په غوره ځای کې دکیناستلو هڅه ونکړی «ترمیذی باب الاستیذان» ، باید مجلس کې دوه تنه په خپلو کې دیوبل سره په غوږ کې پټې خبرې ونکړی ځکه چه دمجلس دحاضرینو دتشویش باعث گرځی اودا کار دمنافقانو دې ، اوقرآن کریم دغه کار پدې الفاظو سره څرگند کړیدې : «إِنَّمَا النَّجْوَى مِنَ الشَّيْطَانِ لِيَحْزُنَ الَّذِينَ آمَنُوا» «سورة مجادله»، یعنې دا په غوږ کې پټې خبرې دشیطان کار دې ددې دپاره چه دمؤمنانو «زړونه» خفه کړی.

اشرف علی تهانوی صاحب لیکلی دی چه ډیر په نرمۍ خبرې کوئ دضرورت څخه زیاتې خبر به نکوئ په مجلس کې لاړې «توکی» مه توکوئ ، پوزه مه سوڼ کوئ که اسویلې یا پرنجې درته راشی نو په خوله لاس کیږدئ او آواز په زوره مه اوباسئ، په مجلس کې چاته شاه کول ښه ندی ، مه دچا ظرفته خپې غزوئ، دزنې لاندې لاس مه کیږدئ دگوتونه تقونه مه اوباسئ، بی ضرورته دچا طرفته نیغ نیغ مه گورئ، په هره خبره قسم مه خورئ ، اول خبره مه شروع کوئ څوپورې چه مشرانو نوی شروع کړی ، دبل خبره په غور سره اورئ چه دهغه زړه مات نشی، البته که هغه خبره دگناه وی نوترینه منع یې کړئ یا دهغه ځای نه پاڅی ، دخبرې په مینځ کې مه وردانگئ ، چه هغه کله خبره پوره کړی نوبیا هلته خبره شروع کول پکار دی، که مجلس ته څوک راشی ځای کم وی نو پخپله اوخوزیږئ راتلونکی ته ځای پریږدئ چه چا سره ملاویږئ یا رخصت کیږئ او السلام علیکم وایئ ، او د سلام په ځواب کې وعلیکم السلام وایئ، نور اقسام الفاظ به وایی «بهشتی زیور»

۴_ **دسفر اداب** : دسفر په وخت کې باید مسافر رخصت کړې شی، هغه ته دخیر او عافیت دعاء وشی ، که په دغه الفاظو سره دعاء ورته وشی نو بهتره به وی : «اَستَوْدَعُ اللهَ دِيْنَكُمْ وَاَمَانَاتَكُمْ وَخَوَاتِيْمَ اَعْمَالِكُمْ» ،یعنې زه ستاسې دین ، امانت، اودعملونوخاتمه الله تعالی ته سپارم «ابوداؤد، کتاب الادب»، مسافر باید سحر رختی دکورنه دسفر لپاره تیارې وکړی او روان شی همدا راز دځینو شرائطو اوحالاتو له امله دشپې سفر کول هم بهتر او جائزکاردې باید یوازې سفر ونکړی دِ امکان په

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

صورت کې درې تنه باید ضرور وی، ددې کار په صورت کې دیوبل په مرسته دسفر
ټولې ستونزې اومشکلات په اسانۍ سره سرته رسیږی ، که درې تنه یوځای سفر
وکړی نو باید دغه درې تنه پخپلو کې یو مشر په حیث وټاکی «ابوداؤد ، کتاب
الادب» باید په سفر کې دسپارلی شخص دوسائلو اوبارورونکو څارووړ آرام
اوهوساینې لحاظ وساتل شی کله چه دسفر ضرورت پای ته ورسیږی باید مسافر بیر
ژر له سفر څخه بیرته خپل کورته راشی، دا ځکه چه سفر په هر حال کې دتکلیفاتو او
اندیښنو څخه ډك كار دې «مسلم کتاب الامارة». په اسلام کې دخپلوانو اودوستانو
سره راشه درشه اولیدل دثواب کار دې که څوك خپل كورته هم داخل شی باید سلام
واچوی دا کار رسول الله صلی الله علیه وسلم دبرکت دلیل اوسبب ګڼلی دې، که څوك
له مجلس ته پاڅیږی باید په پاتې شوو خلکو سلام ووایی «ترمذی ابواب
الاسیتذان» دلیدنې کتنې په وخت کې دمینې اوخوښې دڅرګندولو وسیله مصافحه
ده، یوبل ته لاس ورکول دسلام دپوره کیدلو دلاس نیول «مصافحه» اویوبل ته لاس
ورکول دی ، یوبل ته ترغاړې کیدل اوښکلول که کوم شرعی ممانعت ونلری دا کار
جائز دې، ځکه چه یوځل زیدبن حارثه رضی الله تعالی عنه رسول الله صلی الله علیه
وسلم ته راغې هغه یې په غیږ کې ونیو «معانقه» یې ورسره وکړه اوښکل یې کړو
«ترمذی ابواب الاستیذان».

**نکته**: که ملاقات کوونکې هلك وی اویاپه مصافحه اوښکلولو کې دشهوت د
احساس حالت متصور کیدې شی همدا ډول ترغاړې کیدل شرعًا جائزندی، همدا
رازدرسول الله صلی الله علیه وسلم تعلیم دادې چه کشر دې مشرته او روان سړې دې
ناست سړی ته او کوچنۍ ډله دې لویې ډلې ته سلام اچوی او دسلام په ویلو دې
تواضع څرګنده کړې شی، اوهمدا راز سپور دې پلی (پیاده) ته سلام اچوی «بخاری،
کتاب الاستیذان» ، دملاقات په وخت کې باید خوشحالتیا څرګنده کړی، پدې هکله
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : دخپلو ورنو په مخ کې ستاسې مسکې
کیدل هم صدقه ده «ترمذی» اوکوم شخص ته چه سلام واچول شی هغه باید دسلام
ځواب په هماغه طریقه یا له هغې نه په ډیره ښه طریقه اداء کړی ، دچا کورته د

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ورننوتلو په مقصد اجازه ضروري ده كله به چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دچا كورته ورننوتلو نو له اجازې غوښتلو نه وړاندې به د دروازې ښي يا كيڼې خواته دريده اومخامخ به نه دريدلو «ادب المفرد» ، په يوحديث شريف كې راغلي دي چه كه څوك بې له اجازې نه دچا كورته له كوم چاود «درز» اوسوري څخه وګوري اوپدغه وخت كې كور والا دهغه سترګه ړنده كړي پدې صورت كې دكور په خاوند ددغسې سترګې په ړوندوالي تاوان نشته، څوك چه كوم كورته ننوتل غواړي دسلام نه وروسته بايد داسې ووايي چه «زه دننه درتلاى شم» كه دسلام له درې ځلې تكرار نه وروسته بيا هم كورته د ورننوتلو اجازه ونشي بايد بيرته ولاړشي «ابوداؤد، كتاب الادب» خو «كه يوسړې دكور په برنډه يا دالان كې يوازې ناست وي پدې صورت كې داجازې غوښتل ضروري ندي، همدغه راز «هغه ځايونه چه عام خلك ورته ورځي لكه دوكان اوداسې نور پداسې ځايونو كې هم اجازه غوښتل ضروري ندي «ادب المفرد».

**نكته** : كه څوك خپل كورته راځي بايدله سلام اچولو نه وروسته ورننه شي پدې كار كې سربيره په بركت دا ګټه هم شته چه كيدې شي په كور كې ښځې بيځايه ناستې وي او يا په كوركې ميلمنې غيرمحرمې ښځې وي هغوئ به دسلام په وسيله خبرې شي او خپل ځانونه به يوځاى خوندي كړي، پورتني آداب دپردو او نا آشنا «غيرمحرم» خلكو لپاره دي ځكه چه ځينې خپلوانو څخه پرده كول ضروري ندي لكه كوچنې ماشومان مينځې اومريان ځكه چه هرځلې اجازې اخستو كې ډير تكليف دي البته خوځينې خاص اوټاكلي وختونه شته چه په هغو وختونو كې اكثر انسانان بې تكليف اوبې پردې او سيږي او پداسې وختونوكې دكور دخلكو لپاره هم اجازه غوښتل يوضروري كار دې دا وختونه دقرآن كريم دسورة «نور» په اتمه ركوع كې په تفصيل سره بيان شويدي چه خلاصه مطلب له هغو څخه درې وختونه ښودل شويدي :

۱ـ دماسخوتن له مانځه څخه وروسته ، ۲ـ دسهار له لمانځه څخه دمخه ، ځكه چه دماسخوتن له لمانځه څخه وروسته ترسبا لمانځه پورې اكثر خلك ويده وي او ځينې خلك خپل كالي اوجامې هم باسي خصوصًا دګرمئ په موسم كې اګر چه لغړ «بربنډ» كيدل شرعًا جواز نلري ، ۳ـ دغرمې په وخت كې ځكه چه پدې وخت كې ځينې

خلك ددمې او آرام لپاره ويده کيږي او خوب د انسان لپاره يو ضرورت دې او همدا راز دالله پاك جل جلاله له احساناتو څخه يو احسان شميرلې دې دماسخوتن له لمانځه وراندې ويده کيدل ښه ندي دا کار دغفلت او ناراستي نښه ده او دماسخوتن له لمانځه نه وروسته بې فائدې او خوشې خبرې کول هم ښه کار ندې که دانسان دکارونو کومه ضرور برخه پاتې وي دهغې ترسره کولو نه وروسته بايد سملاسي ويده شي او انسان بايد دپاکي په حالت کې ويده شي که اودس ولري دا ښه کار دې داماکن په صورت کې انسان بايد په داسې ځاى کې ويده شي چه دصحت لپاره هم مضر نوي او همدا راز دنورو خطرو څخه هم په آمان وي انسان بايد په ښي اړخ ويده شي او ستوني ستغ ويده نشي له ويده کيدلو څخه دمخه بايد دکور دروازې وتړل شي او دخوړلو او څښلو دلوښو سرونه هم بايد پټ کړې شي او همدا راز ډيوه «يانور هغه شيان چه له هغې څخه داور لگيدلو خطره وي» بايد سمبال کړلې شي دويده کيدلو په وخت کې دا دعاء بهتره ده چه وې وايي: «اَللّٰهُمَّ بِاِسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيَا» «يا الله زه ستا په نوم مړ کيږم او ژوندې کيږى»، دخوب نه دراويښيدلو په وخت کې ددې دعا ويل ثواب لري: «اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ»، **ترجمه** «ثناء ده هغه ذات لره چه زه يې دمرگ نه وروسته بيرته راژوندې کړم او هغه ته دپاڅيدلو نه وروسته بيرته ورتگ دې»، «ابو داؤد، کتاب الادب»، انسان بايد داسې ويده نشي چه يوه پښه ودروي او بله پښه په دروليې پښه واچوي «ترميذي، باب الاستيذان».

۵_ **دجامو «کاليو» اداب**: کالي «جامې» ددوه مقصدونو لپاره اغوستل کيږي چه يو جسماني دى او بل اخلاقي، جسماني مقصد دادې چه دجامو په واسطه وجود ديخني او گرمي له تکليفونو څخه وژغورلې شي، اخلاقي مقصد دادې چه دانسان دوجود هغه برخه چه هغه بايد نور خلك ونه ويني دکاليو په واسطه پټه کړې شي داسلام مقدس دين داناسنانو دوجود دپټوالي لپاره ستر معيار ټاکلې دې يعني دهغوئ دوجود ځينې برخې بايد ضرور پټې وي دنارينه وو لپاره له نامه نه تر زنگنونو پورې، دآزادو «احرارو» ښځو لپاره دسرله ويښتانو نه نيولې تر خنگرو پورې او

د ښځو لپاره دښا او ګیډې څخه تر زنګنونو پورې ، دستر او عورت حد تاکل شویدې که څوک یوازې هم وی دستر حدود به ساتی دوجود نوموړی ستری دستر برخې باید له ضرورت څخه لوڅې او ښکاره نکړی.

یو صحابی له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چه که مونږ یوازې یو او بل څوک را سره نه وی نو بیا ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته او فرمایل : الله تعالی خو مو وینی باید لـه هغـه څخـه ډیـره حیـاء وکـړل شـی ((ترمـذی، ابـواب الاستیذان))، په یو روایت کې دی چه تاسې هیڅکله ځانونه مه بربنډه وئ ځکه چه تاسې سره تل فرشتې ملګرې وی او دغه فرشتې په هغه وخت کې له تاسو څخه جلا کیږی چه تاسې ځانونه لوڅ (بربنډ) کړئ نو له دوئ څه حیاء وکړئ او ددوئ لحاظ وساتئ ((روا الترمذی)) دنارینه وو لپاره دښځو غوندی کالی او دښځو لپاره دنارینه وو غوندې کالی یا داسې کالی چه عورت ترینه څرګندیږی اغوستل روا او جائز ندی ، نارینه باید داسې کالی وانه غوندی چه شوخ او تیز رنګ ولری او هغه کالی چه سور رنګ ولری البته که سرې لیکې ولری روا دی او نارینه باید بی له کوم خاص وخت او مجبوریت څه وریښمین کالی وانه غوندی نارینه باید دلنګ او یا پرتوګ پایڅې دومره ښکته نکړی چه په ځمکه وریسې راښکل کیږی او یا یې دښنګرو ((پړکیو)) نه ښکته وی ځکه چه دا کار دکبر او غرور علامه ده ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : (( څوک چه دفخر او غرور او خپلې لویی ښکاره کولو لپاره داسې اوږده کالی اغوندی چه په ځمکه وریسې راښکل کیږی الله تعالی به دقیامت په ورځ هغه ته نه ګوری خود ښځو لپاره دقمیص لمن یاد پرتوګ پایڅې تر ښکته پورې ځړول ښه دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم دنارینه وو لپاره دسپینو کالیو اغوستل خوښ کړیدی که څوک داسې کالی اغوندی چه هغه لستونی ولری نو باید د اغوستلو په وخت کې لومړې خپل ښی لاس په لستونی کې دننه کړی او چه کله یې اوباسی نو کینږ ((چپ)) لاس دې کینږ لستونی څخه او کاږی، همدارنګه پرتوګ هم دې، او سړې باید په ناستې پرتوګ واغوندی او ښځه په ولاړې باندې باید پرتوګ واغوندی، کله چه څوک نوی

کالی اغوندی باید دا دعاء ولولی: «اَلْحَمْدُ لله الَّذِیْ کَسَانِیْ هٰذَا وَرَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِّنِّیْ وَقُوَّةٍ» «دهغه الله تعالی ثناء ده چه ماته یې دا کالی را واغوستل او بې زماله قوت څخه یې دا کالی زما روزی کړل» یعنې بوازې پخپل فضل سره یې ماته راکړل.

**نکته**: په کومو شیانو چه انسان خوشحالیږی هغه ډیر زیات دی لکه: علم، فضل، مال، دولت، رتبه، منصب، واده، کوژده، اخترونه، باید انسان د اسلام په چوکاټ کې اعتدالی خوشحالی او شکر اداء کړی او همدارنګه دغمونو په وخت کې د الله تعالی نه شکایت و نکړی بلکه دهغه په قضاء راضی شی، لکه چه په یو روایت کې دی څوک چه ګریوان څیری کوی اومخ په څپیړو وهی او دجاهلیت دزمانې دخلکو غوندی چیغې اوسورې وهی هغه زما له اُمت څخه ندې، یعنې زما داُمت دا کارونه ندی «رواه الترمذی»، «الله پاك دې زمونږ ټولو طریقه دزندګی داسلام په چوکاټ کې تیره کړی، اللهم آمین ثم آمین».

# معراج نبوی صلی الله علیه وسلم

محترمو مسلمانانو: معراج او اسراء دنبی کریم صلی الله علیه وسلم یوه عظیم الشانه معجزه ده، دا واقعه دشپې تربیت الله مقدس پورې دقرآن مجید نه ثابته ده او بیا دبیت المقدس نه تر عالم بالا پورې دډیرو احادیثو او ډیرو روایاتو نه په تفصیل سره ثابته ده او ډیرو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین نه هم دا نقل شویدی، الله تعالی فرمایی: «سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ». **ترجمه**: «پاکی ده هغه ذات لره چه دشپې یې خپل بنده دمسجد حرام (کعبې) نه مسجد اقصی (بیت المقدس) ته بوتلو دکوم نه چه مونږ چار چاپیره برکت اچولې دی، (دحول نه مراد شام دې چه هلته دینی برکات هم دی چه دتیرشوو انبیاؤ علیهم السلام قبله او دډیرو انبیاؤ علیهم السلام مسکن او مدفن دې او دنیاوی برکات هم دی چه ددې سر سبزوالی باغات او

ښتې وغيره دی )، لپاره ددې چه مونږ دخپل قدرت عجائبات اوښايو (مثلاً لږ وخت کې دومره مسافت ، انبياؤ عليهم السلام سره ملاقات، آسمانونو تـه تلـل وغيـره) ښکه هغه اوريدونکې او ليدونکې دې.

دمسجد حرام نه ترمسجد اقصٰی پورې سفر ته اسرٰی وايی او دمسجد اقصٰی نه تر سدرة المنتهی پورې سفر ته معراج وايی کله کله ټول سفر ته صرف اسرٰی او يا صرف معراج هم ويلی شی ، معراج دعروج نه مشتق دې په معنې دختلو سره دې، نبی اکريم صلی الله عليه وسلم ددې واقعې دبيانولو په وخت کې اوفرمايل : ((عُرِجَ بِی)) يعنې زه وخيژول شوم، پدې وجه ددې معجزې نوم معراج کيښودلې شو، او جمهورسلف اوخلف پدې متفق دی چه معراج درسول الله صلی الله عليه وسلم په صورت جسمانی يعنې په روح اوبدن دواړو سره دې ، دا داهل سنت والجماعة عقيده هم ده، او معراج او اسرٰی عند الجمهور په يوه شپه کې دواړه شوی دی ، اکثر علماء وايی چه معراج په ربيع الاول کې دهجرت نه يو کال مخکې شويدې، بعضې علماؤ ويلی دی چه معراج درجب په مياشت کې شوېدې، حضرت جابر او ابن عباس رضی الله تعالی عنهما وايی ولادت ، بعثت ، معراج اووفات څلور واړه په ورځ ددوشنبې کې شويدی ((قسطلانی، صفحه:۲۰۳ ، جلد:۶)).

داحاديثو تفصيل په دې ډول دې چه : نبی اکرم صلی الله عليه وسلم دأم هانئ په کور کې اوده وو (( دهغوئ (صلی الله عليه وسلم) خوب داسې ووچه سترګې به يې ودې وې اوزړه به يې ويخ وو ( نو ځکه دانبياء عليهم السلام په خوب سره اودس نه ماتيږی) چه ناګهانه چت اوچاوده اوجبرائيل امين سره دنورو ملائکو راکوز شو، مسجد حرام ته يې بوتلو هلته حطيم کې بيا اوده شو ،بياجبرئيل امين عليه السلام اوميکائيل عليه السلام ويښ کړو ، آب زم زم ته يی بوتلو هلته يی ورته سينه مبارکه څيرې کړه انوارات يې ورته په سينه کې واچول اوبيا يې ورته سينه مبارکه جوړه (درسته) کړه بيا يې ورته بُراق راوستلو ((براق يو جنتی څناور دې دقچر نه څه قدرې ووکې اودحمار (خر) نه څه قدرې لوئ دې قدم يی په حد نګاه دې)).

**نکته**: نن صبا چه کوم عکسونه ((تصويرونه)) دبراق مروج شويدی چه سريې

دسخی په شان دي اوباقي دآس په شان دي دا خطاء دی اوددي سناتل گناه ده. د
روح اشیاؤ دعکسونو متعلق دشریعت اسلامی حکم حرمت دې: ((قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُونَ)) (رواه البخاری). ((قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَوَّرَ صُورَةً فِي الدُّنْيَا كُلِّفَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا الرُّوحَ وَلَيْ
بِنَافِخٍ)) (رواه البخاری). دقیامت په ورځ به مصورینو ته وویلې شی چه پ
تصویرونو کې روح واچوئ اوحال دا چه دوئ به ددې نه عاجز وی لهذا اشد عذاب
ورکړې شی. په یو روایت کې دی چه ((لاَ تَدْخُلُ الْمَلاَئِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلاَ تَصَاوِيرُ
(رواه البخاری). **ترجمه**: ((ملائکې هغه کورته نه داخلیږی چه په هغې کې سپ
اویاتصویروی)). دسپي نه مراد هغه سپې دي چه دښکار یا چوکیداری لپاره نه وی
دجمهورو علماؤ په نیزد ددې ملائکو نه مراد درحمت ملائك دی چه هغه انسان
درحمت اوبرکت سبب جوړیږی اودده لپاره دمغفرت دعاگانې کوی. داعمال
لیکونکی یادجنیاتو (پیریانو) نه حفاظت کوونکې ملائك ددې حکم نه مستثنیٰ د
ځکه چه هغوئ صرف دغسل اوجماع په وخت کې جدا کیږی. حضرت عائشه رض
الله تعالی عنها فرمایی چه: نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به تصویرونو والا شیا
ماتول ((رواه البخاری)) البته که تصویرته سخت ضرورت وی یا سرکاری حکم وی لک
شناختی کارډ یا پاسپورټ وغیره لګول خودا به دمجبوریٔ له وجهې جائز قدرې و
کما فی شرح السیر الکبیر ((وان تحققت الحاجة الی استعمال السلاح الذی فیه تمثا
فلا بأس باستعماله لان موضوع الضرورة مستثناة من الحرمة کمافی تناول الحرمة))

او ورته یې وویل چه پدې سور شه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم چه کله سور شو
بُراق څه قدرې تیزی اوشوخی وکړه جبرئیل امین ورته اوفرمایل چه ته ولې شوخی کو
تاته معلومه نده چه نن په تاڅوك سور دې؟ په تا باندې نبی آخرزمان سور دې دد
خبرې په اوریدو سره بُراق دندامت او شرم نه خولې خولې شو اوپه قراره اودریدلو

**نکته**: مسلمانانو دپاره ددې براق نه عبرت اخستل پکار دی. او د اطاعت رسول
اوسنت رسول دپاندې ثبوت ورکول دی. متأسفانه نن ځینې مسلمانانو دنبی اکر

صلی الله علیه وسلم سنت او اطاعت ترک کړیدي مثلاً لکه ګیري نه ساتل او نوی مغربي تهذیبونه اختیارول شول .نو مقررین حضرات دې پدې ځای کې دمکان اوزمان سره موافق مهمو مسائلو ته ګوته ونیسی.

**اوس به دسفر یو څو عجائبات ذکر کړو:** چه کله په سفر روان شو څه وخت بعد یو مقام ته ورسیدل چه هلته دکهجورو ډیرې ونې وې جبرئیل آمین علیه السلام نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته اوفرمایل چه: دلته کوز شه اونفل لمونځ وکړه . دوئ کوز شول او لمونځ یې وکړو . جبرئیل آمین اوفرمایل: دا دیثرب مقام ((مدنیه منوره)) ده ته به دلته هجرت کوې ((دهجرت مسائل مخکې تیرشول)) چه څه مخکې لاړل نو حضرت موسی علیه السلام یې ولیدلو چه په قبر کې ولاړ دې او مونځ کوی ((دحیات الانبیاء مسئله مې په الرسالة الحقانیة العالیه کې ذکر کړیده هلته یې بیا وګورئ)).

بیا مخکې یو مقام کې ورته یوه بوډئ ((زړه)) ښځه مخې ته راغله نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته یې آواز وکړوو جبرئیل آمین نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته اوفرمایل چه: دیته التفات مه کوه .بیا جبرئیل علیه السلام اوفرمایل چه دا بوډئ دنیا وه ددنیا دومره لږ وخت پاتې دې څومره چه ددې بوډئ عمر پاتې دې. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو قوم تیرشو چه دهغوئ سرونه په تیږو ماتیدل بیابه جوړشول دغه سلسله جاری وه. رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې قوم په باره کې دجبرئیل علیه السلام نه پوښتنه وکړه هغه ورته اوفرمایل چه دا هغه کسان دی کوم چه لمونځ کې سستی کوی .بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم یوشخص ولیدو چه دتیږونه دډوډئ نوړئ (ګولې) جوړوی او خوری یې، دجبرئیل آمین نه یې پوښتنه وکړه چه دا څوک دی. هغوئ ورته اوفرمایل چه: دا سود خوار دې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چه ځما تیریدل دښځو په یو داسې ټولي وشول چه هغوئ ته داور جامې اچول شوې وې او داور په کوړو وهلې شول چه دهغې دتکلیف په وجه به دې ښځو دسپو په شان ژړل اوشوربه یې کولو . جبرئیل آمین نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته اوفرمایل چه دا په مړي ژړا کوونکې ښځې دی:

حضرت علی رضی الله تعالی عنه فرمایي چه زه او فاطمة الزهری رضی الله تعالی عنه لاړو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته هغه مو دژړا په حال کې بیاموند، موږ ورته عرض وکړو چه ولې ژاړې یارسول الله نو وې فرمایل چه: ما دمعراج په شپه بعضې ښځې ولیدلې چه په ډیر سخت عذاب کې وې نو دهغوئ حال مې را یاد شو اوومې ژړل . ما وویل چه په څه قسم عذاب کې دې لیدلې وی یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نو وې فرمایل: یوه ښځه مې ولیده چه راکوړې (اویزانده) وه په ویښتو باندې اوجوش کولو مازغو ددې، یوه بله ښځه مې لیدلې وه چه دژبې نه زوړنده وه اولاس یې په سینه کې دشاه دطرف نه راویستلې وو اوزقوم او قطران اړولې شول په حلق ددې کې اولیدلې مې وه یوه ښځه چه رازوړنده وه دتیونو نه دشاه دطرفنه اوزقوم یې په حلق کې اړول کیدل او ومې لیدله یوه ښځه چه راکوړې (زوړنده) وه پداسې حال کې چه لاسونه یې او خپې یې تړلې وو له تندی (ناصیه) سره اوبیشکه مسلط وو پرې ماران اولړمان، او ومې لیدله یوه ښځه چه پریکولې شوه تنه دهغې په قینچی داور سره او ومې لیدله یوه ښځه تورمخې چه خوړلې یې کُلمې خپلې ، او ومې لیدله یوه ښځه گونگه ، ړنده، کنه په صندوق داور کې چه راوتلی وو مازغه ددې دپوزې له نرمیو نه او له بدن نه یې ډیر بد بو تللو له وجهې دبرص اوجذام نه ، او ومې لیدله یوه ښځه چه سریې لکه دخنزیر وو اونور بدن یې په شان دخره وو په زر زر قسمه عذاب ورکولې شو ، او ومې لیدله یوه ښځه په شکل دسپی چه داخلیدل ماران اولړمان په مخکې شرمگاه دهغې کې اویا په خوله کې او وتل به دوروسته شرمگاه نه اوملائکه به وهله په سرباندې په گرزونو داُور سره .

نوحضرت فاطمه رضی الله تعالی عنها راپاخیدله او عرض یې وکړو چه ای ځما پلاره ای ځما دسترگو یخوالیه ماته خبر راکړه چه ددوئ څه اعمال وو . نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل : ((یَافَاطِمَةُ اَمَّا الْمُعَلَّقَةُ بِشَعْرِهَا فَکَانَتْ لَاتَلْتُمُ شَعْرَهَا مِنَ الرِّجَـــالِ)) یعنی ای فاطمی (رضی الله تعالی عنها) هغه ښځه چه په ویښتو باندې رازوړنده وه دا هغه ښځه وه چه ویښته یې نه پټول له پردیو سړیو نه ((واَمَّا الْمُعَلَّقَة

بلسانها فَكَانَتْ تُؤذِی زَوْجَهَا بِلِسَانِهَا ثُمَّ قَالَ عَلَیْهِ الصَّلٰوة وَالسَّلَام مَامِنْ امْـرَأةٍ تُـؤْذِی زَوْجَهَا بِلِسَانِهَا اِلاَّ جَعَلَ اللهُ لِسَانَهَا یَوْمَ الْقِیَامَةِ سَبْعِیْنَ ذِرَاعًا ثُمَّ عُقِدَ خَلْفَ عُنُقِهَا» اوهغـه ښځه چه راکوړې وه «زوړنـده وه» پـه ژبـه خپـل خاونـد تـه یـې ضـرر رسـولو بیـایـې اوفرمایل: هیڅ ښځه به نوی چه ضرر رسوی میړه «خاوند» خپـل تـه پـه ژبې سره مگر اوبه گرځوی الله تعالی ژبه ددې په ورځ دقیامت اویا گزه بیابه غوټه کړې شي وروستـه دگردن «غاړې» ددې نـه «وَاَمَّا الْمُعَلَّقَةُ بِثَدْیَیْهَا فَکَانَتْ تُرْضِعُ اَطْفَالَ الْخَلْقِ مِنْ غَیْـرِ اَمْـرِ زَوْجِهَـا» اوهغـه ښځه چه زوړنده وه پـه تینـو سره نـو دې بـه تـې ورکولـو دنـور خلکـو ماشومانوته بغیر داجازې دخاونـد نـه «وَاَمَّا الْمُعَلَّقَةُ بِرِجْلِهَا فَکَانَتْ اِمْرَأَةً تَخْرُجُ مِنْ بَیْتِهَا بِغَیْرِ اِذْنِ الزَّوْجِ وَلاَتَغْتَسِلُ مِنَ الْحَیْضِ وَالنِّفَاسِ» اوهغه ښځه چه راکوړې «زوړنده» وه پـه خپونو دا به وتلـه لـه کـوره دخاوندڅخـه بغیـر داجازې دخاوند نـه اونـه یـې دحیض او نفاس څخه غسل کولـو «وَاَمَّا الَّتِیْ تَاْکُلُ جَسَدَهَا فَکَانَتْ تَتَزَیَّنُ لِلرِّجَالِ وَتَغْتَابُ النَّـاسَ» اوهرچه هغه ښځه چه خوړلی شوې وه تنه ددې نوځان به یې خائسته کولو بیگانه سړیو ته او غیبت به یی کولـو دخلکـو «وَاَمَّا الَّتِیْ تُقَطَّعُ جَسَدَهَا بِمِقْرَاضٍ مِنَ النَّـارِ فَکَانَـتْ تُشْهِرُ نَفْسَهَا لِلنَّاسِ» اوهغـه ښـځه چه جوسـه «بدن» یی پریکولې شو پـه قینچـی داور باندې نوځان به یې مشهورولو په خلکو کې یعنې خپـل زینت بـه یـی ورتـه ښودلو چـه خلکو کې محبوبه شی پـدې زینـت سره «وَاَمَّا الَّتِیْ شُدَّ رِجْلاَهَا مَعَ یَدَیْهَا اِلَی نَاصِـیَتِهَا وَسُلِّطَتْ عَلَیْهَا الْحَیَاتُ وَالْعَقَارِبُ فَکَانَتْ تَقْدِرُ عَلَی الصَّلٰوةِ وَالصِّیَامِ وَلَمْ تَتَوَضَّأْ وَلَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ» اوهغـه ښـځه چـه تړلـې شوې وې خپې اولاسونه دهغې دتندی سره اولگیاوو پرې ماران اولړمـان نـو دا بـه ښـه قـادره وه پـه لمانځـه او روژې اونـه یـی اودس کولو اونه یی لمونځ کولو اونه یی غسـل کولـو دجنابت څخـه «وَاَمَّا الَّتِیْ رَاْسُهَا کَرَاْسِ الْخِنْزِیْرِ وَبَدَنُهَا کَبَدَنِ الْحِمَارِ فَکَانَتْ نَمَّامَةً کَاذِبَةً» اوهغه ښځه چه سریی پـه شان دسر دخنزیر وو اوبـاقـی بـدن یـی پـه شـان دخـره وو نوهغـه چغلخـوره وه او دروغژنـه وه «وَاَمَّاالَّتِیْ عَلَی صُوْرَةِ الْکَلْبِ فَکَانَتْ فَتَّانَةً تُبْغِضُ زَوْجَهَـا» اوهغـه ښـځه چـه صـورت یـی

دسپي په شان وو نودا وه کینه ناکه چه خپل خاوند سره به یې بغض او کینه کوله.

**نکته**: یو روایت دي چه نیکه ښځه دسلو غیرصالح سړیونه بهتره وی، او کومه ښځه چه دخپل میړه (خاوند) اوه ورځې خدمت وکړی نو دجهنم اوه دروازې ورته بندې شی او اته دروازې دجنت ورته خلاصې شی اوداخلیږی به په کومه دروازه چه خوښه یې وی بغیر دحساب نه، یعنې څومره چه وعید دې هغومره یې وعده هم ده.

مقررین حضرات دې دا وروسته اجمال دمخکې تفصیل سره پیوند کړی

بیا نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته ډیره ښه خوشبویی محسوس شوه، جبرئیل آمین علیه السلام ورته اوفرمایل چه: دا دجنت خوشبویی ده، بیا مخکې ورته ډیره بدبویی محسوس شوه چه دا دجهنم بدبویی وه، او همدا رنګه تیرشو په یو قوم باندې چه خیټې (بطن) یې دومره غټې وې لکه کوټې کله به چه جګ شول نو بیا به اوغورځیدل، جبرئیل آمین ورته اوفرمایل دا خلک سود خواره دی، نور هم ډیر عجائبات ورته ښودل شویدی خو مونږ پدې اکتفاء کوو لخوف التطویل.

بالاخره مسجد اقصی ته ورسیده، جبرئیل آمین په یوه تیږه (حجر) کې سورې وکړو اوبراق یې ورته وتړلو بیا مسجد اقصی ته داخل شو تحیّة المسجد لمونځ یې وکړو تمام انبیاء علیهم السلام دمخکې نه موجود وو او انتظار یې کولو، څه وخت وروسته حضرت جبرئیل علیه السلام په صخره دبیت المقدس باندې آذان اوفرمایلو دآسمان نه ملائک هم راکوز شول مګر مصلی (جای نماز) خالی وو، جبرئیل آمین نبی اکرم صلی الله علیه وسلم مخکې کړو، دلمونځ نه وروسته یې ورته اوفرمایل چه: تمامو انبیاؤ ستا په اقتداء کې لمونځ وکړلو، بیا سیر ملکوت وآسماء شروع شو یعنې بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دمسجد نه راووتلو دزمردو او زبرجدو اندرپایه (زینه) او یا براق (بنا بر اختلاف روایات) راوړې شو دواړه طرفته یې ملائک ولاړوو اورسول الله صلی الله علیه وسلم دجبرئیل آمین په معیت کې اول آسمان ته اورسیدلو، جبرئیل علیه السلام دروازې خلاصول وغوښتل نو دروازې چه ترینه پوښتنه وکړه چه تا سره بل څوک دې جبرئیل آمین علیه السلام اوفرمایل: محمد صلی الله علیه وسلم دې نن دوئ الله تعالی بللی دی فرشتو ورته مرحبا وویل دروازه یې

خلاصه کړه او آسمان ته داخل شول، په اول آسمان کې یې دحضرت آدم علیه السلام سره ملاقات اوشو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدل چه څه صورتونه دآدم علیه السلام ښی طرفته دی اوڅه کیڼ طرفته . آدم علیه السلام چه کله ښی طرفته وګوری خوشحال شی اوچه کله کیڼ طرفته وګوری نوخفه شی او وژاړی، جبرئیل علیه السلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اوفرمایل چه : دده ښی طرفته یی نیک اولاد دي چه هغه جنتیان دی اوکیڼ طرفته یی بد اولاد دي چه هغه جهنمیان دی. همدارنګه په دویم آسمان کې یی حضرت یحیٰی علیه الصلوٰة والسلام سره په دریم آسمان کې یی حضرت یوسف علیه الصلوٰة والسلام سره په څلورم آسمان کې یی دحضرت ادریس علیه الصلوٰة والسلام سره په پنځم آسمان کې یی حضرت هارون علیه الصلوٰة والسلام سره ، په شپږم آسمان کې یی دحضرت موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام سره او په اووم آسمان کې یی دحضرت ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام سره ملاقات اوشو هغوئ ورته ستړی مشی وویل اودعاء دخیر یی ورته وکړه، او حضرت ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام بیت المعمور ته تکیه وهلې وه (چه هغه آسماني کعبه ده بعینه دخانه کعبې په برابر کې ده . اویا زره (۷۰۰۰۰) ملائکې ترې روزانه طواف کوی اوبیا ترقیامته دهغوئ نوبت (نمبر) نه راځی پس ددینه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سدرة المنتهیٰ ته بره بوتلی شول او سدرة المنتهیٰ یوه عجیبه ښکلې ونه ده دیته سدرة ځکه وایی چه هرهغه شئ چه دملاء اعلی نه ښکته راځی دلته ودریږی بیا په ښکته راځی اوکوم شي چه دښکته نه پورته ځی نو هم پدې ځای کې اودریږی بیا هلته پورته جګولې شی ، ددې ونې شاخونه دسروزرو دی. میوه یی دزمردو ده . ملائکو ترینه ګیره اچولې ده پدې ځای کې رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت جبرئیل علیه الصلوٰة والسلام په اصل شکل باندې اولیدلو بیاورته دجنّت او جهنّم مشاهده وکړې شوه، هلته یی غرائب اوعجائب ولیدل بیا داسې مقام ته اوچت لاړو چه هلته یی سفیر الاقلام یعنې دقلمونو هغه آوازونه چه دلیکلو په وخت کې پیدا کیږی اوریدل . پدې مقام کې دقضاء اوقدر دقلمونو کتابت کولو ، بیا دپروردګار عالم دربار ته ورسیدلو، سجده یی وکړه دالله تعالی دکلام نه مشرف شو، الله تعالی ورته اوفرمایل چه : ماته

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

دې څه تحفه راوړې ده، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم عرض وکړو چه «اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ» «ټول عبادتونه قولی، بدنی او مالی الله تعالی لره دی»، دغه تحفه مې راوړې ده، ارشاد اوشو چه «اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ» نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: «اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ»، بیا ورته دپنځوس لمونځونو حکم ورکړې شو او واپس شو، په شپږم آسمان کې ترې موسی علیه الصلوة والسلام پوښتنه وکړه چه څه احکامات درکړې شول، هغوئ صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل: پنځوس لمونځونه په شپه او ورځ کې، هغوئ ورته اوفرمایل چه: خپل رب ته واپس شه او دلمونځونو دکمی درخواست وکړه ځکه چه ستا اُمت ددومره لمونځونو طاقت نلری ځکه چه ما په بنی اسرائیلو تجربه کړیده، رسول الله صلی الله علیه وسلم واپس لاړو او دلمونځونو دتخفیف دپاره یی ورته عرض وکړلو دالله تعالی دطرف نه پنځه لمونځونه کم شول، بیا موسی علیه الصلوة والسلام واپس ولیګلو چه دتخفیف سوال وکړه حتّیٰ چه پنځه، پنځه لمونځونه دهر واري عریضې سره کمیدل بالاخره پنځه لمونځونه پاتې شول. موسیٰ علیه الصلوة والسلام ورته اوفرمایل چه بیا واپس لاړشه، خو هغوئ صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل چه: اوس ما ته دکمی دعریضې سره حیاء او شرم راځی او روان شو دغه وخت کې غیبی آواز وشو چه دا پنځه لمونځونه دی خو ثواب به یی دپنځوس لمونځونو وی اوبالاخره رسول الله صلی الله علیه وسلم واپس په بیت المقدس کې راکوز شو په بُراق باندې سور شو او دصبح صادق په وخت کې مکّی معظّمی ته داخل شو، حضرت اُم هانئ رضی الله تعالی عنها ته یی دا واقعه بیان کړه هغې ورته اوویل چه دا واقعه قریشو ته مه بیانوه مگر رسول الله صلی الله علیه بیان کړه نو هغوئ یی تکذیب وکړو او ورته یی وویل چه څه علامات دبیت المقدس دعمارت بیان کړه، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم پدغه وخت کې دحجر اسود خواته اودریدلو الله تعالی دبیت المقدس کشف ورته وکړو اودهغوئ دسوالونو جوابونه یی ورکول بیا یی ورته وویل چه دلارې یو څه واقعه بیان کړه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل چه

په لاره کې یوه تجارتی قافله را روانه وه چه دشام نه مکې ته راتله دهغوئ یو اوښ ورك شوې وو بیا پیدا شو انشاء الله تعالی درې ورځې بعد دچهارشنبې په ورځ به مکې ته داخلیږی کله چه هغه وخت راغې دقافلې مکې ته په رسیدو کې تاخیر وشو او لمر نور ډوبیدو ته قریب شو رسول الله صلی الله علیه وسلم دعاء وکړه، الله تعالی یو ساعت پورې (نمر) نور موقوف وساتلو حتّی چه قافله مکې ته داخله شوه مگر کفارو بیا هم وویل چه دا.دده جادو دې.

**نکته**: رسول الله صلی الله علیه وسلم په تفصیل سره حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه ته حال داسراء اودمعراج بیان کړو څه چه به رسول اکرم صلی الله علیه وسلم بیان کړه نوابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه به فرمایل ((صَدَّقْتَ اَشْهَدُ اَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ)) له دغې ورځې نه وروسته دهغه اسم لقب صدیق (رضی الله تعالی عنه) وگرځیدلو، اوعکرمه دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه پوښتنه وکړه چه آیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل نظر په خپل رب واچولو؟ هغه په جواب کې وویل: نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خپلو سترگو خپل رب لیدلې دې، الله تعالی کلام دموسیٰ علیه السلام لپاره اوخلّت دابراهیم علیه السلام لپاره اورؤیت دمحمد مصطفی صلی الله علیه وآله وسلم لپاره مخصوص کړیدې، په مسئله درؤیت کې دسلفو اختلاف شته ځینې وایی چه رؤیت ندی شوې مگر دابن عباس رضی الله تعالی عنه وغیره رایه داده چه شویدې. ((الله پاك دې مونږ دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په نقش قدم باندې برابر کړی، آمین یا ربّ العالمین)).

## ژوره کتنه ((ددنیاحقیقت))

محترمو مسلمانانو: دنیا فانی ده او آخرت باقی دې او ددنیا دنعمتونو انجام زوال اوهلاکت دې اودآخرت نعمتونه همیشه اوپایدار دی نوفانی په باقی غوره کول څرگند حماقت اوسخته ناپوهی ده نو لازمه ده چه پدې لږ ژوند ددنیا کې آخرت دپاره کرونده وکړو ((اَلدُّنْیَا مَزْرَعَةُ الاٰخِرَةِ)) دنیا ځاې دکروندې دآخرت دې چه دلته څوك څه

وکړي هغه به په آخیرتکې پیداکړي ښه وی او که بد ، او دانسان په پیدایش کې صرف خوړل، څښل اوعیش ،زینت ددنیا مقصود نه دي ځکه چه خوراك څښاك او اولاد راوړل خو ځناور هم کوی ، نوبیا دانسان او ځناور فرق څه شو؟ ، کفارو چه په دنیا کې خوراك، څښاك ، اغوستل، عیش اوزینت ددنیا مقصود کړو نوالله تعالی دځناورو په قطار کې شمار کړل، لکه چه په قرآن کریم کې ارشاد دې ((وَالَّذِينَ كَفَرُوا يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ)) ، **ترجمه** : ((بیشکه هغه خلك چه کافران دی ددنیا دشیانونه فائده اخلی او خوراك کوی لکه ځناور چه خوراك کوی او اُورمقام دورتلو ددوئ دې)) . بلکه ځناور ترې ښه دی چه دآخرت له شدائدو اوسختیو څخه خلاص دی.

او امام شافعی رحمه الله فرمایلی دی چه : په دنیاکې هوښیار اوزیرك بندګان شته چه دنیایی پریخودلې ده او دفتنو دددنیا څخه ویریدلی دی نظر یې کړیدې په دنیاکې پس هرکله چه پوهه شویدی بیشکه دا دنیا نه ده ژوندو لره ځای دقرار ګرځولې دې دوئ دا دنیا چپی اونیولی ده دوئ اعمال صالحه په دې کې کشتئ ((بیړئ)) او همدارنګه داسی لیونې به څوك وی چه یولرې مُلك ته په سفر روان شی اوپه لاره کې ددمې ځای راشی اوهلته آبادی شروع کړی ، او مکمل داوسیدو بندوبست وکړی ، الله تعالی فرمایی داسې مه کوئ ځکه چه ((إِنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ)) ، ندې دا ژوند ددنیا مګر لوبې دی عبث ، مطلب دا چه ددې دنیا داسې مثال دې لکه ماشومان چه را غونډ شی واړه واړه کورونه جوړ کړی یو ساعت یا کم یا زیات پس چه خوریږی کورنه سره ګډ وډ کړی اوخپلو اصلی کورونو ته ځی، الله تعالی فرمایی پدې تهوقو تقالو اعتماد مه کوئ ، دا ارشاد مختصر او جامع دې یعنې دا پورته دوه جملې بس دی خو دهغه چا دپاره چه فکر وکړی ، یو شاعر فرمایی :

نَصِيْبُكَ مِمَّا تَجْمَعُ الدَّهْرَ كُلَّهُ     رِدَاءٌ انْ تُدْرَجُ فِيْهَا وَحَنُوْطُ

یعنی حصه ستا دمال هغه نه چه ټول عمریی جمع کوې دوه څادره دی چه ته به پکې نغښتې یی او یوڅه قدرې حنوط او خوشبویی ده .

اوبل ځاى کى ارشاد دې چه : ((اعْلَمُوا أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُونُ حُطَامًا وَفِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٌ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ)) **ترجمه** : پوهه شئ بيشکه ژوند ددنيا (يعنې شغل په ژوند ددنيا او هيرول دآخرت) لوبې دى او عبث دى او ډول (ښائست) دې او فخر کول دى په خپل مينځ کې او ډيروالې دې په مالونو او په اولادونو کې ((ددې مثال) په شان دباران دې چه تعجب او خوشحالى کى واچوى زميندار لره زرغون شوى شيان دهغې بيا وچ شى پس له هغه نه زير اووينې بيا شى مات (ټوټې، ټوټې) او په آخرت کې سخت عذاب دې (دالله تعالى مجرمانوته) ښښنه ده له جانبه دالله تعالى نه او رضاء دالله تعالى ده (فرمانبردارو لره) اوندې ژوند ددنيا مگر سامان دغوليدلو (يعنې انسان پرې غلطيږى) ))

يعنې الله تعالى فرمايى چه په ژوند ددنيا او دهغې په دولتونو او نعمتونو دومره مه مشغوله کيږئ چه د آخرت نه بې پروا او بى تعلقه شئ او عزت او دولت ددنيامقصود وګرځوئ او آخرت هير کړئ بلکه ژوند او مال ددنيا پريږدئ او دآخرت کاميابى حاصله کړئ

وايى چه يو سړى لعل (لال) بيا موندو عوامويى قيمت نشو پوره کولې نو بادشاه سره يى فيصله وکړه چه تر درې ساعتونو پورې يى څومره شيان ددې خزانې څخه وړه ويستل هغه شيان به ټول ددې سړى شى په بدله ددغه لعل (لال) کې او لعل به دبادشاه شى، هغه سړى په خزانه کې ډير ښه پالنګ وليدلو په هغې کې څملاستلو او ويده شو چه وخت پوره شو نو څوکيدار ورته ووېل او ځه له خزانې څخه نو هغه سړې په ډير خفګان او افسوس ووتلو ليکن دې خفګان او افسوس هيڅ فائده ورته ونکړه ، همدارنګه دغه دنيا دآخرت لپاره په مثال دخزانې ده ، نو اوس به ګورو چه څوک څومره شې دځان سره آخرت ته وړى او که تش لاس ځى ((العياذبالله)).

اورسول الله صلى الله عليه وسلم دنيا ته داسې اشاره کړيده : ((لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللَّهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةَ مَاءٍ)) (رواه الترمذى، مشکوة)، **ترجمه** : ((رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دى كه دنيا په نزد دالله تعالى (په

قیمت کي) دوزر دماشی سره برابریدې نو څښلي به نه وه الله تعالی کافر ته لدینه یو غرپ اوبه))، اوبل ځای ارشاد دي چه: ((عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِجَدْيٍ أَسَكَّ مَيِّتٍ قَالَ أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنَّ هٰذَا لَهُ بِدِرْهَمٍ فَقَالُوا مَا نُحِبُّ أَنَّهُ لَنَا بِشَيْءٍ فَقَالَ فَوَاللّٰهِ لَلدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللّٰهِ مِنْ هٰذَا عَلَيْكُمْ)) (رواه مسلم)، **ترجمه**: ((دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه څخه روایت فرمایی چه بیشکه رسول کریم صلی الله علیه وسلم تیریده په مړبوچی بچی دګډ باندې (یعني غوږ یې نه وو یاواره وو یا چا غوڅ کړی وو ترینه)) اورسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کراموته اوفرمایل چه: آیا شته تاسو کې داسې څوك چه دا مړبچې یعني دغه مُردار شوې دچیلۍ بچې دیو درهم په عوض کې خوښ کړی، صحابه کرامو عرض وکړو چه ای دالله تعالی رسوله (صلی الله علیه وسلم) مونږ دا دیوشی په عوض کې هم نه قبلوو (یعني یودرهم خو ډیر ستر او لوئ شئ دې چه دمعمولی شی په عوض کې یې هم نه اخلو ځکه چه دا سونډې بونډې دچیلۍ مُردارشوې بچې به څه پکار راشی) رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: چه په الله تعالی مې دې قسم وی چه دُنیا دالله تعالی په نزد ددینه هم زیاته حقیره او ذلیل شئ دې))، یعني ددنیا زیب او زینت اوعیش اوعشرت په مقابله دآخرت کې هیڅ شې ندې نو بنده ته پکار دی چه ددنیا دبنګلو او دباغچو په ځای داسې اعمال وکړی چه جنت کې پرې بنګلې او باغچې حاصلې کړی چه هغه همیشه همیشه دپاره وی ځکه چه دُنیا ضرورت دې او آخرت مقصود دې لکه چه هوټل کې ناست وی چای خوری نو دطیارې پرواز شروع شی نو په طیاره کې تلل منزلِ مقصود ته مقصود دی اوچای څښل ضرورت دې نو هوښیار سړې وایی چه چای څه کوم چه منزلِ مقصود څخه پاتې نشم، نو همدارنګه زیرك سړې چه ددُنیا اوآخرت مقابله راشی آخرت ته ترجیح ورکوی په دنیا باندې، او بل ځای کې ارشاد دې چه ((الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ)) (رواه مسلم)، **ترجمه**: دنیا دمؤمن دپاره قید خانه ده اودکافر دپاره جنت دې.

په حاشیه دلمعات کې یې ددې حدیث په تفصیل کې لیکلی دی چه دُنیا بندی

خانه دمؤمن دپاره ځکه ده چه رسیږی ده ته دحوادثو او محنتونو اودردونو نه اوجنت دي دکافر لپاره له وجه دښیرازی دده په نعمتونو اونفع اخستلو ددنیا کې په شهواتو او په لذاتو یاله وجهې ددینه چه بیشکه دُدنیا تنګه وی په مؤمن همیشه اراده لری دوتلو ددینه فضاء دقدس (پاکی ته) اوکافر ارزو کوی چه همیشه پاتې شوې وې په دنیا کې له وجه درغبت دده نه دُنیا ته ، اودننه ننوتلو دده نه په شهواتو کې اوکله مشتبه کیږی دا (یعنې کیدل ددنیا بندی خانه مؤمن دپاره اوجنت دکافر دپاره) په مؤمن مالدار اوخاوند دنعمتونو اوپه کافر فقیر خاوند دمصیبتونو اوتکلیفونو پس په جواب کې ویلی شویدی چه بیشکه دنیا مؤمن دپاره په شان دبندی خانې ده په مقابله دهغه ثوابونو کې چه ده دپاره تیار شویدی اګر که ده ته دُنیا کې نعمتونه وی اوکافر دپاره په شان جنت ده په مقابلهٔ دهغه عذابونو کې چه ده دپاره تیار شویدی اګر که ده ته محنت او مصیبت رسیدلې دې په دنیا کې.

په فضائلو اوکراماتو دحضرت موسیٰ کاظم رحمة الله علیه کې یو روایت نقل دې چه یو یهودی ددوئ په حضور کې عرض وکړو چه ماته دکتابونو دمطالعې نه داسلام حقانیت او دقرآن کریم صداقت ثابت شویدې ما اراده وکړه چه کلمه طیّبه ووایم اومسلمان شم لیکن په احادیثو کې می یوحدیث په نظر راغلو چه ((الدُّنْیَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْکَافِرِ)) نوپه ما سخت اشکال راغې ته په مسلمانانو کې ممتاز شخصیت یې صاحب دکرامات او ولایت یې اوهمدارنګه ددُنیا مالداری هم الله تعالی درکړیده نودنیا خو ستا دپاره جنت ده ، اوزه خو مسلمان نه یم نه مې په عیسی علیه السلام اونه مې په محمد صلی الله علیه وسلم ایمان راوړې دې او ډیر فقیر یم په شپه او ورځ کې یو ځلې ډوډئ خورم او یو وخت په ځان فاقه تیروم نو زه کافر یم او دوزخ خوپه ما دغه دُنیا ده لدې اشکال څخه زه داسلام څخه بند یم که ځما ددې اشکال حل وشو نو اسلام به قبول کړم . موسیٰ کاظم رحمة الله علیه ته الله تعالی دعلم ظاهری اوعِلْم لُدنی دواړه ورکړی وو اودهغه دکرامت په وجه په دغه یهودی باندې یو حالت طاړۍ شو چه موسیٰ کاظم رحمة الله علیه یې دجنت په داسې نعمتونو او خوشحالیو کې ولیدلو چه

دموسى كاظم رحمة الله عليه ددنيا حالت دجنت دحالت په مقابل كې دبندى خانې
زندگى ښكاريدله ، بيا دې سړى خپل ځان په دوزخ كې په سختوعذابونو كې وليدلو
چه حالت ددوزخ په مقابل دحالتونو ددنيا كې جنت ښكاريدو ، چه كله دغه طارق
«نوې پيښ شوې» حالت ديهودى نه لرې شو نو دموسىٰ كاظم رحمة الله عليه مالدارى
ورته دجنت په مقابل كې بندى خانه او خپله فاقه «لوږه» يى ددوزخ په مقابل كې جنت
معلوم شو او پوهه شو چه دا حقيقت دې دينه پس حضرت موسىٰ كاظم رحمة الله عليه
دظاهرى علم په مسلك جواب وركړو ورته يى اوفرمايل ، دُنيا دمؤمن دپاره ځكه بندى
خانه ده چه دقيدى دا يقين وى چه دقيد معيار پوره كيدونكې دې بلې دنيا ته به ځي
يعنې آخرت ته نو مؤمن زړه خپل په دې دنيا پورې نه تړى بلكه په دې دنيا كې دآخرت
دپاره تيارې كوى او دكافر دپاره دنيا ځكه جنت دې چه جنت دزړه تړلو مقام دې
اوكافر هم په دنيا پورې زړه تړى اودعقبىٰ او آخرت يقين نه كوى ، يهودى وويل زما
دسوال حل اوشو او پوره تسلى مې اوشوه په اوچت آواز يى وويل «لاَ الٰـهَ الاّ الله
مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ» اوصادق ريښتونې مسلمان شو او داسلام وفادار اومخلص
خدمتگارشو.

«قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ازْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبَّكَ اللّٰهُ وَازْهَدْ فِيمَا عِنْدَ
النَّاسِ يُحِبُّكَ النَّاسُ» ، «رواه الترمذى وابن ماجة» ، **ترجمه** : «رسول الله صلى الله
عليه وسلم ارشاد اوفرمايلو چه ته دُنيا سره بې رغبته اوسيږه الله تعالى به تا دوست
ولرى او څه چه خلكو سره وى هغې سره هم بې رغبته اوسيږه هغه خلك به هم تا له
محبوب كړى».

په يو روايت كې يى فرمايلى دى چه ددې اُمت اول اصلاح يقين اوزُهد دې او ددې
اُمت اول فساد بُخل او اَمَل دې يعنې حِرص دې «ترمذى ، ابن ماجه» او سفيان ثورى
صاحب رحمة الله عليه فرمايلى دى چه زُهد يعنې دُنيا سره بې رغبتى دانه ده چه غټه
جامه اغوندې اونه داچه سپوره او وچه ډوډئ وخورې بلكه اصل زُهد دادې چه حرص
كم كړې «شرح السنة».

اونبي اکرم صلی الله علیه وسلم په خپلې دعاء کې فرمایلی دی: «اَللّٰهُمَّ أَحْيِنِي مِسْكِينًا وَأَمِتْنِي مِسْكِينًا وَاحْشُرْنِي فِي زُمْرَةِ الْمَسَاكِين» (رواه ابن ماجة) **ترجمه**: «ای الله ما مسکین ژوندې ولرې او مسکین مې وفات کړې او د مسکینانو په ټولی کې مې پورته کړې». او بل ځای کې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ لَا بَأْسَ بِالْغِنَى لِمَنِ اتَّقَى اللهَ عَزَّ وَجَلَّ» (رواه احمد). رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه په مالدارۍ اوتوانګرۍ کې نقصان نشته دي دهغه چا دپاره چه دالله تعالی نه وه ویریږي (یعني دمال دحقوقو اداکوونکې اوسیږي).

او سفیان ثوري رحمة الله علیه فرمایلي دي چه مال به په پخوا زمانه کې مکروه ګڼلې کیدلو اونن سبا دمؤمن (دپاره) ډهال (سپر) دې (شرح السنة).

امام غزالي رحمة الله علیه فرمایي چه په مال کې فائده هم شته او نقصان هم شته دي مثال دمار «منګور» په شان دې چه چاته یې دَمْ ورځي هغه مار ونیسي.

غانونه ترینه اوباسي بیا ترینه تریاک جوړوي که دې شخص لره څوك نا واقف (بې عقل) سړي وګوري او هغه هم نیول شروع کړي (بغیرله دم نه) نوهغه مار به یې وچیچي او مړه به یې کړي. دغه رنګه دمال دزهرو نه هغه کس محفوظ پاتې کیدې شي څوك چه دپنځو شیانو اهتمام کوي: ۱ـ دا فکر وکړي چه دمال مقصد څه دي دڅه غرض لپاره داپیدا کړې شوي دي چه هم هغه غرض ورسره وساتلې شي، ۲ـ دمال راتلو او حاصلولو دطریقو په سختۍ سره نګراني کوي چه چیرته پکې ناجائزه طریقه شامله نشي، مثلاً داسې هدیه (تحفه) ډالۍ چه په کې درشوت ګډون وي یا داسې سوال چه په کې دذلت خطره وي، ۳ـ دحاجت دمقدار څخه زیات دخپل ځان سره نه ساتي دڅومره مقدار چه واقعي ضرورت وي هغه څو مجبوري ده دهغې نه زیات فوراً خرچ کړي. ۴ـ دخرچ دطریقې نګراني کوي چه چرته بې ځایه خرچ نشي په ناجائزه موقع خرچ نشي، ۵ـ دمال په راتلو کې او په خرچ کولو کې او په قدر دضرورت ساتلو کې هر یو شي کې یې نیت خالص وي، محض دالله تعالی رضاء یې مقصود وي، څه چه ساتي یا استعمال کې یې راولي هغه صرف پدې نیت سره وي چه پدې سره دالله تعالی په

اطاعت (حکم منلو) کې قوت وشي، کوم چه دضرورت نه زیاتی وی هغه بې فائد
اوبې کاره وګڼي زر يې خرچ کړي ذلیل یې وګڼي خرچ يې کړي دعزت شي يې ونه ګڼ
بيا په دې شرطونو سره مال مُضر او نقصاني ندې، دحضرت علي رضي الله تعال
ارشاد دې کچیرې څوك دټولې دُنیا مال محض دالله تعالی لپاره اخلی (دخپل غر
دپاره نه) نو هغه زاهد دې او کچیرې بالکل لږ غونډې هم نه اخلی او دانه اخسل
دالله تعالی دپاره نه وی (بلکه څه دنیوی غرض، حُبّ جاه، (دبزرګی عزت محبت وغیر
په وجه سره وی) نو هغه دُنیادار دې ((احیاء)) دحضرت ابن مسعود رضي الله تعالی ع
روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په پوزکی باندې اوده وو چه راپاسیده
په جسم مبارك یې دپوزکی چاپونه وو چه دامې ولیدل نو عرض مې وکړو چه ای د
تعالی رسوله! کچیرې تاسو اجازت راکړئ نو مونږ به تاسو ته یوه بستره جوړه کړ
رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه: ما ته ددې دنیا دعیش اوآرام څه ضرور
دې، څما او ددنیا مثال خو داسې دې لکه یو په سورلئ سپور (سور) سړې یع
یومسافر راشی او دیوې ونې لاندې سورې تلاش کړي او څه ساعت پس په خپله سو
سورشی او دغه ونه پریږدی او دخپل منزل په طرف لاره ونیسی ((رواه الترمذی)).
دتیرشوی حدیث تفصیل دادې: یعنې دُنیا کې دعمارتونو او داسبابو او دع
دژوند څه ضرورت دې ځکه چه نن دې که سباء لدې دُدنیا څخه کوچ دې، داح
مشهوره ده چه نوح علیه السلام ته ملك الموت راغلو (اودنوح علیه السلام) عمر پ
روایت کې یوزر اوشپیته (۱۰۶۰) کاله وو، دغه وخت دنوح علیه السلام جو
دیوتاټ نه جوړه وه چه لمر به راوخوت، نوتاټ به یې دمشرق طرفته وګرځولو او
غرمه به شوه نو په سربه یې برابر کړو او چه لمر به قبلې طرفته ته شو نوتاټ به یې
دمغرب طرفته وګرځولو نو ملك الموت ورته اوفرمایل چه عجیبه ده چه دومره کاله
کې تا یوه کوټه نه ده جوړه کړې او ددې تاټ لاندې شپې سبا کوې نو حضرت نوح علیه
السلام ورته اوفرمایل چه زه هم ستا په انتظار کې وم، عبدالرحمن بابا وایی:

عاقبت خو به یوموټې شی دخاورو
ګلذار اوګل رُخسار د دې دُنیا

که بادشاه وی آخر خاورو له به دورمـی

ځـه عـــزت دي څـه حرمت په دې دنیا

بل ځای کې ارشاد دي چه: ((قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ حُبُّ الدُّنْيَا رَأسُ كُلِّ خَطِيْئَةٍ)) (بیهقی)، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه ددنیا محبت دهرې ګناه جرړه ده.. اوحضرت عمر بن خطاب رضی الله تعالی عنه فرمایی چه ما درسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه کچیرې تاسو په الله تعالی بهروسه وکړئ څرنګه چه دبهروسی (توکـل) حق دې نوداسې رزق به درکـړی لکه څرنګـه چه مرغـانو تـه رزق ورکوی چه سحر وګـی (صحراء تـه) ووزی اومابنام ډکې ججورې خپلو جالوتـه راشی ((رواه الترمذی)).

امام غزالی رحمة الله علیه فرمایی چه دتوکل مفهوم داسې نه دې چه بس په ځمکه پریوزه اوهیڅ کسب اوتـدبیر مکوه ،یعنې کسب اوتـدبیر کوه لیکن یقین پـه تـدبیر مکوه بلکه یقین کوه چه داڅه ماته را رسیږی دغه له طرف دالله تعالی څخه دی یعنې امتحان دې.

امام مالك رحمة الله علیه فرمایی چه ماتـه دا روایت را رسیدلې دې چه دلقمان حکیم نه پوښتنه وشوه چه ته دې مرتبې (یعنې دومره دفضیلت مقام) ته کوم شی یعنې په کوم عمل رسیدلې یې ؟ لقمان حکیم ورتـه جواب ورکړو چه ریښتیا خبرو، اواداء کولو دامانت (یعنې دروغ مې ندی ویلی په یو وخت کې هم اوپه امانت کې مې خیانت ندې کړې هغه مې پوره پوره حقدار ته رسولې دې)، یعنې ددنیا پـه زندګی کې دا دوه کاره ډیر اهمیّت لري.

دیوبزرګ وینا ده فرمایی چه خوب قبرتـه پریښـودل پکار دی او خوراك جنت ته، خلاصه دا چه: په دنیا کې دژوند اصلی مقصد دادې چه سړې دې دینداره وی نو بیا به ده ته مګر په مثـال دتحفې وی اودآخرت ژونـد بـه یـی دخوشحالی وی. ((الله پاك دې مونږ دینداره بندګان جوړکړی، آمین ثم آمین))

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# لوئ نعمت ((حقوق الوالدين مع الاولاد))

محترمو مسلمانانو : دالله پاك داطاعت سره يوځاى دمور اوپلار داطاعت تاكيد شويدې اسلامي شريعت دمور اوپلار دمشترك حيثيت تفكيك اوتفصيل هم كړيدى اودابې ښرگنده كړيده چه دمور درجه له پلار څخه په خدمت كې جگه ده دا ځكه چې ښځې دوضعي اوفطرى كمزورى سره سره مور دحمل او دحمل دوضعې، داولاد دساتنې او روزنې . گران او مشكل كارونه په غاړه اخلى، په خوشحالى او فراخ تندى سره ددغوتكليفونو گالل دمور دمرتبې دلوړوالى ښكاره دليل دې او دپلار درجه له مور څخه په عزت كې جگه ده، داځكه چه سړې دنفقې اودكور ټولو مشكلاتو دحل لپاره ځانكړى ځانگړى تكاليف برداشت كوى، مثلاً يو سړې په تخت دپاسه په چوكى ناست دې صرف يوه منه مثلاً ور سره ده اوصرف يوه چوكى هم دې پدې وخت كې ددغه سړى موراو پلار راغلل نوچونكه پلار په عزت كې مخكې دى نو په چوكى باندې به يې كينوى اوهغه منه ((سيب)) به مورته وركړى اومور سره به لاندې كينى، كچيرې دښځې مور اوپلار په منځ كې كوم اختلاف پيدا شى او دحل چاره يې پيدا نشى اودې خبرې ته مجبورشى چه كومې خواته ترجيح وركړى شى پدې حالت كې داسلام حكم هم دادې چه دمور اوپلار اطاعت غوره دې اوبايد همدا اختيار كړې شى،دا ځكه چه دزوجيت تعلق يوداسې تعلق دې چه هم پريكيدلې شى اوهم بيرته غوټه كيدلې شى او هم بدليدلې شى او دمور اوپلار تعلق نه بيليږى اونه ماتيږى اونه كوم تغير قبلوې دا ثابته خبره ده چه دالله پاك په نه بدليدونكى شريعت كې له شرك څخه بل بد او ناوړه عمل نشته خو سره ددې هم كه دچامور اوپلار مشركان وى دمور اوپلار دخدمت څخه لاس اخستل رواندى اودمور اوپلار دشرك بلنه به نشى منلې

الله تعالى فرمايى : ((وَوَصَّيْنَا الإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا وَإِن جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلاَ تُطِعْهُمَا إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ)) (سورة عنكبوت) **ترجمه** ((مونږ انسان ته توصيه وكړه چه دمور اوپلار سره نيكى كوه اوكه هغوئ تا مجبور

كړى چه د الله تعالى سره هغه څوك شريك كړه چه نه پرې علم نه لرې نو دهغوئ دغه خبره مه منه ستاسې د ټولو ماته راتګ دې نوزه به تاسې خبر كړم په هغو اعمالو چه تاسې كول»، يعنې الله تعالى د موراوپلار سره احسان كول يو مهم امر ګڼلې او فقط شرك پرستى د دعوت په مقابل كې يې اولاد دهغوئ د خبرو له منلو څخه منع كړيدې په نورو دنياوى خبرو كې دهغوئ د آدب او دهغوئ د اطاعت او خدمت حق ثابت وقائم پاتې دي نو پدې اساس كه څوك د مور او پلار له خدمت كولو او ښه سلوك نه علاوه دهغوئ لپاره د خير دعا كوى الله تعالى دهغوئ ګناهونه وربښى او هغوئ ته د خوشحالى نه زائليدونكې (نه ختميدونكې) دولت وركوى. په يو حديث شريف كې راغلي چه «قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِي قَالَ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أَبُوكَ وَفِي رِوَايَةٍ ، قَالَ أُمُّكَ ثُمَّ أُمُّكَ ثُمَّ أُمُّكَ ثُمَّ أَبَاكَ ثُمَّ أَدْنَاكَ ثُمَّ أَدْنَاكَ» (متفق عليه. عن ابى هريرة رضى الله تعالى عنه). **ترجمه**: يو سړى د نبى اكرم صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وكړه: اى د الله تعالى رسوله زما د ښه سلوك د ټولو نه زيات حقدار څوك دې؟ نبى اكرم صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل: ستا مور. هغه وويل بيا څوك دې؟ نبى اكرم صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل: ستامور. هغه بيا وويل بيا څوك دې؟ نبى اكرم صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل: ستامور. هغه بيا وويل: بيا څوك دې؟ نو نبى اكرم صلى الله عليه وسلم اوفرمايل: بيا ستا پلار. او د يو بل روايت مطابق دى چه: نبى اكرم صلى الله عليه وسلم دوه پيرې (ځلې) د مور په حقله او په دريم ځل يې د پلار په حقله ذكر وكړو او ورته يې اوفرمايل چه بيا درجه په درجه څوچه ستا قريب خلك دى.

د دې حديث شريف نه معلومه شوه چه د مور درجه د پلار نه زياته ده او دا خبره د قرآن مجيد نه هم معلوميږى. په سورة لقمان كې الله تعالى فرمايى چه: «مونږ انسان ته د مور او پلار د شكر ګذارى تاكيد اوحكم كړيدې» او دهغې نه سمدستى وروسته يې فرمايلى دى «حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ»، **ترجمه**: «يعنې چه هغه مور د تكليف د پاسه تكليف تير كړو (اونهه مياشتې يې په خيټه وګرځولو)

بيادوه کالو پورې یې په «خپلو وینو» اوپاللو»
پدې وجه علماؤ لیکلی دی چه څوپورې د آدب اوتعظیم سوال دې نو پلار
مستحق دې اوخدمت دلحاظ نه دمور درجه زیاته ده .
په یو ارشاد کې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه : دهغه چا پوزه
په خاورو ککړه شی «یعنی ذلیل دې شی» «داخبره نبی کریم درې ځله وکړه
خلکو پوښتنه وکړه یا رسول الله څوک دې ذلیل شی «یعنی داجمله تاسو دچاپه حق کې
اوفرمایله» نبی کریم صلی الله علیه ورته اوفرمایل هغه سړې چه دهغه مور اوپلار
یو دهغوئ نه زوړ اوزړه «بوډئ» شی بیا «دهغوئ دخدمت په وجه» په جنت کې
داخل نکړی ««رواه مسلم عن ابی هريرة رضی الله تعالی عنه» ،مطلب دا چه جنت دمور
اوپلار په خدمت کې دې ، څوک چه دمور اوپلار دخدمت دسعادت نه محروم شی نو
خاورې یې په سرشوې

وایی چه یوځل حضرت موسٰی علیه السلام الله تعالی ته سوال وکړو چه زما
ملګرې به په جنت کې څوک وی هغه راته اوښایه، نو الله تعالی ورته اوفرمایل : لاړ شه
فلانکې ښار اوفلانی بازار ته نو هغه ځای کې یو قصاب سړې دې، مخ یې دارنګه دې
هغه ستا ملګرې دې په جنت کې ، نوحضرت موسٰی علیه السلام هغه دوکان ته لاړو
اوهلته تر لمر پریوتو پورې اودریدلو ده وکتل چه هغه قصاب یوه ټوټه غوښه ځان سره
واخستله او په ټوکرئ کې یې واچوله نوکله چه روان شو حضرت موسٰی علیه السلام
ورته وویل : آیا یومیلمه دې پکار دې، هغه وویل : آو ((هو)) ، نو هغه سره روان شو
چه کورته یې ننوتلو نو هغه سړې پاخیده اوهغه دهغه غوښې نه یې ښه ښوروا پخه کړه
اوبیایې دکور نه یوه ټوکرئ را وه ویستله چه په هغې کې یوه زړه اوضعیفه بوډئ وه
لکه بچئ دکونترې نوهغه یې ددغه ټوکرئ نه را اوچته کړه اویوه چمچه «قاشقه» یې
راواخستله اوپدې چمچې سره به یې طعام را اخستلو اوهغې بوډئ ته به یې په خوله
کې ورکولو تردې چه هغه ښه مړه شوه اوبیا یې صفا وه مینځلې جامې دهغې او وچې
یې کړې اوهغې ته یې واغوستلې بیا یې کینښودله په ټوکرئ کې ، کله چه موسی علیه
السلام ورته وکتل نو هغې بوډئ خپلې شونډې وخوزولې ، حضرت موسی علیه

السلام دهغه قصاب نه پوښتنه وکړه چه دې څه ووېل چه دا شونډې يې وخوزولې، هغه ورته په جواب کې ووېل : ((قَالَتْ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ اِبْنِیْ جَلِیْسَ مُوْسٰی فِی الْجَنَّةِ)) يعنې دا دعايي وکړه چه : يا الله زما زوئ وګرځوی ملګرې دحضرت موسٰی عليه السلام سره په جنت کې . بيا سړی دغه ټوکرئ راواخستله او په يو مضبوط ميخ کې يې راځوړنده کړه، حضرت موسٰی عليه السلام ورته اوفرمايل چه : دادې څه وکړل ، هغه سړی ووېل دا زما مور ده ، دومره ضعيفه شوې ده چه کيناستلې نشی، نو حضرت موسٰی عليه السلام ورته ووېل چه : ((لَكَ الْبِشَارَةُ اَنَا مُوْسٰی وَاَنْتَ جَلِيْسِی فِی الْجَنَّةِ)) يعنې تاته زيرې درکوم چه زه موسی يمه او ته ملګرې ځما يې په جنت کې ((زبده))

دنبی اکرم صلی الله عليه وسلم يوبل ارشاد مبارك دې چه : ((قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِضَی اللهِ فِي رِضَی الْوَالِدَيْنِ وَسَخَطُ اللهِ فِي سَخَطِ الْوَالِدَيْنِ)) (رواه البيهقی) ، **ترجمه** : ((رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی چه دالله تعالی رضامندی دمور اوپلار په رضا مندی کې ده اودالله تعالی ناراضګی دمور اوپلار په ناراضګی کې ده)) ، يعنې که څوك دالله تعالی رضاء غواړی نو مور اوپلار دې رضاء کړی ځکه چه دالله تعالی حکم دې چه دمور اوپلار سره نيکی او احسان کوئ چه څوك دا ماتوی نو ده دالله تعالی حکم مات کړو ، همدارنګه دمور اوپلار نافرمانی دالله تعالی دحکم نه نافرمانی ده ځکه چه دا کار دالله تعالی دناراضګی سبب جوړيږی، البته په غير شرعی امورو کې دمور اوپلار حکم شرعًا نشی منلې.

روايت دې چه يوځل حسن بصری رحمة الله عليه دبيت الله شريف طواف کولو يو سړې يې وليدلو چه په اوګو يې زنبيل وو او طواف دبيت الله يې کولو ،حسن بصری رحمة الله عليه ورته ووېل چه زنبيل وغورځوه ! هغه سړی ورته ووېل چه ای شيخ صاحب دا زما مور ده په زنبيل کې مې اوه ځلې دشام له هغه برسر (لرې حصې) دشام ځخه دې ځای ته راوړې ده او طواف مې پرې کړې دې په مشاعرو او موافق دبيت الحرام . آيا ما ددې حق پوره کړيدې اوکه نه ، نو حسن بصری رحمة الله عليه ورته اوفرمايل : که چيرې اويا وارې دهغه بل سر ددنيا ځخه يې راوړې نوبيا به هم پوره

نکړې حق ددې چه ته یې ګرځولې یې یوځلې په ګیډه. ځکه چه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: «اِنَّ الجَنّةَ تَحْتَ اَقْدَامِ اُمّهَاتِکُمْ» یعنې بیشکه جنت لاندې دقدمونو دمیندو ستاسې دې.

په یو روایت کې راغلي دي چه حضرت حارث رضی الله تعالی عنه مریض وو. نبي اکرم صلی الله علیه وسلم دبیمار پرسی لپاره ورغلو. او دکلمه شهادت تلقین یې ورته وکړو نو هغه انکار وکړو. نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ورته وویل ولې کلمه شهادت نه وایې، هغه ورته وویل چه: یا رسول الله ځما په مخکې داور غر دې. هرکله چه زه اراده وکړم چه کلمه اووایم نو هغه ماته تکلیف راکوی. نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل: څه دې کړي دي. هغه ورته وویل چه مور سره مې خبرې نه دي کړي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه مور را وغوښتله چه ځوی معاف کړه او کچیرې معاف یې نکړې نو روح یې د اور په طرف روان دې. مور یې لدې نه منع وکړه، نو نبي اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: زه به د الله تعالی نه سوال وکړم چه دده ژبه ګویا (چالان) کړي په کلمه دشهادت باندې. نو وحی راوړه حضرت جبرئیل آمین علیه السلام اودنبي اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې عرض وکړی چه الله تعالی په تاسلام وایې اوبیا فرمایي چه ته دې ته مه ګوره ځکه ته ډیر عزتمند دخلکو یې ماته، «فَوَعِزَّتِیْ وَجَلَالِیْ اِنِّیْ لَا اَرْضٰی عَنْهُ حَتّٰی تَرْضٰی عَنْهُ وَالِدَتُهٗ» یعنې زما دې قسم وی په عزت اولویې خپلې چه بیشکه زه به ترهغه ترې راضي نه شم ترڅو چه دهغه نه خپله مور راضي شوې نوی. نو نبي اکرم صلی الله علیه وسلم سفارش وکړو دهغه مورته، تر دې چه مور یې راضي شوه دخپل ځوئ نه «فَقَالَ حَارِث اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ». یعنې کلمه دشهادت یې وویله. یو بل ځای کې ارشاد دې «قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنَّانٌ وَلَا عَاقٌّ وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ» (رواه النسائی) «نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه: جنت ته به احسان کوونکی او موراوپلار ځخه نافرمانی کوونکې اوهمیشه شراب څښونکې داخل نشي». یعنې دجنتی ډلې په اولینو خلکو کې به نوی. که خاتمه یې په ایمان سره وی بیابه وروسته

دګناهونو دسزا خوړلو نه جنت ته داخليږي . يوبل ځاى کې ارشادمبارك دې چه: ((مَنْ اَحَبَّ اَنْ يَمُدَّ اللهُ فِىْ عُمْرِهٖ وَيَزِيْدُ فِى رِزْقِهٖ فَلْيَبَرَّ وَالِدَيْهِ وَلْيَصِلْ رَحِمَـهُ)) (رواه البيهقى. ودرالمنثور)، **ترجمه**: نبى اکرم صلى الله عليه وسلم اوفرمايل: څوك چه دا خوښه وى چه عمر يې زيات شى اوپه رزق کې يې برکت شى نوهغه ته پکار دى چه دوالدينو سره حسن سلوك وکړى اورشته دارانو سره دې صله رحمى وکړى ، بل ځاى کې ارشاد مبارك دې چه: ((عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ اَتٰى رَجُلٌ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ شَيْخٌ فَقَالَ مَنْ هٰذَا مَعَكَ قَالَ اَبِىْ قَالَ لَاتَمْشِيَنَّ اَمَامَهُ وَلَا تَقْعُدْ قَبْلَـهُ وَتَدْعُـهُ بِاسْمِهٖ وَلَا تَسْتَبَّ لَهُ)) (تفسير درمنثور). **ترجمه**: دحضرت عائشې رضى الله تعالى عنه نه روايت دې چه يوسړې دنبى اکرم صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو او مشرهم ورسره وو ، ده ورته اوفرمايل: دا څوك دې تاسره ، هغه عرض وکړو دا زما پلاردې ، نو نبى اکرم صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل: (دپلار داحترام خيال ساته) هيڅکله دپلار نه مخکې مه ځه اودهغه نه مخکې مه کينه اوپه خپل نوم سره يې مه رابله اوزيږې (کنځل) ورته دبل چا په سبب مه کوه ، يعنې چه د بل چا پلار ته کنځل (زيږې) وکړې نوستا پلار ته به هغه زيږې (کنځل) وکړى، مطلب دا چه دمور اوپلار احترام او اکرام په زړه او ژبه او په عمل درې واړو سره ضرورى دې، لکه چه الله تعالى فرمايي ((فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا))، ((يعنې چه دواړه يا يوددوئ څخه زوړ شى نوهغه ته أف مه وايئ اومه يې رټئ))، مطلب دا چه ضرر مه ورته رسوئ ، اوبيا فرمايي ((وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا)) يعنى ادب سره خبرې ورسره کوئ په لهجه کې نرمى په الفاظو کې دتوقير اوتکريم خيال کوئ، اوبيا فرمايي ((وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَـاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ)) يعنې دمور اوپلار په مخکې په شفقت او انکسارى سره اوسيږئ

ددې آيت په تفسير کې حضرت زُهير فرمايي چه که مور اوپلار سختې خبرې درته وکړى نوته په جواب کې ورته ووايه چه: الله پاك دې رحم دربانديې وکړى ، ځکه چه الله تعالى فرمايي: ((رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا))، اى ربه څما په مور اوپلار رحم

وکړي لکه څنګه چه هغوئ په وړوکوالی څما پرورش کړيدې، يعني مور اوپلار ته به نيکې دعاګانې کوی، البته که مور اوپلار يې کافر وو نو دمغفرت دعاګانې ورته جائز ندی کچيرې ژوندی وی نو دهدايت دعاء به ورته کوی.

په يوروايت کې دی چه حضرت ابو أُسيد رضی الله تعالی عنه فرمايې چه مونږ نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره ناست وو، پدې کې دبنوسلمه يوسړې راغې او وې ويل: ای دالله تعالی رسوله (صلی الله عليه وسلم) ((هَلْ بَقِيَ مِنْ بِرِّ أَبَوَيَّ شَيْءٌ أَبَرُّهُمَا بِهِ بَعْدَ مَوْتِهِمَا قَالَ نَعَمْ الصَّلَاةُ عَلَيْهِمَا وَالاسْتِغْفَارُ لَهُمَا وَإِنْفَاذُ عَهْدِهِمَا مِنْ بَعْدِهِمَا وَصِلَةُ الرَّحِمِ الَّتِي لَا تُوصَلُ إِلاَّ بِهِمَا وَإِكْرَامُ صَدِيقِهِمَا)) (رواه ابوداؤد)، **ترجمه**: آيا دمور اوپلار دوفات څخه پس دهغوئ څه حق باقی پاتې کيږی چه زه هغه اداء کړم، نبی اکرم صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمايل: دهغوئ لپاره دعاء او استغفار کوه اوکوم (جائز) وصيت چه هغوئ کړې وی هغه پوره کړه او مور اوپلار سره چه دکومو خلکو درشته داری تعلق وی هغوئ سره صله رحمی کوه اودمور اوپلار ددوستانو اوملګرو عزت او خاطر داری کوه.

اوهمدارنګه ابوطفيل رضی الله تعالی فرمايې چه: ما رسول الله صلی الله عليه وسلم جعرانه مقام کې وليده چه غوښه يې تقسيموله پدې کې يوه ښځه راغله نبی اکرم صلی الله عليه وسلم ته ورنږدې شوه نو نبی اکرم صلی الله عليه وسلم خپل څادر وغوړولو اوهغه بی بی پرې کيناستله. ماپوښتنه وکړه چه دا څوك ده؟ نو خلقو راته وويل: دا دنبی اکرم صلی الله عليه وسلم (رضاعی) مور ده چه هغې ده ته تې ورکړيدې (ابوداؤد).

خلاصه داچه: که مور اوپلار خوراك ته محتاج شی نوطعام ورکړې شی. که جامو ته يې ضرورت شی نو جامې دې ورته واغوندوی که قدرت لری، که خدمت يې ضروری وی نو خدمت يې وکړی. کچيرې يې راوبلی نودهغوئ دخبرې اجابت دې وکړی اودهغوئ نيك امر دې تعميل کړی. اونرمې خبرې دې ورسره وکړی نه سختې خبرې. پخپله نامه به يې نه يادوی او وروسته به ترې ځی اوچه کوم شې ځانته خوښوی

نو مور او پلار ته به یې هم خوشبوي او کوم شئ چه ځانته نه خوشبوي دهغوئ دپاره دي هم نه خوشبوي او استغفار اونیکې دعاګانې به ورته کوي، لکه ځانته یې چه کوي، نو داسې مؤدب ولد ته به الله تعالی دقیامت په ورځ سخته کې معافي وکړي

لکه څنګه چه والدین په اولاد باندې حقوق لري، همدغه راز اولاد هم پخپل مور او پلار باندې ځینې حقوق لري. څرنګه چه والدین دخپل اولاد دژوندانه سبب ګرځیدلي دي همدارنګه باید دهغوئ دژوندانه دتکمیل وسیلې هم ولټوي او څومره چه ددوئ له لاسه کیږي ددوئ دترقی لارې باید برابرې کړي، له همدې آمله دحمل ضائع کول او داولاد وژل په اسلام کې ډیر ظالمانه اوبې رحمه کارونه بلل شویدي، له جسماني روزنې څخه وروسته داولاد روحاني اوباطني روزنه ډیره لازمي ده . قرآن مجید دامطلب په دغه لنډه جمله کې داسې بیان کړیدي: ‹‹ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا ›› ‹سورة تحريم››، **ترجمه**: ‹‹ای مؤمنانو تاسې خپل ځانونه، اوخپل اهل اوعیال له اُور څخه وژغورئ››، په یوحدیث شریف کې دي چه ‹‹انَّ رَسُوْلَ اللهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا نَحَلَ وَالِدٌ وَلَدَهُ مِنْ نَحْلٍ اَفْضَلَ مِنْ اَدَبٍ حَسَنٍ›› ‹جامع الاصول، عن سعيد ابن العاص رضى الله تعالى عنه›، **ترجمه**: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: پلار چه خپل اولاد ته څه ورکوي په هغې کې دټولونه بهتره عطیه ‹ورکړه› هغوئ ته ښه تعلیم اوتربیت ورکول دي››. په یوبل حدیث شریف کې دي چه: ‹‹قَالَ رَسُوْلُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ أُنْثَى فَلَمْ يَئِدْهَا وَلَمْ يُهِنْهَا وَلَمْ يُؤْثِرْ وَلَدَهُ عَلَيْهَا قَالَ يَعْنِي الذُّكُورَ أَدْخَلَهُ اللَّهُ الْجَنَّةَ››. ‹رواه ابوداؤد›، **ترجمه**: ‹‹نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: دکوم سړي چه لور پیداشي اوهغه دجاهلیت په طریقه ژوندئ دفن نکړي اونه هلکانوته دهغې په مقابله کې ترجیح ورکړي نو الله پاك به داسې خلق جنت کې داخل کړي››

نه هغې ته سپك نظري وکړي اونه هلکانوته دهغې په مقابله کې

په شرعة الاسلام کې یې لیکلي دي چه ورو ماشومانو په غوږونو کې باید آذان وشي ‹‹لِاَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰكَذَا فَعَلَ فِيْ تَوَلُّدِ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ فِيْ يَوْمِ الْاَوَّلِ رِضَاهُمَا››، یعنې ځکه چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم داسې کړیدي په پیدا کیدلو

دحسن او حسین رضی الله تعالی عنهما ، کې په اوله ورځ کې اونامه یې ایښې ده دې دواړو ته . ((یعني هغه آذان چه کوم دلمانځه دپاره کولې شی)) (ترمذی، ابوداؤد) .
او همدارنګه ښه نوم کیښودل مستحب دی که غیر مناسب نوم چا ورته تعین کړی نو بدلول یې پکاردی، ابن عمر رضی الله تعالی عنه فرمایی: رسول الله صلی الله علیه وسلم زما دخور (عاصیه) نوم بدل کړو او وې فرمایل چه ستا نوم جمیله دې . ((روا ابوداؤد)
او عقیقه به هم کوی. دهلکانو څخه عقیقه کې بهتره داده چه دوه څناور وی او که یو هم حلال کړې شی نو کافی ده ، دعقیقې سنت یو سره هم اداکیږی څناور نر وی که ښځه وی څه فرق نلری.
حضرت علی رضی الله تعالی عنه فرمایی چه : رسول الله صلی الله علیه وسلم دحضرت حسن ابن علی رضی الله تعالی عنهما په عقیقه کې یوه چیلۍ حلاله کړه او وې فرمایل ای فاطمی (رضی الله تعالی عنها) دبچی دسر ویښته او خرایه او دهغې هم وزن (په تول کې برابر) سپین زر خیرات کړه، حضرت علی رضی الله تعالی عنه فرمایی چه مونږ دحسن رضی الله تعالی عنه ویښته او تلل، نو دهغې وزن یو درهم و یا څه قدر کم. ((رواه الترمذی))، او که دچا دا طاقت نوی نو څه یې چه په وس پوره وی هغه کافی دی، او که بالکل هیڅ یې دوسه نه کیږی نو په ملنګ باندې قلنګ او تاوان نشته. دعاء خیر دې ورته کوی، الله تعالی ورله کافی دې، دټولو نه بهتره ورځ دعقیقې لپاره اوومه ورځ ده که پدې ورځ ونشی نو بیا په څوارلسمه یا یوویشتمه باندې کول پکار دی، دینه پس اوومه هفته یا اووه میاشتی یا اووه کاله پس دعقیقی فضیلت او سنت نه اداکیږی اګر که دخیرات ثواب یې هر وخت کیږی.
حضرت بریدة رضی الله عنه فرمایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمایل دعقیقې څاروې دې په اوومه ورځ حلال کړې شی . یا په څوارلسمه یا په یوویشتمه ورځ . ((طبرانی فی الاوسط))، او دنیك بختی او دینداري ښځې پېژ دې ورکوی څکه چه دبچی لپاره له دې پیبونه ډیر لوئ اثر وی دبچی دپیو او خوراك لپاره دې وخت مقرر کړی چه صحت ته یې ښه وی چه عمر یې څلور میاشتو او څوارلسو ورځو ته ورسیږی نو دخوراك او څښاك شي دې ورته شروع کړی، او چه ژبه یې خبرو ته تیاره شی نو کلمه

دتوحيد دي پرې زده کړي چه ((لا اله الا الله محمّد رسول الله)) ده ، وروسته لدينه دې ((الله الملك الحق المبين)) ، چه عمر يې څلورو کالو . څلورو مياشتو او څلورو ورځو ته ورسيږي نو مسجد ته په تللو دې عادت کړي ، او دسورة فاتحه او سورة اخلاص او سورة اقراء باسم ربك الذى خلق دې ورته ياد کړي او دې سره دې عادت کړي ، ځکه چه نبي اکرم صلى الله عليه وسلم بو تللى وو دواړه لمسيان خپل (حسن او حسين رضى الله تعالى عنهما) طرف ديو استاذ ته چه پرهيزګار وو چه هغه حضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه وو ، او کله چه اوو کالو ته ورسيږي نو دلمانځه امر دې پرې وکړي او په لسم کال دې پرې ووهي او ځاى دځملاستى دې ورته جدا کړي.

((قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرٍ وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ)) (رواه ابوداؤد)، يعني رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دى چه خپل اولاد ته دمونځ کولو حکم وکړئ کوم وخت چه هغوئ داوو کالو شى (دلمانځه طريقه ورته ښايئ او دلمانځه کولو نصيحت ورته کوئ) او دلمونځ لپاره يې وهئ کوم وخت چه دلسو کالو شى ، او ددې عمر څخه پس دهغوئ بسترې جدا کړئ يعنې دخوب کولو لپاره . بيا دخپلې مور او خور سره په يوه بستره کې ويده کيدل جائز ندى مګر که خپله ښځه يا وينځه يې وى بيا خير دې وَالاّ فلاً ، او چه دپنځلس کالو شى نو يوه نيکه او ديندار ښځه ورته په نکاح کړي ، دغه داولاد مختصر حقوق وو چه ما مخکې وعده کړې هغه په فضل خداوندى سره پوره شوه . ((الله تعالى دې مونږ دخپل مور او پلار امرمنونکي او مؤذبين جوړ کړي ، اللهم آمين بجاه سيد المرسلين))

★★★★★★★★
★★★★★★★
★★★★★★
★★★★★
★★★★

# دنفس داصلاح طریقه ((تقوی))

## تقوی پرهیزگاری او سپیڅلتیا دمؤمن دژوند معراج دی

محترمو مسلمانانو: تقوی پرهیزگاری او الله تعالی ته دغاړې ایښودلو ثمره دبنې بندګی او غوره عبادت نتیجه ده دامړ منې او الله تعالی ته دغاړې ایښودلو ثمره ده مطلوبه او ګټوره ثمره چه هم دلته او هم په هغه بل ژوندانه کې چه پای نلري ده مطلوبه او ګټوره ثمره چه هم دلته او هم په هغه بل ژوندانه کې چه پای نلري ختمیدونکې دي او دغه لوړ صفت به په مؤمن کې هلته پیداشي چه دژوند په ټولو مرحلو او پړاوونو کې دسختی حالات وی او که داسانی که دبیوزلی حالات وی او که دسوکالی په هر راز شرائطو کې قدم په قدم خپل مالك او خالق خپل بادار او فرمانروا په یاد ولري دخپلو ټولو اعمالو حاضر او ناظربی وګنی دهغه ددنیوی او اُخروی مؤاخذی نه په پټه او په ښکاره ووېرېږی ځکه چه هغه عالم الغیب والشهادة ذات دی دهغه پوره اطاعت پدې خاطر وکړی چه هغه راضی شی او خپل مؤمن بنده ته دهغه دښو عملونو او داخلاص او تقوی دهغه دپاکی او سپیڅلتیا غوره مکافات اونیکه بدله ورکړی، یو په لس چنده بدله، یو په سل چنده بدله یو په اوه سوه چند اولدینه هم زیاته بدله، الله تعالی فرمایی: ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلاَ تَمُوتُنَّ إِلاَّ وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ)) (سورة آل عمران)، **ترجمه**: ای ایماندارو دالله تعالی نه وه ویرېږئ په حق ویریدلو سره تاسې مه مړه کیږئ مګر (په داسې حال کې) چه تاسې مسلمانان یئ، بل ځای کې ارشاد دی: ((إِنْ أَوْلِيَآؤُهُ إِلاَّ الْمُتَّقُونَ)) (سورة انفال)، ندی دوستان دالله تعالی مګر متقیان.

بل ځای ارشاد دی: ((إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ)) (سورة حجرات)، ((یعنې ډیر عزتمند ستاسو په نزد دالله تعالی ډیر تقوی کوونکی ستاسو دی))، دتقوی اصلی ماده وقایه ده یعنې له همدې لفظ دوقایه څخه اخستل شوې دې او دا په معنې دساتلو سره ده چه انسان دطغیان او شهوت څخه ساتی دغه یوه روحی ملکه ده، او کلمه تقوی په معنی دخوف (ویرې) سره هم راځی، په هغه حالت کې چه خوف سبب دتقوی شی او کمال تقوی هغه ده چه دمشتبهاتو نه هم اجتناب وکړی، او اهل لسان (عرب) وایی

چه متقون مفرد د «الاتقاء» دې په معنی دحجاب «پردې» سره . لکه چه فرمایي «اتقی بترسیه» پدې ترتیب متقی په امتثال داوامرو دالله تعالی او په اجتناب دنواهیو دالله تعالی سره دعذاب خداوندی څخه ځان په حجاب اوپرده کې ساتي «یعني پدې سره خپله پرده حاصلوی» ، سهل بن عبدالله رضی الله تعالی عنه فرمایلی دی چه تقوی داده چه زړه دغفلت او نفس دشهوت اوجوارح دسیّئاتو «گناهونو» څخه وساتئ، حضرت شبلی رحمة الله علیه فرمایي چه تقوی دیته وایی چه دالله تعالی څخه سوا دهرشی څخه پرهیزو کړی.

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمایلی دی : متقی هغه دې چه دشرك او کفر اومعاصی څخه اجتناب وکړی اوحق تقوی داده چه همیشه ذاکر او دنعمتونو شاکر وی ، وروسته دمعرفت اودپیژندلو دمفهوم دتقوی نه.

اوس به انواعو دتقوی ته اشاره وکړو، نو تقوی په دوه قسمه ده یو په امور دنیویه کې او بل په امور أخرویه کې ده .نو تقوی په امور أخروی کې أمور عقیدوی او عباداتو ته شاملیږی او تقوی په أموز دُنیوی کې ددې قسم تقوی مختصر اقسام دادی : تقوی په سیاست کې،تقوی په اقتصاد کې، تقوی په حکم اوقضاوت کې، اوتقوی په امورو د انفرادی او اجتماعی زندگی کې اوتقوی په امورو دبین الملل وغیره کې، په قرآن کریم کې الله تعالی داتیا مرتبو نه زیات خپل مؤمن بندگان پرهیزگاری ته متوجه کړیدی او د درې ځلوېښتو نه په زیاتو ځایونو کې یې دمتقیانو مرتبه ذکر کړیده ددې لپاره چه بنده متقی جوړشی.

همدارنگه تقوی سره ځیني امور لازم دی چه دتقوی ضعف او قوت ورسره معلومیږی اوهغه مراقبه اومحاسبه وغیره دی داخوظاهره خبره ده چه بغیر ددوام اوپابندی دعمل نه هیڅ عمل لره اعتبار نشته ، ددې همیشوالی نوم په اصطلاح دتصوف کې مُرابطه ده ، علامه بیضاوی رحمه الله د «رَابِطُوا » تفسیر په «وَاظِبُوا» سره کړیدې ، پدې همیشوالی دنفس خبرداري ضروری دې چه فلانې کار کول پکار دی اودفلانی کار نه کول ضروری دی ،دې تنبیه اوخبرداری ته مُشارطه وایی ، یعنې شرط اوقرار داد ، بیا دنفس نگهبانی کول هم ضروری دی ، چه هر وخت ورته متوجه

وی ددې نوم (مُراقبه) دې ، فقط سر ټیټ والې مراقبه ندې ، بلکه خپل نفس دې دګناهونو نه بچ کړی او په نیکو اعمالو باندې دې پابندی وکړی، دغه خبره دې زیرغور اوساتی ، دا نګهداشت اصل مراقبه ده ، بیا په څه خاص وخت کې دې دې حساب واخستلې شی چه په هغې سره معلومه شی چه دې نفس شرط او قرار داد پوره کړیدې او که نه؟ دیته محاسبه ویلی شی ، بیا په محاسبې سره که معلومه شی چه نفس شرط لره ندې پوره کړې نو دهغه په څه مشقت کې اچولو سره علاج هم وکړې شی هغې ته ((معاقبه)) ویلی شی ، او دتیر شوی دتلافی دپاره څه داسې عمل دې هم وکړی شی چه نفس ته دروند او سخت وی ، هغې ته ((مجاهده)) ویلې شی (( وقتی علاج په طور دجرمانې او سزاء سره خو (معاقبه) ده او دائمی وظیفه دمافات دتلافی دپاره مقرر کول (مجاهده) ده.)) ، بیا ځان لره په هغه کوتاهی باندې ملامت کولو او دمافات په تلافی باندې تیارولو نوم ((مُعاتبه)) دې.

خلاصه دا چه نفس دې بالکل آزاد پرې نښودل شی ورنه سرکشه کیږی، لکه چه په یوحدیث شریف کې دی ((اَلْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِیْ طَاعَةِ اللّٰهِ)) (رواه البیهقی)، (((رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی ( په اصل کې )مجاهد هغه دې چه خپل نفس سره داتباع خداوندی په باره کې جهادوکړی)) ، یعنې څرنګه چه کفارو سره دحق کلمې داوچتوالی دپاره جهاد کولې کیږی همدارنګه نفس سره هم جهاد کول پکار دی، ددې دپاره چه هغه دالله تعالی تابعدار او فرمانبردار شی، او دا جهاد مقدم او افضل دې دمشهور جهادنه.

دنفس داصلاح اوکمال پیداکولو دپاره امام غزالی رحمة الله علیه په احیاء العلوم کې څلور طریقې ذکر کړیدی : ۱ ـ دنیکو خلقو صحبت اختیار کړی چه دنیکو خلقو اثر به په ده هم وشی اودې به هم نیک وګرځی لکه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی : ((مَثَلُ الْجَلِیْسِ الصَّالِحِ وَالسُّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِیْرِ)) ، یعنې دښه ملګری مثال داسې دې لکه دمشکو لرونکې او د بهټۍ بلوونکې ، پس دمشکو اوعطرو والا که تاسره خواکې تیر شی نو هم نفع بې درته رسیږی او که تاترینه واخسته

ذم نفع یې درته رسیږی په هرحالت کې به ستا دماغ معطر شي، اوبهتې والا سره به
ي جامي اوسوزی ورنه دبدبوئ نه خو نشي بچ کیدي خامخا به درته رارسی «متفق
لیه»، دغه رنګې داهل الله دصحبت هم اثرات وی دوئ سره ناسته کې الله تعالی
ان ته یادیږی . لکه چه یو سالك فرمایی:

خاصیان خدا ، خدا نباشد
ولیکن از خدا جدا نه باشد

اویوه مشهوره مقوله ده : «هرچه درکان نمك رفت نمك شد .

صحابه کرامو حضراتو ته دومره لویه درجه درسول الله صلی الله علیه وسلم
صحبت نتیجه وه چه یو قطب، ولی اوغوث هم دیو وړې مرتبې صحابی ته نشي
سیدلې . دوئ دنور نبوت نه بلا واسطه مستفید شوی وو.

۱ـ مواخات فی الله : که یوتن ته مرشد کامل یا عالم بالفرض پیدا نشي
اپه علماء کرامو لیکلی دی چه پیر کامل نیول ډیر ضروری دی ، او علی الدقائق
حمة الله علیه فرمای لکه څنګه چه دتناسل صوری لپاره والدینو ته ضرورت دې
مدارنګه دتناسل معنوی لپاره دتربیت کوونکی څخه هم لابدی وی ددې خبر تفصیل
ې په «الرسالة الحقانیة» کې ذکر کړې دې هلته یې بیا وګوره» نو بیا دې یودوست
ره درور ولی ونیسی اوهغه ته دې ووایی چه زه بد کوم نوته ما منع کوه که ته بد کوې
زه به دې منع کوم، پدې طریقه نږدې ده چه دغه انسان به دبدیو څخه منع شی ،
ریعت په اصطلاح کې دیته مواخاة فی الله وایی ، او دا کسان به دقیامت په ورځ
عرش دسیوری لاندې وی ، په حدیث مبارك کې راځی چه کوم دوه دوستان چه دالله
الی دپاره دوستی کوی او په دوئ کې یو وفات شي او مقبول عندالله شی نودې به
عاء کوی چه یا الله ځما دا بل دوست هم دې مقام ته راولې ،دوست نه مراد هغه
رست دې چه کوم ستا په سخته او نرمه دواړو کې پکار راځی ، صرف دمطلب او
دسترخوان دوست ندې مراد .

۲ـ ددشمن په ذریعه اصلاح کول : که څوك وایی چه زما خو دوست هم نشته نو
یادې هغه ددشمن په ذریعه پدې طریقې سره خپله اصلاح وکړی چه هغه ستا کوم
عیوب راوباسی ته دهغې نه ځان ساته چونکه هغه ستا دُشمن دې لهٰذا هغه به خامخا

بیشکه کامیاب شو هغه څوک چه خپل نفس یې پاك کړو» ، او چا چه داوو صفات ذمیمه وونه ځان پاك نکړو هغه له جهنم نه په امن نه شو ، الله تعالی فرمایي : «وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا» اوبیشکه ذلیل اوتاوانی شو هغه څوك چه نفس یې خیرن او په ګناهونو ګنده کړو .

**نکته** : حسد تمنا دزوال دنعمت ته وایي له محسود نه ، حقد عداوة فی القلب ته وایي چه انتظار کوی فرصت دضرر رسولو محقود ته ، (لغت) ، په طبعیت دهر زنده سره ژوندی کیږی دوه صفته محکم دی په زندګی کي له دي دوه صفتونو نه خلاصي نشته ، چه هغه یو شهوت دي او بل غضب ، په صفت دشهوت سره جذب دمنافعو ځان ته کوی او په صفت دغضب سره دفع داضرارو له ځان څخه کوی ، که دداړو صفاتو په استعمال کي توازن وی نو قابل دذم ندی لیکن چه افراط او تفریط پکي راشی نو قابل دذم شی چه استعمال دشهوت په طلب دخپلو مفادو او دحوائجو خپلو کي له توازن نه زیات کړی نو حرص ترینه پیداشی ، او چه استعمال دغضب په دفع داضرارو خپلو کي له خپل مناسب قدر او وزن نه زیات شی نو حقد ترینه پیدا کیږی او کچیري یو انسان سره یوشي دفائدي وی اوبل هغه شی ته محتاج وی او ده ته یې نه ورکوی نو دینه حسد پیداشی او چه ده سره پخپله یو شوی وی اوبل یې ترینه وغواړی اودي یې ترینه منع کړی نو دیته بُخل ویلي شی او چه ده سره نعمتونه وی او ډیر خلق هغي ته محتاج وی اوخلق ده ته تواضع اوعاجزی کوی چه مقاصد پوره کړی او دي خلقوته په نظر دحقارت سره ګوری او ځانته نظر دعزت کوی دیته کبر اوعجب ویلی شی او چه دبل شخص ډیرمالونه وی اوده ته یې په اضافه ورکوی دیته حرص وایي که په زور جبر کولویي باعث کړی نو دي یې په طاقت اوقوت ترینه واخلی هغه نعمتونه نو دیته ظلم اوتعدی وایي دغه شان اخلاق ذمیمه دیوبل څخه پیدا کیږی ترڅو پوري چه قلع دمادي ددي صفاتو نوی شوی او دا کیږی په تزکیه دنفس په قانون د شریعت حقه اسلامی اوپه استقامت سره په طریقي حقی داسلام باندي ، اوهمدارنګه علماء دتصوف رحمهم الله ووایي چه نفس لره اوه (۷) مرتبي دی .

ستا نقائضو د لټولو کوشش کوی ته هغه نقائض او عیوب دځان نه ختم کړه پدې
طریقه به ستا اصلاح وشی.

۴_ دنفس محاسبه : که یوتن ته مرشد نه پیدا کیږی او نه یې دوست وی او نه یې
دُشمن موجود وی نو بیادې دغه شخص دخپل ځان اصلاح پدې طریقې سره وکړی چې
روزانه دې داُوده کیدو نه مخکې څو ملتیه (دقیقې) مراقبه کوی چه ما نن څومره
ګناهونه کړیدی او څومره نیکی مې کړیدی ، نو چه کومې نیکیانې یې کړی وی په
هغې دې شکر وباسی اوچه کوم ګناهونه یې کړی وی په هغې دې دمغفرت طلب وکړی
په دې طریقې به دده دنفس اصلاح وشی ، که پدې څلورو وارو کې یو هم میسّر شی نو
دنجات دپاره کافی کیږی اوکه دا ټول موجود شی نوبیا خو ډیره بهتره ((نورعلی نور)) دی.

علامه عمر بن احمد رحمه الله ویلی دی چه دبعضې عارفینو رحمهم الله څخه
منقول دی چه الله تعالی اول روح پیدا کړو بیا یې جوسه پیدا کړه ، روح مذکر دې او
جوسه مؤنثه ده ، روح ته من جانب الله امر وشو دزوجیّت له جوسې سره نو دروح او
جوسی ازدواج وشو ، ددوارو دازدواج نه دوه ولده پیدا شول ، یو مذکر ((نر)) او بل
اُنثی ((ښځه)) ذکر یعنی قلب ((زړه)) چه دا موضع اومرکز دایمان دې او دې تابع دروح
وګرځیده پس دا امر بالخیر کوی، اوبل ولد اُنثی پیدا شو ، چه هغه نفس دې چه محل
دفساد دې اودې تابع دشیطان اوجوسی وګرځیده ، پس نفس امر بالشر کوی، په
بعضی روایتونو کې راغلی دی چه الله تعالی کله نفس پیدا کړو نو ((اَقْبِلِی)) فرمان یې
ورته وکړو ده ادبار وکړو، چه ((اَدْبِرِیْ)) امر یې ورته وکړو نو اقبال یې وکړو نو نفس
هغه رویه اختیار کړه چه له عقل نه خلاف ده (( دآدم علیه السلام روح اوجوسه یوځای
شول دا حالات پیدا شول)).

اوه دروازې دجهنم دي په نفس کې دهرې دروازې دجهنّم مناسب صفت موجود دی
، هغه اوه صفته دادی : ۱_ کبر، ۲_ حرص، ۳_ شهوت، ۴_ حسد ، ۵_ غضب، ۶_بُخل،
۷_ حقد ، چاچه خپل نفس لدې اوو صفات ذمیمه وو نه پاک کړو نو دجهنّم نه به په
امان شی اوجنت ته به اورسیږی ،الله تعالی فرمایی : ((قَدْ اَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا)) ، ((یعنې

۱ـ اول نفس امّاره بالسّوء: دي او داهغه دي چه ميلان طبعيت بدني ته کوي او امر کوي په لذت دخوندونو دجسيه او دظاهري شهوتونو حسّيه او زړه راکاږي لانديني جهت ته پس د نفس اماره بالسوء مرجع دشرورو او منبع د بدو اخلاقو دي ځکه چه دي مبدء دکبر او حرص اوشهوت او دحسد او غضب او بُخل اوکينې (يعني عداوة قلبی) دي دنفس دکفاور او شياطينو او دفاسقانو دي.

۲ـ اودويم نفس لوّامه (ملامت کوونکې) دي او دا هغه دي چه په نور دزړه نوراني شويدي پس کله تابعداري دعاقله کوي او بل کرت نافرماني دعاقلې ځينې وکړي بيا پښيماني وکړي پس ملامته کوي نفس خپل او دا مانع دندامت دي ځکه چه دا مبدء دهوس او خوبيدو او حرص ده دا نفس دغير فاسقينُ دي له مؤمنانو نه.

۳ـ دريم نفس مُطمَئِنّه دي دا هغه دي چه نوراني شوې دي په نور دزړه سره تر دې چه خالي شوې دي له صفاتو ذميمه ، نه او خُلق حاصلوونکې دې په اخلاقو حميدهٔ سره دا نفس دمتعلمينو عاملينودي.

۴ـ څلورم نفس مُلهَمَه دي دا هغه دي چه ده ته الهام الله تعالی کړيدې د علم، تواضع، قناعت اوسخاوت. پس لدې وجهې نه دا نفس منبع دصبر دتحمّم او شکر ده دا نفس دمعلمينو عاملينودي .

۵ـ پنځم نفس رَاضِيَة: دي او دا هغه ذي چه الله تعالی له دي نفس څخه راضي دې او ظاهريږي په ده کې اثر درضاء دالله تعالی او هغه کرامت او شرافت داخلاص او ذکر دې، دا نفس داولياء کرامو رحمهم الله دي.

۶ـ شپږم نفس مَرْضِيَه ((غوره)) دي : او دا هغه دي چه راضي وی الله تعالی نه لکه چه الله تعالی فرمايي : ((وَرَضُوْ عَنْهُ)) اودوئ راضي دی دالله تعالی عنه ، اوپه ده کې کَرامتِ اينبودي شويدې او پيژندلې کيږي په ده سره الله تعالی په شان لائقه دده په حسب دطاقت بشري سره، دا نفس دعارفينو دي.

۷ـ اووم نفس صَالِحه دي : او دا هغه دي چه مقام د اسرارو دي په مابين دده او دالله تعالی کې دا نفس دانبياؤ او مرسلينو عليه الصلوة والسلام دي.

اوس به آفاتو دپرهيزگاری ته اشاره وکړو چه دغه آفاتو څخه ځان وژغورل شي،

ځکه چه تقوی دمنکراتو نه خصوصاً دمنکر عضوی ځخه اجتناب ته وایی دغه اعضاء آفات په وجود دانسان کې اته (۸) دی : ۱ـ آفات قلب یعني دزړه آفات ، ۲ـ آفات لسان یعني دژبې آفات، ، ۳ـ دغوږونو آفات، ۴ـ دسترگو آفات ، ۵ـ دلاس آفات، ۶ـ دبطن ((گیډې)) آفات، ۷ ـ دفرج آفات . ۸ـ دخپو آفات.

پس آفات دقلب ((زړه)) بدعت. جهل ، تقلیدغیرشرعی، اصرار په گناه، ریاء ، کبر، تذلل، عجب، حسد ، بخل، اِسراف، کفران نعمت، غصه، شکایت، اوجزع فزع، اوزجر یا زړه تنگی، اوجرأت په برابری دالله تعالی کې ، او نا اُمیدی، او یأس او اتکاء په اهل فسق باندې اوتعلیق چه ضد دتوکل دې او حب جاه او نفاق او خوف په حق ویلو کې، اوپیروی دخواهشاتو او د أمل (اُمید) اوحقد او شماتت اوهجر مسلم ((یعني مسلمان سره تعلق پریښودل) اوغدراوخیانت. اوخلاف وعده او بدگمانی اوحب مال اوحب دُدنیا او حرص او سفه ضد رُشد . اوبیړه (یعنې عجله اوچالاکی په کارونو او اُمورو کې) او تسویف ضد دمبادرت دې اوغلظت قلب او وقاحت ((یعنې بی شرمی اوگستاخی)) او تأسف او بُزدلی او غش او فتنه او مداهنه یعنی خدعه او چاپلوسی. او تندی او سخت گیری او عناد یعنی اظهار دلوی والی، اوتمرد یعنی نصیحت نه قبلول ، عدم اطاعت دامر په امورو شرعیو کې او صلف خپله تزکیه نفس ځرگندول په دروغو سره . او جربزه یعنی په خپله هوښیارتیا غولیدل او غباوت یعنې چه یوه ملکه وی چه حجاب وی په ادراك دخیر اوشرکې او شر اوفجور او شهوت وغیره دی.

او آفات دژبې : کلمه دکفر ویل ((العیاذبالله)) او خطاء په قول کې او دروغ او تعریض بالکنایة اوغیبت اونمیمه چغلخوری او سخریه (ټوکې)) اولعنت ویل او سب کنځل کول او فحش یعنی امور قبیحه باندې تصریح کول او طعن او ناحیه ((یعنې چه ښځه دمیړه (خاوند) په مرگ ژاړی)) اوجدال اوخصومت په کلام کې وی اوسندرې (غناء) او د راز افشاء کول او خرابی خبرې بغیرله کوم غرض نه کول، او سؤال، اوخطأ په تعبیر کې اونفاق قولی او شفاعت په اُمورو دسزاء کې اوپه ناجائزه اُمورو کې اودښه کار څخه بندول. او سختی په خبرو کې او تجسس دعیوبو او پیش کلامی په

استاد او مشير کې مخکې ، او دخطبې په مينځ کې خبرې کول. او دنيوي خبرې او خبرې په وخت دتلاوت دقرآن مجيد کې او خراب لقب ويل او ددروغو قسم اومطالبه د امارت اوقضاوت اوطلب وصيت او تمنا دمرگ اومعذرت غوښتل دمطالبه شرعي سره او تفسير دقرآن په رأيه سره او تخوف دمسلمان او قطع کلامی دبل چا اومنفي جواب ، اوخبرې «دښځې» دغير محرم سره او مزاح ، اومدح مخامخ اوپه تکلف سره سجع اوفصاحت کول او زياتي خبرې کول

او آفات دسترگو دادي : دنورو عيبونه ليدل لکه عورت وغيره او استخفاف دفقراؤ اومساکينو او مشاهده دمنکراتو لکه پردی کور ته کتل او سورې کول او کشف دشروغيره

او آفات دلاس دادي : ضرر رسول غير ته په جرحی اوقتل سره او پردی مال نيول او حرام مال نيول او تصوير ايستل او مسحه کول دحرام او مکروه او اهلاک دمال او ورکول په رياء سره دمال ، او لهو اولعب ملاعبه او کبوتر بازی چه حيوانات سره جنگوی او کتابت په حال دجنابت کې او دحيض او نفاس په حالت کې دمصحف اوتفسير او ديني کتابونو را اخستل ، او غصب اوتخويف «يعني بل څوك ويرول» په سلاح سره او دحريم څخه چاپيره مزې کاتول.

او آفات دبطن «گيډې» دادي : حرام خوړل اوڅښل اوپه محفل دگمراهی کې خوړل اوترك دتسميه «بسم الله نه ويل په وخت دخوراك کې» او په چپ «کيڼ» لاس خوړل يا ضررناك شي خوړل وغيره.

او آفات دفرج دادي : زنا کول، لواطت کول اوهمدارنگه دحيوان اوحائضې او نفاسې سره جماع کول او استمناء باليد کول، او بول اوغائط او استنجاء مخامخ قبلې ته کول او يا په همدې حالاتو کې شاکول قبلې ته ، او يا محترم شی ته مخامخ کيناستل لکه لمر ، سپوږمۍ يا په غسل خانه اومنځ دلارې وغيره کې کيناستل

او آفات دخپو دادي چه تلل مجلس دمعصيت «گناه» ته او تېښتېدل دطاعون اوبلاء نه په خپله منطقه کې او تلل په ملك دغير کې بغير داجازت نه او جماعت «مسجد» ته په حالت دجنابت اوحيض او نفاس کې داخليدل اونگاه او بيگانه کور ته داخليدل.

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

دلمونځ کوونکې مخکې تیریدل او دمشروغیره دتکریم او احترام لپاره نه تلل.
اوآفات دبدن دادی : رقص کول اوریشمنی (ریښمنې) جامې بغیر دجهاد نه اغوستل او رنګ دزعفران وغیره دسړیو لپاره مکروه دې او دزینت لباس چه مشابه وی دښځو سره او برعکس یا اسراف پکې موجود وی اولاس ښکلول غیر دعلماؤ اوعادل سلطان (بادشاه) نه . دحرام یا مکروه شی څښل یا دخپلې ښځې حقوق نه پوره کول یا خلوت داجنبیه سره یا انحاء یا ضرر رسول غیرته یا سحر یا ترک دمانځه قصداً اوپه مانځه کې صفونه نه برابرول یا رجوع په هبه کې دموسیقی آلاتو ساتل وغیره آفات دبدن دی.
مقررین حضرات مسؤولیت لری چه ددې نه په استفادې سره پدې مقام کې څه ناڅه تفصیل وکړی.
پس هرکله چه انسان خپل ځان اصلاح کړی نوعالم کې به اصلاح راشی ځکه چه عالم په څلور قسمه دې اودهریوه نمونه الله تعالی دانسان په وجود کې پیدا کړیده لکه دنباتاتو علامه دانسان په وجود کې ویښته دی لکه ونې بوټی چه په ځینې ځایونو کې د ریننګی وی اوپه ځینې ځایونو کې بالکل نوی . همدا رنګه ویخته په ځینې بدن کې ګڼ وی لکه سر وغیره او په ځینې ځایونو کې ریننګی وی لکه په باقی وجودکې او په ځینې ځایونو کې بالکل نوی لکه دلاسونو خپو ورغوی اوتلې ، او همدارنګه دمائعاتو نمونه چه اوبه وغیره دی . ځینې ګرم او ځینې یخ ځینې ترخی نورشی.او همدارنګه انسانی خولی ترشې یخې وی او لاړې یې خوږې دی او متیازې یې ګرمې دی . اوهمدارنګه دجماداتو نمونه د انسان په وجود کې هډوکی دی لکه تیګې ځینې ورې او ځینې غټې او ځینې ګردې اوځینې اوږدې . همدارنګه په بدن کې هډوکی هم دی او حیواناتو څخه په خپله دی ، او همدارنګه مخ یې دآسمان دځائست سره مشابه دی هغه کې ستوری او سپوږمۍ لمر سترګه دی، همدارنګه دوجود مخ کې سترګې پوزه غوږونه خوله وغیره عجیب ترتیب سره جوړ دی. اوهمدارنګه دځمکې نمونه په خپو کې څرګندیږی لکه چه ځمکه همواره . جګه،ټیټه ده په مینځ کې یې لارې دی دغرونو په منځ کې ، همدارنګه دخپوتله همواره او دګوتو منځ کې لارې

جگي، تیتي دی نو چه کله انسان دالله تعالی نافرمانی کوی دهمدې اثر په وجه
دلاندې آیت نه څرګندیږی : ((ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ))
یعنی الله تعالی فرمایی چه: په وچه او لنده کې فساد ظاهر شولو دعملونو دخلکو
نو هرکله چه انسان اصلاح شی نو عالم کې داصلاح علامات څرګندشی.

خلاصه دا چه دعالم اصلاح په اِنسان پورې موقوف شوه خو د انسان اصلاح په
قلب پورې موقوف ده لکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی : ((أَلاَ وَإِنَّ فِي
الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلاَ وَهِيَ
الْقَلْبُ)) ، (متفق علیه) ، **ترجمه** : خبردار بیشکه ((دانسان) په بدن کې یو ټکړه ده چه
هرکله هغه صحیح کیږی نو ټول بدن صحیح کیږی اوچه هرکله هغه خرابیږی نو ټول
بدن خرابیږی خبردار هغه تکړه زړه دې.

خلاصه داچه: که انسان متّقی شی ټول عالم به یې تابعدار وی لکه ابراهیم ابن
ادهم رحمه الله چه بادشاهی پریښوده دملنګی کچکول یی په غاړه کړو ددریاب په
غاړه ناست وو دوزیرانو یو وفد ورغلو او ورته یی وویل : ای ابن ادهمه (رحمه الله)
ولی دې ځان ددومره مشکل سره مخامخ کړې ، هغه یوه ستن دخپلو جامو څخه را وا
ویستله دریاب ته یی وغورځوله بیا یی ماهیانو ته امر وکړو چه دګنډلو ستن ما ته
راکړئ هغه ماهی په خوله کې نیولې وه وریی کړه نو ده (رحمه الله) وزیرانو ته وویل چه
زه په کامله توګه الله تعالی ته تسلیم شوم نو ټول شیان ماته مسخر شول دا ښه دی که
یوائی په یو ملك خلکو زما بادشاهی ښه وه؟ . ((الله تعالی دې مونږ هم کامل متقیان
جوړ کړی ، آمین ثم آمین)).

★★★★★★★★
★★★★★★★
★★★★★★
★★★★★
★★★★

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# خدایی مرسته دبدر غزا

محترمو مسلمانانو : بدر غزا په ټولو کې لویه غزا وه چه داسلام او کفر دلښکرو مخامخ ځرګنده لومړنۍ معرکه وه او بدر دیوکلی نوم دې په مکې معظمې او مدینې منورې کې دا غزا دبدر کلی سره نژدې واقع شویده، دی غزاء ته غزوة بدر الکبری هم وایی . ددوهم هجری کال درمضان دمیاشتی واقعه ده، ډیر نازك حالات وو داسلامی نهضت په منځ کې ډیر زیات خنډونه وو قریشو خپل ټول طاقت، دسیسې، او توطیی داسلام دخپریدو پر ضد په کار اچولې وې خو همدا یو دښمن نه وو، هلته په مدینه منوره کې یهودو او منافقانو کشمکش جوړ کړې وو ، سیاسی مشکلات یوې خواته او اقتصادی ستونزې بلې خواته مدینه منوره یو وړوکې چاپیریال وو خودمهاجرو بهیر دسیلاب په شان روان وو پدغسې حالاتو کې دابو سفیان دتجارتی کاروان د وهمی چیغې چه دمسلمانانو له ویرې یې په مکه کې ګډه کړې وه دقریشو دکافرانو لپاره پلمه شوه چه دجنګ تیارې ونیسی او پر مدینې منورې دیرغل اراده وکړی دزروتنو جنګالیانو په شاخواکې مجهز لښکر یې تیار کړ، په ګرمو احساساتو پداسې توګه روان شول چه ځای پځای یی اوښان حلالول ، کبابونه یی خوړل. شرابونه یی پرې څښل او د ساعت تیریو او فحاشی محفلونه یې تودول «ګرمول» لکه چه همیشه دکفر دلښکرو همدغه عادت او رسم او رواج وو، کاروان اګر که خپله لاره بدله کړې وه څه خطر ورته هم نه وو خو دمشرکانو لښکر دابوجهل په قومانده تر بدرنومی ځای پورې چه دمدینې منورې نه په اتیا میله فاصله کې واقع وو دمخ په وړاندې تلو تکل وکړو، رسو الله صلی الله علیه وسلم چه ددغې ماجرا څخه خبرشو، دحالاتو او شرائطو دنزاکت په نظر کې نیولو سره یې له جنګ کولو پرته بله لاره دکار چاره ونه لیدله نو ټول یی را جمع کړل دحالاتو نقشه یی ورته په مخکې کینښودل، وې فرمایل چه دشمال خواته کاروان دجنوب خواته دقریشو لښکر دې ووایئ کومې خواته تلل پکاردی؟ یوې ډلې وویل دکاروان خواته . خو دهغه صلی الله علیه وسلم په نظر کې

نور څه وو بيا يې خپله پوښتنه تکرار کړه.
حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر فاروق رضي الله تعالى عنهما وار په وار
پاڅيدل داحساس پارونکو تقريرونو په ترڅ کې يې قرباني ته خپله امادگي ښکاره
کړه ، بيا مقداد بن عمرو رضي الله تعالى عنه را پاڅيده دخپلې وينا په ترڅ کې يې
وويل : اى دالله تعالى رسوله ! ستا رب چه هرې خواته تاته دتلو امر کړيدې همغې
خواته لاړشه مونږ در سره يو ، مونږ دبني اسرائيلو په شان نه يو چه ووايو ((ته او ستا
رب دې لاړشي او ودې جنگيږي اومونږ به دلته ناست يو)) مونږ داسې نه وايو مونږ دا
وايو چه : ترڅو پورې چه زمونږ يوه سترگه هم په رپيدو وى مونږ به درسره ملگري يو
او جنگيږو به . نبي اکرم صلى الله عليه وسلم دحضرت مقداد رضي الله تعالى عنه
دوينا ستاينه وکړه او دخير دعاء يې ورته وکړه، بيا يې اوفرمايل چه : اى خلکو تاسې
خوهم څه اووايئ ! انصار پوه شول چه دهغه صلى الله عليه وسلم اشاره مونږ ته ده نو
حضرت سعدبن معاذ رضي الله تعالى عنه چه دمدينې منورې له معززو خلکو څخه وو
را پاڅيده عرض يې وکړو ښايي چه اشاره زمونږ خواته وى نبي اکرم صلى الله عليه
وسلم اوفرمايل : هو . حضرت سعد رضي الله تعالى عنه اوفرمايل . زه پدې وخت کې
دټولو انصارو په نمايندگي غږيږم ، اى دالله تعالى رسوله ! مونږ په تا باندې ايمان
راوړې دې اومونږ پدې کې ريښتوني يو ، مونږ ددې خبرې شاهدى ويلى ده چه ستا
خبرې حقې دى مونږ ستا داطاعت تعهد هم کړيدې چه څه غواړې هغسې وکړه مونږ
ستا ملگري يو ، په الله تعالى قسم که ته مونږ سمندرته وغورځوې مونږ به سر ونه
غړوو له مونږ نه هيڅوک بيرته پاتې کيدونکې نشته مونږ به په جنگ کې خپله ثابت
قدمي وښيو هيڅ فکر مکوه که له چا سره صلح کوې صلح ورسره وکړه اوکه جنگ
کوې جنگ ور سره وکړه زمونږ دشمني هم ستا دقدمونو لاندې ده . شايد چه زمونږ له
خوا الله تعالى تاته هغه څه دروښايي چه ستا سترگې ورباندې يخې شي اوس ته څه
دالله تعالى په دتوفيق په هيله مونږ درسره بوځه له دغو خبرونه وروسته نبي اکرم صلى
الله عليه وسلم اوفرمايل : ځئ دالله تعالى په نامه وخوزيږئ .
**نکته** . لدې څخه دشورى اهميت او دنورو لپاره هدايت معلوم شو چه پخپل منځي

شوري سره دمشترکو چارو تنظیم او پرمخ بیول په قرآن مجید کې هم دمؤمنانو له
ډېرو غوره صفتونو څخه یوصفت ښودلې شویدې، لکه چه په سورت شورٰی کې دی
«وأمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ» «سورة شورٰی» ، یعنې خپلې چارې په خپل منځی شورٰی سره
پرمخ بیایی، او بل ځای کې ارشاد مبارك دی : «وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ» «آل عمران» .
یعنې مشوره ورسره وکړه. یعنې الله تعالی دمشورې کولو امر کړیدې ، او په صفوة
التفاسیر کې یې دبعضې علماؤ څخه نقل کړیدی چه الله تعالی دآدم علیه السلام
پیدایښت اوخلافت واقعه دملائکو په مخکې ددې لپاره وه چه خلك خپل أمور په
شورې سره سرته ورسوی، یعنې تعلیم للعباد وه ، اونبی اکرم صلی الله علیه وسلم
هم عملاً اوقولاً ددې اهمیّت ته خلك متوجه کړیدی پدې اساس شورٰی داسلامی
ژوندانه یوه مهمه ستن ده او له مشورې پرته دټولنیزو چارو سرته رسول نه یوازې دا
چه دجاهلیت کړنلاره ده بلکه دالله تعالی له ټاکلی قانون څخه ځرګنده سرغړونه ده .

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره له خپلو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم
اجمعین روان شو په لاره کې یې دلښکر تابیه وکړه «یعنې په لښکر پسې شول»
دمهاجرینو بیرغ یې حضرت مصعب بن عمیر رضی الله تعالی عنه ته او په انصارو کې
یې دخزرج قبیلې بیرغ حضرت حباب بن منذر رضی الله تعالی عنه ته او د اوس
قبیلې بیرغ یې حضرت سعد بن معاذ رضی الله تعالی عنه ته ورکړو ، دمهاجرینو او
انصارو ټولو غازیانو شمیر درې سوه او دیارلس «۳۱۳» تنه وو. او دمهاجرینو تعداد
۸۳ تنه وو، او دوه سوه څلویښت «۲۴۰» څه دپاسه انصار وو، چه دمدینې
منورې باشندګان وو، یعنې په جنګ بدر کې حاضرېدونکی صحابه کرام دطالوت
دلښکرسره په تعداد کې برابر وو. دجنګ مهمات او د سورلۍ «مرکب» وسائل ورسره
ډېر ناکافی وو، له دوئ سره څه کم او له دښمن سره ډېر وو. مګر له دوئ سره یوشې
ډېر زیات اوله دښمن سره هیڅ نه وو چه هغه په الله تعالی باندې پوخ ایمان او توکل
وو، تقوی وه او خلوص وو. دالله تعالی ذکر وو، قدم په قدم الله تعالی ته رجوع او
زارۍ اوتضرع وه . دې خواته دا او هغه بلې خواته شراب وو، مستی وه ، غرور وو.

دمسلمانانو لښکر بدرته ورسیده جنګ
بکبرو و . لوئ لښکر او ډیرې وسلې وې، سرپوښ کړې شول صرف
تاکتیکونه و نیول شول ، داوبو ډوري ځاګانې (کوهیان)،
ځا «کوهی» دلښکر د استفادې لپاره چه خورا زیاتی اوبه یې لرلې پریښودل شو
دخمکې دشګلورې له امله اندیښنه وه خو الله تعالی درحمت باران نازل کړو چه
دمسلمانانو لپاره رحمت او دکفارو لپاره دچکړو (ختو) په جوړولو دعذاب باعث شو
رسول الله صلی الله علیه وسلم دجنګ میدان ته لاړو . هلته یې خپلو صحابه کرامو
رضی الله تعالی عنهم اجمعین ته یوه خطبه واوروله . دهغې په ترځ کې یې له حمد او
ثناء نه وروسته وفرمایل اوس تاسې دحق منزل ته راغلی یاستئ دلته هغه کار مقبول
ګرځی چه صرف دالله تعالی په خاطر وشی له صبر نه کار واخلئ ځکه چه دا دجنګ
موقع ده دجنګ په وخت کې په صبر سره ډاډینه او سکون حاصلیږی اندیښنه
اوناکراری لرې کیږی په اخوت کې هم هدغه دنجات وسیله ده پدې ځای کې دایتار
او سربښندنې ثبوت ورکړئ دالله تعالی رحمت به دربانډې خورشی او دهغه رحمت به
دربانډې سورې وکړی دهغه خبره بیخی رښتیا ده دهغه مؤاخذه هم ډیره سخته ده موږ
او تاسې دهمغه په روح ژوندی یو . هغه به تل ترتله وی او دې . ټوله دنیا دهغه په امر
برقراره ده همغه زموږ سره دې پر هغه بانډې متمسك یو پر هغه بانډې زموږ توکل
دې همغه دپناه ځای دې الله تعالی دې ماته او تاسو ته مغفرت وکړی

دبدر په میدان کې چه دالله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم کومه دعاء کړې وه
دهغې لنډیز دادې چه : په ډیر خضوع او عاجزی سره یې خپل دواړه لاسونه مبارك
پورته کړل او وې فرمایل :

یا الله دا دقریشو لښکردې په ډیر غرور راغلې دې چه لتا سره وجنګیږی دوی
ستا ددین دښمنی ته ملاتړلې ده . دوئ ستا درسول دناکامولو لپاره راغلی دی او
اودیخواته یو موټې مسلمانان دی که دوئ ووژل شی بیابه ستا بندګی څوك وکړی؟ یا
الله زموږ مرسته وکړه له موږ سره خپله وعده پوره کړه . هو ! همدا دمسلمانانو
دلارې اسره ده . کله چه درمضان په اوولسمه (۱۷) نیټه دبدر جنګ پیل شو هلته
دقوی او مقتدر رب په خاصه مرسته مسلمانانو ته برې په برخه شو او دکفارو هغه

لښکر چه ښمنېر یې زرو ته نه رسېده و دری سوه او څو تنو مسلمانانو لخوا تار
شول، دابوجهل په شمول دقریشو اویا ۷۰ تنه ناسو کسان و وژل شول، نه
بندیان شول، او له مسلمانانو نه څوارلس ۱۴ تنه شهیدان شول، شپږ
مهاجرین او اته تنه انصار. لکه چه الله تعالی ددې دغزا په حقله فرمایي ((ولقد
نصرکم الله ببدر وانتم اذلة فاتقوا الله لعلکم تشکرون)) او په تحقیق امداد درکړی و
الله تعالی په بدر کې په داسې حال کې چه تاسو په شمېر او په وسلو کې کم او
کمزوري وئ. پس دالله تعالی څخه وډار شئ چه تاسو دالله تعالی دنعمتونو
شکر اداء کړئ.
یعنې که جنګ په وسله او دشمېر په زیاتوالي کېدلای نو په بدر غزا کې دکفارو
او مسلمانانو مقابل څنګه و... څو حقیقت دادی چه بری دالله تعالی په نصرت
پورې تړلی او دالله تعالی نصرت له هغه چا سره ملګرتیا کوي چه هغه دالله تعالی
لپاره جنګېږي ددین دغلبې لپاره، دالله تعالی دحکم دحاکمیت لپاره جنګېږي نه
دشخصي اغراضو لپاره، نه دپیسو او مادیاتو لپاره، نه دمقصد او نه دشهرت لپاره.
په حدیث شریف کې دي چه حضرت معوذ رضي الله تعالی عنه او حضرت معاذ
رضي الله تعالی عنه په بدر کې یو تن نه کوله چه ابوجهل کوم شخص دی؟ موږ
اورېدلي دي چه هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کنځل (بدې) کوي. قسم په الله
تعالی دی که موږ ولیده نو هرګز به ترې جدا نشو ترڅو چه دځان اجل را ورسېږي
او وفات شي. حضرت معوذ رضي الله تعالی عنه او حضرت معاذ رضي الله تعالی
عنه دواړه ابوجهل پسې ورغلل. دواړو ترې دتورو ګذارونه وکړل او ابوجهل یې
راوغورځولو. دواړه په خوشحالۍ وا پس شول. رسول کریم صلی الله علیه وسلم ته یې
ووئیل چه دابوجهل دې موږ قتل کړی دی. هریو وویل چه ما وژلی دی. رسول
الله صلی الله علیه وسلم ورته او فرمایل: تاسو دواړو وژلی دی او په خپل رواتو
کې دي چه ابوجهل قریب الموت و چه عبدالله بن مسعود رضي الله تعالی عنه ورغی
او ده یې وسیوړ او سر یې ترې پرېکړ نو دی هم په قتل د ابوجهل کې شریک شو.

دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دي چه دبدر په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل . دابو جهل دحال خبر به ما ته څوك راوړی ، دي اوريدو سره حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه لاړلو او وي ليدل چه دعفراء ځامنو ابوجهل په وهلو وهلو بې دمه کړیدي هغه ابو جهل دږيرې نه ونيولو . او ورته يې وويل آيا هغه ابوجهل ته يې ، هغه جواب ورکړو ځمانه لوئ سړې څوك کيدې شی چه هغه دهغه قوم يا تاسو خلکو هلاك کړلو ، يعني دبرادرئ خلکو قتل کړلو . ګويا دا څه بده خبره نده .

**نکته** : دجهاد موضوع مو مخکې چيړلې ده اوس به دشهادت موضوع ته يوه لنډه کتنه وکړو . دټولونه لويه خبره داده چه څوك جنت ته داخل شی د واپسی ارمان نکوی البته شهيد به پدې ارمان کې وی . لکه چه روايت دې : «عَنْ أَنَسِ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا أَحَدٌ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا وَلَهُ مَا عَلَى الأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ إِلاَّ الشَّهِيدُ يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ لِمَا يَرَى مِنْ الْكَرَامَةِ» ، (رواه البخاری). **ترجمه** : «دحضرت انس رضی الله تعالی عنه څخه روايت دې چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی : هيڅ کس نشته چه جنت ته داخل شی چه آرزو وکړی چه دنيا ته واپس شی هرچه په مخ دځمکې دی سوی دشهيد نه چه آرزو به کوی چه وګرځيږی دنيا ته چه شهيد شی لس ځلې لدې وجهې نه چه هغه دشهادت درجات ليدلی دی» ، او ځينې علماء کرامو ليکلی دی : دا ځکه چه روح يې له وجود څخه جدا نوی جنت ته وګوری ، دلته ددنيا خباثت او هلته دجنت نعمتونه سره مقايسه کړی ځکه دغه آرزو کوی .

اوشهيدان په دري قسمه دی : ۱ـ شهيد ددنيا او آخرت ، چه په دنيا کې ورته دغسل او کفن ضرورت نشته او په آخرت کې ډيره اوچته درجه لری ، داهغه شهيد دي چه کفار يا باغيان يی قتل کړی اومراد دجهاد څخه اعلاء کلمة الله وی ، ۲ـ شهيد دآخرت بغير داحکامو ددنيا نه ، يعنې اجر او ثواب يی دشهداؤ دي ، البته غسل او کفن به ورکوی ، ۳ـ دنيوی شهيد بغير دآخرت نه : يعنې احکام دشهيد به پرې جاری

کېږي چه هغه غسل دي او عدم کفن دي، البته په آخرت کي به د ثواب او اوچتو درجونه محروم وي، دا هغه شهيد دي چه نيت يي دُنيا وي يا يي په غنيمت کي خيانت کړي وي يا يي کفارو ته سره د طاقت نه سنګر پريښي وي او د تيښتي په حالت کي ووژل شي. ((يا الله ټول مسلمانان د دغه قسم شهادت څخه وژغوري ، آمين ثم آمين)).

امام مالك رحمة الله عليه په موطأ خپله کي د حضرت جابر بن عتيك رضي الله تعالى عنه او هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کړيدي چه ((قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشُّهَدَاءُ سَبْعَةٌ سِوَى الْقَتْلِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ الْمَطْعُونُ شَهِيدٌ وَالْغَرِقُ شَهِيدٌ وَصَاحِبُ ذَاتِ الْجَنْبِ شَهِيدٌ وَالْمَبْطُونُ شَهِيدٌ وَالْحَرِيقُ شَهِيدٌ وَالَّذِي يَمُوتُ تَحْتَ الْهَدْمِ شَهِيدٌ وَالْمَرْأَةُ تَمُوتُ بِجُمْعٍ شَهِيدٌ (الجمع بمعنى المجموع وهو ان تموت المرأة وفي بطنها ولد)) يعنى شهيدان په اوه (۷) قسمه دي بغير د هغه شهيد نه چه د الله تعالى په لاره کي قتل شوي وي ، هغه چه په طاعون (وباء) مرض باندي مړشي دا شهيد دي، او هغه چه په اُوبو کي غرض شي هغه شهيد دي، او هغه چه په مرض احرار چه بيا تبه ترينه جوړه شي مړشي دا شهيد دي، او هغه چه د خيټي په مرض مړشي دا شهيد دي او هغه چه په اور وسوزي دا شهيد دي او هغه چه د ديوال لاندي مړشي دا شهيد دي او هغه ښځه چه د اولاد د پيدا کيدو په وجه مړه شي دا شهيده ده))، په بعضي رواياتو کي راغلي دي چه ((اَلْغَرِيبُ شَهِيدٌ)) يعني مسافر شهيد دي، د حضرت ابن عباس رضي الله تعالى عنه په روايت کي راغلي دي : ((اَلَّذِي يَفْتَرِسُهُ السَّبُعُ شَهِيدٌ)) ، يعني هغه چه درنده (ځناور) يي وخوري شهيد دي، او د حضرت ابن مسعود رضي الله تعالى عنه په روايت کي راغلي دي : ((وَمَنْ تَرَدَّى مِنَ الْجِبَالِ شَهِيدٌ)) يعني چه د غره څخه راپريوزي دا شهيد دي، د حضرت انس رضي الله تعالى عنه په روايت کي راغلي دي : ((مَنْ قَرَأَ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْحَشْرِ فَمَاتَ مِنْ لَيْلَةٍ مَاتَ شَهِيدٌ)) ، يعني هغه څوك چه د سورت حشر آخري دري آيتونه تلاوت کړي او بيا په همدي شپه مړشي دا شهيد دي، د حضرت ابو هريرة رضي الله تعالى عنه په حديث کي راغلي دي ((اِذَا جَاءَ الْمَوْتُ لِطَالِبِ الْعِلْمِ وَهُوَ عَلَى حَالِهِ مَاتَ شَهِيدًا)) او په هغه وخت کي چه طالب العلم ته مرګ راشي چه د علم په

طلب کې مصروف وی دا شهید دی، دحضرت امام دار قطنی په روایت کې دی «اَلْمَحْمُوْمُ شَهِیْدٌ» یعنی هغه څوك چه په تبه مړشی هغه شهید دی.
خلاصه دا چه: مختلف روایات راغلی دی، وجه دتطبیق یی داده چه دا عدد او تحدید نفی دماعدا نکوی، بلکه دا په خاص حالت کی دی، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په اعتبار دمقام اویا په اعتبار سوال دسوال کوونکو اویا په اعتبار دتجدد دعلم سره ویلی دی، یعنې هر حدیث دیوخاص حالت ښخه خبر ورکوی «وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِحَصْرِهَا». «الله تعالی دې مونږ دمجاهدینو او شهیدانو په ډله کې شمار کړی. آمین. ثم آمین یا رب العالمین»

# ممتاز شخصیتونه ((صحابه کرام))

«رضی الله تعالی عنهم اجمعین»

محترمو مسلمانانو: کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم آخری نبی او دهغوئ شریعت آخری شریعت جوړ کړې شو نو دیو داسې جماعت ضرورت محسوس کړې شو چه هغه دشریعت مطهّره دعلم اوعمل حفاظت وکړې شی او درسول الله صلی الله علیه وسلم دوفات نه وروسته ددې علمی اوعملی میراث او آسمانی امانت حامل او آمین وی الله پاك ددې دین دحفاظت دپاره ابتداءً دصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین جماعت (ډله) پیدا کړه، دا هغه مقدسه طبقه ده چه دوئ براه راست دنور نبوت نه فیض حاصل کړې وو، قرآن پاك هم مِنْ حیث الطبقه صرف دغه جماعت محترم اوپاك گرځولې دې، غرض اومقصد ددغې فضائلو اومناقبونه داوو چه دا حضرات دآینده نسلونو دپاره قابل اعتماد وی ځکه چه درسول الله صلی الله علیه وسلم دزندگی پیژندلو دپاره صرف دصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین زندگی نمونه کیدې شی، له دې وجهی نه عبد الله بن مسعود رضی الله تعالی عنه به فرمایل چه: څوك ددین لاره اختیارول غواړی نودوئ دې دهغه چا لاره اختیار کړی چه هغه

دنيا نه تيرشويدي ، دا خلك دحضرت محمد صلى الله عليه وسلم صحابه كرام «رضى الله تعالى عنهم» وو چه هغه ددې أمت افضل طبقه وه ، زړونه دهغوئ صفا وو ، علم دهغوئ ژور وو ، تكلف او تصنّع په هغوى كې كالعدم وه ، الله تعالى هغوئ سره دخپل نبي صلى الله عليه وسلم دصحبت دپاره خاص كړى وو ، ددې وجهې نه دهغوئ بزرگى اوپيژنئ دهغوئ په نقش قدم باندې ځئ اوحتى الوسع دهغوئ اخلاق او دهغوئ سيرتونه مضبوط ونيسئ ځكه چه هغه دهدايت په نيغه لار روان وو «مشكوٰة».

خلاصه داده چه : صحابه كرام رضى الله تعالى عنهم اجمعين دكمالات نبوت آيينه دار وو . دهغوئ تابعدارى أمت دهرې گمراهى نه بچ كولې شى ، ځكه چه هم دوئ داسلام دتعليم رښتونې نمونې وې ، دبشرى كوتاهيانو باوجود مجموعى حيثيت سره دانبياؤ عليهم السلام نه علاوه د افراد انسانى يو مجموعه هم دصحابه كرامو رضى الله تعالى عنهم اجمعين نه بهتر تاريخ نشى پيش كولې كه بالفرض والمحال صحابه كرام رضى الله تعالى عنهم اجمعين قابل اعتماد ثابت نشى نو ددين ټوله ودانچه به كمزورې شى او ددوئ دناقابل اعتماد كولو نتيجه به داشى چه ددين جرړې به كټ شى

په صحابه كرامو رضى الله تعالى عنهم اجمعين كې هر قسم خلك موجود وو ، تجارت پيشه ، تعليم يافته ، اوسرمايه دار ، او كاشتكار ، او مزدور او داعيان ، او مبلغين ، اومجاهدين ، دا ټول موجود وو ، مگر په دوئ كې قدر مشترك ، كمال تقوى ، كمال دين اوكمال اتباع سنت وه ، چه هغه دروح په شان ددوئ په افعالو او اعمالو كې گرځيدلې وه دهغوئ هره پيشه ددين اسلام موافق وه ، دغه وجه ده چه هر سړى ته دصحابه كرامو رضى الله تعالى عنهم اجمعين په زندگى كې هر قسم نمونه پيدا كيدې شى نو په مسلمانانو دا واجب دى چه دهغوئ په قدم باندې خپل قدم په هره پيشه كې كيږدى.

بعضې علماؤ ويلى دى چه صحابه كرام رضى الله تعالى عنهم اجمعين دڅلورو كسانو څخه ځان ساتلو : ۱_ امامت كولونه ، ۲_ وصى جوړيدلونه ، «يعنې دچا په وصيت كې دمال وغيره تقسيمولونه» ، ۳_ امانت ساتلو نه ، ۴_ او فتوى وركولو نه ، دغه ددوئ كمال تقوى او احتياط وو.

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

اوددوئ خصوصی مشغلې پنځه وې: ۱ـ دقرآن پاك تلاوت، ۲ـ دمسجدونو آبادول، ۳ـ دالله تعالی ذکر. ۴ـ دښو خبرو نصیحت کول، ۵ـ دبدو خبرونه منع کول الله تعالی دصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین متعلق فرمایلی دی: ((رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ))، یعنې الله تعالی ددوئ نه راضی دې او دوئ دالله تعالی نه راضی دی، مطلب دا چه الله تعالی ددوئ نه خپله رضامندی ښکاره کړیده حتی چه دا ((رضی الله عنه)) ددې اُمت مسلمه معمول جوړشو. اوبل ځای کې ارشاد دې چه: ((وَلَكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ أُولَئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ + فَضْلاً مِّنَ اللَّهِ وَنِعْمَةً وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ))، **ترجمه**: ((البته الله تعالی تاسې ته ایمان محبوب کړیدې او ښائسته کړیدې په زړونو ستاسو کې اوبد کړیدې تاسې ته کفر، فسق او عصیان، دغه کسان همدوئ هدایت مند دی. دا فضل دې له جانب دالله تعالی څخه او الله تعالی ښه پوه دې او حکمت والادې)). دغه آیت یولوئ سند دې ددوئ لپاره دحب ایمان او کراهت دکفر اوفسوق اوعصیان.

او الله تعالی دصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین په صدق او امانت هم شهادت ورکړیدې: ((رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً))، **ترجمه**: ((داهغه کسان دی چه کومه وعده دوئ دالله تعالی سره کړې وه هغه یې پوره کړه بعضو ځانونه قربانی کړل او بعضی نور په بیچنئ سره دځان قربانولو ته په انتظار دی اوددوئ په عزائمو کې د ذرې برابر هم تبدیلی نده راغلې، اوهمدارنګه بل ځای کې قرآن کریم ددې خبرې ګواهی ورکړیده چه دا خلق ریښتونی دی: ((أُوْلَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ)) یعنې دغه کسان ریښتنی دی، اوبل ځای کې ارشاد دې چه: ((أُوْلَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ))، یعنې همدغه خلك دالله تعالی دحدودو ساتونکی دی، یعنې محافظین لحدود الله دی.

**نکته**: علماؤ فرمایلی دی چه قطب، ولی، غوث وغیره یوهم د ادنی درجې صاحبې مرتبې ته نشی رسیدلې ځکه چه دوئ دنور نبوت نه بلا واسطه مستفید شویدی، ابن حجر د ابوزرعه الرازی څخه نقل کړیدی چه ته یو کس وګورې چه دصحابه کرامو سپکه

کوی نو پوهه شه چه دا کس زندیق دې، دا ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم حق دې، قرآن کریم حق دې، چه کوم وحی یی راوړې ده هغه حق ده، دغه ټول مونږ ته صحابه کرامو رارسولی دی اوددې حق یی اداء کړیدې، دغه خلق اراده لری چه مجروح کړې شی مشران زمونږ، ددې لپاره چه باطل کړی کتاب اوسنة «والجرح بهم اولی وهم زنادقة» «الاصابة فی تمیز الصحابة، صفحه: ۱۱. جلد: ۱»

رسول الله صلی الله علیه دصحابه کرامو بی شماره فضائل بیان کړیدی، هغوئ صلی الله علیه وسلم چه کوم کثرت اوشدّت سره دصحابه کرامو مناقب، خصوصیات، او اوصاف اوکمالات بیان کړیدی دهغې نه اُمت ته دا ښودل مقصود وو چه دوئ دې په عامو خلکو نشی قیاس کولې، ددوئ محبت عین محبت درسول دې او ددوئ په حق کې زبان درازی ناقابل معافی جرم دې، او ټول اُمت ددینه ویرول شویدې، «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهَ اللَّهَ فِي أَصْحَابِي اللَّهَ اللَّهَ فِي أَصْحَابِي لاَ تَتَّخِذُوهُمْ غَرَضًا بَعْدِي فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّي أَحَبَّهُمْ وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِي أَبْغَضَهُمْ وَمَنْ آذَاهُمْ فَقَدْ آذَانِي وَمَنْ آذَانِي فَقَدْ آذَى اللَّهَ وَمَنْ آذَى اللَّهَ يُوشِكُ أَنْ يَأْخُذَهُ»، «رواه الترمذی»،

ترجمه: زما دصحابه کرامو په باره کې دالله تعالی نه وه ویریږئ «یعنې مکرر وایم چه دالله تعالی نه وه ویریږئ» دوئ ځانه وروسته دتنقید نشانه مه جوړوئ پس چاچه دوئ سره محبت وکړو نو هغوئ ځما دمحبت دوجهې نه دوئ سره محبت وکړو اوچاچه دوئ سره بغض وکړو نو دوئ ځما دوجهی نه دوئ سره بغض وکړو «یعنې دغه انسان په حقیقت کې ماسره بغض ساتی، دهغې دوجهې نه ځما دصحابه کرامو سره هم بُغض کوی» چاچه دوئ ته اذیت «تکلیف» ورسولو هغه په حقیقت کې ماته اذیت اوتکلیف ورسولو، اوچاچه ماته اذیت را ورسولو هغه الله تعالی ته اذیّت ورسولو اوچاچه الله تعالی ته اذیّت ورسولو قریبه ده چه الله تعالی دهغه مؤاخذه وکړی»، بل ځای کې ارشاد دې: «اَکْرِمُوا اَصْحَابِی فَاِنَّهُمْ خِيَارُكُمْ» «مشکوة»، یعنې ځما دصحابه کرامو عزت او اکرام کوئ ځکه چه هغه تاسو نه بهتر او پسندیده دی، بل ځای کې ارشاد دې: «اِذَا رَأَيْتُمُ الَّذِيْنَ يَسُبُّوْنَ اَصْحَابِي فَقُوْلُوْا لَعْنَةُ اللهِ عَلَى شَرِّكُمْ» «مشکوة»، یعنی

هرکله چه تاسې څوك وګورئ چه ځما دصحابه کرامو ګستاخی کوی نوتاسې ورته ووایئ چه ستاسو شر باندې دې لعنت وی، اومحقق ابن همام حنفی اوعلامه ابن شریف الشافعی رحمة الله علیهما په مسایره او مسامره صفحه: ۱۳۰ کې فرمایلی دی: «اعتقاد اهل السنة والجماعة تزکیة جمیع الصحابة رضی الله تعالی عنهم وجوبًا باثبات الغدالة لکل منهم والکف عن الطعن فیهم والثناء علیهم کما اثنی الله سبحانه وتعالی علیهم اذ قال ـ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ـ ، یعنې داهل سنة والجماعة عقیده دټولو صحابه کرامو تزکیه ده چه دهغوئ عدالت منل او دهغوئ دطعن نه منع کیدل اودهغوئ صفت اوثناء کول دی، لکه چه الله تعالی فرمایی: «كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ» ، علامه ملاعلی قاری حنفی رحمة الله علیه محدث په مرقاة شرح مشکوة کې فرمایی: «والصحابة کلهم عدول مطلقًا لظواهر الکتاب والسنة واجماع من یعتد به ، صفحه: ۵۱۷، جلد: ۵» یعنې ټول صحابه کرام مطلقًا عادلان دی او ثقه دی ځکه چه قرآن اوسنت او دمعتمد علیه خلکو داجماع ظاهری عبارات پدې باندې دلالت کوی.

خلاصه دا چه: درسول الله صلی الله علیه وسلم صحبت ډیرلوئ شی دې چه صحابه کرامو ته دا مرتبه حاصله شویده چه ډیر لوئ خلك دغه مرتبی ته نشی رسیدلې، دصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین شمیر دبدر په غزا کې دری سوه او دیارلس اوپه صلح حدیبیه کې یو نیم زر او په فتح دمکې کې لس زره او په حنین کې دولس زره او په حجة الوداع کې څلویښت زره او دتبوك په غزاکې اویا زره او دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دوفات په وخت کې یولاك او څلیرشت زره (۱۲۴۰۰۰) وو، اوهغه صحابه کرام چه په احادیثو کې له هغوئ نه روایتونه نقل شویدی شمیر یې اوه نیم زرو ته رسیږی، دصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین مرتبی هم داعمالو په لحاظ سره مختلفې وې ، پدې هکله پیژندل پکار دی چه په صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم کې دمهاجرینو او انصارو درجه اومرتبه دباقی صحابه کرامو نه زیاته ده ، په دوئ کې بیا اهل حدیبیه په اعلی مقام باندې فائز

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

دی ، بیا په اهل حدیبیه کې بدریین او په بدریینو کې دخلفاء راشدینو مقام او په خلفاء
راشده اربعه کې دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه او بیا دحضرت عمر
فاروق رضی الله تعالی بیا دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه علی الاکثر او بیا
حضرت علی رضی الله تعالی عنه دي ، او مهاجرین هغه صحابه کرام دی چه دالله پاك
درضاء لپاره یی خپل وطن ((مکه معظمه)) پریخودلې وه ، ددې ټولو شمیر یوسل
څوارلس ته رسیږی ، او انصار هغه صحابه کرامو ته ویل کیږی چه دمدینې منورې
اوسیدونکی وو چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم او دهغه ملګروته یی خپل وطن کې
ځای ورکړو او کومك یی ورسره وکړو ، او خلفاء راشدین دخلافت په وجه افضل ندی
بلکه کچیرې بل څوك دخلافت لپاره ټاکل شوې وې بیابه هم دوئ له ټولو نه افضل وو
، او عصمت خاصه دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ده ، او صحابه کرام ټول عدول دی ،
دخلیفه دا کار دې چه په خلکو باندې دقرآن مجید او حدیث مطابق شریعت جاری کړی
چه هغوئ پرې عمل وکړی او انتظامی کارونه سرته ورسوی ، په دین کې نوی کارونه
نشی جوړولې او نه یی دکوم شی دحلال یا حرام کولو څه اختیار شته.

درسول الله صلی الله علیه وسلم ازواج مطهرات یوولس دي ، حضرت خدیجه ،
حضرت زینب رضی الله تعالی عنهما چه دخزیمه لور ده ، ددې دواړو بیبیانو وفات
دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم په ژوند کې شویدې ، حضرت عائشه ، حضبتر حفصه ،
حضرت ام حبیبه ، حضرت زینب بنت جحش ، حضرت ام سلمه ، حضرت صفیه ،
حضرت سوده ، حضرت میمونه او حضرت جویریه رضی الله تعالی عنهن ، دا ټولې
بیبیانې دالله تعالی او دهغه درسول خوښې او دټول اُمت مسلمه میندې دی او له
ټولو مؤمنو ښځو څخه غوره دی ، خو په دوئ کې هم د حضرت خدیجه او حضرت
عائشه رضی الله تعالی عنهما مرتبه اوچته ده ، او درسول الله صلی الله علیه وسلم
څلور لورګانې وې : حضرت زینب رضی الله تعالی عنها چه له ابوالعاص رضی الله عنه
سره یی نکاح شوې وه ، حضرت ام کلثوم او حضرت رقیه رضی الله تعالی عنهما چه
یوه له بلې وروسته د حضرت عثمان ذی النورین رضی الله تعالی عنه په نکاح کې
راغلې وې او حضرت فاطمه رضی الله تعالی عنها چه له علی مرتضی رضی الله تعالی

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

عنه سره يې نکاح شوې وه، دا څلور واړه ډيرې غوره او دفضيلت خاوندانې وې. دحضرت فاطمې رضي الله تعالی عنهادرجه اورتبه په دوئ کې زياته ده دا به له امهات المؤمنين پرته دټولو جنتي بيبيانو سرداره وي.

درسول الله صلی الله عليه وسلم صرف يوه لور ((حضرت فاطمة رضی الله تعالی عنها)) منل دقرآن نه خلاف دي، ځکه چه الله تعالی فرمايي : ((قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ)). دلته (بنات) دجمعې لفظ دې چه له دريو نه په کمو يې اطلاق نه کيږي.

دصحابه کرامو په مينځ کې چه کوم جنگ جګړې شوی دی دهغې بيانول له شرعي ضرورت او له ښه نيت نه پرته حرام او ناروا دی . اودهغوئ ترمينځ چه کومې جنگ جګړې پيښې شويدی په دواړو ډلو نيک گمان پر مونږ لازم دې او ادب يې پکار دې. لکه دحضرت موسیٰ اوحضرت هارون عليهما السلام ترمنځ چه داسې پيښه وشوه چه حضرت موسیٰ عليه السلام دحضرت هارون عليه السلام سر او ږيره راښکله، ددې واقعې يادونه هم په قرآن شريف کې شويده . مونږ ته دواړه واجب التعظيم دی ، الله تعالی جل جلاله فرمايي : ((لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ)). يعنې دالله تعالی په رسولانو کې مونږ بيلتون اوفرق نه کوو ، ددغه صحابه کرامو ترمينځ جنگونه داجتهادی مسائلو له مخې وو په صحابه کرامو خصوصاً په مهاجرينو اوانصاور باندې بد گمانی کول اوهغو ته بد ويل له قرآن څخه ښکاره مخالفت دې او دشريعت نه بغاوت بلل کيږی دداسې سړی په هکله دکفر شبه ده.

**نکته** : دصحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم اجمعين دژوند حالات خو خورا ډير دی خومونږ به دخلفاء راشدينو حالاتو ته لنډه کتنه وکړو.

**حضرت ابوبکر صديق رضي الله تعالی عنه** : نوم مبارک يې عبد الله اولقب يې صديق اوعتيق ((له عذابه څخه خلاص)) دا دواړه لقبونه رسول الله صلی الله عليه وسلم ورکړی دی ، ((تاريخ الخلفاء)) کنيت يې ابوبکر اوله خوږ نبی صلی الله عليه وسلم سره په اتم پشت کې يوځای کيږی ، دخوږ نبی صلی الله عليه وسلم په اتم پشت کې يو نوم ((مرّه)) دې دمرّه دوه زامن وو کلاب او تيم. دکلاب په اولاده کې خوږ نبی صلی الله

علیه وسلم پیدا شویدې او دتیم په اولاده کې ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه پیدا شویدې . درسول الله صلی الله علیه وسلم دولادت نه دوه کاله او څومیاشتې وروسته پیدا شویدې اوهمدارنگه دوه کاله او څو میاشتې وروسته وفات شویدې، عمر یې شپیته ،۶۳، وو ، رنگ یې سپین په صورت اوچ اوپه مخ یې غوښه کمه وه تندی یې ځلاص اوویښتان یې سپین شوی وو . تیل او رنگ به یې استعمالولو ، ډیر نرم دل اوغمونکې وو ، او درسول الله صلی الله علیه وسلم په ملگرتیا کې له هرچا څخه مخکې او له هرچا نه زیات وو . په ژوند کې دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم وزیروو او دوفات وروسته یې جانشین شو ، درسول الله صلی الله علیه وسلم دخلیفه نوم دبل چا لپاره ندې استعمال شوې . نورو خلفاؤ ته به یې «امیرالمؤمنین» ویلو . دوه کاله درې میاشتې اولس ورځې یې خلافت وکړو اودجمادی الاخر «وروستئ خور» په اوولسم تاریخ دهجرته په دیارلسم کال دماښام او ماسخوتن ترمنځ یې له فانی دنیا څخه سفر وکړو اودخپل حبیب تر څنگ یې دهغه په روضه مبارکه کې ترقیامته پورې ځانته داستراحت ځای غوره کړو (اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ).

اوځینی تاریخی کارنامې یې دادی ۱ـ له ټولونه غټ اومهم کار چه ده کړیدې دغه درسول الله صلی الله علیه وسلم تکفین اوتجهیز اوجنازه ده ، په دغه وخت کې په صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین باندې یولوئ قیامت جوړوو او ددوئ حواس گډوډشوی وو . څوك به یې وفات نه منکر وو ، څوك به بالکل غلی اوچپ وو ، اوڅوك به ډیر ناقراره وو . نوصدیق اکبررضی الله تعالی عنه له ټولونه مخکې دا وکړل چه حجرې ته ورننووت اودخوږ نبی صلی الله علیه وسلم دجسم مبارك نه یې څادر لرې کړو اوپه مبارکه تندې یې چپ (ښکل) کړو او دزړه دتاو نه یې دا یوڅو ټکی وویل : «وا نبیاه . وا خلیلاه وا صفیاه» . «یعنی ای ځما پیغمبره . ای ځما دوسته . ای ځما غوره کړې شویه» بس دا یې وویل بهر راووت . بیا یې یوه خطبه ولوسته دهغې په ترڅ کې یې اوفرمایل چه قرآن مجید کې درسول الله صلی الله علیه وسلم دوفات خبرې موجود وې اودا یې هم اوویل چه څوك دمحمد صلی الله علیه وسلم عبادت کوی هغوئ دې خبر وی چه هغه وفات شو . اوڅوك چه دالله تعالی عبادت کوی. هغوئ دې

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

پیغمبر وی چه الله تعالی ژوندی دې او کله به هم مړنشی، دې خطبې ټول بیدار کړل او خلک یې له خوبه راویښ کړل یعنې دغه کار ده په ډیره ښه توګه سرته ورسولو.

۲ـ دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم دوفات سره سم دعربو ځینی قبیلې داسلامي احکامو څخه مخ واړولو او مُرتدان شول اورنګارنګ مخالفتونه یې شروع کړل ځینی دنبوت دروغژن مدعیان راپورته شول چه د مُسَیلمة الکذاب او اسود عنسی او سجاح نومې ښځې څخه عبارت دی، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه ددې ټولو مُرتدانو او دنبوت دروغژنو مدعیانو دوژلو لپاره یوه پریکړه اوحکم صادر کړو او دجهاد اعلان یې وکړ، او مسلمانان په اسلامی جذبه اوجوش سره دغه جهاد ته چمتو شول، اودیوکال پهموده کې یې ټول مُرتدان او دنبوت دروغژن مُدعیان دهغوی دپیروانو سره دمنځه یوړل او په اسلامی خلافت کې یې اسلامی احکام په پوره ډول سره جاری اوعملی کړل.

۳ـ رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل آخری وصیت کې حکم ورکړ چه داسامه رضی الله تعالی عنه لښکر دې دشام خواته ولیږلې شی امّا دمجاهدینو دتګ په وخت کې درسو الله صلی الله علیه وسلم درحلت دردناکه پیښه منځ ته راغله چه دمجاهدینو په تلو کې ځنډ پیښ شو، دسعودی عربستان «یعنی حجاز» ټولی شمالی سمیې دشام په نامه یادیږی چه اوس دسوریې، لبنان، اُردن اوفلسطین څخه عبارت دی، دپخوا زمانو راهیسې ډیره آباده او سمسوره سیمه وه چه دهرې خوا څخه به هلته دسوداګری کاروانو ته خلک ورتلل، داسیمه درومیانو په لاس کې وه اوعیسوی دین پکې رواج وو کله چه ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه په خلافت وټاکل شو همدغه لښکر یې داسامه بن زید رضی الله تعالی عنه په مشرئ دشام لوری ته ولیږه خود ټولو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین پدې معامله کې دحضرت صدیق اکبر رضی الله تعالی عنه له رائی سره اختلاف وو، او ویل به یې چه په داسې نازک وخت کې چه دملک دننه هم دبیلو بیلو قبائلو نه دبغاوت لمبې پورته کیږی جنګ ته وړاندې کیدل اوس مناسب کار ندې خوصدیق اکبر رضی الله تعالی عنه باندې دې اختلاف څه پروا او اثر ونکړ، او دچا مخالفت ته یې ځان متوجه نکړو اوحکم یې وکړو چه زما اوښه

راولې زه پخپله دمرتدانو دوژلو لپاره ځم او وې ویل دأسامه رضی الله تعالی عنه لښکر دې اوس ولیږلې شی . قسم په الله تعالی که تپوسان زما غوښې وشوکوی دا لښکر به تیار کړم کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یې دلیږلو حکم کړیدې په همدې ډول زر تر زره لښکر تیار شو دوئ شام ته په رسیدو سم دشام او سیدونکو ته د اسلام دمقدس دین بلنه ورکړه امّا هغوئ تر سر وغړاوه او مجاهدینو ورسره جهاد پیل کړ اودایمانی قوت په رڼا کې فتحه دمسلمانانو په برخه شوه ډیر ځایونه یې فتحه کړل او وې نیول او اسلامی احکام یې پکې جارې کړل او بیرته مدینې منورې ته بریالی را وګرځیدل.

خلاصه دا چه : سره دکورنیو ستونزو شام او عراق نیم نیم فتحه شول.

۴_دیمامی په جنګ کې زیاتره هغه صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم اجمعین شهیدان شول چه دقرآن کریم قاریان او حافظان وو . لدې امله حضرت ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه دحضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه په مشوره دقرآن کریم هغه سورتونه او آیاتونه چه په جلا جلا پاڼو کې لیکل شوی وو په صحیفو کې راټول کړل دغه اولنی دقرآن مجید خدمت وو چه ده ترسره کړو.

۵_ کله چه حضرت فاطمة الزهرٰی رضی الله تعالی عنها خپل میراث وغوښتلو نو حضرت صدیق رضی الله تعالی عنه هغه حدیث ورته ولوسته چه دانبیاؤ علیهم السلام میراث جاری کیدې نشی نو ځکه خو میراث نشته مګر ما سره چه کوم مال دې هغه به تاته درکړم، «کچیرې دانبیاؤ علیهم السلام میراث اخستل کیدې او درسول الله صلی الله علیه وسلم وارثانو ته میراث رسیدلې نو داسلام دښمنانو به ویل چه هغه دنبوت دعوی خپلو وارثانو ت دمـال دډیرولـو دپـاره کـړې وه . دنبوت دمنصب پاکوالې دمیراث دمسئلې نه ښه څرګندیږی او همدغه لوئ خدمت وو چه لوئ الله دحضرت صدیق رضی الله تعالی عنه په واسطه پوره کړو»، او ځینې بی خبره خلک وایی چه دمیراث نه میندلو په وجه حضرت فاطمه رضی الله تعالی عنها دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه څخه خفه وه، دا بالکل بی بنیاده خبره ده هیڅ حقیقت نلری.

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**حضرت عمرفاروق رضی الله تعالی عنه**: دده نوم عمر اولقب يې فاروق . کنيت يې ابو حفص اونسب يې په نهم پشت کښې له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يوځای کيږي په نهم پشت کښې يې ديوسړي نوم کعب دی چه دوه زامن يې وو مُرّه او عدی. دمُرّه په خيلخانه کښې رسول الله صلی الله عليه وسلم اودعدی په اولاده کښې فاروق اعظم رضی الله تعالی عنه پيدا شويدی دده نيکمرغه پدايښت دفيل دپيښی نه ديارلس کاله وروسته شويدې او دنبوت په شپږم کال په اوه ويشت کلنئ کښې يې ايمان راوړی دی له ده نه مخکښې څلويښت سړی او يوولس ښځې مسلماني شوې وې.

رنګ مبارك يې سپين سوربخن وو خود قحطی اوبيکاره خوړلو له لاسه يې په مخ کښې توروالي هم پيدا شوې وو. پر مخ يې غوښه کمه وه او په ونه لوړ وو چه دخلکو په مينځ کښې به ولاړ وو نو دټولو نه به اوچت اوجګ ځرګنديده لکه چه په څه شي سپور وی. ډير توريالي اوزړه ور وو دده په مسلمانيدو سره په اسلام کښې ډير زور پيدا شو. درسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کښې يې دوزرات منصب درلوده دخليفه حضرت صديق اکبر رضی الله تعالی عنه په وخت کښې يې له وزارت سره سره دمديني منورې قضاء هم په غاړه درلوده او له حضرت صديق رضی الله تعالی عنه نه وروسته دټولو مسلمانانو خليفه شو. لس کاله شپږ مياشتي او پنځه ورځې يې خلافت وکړ اودهجرت په څليرويشتم (۲۴) کال دسهار په لمانځه کښې دمحرم په لومړئ نيټه ديومجوسی غلام (ابو لؤلؤ) له خوا په شهادت ورسيده ((اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ)) اوپه نبوی روضه کښې دحضرت صديق رضی الله تعالی عنه خواته يې مدفن غوره کړ.

حضرت فاروق اعظم رضی الله تعالی عنه په خپل لس کلنی دورې کښې داسلام خدمتونه خوډير زيات دی خومونږ يې دلته دنمونې په ډول يوڅو داني په ګوته کوو

۱ـ يوزر او شپږ ديرش ښارونه يې فتح کړی وو چه په هغوئ کښې مصر، اسکندريه، حلب، اهراز، آذربايجان، خراسان، قسنتنطنيه او بيت المقدس شامل وو. خوپه قسنتنطنيه اوخراسان باندې مکمله فتحه دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په زمانه کښې پوره شوه، لنډه دا چه دلوئ الله پاك رينښتنی وعده دحضرت عمر رضی الله تعالی عنه په لاس پوره شوه اوحق دين په ټولو اديانو کښې زورور شو اومسلمانانو

ن دومره لوی سلطنت په لاس ورغلو چه دځمکې پر مخ داسې کوم طاقت پاتې نشو چه
له مسلمانانو سره گوتې ماتې کړی، اوکوم ځای به یې چه قبضه کړو نو سمدستي به
یې حکم وکړو چه هلته دې جماعت (مسجد) جوړ کړې شي او په جماعتونو کې به یې
امامان اومؤذنان ټاکل ، حساب شویدې چه څلور زره واړه مسجدونه دپنځو
ونځونو لپاره او نهه سوه جامع مسجدونه دده په زمانه کې جوړ شویدی.

۲ـ دخپل خلافت په زمانه کې یې دا حکم وکړ چه داسلامی ملکونو په بازارونو
کې به هیڅوك دوکان تشی درلودلې چه ترڅویې دینی مسئلې نوی زده کړې . نوتاسو
وگورئ چه دعلم دین دخبرولو لپاره دا څومره ښه تدبیر دې.

۳ـ په ټولو نیولو شوو ملکونو کې یې دقرآن مجید درس جاری کړ، ښوونکی یې
وټاکل اوتنخواه یې ورته مقرره کړه اوخاص په مدینه منوره کې چه دماشومانو کوم
ښوونځی (مدرسی) وې دهغوئ دمعلمانو تنخواه به هره میاشت پنځلس درهمه وه،
سیرت ابن ابی جوزی رحمه الله)). اوحضرت ابو الدرداء رضی الله تعالی عنه به هره
ورځ دسهار دلمانځه نه وروسته ددمشق په جامع مسجد کې کیناستلو او دقرآن کریم
درس به یې ښودلو دلسو لسو کسانو ټولگی به یې جوړ کړل اوځینی مخصوص زده
کوونکو ته به یې پخپله هم درس ویلو، یوه ورځ حساب وشو نو څرگنده شوه چه په
ورځ کې شپاړس زره کسان دقرآن کریم لوست کوی ((الملل والنحل ابن حزم رحمه
الله)). دغه قرآنی خدمت یې ترسره کړیدې.

۴ـ دهجرت په څوارلسم کال دروژی په میاشت کې یې دتراویح لمونځ رواج کړو
اودټولو ولایتونو حاکمانو ته یې دا فرمان ورولیږلو چه په خپلو خپلو ځایونو کې
دتراویحو لمونځ رواج کړی. دا کار دقرآن مجید دزده کولو لپاره یوه ښه ذریعه شوه.

۵ـ داسلامی فوجونو دروزنې او استوگنې لپاره یې منظمې فوځی چونئ جوړې
کړې اوبیت المال یعنې خزانه یې قائمه کړه ، اوعدالتونه یې قائم کړل او قاضیان یې
مقرر کړل اوفوځی دفتر ته یې ترتیب ورکړو او دمجاهدینو تنخواگانې یې مقررې
کړې، اومردم شماری یې وکړه اوقبضه شوی ملکونه یې په ولایتو کې تقسیم کړل
وجیلخانه یې قائمه کړه اوعدالتونه یې قائم کړل دپولیسو محکمه یې قائمه کړه ، او

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

همدارنګه دقياس اصول يې قائم کړل، په فرائضو «ميراث» کې يې دعول مسئله نوي راوښکله او دجنازې په لمانځه کې يې په څلورو تکبيرونو دخلکو اجماع جوړه کړه، دشرابو څښلو حد يې اتيا درې وټاکلو

**حضرت امير المؤمنين عثمان رضى الله تعالى عنه**: نوم مبارك يې عثمان اولقب يې ذوالنورين اونسب يې په پنځم پشت کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يوځای کيږي يعنې دعبد مناف ديوه زوئ په اولاده کې خوږنبی صلی الله عليه وسلم اودبل زوئ په اولاده کې حضرت عثمان رضی الله عنه پيدا شويدی، او مور يې «اروی» دخوږنبی صلی الله عليه وسلم دترور «ام حکيم» لور وه دا هغه أم حکيم وه چه دنبی کريم صلی الله عليه وسلم دپلار عبد الله صاحب سره يوځای پيدا شوې وه، يعني دمور اوپلار دواړو له طرفه درسول الله صلى الله عليه وسلم سره نژدې خپلوي لري. او دی دفيل دپيښې نه شپږ کاله وروسته پيدا شويدی، اودحضرت صديق اکبر رضی الله تعالی عنه په لارښوونه مسلمان شو او په مخکې مسلمانانو کې شميرل کيږي

دده ونه برابره او رنګ يې سپين زيړوالی ته مائل وو، په مخ کی يې دکواوی «چيچك» څونښې هم وی ګوګل يې پلن اوګبره اوسر يې ګڼ وو، په وروستی عمر کې به يې ويښتان په زيړو خضابو رنګول او غاښونه به يې دسروزرو په تاربندول مخکې هم په قريشو کې دده عزت وو، دې ډير حياناك اوسخی سړی وو.

درسول الله صلى الله عليه وسلم زوم وو، اول حضرت رقيه رضی الله تعالى عنها دده په نکاح کې راغله او چه هغه دبدر دغزا به وخت کې وفات شوه نو بيا يې حضرت ام کلثوم رضی الله تعالى عنها په نکاح کړه هغه هم په سنه (۹هـ) کې وفات شوه دا دواړه دنبی کريم صلی الله عليه وسلم لورګانې وې

اوحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه دحضرت عمر رضی الله تعالى عنه وروسته دخلافت لپاره وټاکل شو او دولس ورځې کم دولس کاله خلافت کولو نه وروسته په اتلسم دذی الحجې، سنه (۳۵هـ) کال په ډيره بې رحمانه توګه دباغيانو له لاسه په شهادت ورسيده، اوپه «حش کوکب» کې خښ کړل شو. يزيد بن حبيب وايی چه څومره خلك دمصرنه راغلی وو اوپه حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه يې بغاوت

کړې دد په هغوئ کې یو هم بې لیونتوبه پاتې نشو. دغه دده لوئ کرامت وو
اوس به دده ځینو کارناموته اشاره وکړو ۱ ـ دقرآن شریف دصحیفو صحت او
ترتیب د دوهم خل لپاره دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه دخلافت ستره کارنامه
ده چه دهجرت په دیرشم کال یې دځینو اصحابو کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین
په مشوره اوغوښتنه دغه لوی کار سرته ورساوه او دقرآن کریم په تلاوت کې یې هغه
اختلافات له منځه یوړل چه په مخکې نسخو کې منځ ته راغلی وو. ددې کار لپاره
زیدبن ثابت رضی الله تعالی عنه ددرې قریشو سره تعین شول چه دهغې نسخې څخه
په دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه په وخت کې ترتیب شوې وه شپږ
نسخې ترتیب کړې، زیدبن ثابت رضی الله تعالی عنه او ملګرو یی په ډیر غور او
کوشش سره شپږ نسخې قرآن شریف ترتیب کړو.

څلورنسخې یې مکې، کوفې، بصرې اودمشق ته واستولې یوه نسخه یې دمدینې
منورې دمسجد لپاره اوبله نسخه یې دخلافت مقام ته وسپارله چه موجوده قرآن کریم
په همغه عثمانی ترتیب مونږ ته رارسیدلې دې.

۲ـ حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه چه له بیعت نه وروسته کوم لومړنئ بیانیه
واوروله په هغې کې یې اوفرمایل: ((واورئ زه پیروی کوونکې یم او دنوې لارې
جوړونکې نه یم، وپوهیږئ چه دالله تعالی دکتاب او درسول الله صلی الله علیه وسلم
دسنت له پیروی نه وروسته درې خبرې دی چه زه تاسې سره دهغو د پابندی ژمنه
(عهد) کوم: یوه دا چه څما له خلافت نه مخکې چه تاسې په اتفاق سره کوم اصول او
کړنلارې ټاکلې وې دهغوئ پیروی به وکړم، دوهمه دا چه په کومو چارو کې چه پخوا
کوم اصل ندې ټاکلې شوې په هغوئ کې به دټولو په مشوره دنیکانو کړنلاره وټاکم،
دریمه دا چه پرتاسې به لاس پورته نکړم تر څو پورې چه ستاسې پرخلاف کوم اقدام
دقانون له مخې واجب شوې نوی.

۳ـ دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په وخت کې دوه ډوله فتوحات
مسلمانانو په برخه شول، اول ډول: ځینې ځایونه لکه همدان او اسکندریه او
آذربایجان چه ددوهم خلیفه رضی الله تعالی عنه په وخت کې فتحه شوی وو دحضرت

عمر رضی الله تعالی عنه د شهادت څخه وروسته یې په بغاوت لاس پورې ک
داسلامي خلافت څخه یې سرغړونه وکړه ، اما دریم خلیفه رضی الله تعالی عن
دخلافت سره سم نوموړو ځایونو ته اسلامي فوځونه ولیږل شول او په ډیر لږ وخت ک
یې ټول بغاوتونه آرام کړل او باغیان یې پخپله جزاء ورسول ، په نوموړو ځایونو ک
داسلامي قوانینو تطبیق او داسلامي خلافت جزء وګرځیدل

دوهم ډول فتوحات دا چه دایران څه برخې هم له فتح کیدلو نه پاتې وې
خراسان او بیهق او فیروزآباد او شیراز او طوس او نیشاپور او هرات او بلخ او نور
دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په وخت کې فتح شول. دغه رنګه د افریقا
برخې داسلامي حکومت پورې چه مرکزیې مدینه منوره وه وتړل شوې.

**حضرت علی مرتضی رضی الله تعالی عنه** د ده نوم مبارک علی رضی الله تعالی
عنه، لقب یې اسدالله، حیدر او مرتضی او کنیت یې ابوالحسن او ابوتراب دی په
کې له نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره ډیر نږدې دی ده د پلار ابو طالب یې
عبدمناف یې نوم دې درسول الله صلی الله علیه وسلم د پلار عبدالله ورور دی مور
فاطمه رضی الله تعالی عنه بنت اسد بن هاشم ده د مور او پلار له طرفه هاشمي دی

دوړوکتوب راهیسې له خوږنبی صلی الله علیه وسلم سره ورسره ده په غیږ کې
لوئ شو ، او دخپل یومنسوب شرف یې هم ورکړو . چه حضرت فاطمة الزهرا رضی
تعالی عنها چه دخوږ نبی صلی الله علیه وسلم له ټولو کشره لور وه د حضرت علی
رضی الله تعالی عنه په نکاح کې راغله او له هغې نه ده اولاد هم شویدی. په صحابه
کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین کې ډیر اوچت . فصیح . بلیغ او ښه خطیب ګڼل
کیدلو . او په زړه ورتوب او توره کې هم له ټولو اوچت وو په دې صفاتو کې د ده ژوند
ډیره څرګنده وه . په سنه (۳۵هـ) کې دحضرت عثمان رضی الله تعالی له شهادت نه
وروسته په خلافت وټاکل شو او له درې ورځو کم پنځه کاله خلافت کولو نه وروسته
(۱۸) درمضان المبارک سنه (۴۰هـ) کې دعبدالرحمن بن ملجم خارجي له لاسه په کوفه
کې په شهادت ورسیده او خلافت راشده یې له دنیا څخه رخصت کړو او له کوفې سره
نږدې په نجف کې دفن کړې شویدې غالبا

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

اوس به دده یو څو کارنامو ته اشاره وکړو ۱۔ دبدر په غزاء کې یې ډیر غټ غټ کارونه وکړل او ډیر کافران وو چه دده دتورې له لاسه جهنم ته ولیږل شول.

۲۔ چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو نو دغسل ورکولو کار ده ته وسپارل شو.

۳۔ کله چه دبغاوت کوونکو لخوا دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه کور محاصره شو نو حضرت علی رضی الله تعالی عنه یې ډیره پلوی وکړه او ملګرتیا یې وکړه آن تر دې چه حضرات حسنین رضی الله تعالی عنهما یې دهغه په دروازه کې دپهرې لپاره ودرول او چه څه وخت هغوئ په شهادت ورسیدل نو دې ډیرزیات غمجن شو اودهغه په ستاینه کې یې ډیر ښې ښې خبرې وکړې ، او همدا رنګه دخیبر په غزاء کې هم حضرت علی رضی الله تعالی عنه په ډیره زړورتیا دخیبر تاریخی کلا فتحه کړه او بریې په لاس راوړ، دغه راز دې دعدالت په لحاظ هم مشهوردې. یو واری حضرت علی رضی الله تعالی عنه یو یهودی سره په زغره تنازع راغله دوئ دعوی وکړه په دا زغره څما ده قاضی القضاة (حضرت شریح رضی الله تعالی عنه) دواړه را وغوښتل دحضرت علی رضی الله تعالی عنه (مدعی) نه یې دود ګواهان طلب کړل. دوئ دګواهی دپاره یو غلام اوحضرت حسن رضی الله تعالی عنه ((برخوردار)) پیش کړ چونکه دزوئ ګواهی دپلار دپاره مقبوله نه وه اوبل ګواه نه وو لهٰذا قاضی حکم وکړو چه زغره دیهودی ده ، حالانکه زغره دحضرت علی رضی الله تعالی عنه وه اودغه وخت کې ددوئ خلافت هم وو، یهودی هغه وخت کې ایمان راوړلو اوداسلام ددین دحقانیت قائل شو. ((یا الله مونږ ته دصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین فیض حاصل اونصیب کړې اودهغوئ په نقش قدم تلل راته آسان کړې ، آمین ثم آمین)).

☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆

# وجداني محکمه ((فضائل اورزائل))

محترمو مسلمانانو : اسلام دیولږ چارو په سرته رسولو مسلمانان مکلف کړیدي او دیو لړ نورو چارو له کولونه یې منع کړیدی ، په بل عبارت له یوی خوا امر اوله بلې خوا نهی ، اودعلم او عقل په رڼا کې یې دیته متوجه کړیدی چه ښه عملونه ښه مکافات لري او ناوړه چارې ناوړه مجازات لری ، په یوحدیث شریف کې دی چه له ځان سره محاسبه وکړئ مخکې لدینه چه حساب درسره وشي . نو له أخروی محاکمې اومؤاخذې نه به وژغورل شئ، همدا دښو خلکو کړنلاره ده ، فلهذا اوس به یوڅوفضائلو اورزائلوته گوته ونیسو نو داخلاقو له جملې څخه داسې خویونه شته چه انسان دهغو په عملی کولو سره په دنیا کې دعزت اوشرافت مقام ته رسیږي او دنورو په زړونو کې ورته مینه اومحبت پیداکیږی اوپه آخرت کې داجر اوثواب مستحق گرځی، دا راز اخلاقوته فضائل دښوخویونو ویل کیږی.

چه یو له هغوڅخه صدق دې: ریښتیا والې دانسان دهرقول او عمل دسموالی اوښه والی بنسټ او اساس جوړه وی ، صادق انسان دخپل قول اوعمل دپاره خپل زړه اوژبه له یوبل سره برابر اویو شان ساتی دیوه شخص دغه ډول کیفیت ته صدق اویا صداقت وایی، ده ته دنیکیو کول اوخلکوته دښیگڼو رسول آسانه کارونه دی بالعکس څوك چه صدق نلری دهغه زړه داکثرو بدیو کور کیدلی شی لنډه دا چه صدق او ریښتیا دټولو اخلاقی ښیگڼو اصلی بنیاد دي اودالله تعالی دصفتونو څخه یو لوړ صفت دې ، الله تعالی داسې فرمایی : ((وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللّهِ حَدِيثًا))، (سورة النساء) ((اوڅوك له الله تعالی جل جلاله څخه ډیر ریښتنې دې په خبره کې))، یعنې نشته ، دصدق لوړه مرتبه داده چه دانسان ظاهر اوباطن یعنې زبانی، قلبی، عملی دحق اوصداقت دهر حرکت پوره مظهر وگرځی، قرآن کریم دې ډول خلکوته دصدیق خطاب کړیدې، لکه چه الله تعالی فرمایی : ((وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا))، (سورة مریم) او یاد کړه (ای محمده) ! امت خپل ته په کتاب (قرآن مجید) کې (قصه

دابراهیم علیه السلام ببیشکه دغه (ابراهیم علیه السلام) وو صدیق (ډیر ریښتني) نبي
داسلام داخلاقو دوهم بنیاد سخاوت دي: یعني په خوښی اورضاء سره له خپل
حق څخه بل ته دورکولو عمل ته سخاوت ویل کیږي دسخاوت ډیرمختلف صورتونه
دي یعني خپل مال چاته بخشش ورکول دخپلې وسې په اندازه دبل دخدمت لپاره خپل
جسم او دماغی قوت لګول دخپل پت په شان دبل دپت عزت او احترام ساتل دنورو
دځان اودحق دحمایت کولو په خاطر خپل ځان په خطر کې اچول. دا ټول دسخاوت
دقدر وړ ډولونه دي، البته په سخاوت کې دا خبره ډیره ضروري ده چه نیت به یې
خاص دالله تعالی رضاء وی نه ددې لپاره چه په چا منت او احسان بار کړي او یا په
ریائی توګه خپل ځان نورو ته سخی معرفی کړي. څوك چه دالله تعالی درضاء لپاره
کوم لګښت کوی دهغې بدله الله تعالی ورکوی او دقیامت په ورځ به یې له ډول ډول
تکلیفونو څخه وساتی. پدې حقله الله تعالی فرمایی: ((الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ
اللهِ ثُمَّ لاَ يُتْبِعُونَ مَا أَنفَقُواُ مَنًّا وَلاَ أَذًى لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ
يَحْزَنُونَ))، (سورة البقره) ، **ترجمه**: هغه څوك چه مصرفوی مالونه خپل دالله تعالی
لارکې ((پدې شان سره )) چه نه په چا احسان باروی اونه چاته پیغور اوتکلیف
ورکوی، اجر او بدله دهغوئ دالله تعالی جل جلاله سره ده نه به په هغوئ باندې ویره
وی اونه به هغوئ غمجن شی.

او دریم دټولو ښو اخلاقو روح عفت ((پاك لمنی)) دې چه دانسان عزت او آبرو
ورسره تعلق لری له همدې کبله اسلام دغه ښه والی دهغو اخلاقی ښیګنو څخه
شمیرلې چه دمسلمانانو دمخونو نور دې، قرآن کریم ددې اخلاقی وصف ذکر په
خاص ډول سره کړیدی ((وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ + إِلاَّ عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أوْ مَا مَلَكَتْ
أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ + فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاء ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ))، (سورة المؤمن)
**ترجمه**: ((هغه مسلمانان چه دخپلو، شرم ځایونو ساتنه کوی خو، دخپلو ښځو
اودخپلو وینځو له کبله په هغوئ څه پړه نشته پس که څوك دخپل شهوت دفع کولو
لپاره لدې څخه پرته بل څه وغواړی نوهماغه خلك له حد څخه دباندې وتونکی دی))،

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

لدې مبارك آيت څخه په څرګند ډول معلوميږي چه كه څوك له منكوح يا منكوحې پرته په كوم بل شي سره خپل شهواني خواهش دفع كوي له شرعي حد څخه تيرې كوي اوشرعي مجازاتو وړ ګرځي عفت او پاك لمنې ته اسلام هغه رتبه وركړيده كومه چه دنبوت اورسالت لازمي جزء دې، حضرت يوسف عليه السلام چه دكومې پاك لمنې ثبوت وړاندې كړيدې دهغې شهادت پخپله دمصر دعزيزښځې وركړو اوهغه حقيقت الله تعالى داسې بيان كړيدې «وَلَقَدْ رَاوَدتُّهُ عَن نَّفْسِهِ فَاسْتَعْصَمَ»، (سورة يوسف، «پد تحقيق سره ماهغه راوباله اوهغه ځان وژغوره» ، دقتل څخه وروسته لويه ګناه دچا دعفت لمنه خيرل دي، اودقيامت په ورځ دعرش دسيورې څخه لاندې د اوو (۷) تنو څخه يو هغه هم دې چه يوې ډيره ښكلې ښځه هغه ته بلنه وركړې وي او دځان طرفته دمائله كولو لپاره يې په ده باندې ډير كوشش كړې وي خو هغه شخص يوازې لدې كبله انكار كړې وي چه دخپل خداى څخه ډير ويريدلې وي، او همدارنګه دالله تعالى جل جلاله دقربت او ددعا قبليدو درجه ورته نصيب كيږي، لكه بخارى شريف دهغو دريو تنو په غار كې دبندي كيدو واقعه نقل كړيده:

اوځلورم دښو اخلاقو څخه چه دفلاح اونجات ذريعه ده امانت دارى ده يعني په اخلاص او ايماندارى سره دحقدار حق ساتل اوبيرته دهغه دحق ورسپارلو اعمالوته امانت دارى ويلې كيږي او دامانت دائره يوازې په روپيو ، جائدادونو او مالي شيانو كې محدوده نده بلكه دامانت په فراخ مفهوم كې ټول مالي، اخلاقي، قانوني امانتونه داخل دي لدې مضمون څخه دا اصل څرګنديږي چه هركار بايد خپل مستحق ته وسپارل شي، خپلولي ، ګاونډي توب اويا نورې شخصي اړيكې بايد په نظر كې ونه نيول شي، فقط اوفقط د اهليت په لحاظ هرچاته وظيفه وركړې شي، همدارنګه دا لارښوونه هم راته شويده چه چاته كومه وظيفه وسپارلې شي په پوره امانت دارى سره به يې اجراء كوي كه مال وي كه پټ راز وي كه مشوره غوښتل وي دا ټول امانت دي او امانت دار سړې دهغو اشخاصو له ډلې څخه شميرلي شويدې چه دالله پاك له خوا ورته دفلاح او كاميابي زيرې وركړې شويدې لكه چه فرمايي : «وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ

وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ›› ، (سورة المؤمنون) ، **ترجمه** : ‹‹او هغه کسان کامیاب دی چه هغوی دخپلو امانتونو او وعدو مراعات کوونکی دی›› بالعکس حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خیانت کوونکې په ډیرو سختو الفاظو سره یاد کړیدې، فرمایلي یې دی چه ‹‹په چاکې چه امانت داری نوی په هغه کې ایمان نشته ‹‹کنزالعمال›› فلهذا دایمان خاوند تل د امانت داری پوره لحاظ ساتي چه ددارینو فلاح او ایمان یې سالم پاتې شي او پنځم دښو اخلاقو څخه شرم او حیاء دانسان هغه فطری وصف دې چه ددې په اثر دانسان ډیرې اخلاقی ښیګنې وده مومی دعفت دعالی وصف په درلودلو سره دانسان شخصیت تل پاك ساتلې کیږی دبې وزلو او سوالګرو خلکو محروم نه پریښودل هم دهمدې عالی صفت خاصه ده او له ګناهونو څخه ډډه کول هم دهمدې صفت برکت دې له ټولو څخه مخکې الله تعالی پخپله پدې وصف سره متصف دې پدې ځای کې به ددې وصف معنٰی هغه معنٰی ګڼې چه دالله تعالی دذات اقدس سره مناسبه وی دمثال په ډول هغه خلك چه دالله تعالی د اوامرو څخه سرغړوی. نه یې رسوا کوی او نه یې فی الحال هلاك کوی او که څوك دهغه دربار ته لاسونه اوچت کړی نامراده یې نه پریږدی لدغه کار څخه حیاء کوی.

شرم او حیاء باندې باید دحق خبرو دبیانولو مخه ونه نیسی دضرورت په وخت کې باید حق نیغ په نیغه بیان شی الله تعالی دحق په بیانولو کې حیاء نکوی. لکه چه فرمایی : ‹‹وَاللَّهُ لاَ يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ›› ، (سورة احزاب) ، یعنی الله پاك جل جلاله دحق دښيرې په کولو باك نکوی.

لنډه داچه کومه حیاء ذکر کیږی په شریعت کې ددې حیاء نه شرعی حیاء مراد وی ځکه چه دینی کارونو کې سستی کول دبزدلی ویره ده، حیاء نده، او په یو حدیث شریف کې دی چه ایمان څه دپاسه شپیته (۶۰) ښاخونه لری او حیاء هم دایمان یو ښاخ دې (رواه البخاری).

خلاصه دا چه : هر انسان باید زیار وباسی چه دشرم او حیاء آب (اوبه) یې تویې نشی، مونږ پدې اکتفاء کوو ، ورنه دښو اخلاقو دفضائلو بحث ډیر طولانی دې زه به یې

صرف بعضو برخوته اشارې وکړم . ذوخت په مناسبت يې بيا تشريح کوه . لکه رحم او تراحم، زړه سوې، عدل او انصاف، او پر وعده ټينګار او احسان ((نيکی کول)) اوتواضع ((خاکساری)) او اعتدال ((ميانه روی)) او شجاعت ((زړه ورتيا)) وغيره دی.

اوبل خوارزائل هغه ناوړه خويونه دی چه دانسان لپاره په دنيا او آخرت کې دذلت او شرمندګی سبب ګرځي ددې ډول اخلاقو لرونکی دالله تعالی په حضور کې ګنهګارګڼل کيږی په کومه ټولنه کې چه دا راز خويونه عموميت پيدا کړی، هغه ټولنه به هرومرو له تباهی اوبربادی سره مخامخ کيږی د رزائلو بنيادی شې يو عدم الصدق دې اوبل حب المال دې او بل حب الذات دې، يعنې عدم صدق، دا چه ژبه اوزړه ددې سره يو نوی، نو ديته دروغ وايی د انسان په ټولو بدو اخلاقو کې زيات بد او ډيرمذموم عادت دروغ ويل دی.

دحضرت عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله تعالی عنه نه روايت دې چه : يوه شخص له نبی اکرم صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چه : دوزخ ته بوتلونکې کار کوم دې؟ نبی اکرم صلی الله عليه وسلم اوفرمايل : دروغ ويل هرکله چه بنده دروغ وايی هغه ګناه کوی او چه ګناه کوی يعنې چه بد کارونه کوی هغه کفر کوی اوڅوك چه کفر کوی هغه به دوزخ ته ځی ((رواه مسند احمد)) ، داسلام له نظره ډير سخت لفظ لعنت دې او معنی يې دالله تعالی له رحمت څخه لرې والې دې، په قرآن کريم کې دلعنت لفظ يهوديانو ، کافرانو او هم شيطانانو ته استعمال شويدې، مګر خو مسلمان ته ددروغو ويلو اوتور لګولو په صورت کې ويلی کيدې شی لکه چه په آل عمران سورت کی دمباهلی په باره کې فرمايی : ((ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَةُ اللهِ عَلَى الْكَاذِبِين))، يعنی بيا به التجاء او عاجزې وکړو (( په دعاء کې)) نو وبه ګرځو مونږ ((وبه وايو)) لعنت دالله تعالی په دروغجنو باندې دې .

اوهمدارنګه دمنافق ددريو علاموڅخه يوه علامه دروغ هم دی او دروغ يو ډول داهم دی چه څوك حق پيژنی او اظهار يې نکوی او بل هم دا قسم دروغ دی چه خپلو ماشومانو ته دکوم شی وعده ورکوی فقط دهغوئ دخوښې او تسکين لپاره ، اوبل

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

قسم داهم دي چه صرف په تشو خبرو ځان عالم يا مسكين وغيره معرفي كوي خو حقيقت داسي نوي نو لدې دروغو څخه غيبت ، وعده خلافي، او بهتان او بدظني او طمعه او چغلخور اودوه مخي توب او قسم غموس وغيره پيدا كيږي. دلعنت له مخې ديوه شخص په غياب كې دهغه دعيبونو بيانولو ته غيبت وايي خو په مذهبي تعليم كې دشخص غائب كيدل او حاضريدل دغيبت په وړاندې يوشان دي، پدې باره كې له نبي اكرم صلى الله عليه وسلم څخه چا پوښتنه وكړه چه غيبت څه ته وايي ؟ هغه مبارك اوفرمايل : ((ذِكْرُكَ اَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ، قِيْلَ اَفَرَأَيْتَ اِنْ كَانَ فِيْ اَخِيْ مَا اَقُوْلُ؟ قَالَ اِنْ كَانَ فِيْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ وَاِنْ لَمْ يَكُنْ فِيْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدْ بَهَتَّهُ)) «مشكوة» ، ستاسو ديو مسلمان ورور په داسې شيانو باندې ذكر كول او يادول دي چه دهغه نه خوښيږي. بيا يوه سړي پوښتنه وكړه چه كه څه هم زما په ورور كې هغه غيبت موجود وي چه زه يي بيانوم؟ نبي اكرم صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل چه : كه غيبت په هغه كې موجود وي نو تا دهغه غيبت وكړو او كه دغه غيبت په هغه كې موجود نوي نو تا په هغه تور((تهمت)) پورې كړ، امام غزالي رحمة الله عليه ليكلي دي چه : دكنايي صراحت، رموز ، اشارات، ليك، لاس، پښو ، اونورو طريقو په واسطه غيبتونه بيانيدلې شي او دا ټول په اسلام كې منع دي او قرآن شريف غيبت ويونكي ته دخپل مړه ورور غوښې خوړل بيان كړيدي او په احاديثو كې يي ډير مذمّت بيان شويدي، يو وخت ډير سخت بوي خپور شو رسول الله صلى الله عليه وسلم اصحاب كرامو رضى الله تعالى عنهم اجمعين ته اوفرمايل : تاسو پوهيږئ چه دا څه شې دې ؟ دا دهغو خلكو بد بوي نه دي چه هغوئ دخلكو غيبتونه كوي، ((ادب المفرد)) .

البته علماء كرامو فرمايلي دي چه هغه ته داصلاح په نيت او خلكو ته دځان ساتنې په اراده ويل چه خلك يي ضرر څخه بچ شي بيا غيبت ندي او دبهتان معنى داده چه په يوه بې گناه شخص يوه گناه اوجرم وتپلې شي او په حقيقت كې دا جرم اوگناه په هغه كې نوي، مطلب دا چه په بهتان كې مقصد دشرارت او فساد جوړول او ديوه بې گناه شخص بدنامول وي، قرآن كريم دا خصلت د ((افك)) په نوم ياد كړې دې او سخت بد

الفاظ یې ورته فرمایلی دی چه کچیرې پاکدامنو میرمنو ته دعزت او حرمت صدمه ورسوی او شاهدان «گواهان» حاضر نکړی هغه شخص باید اتیا «۸۰» درې ووهلې شی او ابداً یې شهادت قبول نشی او دغه فاسقین دی، لکه چه فرمایې: «وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ + إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا»، (سورة نور)، **ترجمه**: او هغه کسان چه ولی محصنې (پاکې) ښځې «یا محصن سړی» چه نسبت دزنا ورته وکړی، بیا را نه ولی څلورتنه شاهدان پس ووهئ تاسې «ای حاکمانو» دغه «په مخ دقاضی او حاکم کې» اتیا (۸۰) درې او مه قبلوئ تاسې له دوئ نه شاهدی قاذفان «که اصیلان وی» او دا «قاذفان» همدوئ دی فاسقان مگر هغه انسان هیڅکله «تر وخت دمرگ پورې» چه توبه وباسی، اودغیبت دکفارې په حقله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: «انَّ مِنْ كَفَّارَةِ الْغَيْبَةِ اَنْ تَسْتَغْفِرَ لِمَنْ اغْتَبْتَهُ تَقُوْلُ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلَهُ»، (مشکوة)، یعنې دغیبت پوره کفاره داده چه ته دهغه سړی لپاره دبخښنې دعاء وکړې دکوم سړی چه تا غیبت کړیدې او داسې ووایې چه ای الله زما اودهغه مغفرت نصیب کړې، یعنې اول هغه که موجود وی معافی ترینه وغواړی اوکه مړ وی یا دموندلو طاقت یې نه وی نو بیا دې دمغفرت دعاء ورته وکړی.

اوبل وعده خلافی کول ډیر بد کار دې هرکله چه یو شخص وعده وکړی نوهغه گویا یو مسؤولیت پر غاړه واخستلو، لکه چه الله تعالی فرمایی: «إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا»، دمنافق په علامو کې یوه داهم ده چه وعده وکړی او له هغې څخه مخالفت کوی، اوبل بد ظن یعنې بدگمانی یوراز کذب او بی ځایه وهم دې چه تل خلکوته دداسې خبرو نسبت کوی چه دې ترینه خبر هم نوی، بدگمانی کرکه او نفرت پیدا کوی، الله تعالی خپل بندگان لدې کار څخه منع کړیدې فرمایې چه: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ»، (سورة حجرات)، ای مؤمنانو! ځان وساتئ ډیر له بدوگمانونو (تهمتونو) څخه په خلکو باندې بیشکه ځینې بدگمانونه، تهمتونه گناه ده، اوبل طمع او حرص هغه بد خصلتونه دی چه دانسانیت تیټ والی

پکې ځرګندیږي، په تیره بیا هغه حرص او طمع چه بخل هم ورسره ګډ وي په عربي کې ورته «شح» وایي. دکور دخاوندانو او مشرانو ترمنځ همدارنګه دخاوند او ښځې ترمینځ فکري اوروحي ستونزې دحصر او طمعې په وسیله پیداکیږي، یوازینې علاج يې د احسان او ایثار پـه لارکې لټول کیدې شي. الله تعالی فرمایي. «وَأُحْضِرَتِ الْأَنفُسُ الشُّحَّ وَإِن تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا»، (سورة النساء)، حاصل دمعنی: اونفسونه (فطرتًا) حرص ته مائل دي اوکه تاسو (دخپلو ښځو سره) ښه سلوك وکړئ او داحتیاط او پرهیزګاری نه کار واخلئ نو الله تعالی ستاسو په ټولو کړنو خبرداردې.

ددین او ددنیا بریالیتوبو نه دشرعي اصولو له مخې داقتصادي نظام په برابرولو باندې مربوط دی، الله تعالی فرمایي: «وَأَنفِقُوا خَيْرًا لِأَنفُسِكُمْ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ»، (سورة تغابن)، **ترجمه**: اومصرفوئ خپل مالونه دخپلی نفقې لپاره اوهغه څوك چه دخپل نفس دحرص څخه وساتلې شي نو همدغه راز خلك بریالی اونجات موندونکی دی.

اورسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین ته اوفرمایل چه: له حرص او طمعې څخه ځانونه وژغورئ ځکه چه دې شیانو له تاسو څخه وړاندې اوپخوانی خلك برباد کړیدی، همدې شیانو هغوئ را وپارول اودهغوئ وینې یې توبې کړې اوحرام یې حلال وګڼل. «رواه مسلم».

پس شومتیا او بخل هم له اساسی بداخلاقیو څخه دې بلکه د بد اخلاقیو بنسټ دی، خیانت، بدبیني، بی مروتي، بی رحمي، بدسلوکي، تنګ نظري، کم همتي، حرص، طمع دا ټولی دبخل ځانګې دی، داسلام مقدس دین له دروغونه وروسته دبخل په ونه دتبر ګذار وکړو یعنی وړی ته دوډئ ورکول دبربنډ پټول د بی وزلو سره مرسته کول دیتیمانو خبر اخیستل دمیلمنو پالل یې دمسلمانانو لازمي وظیفه وټاکله لکه زکوة اوخیرات وغیره. او بل دوه مخي توب ترچغل خورئ نه هم ډیر بد او ټیټ خصلت دې، چغل ګیر یوازې دیوه خبره بل ته رسوي او دوه مخې سړې ددواړو خبرې یوبل ته

رسوی يعنې هريوته مخامخ ځان دوست بولی اوپه غياب کې يې بد وايي، ددې خصلت
په بدی کې نبی اکرم صلی الله عليه وسلم داسې فرمايلی دی: «مَنْ كَانَ ذَا وَجْهَيْنِ فِي
الدُّنْيَا كَانَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِسَانَانِ مِنْ نَارٍ»، (رواه الدارمی وابوداؤد)، **ترجمه**: «يعنې په
دنيا کې چه څوك دوه مخې وو دقيامت په ورځ به دهغه په خوله کې داور دوه ژبې وی»،
اوچغل گير به دجنت څخه محروم وی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی «لا
يَدْخُلُ الْجَنَّةَ نَمَّامٌ»، (متفق عليه)، **ترجمه**: «چغلخور به جنت ته نه ځی»، اوبل په
دروغو قسمونه دی، په حقيقت کې دغه انسان الله تعالی شاهد گرځوی چه زه صادق يم
فلهذا بيا دقسمونو نه پوره کول يا خلك دوكه کې اچول، دې ته قسم غموس وايي اودا
په حديث شريف کې دلويو گناهونو په شمار کې شميرلې شويدی.

اودويم دحب المال څخه بخل، حرص، طمع، غلا، غصب، خيانت، غلول، تول
کی کمې يا زياتې وغيره پيدا کيږی نو دبخل طمع، حرص څه تفصيل مخکې
تيرشويدې.

غلا ديو چا سمبال اومحفوظ شوې مال بې له اجازې او په پټه سره داخستلو عمل
ته وايي، دغلا دمخنيوی لپاره په شريعت کې لاس غوڅول سزا ټاکلې شوې ده، لکه
چه الله تعالی فرمايي: «وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا»، **ترجمه**: «اودغل سړی او
غلې ښځې نه لاسونه ددوئ پريکړئ.

اوپه غلا کې ډيرې بدی پټې دی مثلاً پردی مال کې په ناحقه تصرف کول دبل په
تکليف سره گټلی مال باندې ناجائزه قبضه کول اوغل دا مال ډير بې باکه استعمالوی
او ډيولنې امانت له منځ نه وړی وغيره، همدغه بديانې په غصب کې هم دی.

اوبل خيانت دی: مطلب دا چه دچا په واجب حق کې د ايمانداری څخه کار نه
اخستلو ته خيانت وايي، مثلاً د امانت خيانت کول دپټې خبرې افشاء کول دعامو
مسلمانانو، دوخت امامانو اوخپلو گډو ټولنيزو ښيگڼو په خلاف عمل کول، په
ورسپارل شوی وظيفو کې غفلت کول په زړه کې ديوشی ساتل په خوله بل څه ويل
دالله تعالی او درسول الله صلی الله عليه وسلم له اوامرو اونواهيو څخه سر غړول،

ددین او ملت دمصالحو سره ټګي کول، داسلام دښمنانو سره پټه یا څرګنده مرسته کول او دمسلمانانو اسرار دښمن ته ورل دا ټول خیانتونه دي. اوټول یو شان ممنوع دي لکه چه فرمایي: ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَخُونُواْ اللّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُواْ أَمَانَاتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ))، (سورة انفال)، **ترجمه**: اې مؤمنانو! مه کوئ خیانت له الله تعالی سره او له رسول دالله تعالی سره اومه کوئ خیانت تاسې په اماناتو خپلو کې حال دا چه تاسې پوهیږئ چه دامانت ساتل واجب دي، دیوبل آیت مضمون دې چه. معلوم دي الله تعالی ته خیانت دسترګو او هغه نیت چه پټوي یي په سینو دزړونو کې. همدارنګه دالله تعالی په فطري قوانینو کې یولوئ قانون عدل دې، دعدل یوازیني نښه داده چه کوم شي دچا وي باید دهغه شي حقیقي خاوند ته وسپارل شي. اوتول کې کمي زیاتي دغریبانو خلکو په تاوان تماميږي. اوقرآن کریم پدې حقله داسې ټینګار کړیدې لکه چه فرمایي: ((وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ + الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُواْ عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ + وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ))، **ترجمه**: ((افسوس اوهلاکت یا کنده ددوزخ ده کمونکیو لره ((په پیمانه اوتول کې)) هغه ((کسان)) هر کله چه ځان ته اخلي پیمانه له خلکونه پوره یي اخلي او که پیمانه کوي خلکوته یایي تلي هغوئ ته نو کمې کوي))، یعنې پوره یي نه ورکوي.

اودریم حب الذات دې: چه ددینه حسد، کینه، تکبر، لويي فخر، قهر، ظلم او غضب وغیره پیدا کیږي، د بل چاپه خصوص کې دښمني اوعداوت ساتلو ته بغض او کینه وايي او حاسد په دُنیا کې دفکري تشویش او آخرت کې دذلت ضيقت سره مخامخ وي، او حسد دنیکو لپاره اوردې، لکه چه په یو حدیث شریف کې راغلی چه: ((إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ))، (رواه ابوداؤد). **ترجمه**: ((ځان وساتئ دحسدنه ځکه چه حسد نیکی داسې سوزي لکه څنګه چه اور لرګی سوزي))، او دخپل ځان په مقابل کې دنورو خلکو سپك ګڼلو اوحقیرشمیرلو ته فخر اوتکبر وایي اوله ټولونه اول یي شیطان لعین تباه کړیدې چه آدم علیه الصلوٰة والسلام ته یي سجده ونکړه. په یو حدیث شریف کې دي چه: ((لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ قَالَ رَجُلٌ إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنَةً

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

قَالَ إِنَّ اللّٰهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ الْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ»، «رواه مسلم». ترجمه «دکوم سړي په زړه کې چه ذره قدرې هم تکبر وی هغه به جنت ته نه ځی ، یوسړي پوښتنه وکړه چه که یوسړې غواړی چه دهغه جامې اوپیزار دې ښه وی «نو داهم تکبر دې» داسې سړې به دجنت څخه محروم وی؟ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل نه دا تکبر ندې، الله تعالی پاکیزه دې اوصفایی اوپاکیزگی خوښوی، دتکبر معنی دا الله تعالی دبندگی حق نه ادا کول اودهغه بندگانوته په سپک نظر کتل دی .

خلاصه دا چه : دا ډیر طولانی بحث دې، حال ماته اجازه نه راکوی زه پدې اکتفاء کوم او دټولو رزائلو مرجع نفس دې، دنفس مخالفت سره جنت دې. «الله پاك دې مونږ نیک خلك کړی، آمین یارب العالمین».

# دحکمت ملغلرې

## «دخدایی خلکو خبرې»

محترمو مسلمانانو : دابوالقاسم جنیدی رحمة الله علیه نه ډیرو خلکو نقل کړیدی چه دنیکانو اوصالحانو قیصې اوخبرې لوستل او اوریدل څنگه دی؟ هغوئ جواب ورکړو چه ددوئ مثال دالله تعالی دلښکر په شان دې چه دمریدانو حالتونه پرې صحیح کیږی او دعارفانو اسرار پرې ژوندی کیږی، دعاشقانو «حقیقی» په زړونو کې ذوق او شوق پیداکیږی ، دشوق مندو دسترگونه اوښکې پرې جاری کیږی، نوچا ورته وویل چه پدې څه دلیل شته؟ هغوورته دا آیت کریمه ولوستلو: «وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ»، یعنی الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ارشاد فرمایی چه : مونږ درسولانو دخبرو نه تاته څکه بیانوو چه ستازړه ته پرې مونږ قرار اوتسکین ورکړو.

اودنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دې چه دنیکو ذکر کوئ په تاسو به

برکت نازلیږي، اوفرمایي چه دنیکو دذکر په وخت کې رحمت نازلیږي، امام غزالي رحمة الله علیه فرمایي چه کوم عالم دُنیا دار وي هغه دحالاتو په اعتبار سره دجاهل نه ډیر سپك دې اودعذاب په اعتبار سره به زیات په سختۍ کې مبتلاء شي، اوکامیاب دالله تعالی په نزد مُقرب علماء دآخرت دي چه ددوئ څو نښې دي.

۱ـ اوله نښه یې داده چه په پخپل علم سره دنیانه گټي، دعالم کم نه کم درجه داده په دنیا دحقارت اوسپکتوب اوخیرنوالی اودختمیدو احساس ورته کیږي دآخرت عظمت دهغه همیشه پاتې کیدلو دهغې دنعمتونو دښه والي ورته احساس وي اوداخبره په ښه شان پیژني چه دنیا او آخرت دواړه متضادین دي ددوو ښو په شان چه یوه خوشحاله کوي بله به خفه وي چه عکس یې همدغسې دې، او یا دتلې په شان چه یوه چاړې درنده شي بله سپکه شي همدغسې عکس هم دې.

څوك چه ددنیا دحقارت، خیرنوالی، زرختمیدو احساس نکوي چه ددنیا مزې دداړو جهانونو دتکلیفونو سره تړلی ندي هغه فاسد العقل «لیوني» دې، مشاهدې اوتجربې پدې گواه دي چه ددنیا له مزو سره ددنیا تکلیفونه شته اود آخرت خوامخاشته پس په چاکې چه عقل نشته هغه عالم څنگ کیدې شي بلکه څوك چه دآخرت عظمت او همیشه پاتې کیدو لره نه پیژني هغه خو کافر دې، داسې کس څنگه عالم کیدې شي چاته چه ایمان هم نصیب نوي او ددواړو شیانو د جمعه کیدلو په طمع کې داسې دې چه دغه کس دتمامو انبیاؤ علیهم السلام دشریعت نه ناواقف دې او چه څوك دټولو شیانو پیژندلو با وجود دنیا لره ترجیح ورکوي هغه دشیطان قیدی دې چاله چه شهوتونو هلاك کړیدې او بدبختي پده غالبه ده او دچاچه دغه حالت وي هغ په علماؤ کې څرنگه شمیرلې شي.

۲ـ اودویمه نښه یې داده چه: په قول اوفعل دوینا اوعمل کې تعارض «مقابله نوي لکه ارشاد دې چه: «كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ»، دالله تعالی په نزد داخبره ډیره مبغوضه ده چه داسې خبره ووایي چه کوي یې نه.

۳ـ دریمه نښه: یې داده چه داسې علومو کې مشغول وي کوم چه آخرت کې په

کار راتلونکی وی دنیکی کارونو کې رغبت پیدا کوونکی وی دداسې علومو څخه
ځان ساتی دکومو چه په آخرت کې هیڅ فائده نشته او یایی فائده کمه وی، مونږ خلک
دناپوهتیا په وجه هغه ته هم علم وایو په کوم چه صرف دنیا ګټل مقصود وی او دا
جهل مرکب دي او چه داسې تن ځان تعلیم یافته بولی او بیا ددینی علومو اهتمام
نکوی چاچه هیڅ نه وی لوستلی هغوئ خو کوشش کوی پوښتنه کوی ددینی مسائلو
مګر چه څوك خپل ځان دجهالت باوجود عالم شماری دغه ډیر په نقصان کې دی.

۴_ اوڅلورمه نښه : دعلماء آخرت داده چه خوراك څښاك اولباس کې میانه روی
اختیارکړی ددوئ په زیب اوزینت پسې نه ګرځی او دبزرګانو طرز اختیار کړی او دې
شیانو ته چه څومره دچا میلان کمیږی هغومره به الله تعالی ته نزدیکت زیاتیږی
اوعلماء آخرت کې به هغومره دده درجه اوچتیږی.

۵_ اوپنځمه نښه دعلماء آخرت داده چه : بادشاهانو او حاکمانو نه لرې اوسی
((بی ضرورته)) دوئ ته هرګزنه ورځی بلکه هغوئ که پخپله هم راشی نو ملاقات دې
ورسره کم ساتی ځکه چه دوئ سره راش درشه کې ددوئ خوشحالی اورضامندی
دتکلیف څخه خالی نه وی دا خلك اکثر دظلم اوناجائزو کارونو کوونکی وی په هغوی
انکار کول ضروری او ددوئ دظلم دظهور په وخت کې تیښته کول ضروری وی او په
هغې چپوالې په دین کې مداهنت دې او ددوئ دخوشحالی لپاره تعریف کول وشی نو
دا ښکاره دروغ دی کچیرې ددوئ مال طرفته دطبعیت میلان وشی او طمع یی وشوه
نو دا ناجائزه ده په هرحال کې ددوئ سره اختلاط ((ګډون)) ډیرو خرابیو کُنجی ده.

۶_ شپږمه نښه دعلماء آخرت داده چه دفتوی په ورکولو کې تلوار ((بیړه)) نکوی،
په مسئله ښودلو کې ډیر احتیاط کوی حتی الوسع که بل څوك پوهه عالم موجود وی
نو دهغه په حواله دې کړی، ابوحفص نیشاپوری رحمة الله علیه وایی چه عالم هغه دې
چه دمسئلې په وخت ددینه ویریږی چه صبا په قیامت کې به ددې جواب ورکول وی چه
چیرته نه دې ښودلې ده.

۷_ اوومه نښه دعلماء آخرت داده چه : دباطنی علم یعنې دسلوك اهتمام ډیر
زیات وي دخپل باطن اصلاح او دزړه په اصلاح کې زیات کوشش کوونکی وی چه دا

په ظاهري علومو کې هم دترقي ذريعه ده

۸_ اتمه نښه داده چه : دده يقين او ايمان په الله تعالى زيات وى او ددې ورسره په دې زيات اهتمام وى.

دنبى كريم صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارك دې چه يقين زده كړئ يعنې ديقين والاوو سره كيني دهغوئ تابعدارى كوئ ددې په بركت به ستاسې يقين پوخ شى او درزق ذموار الله تعالى دې پدې يقين كولو سره حرص او طمع ختميږى او په نيكى دثواب اُميد لكه دخوراك، ځښاك په وجه مړيدل او په گناه دعذاب يقين لكه مار چيچلو سره زهر ختلو يقين وى.

۹_ نهمه نښه داده چه : دده دهريو حركت او سكون «كړو وړو» نه دالله تعالى ويره معلوميږى دالله تعالى هيبت يې داعمالو، اقوالو وغيره څخه ظاهريږى دسكون، وقار، مسكنت، عاجزى، تواضع دده طبعيت جوړ شوې وى، عبث وينا بې فائدې خبرې او په تكلف سره خبرو كولو نه ځان ساتى چه ذا شيان دفخر او لويى نښې دى، ديو حديث شريف مضمون دې چه چا پوښتنه وكړه چه تړلونه لوئ عالم څوك دې؟ نبى اكرم صلى الله عليه وسلم اوفرمايل : څوك چه دټولونه زيات دالله تعالى نه ويريدونكې وى، چا پوښتنه وكړه چه مونږ كومو خلكو سره زياته خپله ناسته ساتو؟ نبى اكرم صلى الله عليه وسلم اوفرمايل چه : دچا په شكل ليدلو سره دالله تعالى ياد تازه كيږى.

۱۰_ لسمه نښه داده چه : دهغه زيات اهتمام هغې مسئلو سره وى كومې چه داعمالو سره تعلق لرى جواز او عدم جواز مثلاً پدې سره لمونځ صحيح كيږى، پدې سره ماتيږى، مسواك وهل دومره فضيلت لرى وغيره، دداسې علومو څخه بحث كم كوى چه صرف دماغى تفريحات «دماغزو وسله صفا» وى ځكه ددې بله فائده نشته بغير ددې نه چه خلك يې محقق او حكيم او فلاسفر وگڼى.

۱۱_ يوولسمه نښه داده چه : په علومو كې په بصيرت «دزړه په سترگو» سره نظر كوونكى وى صرف دخلكو په تقليد او اتباع كې دهغې منونكى نه وى جوړ شوى، اصل اتباع دخوږ نبى صلى الله عليه وسلم او دهغه دصحابه كرامو رضى الله تعالى عنهم اجمعين ده، نو دنبى كريم صلى الله عليه وسلم اقوال او افعال جه ځ كونو كې

اودهغې په غور او فکرکې ډير زيات اهتمام کوی،
د ډیرو خلکو جمع کیدل په یو امر څه اصل ندې بلکه اتباع دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم اصل دې او دیته کتل دی چه اصحاب کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین څه معمول او طريقه وه او پدې وجه ددغې حضراتو دمعمولاتو او دحالاتو لټون اوتلاش او په هغې کې مشغولیدل ضروری دی . دحضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله تعالی عنه ارشاد دې چه تاسو خلك په داسې زمانه کې يئ چه پدې وخت کې خواهشات دعلم تابع دی لیکن عنقریب ((زر)) یوه داسې زمانه راتلونکې ده چه علم به دخواهشاتو تابع شی، یعنې کوم شيان يی چه زړه غواړی هم هغه به دعلومو نه ثابتولې شی، دغه دولس نښې په لنډه توگه ذکر شوې کومې چه علامه غزالی رحمه الله په تفصیل سره ذکر کړیدی، پدې وجه علماؤ ته دمحاسبې دقیامت ورځ چه ډيره دوحشت ورځ ده وریادوی او دغه دنیا کې ځان سره محاسبه وکړی چه څومره يی اجر وی هغومره يی عذاب هم زيات دې، الله تعالی دې مونږ خدا پرست علماء جوړکړی او دقیامت سختی نه مو دې محفوظ کړی، آمین.

دغه څو دعلماء کرامو لپاره څو نصائح وو، نو اوس به دطلباء عظامو لپاره څو نصائح ذکر کړو، علامه صدیق احمد رحمه الله فرمایی چه متعلمین حضرات باید لسو خبروته متوجه وی:

۱ـ اول دا چه صحیح نیت یعنې دعلم دحصول څخه صرف دالله تعالی رضاء او خپل آخرت دروست کول وی او کوم فاسد نیت او دنیاوی اغراض نه وی، دحدیث شریف مضمون دې چه دعمل بدله په نیت پورې موقوفه ده که نیت صحیح وی اجر ورکول کیږي او که فاسد وی نو بدله ئي هیڅ نشته، اجر او ثواب نشته، دحضرت ابن عمررضی الله تعالی عنه څخه روایت دې چه څوك علم دالله تعالی نه علاوه دبل څه لپاره حاصل کړی هغه به جهنم کې ځانته ځای تیارکړو ((جمع الفوائد)) اوحضرت عبدالله بن مبارك رحمة الله علیه فرمایی چه علم نه مخکې حسن نیت بیا فهم بیا عمل بیا حفظ اودینه وروسته اشاعت او ترویج ته ضرورت دې.

۲ـ دویم دا چه طالب العلم به خپل نفس درزائلو عاداتو او خرابو صفاتو نه پاك
کوی لکه دروغ، غیبت ، بهتان ، سرقه ، فضول گفتگو او خرابو مجالسو کې شرکت
نه به همیشه ځان ساتی ځکه علم دزړه عبادت دې دغه یو باطنی شې دې لکه لمونځ
دظاهری اعضاؤ عبادت دې بغیر دطهارت څخه نه صحیح کیږی، همدا رنگه علم چه
باطنی عبادت دې بغیر دطهارت باطنی څخه نه حاصلیږی ((احیاء العلوم)).

۳ـ دریم دا چه داستاذانو به ادب او احترام کوی : دحضرت علی رضی الله تعالی
عنه قول دې چه زه دچا څخه یو تکې لفظ زده کړم هغه زما مولی دې که آزاده وی مې
او که غلام مې پریږدی، امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمایی چه استاذ ته په نوم
آوازمه کوه هغه ته په کنیت آواز کوه ((تهذیب))، او حضرت حسین رضی الله تعالی
خپل صاحبزاده ته نصیحت کولو چه د استاذ په صحبت کې دزیاتی وینا نه دزیات زده
کولو کوشش کوه د استاذ داولاد او دهغه دمتعلقینو هم عزت پکار دې کوم شخص
چه استاذ په تکلیف کوی هغه دعلم دبرکت څخه محروم وی.

۴ـ څلورم دا چه داستاذ خدمت دفلاح دارین ذریعه ده ، حضرت معن بن عیسی
چه دامام مالك رحمة الله علیه دشاگرانو څخه دې دخپلی زمانې ستر محقق او مفتی
هم وو، دغه مقام یې دخپل استاذ دخدمت په بدله کې موندلې دې، دشیخ الاسلام
سید حسین احمد ((مدنی)) رحمه الله په حالاتو کې راځی چه د استاذ شیخ الهند
حضرت مولانا محمود الحسن رحمة الله علیه میلمانه ((مهمان)) ډیرزیات وو او بیت
الخلاء یو وه نو حضرت مدنی صاحب به هره شپه بیت الخلاء صفا کوله چه دورځې به
بالکل صافه ستره وه.

۵ـ پنځم دا چه ددینی کتابونو به احترام کوی، لکه په اودس سره به یې مسه کوی او
راخلی به یې کوی ځکه علم نور دې او اودس هم نور دې فلهذا دعلم نور داودس دنور
څخه زیاتیږی او دکتابونو طرفته به خپې نه اوږدوی او په کتابونو دپاسه به څه نه ږدی

۶ـ شپږم دا چه دخپلو ملگروسره به همدردی کوی ، امام غزالی رحمة الله علیه
فرمایلی دی چه دکوم علم څخه تکبر پیدا کیږی هغه علم له جهل نه بد تر دې.

۷ـ اووم دا چه دعلم په زده کړه کې به محنت اوکوشش کوی، دیو بزرگ مقوله ده

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

چه : «العلم لايعطيك بعضه حتى تعطيه كلك» يعنې علم يو حيصه نه دركوی تر څو چه ته ټول ځان ورته حواله نکړې.

په كوشش كې ديو څو امورو لحاظ ضرور دې : مطالعه چه ددې نه سيوا بل شی سره استعداد او ترقی په علم كې نه راځی او بل سبق په پابندی سره ويل چه حتی الوسع قضاء پكې رانشی، دحضرت امام ابويوسف رحمه الله په مناقبو كې يی ليكلی دی چه «مات ابن لی فلم احفر جهازه ولادفنه وتركته علی جيرانی واقربائی مخافة ان يفوتنی من ابی حنيفة رحمه الله شئ ولاتذهب حسرته عنی»، يعنې ځما ځوئ وفات شوې وو ، زه دهغه تدفين، تكفين، اوجنازې ته حاضر نه شوم، هغه مې خپلو رشته دارانو او ګاونډيانو ته وسپارل، له وجهې د ويرې ددې خبرې نه چه كومه حصه دعلم دامام ابو حنيفة رحمه الله به را څخه تيره او پاتې شی چه دغه حسرت او افسوس به بالكل نه ختميږی اوبل تكرار اومذاكره ده ،امام زهری رحمة الله عليه فرمايلی دی چه دمذاكرې نه كولو په سبب نسيان راځی او علم ضائع كيږی.

۸_ دا چه دعلم په حصول كې حرص او سفر كول دی سلفو به ديو حديث شريف لپاره په مياشتو مياشتو سفرونه كول، دامام شعبی رحمة الله عليه قول دې چه كه څوك دشام اقصاء څخه ديمن آخر پورې سفر وكړی او پدې سفر كې دعلم يوه خبره زده كړی زما په نزد دده سفر ضائع ندې، دابن ابی غسان مقوله ده چه سړې هغه وخته پورې عالم وی چه طالب العلم وی اوهغه وخت جاهل وی چه طالب علمی ته اجازه (رخصت) وركړی ځكه چه علم خونه ختميږی.

۹_ نهمه دا چه په طالب العلم كې ثبات قدمی او هرقسم تكليفونه برداشت كول وی، داصحاب صفه حالات خو څرګند دی چه دومره به وږی وو چه څه به يی موندل نه او چه نبی اكرم صلی الله عليه وسلم به څه پيدا كړل بيا به يی په دوئ تقسيم كړل هغوئ دنبی اكرم صلی الله عليه وسلم څخه علم حاصل كړو او تمام عالم يی ددينه سيراب كړو، او امام طبرانی رحمة الله عليه دعلم حديث په زده كولو كې ديرش كاله په پوزی خوب وكړو بستره يی نه وه ، دامام مالك رحمة الله عليه قول دی چه ترهغه پورې علم نه حاصليږی ترڅوچه دفقر لذت ونه څكی.

۱۰۔ لسم دا چه دپیر کامل سره اصلاحی تعلق قائم کول ، لکه چه مولانا روم صاحب چه مشهور عالم وو اوبیایی دصوفی شمس تبریزی څخه مستفیض شو. فرمایی:

مولوی هرگزنه شد مولای روم　　　تا غلام شمس تبریزی نه شد

یعنې دتزکیه نفس لپاره سلطان الطرق تصوف دې ، الله پاك دې مونږ هم حقیقی صوفیان جوړکړی.

۱۱۔ یوولسم دا هم ضروری ده چه طالب العلم باید دطالب علمی په وخت کې ډیر تعلقات نه پیدا کوی ځکه چه ددې په وجه په سبق کې نقصان راځی ، او اشرف علی تهانوی حکیم الامت صاحب فرمایلې دی چه نن صبا طلباء دا خیال کوی چه ددرس څخه فارغ شم بیابه صحیح عمل شروع کوم دغه خیال شیطانی وسوسه ده چه په ویلو کې دې عمل پرې ونکړو په آینده کې عمل کول خو ډیر مشکل دی او علم په عمل باندې زده کیږی.

اوهمدارنگه دمتقی ، تابع سنت ، متشرع استاذ څخه سبق ویل پکار دی ، ابن سیرین رحمه الله فرمایی ((فَلْینظر ممن تأخذ دینکم)) ځکه چه هغه صحبت کې تاثیر وی لدې څخه وروسته به دعارفانو اقوالو ته ځیر شو.

حضرت بایزید بسطامی رحمة الله علیه ته څلور عارفان راغله اوده ته یی دگبین یوه پیاله پیش کړه چه یو ویخته پکې پروت وو ، اولنی عارف وویل عقل دپیالې نه زیات صفا دې او علم دگبین نه زیات خوږ دې ، او صدق دویښتنه نه زیات باریك دې ، دریم وویل : جنت دپیالې نه صفا دې اونعمتونه یی دگبین نه زیات خواږه دی او پُل صراط دویخته نه زیات باریك دې ، دریم وویل : د ایماندارو زړه دپیالې نه زیات صفا دې اوکلام الله دگبین نه زیات خوږ دې او پرهیزگاری دویختـه نه زیاتـه باریکه ده ، اوبایزید رحمة الله علیه وویل چه معرفت دپیالې نه زیات صفا دې ، اودالله تعالی محبت دگبین نه زیات خوږ دې او دهغه ویره دویخته نه زیاته باریکه ده .

عبدالله بن مبارك رحمة الله علیه فرمایلی دی ، ادب نوم دې د نفس شناسی دقلب معالجه قرب الهی او خلکونه کناره کش کیدل دی.

دتواضع مفهوم دادي چه انسان داميرانو سره غرور او دفقيرانو سره عجز سره پيش راشي.

اوحضرت ابو همزه بغدادي رحمة الله عليه فرمايلي دی: چه دريښتني صوفي شناخت دادي چه هغه عزت نه پس ذلت امارت نه پس فقر او شهوت نه پس گمنامي اختيار کړی اوځوك چه ددې برعکس وی هغه دروغجن صوفي دي، اوبی بی رابعه بصری رحمة الله عليها فرمايي: معرفت دتوبه الى الله نوم دي دعارف شناخت دادې چه هغه الله تعالى نه پاکيزه زړه طلب کړی او هرکله چه ورته عطا کړی نو هغه وخت هغه الله تعالى ته حواله کړی چه دحجاباتو حفاظت کی محفوظ کيدو سره دمخلوق دنظر نه پټ شي ابو حازم مکی رحمة الله عليه فرمايي ځوك چه د الله تعالى نه راضي وی، هغه د مخلوق نه بی نيازه وی.

امام جعفر رحمة الله عليه فرمايي دمؤمن تعريف دادي چه دخپل مولى اطاعت کې همه تن مشغول وی او دذکر الهی تعريف دادې چه هغه کې دمشغوليدلو نه پس ددنيا هرشې هير کړی ځکه چه دالله تعالى ذات دهرشی نعم البدل دې او صاحب کرامت هغه دي چه دخپل ذات دپاره دنفس سرکشی سره جنگ ته اماده شی ځکه چه نفس سره جنگ کول الله تعالى ته درسيدو سبب دی، او اوصاف مقبوليت کې يو وصف الهام هم دې کوم خلق چه دلائلو سره الهام بی بنياده گرځوی هغه بی دينه دی، اويحيى بن معاذ رحمة الله عليه فرمايي چه اولياء کرام په دريو خبرو اوپيژنئ، اول هغوئ چه په خالق بروسه لری، دويم مخلوق نه بی نيازه وی دريم الله تعالى يادوی.

اودرې قسمه خلق دانشمند دی: اول تارك الدنيا، دويم طالب العقبى، دريم دالله تعالى عاشق، او اطاعت دالله تعالى خزانه ده او دعا دهغې کُنجی ده، ابو حفص حداد رحمة الله عليه فرمايي: درويش هغه دې چه دډير عبادت باوجود هم دعجز اظهارکوی، او حمدون قصار رحمة الله عليه فرمايي: تواضع سره فکر حاصليږی اودتواضع مفهوم دادې چه هيڅوك دځان ځخه زيات ذليل متصور نکړی، او ابو اسحاق ابراهيم خواص رحمة الله عليه فرمايي چه انسان دعلم دزياتی سره عالم نه جوړيږی بلکه عالم هغه دې چه دخپل علم مطابق عمل پيدا کيدو سره په اتباع سنت کې سرنگون وی خواه دهغه علم هرڅومره لږ وی يا نوی. «الله تعالى دې مونږ په اهل الله او الهی علماؤ کې شمار کړی، آمين، ثم آمين»

# په اسلام کې تاریخي ورځ

## ((جمعة المبارك))

محترمو مسلمانانو : د جمعې ورځې ته جمعه ځکه وايي چه مسلمانان په هفته کې
یو وار په شریکه سره د جمعې دلمانځه لپاره په خپلو جماعتونو کې جمع کیږي او بله
وجه یې داده چه پدې ورځ کې ټول مخلوق جمعه شوې وو یعنې چه په کومو شپږو
ورځو کې چه الله پاك دا ځمکه او آسمانونه پیدا کړي وو شپږمه ورځ یې دا وه نو پدې
کې پیدایش تکمیل ته رسیدلې دې، او یا ددې وجهې نه چه د حضرت آدم علیه
السلام طینت پکې شویدې، او یا ددې وجهې نه چه ورځ دقیامت به پدې ورځ کې
قائمیږي، بعث او حشر به پکې کیږي، او د جاهلیت په زمانه کې ورته عَرُوبَه ویل کیده
او دجمعې دورځې عبادت ددې اُمت له خواصو څخه دي ځکه چه یهودو اجتهاد وکړو
چه دهفتې ورځ خالي او فارغه ده ځکه چه الله تعالی فارغ شوې وو دپیدایښت
دځمکې او آسمانونو نه نو مونږ به هم نن ورځ خپل عملونه پریږدو او د الله تعالی
عبادت به کوو.

او نصرانیانو دیکشنبې ورځ غوره کړې وه ځکه چه الله تعالی په پیدایش دځمکې
او آسمانونو باندې په همدې ورځ کې شروع کړیده نو دغه ورځ واجب الشکر ده چه
عبادت پکې وکړو، او زمونږ اُمت دجمعې دورځې په اختیارولو کې کامیاب شو ځکه
چه انسان الله تعالی دجمعې په ورځ پیدا کړیدې نو عبادت پدې کې زیات بهتر
او غوره او احق دې ځکه چه باقي ورځو کې الله تعالی هغه شیان پیدا کړل چه دانسان
لپاره نافع وو او د جمعې په ورځ کې یې پخپله انسان موجود کړو، نو شکر دنعمت په
دې وجه باندې راغلو په ورځ دجمعې کې، لکه چه د یو حدیث شریف ټکړه ده :
«فَاخْتَلَفُوْ فِيْهِ فَهَدَانَا اللهُ»، هغوئ پدې کې اختلاف وکړو او مونږ ته الله تعالی پدې
باب کې هدایت وکړو.

پس دجمعې دورځې لمونځ فرض عین دې او منکر یې کافر دې او تارك یې بغیر له

عذرنه فاسق دي، الله تعالی فرمایي: ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ))، (سورة جمعه)، **ترجمه**: ای مؤمنانو کله چه دورځی دجمعې دلمانځه لپاره آذان وکړې شی نو ځغلی او کوشش وکړئ دپاره دذکر دالله تعالی (دجمعې لمانځه ته) او پرېږدئ خرڅول او اخستل)).

دجمعې دلمانځه دوجود شرائط دادی: اسلام، عقل، بلوغ، ذکورة ((نارینه والی))، حرّیت ((آزادوالي))صحت، اقامت، په کومو کسانو کې چه دجمعې دلمانځه شرائط موجود نوی اودجمعې لمونځ اداء کړی نو دماسپخین لمونځ یی دذمې څخه ساقط او دجمعې لمونځ یی صحیح شو.

اودجمعې د لمانځه د اداء کولو شرطونه دادی: ۱_ مصر(ښار) داسې ځای چه امیر اوقاضی ولری او احکام پکې جاری کیږی اوحدود پکې قائمیږی، په بل روایت کې مصر داسې منطقی ته ویل کیږی چه دهغه ځای خلق سره ټول شی او د هغې منطقی په لوئ مسجد کې سره ځای نشی.

۲_ جماعت: له امام څخه پرته دمقتدیانو شمیربه له دریو کسانو څخه کم نوی

۳_ اذن عام ((عام اجازت)) دجمعې لمونځ باید پداسې ځای کې اداء شی چه هلته دټولو مسلمانانو لپاره دورتګ اجازه وی کوم بندیز او مانع پکی نه وی.

۴_ وخت: دجمعې لمونځ دجمعې په ورځ دماسپخین په وخت کې اداء کیږی بغیر له دې وخت څخه په بل وخت کې نه اداء کیږی.

۵_ خطبه: دجمعې دلمانځه څخه دمخه خطبه ویلی کیږی، خطبه ویل واجب دی، اومسنونه طریقه یی داسې ده: امام به دمنبر دپاسه کینی که دا منطقه په زوز سره فتحه شوې وی نو اسلحه به ور سره وی اوکه په صلحه فتحه شوې وی نو ((امسا)) عصا به ورسره وی، اومؤذن به آذان مخامخ امام ته وکړی بیابه امام په ولاړه دوه خطبې ووایی چه ددې دواړو خطبو په مینځ کې به لږ څه کینی او حاضرین به دخطبو د اوریدلو په غرض په ډیره توجه چپ ناست وی او په بل هیڅ عمل به ځان نه مشغولوی کله چه خطبه تمامه شی اقامت به وویل شی او امام به په جماعت سره دوه رکعته

لمونځ اداء کړي.

دیادونې وړده چه دلمانځه څخه مخکې څلور رکعته سُنت او دفرضو څخه وروسته څلور رکعته بیا دوه رکعته سُنت دی که څوك په آخری قعده کې امام پسې ورسیدو نو جمعه یې بیاموندله دماسپخین لمونځ ترینه ساقطیږي.

اوپله ضروری خبره داده چه خطبه بغیر دعربی ژبې نه ویل مکروه تحریمی اویا جائز ندی پدې باندې دعلماء هند فتوی ده دهغې عبارت داسې دې: «الجواب: حامداً ومصلیاً خطبة الجمعة لابد ان تکون باللغة العربیة وهی ثابتة بالتوارث والتواتر شرقًا وغربًا من لدن رسول الله صلی الله علیه وسلم وخلفائه الراشدین المهدیّین رضی الله تعالی عنهم اجمعین ولم یثبت عن احد منهم انه خطب بغیر العربیة مع انّ کثیراً ما کان السامعون لایفهمون تلك اللغة والائمة والخطباء کانوا قادرین علی ان یخطبوا بلغتهم وعلی الخطباء ان یذکروهم بلغتهم قبل خطبة الجمعة اوبعد الصلوة اوفی وقت آخر فقط والله سبحانه وتعالی اعلم، «حرره العبد محمود، مفتی دارالعلوم دیوبند الهند»».

اودجمعې ورځ بهترینه ورځ ده: دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دې چه: «قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ وَفِيهِ أُخْرِجَ مِنْهَا» «رواه مسلم»، **ترجمه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: دهغه ورځو څخه چه لمر پکې راخیژی دجمعې ورځ بهترینه ورځ ده. پدې ورځ کې حضرت آدم علیه السلام پیداکړې شویدې اوپدې ورځ جنت کې داخل کړې شویدې اوپدې ورځ دجنت څخه ویستل شویدې «دجنت نه ایستل اگر چه ظاهراً نعمت نه معلومیږي البته پدې لحاظ سره نعمت دې چه ددُنیا د آبادی ذریعه شوه او دخلافت الهی اودعدل دظهور یو سبب وگرځید»، اوقیامت به هم دجمعې په ورځ قائمیږي.

اوحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه فرمایی چه: «قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجُمُعَةِ لَسَاعَةً لاَ يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللَّهَ فِيهَا خَيْرًا إِلاَّ أَعْطَاهُ

إِيَّاهُ»، «متفق عليه»، **ترجمه**: «رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل: دجمعې په ورځ کې يو داسې ساعت دې که هغې کې مسلمان دنيکی «خير» دُعا وغواړي نو الله تعالى به هغه خيرورکړی»، او په فتح الباري کې يې دوه څلويښت قوله پدې ساعت کې ذکر کړيدی، اوابن المنير فرمايلی دی چه ددې ساعت ابهام په شان دليلة القدر دې چه انسان بايد هروخت په عبادت او دُعاء کې کوشش وکړی، څوك يې دمازديگر دلمانځه څخه وروسته بولی، څوك يې دخطبې په منځ کې څوك يې داقامت او آذان په مينځ کې بولی وغيره.

دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالى عنه څخه روايت دې «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوْ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ إِلاَّ وَقَاهُ اللَّهُ فِتْنَةَ الْقَبْرِ»، «رواه الترمذی واحمد»، **ترجمه**: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلی دی کوم مسلمان چه دجمعې په ورځ يا دجمعې په شپه وفات شی هغه دقبر دفتنې نه محفوظ دې:

اودجمعې په ورځ غسل کول سنت دی او مسواك وهل هم ډير فضيلت لری او صفا جامې دې واغوندی اوداسې خوشبويی دې ولگوی چه رنگ نلری، او دجمعې لمانځه ته پياده تلل ډير اجر لری په هرقدم ديو کال هومره ثواب ورکولې شی «ترمذی» اودجمعې په ورځ نوکونه پريکول اوحجامت کول هم مستحب دی خو وايی چه دلمانځه څخه وروسته افضل دې دروزد اودجمعې په ورځ سورت کهف لوستل ډير خاصيات لری يو داهم دې چه دفتنې څخه به بچ وی خصوصاً دفتنې ددجال څخه «ابوداؤد وغيره».

اودجمعې مانځه ته څومره وختې چه تللې شی هومره يې ثواب دې، په يو حديث شريف کې دی: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَقَفَتِ الْمَلاَئِكَةُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ يَكْتُبُونَ الأَوَّلَ فَالأَوَّلَ وَمَثَلُ الْمُهَجِّرِ كَمَثَلِ الَّذِي يُهْدِي بَدَنَةً ثُمَّ كَالَّذِي يُهْدِي بَقَرَةً ثُمَّ كَبْشًا ثُمَّ دَجَاجَةً ثُمَّ بَيْضَةً فَإِذَا خَرَجَ الإِمَامُ طَوَوْا صُحُفَهُمْ وَيَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ»، «متفق عليه» رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلی دی: دجمعې

په ورځ فرښتې دجماعت په دروازه کې دريږي او جماعت ته دراتلونکو حاضرې ليکي، يعنې کوم خلق چه مخکې راځي هغوئ مخکې ليکي او کوم چه وروسته راځي هغوئ وروسته ليکي کوم خلك چه دجمعې لمونځ ته دلمر په ګرمې او حرارت ((دهوپ)) کې مخکې لاړو، دهغه مثال دهغه سړي په شان دې چه مکې ته اوښ قرباني دپاره ولېږي او کوم سړې چه دجمعې لمونځ ته په دويم نمبر راشي دهغه سړي مثال دهغه سړي په شان دې چه مکې ته دقرباني لپاره غوا ولېږي او کوم سړې چه وروسته راشي هغه دهغه سړي په شان دې چه ګډ ولېږي بيا ددينه وروسته چه څوك راشي هغه دهغه سړي په شان دې چه چرګه ولېږي او څوك چه ددينه وروسته راشي هغه داسې دې لکه چه هګۍ ((هانډه)) ولېږي بيا چه امام دخطبې لپاره پاسيږي نو فرښتې دخپلو کاغونو دفتر بند کړي او خطبه اوري. يعنې دينه مراد يوسړې ندې بلکه اول ساعت کې چه څومره کسان داخل شي داوښ پشان ثواب يې دې، همدارنګه دويم اودريم وغيره ساعتونو کې

او دجمعې په ورځ په کثرت سره درود شريف لوستل هم لوئ اجر لري، دحضرت اوس بن اوس رضي الله تعالى عنه روايت دې فرمايي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((إِنَّ مِنْ أَفْضَلِ أَيَّامِكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَأَكْثِرُوا عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاةِ فِيهِ فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ مَعْرُوضَةٌ عَلَيَّ))، ((رواه ابوداؤد)). **ترجمه**: ((په تحقيق سره بهتره ورځ ستاسو دورځو نه ورځ دجمعې ده، ډير زيات ووايئ په ما باندې درود پدې ورځ کې ځکه چه ستاسو درود ماته وړاندې کيږي))، دنسائي په يو روايت کې دي چه: ((قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَكَيْفَ تُعْرَضُ صَلَاتُنَا عَلَيْكَ وَقَدْ أَرَمْتَ أَيْ يَقُولُونَ قَدْ بَلِيتَ قَالَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَنْ تَأْكُلَ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ))، ((يعنې صحابه کرامو عرض وکړو چه يارسول الله زمونږ درود به ستاسو مخکې څنګه پيش کړې شي حالانکه ستاسې هډوکي به وراسته شوي وي، رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل: الله تعالى په ځمکه د انبياؤ عليهم السلام جسمونه حرام کړيدي)) يعنې ځمکه په هغې کې هيڅ تصرف نشي کولې. دابن ماجه په يو روايت کې دي چه ((فَنَبِيُّ اللهِ حَيٌّ يُرْزَقُ))

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

يعنى دالله تعالى نبيان ژوندى دى اوهغوئ ته رزق وركولې شى، دجمعې دلمونځ اهميت په ډيرو احاديثو كې ذكر شويدې، او پريښودونكې يې سخت غندلې شويدې. په يوحديث شريف كې دى: «مَنْ تَرَكَ ثَلَاثَ جُمَعٍ تَهَاوُنًا بِهَا طَبَعَ اللّٰهُ عَلَى قَلْبِهِ». (رواه ابوداؤد)، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دى: كوم سړې چه دسستى له كبله درې جمعې لمونځ پريږدى الله تعالى به دهغه په زړه مُهر ولګوى.

اودجمعې دلمونځ دفوت كيدلو كفاره په يوحديث شريف كې بيان شويده: «مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ فَلْيَتَصَدَّقْ بِدِينَارٍ فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَبِنِصْفِ دِينَارٍ» (رواه ابوداؤد). **ترجمه**: «رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دى چاچه بغير دمعقول عذر څخه دجمعې لمونځ ترك كړو نو هغه ته پكار دى چه يو دينار صدقه كړى كه دومره ممكنه نوى نو نيم دينار دې صدقه كړى». په يوبل حديث شريف كې راځى چه «قَالَ مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ ضَرُورَةٍ كُتِبَ مُنَافِقًا فِيْ كِتَابٍ لَا يُمْحَى وَلَا يُبَدَّلُ وَفِيْ بَعْضِ الرِّوَايَاتِ ثَلَاثًا». (رواه الشافعي)، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دى كوم سړى چه بغير دوجهى څخه دجمعې لمونځ ترك كړلو نو هغه به په هغه كتاب كى منافق ليكلى شى چه دهغې تحرير ړنګيدې «ورانيدې» نى اونه تبديل كيدې شى، اوپه بعضې رواياتو كې دا لفظ درې وارې درج دى، يعنې درې جمعې، په يوبل حديث شريف كې دى چه «مَنْ تَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اتَّخَذَ جِسْرًا إِلَى جَهَنَّمَ». (ترمذى)، **ترجمه**: «رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل: كوم سړې چه دجمعې په ورځ دخلقو په ګردنونو وردانګى «قدمونه اخلى» هغه ته به جهنم طرفته پُل جوړولې شى»، يعنى څينى خلق مخكې صف ته ځان رسوى اودخلقو په اوږوباندې اوړى دغه ستره ګناه ده پكار دى چه ځاى په ځاى كينى. په يوبل حديث شريف كې دى چه: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَكَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَهُوَ كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا وَالَّذِي يَقُولُ لَهُ أَنْصِتْ لَيْسَ لَهُ جُمُعَةٌ». (رواه احمد)، **ترجمه**: «رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل: كوم سړى چه دخطبې په وخت كې خبرې وكړې نو دغه سړې دهغه خر په شان

دي چه هغه کتابونه باروي او کوم سړي چه چاته وو ايي چه خاموش شه دهغه هم جمعه نشته يعني ثواب يې نشته»، اونبي کريم صلی الله عليه وسلم به دجمعې په ورځ دجمعې په لمانځه کې کله سورت جمعه اوسورت منافقون اوکله سورت اعلى او سورت غاشيه لوسته او دجمعې په ورځ به يې دسحر په لمانځه کې سورت «الم» سجده اوسورت (دهر) لوسته.

نو که څوك کله کله داستحباب په طور دارنګي لولي ډيره ښه خبره ده خو دوام دې پرې نکوي چه لازم يې ونه شماري يا عوام يې واجب ونه ګڼي ، په يوحديث شريف کې دي چه: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْحِبْوَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالاِمَـامُ يَخْطُـبُ»، «رواه الترمذي»، **ترجمه** : «حضرت معاذبن انس رضی الله تعالى فرمايي : چه نبي اکرم صلی الله عليه وسلم دجمعې په ورځ چه امام خطبه لولي دواړه ګونډې «زنګنونه» خيتې سره دجنګولونه منع فرمايلی دی »، يعني پدې حالت کې سړی ته خوب راځي ، په شامي کې دی چه دجمعې په ورځ ارواح راجمعه کيږي دجمعې په ورځ مړې دعذاب قبر نه بچ کيږي اوڅوك چه دجمعې په ورځ يا دجمعې په شپه مړشي هغه دقبر دفتنې او دعذاب نه په امن کيږي دجمعې په ورځ ددوزخ نه تيريږي اودجمعې په ورځ به جنتيان دخپل رب ديدار کوي، «الله تعالى دې مونږ ته هم خپل ديدار نصيب کړي، آمين يا رب العالمين».

# د يو والي پيغام «وړوکې اختر»

محترمومسلمانانو : داسلام په زياترو چارو کې ټولنيز رازونه او پيغامونه پراته دي دا پدې چه دانسانيت دين دی، خاصوقبيلو او نسلو او ژبو اومنطقو او درجو لپاره ندې راغلې اوپه عامو انساني مسائلو کې په «يَا أَيُّهَا النَّاسُ» او په عامو اسلامي مسائلو کې په «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا»سره خطاب کوي، درمضان المبارك دمياشتې روژه داسلامي عباداتو په لړ کې ددغې اِدّعا څرګنده بيلګه ده په دغه مياشت کې دټولې نړۍ مسلمانان که تور پوستي وي که سپين پوستي وي ، که عرب وي که عجم، غنی

وی که مسکین ټول دالهی حکم په اساس روژه نیسی داسې نده چه ځینی خلق تربنه مستثناء وی بلکه درمضان المبارك دمیاشتې له پای ته رسیدو وروسته دنړی ټول مسلمانان اختر کوی دالله تعالی دغه سترې ازموینې څخه په بریالیتوب سره وتل دخوښیو په څپو کې لمانځی. داختر لمونځ اداء کوی او یوبل ته دمینې او وروری په توده ولوله مبارکی ورکوی او دا هغه بختور وخت دې چه الله تعالی له څه توپیر او استثناء نه پرته په خپلو ټولو فرمانبردارو بندګانو باندې فخر او ویاړ کوی اودهغو دانعام اعلان کوی ، امام بیهقی دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما په روایت دیو حدیث ټوکره کې نقل کړیدی چه حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : «فَاِذَا كَانَتْ لَيْلَةُ الْفِطْرِ سُمِّيَتْ تِلْكَ الَّيْلَةُ لَيْلَةَ الْجَائِزَةِ فَاِذَا كَانَتْ غَدَاةُ الْفِطْرِ بَعَثَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ الْمَلٰئِكَةَ فِى كُلِّ بِلَادٍ فَيَهْبِطُوْنَ اِلَى الْاَرْضِ فَيَقُوْمُوْنَ عَلٰى اَفْوَاهِ السِّكَكِ فَيُنَادُوْنَ بِصَوْتٍ يَسْمَعُ مَنْ خَلَقَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ اِلَّا الْجِنُّ وَالْاِنْسُ فَيَقُوْلُوْنَ يَا اُمَّةَ مُحَمَّدٍ اُخْرُجُوْا اِلٰى رَبٍّ كَرِيْمٍ يُعْطِى الْجَزِيْلَ وَيَعْفُوْ عَنِ الْعَظِيْمِ فَاِذَا بَرَزُوْا اِلٰى مُصَلَّاهُمْ يَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ لِلْمَلَائِكَةِ مَا جَزَاءُ الْاَجِيْرِ اِذَا عَمِلَ عَمَلَهُ قَالَ فَتَقُوْلُ الْمَلٰئِكَةُ اِلٰهَنَا وَسَيِّدَنَا جَزَاؤُهُ اَنْ تُوَفِّيَهُ اَجْرَهُ قَالَ فَيَقُوْلُ فَاِنِّىْ اُشْهِدُكُمْ يَامَلَائِكَتِىْ اِنِّىْ قَدْ جَعَلْتُ ثَوَابَهُمْ مِنْ صِيَامِهِمْ شَهْرَ رَمَضَانَ وَقِيَامِهِمْ رِضَائِىْ وَمَغْفِرَتِىْ وَيَقُوْلُ يَا عِبَادِىْ سَلُوْنِىْ فَوَعِزَّتِىْ وَجَلَالِىْ لَا تَسْئَلُوْنِى الْيَوْمَ شَيْئًا فِى جَمْعِكُمْ لِاٰخِرَتِكُمْ اِلَّا اَعْطَيْتُكُمْ وَلَا لِدُنْيَاكُمْ اِلَّا نَظَرْتُ لَكُمْ فَوَعِزَّتِىْ لَاَسْتُرَنَّ عَلَيْكُمْ عَثَرَاتِكُمْ مَا رَاقَبْتُمُوْنِىْ وَعِزَّتِىْ وَجَلَالِىْ لَا اُخْزِيْكُمْ وَلَا اُفْضِحُكُمْ بَيْنَ اَصْحَابِ الْحُدُوْدِ وَانْصَرِفُوْا مَغْفُوْرًا لَكُمْ قَدْ اَرْضَيْتُمُوْنِىْ وَرَضِيْتُ عَنْكُمْ فَتَصْرَحُ الْمَلٰئِكَةُ وَتَسْتَبْشِرُ بِمَا يُعْطِى اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ هٰذِهِ الْاُمَّةَ اِذَا اَفْطَرُوْا مِنْ رَمَضَانَ»

**ترجمه** : یعنې چه کله د واړه اختر شپه شی ددې نوم «په آسمانونو کې» ليلة الجائزة «دانعام په شپه» اخستې شی او چه داختر سحر شی نو الله تعالی فرشتې ټولو ښهرونو ته ولیږی، هغوئ ځمکې ته راکوزې شی په ټولو کوڅو او دلارو په سرونو ودریږی اوپه داسې آواز چه دپیریانو او بنیادمو نه علاوه یی هریو مخلوق

اوري، اوازونه کوي او وايي چه ای دمحمد صلی الله علیه وسلم امته! دهغه رب کریم
((درگاه)) طرفته ځئ چه ډیر زیات ورکوونکي دي او لوئ نه لوئ قصور معاف کوونکي
دي بیا چه کله خلق غیدگاه طرفته ووځي نو الله تعالی دفرشتو نه پوښتنه وکړي چه ای
ځما فرشتو، دهغه نوکر ((مزدور)) څه بدله ده چه هغه خپله نوکری پوره کړي؟ هغوئ
عرض وکړي چه زموږه معبوده! زموږ مالکه! دهغه بدله داده چه دهغه مزدوري دي
پوره اوبشپړه ورکړې شي، نو الله تعالی ارشاد اوفرمایي چه ای فرشتو! څه تاسو گواه
کوم، ما دوئ ته درمضان د روژو او د تراویحو په بدله کي خپله رضاء اومغفرت
ورکړو بیا الله تعالی خپلو بندگانو ته په خطاب سره اوفرمایي چه ای ځما بندگانو!
مانه وغواړئ، ځما دي په خپل عزت قسم وی، ځما دي په خپل جلال قسم وی چه نن
ورځ بدي اجتماع کي مانه دآخرت په باره کي کوم سوال کوئ هغه به درکوم، اوددنیا
په باره کي چه کوم سوال کوئ په هغي کي به ستاسو په مصلحت نظر کوم، ځما دي په
خپل عزت قسم وی او ځما دي په خپل جلال قسم وی ترڅو پورې چه تاسو ځما خیال
ساتئ زه به ستاسو په غلطو باندي پرده اچوم ((اوهغه به پټوم)) ځما دي په خپل عزت
قسم وی اوځما دي په خپل جلال قسم وی زه به تاسو دمجرمانو ((اوکافرانو)) په
مخکي رسوا او شرمنده نه کړم، اوس تاسي بښلي شوي کورونوته واپس لاړشئ،
تاسو زه راضي کړم او زه ستاسونه راضي شوم، پس فرشتي چه دا اجر او ثواب وه
ویني چه کوم دي امت ته داختر په ورځ ورکول کیږي نو خوشحالي کوي او یوبل ته
زیری ورکوي، ((اللهم اجعلنا منهم، آمین، ثم آمین))

دروژه تیانو خومره لوړ مقام دي، دالله تعالی په وړاندي ددوئ څومره لوړ انعام
دي او څومره بختوره ده داختر ورځ چه په هغي کي دوئ ټولو ته دمغفرت مکافات
ورکول کیږي، مکافات دخپل بادار او حقیقي مالك لخوا دتیرو گناهونو څخه
دپاکیدو په اساس دوئ داختر په ورځ داسي شي لکه چه نوی دنیا ته راغلي وی
ددوئ په زړونو کي دایمان ځلانده وی دمیني او محبت ولولـه وی د ورورۍ او
اسلامي اخوت جذبه وی دنفاق او ځانځاني، کرکي او نفرت او بغض او عداوت خبری
په زړونو کي نوی دوئ ته په واقع کي داختر ورځ د یو والي پیغام دگډي مرستي

خواخوږی پیغام راوړي دې د تیرو خفګانونو دشمنیو ښځه تیریږی. یوبل څخه بخښ غواړی اوپه آینده کې کلك عهد کوی چه په هیڅ شان به د مسلمان دشمن نه وی ارګ خدای مکره څوك داختر هرکلې پداسې شان سره وکړی چه لا اوس یی هم خپل درور ته په زړه کې نفرت او عداوت موجود وی نو باید وپوهیږی چه په واقعه کې دغه انسان ددغې بختورې ورځې له انعام او مکافات نه محروم پاتې شویدې. دلوی خدای پاك له مغفرت او بښنې له انعام او مکافات نه ، په یو حدیث شریف کې راغلی چه : ((قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ دَبَّ اِلَيْكُمْ دَاءُ الْاُمَمِ قَبْلَكُمُ الْحَسَدُ وَالْبَغْضَاءُ هِيَ الْحَالِقَةُ لَا اَقُولُ تَحْلِقُ الشَّعْرَ وَلٰكِنْ تَحْلِقُ الدِّيْنَ)). ((رواه الترمذی)). **ترجمه** : ((رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلې دي چه : له تاسو نه چه کوم مخکې امتونه تیر شوی دی دهغوی بیماری به په تاسو ته ورو ورو ورسیږی ((یعنې حسد او بُغض)) اوهغه خروونکې ده، زه دا نه وایم چه هغه ویښته خریی لیکن دین خریی یعنې دین بربادوی)). هرکله چه داختر شپه دانعام شپه ده فلهٰذا ددې ډیر زیات قدرکول پکار دی چه دالله تعالی په عبادت پکې مشغول وی. په یو حدیث شریف کې دی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : ((مَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْعِيْدَيْنِ مُحْتَسِبًا لَمْ يَمُتْ قَلْبُهُ يَوْمَ تَمُوْتُ الْقُلُوْبُ)). ((رواه الطبرانی فی الصغیر والکبیر)). دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دې : ((څوك چه ددواړو اخترونو شپې دثواب په نیت روښې کړی اوپه عبادت کې مشغول اوسی، دهغه زړه به په هغه ورځ نه مری په کومه ورځ چه دټولو خلقو زړونه مړه شی)) یعنې دفساد اوفتنې په وخت کې چه دخلکو زړونه مړغیږن وی دده زړه به ژوندي وی او ممکنه ده چه داسرافیل علیه السلام دشپیلۍ دپوکی ورځ ترینه مراد وی، چه دده روح په نه بی هوشه کیږی فقهاؤ داخترونو په شپه شوګیری مستحب لیکلی دی ، او ددواړو اخترونو لمونځ په هغه چا واجب دې په چاچه دجمعې لمونځ فرض دې، کوم شرطونه چه دجمعې دلمانځه لپاره ذکر شویدی هماغه شرطونه داخترونو دلمانځه لپاره هم شرط دی. خو دجمعې په لمانځه کې خطبه فرض ده او داخترونو په لمونځونو کې خطبه سنت ده البته اوریدل یی واجب دی. دجمعې دخطبې

په شان ((بحر الرائق))، دجمعې دلمانځه خطبه دجمعې دلمانځه نه دمخه ویل کیږي او داخترونو دلمونځونو خطبه دلمونځونو له اداء کولو نه وروسته ویل کیږي ((درمختار)). ، دجمعې دلمانځه لپاره آذان او اقامت شته خو داخترونو دلمونځونو لپاره آذان او اقامت نشته ((هدایه)).

او داخترونو دلمونځونو دمخه نفل لمونځ نشته بلکه مکروه دي برابره خبره ده چه په کور کې وي او که په عیدګاه کې وي همدارنګه داختر دلمانځه نه وروسته په عیدګاه کې نفل کول مکروه دي، البته که کور کې یې وکړي نو څه حرج پرې نشته بلکه څلور رکعته دڅابښت نفل کول غوره دي ((فتح القدیر)) ، همدارنګه دښځو او هغه چا لپاره چه داختر لمونځ پرې واجب نه وي نفل کول مکروه دي ترڅو پورې چه خلق داختر دلمانځه نه فارغ شوي نوي ((شامي)) ، همدارنګه چه خطیب دخطبې لپاره ممبر ته وخیژي دخطبې شروع کولونه مخکې ورته کیناستل ندي پکار بلکه ولاړه په ولاړه به خطبه شروع کړي ځکه چه داختر دلمانځه لپاره آذان او اقامت نشته ((قاضي خان)) .
او همدارنګه داختر لپاره غسل کول، مسواك وهل ، خپلې صفا جامې اغوستل چه په شریعت کې جائزوي برابره خبره ده که هغه جدیدې ((نوې)) وي او که وینځل شوې وي او اګر که سپینې نوي، خوشبویي لګول سحر وختې پاسیدل صدقه دفطر مکې دعیدګاه دتلونه ورکول او عیدګاه ته دتلو نه مخکې خوږ شې خوړل او عیدګاه ته وختي تلل او داختر لمونځ په عیدګاه کې کول یعنې بغیر له عذرنه په جامع مسجد کې نه کول او عیدګاه ته دتلو په وخت کې پیاده تلل او په حالت دواپسۍ کې که پیاده نه وي خیر دي او په واپسۍ کې په بله لار راتلل یعنې دوړوکی اختیر په ورځ دا کارونه مسنون دي ((بحر الرائق))، او امام یعنې خطیب به په خپلې خطبې کې دصدقة الفطر بحث هم کوي او دصدقه فطر مقصد پدې حدیث شریف کې بیان شویدې ((فَرَضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ طُهْرَةً لِلصَّائِمِ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ وَطُعْمَةً لِلْمَسَاكِينِ)). ((رواه ابوداؤد)، **ترجمه** : ((نبی اکرم صلی الله علیه وسلم صدقه دفطر په خپل امت واجب کړیده ددې دپاره چه دهغو لپاره دهغه بی حیایئ او بیکاره خبرو کفاره وګرځی

کومې چه دروژې په حالت کې ډروژې دازونه شویدی او دغریبانو او مسکینانو دخوراك ځښاك انتظام وشی))، یعنې دصدقه فطر وجوب په شریعت کې ددغو دوو مصلحتونو لپاره دې چه دروژه دارو کوتاهي معاف شی اوبل مسکینان هم داختر په خوشحالۍ خوشحاله شی او دخوراك څه بندو بست یې وشی ځکه یې داختر دلمانځه نه مخکې په ورکولو کې تاکید راغلې دې اوپه چا باندې چه زکوٰة واجب وی یا خو زکوٰة واجب نوی مگر دخپل ځان اوخپل اهل اوعیال دحاجت اصلی نه زیاتی وی مثلاً که په یو کور کې اوسیږی اوبل کوریې خالی پروت وی یا دومره جامې یې وی چه اغوستلو څخه زیاتې وی اوقیمت یې نصاب ته رسیږی نو سرسایه او قربانی پرې واجب ده او زکوٰة اوسرسایه اخستل ورته جائزندی او دصدقه فطر لپاره دمال ((نما)) او حولان حول ضروری ندې او دنصاب په هلاکت سره ساقط کیږی نه ، ځکه دا په قدرت ممکنه سره واجب شوی دی او زکوٰة په هلاکت دنصاب سره ساقطیږی ځکه چه هغه په قدرت مُیسره سره واجب شوې دې او مقیم والې هم دسرسایی لپاره ضروری ندې ((شرح تنویر ، شامي)) ، اوحضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه فرمایلی دی چه ((قَالَ صَوْمُ الْمَرْءِ مُعَلَّقٌ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ حَتّٰى يُعْطِى صَدَقَةَ الْفِطْرِ لِأَنَّهُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ ثَلَاثَةُ اَشْيَاءَ، قَبُوْلُ الصَّوْمِ وَالْفَلَاحِ وَالنَّجَاةِ مِنْ سُكَرَاتِ الْمَوْتِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ)).

**ترجمه** : ((فرمایی چه روژه دانسان راکوړې ((زوړنده او اویزانده)) وی په مینځ دآسمان او ځمکه کې ترڅو چه صدقه فطر ورنکړی ځکه سرسایه ورکولو کې درې فائدې دی ، یو قبلیدل دروژې دی اوبل خلاصی دغتو سختیو دمرگ نه اودعذاب قبر نه))، دغه یومختصر بیان وو چه مقرر یې بیان کړی وعلیه التفصیل (( الله پاك دې زمونږ په مینځ کې مینه او محبت پیدا کړی، آمین ثم آمین)).

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# دامتحان ورځ «لوئ اختر»

محترمو مسلمانانو؛ له یومؤمن او متعهد بنده څخه اسلام دحالاتو او شرائطو په تناسب سربیره په ټاکلیو فرائضو دایثار او قربانی غوښتنه کوی. چرته دمال قربانی، چرته دموقف او مقام قربانی. او چیرته دمحبوبو وینو اوژوند قربانی چه پدې ایثار سره کره او کوټه مسلمان سره بیلوی، هغه څوك ایثار او قربانی کولې شی چه الله تعالی او دهغه دین ورته له خپله ځانه گران وی خپلې مادی او معنوی ښیگنې خپلې ښکاره او پټې قواوی خپل ذهنی او جسمانی صلاحیتونه دالله تعالی دقانون دلوړولو دنظام دحاکمولو دظالم له پنجونه مظلومانو ته نجات ورکولو دمسلمانانو دخیر ښیگنې دتامینولو په لاره کې په کاراچوی دهغې یو مشهور مثال هغه د انسانیت غم خور وو چه هغه څخه صرف شپږ پیغمبران علیهم السلام وړاندې تیرشویدی چه هغه حضرت ابراهیم علیه السلام دې «دابراهیم علیه السلام نه چه کوم وړاندې شپږ پیغمبران دی دهغوئ نه مراد دادی: صالح، هود، نوح، ادریس، شیث، اوآدم علیهم السلام»

په بدائع الزهور کې وهب بن منبه رحمه الله نه روایت دې چه ابراهیم علیه السلام ځوئ دتارخ وو او هغه ځوئ دناخور دې او آذر دحضرت ابراهیم علیه السلام تره وو، لدې روایت څخه معلومیږی چه پدې وخت کې تره ته هم پلار ویلې کیده او دمور نوم یې لیوثا وو، دا مؤمنه وه او خپل ایمان یې پټ ساتلو او حضرت ابراهیم علیه السلام دحوران په کلی کې پیدا شویدې، په یوبل روایت کې دی چه ددمشق دکلونه په بزره نومی کلی کې په غار کې پیدا شویدی چه په هغه غار کې دبرکت او شرافت تنبې موجود دی خلق ددعا لپاره دې غار ته راځی الله تعالی دهغوئ دعاء قبلوی، حضرت ابراهیم علیه السلام دوحدانیت نور او شغله وه، دتوحید دغه رڼا الله تعالی دنمرود بن کنعان دبادشاهی په زمانه کې ښکاره کړې وه، دحضرت ابراهیم علیه السلام داستان خو ډیر طولانی دې البته موږ به دهغه یوې لویې کارنامې ته چه دالله تعالی درضا په خاطر دخپل ځوی ذبح کول وو یوه لنډه کتنه وکړو:

نو حضرت ابراهیم علیه السلام دالله تعالی نه دیو حلیم «بردبار» غلام «خوی» اوصبرناك او رحمدل ځوئ سوال وکړو الله تعالی ورته دهاجرې بی بی رضی الله تعالی عنها نه حضرت اسماعیل علیه السلام «حلیم ځوی» ورکړو له شام نه دالله تعالی په فرمان حضرت ابراهیم علیه السلام اوبی بی هاجره رضی الله تعالی عنها او جلیل القدر ځوی دمکې مکرمې غیر آبادی ځمکې ته راوستل هلته یې دغرونو په مینځ کې کعبې مبارکې ته نژدې دزمزم مقام سره کوز کړل، دې وخت کې کعبه مبارکه آباده نه وه بلکه هیڅ آبادی دمکې شریفې موجوده نه وه، هلته الله تعالی دوئ آباد کړل ددوئ دبرکته آبادی ورځ په ورځ زیاتیدې تردې چه ښار دمکې شریفې آباد شو، حضرت اسماعیل علیه السلام چه د اوو کالو او یا ددیارلسو کالو شو نو په اتمه شپه د ذوالحجې ابراهیم علیه السلام ته په خوب کې اوویلې شو چه الله تعالی تاته په ذبح کولو دخپل ځوی حکم کوی. چه بیدارشو نو فکر یې وکړو چه ددې څه حقیقت دې، په نهمه شپه دذوالحجې یعنې دعرفې په شپه یې بیا هماغه شان خوب ولیده پوه شو چه دا دالله تعالی له جانبه دې، په لسمه د ذوالحجې یعنې داختر په شپه یې بیا هم هغه شان خوب ولیده چه بیدار شو نو داسماعیل علیه السلام ذبح کولو ته یې قصد وکړو او چه دذبح کولو مضبوطه او محکمه اراده یې وکړه چه دالله تعالی فرمان وو . نو ځوئ ته یې وویل : بچیه چاړه او رسئ ځان سره راواخله زه چرته دتللو اراده لرم ته به ماسره ملګرې یې. اسماعیل علیه السلام عرض وکړو بابا جانه ! په چاړه او رسئ باندې څه کوی ؟ ابراهیم علیه السلام ورته اوفرمایل : دالله تعالی درضاء لپاره ذبح او حلاله کووم ، دواړه روان شول کله چه دمنی وادی سره نژدې دغره لارې ته ورسیدل نو ابلیس دبوډا سړی په صورت کې دوئ ته راوړاندې شو ، حضرت اسماعیل علیه السلام ته یې وویل : چیرته روان یې ، اسماعیل علیه السلام ورته اوفرمایل ځما باباجی دالله تعالی درضاء لپاره دالله تعالی په نوم قربانی کوی، ابلیس وویل ته خبریې چه ستا باباجی څه شی قربانی کوی، هغه خو تا ذبحه کوی. زه ستا خیرخواه یم او تاته ناصح راغلې یم په څه طریقه دمرګ نه ځان بچ کړه، حضرت ابراهیم علیه السلام ورته اوفرمایل چه ځما باباجی دخپل ځان ځخه ځما ذبحه کوی او که دالله

تعالی دفرمان مطابق ، ابلیس ورته وویل : دالله تعالی په فرمان دا کار کوی، حضرت اسماعیل علیه السلام وویل چه څما ذبحه دالله تعالی په امر کوی نو پدې کې ماته نافرمانی او سرکشی جائز نده دا کار ماته په سراوسترگو قبول دې، شیطان له دوئ نه ذلیل واپس شو ، خوبیا هم دابلیس لعین صبر نه کیدلو اوه ځلې اسماعیل علیه السلام ته ورغلو هغه په اوه ځله په گټکو وه ویشتلو له همدې ورځې نه په حج شریف کې اوه ځلې دجمرو ویشتل په شریعت اسلامی کې ثابت شویدی، هرکله چه دمنی دلارې غره ته ورسیدو ، ابراهیم علیه السلام اوفرمایل : ((يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَى)) . (سورة الصّافات). **ترجمه** : ((ای بیچه ! بیشکه زه وینم په خوب کې چه تا ذبحه کوم، پس فکروکړه چه څه رایه اونظر دې ستا))، حضرت اسماعیل علیه السلام په جواب کې ورته اوفرمایل : ((يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ))، **ترجمه** : ((ای زما بابا جی وکړه هغه کار چه دالله تعالی دجانبه تاته امر کیدې شي ژر دې چه ما به بیا مومې که دالله تعالی رضاء وی له صابرانو څخه))، ابلیس معلومه کړه چه اسماعیل علیه السلام ذبحې ته غاړه کینبوده نو دغره دپاسه دنور حال دکتلو لپاره کیناستلو، ابراهیم علیه السلام خپل ځوئ اسماعیل علیه السلام په ځمکه په بنئ ډډه واچولو او په رسئ باندې یی دهغه دخپو ترلو اراده وکړه اسماعیل علیه السلام ورته اوفرمایل : باباجانه ما مه تړه، هسې نه چه ملائکې دا گمان ونکړی چه زه جزعه فزعه اوفریاد کوم، ما بغیر له تړلو نه ذبحه کړه، په همدې حالت پروت وو الهی فرمان نه منتظر وو، ابراهیم علیه السلام څو کرته دهغه مبارك په مرئ چاړه تیره کړه خو هیڅ دخل یی ونکړو، ملائکو په آسمانونو کې اونورو حیواناتو ترمرغانو اوماهیانو پورې په ځمکه کې الله تعالی ته سوال او زاری کولې چه : ای زمونږ قدیراوبصیر خدایه ! په عزتمند مشر او مبارك اومحترم کشر باندې په خپلې مهربانی او فضل سره آسانی وکړې : اسماعیل علیه السلام عرض وکړو ای مشفقه باباجانه ما پرمخه په ځمکه واچوه ځکه ته چه ما وه وینې نو بی اختیاره به په ما رحم وکړې اودالله تعالی امر به په صحیح ډول سرته ونه رسیږی،

حضرت ابراهيم عليه السلام هغه پرمخه کړو په څټ يې څو کرته ورته چاړه تيره کړه، ولی مرئ «گردن» داسماعيل عليه السلام يوه ذره زخمی نشو، ابراهيم عليه السلام له ډيره قهره چاړه په ځمکه وه ويشتله، چاړه دالله تعالى په حکم گويانه شوه، چرې وويل: اى ابراهيمه (عليه السلام) ته خليل ماته دپريکولو حکم کوې او الله تعالى جليل راته فرمايي چه مه پريکوه، ما دخليل دفرمان دمنلو نه مخکې دجليل رب العالمين امر اومنلو، دده په تندی کې نور دحضرت محمد صلى الله عليه وسلم ځليږی لدې وجهې نه ما ته الله تعالى د اسماعيل عليه السلام دذبحې اجازه نه راکوی، پدې هيبتناك حالت کې جبرائيل عليه السلام يو لوئ برگ گډ لپاره دفديې دذبحې داسماعيل عليه السلام راوستلو، جبرائيل عليه السلام اوفرمايل: اى ابراهيمه (عليه السلام) دا ستا دمحترم ځوئ فديه ده دا ذبحه کړه او اسماعيل عليه السلام پريږده او جبرئيل عليه السلام دوئ دذبحې په حالت کې وليدل نو وې فرمايل «اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ» اسماعيل عليه السلام په علاماتو دفديې چه پوهه شولو نو وې فرمايل: «لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ» او ابراهيم عليه السلام شکر اوحمد دالله تعالى وکړو او وې فرمايل: «اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَ لِلّٰهِ الْحَمْدُ» په شريعت اسلامی کې ددوئ دغه الفاظ په دغه حالاتو کې ويل تکبيرونه دتشريق وگرځيدل.

فقهاؤ فرمايلی دی چه: دامام اعظم ابوحنيفة رحمه الله په نزد دعرفې دورځې دسحر نه تر لسم تاريخ دلمر پرې وتلو پورې په هرمقتدی باندی چه فرض لمونځ اداء کړی په جماعت مستحبه سره برابره خبره ده چه مقيم وی او که مسافر وی او که ښځه وی، او همدارنگه په امام باندی خوپدې شرط چه مقيم وی په مصر کې واجب دی پس دفرض لمانځه نه يوځلې: «اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَ لِلّٰهِ الْحَمْدُ» په بلند (اوچت آواز) سره دې ووايی، البته که ښځه په مسجد کې شريکه وه هغه به يې په پټه وای او دصاحبينو رحمهما الله په نزد ديوم عرفه يعنی دلوئ اختر دمياشتې دنهم تاريخ دسحر نه شروع کيږی او ددیارلسم تاريخ تر مازديگر پورې په هر مکلف باندې پس دفرضونه دتکبير ويل واجب دی، برابره خبره ده چه جماعت سره

لمونځ وکړي او که منفرد ((يوازې لمونځ کوونکې)) وي امام وي او که مقتدي، مسافر وي او که مقيم او فتوىٰ دصاحبينو رحمهما الله په قول ده ، او ددوئ قول معمول ګرځيدلې دې ، دلمانځه نه پس فوراً تکبير ويل ضروري دي که دامام ځخه هير شول، نو مقتديان دې فوراً ووايي امام ته دې انتظار نه کوي او که چيرې دسلام ګرځولو نه متصل جماعت ځخه ووت او يايي اودس مات شو او يايي قصداً خبرې وکړې او يايي هير وو نو تکبيرونه ساسقط شول او دجمعې مبارکې ورځې نه هغه جمعه چه په ايام تشريق کې راشي نو دجمعې دلمانځه ځخه ورروسته ويل يي واجب دي. او داختر دلمانځه ځخه وروسته دعلماؤ اختلاف دې البته ويل يي غوره دي ، او دجنازې دلمانځه ځخه وروسته ويل يي واجب ندي کچيرې پدې ورځو کې چانه لمونځ قضاء شو او پدې ورځو کې يي قضاء راوړله نو تکبيرونه ويل پرې واجب دي، او که ددې ورځو نه وروسته يي قضاء راوړه بيا پرې واجب نه دي او که چيرې دمخکي ورځو قضائي يي پدې ايام تشريق کې راوړه او يا دتير کال د ايام تشريق قضائي يي په اوسني ايام تشريق کې راوړه نو پدې صورتونو کې دفرض لمانځه نه وروسته دتکبير ونو ويل واجب ندي ((شامي وبحرالرائق)) او امام ثعلبي رحمة الله عليه فرمايلي دي چه اُضحيه يعني قرباني کول په اهل اسلامو کې سُنّت دابراهيم عليه السلام په مؤمنانو جاري راغلي دي ، که ځوك سوال وکړي چه اسماعيل عليه السلام فديه ګڼه ((مګ)) کيدلو نور ځاروي لکه غوا ، ميښه، اوښ وغيره ولې نه کيدل. جواب يي دادې چه ابراهيم عليه السلام چه کله رسئ اوچاړه را واخستل نو اسماعيل عليه السلام ورته اوفرمايل پدې ځه کوې ابراهيم عليه السلام ورته اوفرمايل پدې ګڼه ذبحه کوم نو الله تعالى دګڼه دفديه په راليږلو سره دخپل خليل ابراهيم عليه السلام دقول تصديق وکړو ، دويم دا چه کوم ګڼه هابيل صاحب قرباني کړې وو دالله تعالى په نزد مقبول شوې وو هغه ګڼه الله تعالى په جنت کې ساتلې وو او داسماعيل عليه السلام دذبحې په فديه کې يي راوليږلو چه دالله تعالى بندګان پوهه شي چه نيکي د آباؤ ، اجدادو، اولاد نه نفع رسوي.

اوشيخ سدي رحمة الله عليه فرمايي : چه ددې ګڼه غتوالې په شان دهاتي وو

ښکروته او نوګونه یې په رنګ د سروزرو وو او توله غوښه یې وازده وه او هډوکي یې په بدن کې نه وو او وړیې یې هم په بدن نه وه، دغه ګډ په باغونو دجنت کې څریدلې وو، څکه یې جوسه ښائسته وه او غټ وو

ابراهیم علیه السلام دغه ګډ په منی کې ذبح کړو او ددې غوښې یې په فقیرانو او مسکینانو وه ویشلې، که څوک اعتراض وکړي چه دجنت شی خو نه ختمیږي، مونږ ورته وایو چه دغه ګډ ددنیا وو لکه مخکې واقعه تیره شوه او یا چه دنیاته راغلو نو ددنیا حکم یې واخستلو لکه مدینې منورې کې دروضې مبارکې او منبر ترمنځ باغچه اوس به یو څو احادیث دقربانی دځینو احکامو متعلق ذکر کړو (انشاء الله تعالی): ((قَالَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا عَمِلَ ابْنُ آدَمَ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللّٰهِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ إِنَّهَا لَتَأتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقُرُونِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلَافِهَا وَأَنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللّٰهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ مِنَ الْأَرْضِ فَطِيبُوا بِهَا نَفْسًا))، (رواه الترمذی). **توجمه** ((رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاداوفرمایلو چه: دبنی آدم هیڅ عمل دلوی اختر په ورځ الله تعالی ته ((دقربانی)) وینی تویولو نه زیات خوښ نشته اوبیشکه وینه ((دقربانی)) په ځمکه باندې دتیولونه هم رومبی دالله تعالی په دربار کې قبلیږی نو خوشحاله کړئ هغې ((قربانئ)) سره خپل زړونه))، یعنې قربانی په ډیر اخلاص او دزړه په خوشحالی سره کول پکار دی ((قَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا هٰذِهِ الْأَضَاحِيُّ قَالَ سُنَّةُ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ قَالُوا فَمَا لَنَا فِيهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ بِكُلِّ شَعَرَةٍ حَسَنَةٌ قَالُوا فَالصُّوفُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ بِكُلِّ شَعَرَةٍ مِنَ الصُّوفِ حَسَنَةٌ)). (رواه احمد وابن ماجة). ترجمه ((اصحاب کرامو عرض وکړو چه ای دالله تعالی رسوله (صلی الله علیه وسلم) قربانئ څه شی ده؟ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاداوفرمایلو چه ستاسو دپلار ابراهیم علیه السلام سُنّت دی (( دالله تعالی څومره لوئ رحمت دې چه هغوئ خپل خوئ حلال کړو اومونږ یوه چیلئ حلالوو اوپه همدې عمل باندې مونږ دهغوئ پیروی کوونکی وګڼلې شو)) بیا صحابه کرامو عرض وکړی پس مونږ دپاره په هغې څه شته؟ ای دالله تعالی رسوله ؟نبی اکرم صلی الله علیه وسلم

ارشاد اوفرمايلو چه دهر ويښته په بدله کې يوه نيکي ده، عرض يې وکړو ((دګډ وغيره)) په وړيو کې څه راکول کيږي؟ اې دالله تعالى رسوله ، نبي اکرم صلى الله عليه وسلم اوفرمايل : په وړيو کې هم دهريوه ويښته په بدله کې يوه نيکي ده.

سبحان الله فکر وکړئ ددينه زيات ثواب دڅه شي دې په ګډ ځومره ويښته دي هغه دسحر نه تر ماښام پورې نشي شميرلې نو د يوې قرباني په وجه دومره په لکهونو نيکۍ حاصليږي کچيرې په چا فرض نوي بيا هم دومره لوئ ثواب ګنډل ورته پکار دي دا ورځ به تيره شي دولت به ختم شي داسې موقعه به بيا رانشي او که په چا فرض وي نو دهغه دخپل ځان سره سره دخپلو مړو نه قرباني وکړي چه دهغوئ ارواح ته دومره ډير ثواب ورسيږي، دنبي اکرم صلى الله عليه وسلم دطرفه دهغه دبيبيانو له طرفه او دخپل پير له طرفه اوکه دا نه وي نوخپله خو ورته خامخا کول پکار دي ځکه چه دومره ثواب څخه محروم کيدل او ګنهګار کيدل هم ډيره بدبختي ده ، ((قَالَ عَلَيْـهِ الصَّـلٰوةُ وَالسَّلَامُ مَنْ وَّجَدَ سَعَةً لِاَنْ يُضَحِّيَ فَلَمْ يُضَحِّ فَلَا يَحْضُـرْ مُصَـلَّانَا))، (عين ترغيب عن الحاكم) ، **ترجمه** : رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل چه : کوم سړي چه وموندله فراخي دقرباني کولو ((يعني صاحب دنصاب وو)) بيا يې هم قرباني ونکړه نوهغه دې زمونږ عيدګاه ته نه راځي. دڅه قدر وړ کې ده ؟ دقرباني نه کوونکي دپاره او قرباني په اصل کې په غني، مقيم باندې په شريعت اسلامي کې واجب ده ، اودنورو مسائلو لپاره دفتاوئ ګانو کتابونه وريسې وګوره.

دلوئ اختر احکام هماغه دي چه د واړه اختر وو البته دواړه اختر دلمونځ نيت او دلوئ اختر دلمونځ په نيت کې فرق صرف دومره دې چه دوړوکي اختر په ځای دلوئ اختر په لمونځ کې لوئ اختر يادول پکار دي بله دا چه واړه اختر کې عيدګاه ته دتللو نه مخکې خوږ شي خوړل سنت دي او لوئ اختر کې نه خوړل سنت دي ، او په واړه اختر کې په لاره تکبيرونه په ورو ورو ويل سنت دي او په لوئ اختر کې په زوره،زوره ويل سنت دي ، اودوړوکي اختر په لمانځه کې لږ ناخير او وروسته والى کول ښه دي او دلوئ اختر لمونځ وختي کول سنت دي ، په واړه اختر کې صدقه دفطر شته او په

لوئ اختر کې نشته، البته په لوئ اختر کې قربانی ده چه دچا طاقت وی، او آذان او اقامت ددواړو اخترونو په لمونځونو کې نشته، او د اختراحکام په خطبو کې او د خطبو څخه مخکې په تقریر کې بیانول پکاردی چه عوام ددې مسائلو څخه خبرشی «الله تعالی دې مونږ په ټولو امتحاناتو کې کامیاب کړی ، آمین ، ثم آمین یارب العالمین»

# دمحرم الحرام میاشت

محترمو مسلمانانو : دمحرم میاشت ډیره داعزازاو اکرام میاشت ده او ددې ډیر فضائل دی ،او تاریخ اسلامی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له هجرت نه شروع شویدې.

دسعیدبن مسیّب رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه عمربن الخطاب رضی الله تعالی عنه عالمان راجمع کړل، له دوئ نه یې مشوره وغوښته چه دکوم وخت نه تاریخ اسلامی مقرر کړو؟ حضرت علی کرم الله وجهه اوفرمایل : کوم وخت نه چه رسول کریم صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت کړیدې هغه دې تاریخ اسلامی مقرر شی اووده رضی الله تعالی عنه خبره ټولو غوره کړه او دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دهجرت نه په اتفاق سره اسلامی تاریخ مقرر شو لیکن هجرت دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دمکی شریفی نه مدینی منوری ته په ربیع الاول کې شویدی اوتاریخ دمحرم ددغه کال نه شروع شویدې ، ددې وجه یا داده چه محکمه او مضبوطه اراده دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دهجرت ګولو دمحرّم څخه شویده، او یا محرّم یو معلوم وخت د راګرځیدو دحاجیانو دحج څخه دې فلهٰذا محرم څخه دکال شروع اوتاریخ اسلامی مقررشو ، او داسلام نه مخکې عربو تاریخ دعام الفیل مقرر کړې وو چونکه اسلام مسلمانانو لره دیو مستقل اومتحد قوم اوملت جوړولو داعی دې نو له همدې وجهې نه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خپلو تعلیماتو کې مسلمانانو ته په وضع، قطع، سیرت او صورت وغیره کې دنورو قومونو نه دجداء اوسیدلو هدایات

ورکړی دی، همدغه وجه ده چه حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه دعیسایانو
دمشابهت دوجهی نه داسلامی کال آغاز دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دولادت نه
ونکړې شو، پدې کې یوې اهمې خبرې ته اشاره وه هغه دا چه دغیر مسلمو سره عموماً
او یهودو او نصرانیانو سره خصوصاً دمشابهت نه اجتناب پکار دې ځکه چه اسلام په
عباداتو، او معاشرتی امورو اولباس اوطعام وغیره کې دغیر مسلمو سره مشابهت
ناجائز گرځولې دی، الله تعالی فرمایی: ((وَلاَ تَرْكَنُوآْ إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ))،
تاسو ظالمانو یعنی کافرانو طرفته مه مائله کیږئ ورنه ددوزخ اور به تاسو ته ورسیږی

اودنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشادمبارك دې ((مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ))
یعنې کوم سړې چه دیوقوم په مخصوصو شیانو کې دهغوئ سره مشابهت کوی هغه به
په هغه قوم کې داخل گڼلې شی، افسوس دعصرحاضر په خلکو باندې چه اکثر
مسلمانان دکفاور، ظالمانو تر تاثیر لاندې راغلی دی او په هغوئ پسې روان دی، الله
تعالی دې مونږ ترینه وساتی، آمین یا رب العالمین ددې مبارکې میاشتې لسمی
ورځې دمحرم الحرام ته یوم عاشورا وایی: دغه ډیره بختوره ورځ ده حتی چه په
یوحدیث شریف کې دی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایی: الله تعالی دعاشورا
په ورځ آسمانونه، غرونه، دریابونه، قلم، اوحضرت آدم علیه السلام، حضرت نوح،
حضرت ابراهیم علیهم السلام پیدا کړیدی، په دغه ورځ حضرت آدم علیه السلام به
جنت کې داخل شوې وو او په همدې ورځ دحضرت اسماعیل علیه السلام فدیه
ورکړې شوې وه. په همدې ورځ فرعون په دریاب نیل کې ډوب شوې وواوحضرت
موسٰی علیه السلام په هغه باندې غلبه موندلې وه، په دغه ورځ دآدم علیه السلام
توبه قبوله شوې وه، اودنوح علیه السلام کشتئ په جودی غره لگیدلې وه اوپه دغه
ورځ دعاشورې به قیامت وی.

شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمة الله علیه په ماثبت بالسنة کې په حواله دابن
جوزی دابن عباس رضی الله تعالی عنه نه دا روایت هم نقل کړیدې چه په دغه ورځ
حضرت ادریس علیه السلام په اعلی مرتبه فائز کړې شو، په حضرت ابراهیم علیه

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

السلام اُور گلزار کړې شو ، او په حضرت موسیٰ علیه السلام باندې تورات نازل شو، حضرت یوسف علیه السلام په دغه ورځ باندې دقید څخه خلاص شو او دیعقوب علیه السلام دسترګو نظر په همدې ورځ باندې واپس شو ، حضرت یونس علیه السلام دماهی دخیټې نه په همدې ورځ را وه ویستل شو ، مقصد دا چه دعاشورٰی ورځ ډیره مبارکه ده په دغه ورځ باندې ټولو انبیاء کرامو علیهم السلام دشکر روژه نیولې ده فلهٰذا په اسلام کې هم دنهم او لسم محرم روژه نیول ډیر زیات ثواب لری ، یوحدیث شریف دې «صِیَامُ یَوْمِ عَاشُوْرَاءَ اَحْتَسِبُ عَلَی اللهِ اَنْ یُّکَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِیْ قَبْلَهُ» ، (رواه مسلم) ، «رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمایلو چه زه امید لرم له الله تعالی نه چه دعاشورٰی روژه کفاره شی دهغه کال «دوړو ګناهونو نه» کوم چه ددینه مخکې تیرشویدې» ، بل ځای ارشاد دې : قال علیه الصلٰوة والسلام «صُوْمُوْا عَاشُوْرَاءَ وَخَالِفُوْا فِیْهِ الْیَهُوْدَ وَصُوْمُوْا قَبْلَهُ یَوْمًا وَّبَعْدَهُ» (بمعنی او یومًا) . (عین الفوائد عن احمد والبزار والیه ذهب فقهائنا کرهو انفراد عاشوراء بالصوم) ، «ارشاد اوفرمایلو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم چه : روژه اوساتئ تاسو دعاشورٰی اومخالفت وکړئ پدې کې دیهودو ، او «هغه دارنګه چه» روژه دهغې نه یوه ورځ وړاندې یا وروسته ساتل پکاردی» ، یعنی پدې ورځ روژه ساتل دشپې نوافل کول دقرآن مجید تلاوت کول درود شریف لوستل او کثرت سره استغفار بی انتهاء ثواب لری ، دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دې چه دعاشورٰی په ورځ دتوبه نصوحًا تجدید وکړئ او دالله تعالی نه دګناهونو مغفرت طلب کړئ الله تعالی به ستاسو توبه قبوله کړی .

ژړا فریاد ، وهل ټکول ماتم کول اوماتمی لباس اغوستل ناجائز اوبدعات سیئات «ګناهونه» دی ، په یوحدیث شریف کې دی چه «مَنْ وَسَّعَ عَلٰی عَیَالِهٖ فِی النَّفَقَةِ یَوْمَ عَاشُوْرَاءَ وَسَّعَ اللهُ عَلَیْهِ سَائِرَ سَنَةٍ» ، (رواه البیهقی) ، چه کوم سړی فراخی وکړه په خپل اولاد «بال بچ» باندې په خرچ کې دعاشورٰی په ورځ ، فراخی به وکړی الله تعالی په هغه باندې په رزق کې ټول کال ، فلهٰذا په دغه ورځ کې حسب توفیق په خوراک ارځښاك کې په اولاد باندې فراخی پکار ده ، مثلاً ځه ښه خوراك پخول یا میوه وغیره

راوړل پکار دی، او همدارنګه دمحرم الحرام په لسمه دعاشورۍ په تاریخي او له ییښو ډکه ورځ کې دحق او باطل نه هیریدونکی معرکه «جنګ» منځ ته راغلی وه دمعرکی یولوری دالله تعالی دپاك حبیب صلی الله علیه وسلم ګران لمسي دجنت دزلمیانو سردار او دخیبر دفاتح حضرت علی رضی الله تعالی عنه اودخاتون جنت حضرت فاطمه رضی الله تعالی عنها دزړه ټوټه حضرت امام حسین رضی الله تعالی عنه او دهغه څه دپاسه اویا تنه مطهره کورنۍ وه او بل لوری ته داموی کورنۍ ټولواك بیباك او سفاك یزید او دهغه عیاش اوبی بندو باره لښکر، دغه معرکه په حقیقت کې ددوو تنوشخصی معرکه نه وه بلکه مفکوری معرکه وه، یعنې دحسنیت اویزیدیت معرکه وه نه دحسین رضی الله تعالی اویزید جنګ ځکه چه دسید الشهداء جنګ دمال جائداد په خاطر نه وو دجاه او جلال او شخصی اقتدار ترلاسه کولو لپاره نه وو دقومی اوقبیلوی تعصب پر اساس نه وو دزور ازمویلو او وسله والی مسابقې په غرض نه وو اونه دبل کوم مادی هدف لپاره وو، بلکه څنګه چه هغه ولیدل چه په یزیدی حکومت کې داسلامی خلافت پرځای دمطلقه آمریت اوپخپل سرمملوکیت مفکوره مسلطه ده، عیاشی، ظلم، فسق، اوفجور، استبداد او دیکتاتوری رواج ده ددین دلوړتیا لپاره نه بلکه دشخصیت لپاره کار کیږی، زورور تقویه او کمزورې ځپل کیږی، بیت المال دمسلمانانو دعامو ښیګڼو پرځای دمزو چړچو اوشخصی ګټو په لار کې لګول کیږی، حاکمان او قاضیان دالله تعالی دخوښې پر ځای دیزید خوشحالی غواړی، دالله تعالی دغلامی اوبندګی په ځای دیزید غلامان شویدی د بیوزلو یتیمانو او کونډو دحال هیڅ پوښتنه نشته له مقتدری او واکمنې طبقې سره دخدمت پرځای دسرداری اوباداری فکر دې او ددغو حالاتو په نظر کې نیولو سره ددې ویره وه چه داسلام دلمر وړانګې دظلمونو په تورو وریځو کې تتی اوخړې پړې شی نو دخپل مسؤولیت ترسره کولو په ولولو یې دیزیدی ظالمانه رژیم دنسکورولو لپاره دیزید او دهغه دپلویانو پر ضد مبارزی او پاځون اعلان وکړ او پخپله له خپلې ټولې کورنۍ سره چه تور سرې بیبیانې او واړه ماشومان هم پکې شامل وو دقربانۍ ډګر ته ووت، دحق اوعدل او انصاف برقرارولو لپاره قربانی دمطلقه آمریت او سرداری دباداری

دمانې، نړولو لپاره قرباني او د اسلامي راشده خلافت د بیا راژوندي کولو او ټینګولو لپاره د قربانۍ میدان ته حاضر شول

تاریخونه لیکي چه هرکله د یزید فسق او فجور په تمامو خلکو ظاهر شوې ووتو کوفیانو حضرت حسین رضی الله تعالی عنه ته یوزر «او په بعضې روایتونو کې دی چه دولس زره» خطونه را ولیږل چه مونږ ستا په لاس بیعت کوو او دبی دینه یزید نه بیزاره یو - یکی بعد دیگری - درې وفدونه مکې مکرمې ته راغلل دوه وفدونه خو امام حسین رضی الله تعالی عنه واپس کړل مګر دریم وفد ځان سره داسې خطونه راوړل چه په هغې کې قسمونه ورکړې شوی وو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم واسطه ورکړې شوې وه چه که تا تشریف را نه وړو نو د قیامت په ورځ به مونږ تا د لښې نه نیولې پیش کوو چه دوئ زمونږ رهنمایی نه وه قبوله کړې ، د دغې خطونو مضمون علامه ابن خلدون په تفصیل سره لیکلې دې

«اوس په مونږ هیڅوك امام نشته تاسو راشئ ځکه چه الله تعالی مونږ په حق باندې جمع کړی اګر چه د والی «ګورنر» د کوفی نعمان شاهی محل کې موجود دې مګر مونږ نه هغه سره جمع کې شریك کیږو او نه اختر کې که مونږ ته دا معلومه شی چه تاسو تشریف راوړئ نو مونږ به هغه داسې اوباسو چه هغه به په شام کې آرام مومی بل ځای یې نشی موندلې، نو امام حسین رضی الله تعالی عنه فکر وکړو چه ظاهرې قدرت هم موجود دې تاخیر پکار ندې چه زرترزره د فسق کاسه نسکوره شی د کوفې د صحیح حالاتو معلوماتو معلومولو لپاره یې د تره ځوئ حضرت مسلم بن عقیل رضی الله تعالی عنه ولیږه چه صحیح حالات معلوم او کشف کړی او راوې لیږی هرکله چه مسلم بن عقیل رضی الله تعالی عنه د کوفې په ځمکه قدم کیښوده، نو اهل کوفه د هغوئ ښه استقبال وکړو او صرف په یوه ورځ کې څلویښت زره کسانو بیعت ورسره وکړو. د کوفې والی «ګورنر» نعمان بن بشیر انصاری وو «دا یو معروف انصاری صحابی وو او انتهایی درجه نیك او نهایت ساده انسان وو» مسلم بن عقیل رضی الله تعالی عنه چه د کوفې د خلقو دا محبت ولیدلو نو حضرت حسین رضی الله تعالی عنه ته یې د زر راتلو پیشنهاد وکړو. حضرت حسین رضی الله تعالی عنه پوهه شو چه ولی

شهادی دعجمی بدعت خلاف، او اهلیت نه لرونکو خلقو لره دمسلمانانو دخلیفه جوړیدو نه منع کولو لپاره جهاد ته وتل ضروری دی، دمسلمانانو نظرونه هم دحضرت حسین رضی الله تعالی عنه درهنمایی منتظر وو، او ددې مسؤولیت قبلولو پیشنهاد هم کیدلو لهٰذا هغوئ دکوفې دتللو اراده اوفرمایله، هرکله چه یزید دکوفې په صورت حال باندې پوهه شو چه تمامو اهل کوفه خلقو دحضرت امام حسین رضی الله تعالی عنه سره بیعت کړیدې او مسلم بن عقیل دکوفی والی جوړ شویدې اونعمان گورنر هیڅ اقدام ندې کړې هغه یی فوراً معزول کړو او دهغه په ځای یی ابن زیاد گورنر کړو»، دا ابن زیاد ددې نه مخکې دکوفې والی «گورنر» وو، ابن زیاد ډیر مکار اوچالاك سړې وو، کوفې ته رسیدو سره یی اعلان وکړو چه: ای دکوفې خلقو دمسلم بن عقیل بیعت مات کړئ او که نه نو ستاسو کورونه به وسوزولې شی او ستاسو په ځنونو به مو تورې په نظر راشی، ستاسو ځان، مال او اولاد هیڅ یو شې به ځمانه بچ نه شی، دکوفی خلك مرعوب شول په سوونو خلکو په هغه وخت کې دبیعت ماتولو اعلان وکړو باقی کسان هم مذبذب شول اوپه سبا ټول دابن زیاد ملگری شول، حضرت مسلم رضی الله تعالی عنه سره ډیر فکر پیدا شو چه ما خو امام حسین رضی الله تعالی عنه ته دکوفی راتللو پیشنهاد وکړو، هغوئ به خامخا را روان شوی وی که هغوئ تشریف راوړی نو څه به کیږی پدې خیال کې ډوب وو بالاخره گرفتار کړې شو او شهید کړې شو، هرکله چه حضرت حسین رضی الله تعالی عنه کوفې ته دتللو عزم وکړونو اکابرین صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم اجمعین مثلاً عبدالله بن عمر، عبدالله بن زبیر، عبدالله بن عباس، عمروبن العاص رضی الله تعالی عنهم اجمعین او نورو ډیرو اجلّه صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم دتلونه منع کړو چه دکوفې خلك بی اعتباره دی او تاته څه نقصان ونه رسیږی ځکه چه دحضرت حسین رضی الله تعالی نقصان دملّت اسلامیه عظیم نقصان وو چه دهغه دتلافی څه صورت ممکن نه وو، حضرت عبدالله بن جعفر رضی الله تعالی عنه ورته اوفرمایل «اِنْ هَلَكْتَ الْيَوْمَ طُفِئَ نُوْرُ الْاِسْلَامِ فَاِنَّكَ عَلَمُ الْمُهْتَدِيْنَ وَرَجَاءُ الْمُؤْمِنِيْنَ»، یعنې که تاسو شهید شوئ نو داسلام نور به مړشی ځکه چه تاسو دهدایت یافته خلقو امام او داهل ایمان د اُمیدونو

مرکزیږئ، حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه ورته اوفرمایل : «اَقِمْ فِی هٰذَا الْبَلَدِ فَاِنَّكَ سَیِّدَ اَهْلِ الْحِجَازِ» یعنې ته هم پدغه ښار دمکې مکرمې کې اوسیږه ځکه چه تاسو داهل حجاز پیشوا یئ.

حضرت حسین رضی الله تعالی عنه ورته په جواب کې وویل چه : کچیرې اهل کوفه په وینا کې ریښتونی وی اوزه لاړنه شم نوکه دقیامت په ورځ الله تعالی زما څخه پوښتنه وکړی چه زما بندګانو تا لره دشریعت د اجراء کولو دپاره بللی وو، نو تا په هغوئ بدګمانی وکړه دهغوئ دعوت دې قبول نکړو، نو زه به څه جواب ورکووم بالاخره روان شو، مګر افسوس !!! چه کوفی ته درسیدونه مخکې حالات بدل شوی و. په زیاله مقام کې چه کله حضرت حسین رضی الله تعالی عنه ته دحضرت مسلم رضی الله تعالی عنه دشهادت خبر ورسیدلو نو هغوئ اوفرمایل : «قَدْ خَذَلَنَا شِیْعَتُنَا» «خلاصة المصائب» یعنې زمونږ شیعه ګانو «زمونږ ډلې» مونږ لره ذلیل کړل، او دکربلا په میدان کې یې دحضرت حسین رضی الله تعالی عنه هم محاصره وکړه. دیزید دفوج مشری او قومانده دعمروبن سعدبن ابی وقاص په لاس کې وه «دا دسعدبن ابی الوقاص رضی الله تعالی عنه زوئ وو، کوم چه په عشره مبشره کې وو او دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم رشته دار دې، په جنګ احد کې دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم محافظ وو» حضرت حسین رضی الله تعالی عنه دابن سعد په مخکې درې خبرې کیښودې : ۱ـ ما واپس پریږده «یعنې چه مکې مکرمې ته ولاړشم»، ۲ـ ما یزید ته ورسوئ چه مخامخ هغه سره خبرې وکړم، ۳ـ ما سرحداتو ته پریږدئ چه جهاد وکړم ، هغوئ یوه خبره هم قبوله نکړه اوبرابر یې دیزید دبیعت مطالبه کوله، هغه که دیزید دحکومت لخوا هرخومره تهدید کړې شو، که دلوږې، تندې هرخومره کړاوونه ورباندې راوستل شول، که دهغه واړه ماشومان دفرات دلوئ سیند له اوبونه محروم کړې شول اوکه دهغه ټوله کورنۍ دکربلا په سوزوونکې لمر کې په خیمو کې دننه محاصره کړې شول اوداسې نور تکلیفونه خو دهغه په عزم او اراده کې یوه ذرّه سستی هم را نغله ، داځکه چه هغه ته دخپل ځان او خپلو اولادونو نه دالله تعالی دین ډیر ګران او محبوب وو، بالاخره دکربلا په ډګر کې دمحرم په لسمه له اویانه زیاتو کسانو

دشهادت جام نوش کړو او مسلمانانو ته یې دا سبق ورکړو چه که د اسلام سر لوړی غواړی نودعزت اوشرف مرگ ته دې دذلت پر ژوند ترجیح ورکړی ، که غواړی تل ترتله په ویاړ او افتخار یادشی نو دجهاد او شهادت لار دې په مخ کې ونیسی بیا دغه قاتلینو ژړا فریاد او ماتم شروع کړو ، زین العابدین بن حسین رضی الله تعالی عنهما ورته وویل : ((اِنّ هٰؤلاء یبکون ومن قتلنا غیرهم)) (احتجاج طبرسی ، صفحه : ۱۵۸ ، جلاء العیون ، صفحه : ۵۰۳) ، یعنې اهل کوفه خو ژاړی مگر دا ووایئ چه مونږ چا قتل کړو ، حضرت زینب رضی الله تعالی عنها اوفرمایل : ای اهل کوفه ، ای ظالمانو ، ای غدارانو ، ای رسوا کوونکو ، ډیر بد دی هغه څه کوم چه تاسو مخکې ولیږه چه الله تعالی تاسو نه ناراضه وئ تاسو ژاړئ ، ((فابکو فانکم احرّ بالبکاء)) پس ژاړئ ځکه چه تاسو ته ژړا ډیره خوښه ده ، اوبیا یې ورته وویل چه هرگز دې ستاسو اوښکې وچې نشی ((ناسخ التواریخ ، صفحه : ۲۹۷)) ، ددینه معلومه شوه چه ماتم کاری اوجلوس ویستل دواړه دقاتلین حسین رضی الله تعالی عنه اودیزیدیانو سنت تازه کول دی ، او دبُغض یزید په نامه باندې دحُبِّ یزید اظهار دې او اسلام دماتم کاری او جزع فزع نه په سختی سره منع کړیده ، په یوحدیث شریف کې دی چه : ((لَیْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُودَ وَشَقَّ الْجُیُوبَ وَدَعَا بِدَعْوَی الْجَاهِلِیَّةِ)) (متفق علیه) ، ((چاچه مخ ووهلو او گریوان یې څیرې کړو او دجاهلیت دورځو په شان په زوره ژاړی هغه زمونږ نه ندې)) ، په یوبل حدیث شریف کې دی چه ((اَنَا بَرِیءٌ مِمَّنْ خَلَقَ وَصَلَقَ وَخَرَقَ)) (متفق علیه) ، یعنې چه څوك په مصیبت کې دسر ویښتنه شوکوی په زوره زوره ژاړی جامې څیرې کوی زه دهغوئ نه بیزاره یم ، او همدارنگه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په ویرجن آواز سره ژړا ((چه ورته په عربی کې نوحه وایی)) کوونکو ښځو باندې لعنت لیگلې دی ، ((عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّائِحَةَ وَالْمُسْتَمِعَةَ)) ، (رواه ابوداؤد) ، یعنې نوحه (ژړا) کوونکی ښځه او اوریدونکې ښځه باندې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لعنت فرمایلی دی .

خلاصه دا چه : ژړا انگولا اوماتم کارلی ناجائز اوبدعت سیّئه ده ، پداسې

مجالسو کې شرکت او ددوئ سیل کول او ورتلل ناجائز اوحرام دی، ځکه چه یو خوا داسلام ددشمنانو رونق ډیرول دی لکه چه په حدیث شریف کې دی ((مَنْ كَثَّرَ سَوَادَ قَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ)) اوبل خوا عبادت ته کتل عبادت دې او گناه ته کتل گناه ده ، او دگناه په ځای باندې دالله تعالی غضب وریږی ، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم اجمعین یو واري په داسې علاقه تیریدل چه په هغې باندې عذاب الهی راغلې وو، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په سر مبارك څادر واچولو اوپه جلتئ او تیزئ سره دهغه مقام نه ووتلو.

**نکته** : مقررین حضرات باید دې واقعې سره دنوروواصحاب کرامو واقعات ضم کړی چه داهل تشیع (شیعه گانو) سره مشابهت رانشی، بله خبره داده چه بعضې علماء کرامو لکه ابن جوزی رحمة الله وغیره وایی چه په یزید لعنت پکار دې مگر عام علماء کرامو توقف اوپدې باره کې چپ اوسیدل خوښ کړیدی، لکه امام غزالی رحمة الله علیه او صاحب قصیده امالی پدې تصریح کړیده، رئیس الفقهاء علامه ابن الهمام هم په خپل تصنیف مسامره کې لیکلی دی چه دیزید په معامله کې توقف پکار دې، (( وحقيقة الامر ای الطریقة الثابتة القویمة فی شانه التوقف وارجع الامر الی الله)) زیات تفصیل یی په نبراس او الصواعق المحرقة او الملل والنحل اومنتهی الامالی او البدایة اوعینی کې موجود دې، هلته یی مطالعه وکړئ ، (( الله تعالی دې مونږ خدمتگاران اومجاهدین جوړکړې اوپه آخر وخت کې دې مونږ ته دشهادت سعادت نصیب کړی، آمین یارب العالمین)).

★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★★★

★★★★★

# دصفر المظفر میاشت

محترمو مسلمانانو : دصفری دمیاشتې ډیرتاریخی واقعات دی یوه واقعه له
مغو څخه داهم ده چه دصفری په میاشت کې په کال څلورم هجري کې ابوبراء کلابی چه
دکلاب قبیلې سرې وو ((او په اسلام راوړلو کې یی اختلاف دې)) دزسول الله صلی الله
علیه وسلم په خدمت کې حاضرشو او درخواست یی وکړو چه یوڅو کسان ما سره کړئ
چه زما قوم ته داسلام بلنه ورکړی، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل. زما
دنجد دطرفه ویره ((خوف)) کیږی اودا خوف څه بې ځایه نه وو ځکه چه عامربن طفیل
چه ددې اطرافو رئیس وو هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ویلی وو چه زما او
ستا ترمنځه درې خبرې دی دکلو مالك ته شه او دښاریو به زه شم یا دځان نه وروسته
ما خپل جانشین کړه اوکه نه نو زه به دغطفان په زور په تا حمله وکړم رسول الله صلی
الله علیه وسلم دا خبرې ونه منلې له همدې کبله یی له هغه طرف نه ویره وه ((بخاری
شریف غزوة الرجیع))، ابوبراء وویل چه زه ضامن یم، رسول الله صلی الله علیه وسلم
منظوره کړه او اویا (۷۰) تنه انصار یی ورسره کړل، دا خلق ډیر پاکان او درویشان وو
،او اکثر اصحاب صفه وو او اصحاب صفه څلورسوه تنان دفقیرانو مهاجرینو ځینې
وو په هره سریّه یعنې په جماعت دغازیانو کې به له دې نه رسول کریم صلی الله علیه
وسلم لیږل، اصحاب صُفّه خلکو درس داسلام ورکول علم حاصلول او جهاد ته تلل
خپل کار مقرر کړئ وو)) ، او دهغوئ قاعده وه چه ټوله ورځ به یی لرگی کول مازدیگر
به یې خرڅ کړل څه به یی اصحاب صفه ته ورکړل او څه به یی ځان ته کیښوده ، دوئ چه
بیر معونه ته ورسیدل نوهلته یی مقام وکړو ((حصار شول)) او حرام بن ملحان ته یی
درسول کریم صلی الله علیه وسلم خط ورکړو اودعامربن طفیل خواته یی ولیږه چه
دقبیلې رئیس وو عامر حرام قتل کړو او خواو شاکې چه کومې قبیلې آبادې وې یعنې
عصبیه،رعل، ذکوان، ټولوته یی سړی وزغلول، چه تیار راشی، یولښکر تیار شو او
دعامر په سرداری کې مخکې لاړل ، صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم دحرام دواپس

راتللو په انتظار کې وو چه وخت ډير تيرشو نو پخپله روان شول ، په لاره کې دعامر دفوج سره مخامخ شول کفارو دوئ راګير کړل اوټول يې شهيدان کړل، صرف عمروبن اميه رضی الله تعالی عنه ته عامر دا وويل اوپرې يې ښوده چه : ((زما مور ديومريي دآزادولو منښته کړې وه نو زه تا آزادوم)) . او دسر ويښته يې ورته ديوې غاړې نه قينچی کړل او پرې يې ښوده اودصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم نه په دې ډله کې حضرت کعب بن زيد رضی الله تعالی عنه هم وو ، کفارو خيال وکړو چه هغه هم شهيد شويدې خو هغه کې ساه وه اوژوندې بچ شو اوبيا دخندق په غزاء کې شهيد شو ((زرقانی ، صفحه : ۸۸، جلد: ۲)).

رسول الله صلی الله عليه وسلم چه ددې واقعې نه خبرشو نو دومره غمجن شو چه ټول عمر کې چيرې داسې نه وو غمجن شوې، ټوله مياشت يې دسحر په لمانځه کې ددې ظالمانو په حق کې بد دعاء کوله، حضرت عمروبن اميه رضی الله تعالی عنه په واپسی کې دبنی عامر دوه کسان ووژل چه نبی اکرم صلی الله عليه وسلم ورته امان ورکړې وو ، خوحضرت عمروبن اميّه ته ددې علم نه وو هغه پدې پوهه نه شو چه مونږ دبنوعامر نه دهغې دبيوفايی بدله اخستې ده کومه چه هغوئ درسول الله صلی الله عليه وسلم دصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعين سره کړې وه ، چه نبی اکرم صلی الله عليه وسلم واوريده نو ناراضګی يې پرې ښکاره کړه او ددواړو دخون بهاء ((دية)) ورکولو اعلان يې وکړو ((کمافی البداية والنهاية)).

او دهمدې سفرې په مياشت کې حضرت يحيٰی عليه السلام دحق لپاره خپل ځان دشهادت لپاره تيار کړې وو ، الله تعالی فرمايی : ((يَا زَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ اسْمُهُ يَحْيَى لَمْ نَجْعَل لَّهُ مِن قَبْلُ سَمِيًّا)) ، (سورة مريم) ؛ **ترجمه** : ای زکريا ((عليه السلام)) بيشکه تا له زيرې درکوم ديوځوئ چه نوم دهغه يحيٰی دې له ده نه مخکې دبل کس نوم ما يحيٰی ايښودلې ندې.

اوديحيٰی عليه السلام دعبادت حال دا وو چه په خپل پاك ژوند کې يې ښځه په نکاح کړې نه وه پده باندې دالله تعالی دعبادت کولو جذبه دومره غالبه وه چه سره

دطاقت دمردیّت او انسانی طاقت نه یی خپل ځان دښځو دتعلق نه ساتلې وو چه هیځ
شې ده ته په طاعت اوعبادت دالله تعالی کې حائل نشی او په فارغ زړه په عبادت دالله
تعالی کې مشغو اوسی «البته په اُمت محمدی کې نکاح کول سنت دی»، اوحضرت
یحیٰی علیه السلام دبدبختانو اوظالمانو بنی اسرائیلو له طرفه په شهادت رسیدلې
دې پدې قول کې اختلاف نشته، البته دشهادت دوجوهاتو په هکله یی دوه قوله دی:
۱ـ یو قول دادې چه په بنی اسرائیلو کې یو بادشاه ووداهغه دمنکوحې ښځې سره دپل
میړه نه یوه لور وه یعنې دبادشاه پرکتۍ وه، دبادشاه ښځې غوښتل چه خپله لور یعنې
دبادشاه پرکتۍ بادشاه ته په نکاح شی، بادشاه پدې هکله یحیٰی علیه السلام نه
دجواز فتوٰی وغوښتله، یحیٰی علیه السلام اوفرمایل چه دمد خولې منکوحې لور
یعنې پرکتۍ سره نکاح کول دالله تعالی په نزدحرام دی، ددې په جائز کیدو هرګز
فتوٰی درکولې نشم، دبادشاه ښځې بادشاه ته وویل ترڅوچه تا یحیٰی (علیه السلام)
قتل کړې نه وی ترهغې پورې زما لور ستا په زوجیت «ښځه والی» کې په قلار
دخوشحالۍ عمر نشی تیرولې او دیحیٰی علیه السلام په حیات کې ته دده دخلاف نه
په امن کیدې نه شی، بادشاه دښځې په مشوره حضرت یحیٰی علیه السلام قتل کړو
دیحیٰی علیه السلام سرمبارک چه له تنې نه جدا شو نو هم دا آواز به یی کولو چه
دښځې لور سره نکاح حرامه ده، دیحیٰی علیه السلام دشهادت نه پس پادشاه خپله
پرکتۍ په نکاح کړه، دبادشاه ښځه دبالاخانې چهت ته ختلې وه دغه وخت کې تیز باد
پرې راغې او دالله تعالی په حکم سره دبالاخانې نه را ګذار شوه اوهلاکه شوه اوبادشاه
هم الله تعالی په خپل قهر سره هلاك کړو.

۲ـ دویم روایت دادې چه دبیت المقدس بادشاه وو هغه غوښتل چه خپلې وریرې
سره نکاح وکړی، بادشاه دیحیٰی علیه السلام نه فتوٰی طلب کړه، یحیٰی علیه السلام
اوفرمایل چه: دوریرې سره نکاح هیڅکله نشی روا کیدلې، دوریرې دنکاح اخستلو
لپاره په شریعت کې هیڅ روایت اوصورت نشی جوړیدلې، دوریرې سره دنکاح کولو
دجواز دفتوٰی نه ورکولو په وجه بادشاه یحیٰی علیه السلام شیهد کړو، دیحیٰی علیه
السلام سر مبارك له تنې نه جدا شوې وو او دا آواز به یی کولو چه وریره په سړی

حرامه ده ، دا دبادشاه هرگز ښځه کیدې نشی، بادشاه خپله وریره په نکاح کړه، دیحیی علیه السلام وینې جوشونه وهل، دبادشاه دظلم قتل او دیحیی علیه السلام مظلومیت په دنیا کې مشهورشو نو دیحیی علیه السلام دوینو جوش نه قراریدلو، دهغه وخت علماؤ وویل دیحیی علیه السلام وینه به هلته اودریږی چه ظالمان قتل شی اودهغوئ وینه دیحیی علیه السلام په وینه باندې واچول شی په هغه وخت کې یوبادشاه په بیت المقدس باندې فوج کشی وکړه دظالم بادشاه دقوم نه دده ډیر امدادیان قتل شول دهغوئ وینه دیحیی علیه السلام په مبارکه وینه واچولې شوه، لیکن دیحیی علیه السلام دوینې جوش قرارې ونکړو تردې چه دیحیی علیه السلام قاتل بادشاه سره دهغه حرامې اوناجائزې نکاح والې ښځې قتل شول اودهغوئ وینه دیحیی علیه السلام په جوشیدلې وینه واچولې شوه پس له هغې نه دیحیی علیه السلام دمظلومې وینې جوش اودریدلو ، یوسالك فرمایی :

درجهان گر نیك وگر بد کرده | هرچه کردی جمله با خود کرده

یعنی په دنیا کې که نیکی کوې او که بدی کوې هرڅه چه کوې نو ټول خپل ځان سره کوې.

اودوهب بن منبه نه په سند سره روایت دې چه کوم وخت کې یهودیانو یحیی علیه السلام شهید کړ نوبیایی دزکریا علیه السلام دقتل اراده وکړه اوظالمان یهود چه پدې اراده هغه پسې روان شول، نو زکریا علیه السلام اراده وکړه چه ددوئ نه ځان پټ کړی او دا ظالمان بدبختان پدې اراده کې کامیاب نه شی ، نو زکریا علیه السلام ته یوه ونه «درخت» په نظر راغله دهغې ونې په ډډه کې زکریا علیه السلام ور دننه شو یهودیان ورپسې ورغلل او په ځای ددې چه هغه په راتلو مجبور کړی دونې په سر یې آره کیښودل آسان وګڼل ، آره یې دونې په سر کیښوده او چه زکریا علیه السلام ته اورسیدله نودالله تعالی له جانبه زکریا علیه السلام ته وحی راغله، الله تعالی ورته دوحی په پیغام کې اوفرمایل : که تا آه او فریاد وکړو نو په یهودو به ځمکه لاندې باندې کړم اوپه سخت عذاب به ټول هلاك کړم او که تا صبر وکړو نوفی الحال عذاب نازلیدلونه به بچ شې، زکریا علیه السلام صبر وکړو او تر آخره پورې یې أف قدرې هم

له خولې مبارکې نه ونه باسلو، دې بدبختانو آره دوني تربيخه پورې ورسوله، دوني دوه ټکړې «توټې» کيدو سره دحضرت زکريا عليه السلام پاکه جوسه هم دوه ځايه شوه، دغه دغم ځخه ډکه واقعه هم دصفرې په مياشت کې شوې وه.

په يوبل روايت کې دی چه دآره کشی حادثه ديوشع عليه السلام ده او زکريا عليه السلام شهيد شوې ندې بلکه په خپل مرگ وفات شويدې، والله اعلم، او حضرت زکريا عليه السلام اوحضرت يحيىٰ عليه السلام دواړه اولو العزم پيغمبران دی دحضرت سليمان بن داؤد عليه السلام داولاد ځخه دی، دوئ دتوراة شريف په شريعت اوتبليغ باندې مکلف وو.

اوهمدا رنگه په دويم هجری کال دصفرې په مياشت کې رسول الله صلى الله عليه وسلم دشپيتو مهاجرينو سره مدينې منورې ته ننووت او تر ابواء لاړو «چه هغې سره ځواکې د ابواء غزايا ودّان شوی وه» او چه کوم ځای درسول الله صلى الله عليه وسلم دمور بی بی قبر دې د ابواء دسرځای «نومه» فرع دی، چه يو لوئ کلې دې او مزنيّه قبيله پکې آباده ده او مدينې نه قريب اته پړاوه «اتيا ميله» لرې دې دا دمدينې منورې دروستې او آخری سرحد دې، پدې غاړو کې بنوضمره قبيله آباده ده، او دا اطراف دهغوئ دحکومت په حدودو کې داخل وو، دلته نبی اکرم صلى الله عليه وسلم يو ځو ورځې تيرې کړې اوبنو ضمره سره يې لوظنامه وکړه چه دهغوئ سردار مخشی بن عمرو ضمری وو. دمعاهدې الفاظ دا وو: «هذا کتاب من محمد رسول الله (صلى الله عليه وسلم) لبنی ضمرة فانّهم آمنون على اموالهم وانفسهم وانّ لهم النصر على من رامهم الا ان يحاربو فی دين الله ما بلّ بَحرٌ صوفةً وان النبی اذا دعاهم لنصره اجابوه» «زرقانی، صفحه: ۴۵۹»، يعنې دا دمحمد رسول الله (صلى الله عليه وسلم) خط مبارك دې، بنی ضمره وو ته، ددې خلقو مال هال به محفوظ وی او چه څوك پرې حمله وکړی دهغه مقابله کې به ددوئ امداد کولې شی بغير دهغې نه چه دوئ دالله تعالى ددين په مقابله کې وجنگيږی اوچه رسول الله صلى الله عليه وسلم يې دمدد لپاره راغواړی نودوئ به راځی.

تول محدثين دغزاگانو شروع ددې واقعې نه کوی صحيح بخاری کې هم دا

دغزاگانو دسرغزا گرځولې شوې ده، او بل دا چه په ځينې ځايونو اوخلكو كې دصفرې مياشت سپيره گڼلې شي دا دځانه جوړه شوې اوشريعت نه خلاف خبره ده چنانچه ددې دسپيرۀ توب نه دخلاصي په غرض ددې مياشتې په ديارلسمه نيټه گونگرې ويشلې شي دا هم غلط په غلط بناكول دي گمراهي او بدعت دي، درسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارك دې : ((اَلطِّيَرَةُ شِرْكٌ قَالَهٗ ثَلَاثًا))(رواه ابوداؤد) ، يعنې بدفالي شرك دې دا يې درې ځل اوفرمايل ، او ابن مسعود رضى الله تعالى عنه فرمايلي دي : ((مَا مِنَّا اِلاَّ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ)) ، (ابوداؤد ، ترمذى) يعنې په مونږ كې داسې هيڅوك نشته چه خيالات به ورته نه راځي ، نوهغه يې دتوكل په ذريعه دځان نه لرې كولې شي

ديوې مشهورې خبرې خيال په خپل وخت خامخا راځي خو زړه ورپورې تړل جائز ندي بلكه دتوكل خيال پرې غالب كولو سره دغه بالكل باطل خيالات سمدستي ورك كيږي، يعنې چه اعتقاد په زړه كې اوعمل په جوارحو او په خولې وينا هم نكوي پدې خيال باندې مؤاخذه نشته اودغه په توكل سره مراد دې ، اود نبي اكرم صلى الله عليه وسلم څخه چه روايت دې ((قَالَ اَلشُّؤْمُ فِي الْمَرْأَةِ وَالدَّارِ وَالْفَرَسِ فَهُوَ عَلٰى سَبِيْلِ الْفَرْضِ)) ، يعنې په ښځه اومكان او آس كې سپيره والى دې ((چه په بخارى شريف كې روايت شويدې)) دهغې مطلب دادې چه كه ((بالفرض)) سپيره توب په څه كې كيدې شوې نو پدې ((دريو شيانو)) كې به وو ، لكه ابوداؤد شريف كې چه روايت كړې شويدې چه : ((قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ وَاِنْ تَكُنِ الطِّيَرَةُ فِيْ شَيْءٍ فَفِي الدَّارِ وَالْفَرَسِ وَالْمَرْأَةِ))يعنې كچيرې سپيره والې وې نو پدې درې شيانو كې به وو ، په يوبل حديث شريف كې دى چه ((قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ عَدْوٰى وَلاَ طِيَرَةَ وَلاَ هَامَةَ وَلاَ صَفَرَ)) ، (رواه البخارى) ، يعنې نه دمرض تعديّت شته چه يوڅخه بل ته ولگيږي بلكه څرنگه چه اول الله تعالى څوك بيماروى همدغه شان بل كس لره په مستقل تصرف سره بيماروى ديوبل سره دملاقات وغيره نه چاته مرض نه لگيږي دا ټول وهم دې ،اونه ديومرغه دالوتونه بدفالي اخستي شي ((يعنې كه دښې اړخ نه والوزي نو اثر به يې ښه وي او كس ((چپ)) اړخ نه والوتو نو اثربه يې بد وي دا ټولې وهمي خبرې دي)) ، اونه

دصفرې دمیاشتې سپیره توب څه شی دې، دا ټول وهمونه غلط خیالات دی، او بورسم پدې میاشت کې د اخیری چهار شنبی مُروّج دی داهم بالکل بی اصله ده او بدعت ده . اودتصوّف په ځینو کتابونو کې یوداسې حدیث منقول دی چه «مَنْ بَشَّرَنِیْ بِخُرُوْجِ صَفَرٍ بَشَّرْتُهُ بِالْجَنَّةِ» یعنې چاچه ماته دصفرې دمیاشت دوتلو زیرې راکړو زه به ورته زیرې دجنت ورکړم . ځینې خلقو دې حدیث لره دسفرې په سپیره توب دلیل جوړ کړیدې مگر اول خودا روایت ثابت ندې ، اوکه بالفرض ثابت هم شی نو دصفرې دمیاشتې دسپیرتوب دلیل ندې بلکه ددې مطلب به داوی چه هرکله درسول الله صلی الله علیه وسلم وفات په ربیع الاول کې کیدونکې وو چه الله تعالی دهغوئ (صلی الله علیه وسلم ) دیوځای کیدو یولاروه هغوئ (صلی الله علیه وسلم دملاقات الهی ډیر مشتاق وو ، دصفرې دتیریدو او دربیع الاول دداخلیدو انتظاریی لدې کبله وو ،اوهم پدې خاطر یی ورته زیرې اوفرمایلو ، او دتصوف کتابونو هم ددې مطلب لپاره دغه روایت نقل کړیدې ، والله اعلم بالصواب، « الله تعالی دې مونږ دگمراهی اوبدعت سیئه څخه وساتی ، آمین یا ربِ العالمین».

# دربیع الاول میاشت

محترمو مسلمانانو : ربیع الاوّل هغه بابرکته میاشت ده چه ددواړو کونو شاهنشاه (صلی الله علیه وسلم) ظهور پکې شویدې، دزمانې «اوددهر» په چمن څو څو ځله روح پالونکی سپرلی راغلی دې آسمان کله کله دعالم کائنات مجلس په داسې سازوسامان وبوټوی چه سترگی ورته په لیدو بریښیږی څو ننئ ورځ هغه ورځ ده چه دهغې په انتظار کې عمر خوړلی دهری «زمانې» په کروړهاوو کالونو تیر کړل، دآسمان ستورو هم ددې ورځې په شوق کې دازله سترگې لارې ته نیولې وی، بوډا «زوړ» آسمان دمودو مودو راهیسې ددې روح تازه کونکی سحر دپاره دشپو او ورځو اړخونه اړول را اړول، دقضاء اوقدر دکار کوونکو مجلس ښائیسته کول دعناصرو

نوی نوی نقشونه دلمر او سپوږمئ رڼا ګانی او پلوشې د وریځې او د باد لوندې منګولې دعالم قدوس پاک «انفاس» دابراهیم علیه السلام توحید دیوسف علیه السلام جمال ، دموسی علیه السلام معجزې، دمسیح علیه السلام مړی ژوندی کول، دا هرڅه سره ددې دپاره وو چه دا بی بها متاع به د شاهنشاه کونین صلی الله علیه وسلم په دربار کې په کار راځی.

نننۍ سحر هغه ساه «روح» پالونکې سحر هم هغه نیک بخته ساعت دښه دور نیک فال دې، دسیرت لیکونکې دخپل لنډ تنګ بیان په انداز کې لیکی چه په نننۍ شپه دکسرۍ دمانۍ څوارلس برجه وو غورځیدل، دفارس آتش کده «داور عبادت خانه» مړه شوه، ساوه سیندوچ شو، ولې ریشتیا دادی چه دکسرۍ مانۍ نه یی دعجم شان، دروم شکوت، دچین دترقی آسمان سره سیالی کوونکی قصرونه پرمخې را وغورځیدل، دفارس اورڅه چه دشر دوزخ، دکفر آتش کده دګمراهی آذرکده یخی یخی شوې دمجوسیت مشوره تار په تار شوه صنم خانو کې دوړی والوتې دنصرانیت خزان وهلی پاڼې یوه یوه ودوریده دتوحید نعره پورته شوه دسعادت په چمنستان کې سپرلې راغې دهدایت دلمر پلوشې په هر لوری خورې شوې، دانسانی اخلاقو آیینه دقدس په عکس وځلیده.

یعنی دعبدالله صاحب یتیم ځوئ دآمنې دزړګې سر دحرم بادشاه دعربو حکمران، دټول جهان فرمان راوړ ددوارو کونو شاهنشاه صلی الله علیه وسلم دعالم قدس نه په ډیر عزت اودرناوی عالم امکان ته تشریف راوړو ، دپیدایش دتاریخ متعلق دمصر دعلم هیئت مشهور عالم محمود باشاه فلکی یوه رساله لیکلې ده چه هغه دریاضی په دلیلونو ثابته کړیده چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دړومبئ خور «ربیع الاول» په نهمه ددوشنبې په ورځ مطابق د «۲۰» اپریل کال «۵۷۱» عیسوی کې پیدا شوې وو، دپیدایش په تاریخ کې اختلاف دې خو په دومره خبره دټولو اتفاق دې چه دړومبئ خور میاشت اوددوشنبې ورځ وه او تاریخ داتم اودولسم په منځ منځ کې دې ددینه خارج ندې ددوئ نوم محمد (صلی الله علیه وسلم) کیښودې شو.

اوعام بیان دادې چه عبد المطلب دا نوم کیښودلې وو ، نبی اکرم صلی الله علیه

وسلم مذهبی او سیاسی قائد هم وو، حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دالله پاك وروستني پیغمبر دي، که له یوې خوايي انسانانو ته دیوه خدای دعبادت، غوره اخلاقو، نیکو اعمالو په لوری بلنه ورکړه، دغیر الله له بندگی، بدو اخلاقو، اوبدو عملونو څخه یې منع کړل او په معاد یا آخرت پورې مربوطه چارو کې یې دهغوئ نیادت وکړو، له بلې خوايي په ټولو حیاتی چارو کې هم رهبری وکړه، درسول کریم صلی الله علیه وسلم په راوړی دین یعنی اسلام کې دمذهب اوسیاست دواړو په برخه کې بشپړه تعلیمات او هدایات موجود دی، بر عکس په نړۍ کې چه څومره باطل ادیان او دژوند غلط نظامونه موندل کیږی په هغوئ کې که مذهب شته نو سیاست نشته او که سیاست شته نو مذهب نشته او که احیانًا دا دواړه پکې وی نو بیخی نیمگړی اونیمه خوا دی، دهغو دنیمگړتیا لپاره همدغه دلیل کفایت کوی چه ذهغو منونکی او پیروان د افراط او تفریط دلارې پرغوره کولو یوازې له دې کبله مجبوریږی چه دمذهب په باب چه کله هغو ته بشپړې لارښوونې په لاس نه ورځی نو درهبانیت لاره په مخ کې نیسی او کله چه دسیاست په باب بشپړې لارښوونې ونه مومی نو دماده پرستی ژوند غوره کوی چه په هغه کې مذهب او اخلاق هیڅ لاره ونلری او دهغوئ په نظر کې یوازې خپله گټه وی چه دهغې په خاطر هر راز درواغ تېگی اوخیانت روا گڼی ددغسې بی دینه سیاست نتیجه له بربریّت او چنگیزیت نه پرته نور څه نشی راوتلې اونه انسانی نړۍ په آرام سره نفس راښکلې شی، دښه اوبد اوفرش اوزنځیر کې توپیر نشی راوستلې دباطلو ادیانو په مقابل کې داسلام تر ټولو لوئ امتیازی خصوصیّت همدغه دې چه دافراط اوتفریط ددواړو انتهائی سرحدونو ترمنځ یې دمیانه روی او اعتدال لاره غوره کړیده، پدې کې دانسان دټول ژوند لپاره بشپړې اوکافی لارښوونې شته که یوې خواته دفکر اونظر، عقیدوی او انگیری مذهب اواخلاقو په برخه کې انسان ته لارښوونې کوی نو بل پلوته دهغه دتمدن ټولنیز ژوند، اقتصاد، سیاست، قانون، سولې، اوجنگ، ملی اوبین المللی چارو او اړیکو په باب هم پوره بشپړه هدایات ورکوی گواکې په نړۍ کې دا دژوند یوازنی هغه نظام دې چه

دانسانی ژوند دسعون اوتکامل لپاره کافی هدایات لري، لکه چه ارشاد دي: ((اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا))، نن ما ستاسي دین ستاسي لپاره بشپړ کړیدي، او خپل نعمت می پر تاسي تمام کړیدي او ستاسي لپاره اسلام، ستاسي ددین دژوندني نظام، په توګه انتخاب او منظور کړیدی. اودغه پیغام چه مذهبی اوسیاسی قائد صلی الله علیه وسلم انسانی نړۍ ته وړاندي کړیدی، ترقیامته پوري به دیو کامل دین په شکل کي محفوظ وی،لکه چه ارشاد دي: ((إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ))، ((همدا مونږ قرآن نازل کړیدي اوهمدا مونږ دهغه ساتونکی یو))، نو پرته له اسلامه نه نور ټول ادیان ناقص، نیمګړی اونیمه خوا دی اوله هغو نه هیڅ یوهم دالله تعالی په وړاندي دمنل کیدو وړ ندی که هغه یهودیت وی که مسیحیت وی که هندا ایزم وی که بودائیت وی که پانګه والی نظام وی، که کمونیزم اوسوسیالیزم وی که شاهی آمرانه نظام وی او که لادینی جمهوریت وی، دوئ دانساني ژوند دمشکلاتو دحل لپاره کافی ندی، نو پدي اساس که انسان له اسلام نه پرته بل هرایزم غوره کړی هغه به هرومرو له اخروی خساري سره مخامخ شی، لکه چه ارشادمبارك دي: ((وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ))، خلاصه دا چه الله تعالی مؤمنانو ته امر کړیدي چه خپل ټول ژوند بی له څه استثناء څخه تر اسلامی قوانینو لاندي راولی، داسی نه چه دسیاست او مذهب پر مختلفو برخویی وه ویشی په ځینو برخوکي د اسلام پیروی غوره کړی او ځیني برخي دهغه له پیروی نه مستثناء کړی، لکه د باطلو ادیانو دپیروانو غوندی.

او په اسلام کي دټول ژوند داخلولو مطلب دادي چه دژوند په هیڅ یو اړخ کي هم دشیطانی قوانینو او طاغوتی پلانونو پیروی غوره نکړي شی، که هغه مذهبی وی که سیاسی‌وی که انفرادی وی اوکه اجتماعی وی ، بلکه ټول ژوند باید له اسلام سره سمون ولری، او مؤمنان له الله تعالی نه په ویرولو تنبیه کړي شویدی چه داسلام له قبلولو وروسته دي په قصدی ډول دالله تعالی دهیڅ یو حکم څخه سر غړونه نکوی، بلکه داسلام له منلو وروسته دي دمرګ تر وخته دهغه پابندوی.

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

اوپه اسلام کې دې د ډلو ټپلو بيتلون مينځ ته نه راځي، بلکه ټول دې په يو اتفاق سره دالله تعالی ددين رسۍ ټينګه ونيسي، يعنې پر اسلامی نظام دې عمل وکړي ځکه همدا هغه پيوند دې چه هم له الله پاك سره اړيکه نښلوی اوهم دمسلمانانو پخپلو منځو کې د اخوت ارتباط ټينګوی، په بيتلون اوځانځانی غوره کولو سره له يوې خوا دالله پاك له دغه فرمان نه سرغړاوې اوسرکشي ده چه په يقيني ډول دالله تعالی دمؤاخذې اومحاکمې وړ عمل دې اوله بلې خوا تفرقه او ډله بازی دمسلم اُمت دکمزوری ستر عامل دې، دنابوديدو يوازينۍ لاره چه دې خبرې ته قرآن کريم په يوبل ځای کې څرګنده اشاره کړيده اوفرمايلي يې دی: په خپلو کې اختلاف او شخړه مکوئ ځکه چه په نتيجه کې به تاسې بې زړه اوکم قوته شئ.

نوحضرت محمد مصطفٰی صلی الله عليه وسلم چه هم مذهبی قائد وو او هم سياسی په مدينه منوره کې يې ديو اسلامی حکومت بنسټ کيښود او دلسو کلونو په موده کې يې دعربو بې فتې په خپل سرتاپو وزمې کې چه دهغو خلکو ورځې عادی چارې قبيلوی جګړې وې يو مستحکم اسلامی نظام ټينګ کړو، اسلامی قضاء نافذه شوه دژوند په ټولو اړخونو کې داسلام وړانګې خپرې شوې ټولې معاملې له اسلامی احکامو سره سمې فيصله کيدلې، دښمنی په اخوت او ورور ولی بدلې شوې، دټولو افرادو حقوق او فرائض وټاکل شول چه دحقوقو په اخستلو او دفرائضو په سرته رسولو دټول رعيت ژوند سوکاله اوبسياښو، په هغه دور کې اسلامی حکومت په جغرافيايي پولو کې ايسار اومحدود حکومت نه وو بلکه لکه څنګه چه دغه نظام دټولې انسانی نوعې دخير ښيګنې نظام او دټولو انسانانو لپاره راغلې وو ورځ په ورځ يې پراختيا موندله، په لومړی سر کې يې داسلامی نظام په رڼا کې عربی خاوره روښانه شوه اوبيا ورپسې دهغه وړانګې دنړۍ په نورو ګوټونو کې خپرې شوې، عراق، ايران، فلسطين ، شام، مصر، طرابلس، تونس، ترکستان، آرمينيا او لويديز سند اوهند ترخپل کنترول لاندې راوستل.

حضرت رسول کريم صلی الله عليه وسلم ترمدبرانه قوماندې لاندې چه داسلام له حريم نه دفاع اودحق دعوت دخپرولو په خاطر يې شميره غزاګانی وشوې چه هغو ټولو

كې دوژل شويو كسانو شمير له سلګونو څخه تر زرګونو عدد پورې لوړ نشو او له ختيځ نه تر لويديځ پورې دنړۍ سياستمدارانو د سرور عالم صلى الله عليه وسلم حكيمانه سياست ته داحترام سرونه ښكته كړل پدې اساس بايد وويل شي چه رسول كريم صلى الله عليه وسلم يو ازې مذهبي نه ، سياسي قائد هم وو بلكه دانسانيت غمخور وو ، دهغه ټولې هلې ځلې پدې خاطر وې چه انسانان دهلاكت او تباهى له لارې نه راوګرځي دنجات او فلاح خواته ، له حق سره اشنا او له باطل نه متنفر شي دكفر له تيارونه دايمان رڼا ته راووځي، هغه رؤف او رحيم وو او عفوه او ښښنه يې خوښوله نه انتقام.

دمكې دفتحې په وخت كې چه كله ټول هغه ظالمان دسردار عالم صلى الله عليه وسلم په وړاندې سركوزي ودريدل چه پوره يو ويشت كاله يې دهغه پر خلاف ددښمنى محاذ نيولې وو نو هغه دمهربانى په لهجه ورته او فرمايل : «لاتثريب عليكم اليوم اذهبوا انتم الطلقاء» نن پرتاسې څه مؤاخذه نشته ځئ لاړشئ تاسې آزاد او معاف يئ.

له هغه صلى الله عليه وسلم نه مخكې خلق د خپل مينځى دښمنيو او نفاق له امله دهلاكت او د اُور كندې ته نژدې شوى وو بيا دايمان په رَسۍ باندې دمتحدانه منګولو په لګولو سره ټول يو دبل ورونه شول دهغه صلى الله عليه وسلم په وسيله مؤمنان دنړۍ دټولو ولسونو په مقابل كې يو منظم او دلوړو اخلاقو خاوند ملت شو ، هغه صلى الله عليه وسلم دبشر په جنس كې مبعوث شو ترڅو چې پر اسلام باندې پخپله په عمل كولو خلكو ته دخپلې اسوهٔ حسنه عملى شاهدى وړاندې كړې شى ځكه چه دغير بشر پيغمبر لپاره دا ناممكنه ده چه خلكو ته بشپړه انسانى نمونه وړاندې كړې شى.

دهغه صلى الله عليه وسلم رسالت په «۲۳» كلنه موده كې داسې كارنامې وكړې چه دهمدې شاهدى وايى چه اسلام دحاكميت په خاطر راغلى نه دمحكوميت په مفروضه. هرڅوك چه پدې خبر دى چه هغه صلى الله عليه وسلم په تبليغ او تورى دواړو سره ټوله عربى ځمكه تسخير او په هغې كې يې ديو بشپړه حكومت نظام له داسې مفصل شريعت سره قرار كړچه له عقيدوى او تعبدى چارونه واخله تر انفرادى كړو وړو ټولنيزو اخلاقو ، تهذيب او تمدن ، اقتصادى او اجتماعى معاملات، سياست ، او قضاء ، سولې او جنګ ، پورې دژوند ټولې څانګې يې احاطه كړې وې.

دهغه صلی الله علیه وسلم دنبوّت دور چه دهغه په برکت مسلمان اُمت ته اتحاد او اتفاق نعمت په برخه شویدې ترقیامته پورې دوام لری، ځکه چه دنوی پیغمبر په راتلو سره په پخوانی اُمت کې بیلتون رامنځ ته کیږی له دې امله له پیغمبر نه وروسته دتل لپاره دنبوت ددروازې تړل کیدل ګواکی په مسلمان امت باندې دالله تعالی ډیره پیرزوینه ده چه دختم المرسلین په برکت له عقیدوی او عملی بیلتانه څخه ژغورل شویدی او دیوې کلمې او یوه دین پر محور باندې سره راغونډ شویدی.

داوو دانسانیت دغمخور اوقائد مذهبی اوسیاسی په باب څو لنډ مطالب. «الله تعالی دې موږ درسول کریم صلی الله علیه وسلم صحیح پیروان جوړ کړی او دهغه صلی الله علیه وسلم شفاعت مو دې نصیب کړی، آمین یارب العالمین».

# دربیع الثانی میاشت

محترمو مسلمانانو : پدې بختوره میاشت ربیع الثانی کې دوه سریّه چه یوه سریّة عَلقَمَةَ بن مُجْزز المُدلِجی الکلابیّ اوبله سریّةُ عَلیِّ ابنِ ابی طالب رضی الله تعالی عنه رد واقع شویدی.

سریّه هغه حرب «جنګ» ته ویل کیږی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله ذات مبارك سره په هغې کې موجود نه وی. اوغزوه هغه جنګ ته ویل کیږی چه په هغې کې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خپل ذات شریف سره په هغې کې موجود وی «دروس التاریخ»

او سریّه یو قطعه یعنې ټوټه دجیش «لښکر» ده کمه مرتبه یې پنځه ده او زیاته مرتبه یې درې سوه یا څلورسوه وی «قاموس»، دحضرت امام ابوحنیفة رحمه الله څخه نقل شویدی چه سریه سل نفره وی، او دجیش کمه اندازه څلور زره دی.

نو سریّه دعلقمه بن مجزز المُدلِجی د دریو سوو تنو په شمول په نهم کال دهجرت دربیع الآخر په میاشت کې حبشې ته روان شول پس ورسیدل جزیرة البحر ته چه هرکله

داخل شول نو هغه وتښتېدل پس هر كله چه راستون شو نو خپلي خلكو خپل امير ته واپس كېدلو كي بېړه اوتعجيل وكړو. نو عبدالله بن حُذافه په هغوئ امير جوړكړي شوي وو. په تعجيل كوونكو باندي نو بوخاى دلارو كي بي كوچ وازولو او اور بل كړو نو امريي ورته وكړو چه زما مقصد دي چه اورته خانونه راجوړكړئ پس هر كله چه قصد وكړو پدي باندي خپلي خلقو نوده مبارك ورته ووېل ما خو ش طبعي درسره كوله نو دغه واقعه بي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ذكر كړه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل «مَنْ اَمَرَكُمْ بِمَعْصِيَةٍ فَلاَ تُطِيْعُوْهُ وفي رواية لو دخلوها ما خَرَجُوا مِنْهَا» . يعني چه څوك په گناه درته امر وكړي مه يي قبلوئ . په يو روايت كي دي كچيري داخل شوي واى اورته بيابه ترينه وتلي نواى يعني په جهنم كي به همېشه اور كي پراته واى

**نكته** اوس به په اسلام كي دخليفه او رعيت اړيكو ته يو لنډه كتنه وكړو . مونږ دمخه ويلي وو چه په اسلامي نظام حكومت كي دخليفه او رعيت علائق دشخصي آمريت او مادونيت په اساس ندي دمسلمانانو خليفه هم دعامو مسلمانانو په څېر يو او له هغوئ سره مساوي حقوق لري. په شخصي لحاظ څه تفوق او امتياز نلري. په شخصي لحاظ داطاعت مسئله مطرح نده بلكه اصلي اطاعت پدي اساس دي چه دهغه احكام دالله پاك داحكامو څخه سرچينه اخلي. او درسول الله صلى الله عليه وسلم له احكامو څخه چه هغه دالله تعالى داحكامو قولي اوعملي مفسر دی

حضرت ابوبكر صديق رضي الله تعالى عنه به خلكوته فرمايل كه زه سم او نېغ روان ووم نو له ما سره مرسته كوئ او كه زه كوږ شم نو ما سم كړئ. او حضرت عمرفاروق رضي الله تعالى عنه به فرمايل كه ددجلي دسيند په غاړه يو سپى هم له لوږي مړشو. نو دهغه مسؤوليت به زما پر غاړه وي. نو په اسلامي نظام كي امنيت دخدمت په خاطر ده. دالله پاك ددين اوشريعت دانفاذ او دالله تعالى مخلوق ته دښېگڼي رسولو لپاره ده. دلته دخان او خپلو خپلوانو مربوطو كسانو سوكالي مطرح نده بلكه دعامو مسلمانانو هوساينه په تېره دمظلومو بي وزلو او محرومو كسانو هوساينه مطرح ده

دلته له خپله خانه قانوني طرح نشي کيدې قانون هماغه دې چه الله تعالی اودهغه رسول صلی الله علیه وسلم وضع کړیدې هماغه باید تطبیق اونافذ کړې شي. البته دمشر سره قدرت شته خوهغه قدرت دعدل دبرقرارولو، دظالم له پنجو نه دمظلوم آزادولو، حقدارته دهغه دحقونو درسولو او پدې توګه له ظلم اوستم نه دیوې آزادې او مصؤونې ټولنې دجوړولو په لاره کې په کار اچول کیږي.

داسلام دوهم خلیفه حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه داسلامي خلیفه په توګه خپل دریغ داسې تشریح کوي، ستاسې له مال سره زما ارتباط هماغسې دې لکه دیتیم له مال سره دهغه دولی، وګورئ عمر فاروق رضی الله تعالی عنه په صراحت سره دبیت المال دیتیم له مال سره تشبیه کوي، او په ناجائزه توګه دیتیم دمال خوراك او دهغه نه سوء استفاده کول دقرآن مجید دځرګند ارشاد له مخې په ګیډه کې اور اچول دي یعنې ددوزخ مستوجب عمل دې، بل دا چه په صراحت سره فرمایي ستاسې پرما داحق دې څه چه زما لاس ته راشي هغه له مشروع مصرف نه پرته ونه لګولې شي، یعنې هغه مالونه چه مشرته دمشرتوب او ذمه داری په توګه دهغه لاس ته ورځي، هغه دهغه شخصي مال نشي کیدې، هغه دعامو مسلمانانو مال دې دهغوئ دښیګڼو په لاره کې به لګولې کیږي.

پدې باب هغه واقعه لا زیات قوي سند دې چه پخپله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دابن اللتبیه رضی الله تعالی عنه په نوم یوصحابي دزکوة راغونډولو لپاره مؤظف کړو هغه چه بیرته راغې ورسره مالونه یې دوه ځایه تقسیم کړل، وې ویل دا یوه برخه دبیت المال ده اودا بله خلکو تحفې راکړیدي، رسول الله صلی الله علیه وسلم دغوسې په حال کې اوفرمایل: دوئ ولې دخپل پلار او مور په کور کې نه کیني چه وکتل شي څوك سوغاتونه او تحفې ورته رالیږي اوکنه؟، مطلب دا چه اسلامي ذمه دارته که دهغه دمنصب په وخت کې کومې تحفې راځي هغه دهغه منصب په خاطر دي نه په شخصي ډول دهغه دپاره نو پدې اساس هغه دبیت المال برخه ده نه دهغه خپله شخصي برخه، لنډه دا چه په اسلامي نظام کې اقتداء مسؤولیت دې نه دخوندونو او سوکالیو وسیله، البته ښه سیرت ښه اخلاق ښه خدمت امتیاز شرعي ده، او

همدا رنګه دهجرت په نهم کال دربیع الاخر په میاشت کې یوه سریّه دعلی ابن ابی طالب رضی الله تعالی فُلس ته لاړه ددغه فلس حاکم حاتم طیّ وو چه رنګ یې کړی، یو سل اوپنځوس کسان دانصارو څخه وه چه سل اوښان او پنځوس آسان وو نو هغه یې رنګ کړل ډیر غنیمتونه یې هم ونیول پدې قیدیانو کې سفانهٔ بنت حاتم هم وه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه خلاصه کړه نو پدې سبب دهغې ورور عدی بن حاتم اسلام راوړلو.

**نکته** : اوس به دحضرت علی رضی الله تعالی عنه شجاعت او سیرت ته یوه لنډه کتنه وکړو هغه دا چه په سنه هجری کی نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دیهودیانو روزانه شرارتونو ختمولو دپاره دهغوئ په مرکز خیبر حمله وکړه، خیبر دمدینې منورې نه شمال مغرب طرفته یو ډیر زرخیز ځای وو هلته یهودیانو یوڅو مضبوطې قلعې جوړې کړې وې ، دیهودیانو دا ارمان وو چه هغوئ په مدینه منوره قبضه وکړی او د اسلام بیخ وباسی، هغوئ به دمودو نه لښکرې او دجنګ سامان جمع کولو چه خپل تیارې یې مکمل کړو نو دوه نور قبائل بنو غطفان او بنی اسد یې هم پدې وعده ځان سره ملګری کړل چه مدینه منوره فتح کړی نو نیم نخلستان یعنې دکهجورو باغونه به هغوئ ته ورکړی، کوم وخت چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته دیهودیانو ددې تیاری معلومات وشو نو ابن عرضطه غفاری ضی الله تعالی عنه یې دمدینې حاکم مقرر کړلو، اوپخپله دڅوارلس سوه صحابه کرامو سره یې دخیبر په طرف کوچ وکړو، دمنافقانو سردار عبدالله بن اُبی دمسلمانانو دروانګی اطلاع یهودیانو ته ورکړه هغوئ دمقابلې دپاره میدان ته راووتل دهغوئ دا خیال وو چه خیبر ته را رسیدوکې به دمسلمانانو کافی ورځی لګیږی، لیکن اسلامی لښکر دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دقیادت لاندې ډیرې تیزئ سره دغه فاصله اووهله، اوشپه ورځ سفر کولو سره یوه ورځ دسحر په وخت کې دخیبر خواته ورسیدل، ددوئ په لیدلو سره یهودیان حیران دریان پاتې شول ، ځکه چه دهغوئ په وهم اوګمان کې هم دا خبره نه راتله چه مسلمانان به دومره تیزی سره را ورسی، نو په ډاګه جنګیدل هغوئ مناسب ونه ګڼل، قلعه بندشو ، او په مسلمانانو یې غشی اوتیرې ورول شروع کړل، مجاهدینو

ډیرې ځوانمردۍ سره دغشو او تیرو مقابله وکړه په ډیرې جانبازۍ سره وجنګیدل او
یهودیـانو پـه دریـو قلاګـانو یـې قبضـه وکـړه دیهودیـانو ټولونـه مضبوطه قلعـه
((القموص)) وه څو ورځې تیرې شوې خودټو کوششونو باوجود دا قلعه فتحه نشوه،
رسول اکرم صلی الله علیه وسلم آخر یوه ورځ حضرت علی رضی الله تعالی عنه ته جنډه
ورکړه، لکه چه سهل بن سعد رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه خوږ نبی صلی الله
علیه وسلم دخیبر دجنګ په ورځ اوفرمایل دا جنډه به سباته هغه چاته ورکړم چه الله
پاك به دهغه په لاس فتح وکړی هغه له الله پاك اودهغه له رسول سره مینه کوی او الله
پاك اودهغه رسول له ده سره مینه کوی نو چه سهار شو خلك رسول الله صلی الله علیه
وسلم ته ورغلل او هرچا دا امید کولو چه هغه ته به جنډه ورکړې شي، خورسول الله
صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چه: علی ابن ابی طالب چیرته دې خلکو ورته وویل
دهغه سترګې خوږیږی، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل ماته یې راولئ نو چه
خلکو هغه راوست خوږنبی صلی الله علیه وسلم خپلې لاړې مبارکې دهغه په سترګو
ومښلې او هغه داسې رك روغ شو لکه چه بیخی یې مرض نه درلود، نو بیایی جنډه
هغه ته ورکړه ((متفق علیه)) او هلته یې ولیږلو، حارث او مرحب دوه ورونه دیهودیانو
شجاع ترین سرداران وو، دهغوئ دقوت او شجاعت خبر خورشوې وو، دټولو نه
مخکې حارث دحضرت علی رضی الله تعالی عنه مقابلې ته راغې اوجنګی فن کې
دخپل بې مثاله مهارت باوجود دذوالفقارعلی رضی الله تعالی عنه ښکار شو، بیا
دهغه ورور مرحب غضبناك شو او حضرت علی رضی الله تعالی عنه ته رامخکې شو،
لیکن دهغه حشر هم دخپل ورور په شانته شو.

دحضرت علی رضی الله تعالی ددې لاجوابه بهادری سره مسلمانانو کې بې پناه
جوش پیداشو او هغوئ دالله اکبر په نعرو کې پوره قوت سره په یهودیانو حمله وکړه،
یهودیان پریشانه شول، قلعه کې دننه شول خوحضرت علی رضی الله تعالی عنه
دشجاعت په جوش کې د ((القموس)) دقعلې پهاټك دومره بې پناه زور سره اوخزولو
چه اورته یې وغورځولو اوس مسلمانان قلعه کې داخل شو، دلږ وخت مقابلې نه
وروسته یهودیـانو وسله وغورځولـه، او عـاجزی سره دصلح طلبګار شول، دجناب

رحمة للعالمين صلى الله عليه وسلم په هغوئ رحم راغيې او پدې شرط يې ورسره صلحه وکړه چه ځمکه به دهغوئ سره وی، البته دپيداوار نيمه حصه به مسلمانانو ته ورکوی، دخيبر دغزا اوپدې کې دمسلمانانو دشاندارې فتحې دعربو په هغې قبيلې چاچه تر دې وخته پورې اسلام نه وو قبول کړې، ډير په زړه پورې اثر وشو، دوئ ته په خيبر کې ديهوديانو دجنگی طاقت اوسامان زياتوالی اومضبوطی قلعې اوتجربه کارو جرنيلانو اوتکړه فوځونوښه معلومات وه، نو دې فتحې ددوئ دا ټولې اندازې غلطې ثابتې کړې او اسلامی نظام قوت ورته په ډاگه شو.
اوس به دحضرت علی رضی الله تعالی عنه څو ملغلرې رانقل کړو : ۱ـ فرمايل به يې چه : بنده ته پکار دی چه دخپل الله جل جلاله نه پرته هيچاته هيله ونکړی او دخپلو گناهونو څخه پرته له هيڅ شی څخه ونه ويرېږی، ۲ـ فرمايل به يې چه : غريدونکی ته مه گوره بلکه خبرو ته يې گوره، ۳ـ فرمايل به يې څوك چه په څه شی نه پوهيږی دهغه په زده کړه کې دې شرم نه کوی اوکه د چانه دداسې خبرې پوښتنه وشی چه دده نوی زده نو بی تکليفه دې ورته ووايی چه والله اعلم ، ۴ـ فرمايل به يې احسان دسړی ژبه غوځوی، ۵ـ فرمايل به يې احسان کوئ چه آزاد هم ستاسې غلام شی ، ۶ـ فرمايل به يې چه څوك په زړه کې کومه خبره پټه ساتی نوهغه دده له صورته او دژبې له خوځيدولو څرگنديږی ، ۷ـ فرمايل به يې علم ټيټ سړې اوچتوی او ناپوهی اوچت سړې ټيټوی، علم له مال څخه غوره دې ځکه چه علم به ستاساتنه کوی اودمال ساتنه به ته پخپله کوې، ۸ ـ فرمايل به يې دايمان نښنه داده چه چيرته دريښتيا ويلونه دتاوان انديښنه وی هلته هم ريښتا وايئ ، ۹ـ فرمايل به يې چه : ای خلکو دالله تعالی په يو والی ټينگ اوسئ او هيڅوك له الله تعالی سره مه شريکوئ او درسول الله صلی الله عليه وسلم په طريقه عمل وکړئ ، که دا دواړه کارونه مو وکړل نو له هرې بدئ نه به بچ شئ، توحيد اوسنت ددين دوه ستنې دی او دهدايت دلارې دوه روښانه ډيوې دی.
النکتة الثانية : په يو روايت کې دی چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم حضرت

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

علی رضی الله تعالی عنه ته اوفرمایل: «یَا عَلِیُّ صُمْ مِنْ کُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ اَیَّامٍ فَیُکْتَبُ ذٰلِكَ بِأَوَّلِ یَوْمٍ عِبَادَةُ عَشَرَةِ اٰلَافِ سَنَةٍ وَبِالثَّانِیْ ثَلَثِیْنَ اَلْفَ سَنَةٍ وَبِالثَّالِثِ مِأَةَ اَلْفَ سَنَةٍ قَالَ عَلِیٌّ وَمَاهِیَ یَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ عَلَیْهِ السَّلَامُ هِیَ اَیَّامُ الْبِیْضِ اَلثَّالِثُ عَشَرَ وَالرَّابِعُ عَشَرَ وَالْخَامِسُ عَشَرَ» ای علی (رضی الله تعالی عنه) روژې نیسه له هرې میاشتې نه درې ورځې نوبه لیکلی شی دا په اوله ورځ کې عبادت دلسو زرو کالو او په دویمه ورځ کې دديرشو زرو کالو او په دریمه ورځ کې د سلو زرو کالو. حضرت علی رضی الله تعالی اوفرمایل چه. کومې ورځې دی هغه یا رسول الله، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل چه: هغه ایام بیض دی. دیارلسمه. څوارلسمه اوپنځلسمه دی

دحضرت حفصة رضی الله تعالی عنها څخه روایت دې «قَالَتْ اَرْبَعَةٌ لَمْ یَکُنْ یَدَعُهُنَّ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ صِیَامُ یَوْمِ عَاشُوْرَاءَ وَصِیَامُ الْعَشْرِ مِنْ ذِی الْحِجَّةِ وَالرَّکْعَتَیْنِ قَبْلَ الْغَدَاةِ وَصِیَامُ ثَلَاثَةِ اَیَّامٍ مِنْ کُلِّ شَهْرٍ». دې مبارکې اوفرمایل چه څلور کاره دی چه نه پریښودل نبی اکرم صلی الله علیه وسلم. روژه دورځې د عاشورې او لس روژې د ذی الحجی اودوه رکعته ړومبې له سحر نه او روژې ددرې ورځو له هرې میاشتې نه. نودغه روژې نیول مستحب دی

هغه زړه چه خدای روښان که جام اوجم شی

په دا جام کې ورښکاره تمام عالم شی

«الله تعالی دې زمونږ دنیا او آخرت ښائسته کړی اوعلم نافع او عمل کامل دې ته نصیب کړی، اللهم آمین ثم آمین یارب العالمین».

★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

ناشر

مکتبه فاروقیه محله جنگی پشاور

ناظم عبدالباری منیب لغمانی

★★★★★★★★

★★★★★★★★

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# دجمادی الاولی میاشت

دجمادی الاولی میاشت دتاریخي غزاګانو داسلامي پاڅون

محترمو مسلمانانو : دجمادی الاولی میاشت کې یوه تاریخي غزوه دموته په یوځانګړی شعبه اوفاتحه میاشت ده ، چه پدې میاشت کې یوه تاریخي غزوه دموته په اتم کال دهجرت په جمادی الاولی کی واقع شویده، موته په شام کې دتبلقانه مدینې طرفته دیوځای نوم دې او دوه مرحلو مسافت کې یې بیت المقدس هم دې او عربوکې چه مشرقي تورې ډیرې مشهوری وې هغه به دلته جوړیدې، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دبصرٰی دبادشاه یا دقیصر روم په نوم یوخط لیکلې وو دعربو اوشام په سرحدی علاقوکې چه کوم عرب سرداران بادشاهان وو هغوئ کې یوشُرحبیل بن عمرو هم وو چه ددې بلقاء دعلاقي رئیس او دقیصر ماتحت وو، دا عربي خاندان ډیرې مودې راهیسې عیسایي وو او دشام په سرحدي علاقو کې حاکم وو دا خط حارث بن عمیر رضی الله تعالی عنه وړې وو شُرحبیل هغه ووژه او «شهید» یې کړو ، رسول کریم صلی الله علیه وسلم چه خبر شو نو درې زره (۳۰۰۰) مجاهدین صحابه کرام یې دجهاد لپاره دامیر بُصرٰی ته تیارکړل او دشام په لوریې ور ولیږل، رسول کریم صلی الله علیه وسلم داسلام دلښکر سالار زیدبن حارث رضی الله تعالی عنه مقرر کړو او دوئ ته یې ځلور وصیتونه وکړل چه : راهبان مه قتلوئ واړه او زاړه او ښځې مه وژنئ، ونې مه پریکوئ او شام ته یې رخصت کړه اودې دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم آزاد کړی مریي وو، او ارشاد وشو که چیرې دهغه دشهادت دولت نصیب شي نو جعفر طیّار رضی الله تعالی عنه به ستاسو امیر وی اوکه هغه هم شهید شو نو عبدالله بن رواحه رضی الله تعالی عنه به دفوج سردارشي «رواه البخاری».

حضرت زید رضی الله تعالی عنه که هم آزاد شوې نه وو مریي وو حضرت جعفر طیّار رضی الله تعالی عنه دحضرت علي رضی الله تعالی عنه سکه ورور وو اودنبي اکرم صلی الله علیه وسلم دخاصو نژدې کسانو څخه وو، حضرت عبدالله بن رواحة رضی الله تعالی عنه عزتمند انصاری او مشهور شاعروو، چه دحضرت جعفر رضی

الله تعالی عنه او حضرت عبدالله بن رواحة رضی الله تعالی عنه په موجود ګي کې
حضرت زید رضی الله تعالی عنه افسر کول په کومه وجه دی نو ځکه خلقو کې
ګوسې جورې شوې «فتح الباری». ولې اسلام چه کوم عام مساوات قائمولو له
راغلې وو . دهغې دپاره هم دغه قسم قربانۍ په کار وه
دحضرت اسامه رضی الله تعالی عنه په مهم کې چه ټولو مهاجرینو ته پکې
شاملیدو حکم شوې وو . نبی کریم صلی الله علیه وسلم هم ددغه زید رضی الله تعالی
عنه ځوئ حضرت اسامه رضی الله تعالی عنه دفوځ افسر مقرر کړې وو . هغه وخت هم
خلقو کې بحثونه شوی وو . نبی اکرم صلی الله علیه وسلم چه واوریدل نو تقریر یې
وکړو او وې فرمایل چه : «تاسو خلقو دهغه دپلار په افسرئ هم اعتراض کړې وو سره
ددې چه هغه یقینًا دافسرئ لائق وو «صحیح البخاری» . بَعَثَ النَّبِیّ صلی الله علیه
وسلم اسامة بن زید فی مرضه الذی توفی فیه «باب المغازی» کې دا واقعه په
تفصیل سره نقل شوې ده . که هرڅومره دا مهم «غزا» دبدل «قصاص» اخستو په
غرض وه خو ددې کبله دټولو مهمونو اصلی نچوړ «محور» داسلام تبلیغ وو ارشاد
وشو چه اول دې دوئ ته داسلام دعوت ورکړل شی «طبقات ابن سعد . مغازی .
صفحه : ۹۳» که اسلام قبول کړی نو دجنګ ضرورت نشته دا حکم هم وشو چه
دهمدردئ داظهار په خاطر هغه ځای ته ورشی چیرته چه حارث بن عمیر رضی الله
تعالی عنه دخپلو فرضو په اداء کولو کې سرورکړې دې . ثَنِیَّةُ الْوَدَاع نومی ځای پورې
رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پخپله فوځ سره جلب کې لاړلو . صحابه کرام رضی الله
تعالی عنه په چغو چغو دعاګانی وکړې چه الله تعالی دی تاسو روغ جوړ او کامیاب
واولی دمدینې منورې نه فوځ روان شو . نو جاسوسانو شُرحبیل ته خبر ورکړلو چه
دمسلمانانو لښکر دجنګ په اراده ستا طرفته در روان دې اوهغه دمقابلې دپاره کم
ورزیات یولاکهه فوځ تیار کړو هغه طرفته پخپله قیصر روم «هرقل» دعرب قبیلو دبی
شماره فوځ سره راغې اودبلقاء په خلعو کې مآب نومی ځای کې یې خیمې ولګولې .
حضرت زید رضی الله تعالی عنه چه دا حالات واوریدل نو زړه ته یې دا خبره راغلې چه
نبی اکرم صلی الله علیه وسلم پدې حالاتو باندې خبر کړې شی اودحکم انتظار وشی

[illegible] حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله تعالی عنه وویل زمونږ اصل
[illegible] دشهادت دولت نصیب کیدل دی «ابن هشام»، چه هغه هر وخت
[illegible] دا چه دا ورو کی غوندي ډلگی ور وړاندي شوه. زیدبن حارث
رضی الله تعالی عنه داسلام لښکر ته تقریر وکړو او وي فرمایل: ورونو! تاسوته
[illegible] چه دالله تعالی دپاره جنګیدل جنت ګټل او ابدی سعادت دي زمونږ سرونه
او مالونه دالله تعالی دی دهغه په لاره کي مونږ صرف کړی دی ددي په عوض کي دالله
تعالی رضا. او جنت ګټل بی مثله ګټه اونعمت دی. په یو لك فوځ یی حمله وکړه جهاد
شروع شو تو زید رضی الله تعالی عنه بن حارث دشهادت جام نوش کړو دهغه نه پس
حضرت جعفر رضی الله تعالی عنه جنډه په لاس کي واخسته د آس نه راکوز شو اول
یی دخپل آس پښي په توره ووهلی بیا داسي په نره وجنګیده چه په تورو پوټي پوټي
شو او را ولویده. دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی بیان دي فرمایی چه: ما دهغه لاش
لیدلي وو دتورو او غشو لس کم سل واره «ګذارونه» پرې شوی وو او هغه ټول په سینه
مبارکه کی وو او شا یی په دي داغ نه وه داغی شوي «صحیح بخاری»، ځکه چه
جنګ نه هغه شاه نه وه ګرځولي. هغه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم دذو الجناحین
خطاب ورکړیدي. ځکه چه هغه ته الله تعالی په جنت کي وزرې ورکړیدی په جنت کي
پدي الوتل کوی.

دحضرت جعفر رضی الله تعالی عنه نه وروسته عبدالله بن رواحه رضی الله تعالی
عنه جنډه په لاس کي واخسته او هغه هم دشجاعت او میړانې حق اداء کړو او
شهید شو. بیا په اتفاق دمؤمنانو دجنګ قوماندہ حضرت خالد بن ولید رضی الله
تعالی عنه ته وسپارل شوه. دي ډیر په بهادری وجنګیده. په صحیح بخاری شریف
کي دی چه اته تورې دهغه په لاس کي ټوټې ټوټې شوي او صرف یوه یمنی توره یی په
لاس کي چلیدلی شوي وه. خالد بن ولید رضی الله تعالی عنه ته پدي ورځ رسول اکرم
صلی الله علیه وسلم د «سیف الله» خطاب اولقب ورکړیدي «یعنی دالله تعالی توره»
خو سلو زرو سره د دریو زرو څه مقابله کیدي شوه. لویه کامیابی هم دغه وه چه
فوځونه ددښمن له وهنی «ساحي» نه بچ را وه ویستل شول. یو حدیث شریف دي چه:

«عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَى زَيْدًا وَجَعْفَرًا وَابْـنَ رَوَاحَـةَ لِلنَّاسِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَهُمْ خَبَرُهُمْ فَقَالَ أَخَذَ الرَّايَةَ زَيْدٌ فَأُصِيبَ ثُمَّ أَخَذَ جَعْفَرٌ فَأُصِيبَ ثُمَّ أَخَذَ ابْنُ رَوَاحَةَ فَأُصِيبَ وَعَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ حَتَّى أَخَذَ الرَّايَةَ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللّٰهِ حَتَّى فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ». «رواه البخاري». **ترجمه**: دحضرت انس رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دزید رضی الله تعالی عنه او جعفر رضی الله تعالی عنه او ابن رواحه رضی الله تعالی عنه دشهادت خبر دبل چا دخبر راوړلو نه مخکې په الهی خبر سره خلقو ته ورکړې وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی وو جنډه «بیرغ» دامارت اول زید رضی الله په لاس کې واخستله هغه شهید شو. بیا جعفر رضی الله تعالی عنه نشان دسالارئ واخستلو. هغه هم شهید شو بیا جنډه ابن رواحه رضی الله تعالی عنه واخستله هغه هم شهید شو ... نو رسول الله صلی الله علیه وسلم چه دا فرمایل نو له سترګو مبارکو نه یې اوښکې بهیدلې. تر دې چه جنډه «بیرغ» یوې تورې دالله تعالی دتورو نه په لاس کې واخسته. پس الله تعالی دهغه په لاس فتحه مؤمنانو ته ورکړه

دمسلمانانو مجاهدینو دغې میړانې دشام خلک او له شام شام سره متصل اوسیدونکی نیمه آزادی عربی قبیلې بلکه عراق ته نژدې اوسیدونکی نجدی قبیلې چه دکسرئ تر قلمرو لاندې وې ټول یې داسلام خواته متوجه کړل او زرهاوو خلکو اسلام ومانه. دبنی سلیم. اشجع. غطفان. ذبیان. اوفزاره ولسونه په همدغې زمانه کې په اسلام مشرف شول او په همدغې زمانه کې د رومی سلطنت دعربی فوځونو نامتو قومندان فروه بن عمرو الجذامی مسلمان شو چه خپل ایمان یې پداسې شان سره ثابت کړو چه شا او خوا سیمې دهغه په لیدلو هک پک پاتې شوې. قیصرته چه کله دفروه داسلام راوړلو خبر ورسیده هغه یې لاس تړلې خپل دربارته وغوښت او ورته یې وویل چه له دوو لارو نه یوه خوښه کړه یا اسلام پریښودل چه ددې کار په نتیجه کې به نه یوازې دا چه خوشې کړې شې بلکه بیرته به خپل منصب درته وسپارل شي یا اسلام چه په نتیجه کې به ستا سزا اعدام وی. هغه په سړه سینه اسلام خوښ

کړو او دحق په لاره کې یې خپل ژوند قربان کړ.

دغو پیښو له قیصر سره ددې خطر احساس پیدا کړ چه اسلام کوم سربښندونکي روزلي دي هغوئ په مینه مینه په خپله خوښه دمرګ غیږې ته ورځي. دایمان په طاقت باندې متکي دي اودهیڅ ډول لوئ او واړه طاقت نه یې ویره نشته . کیدې شي چه دهمدغه لړ شمیر مجاهدینو دلاسه دروم ستر طاقت دړې وړې شي. په دوهم کال قیصر له مسلمانانو څخه دموته دغزا دانتقام داخستلو لپاره دشام په سرحد کې دعسکری ترتیباتو په نیولو لاس پورې کړ.

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم چه یو بې ساری مدبّر او با خبره قائد وو له هرې ورې اوغتې خبرې نه به یې ځان خبرولو. ددښمن دفوځونو دتیارسئ کولو په معنې سمدلاسه وپوهیده اوفوراً یې فیصله وکړه چه دقیصر له ستر طاقت سره باید جنګ وشي ځکه پدغسې حالاتو کې که لږ شانته سُستي وښودله شي نو نیتجه به یې ډیره وخیمه وی او دګټلی میدان به بیرته دبایللو خطر وی اګر که دمشکلاتو هیڅ کمې نه وو. وچکالی اودغلې قحطی وه دسختی ګرمی موسم وو دسورلیو اوجنګی تجهیزاتو اومهماتو برابرول ډیر ګران وو، سرمایه په لاس کې نه وه، او په عین حال کې دنړۍ ددوو سترو طاقتونو له جملې نه له یوه سره مقابله په مخ کې وه. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دجنګ لپاره دتیاری نیولو عمومی اعلان وکړ او دمخکې عادت پر خلاف یې مجاهدینو ته په ډاګه وویل چه له روم سره جګړه ده او دشام خواته تلل دی، ددغه وخت په نزاکت باندې پوهیدل، دزاړه جاهلیت درومیانو لپاره دا دأُمید وروستي څرك وو، ځکه چه پوهیدل چه که دغه طاقت د اسلام په مقابل کې ماتې وخوړله بیا داسلام مخه هیڅوك نشي نیولې، منافقانو مسجد ضرار دهمدغې ورځې لپاره جوړ کړې وو، منتظر وو چه که مجاهدین ماتې وخوری دوئ به د اسلام په مرکز کې دفساد لوخړې را پورته کړی اوبلې خواته مؤمنان هم پدې پوهیدل چه دکوم نهضت لپاره چه مونږ پوره دوه ویشت (۲۲) کاله خپل سرونه په لاس کې نیولی دی نن دهغه دسر نوشت ټاکلو ورځ ده که بریالی شو نو په ټوله نړۍ که به اسلام کامیاب وی او که ناکام شو نو په عربو کې به هم داسلام تغر ټول شي

په همدې احساس سره دحق سربښندونکو په ډېر جوش او ولوله د جنګ سامان
ونيوه، دوسائلو په برابرولو کې هرچا پوره برخه واخيستله. حضرت عثمان رضي الله
تعالى اوحضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله تعالى عنه ډېر مالونه ورکړل، حضرت
عمر رضي الله تعالى عنه دخپل ټول مال نيمايي برخه راوړه، حضرت ابوبکر صديق
رضي الله تعالى عنه چه هرڅه لرل ټول يې راوړل، بيوزلو او غريبانو صحابه کرامو
مزدورياني وکړې څه يې چه وګټل هغه يې راوړل، ښځو خپلې ګاڼې نذرانه کړې،
ځينې داسې هم وو چه له هرې خوانه ولې ولې ځلك راغلل او پېشنهاد يې وکړو چه که د ملګو
وسائل دې دادې زموږ سرونه دقربانۍ لپاره حاضر دي، کوم کسانو ته چه سورلۍ
ونه رسيدلې هغوئ به په داسې شان سره ژړل چه د الله تعالى دحبيب صلى الله عليه
وسلم زړه مبارك به له خفګانه را ډکيده. پدې عظيم امتحان کې له هرچا سره دا
احساس وو چه دېيرته پاتې کيدلو معنى له اسلام نه بېرته کيدل دي، او دملګرتيا
معنى له اسلام سره ملګرى کيدل دي، دنهم هجري کال درجب المرجب په مياشت کې
رسول اکرم صلى الله عليه وسلم دېرش زره مجاهدينو سره دشام خوانه حرکت وکړ،
ددېرو تنو په سر دسورلۍ يو اوښ ورسيده، وار په وار به سوريدل، ګرمي ډېره زياته
وه او داوبو کمې ېرې دپاسه وو، مګر پدې نازکه مرحله کې چه مسلمانانو د رښتوني
ايمان کوم اثبات او اظهار وکړو، دالله پاك دربار ته دسرونو دکومې نذرانې په نسبت
په خوځيدلى وو تبوك ته په رسيدو دهغې اجر او ثمره نغده په لاس ورغله، هلته چه
ورسيدل ورته معلومه شوه چه قيصر او دهغه پيروان ددې په ځاى چه د جنګ لپاره را
وړاندې شي، خپل فوځونه يې له سرحد نه په شا کړيدي او هلته اوس دښمن هيڅ وجود
نلرى چه جګړه ورسره وشي، پدې غزا کې بهترين تکتيك داوو چه دقيصر د لښکرو
تيارۍ له ښېريدو مخکې داسلام عسکرو حرکت وکړو، په هغه باندې دمونه
دفراء رعب او ويره ناسته وه چه هلته يو مسلمان د درې دېرش کافرانو په مقابل کې
واقع وو، اوبيا يې هم مسلمانانو ته ماتې ورنکړې شوه، هلته درې زره ۳۰۰۰،
ديو لکهه په مقابل کې وو، اوس دېرش زره ۳۰۰۰۰، د دوه لکهه ۲۰۰۰۰۰ په
مقابل کې دي، او هغه هم پخپله دالله پاك دحبيب صلى الله عليه وسلم تر قوماندې

لاندې څکه نو قیصر همت بایلوده او سرحدیې خالي پریښود. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دشام سرحد ته له داخلیدو وروسته په وړاندې تګ باندې دې خبر ته ترجیح ورکړه چه له دغې فتحې نه سیاسی او حربی ګټې ترلاسه کړي. شل ورځې هلته تم شول او ټول هغه واړه واړه ریاستونه یې د اسلامی حکومت تابع کړل چه له دې نه مخکې د رومی سلطنت تر قلمرو لاندې وو. یو شمیر رئیسانو هم دجزیې په اداء کولو سره دمدینې منورې تابعیت قبول کړ. او نتیجه دا شوه چه د اسلامی حدودو اقتدار په مستقیم ډول د رومی سلطنت سرحد ته ورسیده.

خلاصه دا چه: د کومو مخلصو انسانانو چه له خپل پروردګار، دهغه له ګران حبیب او دهغه له سپیڅلی او مبارك کتاب سره مخلصانه مینه وي دهغوی ټول ژوند دهغه درضاء لپاره وقف وي هرڅه یې دهغه د دین او شریعت دلوړولو او قائمولو لپاره وقف دی، ټول عمر دخپل الله پاك په لاره کې جد اوجهد کوي هلې ځلې کوي خپلې بشری قواوې، خپل استعدادونه، خپل وختونه او فرصتونه په کار اچوي، دالله تعالی کلمه لوړوي، دالله تعالی دین ته خدمت کوي دالله تعالی په ځمکه کې دعدل قانون نافذوي، دظلم کمبله «ټغر» ټولی. مظلومان آزادوي، اخلاقی فضائل خوروي، دحق دعوت او تبلیغ کوي، دالله تعالی بندګانو ته سمه لاره ښایی. کله چه په دغه لاره کې له ستونزو او خنډونو سره مخامخ کیږي نو نه ویریږي اونه بی حوصلې کیږي اونه په شاه راځي، په بیرته نه جاروځی، په شاه تلل اوبیرته جارواته ورته عار اوګناه ښکاریږي، دمینې او وفاء داصولو پرخلاف یې ګڼي، په دغسې شرائطو اوحالاتو کې صبر او استقامت، ټینګار او ثبات ځپله اسره ګرځوي همدغسی وسله دتاریخ په هر دور کی متعهدو او مؤمنانو بندګانو په کار اچولې ده. اوله همدې لارې نه یې دالله پاك ملګرتیا ګټلې ده. «الله تعالی دې مونږ هم داسلام صحیح خدمت کوونکی جوړ کړي. آمین یا رب العالمین».

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# دجمادی الثانی میاشت

محترمو مسلمانانو په جماد الاخرٰی میاشت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم
ام المؤمنین حضرت أم سلمه رضی الله تعالی عنها او د ام المؤمنین حضرت صفیه
رضی الله تعالی عنه سره نکاح شویده. فلهذا مونږ ددې حالاتو نه لنډه کتنه کوو چه
یونږ دهغوئ اخلاق او عادات وپیژنو کوم چه هغوئ ته د رسول الله صلی الله علیه
وسلم دنږدیکت په برکت نصیب شوی وو. او بیا دهغې په رڼا کې خپل ژوند روښانه
کړو. مطلب دا چه مسلمانان دخپل تهذیب، معاشرې، او روایتو مطابق ژوند تیرکړي
او نورو ته هم سمه لاره وښایي او س وخت دی چه مونږ ددې مقدسو ښځو سیرتی
وکړو کوم ته چه قرآن مجید کې مؤمنات او صالحات فرمایلي شویدي

نو دحضرت بی بی أم سلمه رضی الله تعالی عنها اصلي نوم هند وو او کنیت یې
ام سلمه او دقریشو دخاندان مخزوم نه وه. او دپلار نوم یې حذیفه وو چه کنیت یې
ابو أمیه وو. یو دولت مند او بې کچه سخي سړی وو. دهغه سخاوت او شهرت
هرطرفته خور شوي وو. په سلګونو خلکو به یې په دسترخوان دوډۍ خوړله او که
چیرته سفر به یې کولو نو دټولو ملګرو دخوراك او څښاك او نورو ضروریاتو ذمه داري
به دهغه په غاړه وه. لدې وجهې نه خلکو ورته د زاد الراکب لقب ورکړی وو او هغه
به ټولو قبائلو دقریشو کې ډیر عزتمند او سپین ږیری ګڼلی شو

دبی بی أم سلمه رضی الله تعالی عنه رومبی نکاح دهغې د تره خوئ ابو سلمه
عبدالله بن عبد الاسد مخزومي سره شوی وه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ترور
زوئ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دپیو شریك وروړ هم وو. په اسلام
راوړونکو کې دا یوولسم سړی دي. اول یې حبشې ته هجرت وکړو بیا مدینې منورې ته
او بیا د أحد په جنګ کې په سنه ۳ هـ کې شهید شو او بی بی أم سلمه رضی الله تعالی
عنها هم دغه زمانه کې په اسلام مشرفه شوه چه دوارو ته د سابقون الاولون خوږ مرتبه
حاصل شو او د اسلام په خاطر یې ډیر تکلیفونه تیر کړل لیکن دحق لاري نه یې

قدمونه اخوا دیخوا نه شول، څومره به چه مسلمانانو تعدا زیاتیدول هومره به ورته کفاور تکلیفونه اضافه کول. مسلمانان چه هرکله مکې معظمې کې دکفاور څخه ډیر تنګ شول نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دحبشې ملك ته دهجرت اجازه ورکړه لکه چه مخکې یې تفصیل تیر شویدې نوابو سلمه او اُم سلمه رضی الله تعالی عنهما هم دبعضې روایتونو مطابق نورو مسلمانانو سره حبشی ته هجرت وکړلو. هلته څو ورځو تیرولونه وروسته بیا یې مدینې منورې ته دهجرت کولو قصد وکړو دغه وخت کې ابو سلمه رضی الله تعالی عنه سره صرف یو اُوښ وو چه په هغه یې ام سلمه رضی الله تعالی عنه او خپل ماشوم بچې سلمه رضی الله تعالی عنه سواره کړل. اوپخپله یې داوښ مهار نیولې ووپیاده روان وو. څو قدمه لاړنه وو چه د اُم سلمه رضی الله تعالی عنها دخاندان خلق یعنې بنو مغیره خبرشول. هغوئ داوښ نه را چاپیره شول او ابو سلمه رضی الله تعالی عنه ته یې وویل چه ته تللې شی لیکن زمونږ لور تاسره نه شی تللې، ابو سلمه رضی الله تعالی عنه څخه یې داوښ مهر خلاص کړو او ام سلمه رضی الله تعالی عنها یې په زوره دخپل ځان سره بوتله، پدې کې دابوسلمه رضی الله تعالی عنه دخاندان خلق یعنی بنو عبدالاسد راورسیدل، هغوئ د اُم سلمه رضی الله تعالی عنها بچې یعنې سلمه رضی الله تعالی عنه قبضه کړ، او بنو مغیروو ته یې وویل کچیرې تاسو خپله لور دابو سلمه رضی الله تعالی عنه سره نه پریږدئ نو مونږ دخپلې قبیلې بچې هم تاسو سره نه پریږدو ، ابو سلمه رضی الله تعالی عنه ته یې وویل چه ته یواځې کوم خواته تلل غواړې تللې شې، دغه وخت مدینې منورې ته دهجرت حکم شوې وو، نوابو سلمه رضی الله تعالی عنه بغیر دخپلې ښځې اوبچی نه غمګین مدینې منورې ته روان شو او اُم سلمه رضی الله تعالی عنها یواځې بغیر دبچی نه بنو مغیره وو روانه کړه ، اوبچې یې دعبدالاسد سره وو ، ګویا ددین دحقانیت په خاطر درې واړو یعنې پلار، ځوئ اوښځې دجدایی مصیبتونه برداشت کول او دا په حقیقت کې یو ... صدمه وه ، او اُم سلمه رضی الله تعالی عنه به روزانه سحر وختی دخپل کور څخه وتله اوتوله ورځ به په غونډئ ناسته وه او ژړا فریاد به یې کولو، پوره یو کال دغسې تیرشو، لدینه وروسته دبنو مغیره دیو سړی زړه پرې وسوزیدلو خپله قبیله یې

را جمع کړه او ورته یې وویل دا څومره ظلم دې چه خپل بلاربخوږ او ښځه مو سره جدا کړیدي، نو دخلکو په زړه کې رحم راغلو. نو دغوي ام سلمه رضی الله تعالی عنها ته اجازت ورکړو چه مدیني منورې ته تللې شي. کوم وخت چه بنو الاسد لدې واقعې څخه خبر شول دهغوئ هم ترس راغلو او دغه حضرت سلمه رضی الله تعالی عنه خپلې مورته ور ولیږلو. أم سلمه رضی الله تعالی عنها خپل بچي په غیږکې واخستلو په اوښ سوره شوه او دمدیني منورې په طرف روانه شوه. په لاره کې دتنعیم په مقام کې یو شریف نفسه سړې حضرت عثمان بن طلحه رضی الله تعالی عنه سره یوځای شو نو دغه وویل چه دا خو نامردی «بی غیرتی» ده چه ښځه یوازې دالله تعالی ددین لپاره سفر کوي او زه ور سره کومك ونکړم نو داوښ جلب یې ونیولو مدیني منورې ته یې روان شو، چه قباء نومی مقام ته ورسیدل. ابو سلمه رضی الله تعالی عنه دلته دیره مقیم وو. عثمان بن طلحه رضی الله تعالی ددې ځای نه مکې ته روان شولو او د ام سلمه رضی الله تعالی عنها ملاقات یې دخپل جدا شوي خاوند سره وکړو دغه دواړه په لیدو سره ډیر خوشحاله شو او دالله تعالی شکر یې اداء کړلو. چه څوك دالله تعالی په لار کې ووځي نو الله تعالی یې امداد کوي. أم سلمه رضی الله تعالی عنها فرمایي چه دعثمان بن طلحه رضی الله تعالی عنه نه زیات مددګار او شریف سړې نه دې لیدلې نو درچا سره چه نیکي وکړې شي دهغې هیرول ندي پکار.

څه موده پس ابو سلمه رضی الله تعالی عنه په غزوه أحد کې شهید شو. کوم وخت چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دابو سلمه رضی الله تعالی عنه دشهادت خبر ورسیدلو نو هغه صلی الله علیه وسلم پخپله دتسلي ورکولو په خاطر دهغوئ کورته تشریف راوړلو او أُمّ سلمه رضی الله تعالی عنها ته یې دصبر کولو توصیه وکړه او ورته یې فرمایل چه: ته ابو سلمه رضی الله تعالی عنه ته دمغفرت دعاء غواړه. دحضرت ابو سلمه رضی الله تعالی عنه دوفات په وخت کې سترګې خلاصې وې. رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل لاس مبارك سره ورته سترګې بندې کړې. دجنازې په وخت کې یې نهه تکبیرونه وکړل. خلکو پوښتنه وکړه چه یا رسول الله تاسو نهه تکبیرونه څنګه وکړل؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته او فرمایل چه: ابو سلمه رضی الله تعالی

عنه دزرګونو تکبیرونو مستحق وو، دابو سلمه رضی الله تعالی عنه دوفات نه
وروسته حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه او حضرت عمر فاروق رضی الله
تعالی عنه هم د أم سلمه رضی الله تعالی عنها د دستګیری په نیت هغې ته دنکاح
پیغام ولیږلو خوام سلمه رضی الله تعالی عنها انکار وکړو، نبی کریم صلی الله علیه
وسلم د أم سلمه رضی الله تعالی عنها دبی کسی دحالاتو نه ډیر متأثره وو او د ابو
سلمه او ام سلمه رضی الله تعالی عنهما چه دحق په لار کې کوم مصیبتونه تیر کړی
وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دهغې ډیر زیات او بې کچه احساس وو. نو
رسول الله صلی الله علیه وسلم دحضرت عمر رضی الله تعالی عنه په معرفت أم سلمه
رضی الله تعالی عنها ته دنکاح پیغام واستولو چه أم سلمه رضی الله تعالی قبول کړلو
په سنه (۴) یا سنه (۵) کې په اتم دجمادی الاخری یا شوال کې د (۲۴) کالو په عمر کې
کله چه درسول الله صلی الله علیه وسلم عمر (۵۶) کاله وو په نکاح کې راغله او دینه
وروسته دبی بی زینب رضی الله تعالی عنها بنت خزیمه کورته راوستې شوه ځکه چه
هغه وفات شوې وه

أم سلمه رضی الله تعالی عنها په رومبئ ورځ په خپل لاس طعام تیار کړلو. رسول
الله صلی الله علیه وسلم حضرت أم سلمه رضی الله تعالی عنها ته یوه تکیه چه
دکهجورې دپوستکی نه ډکه وه اویوه دخرمنې تکیه او دوه واړه مشکونه او دوه
میچنې عطا کړې، درسول الله صلی الله علیه وسلم سره دنکاح نه وروسته هم ام سلمه
رضی الله تعالی عنها دخپل رومبی خاوند د دوه اولادونو په ښه توجه سره پرورش
وکړلو، یوځلې بی بی درسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چه یا رسول الله آیا
ماته به ددې بچو دپرورش اجر راکولې شی او که نه؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم
ورته اوفرمایل چه آو «بلې» خو درسول الله صلی الله علیه وسلم نه دام سلمه رضی الله
تعالی عنها څه اولاد نه وو. او سفینه رضی الله تعالی عنه دأم سلمه رضی الله تعالی
عنها غلام وو، أم سلمه رضی الله تعالی عنها پدې شرط آزاد کړو چه هغه به تر ژونده
دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم خدمت کوی. دغه دمحبت لویه علامه وه او أم سلمه
رضی الله تعالی عنها دخپل پلار په شان ډیره سخی ښځه وه په خپله به بی سخاوت

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

کړلو او نورو ته به یې هم دسخاوت ترغیب ورکولو. ناممکنه وه چه سوالکر ددې دکور څخه خالي لاس تللې وې، څه ناڅه شې به یې ورکولو. او ام سلمه رضی الله تعالی عنها ته کثرت سره احادیث یاد وو. فضل او کمال کې دبی بی عائشې رضی الله تعالی عنها نه وروسته ددې درجه منلې شویده. الله تعالی دې ته دخوبصورتی. علم. ذهانت او دصحیح رایی ورکولو دنعمتونونه کافی حصه ورکړې وه. دسترې علمی مرتبې په وجه دا دمحدثینو صحابه وو رضی الله تعالی عنهم اجمعین په دریمه طبقه کې شمیرلې کیږی، هغه مجتهده هم وه. دأم سلمه رضی الله تعالی عنها په شاگردانو کې حضرت ابو هریرة رضی الله تعالی عنه او ابن عباس رضی الله تعالی عنه به شان دلویې مرتبې خاوندان خاص طور سره مشهور دی

دعلامه ابن قیم رحمه الله رایه ده چه که دهغې ټولې فتواگانې راجمع کړې شی نو خاص تصنیف ترې جوړیدې شی او ډیره عابده هم وه په میاشت کې به یې درې روژې نیولې دحدیبی دصلحی شرائط ډیر سخت وو مسلمانان ډیر خفه وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم چه خلکو ته دقربانی حکم ورکړلو نو ټول خفه ناست وو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې حکم ذکر ام سلمه رضی الله تعالی عنها ته وکړلو نو هغې مشوره ورکړه چه اول پخپله قربانی وکړه احرام کوز کړه او وې ویشه او خپل سر کل کړه، نو داسې خلکو ته معلومه شوه چه درسول الله صلی الله علیه وسلم فیصله بدلیدونکی نده نو ټولو خلکو دهغه صلی الله علیه وسلم اتباع وکړه او مسابقه شروع شوه، ددغې مسئلې حل ددې رضی الله تعالی عنها دقابلیت لویه نښه ده، همدارنګه دخندق او خیبر په غزاگانو کې شریکه شوې وه، درسول الله صلی الله علیه وسلم ور سره ډیر محبت وو اکثر به چه څه خبره وه نو بیبیانو به دا دخپل سفیر په حیث رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لیږله «کذا فی استعاب. جلد ۲» دا شرف دیته حاصل دې په آیت دتطهیر ددې په کور کې نازل شویدې. الله تعالی دې مونږ هم پدغه رنګ صفاتو کې رنګ کړی. آمین. ثم آمین.

او ام المؤمنین حضرت صفیه رضی الله تعالی عنها چه اصلی نوم یې بی بی زینب رضی الله تعالی عنها وو، ددې پلار حی بن اخطب دهارون علیه السلام دنسل څخه

وو او دیهودیانو دناموري قبیلې بنو نضیر سردار وو ، دهغې دمور نوم ضرّه بنت سموئیل وه، چه دنسب سلسله یې دیهودیانو مشهور خاندان قریظه سره یوځای کیږي، غرض دا چه دمور اوپلار دواړو له طرفونو نه دبی بی صفیه رضی الله تعالی عنها شجره نسب یوخاص امتیاز لرلو، دڅوارلس کالو په عمر کې بی بی صفیه رضی الله تعالی عنها په اول ځل یو مشهور او نامداره سړی اسلام بن مشکم القرظی ته واده شوه ، لیکن ددواړو ترمینځ څه خفگان راغي نتیجه یې دا شوه چه سلام بن مشکم طلاق ورکړلو، دینه وروسته حی ابن اخطب ددې نکاح دبنی قریظه یو معتبر سردار کنانه ابی الحقیق سره چه دخیبر د رئیس ابو رافع وراره وو او دخیبر دمشهورې قلعه «القموص» حاکم وو، دخیبر دفتح نه وروسته نورو قیدیانو ښځو سره مالِ غنیمت کې قیده شوه کوم وخت چه مالِ غنیمت تقسیم کیدلو نو ددحیة الکلبی په حصه کې راغله، خوبی بی صفیه رضی الله تعالی عنها په ټولو قیدیانو کې زیاته با وقاره وه. پدې وجه بعضو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم عرض وکړو چه دا دیوسردار ښځه او دیو سردار لور دبنی قریظه او بنی نظیر رئیسه ده نو دسردار دوجهان صلی الله علیه وسلم دپاره موزونه ده ، رسول الله صلی الله علیه وسلم دا مشوره قبوله کړه او آزاده یې کړه ، دحیة الکلبی ته بله وینځه ورکړې شوه ، بی بی صفیه رضی الله تعالی عنها ځکه ورته وایی چه کوم دمال غنیمت حصّه به په عربو کې دفاتح سردار په حصّه کې راغله هغې ته به یې دغه نوم ورکولو ، دصهباء په مقام کې د واده رسم اداء کړې شو او هلته د ولیمې دعوت هم وشو ، صهباء نه دتلو په وخت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه په خپل اوښ سوره کړه اودخپلی قباء نه یې په هغې پرده واچوله ، دبی بی صفیه رضی الله تعالی عنها عمر په دغه وخت کې اولس (۱۷) کاله وو ، ددې دنکاح نه وروسته یهودیان بیا دمسلمانانو خلاف په هیڅ جنګ کې شریك نه شول، بی بی صفیه رضی الله تعالی عنها ډیره حلیم طبعیته، خلیقه کشاده وه ، سیرچشمه او صابره بی بی وه ، کوم وخت چه دامُ المؤمنین په حیثیت هغې مدینې منورې ته تشریف راوړلو، بی بی فاطمة الزهرئ رضی الله تعالی عنها دهغې دلیدلو لپاره راغله نو هغې خپلې قیمتې لختې «غوږوالۍ» دخپلو غوږونو څخه وباسلې، اوفاطمة

الزهري رضی الله تعالی عنها ته یی اوبښلې اودهغې نورو ملګرو بیبیانوته یې هم څه ناڅه کالي او زیورات ورکړل، د اسلام قبلولو نه وروسته دیهودیت پیغور دصفیې بی‌بی رضی الله تعالی عنها دپاره ډیر دآزار موجب وو، خو هغې ډیر دصبر او تحمل نه کار اخستلو او هیڅکله یې چاته سخت جواب نه ورکولو ((دغه دنوروبیبیانو دپاره تعلیم دې)).

یو وارې رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړلو نو صفیې رضی الله تعالی عنها ژړل، وجه یې ترینه وپوښتله نو ورته یې ووېل چه عائشه او زینب رضی الله تعالی عنهما وایی چه مونږ درسول الله صلی الله علیه وسلم دټولو بیبیانو نه افضلې یو ځکه چه دښځوالی نه علاوه مومږ درسول الله صلی الله علیه وسلم خپلولې کې هم یو، لیکن ته یهودی یې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دصفیې رضی الله تعالی عنها ددلجویی لپاره اوفرمایل: ((که عائشه او زینب رضی الله تعالی عنهما وایی چه دهغوئ دخاندان نبوت سره تعلق دې نو تا ورته ولې ونه ویل چه ځما پلار هارون علیه السلام او ځما تره حضرت موسی علیه السلام او ځما خاوند حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دې، اوبی بی صفیه رضی الله تعالی عنها درسول الله صلی الله علیه وسلم سره ډیره مینه کوله، مرض الموت کې ټولې بیبیانی مبارکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دپوښتنې لپاره دبی بی عائشې رضی الله تعالی عنهامکان ته راغلې، بی بی صفیه رضی الله تعالی عنها چه درسول الله صلی الله علیه وسلم بی قراری ولیدله نو وې فرمایل چه یارسول الله ! افسوس چه ستاسو په ځای زه ناروغه وې . پدې خبره نورو بیبیانو حضرت صفیه رضی الله تعالی عنها ته وکتل . نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل: والله چه دا رینښتنې ده. یعنې دهغې دعقیدت اظهار نمایشی نده بلکه دزړه دصدق نه هغه دغسې غواړی.

دبی بی عائشې رضی الله تعالی عنها بیان دې چه ماهیڅ ښځه دبی بی صفیې رضی الله تعالی‌عنها نه زیاته ښه پخلی کوونکی نده لیدلې، بی بی صفیه رضی الله تعالی عنها دعلم او فضل یوه روانه چینه وه، کله به چه حج ته تلله نو دښځو ډلې ډلې به ترینه چاپیره شوې، امام زرقانی رحمه الله ددې په حقله لیکی بی بی صفیه رضی الله

تعالی عنها عاقله ، فاضله ، اوبردباره وه ، په سنه (۳۵هـ) کې باغیانو دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه دکورمحاصره وکړه ظالمانو پرې خوراك څښاك هم بند کړو. نو بی بی صفیه رضی الله تعالی عنها یې ډیر مدد وکړو ، خپله په قچره سوره شوه دهغه مکان ته ورغله خو لار یې دباغیانو سردار او دشیطانت اوخباثت جرړې هغه پرې نه ښوده ، آخر واپس شوله او دامام حسین رضی الله تعالی عنه په ذریعه به یې په پټه حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه ته په څه ناڅه طریقه خوراك او څښاك لیږلو ((اصابه. صفحه : ۱۲۷ . جلد : ۱))

درمضان المبارك سنه (۵۰هـ) کې دشپیتو کالو په عمر کې وفات شوه او جنت البقیع کې دفن شوه. الله پاك دې ددغه پاکو بیبیانو په خاطر مونږ او زمونږ بیبیانې هم په دې صفتونو ښائسته کړي، په کومو چه هغه ښائسته وې . اللهم آمین. په آخر کې به دبیبیانو په حقله دبزرگانو یوڅو اقوال نقل کړو:

۱ـ دښځې نه بغیر ژوند تیرول دفطرت نه بغاوت دې ، ۲ـ دښځې بهترین کالې حیاء اوخاموشی ده او پرده یې خوبصورتی اونورٌ علی نور ده ، ۳ـ دښځې جهاد خپل خاوند سزه ښه ژوند تیرول دی ، ۴ـ ددووکسانو حق مه وهه یو دښځې او بل دیتیم . ۵ـ) ښځه دمصیبت او غم کمولو لپاره پیدا شویده ، ۶ـ ښځو ته سپك مه گوره، دا خو ښځې دی خو پیدا کوی نران . ۷ـ ښځه دټولو نه ښه تحفه ده

## شعر

که په ځان باندې قدم کیږدې عبدالرحمٰن
نهه فلکه به دې هم لاندې تر قدم شی
چه په یوقدم تر عرشه پورې رسی
ما لیدلې دې رفتار ددرویشانو

# درجب المرجب میاشت

محترمو مسلمانانو درجب المرجب هغه بختوره میاشت ده چه د اسلام وړانګې ونغلي د حبشی د صدارت مقام رڼا کړو، رومبی هجرت د مسلمانانو حبشې ته په پنځم کال د نبوت درجب المرجب په میاشت کې شوې وو. د قریشو مشرکان چه په سیاسی لاري د عدم تشدد کې کامیاب نه شول یعني مسلمانان د اسلام نه وابس نکړی شول او د ترقی د اسلام په انسداد کې یې هیڅ قدرت بیا نه مونده نو قریشو د مسلمانانو په حق کې د تشدد لاره اختیار کړه یعني په سختی کولو، او ضرور رسانی مسلمانانو پې لاس پورې کړ. بدی امید چه خلق به د سختو عذابونو نه وویریږی او د تابعداری د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه به را وګرځیږی، کله چه مظالم ظلمونه د سر رسات شول نو رحمت عالم صلی الله علیه وسلم به اسلام ځان ژباتو نکو ته هدایت وکړو. چه حبشې ته هجرت وکړی، چه د عربو د سوداګری زړه سیمې وه. د هغې حالات ورته له پخوانه معلوم وو. عربو به د حبشو بادشاه ته نجاشي ویلي نجاشي د حبشی ژبی لفظ نجوس نه عربی شویدې په حبشی ژبه کې د دې معنې بادشاه ده. د نجاشي نوم اصمحه وو «رواه البخاري»، او د هغه د عدل او انصاف عام شهرت وو. په اسلام فدایانو هر قسم تکلیف تیرولې شو، او د هغوئ د صبر کلمه نشوه ویکیدي. خو مکه کې بانې کیدل او د اسلام د فرائضو په آزادی سره اداء کول د کیدو کار نه وو تر د غه وخته پورې د کعبی په حرم کې هیڅا په زوره قرآن شریف نشو لوستلی. حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه چه اسلام راوړلو نو وې فرمایل چه زه به دا فرض ضرور اداء کوم. خلکو منعه کړو. خو هغه منعه نه شو. حرم ته لاړ، او مقام ابراهیم سره ودریده او سورة رحمن لوستل یې شروع کړل، کفار پرې هر طرف نه را غونډ شول او په مخ مخ یې په سپیړو وهلو پرې شروع وکړه. هغه تر هغه ځای پورې ولوستله چه تر کومه یې لوستل غوښتل او هله یې ساه واخسته، ولې چه وابس تللو نو به مخ کې یې ځان سره د زخمونو نښې پورې «طبری. صفحه ۱۸۸».

» دحضرت ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه په شان شوکت چه دقریشو دنورو رئیسانو نه کم نه وو خو په زوره یې قرآن مجید نه شو لوستلې اوځکه نو یوځل هجرت کولو ته هم تیار شو «بخري باب هجرة المدينة».

ددینه علاوه دهجرت نه یوه لویه فائده داهم وه، چه کوم سړی به داسلام راوړلو اوچیرته به لاړ، هلته به یې د اسلام پلوشی پخپله خوریدې او حضرت بلال رضی الله تعالی عنه چه دمؤذن په لقب مشهوردې په نسل حبشی او د اُمیّه بن خلف غلام وو، چه سره غرمه به شوه نو اُمیّه به دې په تودو او گرمو شگو څملاوه او یوه غټه تیگه به یې ورته په سینه مبارکه کیښوده چه ونه خوزی ورته به یې ویل چه اسلام پریږده، کنې نو دغسې به دې په پړوکی پړوکی سا وخیژی، خودغه وخت کې به هم دهغه دخولې مبارکې نه «اَحَد، اَحَد» «یعنې الله یو دې، الله یو دې» لفظ خوت، چه په هیڅ جوړه دې وارخطاء نه شونومرئ ته به یې ورته پړې واچولو او هلکانو ته به یې حواله کړ، هغوئ به دښار ددې سرنه تر هغې سره راښکه خو اوس به یې هم هغه لفظ دخولې نه خوت چه «اَحَد، اَحَد».

حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه چه دډیر عمر او دمرتبې او عزت خاوند وو چه اسلام یې راوړلو نوبل چانه، بلکه خپل تره به په پړې وتړلو او وهلو به یې، حضرت ابوذر رضی الله تعالی عنه چه اووم (۷) مسلمان دې چه مسلمان شو او کعبه کې یې دخپل اسلام اعلان وکړو، نو قریشو په وهلو وهلو راوغرځولو «رواه البخاری» اوحضرت زبیر رضی الله تعالی عنها دحضرت عمررضی الله تعالی عنه دکورنی وینزه وه او ددې وجهې نه «یعنې داسلام په وجه» حضرت عمر رضی الله تعالی عنه به هغه ډیره تنگوله، ابوجهل دا دومره ووهله چه سترگې یې ړندې شوې وغیر ذلک، رسول کریم صلی الله علیه وسلم اصحاب کرامو ته اوفرمایل: ای زما صحابه وو! تاسو داسلام دحفاظت لپاره هجرت وکړئ اودحبشو طرفته یې دوئ ته اشاره وکړه، مؤمنانو دخپل خوږ اسلام دحفاظت دپاره خپل کورونه، مالونه پریښودل اوحبشو ته یې هجرت وکړو دا دمکی شریفې څخه دمؤمنانو اول هجرت وو، په اول ځل یوولس نارینه وو او څلورو زنانه وو هجرت وکړو، چه دهغوئ نومونه دادی: ۱ـ حضرت عثمان بن عفان

رضی الله تعالی عنه ، سره دخپلې محترمې بی بی رضی الله تعالی عنها او حضرت رقیه رضی الله تعالی عنها چه دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم لور بی بی وه ، ۲ـ دویم حضرت ابو حذیفة رضی الله تعالی عنه ابن عتبه سره دخپلی بی بی رضی الله تعالی عنها نه چه نوم یې حضرت سهله بنت سهیل وو، دده پلار دقریشو مشهور سردار وو، دې سخت کافر وو، نو ځکه ورته کور پریښودل ترغاړه شو، ۳ـ حضرت زبیر رضی الله تعالی عنه بن العوام چه درسول اکرم صلی الله علیه وسلم دترور ځوئ اومشهور صحابی وو، ۴ـ حضت مصعب بن عمیر رضی الله تعالی عنه چه دهاشم نوسې وو، ۵ـ حضرت عبدالرحمٰن رضی الله تعالی عنه بن عوف چه مشهور صحابی دې او په عشره مبشره کې شمارېږی او دزهره قبیلې نه وو اوپدې بنا دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دمور دطرف نه دنیاگانو دغاړې خپل وو، ۶ـ حضرت ابوسلمه رضی الله تعالی عنه بن عبدالاسد مخزومی سره دخپلی بی‌بی حضرت أم سلمه بنت ابی أُمیّه ، دا هغه ام سلمه رضی الله تعالی عنها ده چه دابوسلمه رضی الله تعالی عنه دمرگ نه وروسته دحضور صلی الله علیه وسلم په نکاح کې راغله، ۷ـ حضرت عثمان بن مظعون جمَحی رضی الله تعالی عنه چه مشهور صحابی دې ، ۸ـ حضرت عامر بن ربیعه رضی الله تعالی عنه سره دخپلې بی‌بی نه چه دهغې نوم حضرت لیلی بنت ابی حشمه وو، دا حضرت عامر رضی الله تعالی عنه د اولینو مسلمانانو نه دې او دبدر په جنگ کې هم شریك وو، حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه دحج دسفر په موقع دې دمدینې منورې حاکم مقرر کړې وو «اصابه» ، ۹ـ حضرت ابو سبره رضی الله‌تعالی عنه بن ابی رُهم ، دده مور حضرت برّه درسول الله صلی الله علیه وسلم ترور وه ، دې هم په اولینو مسلمانانو کې دې ، ابن حجر په اصابه کې لیکلی دی چه دې په دویم هجرت کې تللې وو، ۱۰ـ حضرت ابو حاطب رضی الله تعالی عنه بن عمرو په بدر کې شریك وو، امام زهری رحمة الله علیه فرمایی چه دټولو نه اول هم ده هجرت کړې وو «اصابه»، ۱۱ـ حضرت سهیل رضی الله تعالی عنه بن بیضاء ، ۱۲ـ حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه چه مشهور صحابی اومجتهدانو صحابه وو کې داخل دې، دحبشو د اولینو مهاجرینو په شمیر او نومونو په گوته کولو کې څه قدرې اختلاف دې ، تفصیل

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

یې په زرقاني على المواهب ، صفحه ۳۱۴ ، فتح الباري ، صفحه ۱۴۳ ، جلد ۷ ، ابن سعد صفحه ۱۳۴ ، جلد ۱ ، ذکر شویدې، دا خلق دنبوت په پنځم کال په زبرګه مياشت کې ووتل، نصيب يې دا ښه وو چه دوئ بندرګاه ته ورسيدل نو دسوداګرۍ دوه جهازونه ((کشتئ)) حبشو ته روان وو ، دجهاز خلقو دوئ په لږه کرايه کينول دسرې په سر يې پنځه روپئ ورکړې، قريش چه خبرشو نو تر بندرګاه يې ورپسې منډه وکړه خو موقع تيره وه ، دا ټول تفصيل په طبرۍ کې دې ، دعامو مؤرخينو خيال دې چه هجرت صرف هغه خلکو کړې وو چه دچا هيڅوك دمرستي او د مدد نه وو ولې دمهاجرينو فهرست کې دهرې درجې خلق ښکاري، حضرت عثمان رضى الله تعالى عنه دبنى أميّه وو نه وو چه دټولو نه زيات زورور خاندان وو ، ګڼ مشران لکه زبير رضى الله تعالى عنه اومصعب رضى الله تعالى عنه پخپله درسول الله صلى الله عليه وسلم دخاندان څخه دی، عبدالرحمٰن رضى الله تعالى عنه بن عوف او ابو سبره رضى الله تعالى عنه هم معمولي خلك نه وو ، څکه نو قياس ته نژدې داده چه دقريشو زور زياتي تش په بې وسو کسانو نه وو ، دغتو خاندانونو خلق هم دهغوئ دظلم زياتی نه بچ نه وو، يوه عجيبه خبره داده چه کوم خلق دټولونه زيات مظلوم وو ، او دسکروټو په بسترو ورته سملاستل تر غاړه شوی وو، يعنې حضرت بلال رضى الله تعالى عنه، عمار رضى الله تعالى عنه وغيره ، ددې خلقو نومونه دحبشو په مهاجرينو کې نشی ليدلې ، له همدې کبله يا خو دهغوئ بې سرو ساماني دې حدته رسيدلې وه چه سفر کول يې هم د وسه نه کيدل، او يا دا چه د دردونو دخوند سره بلد شوی وو ، او دا مزه يې نه شوه پريښودې ، سالك فرمايي :

دِلم زِ جورِ تو آسوده است ومی نالم

کـه غـيـر پی نه برد لذّت خدنگ ترا

يعنې زړه ستا په جور ((ظلم)) آسوده لرم خو ژاړمه دا ، چه بل څوك نه اخلی مزئ ولی داسی غشی، دنجاشی دبرکته مسلمانانو حبشو کې په آمن او آمان ژوند تيرولو، خو قريشو به چه دا خبرونه اوريدل نو دقهر نه به تاويدل را تاويدل، آخر دا فيصله وشوه چه نجاشی ته دې دسفارت په طور جرګه ، غونډه ((وفد)) وليږلې شی چه زمونږ

مجرمان دخپل ملك ته وباسي، عبدالله بن ربیعه او عمرو بن العاص «دمصر فاتح» یې ددې کار لپاره خوښ کړل «مسند احمد، صفحه: ۲۰۲، جلد: ۱».

دنجاشي اودهغه درباریانو کې بیل بیل تن ته قیمتي قیمتي ډالئ تیارې کړې شوې، ابن هشام لیکلي دي چه دمکې لویه تحفه څرمن وه دا تحفه هم څرمن وه، او سره د ډیرو سامانونو نه دا سفارتي جرګه حبشوته روانه شوه، ددې جرګې خلك دنجاشي نه اول درباري پادریانو ته لاړل، او نذرانې یې ورته پیش کړې او ورته یې وویل چه زمونږ د ښار ځینې نادانانو یو نوې مذهب راجوړ کړې دې مونږ هغوئ راشړلي دي او ستاسو ملك ته راتښتیدلي دي سباله چه مونږ دبادشاه په دربار کې دهغو متعلق کوم درخواست پیش کوو تاسو هم زمونږ امداد وکړئ، بله ورځ دا سفارتي غونډه دربار ته ولاړه، او نجاشي ته یې عریضه وکړه چه زمونږ مجرمان دې مونږ ته حواله کړې شي، درباریانو یې هم تائید وکړو، نجاشي مسلمانان راوبلل او ورته یې وویل: دا تاسو کوم دین راویستلې دې چه دنصرانیت او بُت پرستي دواړو نه خلاف دې، مسلمانانو دخپل طرف نه دخبرو اترو کولو لپاره حضرت جعفر رضی الله تعالی عنه دحضرت علی رضی الله تعالی عنه ورور خوښ کړو، هغه داسې تقریر شروع کړو: ایُها الملك! ای بادشاه مونږ یو جاهل قوم وو د بُتانو عبادت به موکولو، مُردارې به مو خوړلې، بدکارونه به مو کول، ګاونډیان به مو تنګول، ورور به په ورور ظلم کولو، زورورو به کمزوری خوړل، پدې منځ کې مونږ کې یو سړې پیدا شو چه دهغه شرافت او رشتنوالي او دیانت نه مونږ پخوا راهیسې خبر وو هغه مونږ ته د اسلام دعوت راکړو او دایې راته وښودل چه مونږ دتیږو اوګټو عبادت پریږدو، ریشتیا ووایو، قتلونه پریږدو، دیتیمانو مال نه خورو، ګاونډیانو ته آرام رسوو، په پاك لمنه ښځو دبدنامي داغ نه ږدو، لمونځ کوو، روژې نیسو، زکوٰة ورکوو، مونږ په هغه ایمان راوړو، شرك اوبُت پرستي مو پریښوده، او دټولو بدو عملونو نه منع شو، پدې ګناه زمونږ قوم زمونږ سره دُشمنان شول، او مجبوروی مو چه هغې ګمراهي ته واپس ولاړ شو، نجاشي وویل: «د الله تعالی کوم کلام چه ستاسو په پیغمبر نازل شویدې چیرته نه یې ولوله: «حضرت جعفر رضی الله تعالی عنه دسورة مریم یو څو

آیتونه ولوستل، دنجاشي زړه نرم شو، او سترګونه یې اوښکې رواني شوې، بیا یې
وویل: په الله تعالی قسم دې چه دا کلام او انجیل دواړه دیوې ډیوې رڼاګاني دي،
دینه وروسته یې دقریشو جرګې ته وویل: تاسو ځئ بیرته ولاړشئ، زه به هیڅکله دا
مظلومان واپس درنکړم، بله ورځ عمروبن العاص بیا دربارته ځان ورسولو اونجاشي
ته یې وویل حضور: تاته دا هم معلومه ده چه دا خلق دحضرت عیسی علیه السلام په
نسبت څه عقیده لري، نجاشي مسلمانان راوبلل چه دوئ سوال، جواب راکړي، دوئ
سره فکرشو، که دعیسی علیه السلام دابن الله کیدونه انکار کوو نو نجاشي عیسایي
دې هسې نه چه خفه شي، حضرت جعفر رضی الله تعالی عنه اوفرمایل: هرڅه چه وي
مونږ ته ریښتیا ویل پکار دي، غرض دا چه دوئ دربار ته حاضر شول، نجاشي ورته
وویل: تاسو دمریم دځوئ عیسی علیه السلام متعلق څه اعتقاد لرئ؟ حضرت جعفر
رضی الله تعالی اوفرمایل: زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم راته ښودلی دی چه
عیسی علیه السلام دالله پاك بنده اودهغه پیغمبر او کلمة الله دي، نجاشي دځمکې
نه یو خسنې را اوچت کړو او وې ویل نو په الله تعالی مې دې قسم وي، تا چه څه وویل
عیسی علیه السلام ددې خسنې هومره هم دهغې نه زیات ندې ((حاکم مستدرك،
صفحه: ۳۱۰، جلد: ۲))

پادریان چه په دربار کې موجود وو ډیر په قهرشول، او دپوزونه یې لوخړې وختې
نجاشي دهغوئ دغصې هیڅ پروا ونکړه او دقریشو جرګه بیخي ناکامه راستنه شوه،
همدغه ورځو کې چا دُشمن دنجاشي په ملك حمله وکړه، نجاشي دهغه مقابلې ته
پخپله لاړو، صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم په خپلو منځونو کې صلاح او
مشوره وکړه چه زمونږ نه دې یوتن لاړشي او خبر دې راليږي که ضرورت وي چه مونږ
هم دنجاشي امداد ته لاړشو، حضرت زبیر رضی الله تعالی عنه په ټولو کې کم عمره
وو خو ددې خدمت لپاره یې ځان حاضر کړو، په نیل دریاب باندې په شناز پورې وتو
دجنګ میدان ته ورسید، بل خوا صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم دنجاشي
دفتحې دپاره دالله تعالی نه دعاګاني غوښتې، څو ورځې پس حضرت زبیر رضی الله
تعالی عنه واپس راغې او زیرې یې راوړو چه نجاشي ته الله تعالی برې ورکړو ((مسند

احمدبن حنبل، صفحه ۲۰۲، جلد ۱». حبشو ته کم اوزیسات دري اتیا (۸۳)
مسلمانانو هجرت کړی وو لږ ورځې پس «ایله» په آرام تیرې شوي وي چه دا خبره
مشهوره شوه چه کفارو اسلام قبول کړیدی. ددې په اوریدو سره اکثر صحابه کرام
مکې مکرمي ته را روان شول. خو چه بیارته را نږدې شول نو معلومه شوه چه دا خبره
غلطه ده. نو ځکه ځینې کسان واپس لاړل او اکثر پټ پټ مکې مکرمي ته
راغلل. کوم خلق چه د حبشو نه واپس راغلي وو د مکې خلقو د هغوئ اوس نور هم
زیات تنګول شروع کړل او دومره یې وځپل چه په دوباره هجرت کولو مجبور شول.
نو اوسنی هجرت ډیر سخت وو. کفارو سخت بندیزونه پرې ولګول، خو بیا هم څنګه
به کیدي شول ډیر زیات صحابه چه سلو (۱۰۰) ته یې شمیر نږدې وو د مکې نه ووتل
او حبشو کې یې استوګنه اختیار کړه چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې
منورې ته هجرت وکړ نو څه کسان سمدستي واپس راغلل او کوم چه پاتې شوو
رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوئ د هجرت په اووم کال راوبلل «طبقات ابن سعد»
دا وه حبشو ته د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم لنډه سلسله. دالله تعالی له
طرفه پیغمبرانو علیهم السلام او مؤمنانو صالحانو ته دهجرت او جهاد حکم همیشه
راغلی دی لکه حضرت ابراهیم علیه السلام د سواد عراق نه فلسطین ته د یو الله تعالی
د عبادت او د هغه له طرفه راغلي شوي ملت د حیات دپاره هجرت کړي وو. همدارنګه
لوط علیه السلام سدوم ته هجرت کړي وو او موسی علیه السلام د مصر نه مدین ته
او شعیب علیه السلام سره یې اته یا لس کاله تیر کړل او یوسف علیه السلام د فلسطین
نه مصر ته هجرت کړي وو. یقیني او محکم تاریخ بندي شاهد دي چه هجرت د
اولوالعزم پیغمبرانو علیهم السلام او داولیاؤ. صلحاؤ رحمهم الله د اعلاء کلمة الحق
دپاره لویه ذریعه ګرځولې ده او د جهاد لپاره یې ته موقعه مساعده کړیده او د رجب په
میاشت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم معراج ته تشریف وړي وو. دا هغه
خداوندي اعزاز دی چه بل هیڅ یو پیغمبر ته هم نه وو نصیب شوي او تفصیل یې
مخکې بیان شوېدی. په یو حدیث شریف کې راځي چه «انّ في الجنة عيناً يقال لها

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

آيتونه و [illegible] لبَنٍ فَمَنْ صَامَ يَوْمًا مِنْ رَجَبَ شَرِبَ مِنْ تِلْكَ
وويل [illegible] کې يوه چينه ده چه هغې ته رجب ويلې شی اوبه
دينه ورد [illegible] ورې سپينې دی له پيو نه چا چه روژه ونيوله يوه ورځ
مظلومار [illegible] هغې چينې نه»، البته په طريقه دلزوم روژه نيول بنه کار نه
ته [illegible] رسول ضروری دی، «الله تعالى دې مونږ دخپلو دوستانو له
[illegible] کړی او دواصلينو، عارفينو، کاملينو مقبولينو په ډولی کې دې
[illegible] کړی آمين يارب العالمين».

# دشعبان المعظم مياشت

محترمو مسلمانانو : دشعبان مبارکه مياشت درمضان شريف نه مقدمه ده ځکه چه يې دشوال مياشت تتمّه ده ، په يوحديث شريف کې دی چه «قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحْصُوْا هِلاَلَ شَعْبَانَ لِرَمَضَانَ» ، «رواه الترمذی» ، «رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمايلو : شمار ساتئ دشعبان دمياشتې درمضان دپاره» ، يعنې هرکله چه دشعبان دمياشتې تاريخ صحيح وی نو په رمضان کې اختلاف کم وی ددې مياشتې «شعبان» دپنځلسمې عبادت کول او دپنځلسمې روژه ساتل يې مستحب دی ، په يوحديث شريف کې راغلی دی چه : «قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةُ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ فَقُومُوا لَيْلَهَا وَصُومُوا نَهَارَهَا فَإِنَّ اللّٰهَ يَنْزِلُ فِيهَا لِغُرُوبِ الشَّمْسِ إِلَى سَمَاءِ الدُّنْيَا فَيَقُولُ أَلاَ مِنْ مُسْتَغْفِرٍ لِي فَأَغْفِرَ لَهُ أَلاَ مُسْتَرْزِقٌ فَأَرْزُقَهُ أَلاَ مُبْتَلًى فَأُعَافِيَهُ أَلاَ كَذَا أَلاَ كَذَا حَتَّى يَطْلُعَ الْفَجْرُ» ، «رواه ابن ماجه» ، **ترجمه** : رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل چه : کله دشعبان پنځلسمه شپه شی ، نودغه شپه رونه کړئ «يعنې عبادت پکې وکړئ» او دهغې ورځې روژه ساتئ ، ځکه چه الله تعالى په دغه شپه هم دلمر دوبيدو وخت ددې نژدې آسمان په طرف نزول فرمايي «بلاکيف» او فرمايي چه آيا څوک ښښنه غوښتونکی شته دی ؟ چه زه هغه اوبښم ، آيا څوک روزی غوښتونکی

شته دی چه زه هغه ته روزی ورکړم، آیا څوك مصیبت زده شته دی ؟ چه هغه دعافیت دُعا وغواړي او زه هغه ته عافیت ورکړم ، آیا څوك داسی شته دی؟آیا څوك داسی شته دی؟ ، تر دې چه صبح صادق را وخیژی.

یعني دغه ټوله شپه دالله تعالی درحمت سمندر جاري وی، په یوحدیث شریف کې دي چه ((مَنْ اَحْيَا لَيْلَةَ الْعِيْدِ وَلَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ لَمْ يَمُتْ قَلْبُهُ يَوْمَ تَمُوْتُ الْقُلُوْبُ))، یاچه داختر او پنځلسم دشعبان شپه عبادت سره روڼه کړه دهغه زړه به مړ نه شی په هغه ورځ کې چه زړونه مړه کیږی ، په یو روایت کې دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه په دغه شپه الله تعالی دخپل رحمت دروازې خلاصوی نو ټول خلق ببښی بغیر دمشرك او کینه گر بنده نه ((ابن ماجه)) په یو روایت کې دمشرك په ځای دناحق قاتل ذکر دې او په بل روایت کې دخپلوی پریښودونکی ذکر دې، دعین ما ثبت بالسنة دسعیدبن منصور نه په یوبل روایت کې دی چه الله تعالی پدې شپه کې ((هم)) مشرك ته نظر درحمت نه کوی اونه دکینه کوونکی په طرف اونه دقاطع رحم، یعني خپلوانو سره بی دشرعی وجه نه تعلق ماتوونکی په طرف اونه دپرتوگ دخنگرو ((گیټې)) نه لاندې رازوړندوونکی په طرف چه خنگری یی پټ وی اونه دمور اوپلار نافرمانی کوونکی په طرف اونه همیشه شراب څښونکی په طرف ، البته کچیرې توبه یی وکړه نو دالله تعالی رحمت به هغه ته هم متوجه کیږی (( عین ماثبت بالسنة وبیهقی)) ، او ځینې نور کسان په نورو روایتونو کې ذکر شویدی چه په ټولو روایتونو نظر واچولې شی نو ددې بنده په فکر کی ترې دا خبره راوزی چه لوئ گناهونه بغیر دتوبی څخه نه معاف کیږی او واړه گناهونه ددې شپې دبرکته الله تعالی معاف کوی، والله اعلم، دې شپې ته شب برات ځکه وایی چه پدې کې الله تعالی ډیرو گنهگارو لره دجهنم دعذاب نه خلاصی ورکوی، څنگه چه بیهقی یو حدیث پدې الفاظو سره هم نقل کړیدی چه ((وَ لِلّٰهِ عُتَقَاءُ مِنَ النَّارِ)) یعني پدې شپه باندې دالله تعالی له اړخه ډیر گنهگاران دجهنم د اور نه آزادوی .

په عالمگیری کی دا مسئله ښکاره بیان شویده چه شب برات کې مقبرې ته تلل

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

او مؤمنانو مړو ته دعا کول د نورو شپو او ورځو په نسبت زيات فضيلت او ثواب لري. البته په شب برات کې د حديث شريف نه صرف دومره ثابته ده چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله تعالى په حکم په دغه شپه جنت البقيع ته تشريف يوړلو او دمړو لپاره يې بښنه وغوښتله. د يته بغير نور رواجونه د ځان ځانه ځيني خلکو جوړ کړيدي چه ډيرې خرابيانې ترينه راولاړې شويدي، په يو حديث شريف کې دي چه ددې شپې په باره کې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چه پدې کې راتلونکي کال کې پيدا کيدونکي او مړه کيدونکي ټول بني آدم ليکلي شي او پدې شپه کې ددوی ټول عملونه پورته وړلې شي او هم پدې شپه کې ددوئ روزي نازليږي «رواه البيهقى»

دلته د عملونو پورته وړلو نه مطلب د الله تعالى په حضور کې پيش کول دي او د رزق ښکته کيدلو نه مطلب دادې چه په دې راتلونکي کال کې د هر بنده رزق پدې شپه کې ليکلي کيږي اگر چه دا ټول شيان اول په لوح محفوظ کې ليکلي شويدي، مگر پدې شپه فرشتو ته د انتظام کولو دپاره سپارلې شي. والله اعلم بالصواب

په قرآن مجيد کې ارشاد مبارک دې چه: «إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ۞ فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ۞ أَمْرًا مِّنْ عِندِنَا إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ» «فسر الاية بليلة النصف من شعبان المكرمة كذا في الدر المنثور عن ابن جرير وابن ابى حاتم»، **ترجمه**: چه بيشکه مونږ نازل کړيدې دا قرآن حميد په برکت والا شپه کې بيشکه مونږ خبروونکي يو پدې شپه کې د حکمت هره معامله زمونږ په حکم پورې اړه لري، هم مونږ تالره پيغمبري درکوونکي يو.

پدې آيت کې د برکتي شپې نه مطلب د شعبان د مياشتې پنځلسمه شپه ده د تقدير مسئله ډيره پيچيده او اوږده ده، دې حقيقت ته عام انساني کمزوري عقل په مشکله رسيږي بيا هم ډيرو محققينو پدې مسئله ليکل کړيدي، دلته زه د فتاوئ حقانيه نه څه مختصر نقل کوم، اوهغه دادې چه:

مخکې د تقدير او قضاء تعريف زده کول پکار دي، «تقدير در لغت اندازه کردن را گويند» هر يو کار چه اراده او اختيار سره کولې شي نو مخکې د هغه اندازه اخستې

شي، مثلاً دیو کارخانې، سړك، یامکان جوړولو نه مخکې دهغه نقشه جوړولې شي
بیا دهغې مطابق تعمیر کولې شي دغه رنګې پروردګار عالم ددې کائناتو دتخلیق نه
مخکې په خپل عالم ازلی کې ددې عالم نقشه جوړه کړې وه، البته دپروردګار عالم او
انسان په علم کې لوئ فرق دې، انسان څخه ډیر کرتې غلطی کیږی او دالله تعالی نه
غلطی نه کیږی اونشی کیدې، دغه الهی اندازه تقدیر دې یعنی دالله تعالی دکائناتو
دتخلیق نه مخکې خپل علم ازلی کې دعالم اندازه کول تقدیر دی، داندازې مطلب دا
چه فلانی کار به په فلانی مکان او زمان کې پدې طریقې کیږی یا به نه کیږی او بیا
دهغه نقشې مطابق عالم پیدا کول قضاء ده، داهل السنة والجماعة دا عقیده ده چه
قضاء اوقدر حق او په دې باندې ایمان راوړل لازم دی پدې کې دغلطی وقوع ناممکن
اومحال دې «این خیال است ومحال است وجنون» او دا سوال چه چا قتل، سرقه،
زنا وغیره وکړل نو دوئ لره سزا نده پکار ځکه دا دمخکی نه لیکلی دی او ځینی
ملحدین او بی دینه خلق وایی چه هرکله دیو کس متعلق سعادت یا شقاوت کافر کیدل
یا مسلمان کیدل دمخکی نه په تقدیر الهی کې لیکلی شویدی نو بیا دعمل څه فائده
شوه، ځکه چه علم الهی کی «طی شده» خلاف کیدل نا ممکن اومحال دی لهذا انسان
مجبور وګرځیده، ددې افعالو او اعمالو په عذر کې تقدیر پیش کول قطعًا نشی
درست کیدې نه پدې دمؤاخذی نه نجات موندې شی، البته الله تعالی هریوشی مقدر
کړیدې خو دهغې علم تاته نشته څه وخت چه ده قتل یا سرقه کوله دنفسانی خواهش
په بناء یی کړیده، لهذا دا ویل چه دې مجبور دې دا محض فریب دې انسان دعلم
الهی دوجهی نه مجبور کیدې نه شی، بلکه هرڅه خپلی ارادې او اختیار سره کوی،
اګرچه هغه اراده او اختیار هم من جانب الله ورکړې شویدې، لهذا دې په خپلو اعمالو
کې مختار دې مجبور ندې، او دا ویل چه څما سعادت یا شقاوت، جنتی کیدل یا
دوزخی کیدل مخکی نه لیکلی شوی دی، هغه خو به په هر صورت پوره کیږی، دا هم
کم فهمی او کج فهمی ده، ځکه چه کله دده په تقدیر کې اسلام یا کفر، سعادت یا
شقاوت لیکلې دې هلته دا هم لیکلی دی چه دې به دا کارونه او عملونه کوی، دهغې
دوجهې نه به جنت یا جهنم ته ځی لهذا هغه اعمال او دهغی صدور هم مقدر شو.

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

خلاصه دا چه: په تقدير کې د کومو اعمالو دوجهې نه جنتي کيدل يا دوزخي کيدل ليکل شوي دي دهغې صادريدل به خامخا کيږي، که يو تـن جنتي ليکلی شوی وی، اعمال صالحه به کوی اوجنت ته به ځی که جهنمي ليکلی شوی وی نو اعمال سيئه او کفريّه به کوی اوجهنم نه به ځی دغه رنګې ويل چه انسان مجبور دې لکه دا دجبريّه مذهب دی چه هغوئ انسان مجبور محض ګڼی ددوئ په مقابله کې قدريّه دی، چه هغوئ انسان مستقل بالاختيار او دخپلو افعالو خالق ګڼی او وايی چه دالله تعالی قدرت او مشيّت لره دبنده افعالو سره تعلق نشته ((معاذالله)) دا هم غلطه ده، البته دا دُرسته خبره ده چه هريوشې به په هغه طريقه چليږی چه هغه ازل کی په علم الهی کې ليکلی وی مګر دې سره د انسان اراده او اختيار نه سلبيږی ځکه چه په علم الهی کی زمونږ د افعال اختياره په باره کې دا ليکلی شوی دی چه فلانی عمل به په فلانی وخت کې کوی لهٰذا دا ضروری شوه چه دې پخپلـه اراده او اختيـار سره دا کاروکړی، ورنه ديوشی دعلم الهی خلاف واقع کيدل به راشی او دا ناممکنه ده.

خلاصه دا چه: علم ازلی قديم دعامل د ارادې نفی او داختيار نفی نکوی اونه دعامل اختيار اوقدرت سلب کوی.

زمونږ دمسلم شريف استاذ شيخ الحديث مغفور الله صاحب به يو عجيبه مثال پيش کولو چه يو مکتوب ((عريضه)) وليکلې شی هغه پورې معطله وی چه معروض اليه ورته پرې دسخط وکړی ورنه هيڅ پـدې عريضی باندې څوك اجراءات نه کوی، همدارنګه الله تعالی ددوئ دا اعمال وغيره ليکلی دی چه عامل پرې عمل وکړی نو مُهر پرې ولګيږی اودا ليکل يی مجبور کوی نه اونه دده قدرت سلب کوی دا کاريو داسې مثال لری لکه چه مونږ ديوه شخص دورځنی کار لـه پروګرام څخه دمخه خبر اوسو او هغه دخپل ياد داشت په دفتر کې وليکو کچيرې هغه شخص خپل پروګرام عملی کړی آيا زمونږ پخوانی خبرتيا به په هغه شخص کوم اجبار وارد کړی؟ نه هيڅکله نه، يو حديث شريف دې چه: ((لاَ يَتَقَدَّمَنَّ أَحَدُكُمْ رَمَضَانَ بِصَوْمِ يَوْمٍ أَوْ يَـوْمَيْنِ إِلاَّ أَنْ يَكُونَ رَجُلٌ كَانَ يَصُومُ صَوْمَهُ فَلْيَصُمْ ذَلِكَ الْيَوْمَ))، (متفق عليه)، رسول الله صلی

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

الله عليه وسلم ارشاد اوفرمايلو چه له تاسونه دې هيڅوك سرې د رمضان يوه ورځ يا دوه ورځې مخكې روژه نه ساتى مگر دا چه هغه سړى چه دځه خاص ورځې روژه ساتى او د رمضان نه يوه ورځ مخكې هغه ورځ وى مثلاً دهرې دوشنبى په ورځ دروژې ساتلو معمول بى وى اونهه ويشتم دشعبان ددوشنبى ورځ وى نو دغه سړې دې پدې ورځ روژه وساتى ده سره دشك دورځى دروژى ساتلو نه منع ثابته شوه، ديو يا دوه ورځې وړاندې هم مطلب دادې چه كله دشعبان دمياشتى په ليدو كې اختلاف نه وى نو دشك ورځى يوه يعنې ديرشمه دشعبان راځى اوكله چه دشعبان مياشت په ليدو كې اختلاف وى نودشك دوه ورځى يوكم ديرشمه او ديرشمه جوړيږى، مطلب دا شو چه نه دې ديو كم ديرشمى اونه دې دديرشمى روژې ساتى بلكه دشريعت مطابق چه رمضان ثابت شى نو هغه نه دې فرض روژه شروع كوى، البته دشك په ورځ احتياطاً ضحوه كبرى «نيمه ورځ» پورې خوراك څښاك نه كول مستحب دى كه رمضان ثابت شو نو يوولس نيمو بجونه دې وړاندې وړاندې نيت وكړى كه دينه پس يى نيت وكړو نو دغه روژه ونشوه اوكه رمضان ثابت نه شو نو خوراك څښاك دې وكړى كه بيا ددې وخت نه پس رمضان ثابت شو خوراك څښاك احتراماً بندول پكار دى خودغه روژه به قضاء راوړى، او امام عينى صاحب فرمايلى دى چه يوم شك هغه ورځ ده چه خلق خبرې اترې په مياشت ليدلو كې كوى خود مياشت ليدل ثابت نوى او يو كس شاهدى وكړى خو شاهدى يى ردشى او يا دوه كسان فاسقان شاهدى وركړى، ددوئ شاهدى رد كړى شوې وى او دسلفو او خلفو پدې كې اختلاف دې ، دامام مالك رحمه الله نه يو روايت په يوم الشك كې كراهيت نقل شويدې او يو روايت جواز بلا كراهيت هم نقل شويدې كما فى العينى، او امام شافعى رحمه الله فرمايلى دى چه يوم شك كى روژې نيول مكروه دى، دامام احمد بن حنبل رحمه الله څخه درې اقوال نقل شويدى، يو دا چه روژه واجب ده څكه چه يوم شك درمضان څخه دې، دويم دا چه نه فرضى جائز ده اونه نفلى بلكه قضاء او كفاره او نذرى او نفلى چه عادت سره موافق شى جائز دى، دا دامام شافعى صاحب رحمه الله قول هم دې ، دريم قول داچه دغه مسئله رأى دامام ته سپارلى شويده په نيولو او ماتولو كې «كذا فى الفتح البارى» زمونږ داحنافو علماء كرامو فرمايلى

دی چه کچیرې په یوم شك کې درمضان نیت چا وکړو مکروه تحریمی دې، کچیرې واجب آخر «بل واجب» قضاء نیت یی وکړو مکروه تنزیهی دې او کچیرې یی دنفلی نیت وکړو او دخپل عادت سره موافق نه وو کچیرې دخواصو څخه وو نوبیا خیر دی کچیرې دعوامو څخه وی نو یوم شك باندې به ورته حکم کیږی چه زوال پورې انتظار وکړی بیا که خبره معلومه نشوه بیابه حکم ورته په افطار سره کوی.

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم لره می دشعبان دمیاشتې نه سوا بله میاشت کې زیات روژه نیوونکې نه وو لیدلې، دا شان په یو روایت کې راځی چه هغوئ صلی الله علیه وسلم به دشعبان ټوله میاشت روژه دار وو سوا دیوڅو ورځو نه «متفق علیه» ددې حدیث څخه معلومیږی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به دشعبان دمیاشتی په آخری پنځلسو ورځو کې هم روژه نیوله حالانکه یو روایت کې ترینه منعه ثابته ده نو یا خو اُمّت لپاره آخری پنځلسو کې روژه نیول خلاف الاولی دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ترینه مستثناء دې او یا په حق دهغه چا کې چه روژه یی کمزورې کوی البته که روژه یی کمزوری کوی نه بیا څه باك نشته، والله اعلم «الله پاك دې مونږ نیك بختنه جوړ کړی او درجات عالیه دې مونږ ته نصیب کړی، آمین ثم آمین»

# درمضان المبارک میاشت

محترمو مسلمانانو : دروژی بختوره میاشت دفیوضاتو او فتوحاتو میاشت ده، په یو حدیث شریف کې دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی چه دقیامت په ورځ د روژه دارانو لپاره دعرش عظیم دسیوری لاندې دسترخوان غوړول کیږی اودوئ به پرې طعام خوری نور خلق به دحساب ورکولو څخه لا وزګار شوی نوی، او وایی به چه هغه کسان څوك دی؟ چه په مزه مزه لیګا دی طعام خوری، اومونږ تر اوسه پورې له حساب څخه نه یو خلاص شوی، نو دوئ ته به داسی ځواب ورکړی شی : دا هغه کسان دی چه دوئ په دنیا کې روژې نیولې او تاسو به خوړلې، دوئ به دشپې عبادت کولو

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

اوتاسو بـه د دغـه فیوضاتو سره سره چه د رمضـان المبارك میاشت دفتوحاتو هم وه
دشپې به مو خوبونه کول ، داسلا م په تاریخ کې دبدر غزا او دمکې فتح دوه روښانه او
ځلنده بابونه دی او دواړه ستري پیښې درمضان په میاشت کې را مینځته شویدي
دحضرت ابراهیم علیـه السلا م دجانشین یعني دحضرت محمد مصطفی صلی الله
علیه وسلم دټولـو نـه اولنـۍ فـرض دخالص توحید را ژونـدی کول او کعبـه شریفه
دناپاکونه پاکول وو ، ولې دقریشو پرله پسی حملو او دعربو عام مخالفت پوره تریو
ویشتو (۲۱) کلونـو پـورې ددې فرضـو لار نیـولې وه او لـه هغـه وخت نـه اتـه کلونـه
تیرشوی وو چه دالله تعـالی حبیب صلی الله علیـه وسلم اودهغـه مؤمنـو ملگـرو د
مشرکینو او ظالمو قریشو دظلمونو له امله دالله پاك په هدایت اوحکم له خپل وطن
مکې څخه مدینی منورې ته هجرت کړې وو او پدې موده کې یې په مسلسل ډول دالله
پاك د دُښمنانو په ضد وسله وال جهاد کړې وو ، قربانی یې ورکړې وې ، مشکلات
اوکړاوونه یې زغملی وو ، چیرته هغه وخت چه یو یو تن مظلوم مسلمان په پټه پټه په
ویره ترهه له خپل وطن نه دارالهجرت ته تللو اوس دا وخت چه لـه مسلمانانو څخه یو
عظیم ملت تشکیل شوې وو ، خپل ریاست یې درلود بلې خوا دحدیبی دروغی په
برکت دومره وشول چه دیوځو ورځو لپاره امن قائم شو او دحرم عاشقانو یوځل بیا د
ابراهیم علیـه السـلا م یادگـار پـه غلط انداز کې ولیـده، ولـې دحدیبی لوظنامـه هم
دقریشو نه سرته ونه رسیده، دزغم، معافی او صبر حدوشو اوس وخت راغې چه دحق
لمر خپلې مخې نه پرده لرې کړی او بهر ترې راووځی دحدیبی دروغې په بناء عربو کې
خزاعه قبیله درسول الله صلی الله علیه وسلم طرف داره شوې وه اودهغوئ مخالف بنو
بکر قریشو سره دجانبه کیدو لوظنامـه کړې وه ، دې دواړو مخالفو فرقو کې دمودو
راهیسې جنگونـه کیدل، د اسلام ظاهریدو دعربو مخه اسلام ته را واړوله، نوهغـه
جنگونه بندشول، اولا تـر اوسه بند دی، ځکـه چه دقریشو او عربو ټول زور داسلام
مقابله کې لگیده دحدیبی روغی خلق په قلاره کړل نو بنو بکر خیال وکړو چه دبدل
اخستو وخت دې نا ساپه یې په خزاعه حمله وکړه ، اودقریشورئیسانو ورته په ښکاره
مدد ورکړو ، د ابو جهـل ځوئ، عکرمـه د اُمیـه ځوئ صفوان او دعمرو ځوئ سهیل

وغیره په دشپې شکلونه بدل کړل او دبنو بکر دغاړې په يې توري وهلې ((طبری، صفحه : ۱۶۲، جلد : ۳)) خزاعه مجبور شول حرم کې يې پناه واخسته. بنو بکر ورته ویل چه دحرم عزت ضروری دی خو دهغوئ مشر سردار نوفل وویل، دا موقعه بیا هیڅرې په لاس نه نشي راتللی.

غرض دا چه آن دحرم په چاردیوالی کې دخزاعه وینې وبهولې شوې، رسول الله صلی الله علیه وسلم په مسجد کې ناست وو چه ناگهانه چغې شوې ((لَاهُمَّ اِنِّیْ شَاهِدٌ مُحَمَّدًا حَلَفَ اَبِیْنَا وَاَبِیْهِ الْاَتْلَدَا فَانْصُرْ رَسُوْلَ اللّٰهِ نَصْرًا عَتَدًا وَادْعُ عِبَادَ اللّٰهِ یَاْتُوْمَدَدًا))، ای الله زه به محمد صلی الله علیه وسلم ته هغه لوظنامه وریادوم، کومه چه زمونږ اودهغوئ دپلارانو ترمنځ شوې وه ، ای د الله تعالی پیغمبره زمونږ مدد وکړه او دالله پاك بندگان راوبله هغوئ به ټول زمونږ مدد ته راځی.

معلومه شوه چه دخزاعه څلویښت کسان په اوښانو سواره چه عمروبن سالم يې مخکې راته فریادته راغلی وو ((زرقانی ، صفحه : ۳۳۴، جلد : ۳)) رسول الله صلی الله علیه وسلم چه دا واقعات واوریدل، نو ډیر خفه شو، خوبیا یې هم قریشو ته سړی ولیږه او درې شرطونه یې ورته پیش کړل چه پدې کې دې یو ضرور ومنلې شی : ۱_ دمړوخونبها دې ورکړې شی ، ۲_ قریش دې دبنو بکر د مدد نه لاس واخلی، ۳_ اعلان دې وکړې شی چه دحدیبی لوظنامه ماته شوه، قرطا بن عمر دقریشو دطرفه وویل چه صرف دریم شرط منظور دې ((زرقانی ، صفحه: ۳۳۴، جلد: ۳)) ولې دسړی دتلو نه پس قریش پښیمانه شول، هغوئ ابو سفیان سفیر ولیږلو، چه دحدیبی لوظنامه تازه کړی، ابوسفیان چه مدینی منورې ته راغې درسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې يې درخواست وکړو د دربار رسالت نه هیڅ جواب رانغې ، نوابوسفیان حضرت ابوبکرصدیق رضی الله تعالی اوحضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه مینځ ته راوستل وغوښتل خو هغوئ ترینه انکار وکړو چه دهرې غاړې مجبوره شو، نو حضرت فاطمة الزهری رضی الله تعالی عنها څخه راغې، حضرت حسین رضی الله تعالی عنه دپنځو کالو ماشوم وو، ابوسفیان هغه طرفته اشاره وکړه چه کچیرې دا

بچي دومره قدرې دخولې نه وباسي چه ددوارو فريقو ترمنځ روغه جوړه وکړه نو دنن نه په دعربو دسردار په نوم ياد شي، خو حضرت سيّدي رضى الله تعالى عنها ورته اوفرمايل چه دبچو پدې معاملو کې څه کار دې، آخر ابو سفيان دحضرت على رضى الله تعالى عنه په اشاره مسجد نبوى ته لاړ اعلان يې وکړ، چه ما دحديبى صلحه بيا تازه کړه، ابو سفيان چه مکې تـه لاړ نو خلقو تـه يې دا واقعـه بيان کړه، چه دا خو نه صلحه ده چه مونږ پـه آرام کيناستى شو، نـه جنگ دې چه دجنگ تيارې وکړې شى «زرقانى ، صفحه: ٣٣٧، جلد: ٢»

پدې وخت کې مسلمانانو خپـل سياسى اسلامى نظام درلـود، خپـل فوځ يـې درلود، رسول الله صلى الله عليه وسلم مسلمانانوته دجنگ دتيارسى قومانده ورکړه او داسلامى قبيلو پـه نوم يې پيغام وليږه چه: هرڅوك چه په الله تعالى او آخرت ايمان ولرى هغه دې له رمضان نه مخکې مدينې ته راشى مسلمانانو دغه آواز ته لبيك وويلو دمختلفو مسلمانانو قبيلوله افرادو څخه لس زره کسيز لښکر تيار شو او دا خبره هم پټې مطرح وه چه دمکى خلق خبرنشى متأسفانه حضرت حاطب رضى الله تعالى عنه بن ابى بلتعه يو عزتمند صحابى وو هغه قريشو ته پټ خطر وليږه چه رسول الله صلى الله عليـه وسلم دمکـى تيـارى کـوى رسول الله صلى الله عليـه وسلم ددې خبرې نـه خبرشو، حضرت على رضى الله تعالى عنه! ز حضرت زبير رضى الله تعالى عنه او حضرت مقداد رضى الله تعالى اوحضرت ابو مرثد غنوى رضى الله يى وليږل چه د استازى نه خط واخلى «زرقانى» خط چه درسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې پيش شو، نو ټول خلق دحاطب رضى الله تعالى عنه پدې خط يعنې راز ښکاره کولو حيران شول، حضرت عمر رضى الله تعالى عنه بى تابه شو او عرض يى وکړو که حکم وى نو چه ذده څټ والوزوم؟ خو درحمة للعالمين صلى الله عليه وسلم په تندى سباکر گونجى قدرې نـه وې ارشاد اوشو چه عمره! تاته څه معلومه ده چه الله تعالى دبدر غازيانوتـه فرمـايلى دى چه تاسونه پوښتنه نشته، دحضرت حاطب رضى الله تعالى عنه خپلوان تر اوسه په مکه کې وو او هيڅوك امدادى يى نه وو، پدې خاطر دغه په قريشو دا احسان کول غوښتل چه ددې پـه بدل کې دهغـه خپلوانوته ضرر ونه

رسوي هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندې همدغه عذر پیش کړو او هغوی رصلی الله علیه وسلم) قبلو کړو، غرض دا چه دهجرت په اتم کال دروژې په لسمه ورځ د حضور صلی الله علیه وسلم سورلۍ په لوئ شان کې مکی معظمې ته روانه شوه، دفوځونو جوش هم دمکې په طرف وخوځیده، اسلامی لښکر چه دخزاعه چینې ته ورسیده علته یې د دمې جوړولو اوشپې تیرولو لپاره خیمې ودرولې، هرې خواته تیاره خوره شوې وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم امر وکړ چه هره قبیله دې بیلابیل اور بل کړي، اورونه بل شول په پیره دارانو کې حضرت عباس رضی الله تعالی عنه هم شامل وو، په یوه جګ ځای باندی ودریده اخوا دیخواته یې کتل دوه تنه یې تر نظر لاندې راغلل، هغوئ پخپلو منځو کې سره ویل : ابوسفیانه په الله قسم چه دا خو دخزاعه اور دې معلومیږی چه دجنګ تیارې نیول کیږی، ابو سفیان وویل بدیله تر قیامته پورې دخزاعه دغسی شان او شوکت نشی کیدې، دا د اور ځنګل او دا دانسانانو ځپانده سمندر، دحضرت عباس رضی الله تعالی عنه صبر رانغې او بی اختیاره یې وویل ابوسفیانه! زه عباس بن عبدالمطلب یم او دا دمحمد صلی الله علیه وسلم بن عبدالله اور دې، ابو سفیان وویل : دخزاعه اوقریشو ترمینځه خو د روغی جوړی خبره پخه شوې وه محمد صلی الله علیه وسلم ته هم پیشنهاد وکړه، عباس رضی الله تعالی عنه اوفرمایل لومړې خو تاسې دواړه اسلام راوړی، بدیل ترمخه شو او وې ویل «اشهد ان لا الٰهَ الاَّ اللهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً رسول الله» بدیل رضی الله تعالی عنه مسلمان شو خو ابوسفیان لا زړه نازړه وو مګر بالاخره دهغه سینه هم پرانستل شوه او دتوحید اورسالت په شهادت یې ژبه وخوځیدله، حضرت عباس رضی الله تعالی عنه دواړه دځان سره درسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته بوتلل، رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغوئ په ایمان راوړلو ډیر خوشحاله شو اومبارکی یې ورکړه، له دې ځایه مکه بالکل مخامخ وه، لښکر په څو ټولیو وه ویشل شو او دهر ټولی بیلابیل قومندان وټاکل شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوئ ته وظیفه ورکړه چه ښارته له بیلابیلو لارو څخه داخل شی اوترڅو پورې چه څوک ړومبې نشی په هغه دې ګذار نه کوی، ابوسفیان رضی الله تعالی عنه دخجالت په حال کې وو، نبی

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

کرم صلی الله علیه وسلم هغه ته پوښتنه وکړه. ابو حنظله څه خبره ده ؟ له مونږ سره به
ښوره کي ولې برخه نه اخلې؟ ابو سفیان وویل دالله تعالی رسوله! اوس نه به قریشو
بدی غالب یې خما عرض دادی چه که فاتح شې نو له نرمي نه کار واخله او دښمنان
ه مونږ پوري ونه خندوي . نبي اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل نه ، نه ، ابو
سفیانه ! مطمئن اوسه . بیا یې اوفرمایل ابو سفیانه ! خپل قوم ته ورشه او ورته
وایه چه محمد صلی الله علیه وسلم به دیوبنه ورور په توګه به مکه کي داخلیږي نن
غالب او مغلوب او دفاتح او مفتوح مسئله مطرح نده، نن دمیني او اتحاد ورځ ده ،
ن دامن او آمان او اطمینان ورځ ده . څوک چه دابو سفیان کورته داخل شي هغه به
ن دي . څوک چه دکور دروازه وتړي هغه به امن دي. څوک چه کعبې ته ننوځي هغه به
ن دي. ابو سفیان رضي الله تعالی عنه چه دغه دمیني خوږي خبري واوریدلې نو
وشحاله شو او په منډه منډه مکې ته لاړ چه هغوی ته زیري ورکړي. دغه زیري
سدلاسه په ټول ښار کي خپور شو او لږ وروسته دمکې زړونه د ډېر ښه ډوله شول د اسلام لښکر
کي مکرمې ته داخل شو . مشرکانو توري وغورځولې خپلو کورونو ته ننوتل او
روازې یې وتړلې . د سکون پیدا کیدو او دحالاتو عادي کیدو نه وروسته رسول الله
لی الله علیه وسلم کعبې شریفې ته لاړ. هلته دري شپیته (٣٦٠) بتان ایښي وو هغه
ښکورول او د لاړ مزمه یې له مبارکي خولې اوراوتله چه «قُلْ جاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ
طِلُ إِنَّ الْباطِلَ كانَ زَهُوقاً» . بیا حضرت عمر فاروق رضي الله تعالی عنه ننوت او ټول
وبرونه یې اوسته وغورځول او کعبه له بتانو او تصویرونو څخه پاکه شوه. رسول
صلی الله علیه وسلم چه حضرت بلال رضي الله تعالی عنه او حضرت طلحه رضي
تعالی عنه ورسره ملګري وو په کعبه شریفه کي یې لمونځ ادا کړ یا په بل روایت
تکبیرونه یې وویل. دمکې خلکو دخپل سرنوشت دفیصلې اوریدلو لپاره دکعبې
شاوخوا ګڼه ګوڼه جوړه کړې وه. پدې وخت کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم له
ي مبارکي څخه دغه یادګاري فقري راووتلې «لا إِلهَ إِلاَّ اللّهُ وَحْدَهُ صَدَقَ وَعْدَهُ
صَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الأَحْزابَ وَحْدَهُ أَلا إِنَّ كُلَّ مَأْثَرَةٍ أَوْ دَمٍ أَوْ مالٍ يُدَّعى فَهُوَ تَحْتَ قَدَمَيَّ

هَائِنِ إِلاَّ سِدَانَةِ الْبَيْتِ وَ سِقَايَةِ الْحَاجِّ»، له الله تعالى نه پرته بل هيڅ معبود نشته هغه يو دې دهغه هيڅ شريک نشته، هغه خپله وعده ريښتونې کړه هغه دخپل بنده سره مرسته وکړه او ټول فوځونه يې يواځې مغلوب کړل . واورئ: ټول وياړونه دقتل ټولې دعوې او دمال ټولې غوښتنې زماتر دغو دوو قدمونو لاندې دي، خو صرف دکعبې کليگانې «چابياني» اخستل او دحاجيانو اوبه رسول له دې نه مستثناء دي.

له هغه وروسته يې دمساوات او ورور گلوۍ په هکله اوږده خطبه واروله او په جالي «جعلي» رواجونو باندې يې دبطلان کرښه راښکله په پای کې يې قريشو ته په خطاب کې اوفرمايل څه فکر کوئ چه زه به له تاسې سره څه وکړم؟ ټولو په يو غږ ځواب ورکړ «خَيْرَ أَخٍ كَرِيمٍ وَابْنَ أَخٍ كَرِيمٍ» ښه سلوک مهربان ورور او دمهربان ورور ځوئ يې، رحمت عالم صلى الله عليه وسلم اوفرمايل: «لاَ تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ اذْهَبُوا فَأَنْتُمُ الطُّلَقَاءُ» نن په تاسو باندې کومه مؤاخذه نشته ځئ ټول آزاد يئ، دروف، رحيم پيغمبر صلى الله عليه وسلم د خواخوږۍ او مهربانۍ سمندر خپانده شو دغه عمومي عفوه يې هغو خلکو ته وکړه چه تر پرون پورې يې خپل ټول طاقت د اسلام دمحوه کولو لپاره په کار اچولې وو دهغوئ دتورو او نيزو څوکه له دغه رحيم ذات سره گستاخي کوله او دده دخوږو ملگرو په پاکو اجسادو کې ښخيدلې هغو خلکو ته چه دې او دده خواخوږۍ ملگرې يې ځورول او هر ډول کړاوونه يې ورباندې راوستل په سرو سيخانو يې داغل او په سرو شگو يې ورېټول خو هغوئ ظالمانو ظالمان همداسې کوي او دې رؤف رحيم اورحمت عالم صلى الله عليه وسلم له شان سره يې همدا ښائيدل، په صفا نومې ځاى کې رسول الله صلى الله عليه وسلم په يو لوړ ځاى کيناسته کوم خلق به چه اسلام قبلولو ته راتلل درسو الله صلى الله عليه وسلم په لاس به يې بيعت کولو چه دنارينه وو وار ختم شو نو زنانه شروع شوې، ښځو نه دبيعت اخستلو طريقه دا وه چه دهغوئ نه به دا سلام د ارکانو او دښو خويونو اقرار اخستې شو، بيا به د اوبو نه ډکې پيالئ کې رسول الله صلى الله عليه وسلم لاس مبارک ښکته کړو اوبيا به يې را وه ويسته ورپسې به ښځو هم په هغه پيالې کې لاس ښکته

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

او دبیعت ((لاس نیوی)) لوظنامه به پخه شوه ((طبری، صفحه: ۶۴۴، جلد ۲))،
سیرت دلیکونکو بیان دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم که دمکی خلقوته امن
ورکړې وو خو دلسو تنو په نسبت یې حکم ورکړې وو چه هرچیرته بیاموندلې شی نو
ودې وژلې شی، ددوئ په شمیر کې کم او زیات روایات شته، حتی په بخاری شریف
کې یوائې دابن خطل واقعه ذکر شویده، ددینه ظاهرېږی چه دتحقیق دائره څومره
څومره لوېږي هغه هومره شمیر هم را کمیږی دروایت مطابق ابن خطل اسلام راوړې
ود خو خپل یو مسلمان خدمتگار یې وژلې وو، اومرتد شوې وو، پدې قصاص کې
ووژلې شو، اورسول الله صلی الله علیه وسلم دهیچا نه ذاتی بدله نه وه اخیستې، په
کومو روایتونو کې چه ددې لسو کسانو بیان کیږی هغه ځینې محدثین حضرات ورته
د تنقید په نظر گوری، مکه معظمه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم پنځلس ورځې
تیرې کړې چه څه وخت دلته نه روان شو نو حضرت معاذ رضی الله تعالی عنه ته یې دا
کاروسپاره چه ته به خلقو ته د اسلام مسئلې اوحکمونه ورزده کوې، دا وه دمکې
مکرمې فتحې ته یوه لنډه کتنه. ((الله پاك دې مونږ هم فاتحین، غانمین اومجاهدین
جوړ کړی، آمین یارب العالمین)).

# دشوال المکرم میاشت

محترمو مسلمانانو: دشوال المکرم په میاشت هغه تاریخی کارنامې دی چه ددین داعی اومجاهد ته ډیر دعبرت درس ورکوی، رسول الله صلی الله علیه وسلم دبعثت دلسم کال دواړه اختر دمیاشتې په وروستیو ورځو کې طائف ته روان شو ددغه سفر سبب داوو چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دقریشو له آذیتونو ((تکلیفونو)) څخه په تنگ شوې وو، دهغوئ دپرله پسې سختو دښمنیو په لیدلو سره دا هیله نه وه پاتې شوې چه دغه خلك به دحق دبلنې منل خولا څه چه دهغې دخپریدلو لپاره دې څه فرصت ورکړی ځکه یې نو وغوښتل چه دطائف خلکو ته دا سلام دعوت وراندې کړی او دهغه ځای ترټولو قوی قبیله بنی ثقیف لږ ترلږه دیته چمتو کړی چه

هغه صلی الله علیه وسلم ته هلته پناه ورکړي او د اسلامي دعوت په لاره کې له هغه سره مرسته او ملاتړ وکړي او د اسلامي دعوت په لاره کې له هغه سره مرسته او ملاتړ وکړي، دغه مزل یې چه تقریباً پنځه اویا کیلو متره فاصله ده پیاده وواهلو د سفر څخه وسیله ور سره نه وه په هغه وخت کې د طائف مشري د عمرو بن عمیر بن عوف د دریو زامنو عَبْدیَالیل، مسعود او حبیب په لاس کې وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغو سره لیدنه کتنه وکړه د الله تعالی د دین خواته یې بلنه ورکړه او هغوئ ته یې په خطاب کې اوفرمایل چه : زه تاسې ته د دې لپاره راغلی یم چه تاسې د اسلام په ماموریت کې له ما سره مرسته وکړئ او زما د قوم کوم خلک چه زما د دښمنۍ په محاذ کې ولاړ دي د هغوئ په مقابل کې زما ملاتړ وکړئ. له هغو دریو تنو مشرانو څخه یو وویل : زه به د کعبې پرده وشلوم کچیرې ته الله تعالی رسول رالیږلی یې، دویم وویل آیا الله تعالی له تا څخه پرته بل څوك د رسالت لپاره نه وو موندلی ؟ . دریم وویل : زه به له تا سره هیڅکله خبرې ونکړم ځکه چه که ته په ریښتیا سره د الله تعالی پیغمبر یې نو له دینه ډیر پورته او لوړ یې چه زه ستا ځواب درکړم او که ته د الله تعالی د نوم په اخستلو دروغ وایې د دې وړ نه یې چه له تا سره خبرې وشي. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم چه دا خبرې واوریدلې نو ناهیلې او نا اُمیده پاڅیده او د روانیدو په وخت یې هغه ته اوفرمایل چه : خیر تاسې چه له ما سره کوم برخورد وکړ هغه خو مو وکړ. مګر لږ تر لږه دومره وکړئ چه زما راز پټ وساتئ، دا خبره یې ځکه وکړه چه په دې کې دا حکمت وو که قریش له دغې ماجرا څخه خبر شي نو د دښمنۍ جرئت به یې زیات شي خو هغوئ چه د مادیت پرستی په شرابو نشه وو او له دې امله یې هر ډول انسانی مروت او اخلاق له لاسه ورکړي وو دا کار ونکړ بلکه خپل لوچکان او غلامان یې د هغه پر خلاف ولمسول هغوئ صلی الله علیه وسلم ته په کنځلو او بدو ردو ویلو شروع وکړه، د لارې په دواړو خواو کې یې صفونه جوړ کړي وو او په هغوئ صلی الله علیه وسلم باندې یې د تیږو باران جوړ کړ تر داسې حده چه د هغه مبارکې پښې له وینونه ډکې شوې، زخمي زخمي شو کله چه له ډیره درده بیتابه کیده کیناستلو به نو هغوئ به په زوره را پاڅولو او بیا به یې په تیږو وه ویشتلو. هلهله او خنداګانې به یې

جوړولي د ځينو سيرت ليکونکو په روايت چه په دې سفر کې له هغه صلی الله عليه
وسلم سره حضرت زيد رضي الله تعالی عنه بن حارث ملګری وو . هغه به د نبي اکرم
صلی الله عليه وسلم په ځای خان وړاندې کړ او پوخه سپرې به پر هغه باندې ولګېدې.
په پای کې د تيږو د باران له امله د حضرت زيد رضي الله تعالی عنه سر مبارك وچاوده
د دغو ظلمونو او ستم په جيو کې د دوارو جهانو سردار له طائف نه زخمي زخمي په
وينو رنګ ووت . او فاشان او لو جګار سړي په ستانه شول هغه صلی الله عليه وسلم
عتبه او شيبه د انګورو د باغ د دېوال نه تکيه وکړه او پر سوري لاندې کيناست . بيا يې
ډېره خفګانه راټك شوي وو . الله پاك ته لاس په دعا شو او خپل حال يې د خپل
رب حضور ته داسې عرض کړ . يا الله زه ستا حضور ته د خپلې بې کسۍ او بېچارګۍ او
د خلکو په نظر کې د خپلې بې قدرۍ شکايت وړاندې کوم . ای ارحم الراحمينه ته
د کمزورو مستضعفانو رب يې او زما رب هم ته يې . يا الله ما چاته سپارې ؟ آيا بېګانه
ته مې سپارې چه زما سره په ورو بېش آمده وکړي ؟ يا کوم دښمن ته چه پر ما باندې
مسلط شي ؟ يا الله که ته له ما خفه نه يې نو زما په هيڅ مصيبت باندې څه
پرواه نشته خو ستا لخوا زما عافيت په مصيبت کې نو ډېر کې زما لپاره ډېر سهولت
دی . زه ستا د ذات هغه نور او رڼا ته پناه وړم چه تيارې رڼا کوي او د دنيا او آخرت
ټولې چارې سمې وي ما ته له دې نه بچ کړه . اګر چه غضب را باندې نازل شوی وي يا
ستا د عتاب وړ ګرځېدلی يم . ستا په رضا ، زما رضا ده ته راڅخه راضي شي . له
تا څخه پرته نه قوت او طاقت نشته . د دغه ډېر سوځوونکي حالت نقشه پخپله هغه
صلی الله عليه وسلم د حضرت عائشې رضي الله تعالی عنها ددې پوښتنې په ځواب
کې چه اې د الله تعالی رسوله د أحد له معرکې نه هم کله سخت حالت درباندې
راغلی دی ؟ اکرم صلی الله عليه وسلم داسې را ښکاره کړه او وې فرمايل ما چه
غم او خفګان په خو کې هرې خوا ته مخ واړوه هغې خوا ته او سې پياتې شوی نعش
حيران ووم چه چېرته په ولاړ يم . د غم د غو ځپو کې مې چه سر کې وګرځولی ومې ليدل چه
په قرن الثعالب نومي ځای کې يم پورته مې وکتل ومې ليدل چه ورېځې راباندې
سيوری کړی شوی دی . ښه مې وليدل چه په هغې کې حضرت جبرئيل عليه السلام

دي. ماته يې غږ وکړ، وې فرمايل چه «إِنَّ اللَّهَ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ وما رَدُّوا عَلَيْكَ وَلَقَدْ بَعَثَ إِلَيْكَ مَلَكَ الْجِبَالِ لِتَأْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ فِيهِمْ قَالَ فَنَادَانِي مَلَكُ الْجِبَالِ فَسَلَّمَ عَلَيَّ فَقَالَ يَامُحَمَّدُ انَّ اللهَ قَدْسَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ وَانَا مَلَكُ الْجِبَالِ قَدْ بَعَثَنِيْ رَبُّكَ اِلَيْكَ لِتَامُرَنِيْ بِاَمْرِكَ انْ شِئْتَ أَنْ أُطْبِقَ عَلَيْهِمُ الاَخْشَبَيْنِ اَطْبِقْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلْ أَرْجُو أَنْ يُخْرِجَ اللَّهُ مِنْ أَصْلاَبِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ وَحْدَهُ لاَ يُشْرِكُ بِهِ» (متفق عليه). **ترجمه** الله تعالى ټول هغه څه واوریدل چه ستا قوم تاته وویل او تاته یې ستا ددعوت ځواب ورکړ، دادې الله تعالى دغرونو فرښته رالیږلې ده ته چه هرڅه غواړې ورته امر وکړه. بیا دغرونو فرښتې راته سلام وکړ اوله سلامه وروسته یې راته وویل چه ای محمده (صلی الله علیه وسلم) الله تعالى ستا دقوم وینا او ستا ددعوت په مقابل کې دهغوی ځواب واوریده زه دغرونو فرښته یم، زه ستا رب تاته رالیږلې یم ترڅو چه ته ماته څپل امر وکړې، ته چه څه غواړې ماته حکم وکړه، که ته غواړې زه پر هغوباندې دمکې دواړه خواته غرونه را یوځای کړم، رحمة للعالمین صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړ چه نه . زه هیله مند یم چه ددوئ په نسل کې به الله تعالى داسې خلك پیدا کړي چه دالله تعالى واحد لاشریك ذات عبادت وکړي

له دغه لنډیزنه مونږ ته معلومیږي چه د اسلام دعوت له کومو سختو لارو تیرشویدي او د اسلام داعی باید دځومره لوړې اوفراخې حوصلې خاوند وی دکړاوونو او غمونو دغه سخته ستغه لاره دصبر او زغم په اسره وهل کیدې شی ځوك چه کلې کور سوکاله ژوند اوبې غمې غواړی هغه ددې لارې لاروی ندی، اوبلی خواته دحُنین غزاء مجاهدینو ته اسلامی تکتیك ورکوی حنین دمکې او طائف په منځ کې دیوې وادی نوم دې دعربو مشهور بازار «ذوالمجاز» به دهغې په لمن کې لګیده د ابن سعد دوینا مطابق دا دمکې نه د دریو ورځو په مزل پروت دې، د اسلام دفتوحاتو دایره ورځ په ورځ لوییده خو عربو دیته کتل چه دهغوئ لویه قبیله یعنې مکه مکرمه تر اوسه محفوظه ده، دهغوئ خیال وو که محمد صلی الله علیه وسلم په قریشو غالب شواومکه فتحه شوه نو بیشکه چه هغه به رینښتنې پیغمبر وی،اوچه مکه فتحه شوه، نو ټولې

قبیلې پخپله راوړاندې شوې او د اسلام قبولو یې شروع کړه «بخاري شریف»

ولې په هوازن او ثقیف کې قبیلو یې اړولې «بالعکس» اثر وشو دا قبیلې ډیرې جنګیالۍ او دجګړې په چلونو پوهه وې، اسلام به چه څومره غلبه کوله دوئ به زیات پریشانه کیدل چه دهغوئ ریاست او عزت ختمیږي، پدې بناء دفتحې مکې نه وروسته هوازن او ثقیف رئیسانو دا خیال وکړ چه اوس دهغوئ وار دې، ددې کبله هغوئ یو ځل سره په ګډه مشوره وکړه او په کورنۍ کې یې فیصله وشوه چه د مسلمانانو خلاف ددې «چه په دې وخت کې په مکه مکرمه کې جمع شویدی» یوه عامه حمله وکړې شی. ددې فیصلې مطابق دا قبیلې په ډیر زور شور پخپله دحملې لپاره راوړندې شوې. دجوش دا علامه وه چه هرې قبیلې خپل ټول اهل او عیال راوستلی وو، چه بچی او زنانه را سره وی نو خلق به ددوئ دحفاظت په غرض خپل سرونه ورکړی، دې معرکې کې دثقیف او هوازن ټول خیالونه «فکرونه» شریك وو خوبیا هم کعب او کلاب پکې شریك نشو دفوځ دمشری دپاره خو مالك بن عوف تعین شوې وو چه دهوازن قبیلې لوئ رئیس وو چه بیا وروسته همدې مسلمان شو «زرقاني»

ولی دمُشیر په حیث دُریدبن الصمة هم ورسره واخیستې شو چه دعربو مشهور شاعر او دجُشم قبیلې سردار وو، چه په عربی تاریخ کې یې تراوسه یادګار دې. ولې دهغه عمر ترسلو کالو نه زیات شوې وو او تشه د هډوکی پنجره پاتې شوې وه، سره ددې هم عربو منلو، او دهغه په رأیه او تدبیر دټول ملك اعتبار وو پخپله مالك بن عوف هغه ته دشریکیدو درخواست وکړ، بلکه پالکۍ کې یې واخیست او میدان جنګ ته یې راووړ، هغه پوښتنه وکړه چه دا کوم ځای دې؟ خلقو ورته وویل «اوطاس» دې، او دا ځای جنګ دپاره مناسب دې ددې ځمکه نه ډیره سخته ده او نه دومره نرمه ده چه خپې پکې غرقې شی، بیا یې پوښتنه وکړه چه بچی او زنانه را سره راغلی دی چه څوك وروسته لاړنشی، هغه ورته وویل چه خپې یو ځل وښوریږی نو بیا یې هیڅ شی نشی رامنعه کولې، دجنګ میدان کې بس توره کار کوی. بدقسمتی نه که شکست وشی نو دزنانه وو دوجهی به نور هم ذلت وی، بیایې پوښتنه وکړه چه کعب او کلاب هم شریك دی که نه، او چه ورته معلومه شوه چه ددغې درنو او مخورو قبیلو یوتن هم

په میدان جنګ کې نښته نو وې دیل چه ګه نن ورځ دعزت او شرافت ورځ وی. نو کعب او کلاب به غیر حاضر نه وو. دهغه رایه وه چه دمیدان نه به ډډه یو محفوظ ځای کې دی فوجونه جمع کړی شی. او هلته دې دجنګ اعلان وکړی شی، خو مالك بن عوف چه ددیرشو کالو زلمې وو. هغه دخوانی په مستئ کې ددې رایه قبلو لو نه انکار وکړو او ورته یې وویل چه ستا دماغ خراب شویدی، او عقل دې بیکاره شویدی
((طبری، صفحه ۶۵۵. جلد ۳))

رسول الله صلی الله علیه وسلم چه په مکه کې ددې واقعاتو نه خبر شو. نو تصدیق دپاره یې حضرت عبدالله رضی الله تعالی عنه بن ابی جداد ولیږه. هغه دجاسوس په څیر حُنین ته راغې او دیرې ورځې په فوج کې پاتې شو ټول حالات یې کشف کړل. رسول الله صلی الله علیه وسلم مجبوراً دمقابلې تیارې وکړې. دخوراك. څښاك او دجنګ دسامان دپاره دقرض ضرورت پیښ شو. عبدالله بن ربیعه چه دابو جهل میره زی ((میرنې)) ورور وو ډیر دولت مندوو دهغه نه یې دیرش زره درهمه قرض واخستل ((مسند احمد صفحه ۳۶. جلد ۴)). صفوان بن أمیه چه دمکې لوی سردار او میلمستیا ورکولو کې مشهور وو. خو تر اوسه یې اسلام نه وو راوړی هغه نه رسول الله صلی الله علیه وسلم دجنګ وسله او سورلئ وغوښتنه. هغه سل زغرې او هغې سره پکار شیان پیش کړه دهجرت په اتم کال دوروکی اختر میاشت شوال کې دولس زره اسلامی فوځونه چه د ساز او سامان سره په حُنین ور وختل نو دځینې صحابه کرامو دخولې نه بې اختیاره دا الفاظ وختل چه ((نن به مونږ څوك غالب راتلې نشی)) خو دالله تعالی په دربار کې دا خبره او وینا خوښه نشوه. لکه چه فرمایی: ((وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ + ثُمَّ أَنَزلَ اللّهُ سَكِينَتَهُ عَلَى رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُواْ وَذَلِكَ جَزَاء الْكَافِرِينَ)) ((سورة توبه)). **ترجمه** ((او دحنین ورځ را یاده کړه چه تاسو په خپل ډیروالی نازیدئ خو هغې درته هیڅ بنیګړه درونه رسوله، او ځمکه دربانده سره دهغې د فراخوالی تنګه شوه. بیا مونږ

کړه او وتښتیدئ، بیا الله تعالی په خپله رسول صلی الله علیه وسلم او په مسلمانانو تسلی نازله کړه، او داسې فوځونه یې راولیږل چه تاسو نه لیدل، او کافرانو ته یې عذاب ورکه او همدغه د کافرانو سزاء ده».

د شکست کنې وجهې وې، دلښکر روميې سر چه د حضرت خالد رضی الله تعالی عنه د افسرئ لاندې وو هغې کې اکثر د مکې د فتحې د وخت نوي مسلمانان شوي زلمي وو، هغوئ د خوالئ په غرور کې د جنګ وسله هم نه وه اخولې «رواه البخاري»، فوځ کې دوه زره «طلقاء» یعنې هغه خلق وو چه تر اوسه یې اسلام نه وو راوړی «عمدة القاري»، د هوازن خلق د غشو ویشتو داسې مېړني وو چه تول عربو کې یې سیال نه وه، میدان جنګ کې د هغوئ یو غشی هم خطاء نه تلو «بخاري، صفحه ۶۴۵».

کفار د جنګ محاذ ته مخکې رسیدلي وو او په مناسبو ځایونو یې قبضه کړې وه، او د غشو ویشتونکو ټولګې د غره په تنګو کې په سمو او درو کې ځای په ځای کینولي شوي وو، اسلامي فوځ سحر وختي په تیاره کې حمله وکړه، میدان جنګ د ومره مخ په ښکته ځای وو چه پښې پکې په ځای نشوې ټینګیدې د مسلمانانو «حمله کوونکو» ورمخکې کیدل وو، چه د مخې نه پرې زرګونه فوځونه راغله، بل خوا د مورچونه د غشو ویشتونکي ټولګې راووتل، او د غشو باران یې شروع کړ د فوځ روميې سر «مقدمة الجیش» ډیر په بد حالت کې بې قابو شو او عقب نشیني یې وکړه وروسته د ټول فوځ پښې وښوییدې او د احد د غزاء په شان په غنیمتونو راجمع کیدلو بوخت وو او ولاړ بیا یې ماتې وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم په سپینې قچرې باندې سور وو، ابو سفیان ابن حارث واګې د قچرې نیولې وې چه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د تره خوئ وو، په دغه وخت کې رسول کریم صلی الله علیه وسلم د قچرې نه راکوز شو او دا الفاظ یې اوفرمایل «أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ، أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ»، یعنې زه بیشکه پیغمبر یم دروغ ندي، زه خوئ «لمسی» د عبدالمطلب یم،

بیا عباس رضی الله تعالی عنه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په فرمان مؤمنانو ته یو هیبتي چغه ووهله پدې آواز سره په مؤمنانو کې نوې روح او قوت پیدا شو، تو

مؤمنان غازیان د جنگ میدان ته راپس راغلل په کفاورباندې یې په اخلاص سره اسلامي حمله وکړه او کفارو ته یې ښکاره شکست ورکړ او مؤمنانو ته الله تعالی فتحه ورکړه صرف څلور کسان شهیدان شول او له کفارو نه اویا کسان قتل شول او ډیر په بند کې راوستل شول

**نکته** دشوال په میاشت کې شپږ نفلي روژې دنورو نفلي روژو څخه نسبت زیاتې دي، د ابن عمر رضی اله تعالی عنه څخه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي «مَنْ صامَ رَمَضانَ ثُمَّ اتْبَعَهُ بِسِتَّةٍ مِّنْ شَوالٍ فَكَأَنَّما صامَ الدَّهْرَ كُلَّهُ فقال عَبْدُالله تَعالَوْا حَتّى اُحاسِبُكُمْ فَصَوْمُ رَمَضانَ لِلثَّمانِيَةِ ، وَسِتَّةُ يَوْمٍ يَكُوْنُ سِتِّيْنَ يَوْمًا لِاَنَّ الله تعالى قالَ مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرَةُ اَمْثالِها يَقُوْمُ مَقامَ عَشْرَةِ اَيّامٍ» ، **ترجمه** هرچاچه ونیوله روژه دمیاشتې درمضان بیا تابع وکړی ورپسې روژې دشوال نوګویا هغه روژه ونیوله ټوله زمانه ، نو حضرت عبدالله رضی الله تعالی عنه اوفرمایل راشئ چه حساب وښایم تاسو ته، روژه دمیاشتې درمضان لکه د روژه د دریو سر ورخو شوه او دشپږو ورخو روژه په شان د روژې دشپیتو ورخو ده ، ځکه چه الله تعالی فرمایلي دي هرچاچه کړه یوه نیکي نو هغه دپاره لس هومره دهغې کیږي، نودا یوه ورځ په ځای دلسو ورخو ودریږي «الله تعالی دې مونږ داسلام ددین صحیح داعیان جوړکړي ، آمین یا رب العالمین»

# دذوالقعدې میاشت

محترمومسلمانانو : دشپږم هجري کال د ذی القعدی دمیاشتې په لومړیو ورخو کې درسول الله صلی الله علیه وسلم دعمومي اعلان وروسته دهغه ترقیادت لاندې یوزر او څلور سوه تنه صحابه رضی الله تعالی عنه دعمرې د اداء کولو لپاره له مدینې منورې نه مکې معظمې خواته روان شول، ذوالحلیفه نومې ځای کې چه له مدینې منورې نه دباندې دمکې خوات چه په شپږ میله فاصله کې واقع دی او اوس ورته بئر علي وایي احرام یې وتاړه او یا(۷)، اوښان یې چه دهدیې غاړه کړې یې دښباني په ډول

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

په غارو کې وې هم له ځان سره روان کړل، قریش چه کله له دغه کاروان څخه خبر شول، پوه له دې چه دغه میاشت له حرامو میاشتو څخه ده او بې له جنګ جګړې نه هم چا الله پاك دكور زيارت كولې شو خو د خپل جاهلي تعصب له مخې دېته حاضر نشول په دغه کاروان مکې ته د داخلیدو لپاره بېرېدې، دلوی لښکر سره راووتل او د ذی طوى نومې ځاى ته په رسيدو سره يې دوه سوه تنه سپاره د مسلمانانو دلارې نيولو لپاره دكراع النعيم خوا ته مخكې وليږل، رسول الله صلى الله عليه وسلم له دغې پېښې نه له خبريدو سره سم خپله لاره بدله كړه له بېلې سختې ستړې لارې نه حديبيې نومې ځاى ته چه اوس ورته شميسي وايي او له مكې نه په (١٢) ميله فاصله كې واقع ده ورسيدل او هلته تم شول پدې دوران كې دبنى خزاعه سردار بديل بن ورقاء او بيا داحبيش سردار حليس بن علقمه دهيئتونو په مشرۍ پر له پسې دنبي اكرم صلى الله عليه وسلم حضور ته راغلل او دكار دهدف پوښتنه يې وكړه، هغه صلى الله عليه وسلم ورته مايل موږ دجنګ لپاره نه يو راغلي، صرف دبيت الله دزيارت كولو لپاره راغلي يو په پاى كې دقريشو لخوا عروه بن مسعود ثقفي راغى او دخبرو په اړولو را اړولو يې ډيره هڅه وكړه چه نبي اكرم صلى الله عليه وسلم په بيرته ستنيدو باندې راضي كړي، مګر نبي اكرم صلى الله عليه وسلم هغه ته هم همغه ځواب وركړ چه نورو استازو ته يې وركړې وو دنمايندګانو دتګ راتګ او سوال او ځواب په دغه جريان كې قريشو دمسلمانانو په كمپ باندې دپټو حملو په كولو سره ډيره زياته هڅه وكړه چه مسلمانان جنګ كولو ته وهڅوي خو دا هلې ځلې ناكامې شوې په پاى كې نبي اكرم صلى الله عليه وسلم له خپل لورى نه حضرت عثمان رضى الله تعالى عنه دخاص استازي په توګه مكې ته وليږه او دهغه په وسيله يې دقريشو سردارانو ته دا پيغام وليږه چه موږ دجنګ لپاره نه بلكه دزيارت لپاره له هديو سره راغلي يو چه طواف او قرباني وكړو بيرته به ځو خو هغوئ ونه منله او حضرت عثمان رضى الله تعالى يې په مكې كې ايسار كړ ، پدې دوران كې دا خبر خپره شو چه حضرت عثمان رضى الله تعالى عنه شهيد شويدې او دهغه په بيرته نه راستنيدو سره دمسلمانانو باور راغې چه دغه خبر ريښتيا دې اوس نو دنور صبر كولو موقع نه وه اوس له دې پرته بله چاره نه

وه چه مسلمانان باید دجنگ لپاره تیارشي، رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل ټول ملګري را غونډ کړل او له هغوئ نه یې پدې خبره بیعت واخیست چه اوس به موږ دمرګ تروخته له دې ځایه په شاه لاړ نشو که دوخت نزاکت په نظر کې وی نو انسان پوهیدې شی چه دغه بیعت کوم عادی بیعت نه وو دغه بیعت ته رضوان بیعت ویل کیږي، لکه چه الله تعالی فرمایی . «لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ»، «الله تعالی له مؤمنانو څخه راضی شو کله چه هغوئ تر ونې لاندې له تا سره بیعت کولو»

الله تعالی پدغه آیت کې دا زیرې ورکړیدې چه هغه له هغو کسانو څخه راضی شو چه هغوئ پدغه خطرناك وخت کې پخپلو سرونو باندې لوبیدو ته تیارشول او دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم په لاس یې دسرښندنې دبیعت په کولو سره دخپل ریښتونی ایمان اثبات وکړ هغه داسې وخت وو چه مسلمانان صرف له یوې یوې تورې سره راغلی وو صرف یو زر څلور سوه کسان وودجنګ په لباس کې هم نه وو بلکه د احرام څادرونه یې تړلی وو له خپلې جنګی اډې یعنې مدینې منورې نه دوه نیم سوه میله لیرې وو او ددښمن مرکز چه هغوئ ځانته هر ډول مرسته جلبولې شوه صرف په (۱۳) دیارلس میله فاصله کې واقع وو هغوئ خپلې ننګیالی قبیلې هم رابللې شوې. مسلمانان یې محاصره کولې هم شول چه دا ټول دمرګ پیغامونه وو، که دالله تعالی دهغه درسول اودهغه ددین لپاره ددغو خلکو په اخلاص کې لږ شانته کمبودی هم وې نو پدې انتهائی خطرناك وخت کې به یې درسول الله صلی الله علیه وسلم ملګرتیا پریښې وه او اسلام به دتل لپاره میدان بایللې وو، دهغوئ له خپل اخلاص نه پرته هیڅ کوم خارجی فشار داسې نه وو چه دهغه له مخې دغه بیعت کولو ته مجبورشوي وی، په هغه وخت کې دالله تعالی ددین په خاطر مرګ ژوبلې ته دهغوئ چمتو کیدل ددې خبرې ښکاره دلیل دې چه هغوئ پخپل ایمان کې ریښتونی، مخلص اودالله تعالی اودهغه درسول صلی الله علیه وسلم سره انتهائی درجه وفادار وو په همدې اساس الله تعالی هغوئ ته دخپلې رضاء سند ورکړ

وروسته معلومه شوه چه دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه پخپله هم بیرته تشریف راوړلو او دقریشو لخوا دسهیل بن عمرو په مشرئ یو هیئت هم دسولې دخبرو اترو لپاره درسول الله صلی الله علیه وسلم کمپ ته راغې دا سهیل دخولې ډیر خوږ او دخبرو ډیر مړینې وو ، خلقو پرې ((دخطیب قریش)) نوم ایښې وو قریشو ده ته وویل چه صلحه پدې شرط کیدې شی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم سږ کال واپس لاړشی ، سهیل درسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضرشو او تر ډیره وخته دصلحې په شرطونو خبرې اترې وشوې، آخر په یو څو شرطونو اتفاق وشو اورسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت علی رضی الله تعالی عنه راوبله اوحکم یې ورکړ چه دلوظنامې الفاظ ولیکی ، حضرت علی رضی الله تعالی عنه په سرکې ((بسم الله الرحمٰن الرحیم)) ولیکله، دعربو زړه طریقه دا وه چه دخطونو په سرکې به یې ((باسمك اللهم)) لیکل، د ((بسم الله الرحمٰن الرحیم)) سره هغوئ نابلده وو ، پدې بناء سهیل بن عمرو وویل چه د ((بسم الله الرحمٰن الرحیم)) په ځای دې هغه پخوانی الفاظ ولیکل شی، رسول الله صلی الله علیه وسلم منظوره کړه ، پدې پسې بله فقره وه ((هٰذَا مَا قَضٰی عَلَیْهِ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ)) یعنې دا لوظنامه ده چه محمد صلی الله علیه وسلم دالله تعالی رسول پرې فیصله کړیده ، سهیل وول که مونږ ته پیغمبر منلې نو بیا جنګ دڅه وو ، ته صرف خپل اودخپل پلار نوم ولیکه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : ((وَاللهِ اِنِّی لَرَسُوْلُ اللهِ وَاِنْ کَذَّبْتُمُوْنِی)) قسم په الله تعالی دې چه زه دالله تعالی رسول یم اګر که تاسو یې نه منئ، دایې اوفرمایل او حضرت علی رضی الله تعالی عنه ته یې حکم ورکړ چه ښه ده تش ځما نوم ولیکه ، دحضرت علی رضی الله تعالی عنه څخه څوك زیات فرمانبردار کیدې شو؟ خودمینې په جهان کې داسې ځای هم راځی چه هلته دفرمانبرداری نه کول لازم شی، حضرت علی رضی الله تعالی عنه اوفرمایل : ((وَاللهِ لَا اَمْحُوْكَ اَبَدًا)) قسم په الله تعالی دې چه زبه هیڅکله هم ستاسو دنوم څخه د ((رسول الله)) لفظ لیرې نکړم، پس له هغې نه رسول کریم صلی الله علیه وسلم دصلحې دتکمیل دپاره په خپل لاس مبارك ((رسول الله)) لفظ دخپل نوم مبارك نه محوه کړ ((متفق علیه)).

دصلحې شرطونه دا وو : ۱ـ مسلمانان دې سږ کال بیرته لاړشي ، ۲ـ راتلونکی کال ته دې راشي اوصرف درې ورځې دې تيرې کړي اوبيا دې ځي ، ۳ـ چه راځي نووسله به نه اچوي صرف توره دې ځان سره راوړي هغه هم په پرده ((کاتې)) کې اوکاتې دې هم په جلبان ((تيلئ وغيره)) کې وي، ۴ـ مکې مکرمې کې چه کوم مسلمانان دمخکې نه ووسي هغوئ نه به هيڅوك ځان سره نه بيايي او دمسلمانانوکه څوك په مکه مکرمه کې پاتې کيدل غواړي نوهغه به نه منع کوي ، ۵ـ دکافرانو يامسلمانانو که څوك سړې مدينې منورې ته لاړشي نو هغه به واپس کولې شی خوکه يو مسلمان مکې مکرمې ته راشي نو هغه به نشی واپس کولې، ۶ـ عربوقبائلو ته به اختيار وی چه په دواړو فريقو کې يی چا سره خوښه وی لوظنامه کې دې شريکيږی، دا شرطونه وو، اتفاق داسې وشو چه انْ په دغه وخت کې چه معاهده ليکلې کيده دسُهيل ځوئ حضرت ابوجندل رضی الله تعالی عنه چه اسلام يې راوړې وو اومگّه کې کافرانو قيد کړې وو، اوقسم قسم تکليفونه يی ورکول ، په څه طريقه بيړئ په پښو راوتښتيده، راغې او د ټولو په وړاندې را وغورځيده ، سهيل وول محمده (صلی الله عليه وسلم) په صلحه دعمل کولو دا ړومبئ موقعه ده ، دغه ابو جندل (رضی الله تعالی عنه) دصلحی دشرطونو مطابق ماته واپس راکړه، ډير عذرونه ورته وړاندې شول خوقبول يی نکړل دناکامه رسول الله صلی الله ومنله ، ټول مسلمانان وترقيدل، حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ټينګ نشو درسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضرشو څه ناڅه وينايي وکړه، رسول الله صلی الله عليه وسلم دهغه ځواب ورکړو، حضرت عمر رضی الله تعالی عنه پاڅيده اوحضرت ابوبکر صديق رضی الله تعالی عنه ته راغې او همدغه خبرې اترې يی ورسره وکړې حضرت ابوبکر صديق رضی الله تعالی عنه ورته اوفرمايل : هغه دالله تعالی پيغمبر دې څه چه کوی هغه دخپل رب دحکم مطابق کوی ((رواه البخاری)) ددې حالت برداشت کول که دصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم دفرمانبرداری سخت خطرناك امتحان وو ولی يوطرفته په ظاهرکې د اسلاَم سپکاوې دې، حضرت ابو جندل رضی الله تعالی عنه بيړئ په پښو داسلام دځوارلسو سووفدايانو امداد غواړی، د ټولو زړونه دجوش نه ډك وو، اوکه د رسول

الله صلی الله علیه وسلم یوه اشاره وشی نوتوره دپریکوني فیصلې لپاره موجوده ده. بلې غاړې ته په لوظنامه دستخطونه شوي دي، او دوعدې پوره کولو ذمه داري ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم دحضرت ابوجند طرفته وکتل او وې فرمایل «یَا اَبَا جَنْدَل اِصْبِرْ وَاحْتَسِبْ فَاِنَّ اللّٰه جَاعِلٌ لَكَ وَلِمَنْ مَعَكَ مِنَ الْمُسْتَضْعَفِيْنَ فرجًا مخرجًا انا قد عَقَدْنَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ صُلْحًا وَاِنَّا لَا نَغْدِرُ بِهِمْ»، (ابن هشام)، «ابوجندله صبر اوزغم وکړه، یقینًا به الله پاك ستا دپاره اوچه تاسره نور کوم مظلومان دي. دخلاصی څه لار راوباسي، اوس زمونږه اودقوم ترمنځه صلحه وشوه؟ اومونږ هغوئ سره بې لوظي نشو کولې»، غرض داچه حضرت ابوجندل رضی الله تعالی عنه هم دغسې بیړئ «زولنې» په پښو ستون شو، رسول کریم صلی الله علیه وسلم اصحابو رضی الله تعالی عنهم ته حکم دذبحې کولو اوفرمایلو اوښان په فرمان درسول کریم صلی الله علیه وسلم سره ذبحه شول، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوټولو اصحابو رضی الله تعالی عنهم دحدیبی حلال شول یعنې داحرام دعمرې نه ووتل دصلحې نه پس تر دریو ورځو رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیبیه کې پاتې شو. بیا روان شو نو په لاره کې دا آیت کریمه نازل شو: «إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا»، (سورة فتحه)، «یعنې مونږ تالره ښکاره فتحه درکړه»، دا څکه چه مسلمانانو او کفارو ترمنځه د ملاقات ناسته پاسته تجارت وغیره شروع شول دی سره هریو مسلمان د اخلاص، نیك عمل، پرهیزگاری، دپاکیزه اخلاقو یوژوند تصویر وو کوم مسلمانان به چه مکې ته تله دهغوئ دخیرو به هم دغه نظاره وه، په دې به خپلې اندې دکفارو زړونه اسلام طرفته راښکلې کیده دمؤرخینو بیان دې چه دصلحې ددې لوظنامې نه دمکې تر فتحې دومره ډیرو خلکو اسلام راوړلو چه ددینه مخکې چیرې چانه وو راوړې، دحضرت خالد رضی الله تعالی عنه دشام فاتح، اودحضرت عمروبن عاص رضی الله تعالی عنه «دمصر فاتح» اسلام هم ددغې زمانې یادگار دې.

**نکته**: دمسلمانانو ډلو ترمنځه سوله الله تعالی فرمایي: «وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى

أَمْرِ اللَّهِ فَإِن فَاءتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ»، ترجمه
«او كچيرته له مؤمنانو نه دوه ډلې پخپلو مينځو كې په جنګ شی نو دهغوئ ترمنځه
صلحه وكړئ بيا كه له هغونه يوه ډله پربلې باندې تيرې وكړی نو له تيری كوونكی
ډلې سره وجنګيږئ، تر دې پورې چه هغه دالله تعالى دحكم خواته را وګرځی نو كه هغه
را وګرځيدله، بيا دهغو په مينځ كې په عدل سره صلح وكړئ اوله انصاف نه كار
واخلئ چه الله تعالى انصاف كوونكی خوښوی. قرآن كريم دمسلمانانو دلارې دډيوې
په توګه دژوند په ټولو كړليچونو اوتيارو كې هغوته هدايت اولارښوونه كوی. له دغه
قرآنی الفاظو څخه دا خبره ښكاره راوځی چه پخپل مينځ كې جنګيدل دمسلمانانو كار
ندې اوبايد چه نه وی نو له هغوئ نه ددې خبرې توقع كيږی چه دعوه دايمان او
مسلمانی كوی اوبيادې په خپلو كې سره جنګيږی، البته كه كله دغسې كار پيښ شی
نو بيا دې نور مسلمانان چې ددغو دوو ډلو ترمينځه بی طرفه وی اودهغوئ په مينځ
كې صلح كول ورته ممكن وی هغوئ دې داصلاح لپاره راپاڅيږی داسې دې نكوی چه
دهغو دخپلو ورونو دوه ډلې پخپل مينځ كې په جنګ اخته وی اوهغوئ كينی دهغو
دجنګ ننداره وكړی بلكه كه دغه افسوسناك صورتحال هركله پيداشی ټول مؤمنان
بايد وربادندې وخوريږی اودهغو دخپل مينځی معاملو داصلاح لپاره دې چه دهرچا
هرڅومره وس رسيږی خپله هڅه دی په كار واچوی دواړو خواوته دې له جنګ نه دلاس
اخيستلو توصيه وشی له الله تعالى نه دې وه وبيرول شی، با رسوخه خلك دې ددواړو
خواوو له مسؤولو كسانو سره وغږيږی، دجنګ اسباب دې معلوم كړی او ترخپله حده
پورې دې هرهغه كوشش وكړی چه په هغه سره دهغو ترمينځه روغه جوړه كيدې شی
دمسلمانانو دا كار هم ندې چه تيری كوونكی ډلې ته دتيری كولو موقع وركړی او
مظلومه ډله دمظلوميت په حال كې پريږدی يا برعكس دتيری كوونكی ډلی ملګرتيا
وكړی بلكه د «فَقَاتِلُوا اللَّتِي تَبْغِيْ» له مخې دهغوئ فريضه داده چه كچيرته ددواړو
جنګيدونكو ډلو په مينځ كې دصلحی كولو ټولې هلې ځلې ناكامی شی نو بيا دې دا
وګوری چه برحقه څوك دی اوتيری كوونكی څوك دی څوك چه برحقه وی دهغه

ملګرتیا دې وکړي او څوك چه تیرې کوونکی وی له هغه سره دې وجنګیږي څنګه چه
ددغو جنګیدلو حکم الله تعالی کړیدې لدې وجهې دغه دجهاد حکم لري، اصلی هدف
یې پدې کار کې دتیری مخنیوې دې، لکه چه فرمایی «حتی تفیئ الی امر الله»، ددغه
هدف لپاره چه دهرې قوی استعمال ته ارتیاوی هغه دې په کارواچولې شی دغه
خطاب هغه چاته دې چه توان اوقدرت لری ددې لپاره چه دالله تعالی حکم ته رجوع
وکړی دا نه چه هغوئ ته سزا ورکړی او دا چه دکتاب الله اوسنت له مخې چاته حق په
جانب اوچاته تیری کوونکی ویل کیږی ددې خبرې فیصله دهغو خلکو کار دې چه
دعلم اوبصیرت په لحاظ سره ددې تحقیق کولو اهلیّت ولری اوشرعی قضاوت وکړې
شی او عدالت مراعات کړې شی. لکه چه فرمایی «فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ
وَأَقْسِطُوا»، دلته یواځی تشی صلحې کولوباندې حکم نه بلکه له عدل او انصاف سره
دصلح کولو امر دې اوهغه صلحه ددې قابل او ورنده چه دحق اوباطل دفرق په شاته
غورځولو محضی دجنګ بندولو لپاره وشی اوپه هغې کې مظلوم لاپسی مظلوم
اوظالم لاپسې سپین سترګې کړې شی. ددې نتیجه هرومرو دا راوځی چه دفساد
اصلی عوامل پخپل حال باقی پاتی کیږی بلکه په هغو کې لاپسی زیاتوالې او دبیابیا
فسا: راولاړیدو وار راځی اوپه دې سره دمسلمانانو قوت شان شوکت اوتولنیز
د. یت ته ډیره غټه صدمه رسیږی. صلح هماغه صحیح دې چه په انصاف باندې
ولاړه وی دښمن دمسلمانانو له بی اتفاقی څخه خوند اخلی بلکه پدې کې دکفارو
ګټه ده نومسلمانان باید تفرقه . نفاق دښمنی ځانځانی څخه ځان وژغوری .
دمینې محبت فضاء رامنځ ته کړی ، «الله تعالی دې مونږ په حق باندې د تل لپاره
برابر اومحکم ولری اودینی خدمات دې ترمرګه پورې زمونږ څخه واخلی اوهم یې
قبول کړی، آمین ثم آمین»

★★★★★★★★★★
★★★★★★★★★
★★★★★★★★
★★★★★★★

# د ذوالحجّی میاشت

محترمو مسلمانانو: ذی الحجې ته ددې وجهې نه ذوالحجة وایی چه پدې میاشت کې حج کولې شی ابتدائی ورځې دعبادت دپاره بهترینی ورځې دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی «اِنَّ صَوْمَ يَوْمٍ فِيْهَا يَعْدِلُ صِيَامَ سَنَةٍ وَقِيَامَ لَيْلَةٍ فِيْهَا يَعْدِلُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ»، «یعنې دذی الحجې په اوله عشره کې روژه ساتل دیوکال روژې هومره ثواب لری او دشپې عبادت دلیلة القدر دشپې په شان ثواب لری»، بیا خصوصاً دعرفې ورځ خو ډیره با برکته ورځ ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم پدې ورځ د روژې نیولو ډیر ترغیب ورکړیدې، فرمایی «صَوْمُ عَرَفَةَ اَحْتَسِبُ اَنْ يُّكَفِّرَ سَنَتَيْنِ سَنَةً قَبْلَهُ وَسَنَةً بَعْدَهُ»، «رواه مسلم»، دعرفې په ورځ روژه ساتل دیوکال تیرشوی اویوکال آینده کفاره ده، دعرفې دورځې اکرام کثرت سره عبادت کول دی نه تعریف کول، خصوصاً داختر میاشت خوډیرلوئ منزلت لری لهذا پدې ورځو کې غفلت او سُستی نده پکار ځکه چه دغه یوزرینه موقعه ده چه ضائع نشی حتی چه قرآن مجید کې فرمایی «وَالْفَجْرِ + وَلَيَالٍ عَشْرٍ + وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ»، «وفی الدر المنثور اسانید عدیدة ان النبی صلی الله علیه وسلم قال ان العشرة عشره الاضحی والوتر یوم عرفة والشفع یوم النحر، «قسم دې دصبا او دلسو شپو اودطاق اوجوفت»، یعنې په در منثور کې یی په ډیرو سندونو سره روایت درج کړیدې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلې دې چه پدې آیت کې «لَيَالٍ عَشْرٍ» نه پس ورځې شپې دذی الحجې مراد دی او د وتر «طاق» نه مراد یوم عرفه ده، او شفع «جفت» نه دقربانی ورځ یعنی لسم تاریخ مراد دې او همدارنګه مکه معظمه په اتم کال دهجرت کې فتح شوې وه، خو لدې کبله چه تر اوسه ملك کې بنه امن او امان نه وو قائم شوې نو ځکه په دې کال هم دمشرکانو د انتظام لاندې دحج ارکان اداء شول، مسلمانانو حضرت عتاب رضی الله تعالی عنه بن اُسید سره چه دمکې مکرمې امیر مقرر شوې وو حج وکړ اوس په نهم کال هجری رومبې موقعه ده چه کعبه دکُفر اوشرك دتیرونه پاکیږئ او دابراهیمی دین دعبادت ورګرځی

د تبوك غزانه چه واپس شو نو دخالي يا د لوئ اختر میاشت نهم كال هجري كې رسول الله صلى الله عليه وسلم ددريو سوو (۳۰۰) تنو يوه قافله مدينې منورې نه حج ته وليږله دې کې حضرت ابوبكر صديق رضى الله تعالى عنه دقافلې سالار حضرت على رضى الله تعالى عنه داسلام داعي، اوحضرت سعدبن ابی وقاص، حضرت جابر اوحضرت ابو هريرة رضى الله تعالى عنهم معلمان وو ((رواه البخاري)) قرباني دپاره د رسول الله صلى الله عليه وسلم دطرفه شل اوښان ورسره وو، قرآن مجید دیته حج اکبر ويلې دې لكه سورت توبه كې چه فرمايي: ((يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ)) ځکه چه دا رومبئ موقعه وه، چه دحج رسم دحضرت ابراهيم عليه السلام دسنت مطابق آدا شو او ځينې علماء وايي حج اكبر دې كال پورې خاص نه دې بلكه هر حج د عمرې په مقابل كې حج اكبر ((لوئ حج)) دې او عمره وړوكې حج دې ((فانظر روح المعانى، صفحه ۴۲، جلد ۱۰))، ددې حج مقصد دادې چه دابراهيم عليه السلام په آباد کړی کور كې دجاهليّت د دور دختميدو او د اسلام دحكومت شروع كيدو اعلان وكړې شي، او دجاهليت دزمانې رسمونه اوعادتونه بيخي ورك كړې شي، حضرت ابوبكر صديق رضى الله تعالى عنه خلقو ته دحج دمناسكو تعليم وركړ، دحلالې ((نحر)) په ورځ يې خطبه وركړه اودحج مسئلې يې بيان كړې، په ده پسې حضرت على رضى الله تعالى عنه پاځيده دسورة برائت حلويښت آيتونه يې ولوستل، او اعلان يې وكړ چه اوس به نامی مشرك كعبې ته نه شي ننوتلې، اونه به څوك په بربنډه حج كولې شی او هغه تړولې لوظنامې چه مشركانو سره شوې وې دهغوئ دلوظ ماتولو په سبب به نن نه څلور مياشتې پس ماتې شی، حضرت ابو هريرة رضى الله تعالى عنه وغيره دا اعلان دومره په زوره زوره خلكو ته وارولو چه غاړې يې كيناستې ((زرقانی، صفحه ۱۰۲)) طبری دسدی په واسطه روايت كړيدې چه ددې اعلان نه پس كافران اكثر مسلمانان شول ((صفحه ۱۷۲۲، جلد ۴))، او همدارنگه دهجرت څخه وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم دحجة الوداع نه غيربل حج ندې كړې او همدغه حج درسول الله صلى الله عليه وسلم آخرى حج دې وداع رخصت ته وايی اوپدې حج كې هم رسول اكرم صلى الله عليه وسلم مؤمنانو ته رخصت وركړې وو، اوحجة الاسلام ورته هم وايی ځكه چه پدې

رسول كريم صلى الله عليه وسلم فرض حج هم ادا ، كړيدې او حجة التمام هم و، وايي
ځكه چه «الْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيْتُ لَكُمُ الإِسْلامَ دِيْنًا»
آيت شريف پدې حج كې نازل شويدې او حجة الشرع هم ورته وايي ځكه چه پدې حج
كې رسول اكرم صلى الله عليه وسلم پوره تبليغ دشريعت اسلام كړيدې په حجة الوداع
كې رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يو لاكهه څوارلس زره مؤمنان په سفر دحج كې
ملګري وو ، ددې حج دپاره درسول الله صلى الله عليه وسلم روانګى سره داصحاب
كرامو رضى الله تعالى عنهم اجمعين دمدينې منورې نه په لسم كال دهجرت په آخرو
ورځو د ذوالقعده كې وه په حجة الوداع كې چه رسول كريم صلى الله عليه وسلم سره
مؤمنان مكې شريفې ته دحج كولو دپاره تشريف ورې وو نو بعضو احرام په حج تړلې
وو بعضو احرام دعمرې او بعضو احرام دحج او عمرې دواړو لپاره تړلې وو عربو په
جاهليت كې دحج په مياشتو كې عمره كول لويه ګناه ګڼله ، نو ددغه عقيدې دبطلان
دظاهرولو لپاره رسول الله صلى الله عليه وسلم په حجة الوداع كې مؤمنانو ته
اوفرمايل چاچه سوق دهدې كړې وى «يعنې ځان سره يې مګ «ګډ» يا غوا غوايي يا
اوښ حرم شريف ته په احرام كې بوتلې وى نو حج او عمره به دواړه هغه يوځاى ادا.
كوى. او په مينځ دحج او عمرې كې به ځان نه حلالوى يعنې افعال دعمرې چه پوره
كړى نو ځان به نه حلالوى ترڅو چه افعال دحج هم پوره كړى. نو په يوځل به له دواړو نه
ځان حلال كړى يعنې په ورځ داختر به ذبح وكړى، بيابه سر ګل كړى «وخريى» او
ګنډلې جامې به واغوندى او چاچه سوق دهدې نه وى كړې نو هغه به په افعالو دعمرې
ضرورى ځان حلالوى، بيابه دعرفې دورځې نه مخكې احرام دحج اوتړى او حج به ادا،
كړى. پدې كال كې چه چا سوق دهدې نه وو كړې او احرام يې دحج كړې وو نو رسول
اكرم صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل چه احرام دحج دې په احرام د عمرې سره بدل
كړى يعنې احرام دحج دې پرېږدى او احرام دعمرې دې وتړى او عمره چه ختمه كړى نو
ځان دې حلال كړى بيا چه ورځې دحج راشي نو دعرفې نه به مخكې احرام دحج وتړى
او حج به وكړى رسول كريم صلى الله عليه وسلم هدې حرم شريف ته دځان سره

راوستي وې لدې وجهې بې په افعالو دعمرې خان حلال نکړ ، بلکه حج قران يې وکړو يعني حج اوعمره يې دواړه ادا ، کړل اوپه ورځ داختـر يـې دواړونـه خـان حلال کـړ حضرت علي رضي الله تعـالى عنـه هـم سوق دهدیې کړې وو اوبعضـو نـورو اصحـاب کرامو رضي الله تعالى عنهم اجمعين هم دهدیې کړې وو لدې وجهې نه علي رضي الله تعالی عنه اودغه نورو اصحابو رضي الله تعالی عنهم هم حج قران اداء کړ ، په حجة الوداع کې رسول الله صلى الله عليه وسلم دوه خطبې ارشاد کړيدي اول خطبه رسول كريم صلى الله عليه وسلم په عرفـات پـه مسجدنمره کې فرمايلې ده دا خطبه پـدې حديث شريف کې ذكر شويده «وَعَنْ الاحْوصِ عَنْ أبيه قال سمِعْتُ رسُولَ اللّٰهِ صلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم يَقُولُ في حَجَّة الْوِداع للنّاس أيُّ يوْم هٰذا قالُوا يوْمُ الْحجّ الاكْبر قـال فـإنّ دِماءَكُمْ وَأَمْوالَكُمْ وَأَعْراضَكُمْ بَيْنَكُمْ حرامٌ كَحُرْمَة يوْمكُمْ هٰذا في بلدكُمْ هٰذا ألا لا يجْني جانٍ إلاّ عَلى نفْسه ألاَ لاَ يَجْني جانٍ عَلى وَلَده ولا مَوْلُودٌ عَلى والده ألا وإنّ الشّيْطان قَدْ أيِسَ مِنْ أنْ يُعْبَدَ في بِلاَدكُمْ هٰذه أبَدًا ولكنْ ستكُونُ لهُ طاعَةٌ فيما تحْتقرُونَ منْ أعْمـالكُمْ فسيَرْضَى بِهِ»، **توجمه** دحضرت احوص رضي الله تعالى عنه نه روايت دې فرمايي چه ما درسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چه هغوئ صلى الله عليه وسلم په حجة الوداع کې فرمايلي وو چه دا کومه ورځ ده صحابه کرامو عرض وکړو چه دا دحج اکبر ورځ ده ، درسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل په تحقيق سره ويني ستاسو او حياګاني ستاسو او مالونه ستاسو په مينځ ستاسو کې محفوظ دی . ددې هتك اونقصان په تاسو هميشه حرام دې لکه چه په نن ورځ او پدې ښار کې په تاسو حرام دې . خبر دارشئ ظلم به گنهگار په خپل ځان نه کوی ، خبردار جنايت به په خپل ځوئ هم نه کوی اونه به ځوئ په پلار ظلم کوی «په لمعات شرح دمشكوة کې فرمايي چه دا خبر دې په معنى دنهي سره ، يعنې جنايت دې نه کوی يوکس له تاوسنه په بل باندې پس دا جنايت دبل په سبب شي دپاره دجنايت پخپل ځان په قصاص اوجزاء سره «خبردارشئ شيطان لدينه نا اُميده دې چه ستاسو په ښار کې دده عبادت وکړې شي هميشه ليکن دده تابعداري به وکړې شي په داسې ګناهونو کې چه تاسوبه يې معمولي

گنئ، پس زر دې چه پدې به شیطان له تاسو نه راضی شی.
په ځینو تواریخو کې په ړومبی خطبه کې دا جمله په فرمایش درسول کریم صلی الله علیه وسلم کې هم ذکرشویده : دجاهلیت ټول کارونه ځما دقدم لاندې ایښودې شویدی، یعنې محوه شوی او پریښودې شویدی، تاسوپه حق دښځو کې دالله تعالی نه وویریږئ ، دوئ تاسو سره دالله تعالی امانت دې ، په تاسو کې ما دوه شیان پریښودل که تاسو پرې عمل وکړو نو گمراه به نشئ، یوکتاب دالله تعالی دې یعنې قرآن شریف اوبل سنت ځما دې یعنی حدیث شریف دی ، اودویمه خطبه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په ورځ داختر په منی کې اوفرمایله په هغې کې داسې ذکر راغلې دی : «عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ النَّاسَ يَوْمَ النَّحْرِ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَيُّ يَوْمٍ هَذَا قَالُوا يَوْمٌ حَرَامٌ قَالَ فَأَيُّ بَلَدٍ هَذَا قَالُوا بَلَدٌ حَرَامٌ قَالَ فَأَيُّ شَهْرٍ هَذَا قَالُوا شَهْرٌ حَرَامٌ قَالَ فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا فَأَعَادَهَا مِرَارًا ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّهَا لَوَصِيَّتُهُ إِلَى أُمَّتِهِ فَلْيُبْلِغْ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ لاَ تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ»، «رواه البخاری، صفحه : ۲۳۴، جلد ۱»

**ترجمه** : دابن عباس رضی الله تعالی عنه څخه روایت دې فرمایی چه په تحقیق سره رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبه ارشادکوله خلکوته په ورځ داختر پس وې فرمایل : ای خلکو ! پس په تحقیق سره ستاسو وینې، ستاسو مالونه، ستاسو حیاگانې همیشه په تاسو باندې حرامې دې لکه چه په نن ورځ په مکه شریفه کې پدې میاشت دذوالحجه کې په تاسو حرام دی اوحرامی گڼی، دا فرمایش رسول الله صلی الله علیه وسلم مکرر وکړو، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم سر مبارك اوچت کړو او وې فرمایل : ای الله تعالی په تحقیق سره ما تبلیغ موافق دحال خپل کړیدې، ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمایی پس ځما دې قسم وی په هغه ذات چه ځما وجود دهغه په تصرّف کې دې په تحقیق سره دا خامخا وصیّت درسول کریم صلی الله علیه

وسلم دې امت خپل ته ، پس حاضر دې غائب ته ((داوصیت)) ورسوی څما نه پس تاسو
دکفارو په شان مه ګرځئ چه یو دبل څټونه وهئ اوجنګونه کوئ)).
اوس به دحج فردی او اجتماعی ښیګڼو ته لنډه کتنه وکړو هغه داچه پدې سفر
کې دمسلمان زړه دمال، دولت، اولاد، کورنۍ، شغل اوتجارت اودُنیوی وسائلو له
محبت څخه خالی کیږی، دابراهیم خلیل الله او اسماعیل ذبیح الله علیهما السلام په
لاسونو ودان شوې بیت العتیق مینه په زړه کې ور داخله شی ددغې مینې مظاهر د
احرام تړلو له ځای څخه پیل شی فاخره جامې وباسی دوه سپینې ډیرې ساده جامې،
څادر او لنګ پداسې حال کې چه ګنډل شوی نه وی واغوندی د احرام دمخصوص دوه
رکعته لمانځه د اداء کولو نه وروسته تلبیه شروع کړی، ((لَبَّیْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّیْكَ۔الخ)) چه
دخپل پروردګار په وړاندې دخپلې بندګی او اطاعت اعلان دهغه دتوحید اظهار دهغه
په خالقیت او مالکیت باندې دزړه له کومی اعتراف اومناجات دې، اوبل دا چه دالله
پاك دحرم په دنګو منارو په تیره بیا دننه په تیټه کې واقع بیت الله شریف باندې چه
کله دحاجی سترګې لګیږی هغه ته دخپلو کړیو ګناهونو دخجالت له امله په زغرده
سترګی نشی پورته کولې اوبی اختیاره اوښکې په تویېدو شی اولاس په دعاء شی
چه ای ربه اله ډیر لیری وطن څخه سترې ستومانه دګناهونو درانده پیتی مې
ملاماته کړیده ستا کور ته راغلې یم، ماته دخپل رحمت اومغفرت په دسترخوان کې
میلمستیا راکړه ای څما ربه. کعبې ته مخامخ لمونځ کوم سجده ورته وړدم؟ الله ، الله
څومره خوندور لمونځ دې هغه چه کعبې ته مخامخ ادا کیږی هلته بیا لمونځ کوونکی
پدې هیله وی چه کاشکې ټول عمر همدلته په سجده پروت وې، کاشکې مې سرنه وې
پورته کړې، دلمانځه مناجات په صحیح طریقې سره وریادکړی اوبل دا چه دعرفات
ورځ چه هلته دټولې نړۍ مسافر حاجیان صِرف صرف نظر دژبې، کلتور، رنګ اوملت
له توپیره په یوه جامه کې ولاړ وی دحشر میدن په تصور کې ورګرزوی، دآخرت سخته
ورځ وریادوی هغ ورځ چه ضروری راتلونکی دی او ټول انسانان به دخپل الله په
حضور کې دمحاسبې لپاره ولاړ وی له دغه احساس سره خپل خالق ته لاس په نامه
ولاړ وی او دعاء او زاریٔ کوی ، یا الله څما ګناهونه معاف کړه، یا الله ما دآخرت

دسختی ورځې له رسوایی نه وساته، یا الله په باقی ټول ژوندانه کې ماته دنیکی توفیق راکړه، یا الله نن چه دلته دنړۍ لوګوټ ګوټ نه ستا بندګان راټول شویدی په متحد صف کې ولاړدی، دوئ ته اتحاد او اتفاق نصیب کړه د دښمنانو په مقابل کې لدوئ نه یو قوت جوړ کړه، دوئ ته په ځمکه کې لوړ شان اوعظمت نصیب کړه او د مزدلفې اومنی درحمتونو اوبرکاتو اوفیوضاتو شپې هم پدې تضرع اوعبادت او مناجات کې تیروی په منی کې دشیطانانو په ویشتلو ابراهیمی یادګار تازه کوی اوبل دا چه دمکې معظمې، منی، عرفات، او مزدلفې ترمینځ ګرځیدو را ګرځیدو کې مؤمن ته د اسلام دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دمکې دژوندانه حالات اوخاطرې وریه زړه کیږی، اوژوراحساس ورسره پیدا کیږی چه په هغو سختو شرائطو کې هغه ځنګه وکولې شول چه دلته دتوحید غږ پورته کړی او د اسلام دعوت خورکړی پداسې حال کې چه نه کوم مجهز لښکر ورسره وو اونه مادی وسائل چارپیریال هم دومره تیارد اوله وحشته ډك چې ددغه تحریك چلیدو لپاره بیخی نا مساعده وو، هغه صلی الله علیه وسلم اودهغه ملګرو پدې لاره کې څومره کړاوونه زغملی دی، پدې اساس د اسلامی تحریك له عظیم کاروان سره یوازې هغه کسان ملګرتیا کولې شی چه هر راز قربانی یی په ځان منلې وی اوکلکه اراده یی کړې وی چه که پدې لاره کې ورباندې هرڅه راځی رادې شی خو دغه کاروان به تر منزله رسوی او بل داچه حاجیان په عمومی ډول دحج له موسم نه مخکې یا وروسته مدینة الرسول صلی الله علیه وسلم ته ورځی که مکې مکرمې نه تر مدینې منورې پورې دتګ راتګ په لاره کې چه کله اوږدو پلنو دشتوته متوجه کیږی ارو مرویی هغه زمانه دتصور سترګو ته نیغه دریږی چه سرور عالم صلی الله علیه وسلم له خپل صدیق ملګری حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه سره دغه ټوله فاصله پداسې حالاتو اوشرائطو کې په پښو وهلې وه چه نه امنیت وو، نه دسورلئ وسائل، نه دلارې څاروی اونه دلارې اسانتیاوې او تر ټولو بد تره خولا دا چه دښمنان دهغوئ په نیولو دغټو، غټو انعامونو اعلانونه هم کړی وو، دمکې مکرمې اومدینې منورې په لار کې دبدر نومی مقام راځی، د اسلام اوکفر دجنګ هغه لوئ یادګار چه یو موټې مسلمانان هلته دایمان په برکت او دالله تعالی په خاصه

سسته وکولې شول چه دهغه وخت جابر قوت ته ماتـه ورکړي او داسلام دعظمت غـ
دیرېو الو غوږونو ته ورسوي ددینه هر مسلمان هرومرو دا درس اخلي چه اوس وخت کې
دنړۍ مسلمانان سره یوموټې شي د اسلام دعظمت بیا احیاء کولو لپاره په جهاد لاس
پورې کړي نو په یقیني ډول به دالله تعالی په ځمکه کې غلبه اوبرلاسی دمسلمان اُمت
په برخه وي او دنړۍ هیڅ یو کفري طاقت به یې دمقابلې وس او توان ونلري «الله
تعالی دې مونږ دشرعي شعبو صحیح خدمتګاران جوړ کړي، آمین یارب العالمین»

# دآخري اُمت افتخارات

## «خصائص او امتیازات»

محترمو مسلمانانو په ټولو مخلوقاتو کې انسان یوه ممتازه هستي ده په هغې
کې په زرګونو خصلتونه او په زرګونو فضائل موجود دي دهغه په ذهن کې په زرګونو
پلانونه او په زړه کې یې په لکهونو هیلې ځپانده دي دهغه سینه د ارمانونو
پوزیرمتون او خزانه ده دهغه په زړه او دماغ کې متعدد کائنات استوګن دي چه په
کومې خارجي پیمانې سره یې اټکل نشي کیدې هغه دخپلو صلاحیتونو او کمالاتو
مظهر دې همدغه ندې چه په ظاهر په نظر راځي په خپل ځان کې دنیاوې لري، عارف
بلخي مولانان جلال الدین رحمه الله فرمایي

اگر چه آدم اندرون عالم است
لیکن عالم اندرون آدم است

خلاصه دا چه انسان د راز راز یو دبل پر خلاف دجذبو پیکر او اضدادو مجموعه
ده، لکه په هغه کې غضبي قوه هم شته نرمي هم شته په ځینې فرصتونو کې به غضبي
قوه اچول ضروري وي لکه جهاد وغیره کې او ځینې فرصتونو کې به زړه سوې او
نواخوږي ضروري وي لکه دمسلمانانو ترمینځ، همدا راز تکبر پکې هم شته عاجزي
او تواضع هم شته دفتنه بازي قواوې پکې هم شته، تنظیمي صلاحیتونه پکې هم شته

دظلم او حکمرانی اوشتمنی او اقتدار او آزادی هم پکې موجوده ده نو خپله هره قوه به په خپل ځای کې مصروفوی او خپل ټول مختلف صلاحیتونه به په کار اچوی او خپل مسؤولیتونه به په ښه توګه تر سره کوی او ددې کار لپاره یو داسې اخلاقی معلم اولاربښود ته ضرورت دې چه قدم په قدم ورته لاربښوونه وکړی او دمخالف لوری حرکت او افراط او تفریط ته یې پرې نږدی چه په باوری ډول دغسې لاربښود او رهبر یوازې دین کیدې شی، دین چه دانسان له فطرت او طبعی غوښتو سره سم هر اړخیز اصول او دژوند دټولو اړخونو لپاره هدایات او قوانین لرې هغه مقام ته یې سوق کوی چه دانسان له شان سره وړ او مناسب دی هم په مادی لحاظ او هم په معنوی لحاظ او دیته یې نه پرېږدی چه بی مهاره څاروی شی نه دځان پروا وساتی او نه د نورو پت، عزت او نه مادی او معنوی حقوقو او دغه رشد او کمال ته قرآن شریف داسې اشاره کوی «اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلَامَ دِينًا»، یعني ما نن ستاسې لپاره ستاسې دین بشپړ کړ، خپل انعام مې دربانديې تمام کړ او ستاسی لپاره مې اسلام ددین په توګه غوره کړ.

پدغه ورځ انسانیت رشد او کمال ته ورسیده او د انسانیت درشد او پرمختګ نوم چه کله اخستل کیږی نو دظاهر بینو انسانانو سترګو ته دهغه د امتیازی نښو او بیلګو په توګه مادی پرمختګونه دریږی دساینس او تیکنالوجی په ساحو کې پرمختګونه پداسې حال کې چه ددغو پرمختګونو سره د انسان په ژوند کې دومره نیمګړتیاوې موجودې دی چه مادی وسائلو باندې نشی بشپړ کیدې بلکه دمترقی ټولنو دغورځولو باعث ګرځی.

خلاصه دا چه انسانیت کامیابی سوکالی، یواځی او یواځی په دین اسلام کې پراته دی او دین ته فطری او ژوندنۍ اړتیاوې دی فلهٰذا الله تعالی د انسانیت اصلی مقصد ښودلو لپاره په هره زمانه کې انبیاء او رسولان علیهم السلام استولی دی چه یو دهغوئ څخه حضرت محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم دې چه په ټولو کې بهتر او افضل خاتم النبیّین دی په ټولو نازل شوو کتابونو کې بهتر کتاب قرآن شریف یې

پرې نازل کړیدې او دده اُمت یې په ټولو اُمتونوکې غوره کړیدې او خصوصی امتیازات او افتخارات یې ور پربرخه کړیدی نو.مونږ به له هغې جملې څخه یو څو دانوته اشاره وکړو دې اُمت ته چه بهترین اُمت ویلې شویدې دهمدې وجهې نه چه دوئ به د انبیاء علیهم السلام والا کار کوی دمال او دولت شان اوشوکت یا داقتدار اوسلطنت دوجهې نه دوئ خیرالامم ندی گرځولې شوی ځکه چه دا ټول شیان ضمنی اوعارضی دی بلکه دمخلوق انسانی د روحانی او اخلاقی اصلاحی فکر ددې اُمت منصبی فریضه ده اوغوره شوې اُمت درسول کریم صلی الله علیه وسلم درې قسمه دې : ۱ـ یوظالم لنفسه دې یعنې هغه چه دگناهونو کولو په وجه په خپل ځان ظلم کوی، دوړو گناهونونه علاوه لوئ گناهونه هم ترینه صادریږی، ۲ـ دویم قسم مقتصد یعنې میانه حال دی یعنې دوړو گناهونو څخه علاوه دکبیره گناهونو څخه پرهیز کوی، ۳ـ دریم قسم : سابق بالخیرات یعنې په نیکی او عبادت دالله تعالی کې دمذکور دواړو طائفو څخه مخکې تلونکی دی او ټول دین یې دستور العمل گرځولې وی «الله تعالی دې موږ په دې قسم کې داخل کړی آمین»

اوبل افتخار یې آذان او اقامت دې دلمانځه لپاره : دحرت جابر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی «اَلْمُؤَذِّنُوْنَ الْمُحْتَسِبُوْنَ يُخْرِجُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ قُبُوْرِهِمْ وَهُمْ يُؤَذِّنُوْنَ وَالْمُؤَذِّنُ الْمُحْتَسِبُ يَشْهَدُ لَهُ كُلُّ شَيْئٍ يَسْمَعُ صَوْتَهُ مِنْ شَجَرٍ وَّمَدَرٍ بَرٍّ أَوْ بَحْرٍ رَطْبٍ أَوْ يَابِسٍ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لَهُ مَدَّ صَوْتِهِ وَيُكْتَبُ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ بِعَدَدِ مَنْ يُصَلِّىْ بِأَذَانِهِ وَيُعْطِيْهِ اللّٰهُ مَا يَسْأَلُهُ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ اِمَّا اَنْ يُعَجِّلَ فِى الدُّنْيَا اَوْ يُدَّخَرَ فِى الْأٰخِرَةِ»، **ترجمه** يعنې مؤذنان ثواب حاصلوی راوځی به په ورځ دقیامت له قبرونو خپلو نه چه آذان ویونکی به وی او آذان ویونکی په نیت دثواب سره شاهدی به وایی دده دپاره هرشې چه اوری آواز دده له ونونه اولوټونه له وچی اوله دریاب نه لوندوی که وچ وی اوبښنه غواړی دده دپاره په قدر د اوږدوالی د آواز دده سره اولیکلی شی ورلره له اجر نه په شماره دهغه چا سره چه لمونځ کوی په آذان دده سره او وربه کړی ده لره الله پاك هغه شی چه وغواړی ترینه په مینځ داقامت

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

او آذان کې یا به زر ورکړې شی ورته په دُنیا کې اویا به ذخیره کړې شی دده لپاره په آخرت کی

او اقامت او آذان پنځه وخته لمانځه لپاره سنت مؤکد دي او مؤذن باید په اوقاتو دلمانځه باندې مکمل خبروی او خیال یی هم وساتی او په آذان کې دکلماتو او حسن تجوید او حسن صوت لحاظ به هم ساتی

اوبل افتخار یی اودس دې چه دپخوانو انبیاؤ علیهم السلام لپاره خو وو البته دامتونو لپاره یی نه وو، امام سیوطی رحمه الله فرمایلی دی چه دا اصح دې لکه چه شیخینو دابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړیدې، ((اَنَّهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ اُمَّتِي يُدْعَوْنَ وفي رواية لمُسلم يَأْتُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِيْنَ مِنْ أٰثَارِ الْوُضُوءِ))، (متفق علیه) ، ((یعني رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه . اُمت ځما به رابللې شی په ورځ دقیامت ((موقف الحساب یا میزان یا صراط یا حوض وغیره ته)) ښائسته او برگ دنورنه په آخرت کې په ټول اهل محشر کې به ځرگند معلومیږی ))، اوبل دا چه په اودس سره گناهونه معاف کیږی او دوام په اودس سره مستحب هم دې

اوبل افتخار یی تسمیه ده ، پدې خاص ترتیب سره چه کوم کار په ((بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ)) سره شروع شی هغه برکتی وی، په یو حدیث شریف کې دی چه دکور دَ دروازې بندولو په وخت کې ((بِسْمِ اللهِ)) وایئ که ډیوې مړې کوئ نو ((بِسْمِ اللهِ)) وایئ، که لوښی پټوئ نو بسم الله وایئ. دخوراك په وخت کې داوبو څښلو په وخت کې دسوریدلو په وخت کې او دسورلئ نه دکوزیدلو په وخت کې د ((بِسْمِ اللهِ)) ویل کیدو حکم په قرآن شریك او حدیث کې راغلی دې ((قرطبی)) ، اویو عجیبه حکمت پکې دا هم دې چه هر کار ورسره عبادت گرځی مثلاً یو کار هم کافر کوی او هم یی مسلمان، البته مسلمان ته په بسم الله ویلو سره عبادت جوړ شی

اوبل افتخار یی صفونو دی په لمانځه کې له صفونه دملائکو اومخکې امتونه به په منفرد شکل اوبیل، بیل اویو یو اودریدل او پدې کې حکمت هم دا دې چه انسان ته دقیامت ورځ دریدل وړپه یادکړی، په یو حدیث شریف کې دی چه ((قال النبی صلی

الله عليه وسلم من وصل صفا وصله الله ومن قطع صفا قطعه الله»، (النسائي).
**ترجمه** يعني چا چه صف جوړ کړو الله تعالى به يې وصل کړي په رحمت خپل سره او درجه به يې اوچته کړي او چاچه صف خراب کړونو قطعه به يې کړي دوصل او ثواب نه (فالجزاء من جنس العمل)، فلهذا که صف کې فرجه (خالي ځاى) وي نو هغه دې ډك کړي ځکه بيا په دغه فرجه (خالي ځاى) کې شيطان لعين داخليږي، او دصفونو برابرى پدې شان سره کيږي چه پوندې برابرې کړي، دا غلطه مشهوره ده چه دګوتو سرونه دې برابر کړي ځکه چه دچا خپه اوږده وي د چا لنډه نو صف خرابيږي.
او بل افتخار يې هغه روايت دې چه ابونعيم دحضرت ابوهريرة رضي الله تعالى عنه څخه نقل کړيدې «قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم ان موسى عليه السلام لما نزلت عليه التوراة وقرأه فيها ذكر هذه الامة قال يارَبِّ انى اجد فى الالواح أُمَّة هم الآخرون السابقون فاجعلها امتى قال تلك أمة احمد. قال يارب انى اجد فى الالواح امة اناجيلهم فى صدورهم فاجعلها امتى قال تلك أُمة احمد. قال يارب انى اجد فى الالواح امة يجعلون الصدقة فى بطونهم يؤجرون عليها فاجلعها امتى قال تلك امة احمد قال يارَبِّ انى اجد فى الالواح امّة اذا هم احدهم بحسنة فلم يعملها كتبت له حسنة واحدة وان عملها كتبت له عشر حسنات فاجعلها امتى قال تلك امة احمد. قال يارَبِّ انى اجد فى الالواح امة اذا هم احدهم بسيئة فلم يَعْمَلْهَا لَمْ تكتب وان عملها كتبت سيئة واحدة فاجعلها امتى قال تلك امة احمد. قال يارب انى اجد فى الالواح امة يؤتون العلم الاول والعلم الآخر فيقتلون المسيح الدّجال فاجعلها امتى قال تلك أُمت احمد، قال يارَبِّ فاجعلنى من أمة احمد فاعطى عند ذلك خصلتين، كما قال الله تعالى فى كتابه الكريم (قَالَ يَا مُوسَىٰ إِنِّي اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ بِرِسَالَاتِي وَبِكَلَامِي فَخُذْ مَا آتَيْتُكَ وَكُن مِّنَ الشَّاكِرِينَ)، قال قد رضيت يا ربِّ» **ترجمه** يعني هركله چه په موسى عليه السلام باندې تورات شريف نازل شو هغه يې ولوستلو پس بيايې موندلو پدې کې ذکر ددغه اُمت او وې فرمايل ياربّ زه مومم پدې تختو کې امت چه آخرين دې په زمانه ددنيا کې او مخکې دې په منزلت او کرامت کې په حشر او حساب او قضاء

کې مخکې د ټول مخلوق نه او په دخول دجنت کې هم مقدم دې نو دغه ځما اُمت وګرځوه ، الله تعالی اوفرمایل . دا اُمت داحمد صلی الله علیه وسلم دې، موسی علیه السلام اوفرمایل . زه مومم په تختوکې اُمت چه مصاحف یې په سینو کې محفوظ وی «یعنې قرآن به په حفظ سره یادوی مخکې امتونو خپل کتابونه نه وو حفظ کړی» نو وګرځوه دغه اُمت ځما ، الله تعالی اوفرمایل : دا اُمت داحمد صلی الله علیه وسلم دې، موسٰی علیه السلام اوفرمایل : زه مومم په تختو کې امة چه خوری به صدقات په خپلو ځانو اوخپل اهل باندې اوثواب دصقې به ورکولې شی «دمخکې امتونو صدقه به آسمانی اور خوړله» نو وګرځوه دغه اُمت ځما ، الله تعالی اوفرمایل دغه اُمت داحمد صلی الله علیه وسلم دې، موسی علیه السلام اوفرمایل : زه مومم په تختوکې اُمت چه فئ او غنیمت ورته خوړل جائز دی دغه ځما اُمت وګرځوه ، الله تعالی اوفرمایل دغه اُمت داحمد صلی الله علیه وسلم دې، موسی علیه السلام اوفرمایل ای ربه ځما پیدا کوم په تختو کې اُمت چه قصد دنیکی وکړی اوپه هغه نیکی باندې عمل ونکړی بیاهم دیوې نیکی ثواب ورکولې شی او که وې کړی نو دلسو نیکو ثواب ورکولې شی دغه ځما اُمت وګرځوه ، الله تعالی اوفرمایل دغه اُمت داحمد صلی الله علیه وسلم دې ، موسٰی علیه السلام اوفرمایل . زه پیدا کوم په تختو کې اُمت چه قصد وکړی یو ددوئ د بدی او وې نکړی په جوارحو اوقلب سره ده ته بدی نشی لیکلې ، بلکه نیکی ورته لیکلې شی که بدی وکړی نو دیوې بدی سزاء ورته لیکلې شی، پس وګرځوه دغه اُمت ځما ، الله پاك اوفرمایل دغه اُمت داحمد صلی الله علیه وسلم دې، موسی علیه السلام اوفرمایل یارب زه مومم په تختوکې «چه تورات پکې لیکل شوې وو لس تختې یا نهه تختې وې دبیری دجنت څخه، اوږدوالې یې دولس ګزه وو» یو اُمت چه ورکړې شویدې علم دمخکې خلکو یعنې چه مصطفی صلی الله علیه وسلم څخه مخکې نازل شویدی، او علم دآخر چه په محمد صلی الله علیه وسلم نازل شویدی، اودوئ به مسیح دجال قتل کوی ، یعنې ددوئ په زمانه کې به په لاس دعیسی علیه السلام باندې قتل کیږی «وهوواحد منهم» پس وګرځوه دغه اُمت ځما ، الله تعالی اوفرمایل : دغه اُمت داحمد صلی الله علیه وسلم دې ، موسٰی علیه السلام اوفرمایل :

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

یا ربه ما وګرځوه دأمت داحمد صلی الله علیه وسلم نه ، نو پدې وخت کې ده ته دوه
مرتبې ورکړې شوې، یورسالت اوبل کلام الله ، دغه اګر چه مخکې وو خودغه اخبار
دې منافات نشته ، لکه چه فرمای ای موسی (علیه السلام) ته ما غوره کړې یې چه ما
خپل طرف نه دپیغمبری عهده درکړیده او خپل ځان سره دخبرو کولو شرافت مې
درکړې دې نو دا واخله او شکر کوه، نو موسی علیه السلام اوفرمایل په تحقیق سره
زه راضی یم یا ربه

اونور افتخار یې په تامین، رکوع، تحیة سلام، اوجمعی اوپه جمعې کې یوساعت
اجابة اوپیشمنې ((سحور)) اولیلة القدر او داجماع الامة حجت کیدل او اقطاب اولیاء
وغیره باندې مختص شویدې، فعلیك بالتفصیل یا اخی، ((الله تعالی دې مونږ په سابق
الخیرات أمت کې دقیامت په ورځ راپورته کړی ، آمین ، یارب العالمین))

# دخطر زنګونه ((دقیامت علامات))

محترمو : دپنځلسمې صدئ مسلمانانو ویښ شئ اوځان بیدار کړئ ځکه چه
دقیامت علامات نور بیخی اوبالکل هوبهو دسترګو په لیدو سره کوم چه رسول الله
صلی الله علیه وسلم ترینه مونږ ته خبر راکړې وو ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو او پوره
کیدو کې دی اودهغه فتنونه چه واقع شوی او راتلونکی دی ځان بچ کړئ ترڅو چه ده
نه د ابدی هلاکت سبب ونه ګرځی لکه چه الله تعالی فرمایی ((یَا أَیُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّکُمْ
إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِیمٌ + یَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ کُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ کُلُّ ذَاتِ
حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَی النَّاسَ سُکَارَی وَمَا هُم بِسُکَارَی وَلَکِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِیدٌ))، **ترجمه**
((ای مؤمنانو وه ویریږئ درب خپل نه بیشکه زلزله دقیامت لوئ شې دې په کومه ورځ
چه تاسو وه وینئ دا زلزله ، غافله به شی هره تی ورکوونکی ښځه له هغه بچی نه چه دا
تې ورکوی او وبه زیږوی هره ښځه حمل والا حمل خپل او وبه وینې دې خلکو لره نشه
بې هوشه اودوئ به نه وی نشه لیکن دالله تعالی عذاب ډیر سخت دې))، په تفسیر

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

قاري کې وايي زلزله به دړومبئ شپیلئ نه مخکې دمغرب دطرفه راځي او له آسمانه به آواز راشي چه ای خلکو دالله تعالی الم «دردناك عذاب» را ورسیدلو ، دې زلزلې سره به په خلکو داسې هیبت راشي چه په شان دلیونو به ښکاري په حقیقت کې به لیوني نه وي لیکن دالله تعالی سخت عذاب به او وینی، دالله تعالی دې مونږ ته ترینه نجات راکړي، آمین.

دقیامت نښې او علامې درې قسمه دی . اول هغه علامې چه ټولې تیرې شویدی لکه وفات دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم او دسر دځمکې نه دصحابه وو رضی الله تعالی عنهم اجمعین تلل یعنې ټول صحابه وفات کیدل، اوهغه اورچه په حجاز یعنې دار الخلافه دسعودی عربستان کې لګیدلې وو او په بصره کې داوښانو په غاړو ددې اور رڼا لیدلې شوه اوښکارکیدل ددوو دجّالانو چه اَسوَد عنسی اومسیلمهٔ کذّاب، اوزیاتول دمال دهرمسکین اوفقیر سره او ښوییدل دځمکې په سنه (۲۴۲ هـ ق) کې یوغیردینو په قریه چه یمن کې دې خوییدلې وه اونوتل دیوې حصی اوبرخې دځمکې دی په بله برخه اوحصه دځمکې کې اور ننوتل په سنه (۵۹۷ هـ ق) کې په بصره کې هم دا واقعه منځ ته راغلی وه او لویې لویې زلزلې لکه په (۵۴۴ هـ ق) کال کې یوه لویه زلزله په بغداد کې راغلې وه چه ځمکې ته یې لس ټکانه ورکړی وو او دحلوان غریبی دخپل ځایه جلاکړې وو ، اوبدلیدل دمخونو اوشکلونو دانسانانو دځناورو په شکل. په کتاب الزواجر کې یې لیکلی دی چه یوسړی به حضرت ابوبکرصدیق اوحضرت عمر فاروق رضیٰ الله تعالی عنهما ته کنځل کول کله چه مړ شو نو قبرته دننویستو اوښخولو نه وړاندې یې مخ دخنزیر په شکل وګرځیدلو «نعوذبالله من هذا الحال»، اوکاڼی «تیږې» اوریدل دی د آسمان له طرفه، په سنه (۲۸۵ هـ ق) کې توراوسپین کاڼی په بصره کې وریدلی وو ، اوګرم بادونه الوتل دې، په سنه (۲۳۲ هـ ق) کې په عراق باندې یو ګرم باد والوت چه دبصرې اوکوفې ټول فصلونه یې وسوزول، دغه احادیث اوتاریخی واقعات مې په لنډه توګه تاسې ته وړاندې کړل په طور دمثال باندې، اوکه نه نو تفصیل یې ډیر زیات دې.

دویم قسم هغه علامات دی چه . ښکاره شوی او ورځ په ورځ زیاتیږی او کمیږی نه

ردې چه لویې علامې دقیامت ورپسې راشي هغه دا چه عمل کوونکی په شریعت به
داسې وی لکه چه یو سړې د اُور سکروټې په لمن یا لاس کې را اخلي یعنې عمل
کوونکی په شریعت به داسې تنګ وی دخلکو په منځ کې لکه سړی چه په اور
سوزیږي، په مساجدو کې به ددنیاوی معاملاتو خبرې شروع شي او شیطان به دسړی
په خیر شي، او ددروغو خبرې به په خلکو کې خوروي، نو هرسړې به وایي چه اوس
دلته یوسړی خبره وکړه خونه یي پیژنم اوبربنډ لغړبه شي ، اوبل خلق به دمال اودولت
خاوندان شي اوخلق به لوږ، لوړ بلډنګونه اوښکلې جوړوي اوهر سړې به دخپلو
خپلوانو نه شکایت کوي او خپلولي به قطع اوکاټ شي، اوقرآن شریف لوستل به
خلکوته شرم ښکاري اوهغه علم چه علم ورسره وی هغه به کم شي اوحسد اوکینه
اوبخل اودروغ به زیات شي او دنجومیانو په خبرو به خلق زیات باور کوي اوشل یا
دشلونه زیات سړي به راجمع شي اودالله تعال ویره به ورسره نه وي، اودحقاني علماؤ
شنه به کمه شي او زنا او لواطت اودسړو له سړو سره او دښځو له ښځو سره اودسړو له
ښځو سره به زیات شي یا شروع شي اوښځې به د نارینه وو اونارینه به دښځو جامې
اغوندي او ښځې به په بازارونو کې زیاتي شي اوښځې به دسړو سره دبیع او شراء
معاملې په بازارونو کې کوي او دمسلمانانو ښځې به دغیرمذهب اوبې دینه خلقو
خدمت کوي او دا حال په هوایي جهاز په سفر کې ښه ښکاره دې او په اول د اسلام کې
ددې عکس وو ، او داسې وخت به راشي چه دښځو دسرونو ویښته به داسې نیغ نیغ
ولاړوي لکه داوښانو بوکانونه اودجماعتونو دروازوته به لغړې اوبربنډې ښځې راځي
او تقسیمول دمیراث به ورك شي اوداسې وخت به راشي چه مسلمانان به پټ ګرځي لکه
اوس چه په تاسې کې منافقان پټ ګرځي او علماء دوخت به فتوی په ناحقه ورکوي
دپیسو پیداکولو لپاره ، دشرابو څښل اوجواري کول به هم ډیر شي او مصرفول دمال
په حرامو کې به زیات شي ، آخر ددې اُمت به لعنت وایي په اوّل ددې اُمت باندې ،
دساز او سرود ګری ښځې اوسرود ګرسړي اودسرود آلات او سامان به ډیرشي او
شرعي حدودبه نه جاري کیږي وغیرذلك

اودریم قسم هغه علامات دي چه دهغې په پوره کیدو اوتیریدو پسې به متصل

قیامت راځی او دینه علامات کُبرٰی دقیامت وایی. ددوئ په تقدیم اوتاخیر کې چه دا مخکې راځی اوکه دا وروسته راځی دعلماؤ اختلاف شته، والله اعلم بالصواب.
البته زه به یی داستاذانو دسماع په ترتیب ذکر کړم

۱ـ یو دهغو علاماتو نه ظهور دامام مهدی آخرزمان دې، دده نوم محمد او د پلار نوم یی عبدالله اودمور نوم یی آمنه اولقب یی جابر اومشهورپه ابوعبدالله دې دحضرت فاطمی رضی الله تعالی عنها له اولاد نه دې غنم رنګه او فراخه تندې اولوړه پوزه اوتورې ګردئ سترګې او وروځې یی پیوست اومخامخ غاښونه یی ځلیدونکی اوپه ښی طرف مخ کې یی تورخال چمك وهونکی اوښایسته مخ دستوری په شان ځلیدونکې او ګیره یی ګڼه، رنګ یی دعربو په شان اوجسم یی د اسرائیلو په شان په خبرو کې به یی دروندوالې وی ډیر متواضع به وی او خوی به یی درسول الله صلی الله علیه وسلم په شان وی اومتوسطې ځوانی والا به وی اوپه مټ کې به یی دنبی کریم صلی الله علیه وسلم یوه نښه وی، او ظهوربه یی په څلویښت کلنئ دعمر کې کیږی، والله اعلم.

اوداحادیثو لنډ اوخلاصه مطلب دادې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه کچیرې ددنیا دورانیدو او دقیامت راتلوته یوه ورځ پاتی شی نو دا ورځ به الله تعالی دومره اوږده کړی چه یو سړې پکې الله تعالی پیدا کړی چه هم به ځما امتی اوهم به ځما اولاد کې وی، یعنې دحسین بن علی رضی الله تعالی عنه داولاد څخه به وی چه نوم به یی ځما دنوم په شان وی اودپلار نوم به یی ځما دپلار دنوم په شان وی «یعنې دده نوم به محمد وی او دپلار نوم به یی عبدالله وی» دمدینې منورې نه به راووځی اومکې معظمې ته به لاړشی پدې وخت کې به خلیفه یعنې بادشاه دمسلمانانو وفات شوې وی اوخلق به په انتخاب دخلیفه کې مختلف وی نو په ده باندې به دمکې معظمې دحرم شریف خلك راجمع شی او داسې به ورته وایی چه ته زمونږ خلیفه یی، مګر دې به دمنلو اوقبلولو دخلافت نه انکار وکړی، اونه به یی منی مګر بیابه یی هم خلك په دې مجبور کړی او دخلافت عهده به ورته په غاړه کړی اوخلیفه به شی اومسلمانان به تهول درکن یمانی او مقام ابراهیم ترمنځ دده سره په

خلافت بیعت کول شروع کړی چه ته زمونږ خلیفه یې نو دده دنه منلو او دده سره جنګولو لپاره به دشام نه یوه ډله راشی کله چه دا ډله دمکی مکرمې او مدینی منورې ترمنځ بیداء نومی ځای ته را ورسیږی نو دا ټول خلك او لښکر به په ځمکې کې خسف شی «یعنې په ځمکه به ننوځی» کله چه خلك، نو کله چه دده نه منونکی دا واقعه ووبیدو وګوری نو دده حقّانیت به ښه ثابت شی ددې واقعې نه پس به دشام ابدال یعنې اولیاء او دعراق نه یوه لویه ډله دمسلمانانو راشی او دده سره به بیعت وکړی بیا کلب دقبیلی یوه ډله به دده سره جنګ وکړی هغه به هم شکست وماتی وکړی او دسنت طریقو به سخته پابندی کوی، هیڅ قسم مخالفت به دسنت طریقو څخه نه کوی دده د امداد او کومك لپاره به دخراسان څخه «داوسنی پاکستان، افغانستان، ایران او بخاری ځینې برخې شاملې دی» یوه ډله دمسلمانانو به راشی چه تور بیرغونه یعنې جنډی به یی په لاس کې وی او دده دوه معاونان اونائبان به هم پدې لښکر کې وی چه یو نوم به حارث اودبل نوم به منصور وی، نو مسلمانانو ته داحکم دې چه ددې قسم جنډو دلښکر سره په داسې وخت کې چه دامام مهدی آخرزمان دخلافت زمانه وی یوځای شی او دې به ټوله حِسّی اوغیر حِسّی دنیا دعدالت څخه ډکه کړی لکه نن صبا دظلم څخه چه ډکه ده، دده په زمانه کې به ځمکه آباده شی، د آسمان او ځمکې ټول مخلوق به دده نه ددې په عدالت خوشحاله وی اودې به دجهاد لپاره خلق تیاروی، داسرائیلو مقابلې ته، دده ټول عمر به په دنیا کې دخلافت نه وروسته شپږ یا اوه یا اته یا نهه کاله وی اودې به په څلویښت کلنی کې دخلافت په منصب ودریږی، والله اعلم، دغه کتابونه چه دا احادیث پکې راغلی دی «ترمذی، ابوداؤد، احمد، اوحاکم شریف»

اوبله ستره اولویه علامه دقیامت راوتل ددجّال علیه اللعنة دی، دقیس لور چه فاطمه رضی الله تعالی عنها نومیږی روایت کوی چه یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم راووت او وې فرمایل چه تمیم داری رضی الله تعالی عنه یو نصرانی مذهبه سړې وو چه خپل دین دنصرانیت یی پریښود او ځما سره یی بیعت وکړ او مسلمان شو، ماته یی یوه واقعه بیان کړه دا دهغې واقعې سره چه ما به تاسې ته ددجّال حالاتو نه بیان کولو موافقه اوبرابره ده چه هغه داده تمیم داری رضی الله تعالی عنه

ماته وویل چه زه د لخم اوجذام دقبیلو خلکو سره په کښتي کې سوروم اومونږ تول
پدې کښتئ کې دیرش تنه سړي وو نوطوفان راغې اوتریوې میاشتې پورې مونږ به
دریاب کې سرګردان ګرځیدو آخر دیوې جزیرې پرخوا کشتئ ودریده، پداسې ځای کې
چه لمر لویدو سره نژدې وو . نومونږ تول دکښتئ نه جزیرې ته ښکته کوزشو او مونږ
یوچاپایي ولیدلو چه سر اولکئ یې د ډیرو ویښتو په وجه نه معلومیده نو خلکو ورته
وویل چه هلاکت دې وی تالره ته څوک یې ، هغه چارپایې اوویل زه جسّاسه یم نو مونږ
وویل چه جسّاسه څه شې دې «بعضې علماؤ ویلی دی چه جساسه ددجال خر دې» هغه
وویل چه له مانه اخوا دې وړاندې ځای ته ورشئ نوکله چه مونږ ورغلو نو هغه ځای ته
تو یو لوئ او عظیم الجُثّه انسان موولیدلو چه په غاړه، لاسونو اوپښو کې یې
زنځیرونه او هنکړئ پرتې دی اوتړلې وو. نومونږ ورته وویل چه هلاکت دی وی ته
څوك یې .ده وویل چه تاسې څوك یئ. نومونږ ورته قصه بیان کړه اومونږ ورته وویل
چه مونږ دعربو یو اوستا حال نه مونږ جسّاسه خبر کړو، چه دا سړې ستاسې دحال
خبریدو اولیدلو شوق لری نو دجّال راته وویل چه دبیْسان «چه دشام او اُردن یا مره کې
دیو ځای نوم دی» خورمایعنې کهجورو ونې کهجورې نیسی، نومونږ ورته وویل چه
هو . نو ده وویل چه نږدې وخت دې چه دا کهجورې خپلې کهجورې نیول بند کړی، بیا
یی وویل چه دطبریې «د اُردن یوه قریه ده» په چینه کې اوبه شته او کنه نو مونږ ورته
وویل چه هو. خلق وړباندې فصلونه کړی ، بیایی وویل چه نبی اُمّی «صلی الله علیه
وسلم» ظاهرشویدې او که نه نومونږ ورته وویل چه ظاهر شویدې اودمکې مکرمې نه
یی مدینې طیّبی ته هجرت هم کړیدې نوبیایی وویل چه عربو ورسره جنګ جګړه
کړیده او که نه نو مونږ ورته وویل چه عرب ورسره جنګونه کوی ، نوبیا یی وویل چه
غالب دې که مغلوب، نو مونږ ورته وویل چه غالب دې په هر هغه خلکو چه جنګ
ورسره کوی اونږدې دی چه اکثر عرب یی تابع شی، نو ده وویل چه عربوته به دا خبره
بنه وی چه تابعداری یی وکړی، نو بیا یی وویل زه مسیح دجّال یم اوزردې چه ماته
به ددې ځای نه دوتلو اجازه وشی اوزه به ټوله دنیا کې یوځل ګرځم اوهیڅ یوکلې
اوقریه به رانه پاتې نشی مګر زه به ورته ننوځم لیکن مکې مکرمې او مدینې منورې

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ته ننشم ننوتلې، کله چه زه ددې دواړو مبارکوښارو دننو تلو اراده وکړم نو په لارکې به خو کيدار اوپهره داران ولاړ وی او توري به يی په لاسونو کې نيولې وی او ما به نه پريږدی چه زه دغه مبارکو ځايونوته ننوځم او دا ځايونه په ما باندې حرام دی، بيا نور رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمايل چه دا طيّبه ده ، دا طيّبه ده مقصد دا چه دا مدينه منوره دهرقسم پليتوا وپليتونه پاکه ده او همدارنگه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايی هيڅ يو پيغمبر دپيغمبرانو نه ندې تيرشوې مگر هغه خپل اُمت اوقوم ددجّال دفتنې نه ويره ولې دې او زه آخر دپيغمبرانو يم او تاسو آخر داُمتونو يئ اودا به په تاسو کې را ښکاره کيږی او دا دمشرق يعنې لمرختلو دطرفه راځی او دعراق دلارې به شام ته داخليږی او خپل ښی او چپ طرف ته به لښکرې دفساد کولو دپاره وليږی چه په مخلوق کې فساد وکړی په اول کرّت به د اصفهان نه اويا زره يهود ددجال سره يوځای شی او وړاندې به يوسړې روان وی اوخلقوته به خبرتيا ورکوی چه ای خلقو دا سړې يعنې دجال دروغژن دې او دا سړې به دومره تيز او چست وی چه دجال به ده پسی نشی رسيدلې، ځينې علماؤ فرمايلی دی چه دغه سړې به حضرت خضر عليه السلام وی، دَجّال به وايی چه زه ستاسې خدای يم او او ای مسلمانانو تاسې خپل خدای په دنيا کې نشئ ليدې ترڅو چه مړه شوی نه يئ مقصد دا چه الله تعالی به خلقوته بيا جنت کې خپل ديدار ورکوی دجال به په ښئ سترگه ړوند وی او ستاسې خدای بينا دې ړوند ندې، ددجال په تندی باندې کافر قدرتی ليکلی دی په دې طرز سره «ك ف ر» او ددجال په يوځنگ کې به جنت او په بل ځنگ کې به دوزخ وی اوحقيقت په عکس کې دې اودجال به ټوله دنيا کې ځلويښت ورځی گرځی سِوا دمکې مکرمې اومدينې منورې نه او دجال به د هوا مرغان رانيسی اوبيا به يی دلمر په سترگه وريتوی او همدا رنگه درياب نه به ماهيان راوباسی اوننبه يی داده چه يولاس يی اوږد اوبل يی لنډ دې اودده دظهور په وخت کې به علم ډير کم وی هيڅوك به دمناظرې کولو طاقت دځمکې په سر نلری ، ځمکې ، وريځ ، باران او دريابونو وغيره ته چه څه امر کوی هغه به يی منی خو په حقيقت کې دا ټول سحر جادو دې او دجال به يوسړې را ونيسی دوه ټوټې به يی کړی په مينځ کې به يی تيرشی اوخلقوته به ووايی چه دغه ژوندی کړم نو تاسې به

ځما په خدايي قائل شئ او هغه سرې به ژوندې کړي او پوښتنه به ترينه وکړي چه ستا خداى ځوك دې هو هغه به ورته ووايي ځما خداى هغه ذات مقدس دې چه ته او زه يې پيدا کړي يواو دا واقعه به ردې خلې تکرار شي دې واقعې نه وروسته به ددجال سحر اوجادو بند شي بعضى علماؤ فرمايلي دى چه دا سرې به حضرت خضر عليه السلام وى ، اورسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي ځوك چه دهرې جمعې په ورځ سورت کهف وايي دهرې فتنې نه به بچ شي، حتى چه ددجّال دفتنې نه به هم بچ شي آو اوهغه کتابونه چه دغه واقعه ددجّال پکې روايت شويده، دځينو کتابونو نومونه دادى ((بخار، مسلم، ترمذى وغيره))

اوبله لويه علامه دقيامت دعيسٰى عليه السلام ځمکې ته راکوزيدل دى کله چه مهدى آخرزمان دکفارو سره جهاد شروع کړي او ددنيا مختلفو ځايونو مسلمانان چه اکثريت به يې دخراسان او مدينې منورې وى دده سره به يوځاى شي نو پدې وخت کې به دجّا ژاووځي نومهدى آخرزمان به مجاهدينو او مسلمانانو ته ووايي چه راځي چه الله پاك ځخه دحضرت عيسٰى عليه السلام د راکوزيدو سوال وکړو ځکه چه ده سره ځما دمقابلې کولو طاقت نشته ، دده مگر دعيسى عليه السلام له لاسه دې او دوئ به دغه سوال وکړي نو عيسى عليه السلام به ددوو ملائکو په اوږو لاسونه ايښى وى او د آسمان نه به راکوز شي دشام شريف ددمشق دښار د لمرخاته طرفته منارې دجامع مسجد باندى به راکوزشي نومهدى آخرزمان سره دملگرو به گورى چه راکوز شو، دا به دمازديگر دلمانځه وخت وى، مسلمانان، يهوديان او نصرانيان به ټول ورته راشى دلته به دمسلمانانو مؤذن او ديهوديانو بوق وهونکې ((بوق يوه آله ده چه يهودپرې عبادت ته راجمع کيږى)) او دنصرانيانو ناقوس وهونکې ((چه دوئ هم پدې سره عبادت ته راجمع کيږى)) يعنې درې واړه به حاضر شي نو قرعه ((پچه)) به واچوى او پچه به دمسلمانانو دمؤذن وريږى مؤذن به آذان وکړي نو مهدى آخرزمان به عيسٰى عليه السلام ته ووايي چه مونږ ته امامت راکړه ، خو عيسٰى عليه السلام به مهدى آخرزمان دامامت لپاره وړاندې کړي اوپه نورو لمونځونو کې به عيسٰى عليه السلام امامت کوى او ددې اُمت فضيلت او بهترى ثابتوى دمازديگر دلمانځه نه وروسته به

عیسی علیه السلام او مهدی آخرزمان به دمشق ښارنه د دجال لټون پسې راووځي او
داسلام څخه غیردین که یهودیت وی که نصرانیت وی نامنظور به وی او نه به قبلیږی
او عیسی علیه السلام به د دجال په تلاش کې بیت المقدس ته ورسیږی دلته به
مسلمانان د کافرانو له لاسه محاصره او قلابندشوی وی نو عیسی علیه السلام به دغه
محاصره ماته کړی، په یوروایت کې راغلی دی چه مهدی آخر زمان سره د ملګرو به
بیت المقدس کې د سهار دلمانځه لپاره تیارې کوی نوعیسی علیه السلام به را
ورسیږی بیابه مهدی آخرزمان امام جوړکړی د سهار دلمانځه پس به عیسی علیه
السلام د دجال دلټون پسې روان شی او دجال به دبیت المقدس د لُدْ ښار په دروازه کې
د ماسپخین دلمانځه په وخت کې حصار کړی او دجال چه پوهه شی چه اوس مې
خلاصې نشته نو داسې به ویلې کیږی لکه مالګه چه په اوبو کې واچوې او عیسی
علیه السلام به دجّال ووژنی او دده لښکر به شکست وخوری نو بیابه مسلمانان یهود
داسې ووژنی چه یهودی ته به هیڅ شی پناه نه ورکوی تیږې او بوټی به نارې وهی
مسلمانه دلته راشه زما ترڅنګ یهودی پټ شویدې مګر دغرقد ونه به ځای ورکوی
د دجّال دوژنې او دیهودو دختمید وڅخه وروسته به عیسی علیه السلام داسلامی دین
احکامو په اجراء کولو عمل کول شروع کړی صلیب به مات کړی او خنزیر به ووژنی
او جزیه به پورته کړی یعنې په شریعت محمدی صلی الله علیه وسلم کې دجزیه حکم
همدغه وخت پورې وه داسې نه چه عیسی علیه السلام منسوخه کړې ((تفکر)) او عیسی
علیه السلام به واده وکړی او اولاد به یې هم وشی او زراعت اومالداری به دومره
زیاته شی چه زکٰوة اخستونکې به نه پیدا کیږی اودعیسی علیه السلام د راکوزیدلو
څخه وروسته څلویښت یا پنځه څلویښت کاله عمر تیروی دعمر اُخری مرحله کې به
حج ته لاړشی او په واپسی کې به مدینې منورې ته دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم
دزیارت په نیت راشی او دلته به مریض شی او دارالبقاء ته به له دار الفناء څخه انتقال
وکړی او دحضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ترڅنګه چه اوس هم خالی
پاتې دې دفن شی ((بخاری، مسلم))، والله اعلم بالصواب.

اوبله ستره علامه دقیامت راوتل دیاجوج اوماجوج دی، پس دماتولو دسد د

ذوالقرنين نه کوم وخت چه دعيسى عليه السلام په لاس مبارك دجال ملعون هلاك شي نو الله تعالى به عيسى عليه السلام ته حکم وکړي چه څما يو قسم مخلوق دي چه دهغوئ سره هيڅوك په مخلوقاتو کې دجنگ اومقابلې توان نلري او ما ورسره دراتلو وعده کړيده نو څما ځينې خاص بندگان کوه طور ته بوځه او نور خلق به په خپلو قلاگانو کې ترينه پټ دالله تعالى په قدرت سره پاتې شو او خپل چارپايان اومالونه به دخپلو ځانونو سره په قلاگانو کې دننه حاصرکړي ، نو ياجوج او ماجوج به راووځي په ټوله دنيا کې به گرځيږي ټوله دنيا به لټوي هر قسم ځناور شين بوټي او چارپايان به ددوئ دلاسه ختم شي او ټولو دريابونو څخه به اوبه وڅښي اووچ به شي يوه ډله چه په درياب تيره شي درياب به وچ کړي اوبله ډله چه راشي وايي به چه پدې به چيرې اوبه تيرې شوي نه وي يعنې چه هرقسم څه ختم شي بيابه دوئ ووايي راځئ دآسمان خلکو سره جنگ وکړو د آسمان طرفته به غشي ويشتل شروع کړي چه کله غشي بيرته ځمکې ته رابنکته شي قدرتي به يې په وينو ککړ وه ويني دوئ به خوشحال شي چه اوس به لړيدلې شيان را پريوځي اومونږ به يې وخورو ، پدې وخت کې به په مسلمانانو باندې ډيره لوږه راشي دغوايي يوسربه ددوه سوه اشرفو نه زيات قيمت لري يعني نقدو روپيونه به خوراکې شي ته ډير خوشحاليږي چه کله مسلمانان دلوږې او قلابندى څخه په تنگ شي نو دوئ به په شمول دحضرت عيسى عليه السلام الله تعالى ته سوال وکړي چه ددې فتنې څخه مو خلاص کړي، نو الله تعالى به په دوئ يعنې ياجوج وماجوجو باندې يو چينجې حواله کړي اوټول به هلاك شي هغه چينجي اوس هم دگډو او ميږو او اوښانو په پوزو کې وي او ددوئ دهلاکت څخه وروسته به مسلمانان دقلاگانو اوعيسى عليه السلام او ملگري به يې دکوه طور نه خپلو کورونو ته واپس شي خو دمړو دبدبوى څخه به تنگ شي الله تعالى ته به سوال وکړي چه يا الله اوس مو نور ددې تکليف اوزحمت نه په امان کړې، ددوئ دمړو دلرې کيدلو متعلق دوه روايات دي يو دا چه يوقسم باد به راشي چه مسلمانان به په تيارو کې پټ شي لکه ريځې کې، مړي به را اوچت کړي اوپه دريابونو کې به يې واچوي ، دويم دا چه پدې مړو به داسې مرغان حواله کړي چه داوښانو په شان به يې اوږدې اوږدې غاړې وي او

دا یأجوج او مأجوج به پورته کړي هرځای کې چه دالله تعالی خوښه وي هلته به یې واچوي . اوپدې دواړو روایتونو کې تطبیق داسې کیدې شي چه الله تعالی به په خپل قدرت سره هم به دې باد کې دا مرغان په دوئ حواله کړي وي چه مړي پورته کړي دپسې به الله تعالی باران وکړي د باقی پاتی شوي اجزاؤ بدبوی به ختمه شي اوهوا به صافه شي اود دوئ په شمیر او تعداد کې تصریح نشته خود حدیثو څخه معلومیږي چه د دُنیا اولین او آخرین مخلوق راجمع کړې شي نو دا ټول به دیأجوج اومأجوج به برابر لسمه برخه شي . یعني انسان او پیریان چه را جمع کړې شي نو دهغوئ لسمه حصه به شي اود دوئ دهلاکت نه وروسته به مسلمانان ددوئ په غشو اولیندو باندې دوه دوئ او اینګولې «ترکاری» پخوی .یعني دومره به ډیر وي . او دوئ اصلاً انسانان دي . دیافث بن نوح علیه السلام د اولادې څخه دي او دوئ اوپه دوئ که به یوقسم داسې وي چه ددوئ قد او قامت به یو لویشت وي اوبل قسم به داسې وي چه دوه لویشتې به وي اوبل قسم به د دري لویشتو په اندازه وي او دیوښځې او میړه نه چه په دوئ کې کوم اولاد پیدا کېږي دهغوئ به تقریبا یو زر «۱۰۰۰» ځامن او لورګانې وي

دغه واقعات په مسلم، احمد، ابن ماجه، ابو نعیم، ابن حبان، اوحاکم کې موجود دي . اونورې علامې لکه دابة الارض اولمر دمغرب طرفته راختل ، دمدینې منورې اومکې معظمې ورانیدل . اوربنکاره کیدل دیوې لوږې او باد را الوتل چه دمؤمنو خلکو روحونه به قبض کړي او باقی خلک به دبتانو په عبادت کې اخته شي او د قرآن شریف دنکو اونورو دکاغذونو نه پورته کیدل او یو اور را ښکاره کیدل چه خلق به یو ځاې ته جمع کړي او را ټوله وي به یې . ددیات تفصیل که غواړې نو داحادیثو کتابونو ته مراجعه وکړه فلهذا ما په همدې اجمال اکتفاء وکړه . ان شئت تفصیلهم فراجع الی کتب الاحادیث «الله پاک دې مونږ د ټولو فتنو څخه محفوظ وساتي اوپه خپلو امتحاناتو کې مو دې کامیاب کړي . آمین یارب العالمین»

# وړوکې قیامت ((مرگ))

محترمو مسلمانانو · په دنیا کې هربشر چه راغلې دې نو دا خبره منې اومنلې او لیدلې یې هم دی چه مرگ شته، البته هوښیار هغه څوك دې چه دمرگې لپاره خپل ځان تیارکړې، اوحضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنه فرمایي چه مونږ لس کسان وو یو پکې زه هم وم، دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضرو شولو یو انصاری دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه سوال وکړو چه دټولونه زیات پوهه او ټولونه زیات مُحطاط ((هوښیار)) سړې څوك دې؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمایلو ((اَکْثَرُهُمْ ذِکْرًا لِلْمَوْتِ وَاَکْثَرُهُمْ اِسْتِعْدَادًا لِلْمَوْتِ اُوْلٰئِكَ الْاَکْیَاسُ ذَهَبُوْا بِشَرَفِ الدُّنْیَا وَکَرَامَةِ الْاٰخِرَةِ)) ، ((ابن ماجه، طبرانی صغیر)) ، یعنې چه کوم خلق مرگ لره دټولونه زیات یادوونکې وی اودمرگ لپاره دټولو نه زیات تیاری کوونکی وی همدغه خلق دی کومو چه ددنیا مرتبې او د آخرت عزتونه یوړل ، یو حکیم اوهوښیار سړې جنازې سره روان وو په لارکې خلکو په هغه مړی باندې افسوس اوغم کولو، دې حکیم ورته وویل چه تاسې پخپل ځان غم او افسوس وکړئ ځکه ستاسو دپاره همدا زیاته دفائدې خبره ده ، دې خولاړو او ددریو فتنو نه یې خلاصې بیاموند ۱۔ دآینده لپاره دملك الموت ((دمرگ فرشته یعنی عزرائیل علیه السلام)) دلیدلو ویره ورته پاتې نشوه، ۲۔ دمرگ سختی زغمل به پرې بیا نه راځی ، ۳۔ دخرابې خاتمې ویره یې ختمه شوه، خپل فکر کوئ چه دا درې واړه معاملې ستاسو لپاره باقی دی،ابولفاف رحمة الله علیه فرمایي چه څوك په کثرت سره مرگ یادوی دهغه په دریو شیانو اعزاز او اکرام کیږی : ۱۔ توبه ورته زر نصیب کیږی ، ۲۔ په مال کې قناعت ورته خاصلیږی، ۳۔ اوپه عبادت کې خوشحالی او دزړه مشغولیدنه پیدا کیږی ، او چه څوك دمرگ نه غافل اوسی په هغه درې عذابونه مقرریږی ۱۔ دگناهونونه په توبه ویستلو کې یې وروسته والې کیږی، ۲۔ په آمدنی نه راضی کیږی خواه څومره ډیره وشی خو کمه یې گڼی، ۳۔ او په عباداتو کې یې سُستی پیدا کیږی ((تنبیه الغافلین))، په یو حدیث

شریف کې دی چه مرگ په کثرت سره یادوئ دا گناهونه لرې کوی اوله دُنیا نه بې رغبتي پیدا کوی «احیاء العلوم» ، ابراهیم تیمي رحمة الله علیه فرمایي چه دوو شیانو ځمانه ددنیا هریولذت لری کړو ، یومرگ ، بل قیامت کې دالله تعالی مخکي د اودریدلو فکر ، په یوحدیث شریف کې دی چه کچیرې ځناوروته دمرگ متعلق دومره معلومات وشي څومره چه تاسو خلقوته دي نو هیڅکله به څورب ځناور تاسوته دخوراك دپاره پیدا نشي «یعني دمرگ له ویرې نه به ټول خوار شي» ؛

حضرت عائشه رضي الله تعالی عنه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چه څوك بغیر د شهید کیدونه هم شهیدانو سره کیدې شي؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه څوك په شپه او ورځ کې شل وارې مرگ یادوی هغه کیدلې شي

په یوحدیث شریف کې دی چه څوك پنځویشت وارې «اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لِي فِي الْمَوْتِ وَفِيْ مَا بَعْدَ الْمَوْتِ»ووایي هغه دشهیدانو په درجه کې کیدلې شي ،او دزړه نرموالی دپاره دمرگ یادول کامیابه نسخه ده ، حضرت کعب رحمه الله فرمایي چه هرچا مرگ وپیژنده په هغه باندې ددُنیا ټول مصیبتونه آسان وی ، حضرت علي رضي الله تعالی عنه به چه کله دجهاد دترغیب ورکول نو فرمایل به یې کچیرې تاسې شهیدان نکړې شئ نو په بسترو باندې به مرئ قسم مې دی وی په هغه ذات چه دچا په قبضه کې ځما ساه ده چه زر «۱۰۰۰» ځایه دتورې دزخمونو نه دمرگ تکلیف ډیر زیات سخت دی .

ویلی شي چه حضرت موسی علیه السلام کله وفات شو نو الله تعالی ترینه پوښتنه وکړه چه مرگ دې څرنگه بیاموند؟ هغه عرض وکړو چه ما خپل ځان داسې لیدلو لکه څرنگه چه ژوندې مارغه دارنگ په اور وریتولې شي چه نه یې سا ووځي اونه یې د الوتلو څه صورت وی ، یوبل روایت کې دی چه داسې حالت وو لکه څنگه چه دژوندئ چیلئ څرمنه ایستلې شي ، په یوحدیث شریف کې دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دې چه یا الله ته روح لره د پلو نه ، هډوکونه ، او دگوتونه راوکاګې ما باندې دمرگ سختي آسانه کړې ، حضرت عمر رضي الله تعالی عنه دحضرت کعب رضي الله تعالی عنه نه پوښتنه وکړه چه دمرگ حالت بیان کړه ! هغه عرض وکړو چه

اميرالمؤمنين، ا چه څرنګه يوه ازغو والا څانګه په انسان کې داخلولې شي چه هغې سره دبدن هره يوه حصّه ونخلي بيا يودم راکش شي دغه رنګ ساه راخکلی شی ، دغه خو دځنکدن مختصر کيفيت وو ، دملك الموت صورت اوشکل دځنکدن په وخت کې ليدل بل مستقل مشکل دې او دقبر حالت خو وروسی را روان دې الله پاك دې په مونږ ټولو مسلمانانو باندې آسان کړی

الله تعالی په خپل قدرت کامله سره حضرت آدم عليه السلام دخاوورونه پيدا کړو دهغه اول کوربی جنت ،دوهم کوربی دُنيا ، دريم يې برزخ اوڅلورم يې بيا جنت ګرځولې وو ، دباقی خلقو لپاره اول کور دمورخيټه بيا دُنيا بيا برزخ اوبيا جنت يا دوزخ مقرر کړې شويدې، هر انسان چه دنيا ته راځی نو خامخا به مری ، ارشاد خداوندی دې چه «إِنَّ أَجَلَ اللّٰهِ إِذَا جَاءَ لاَ يُؤَخَّرُ»، (سورة نوح)، يعنې په تحقيق سره کله چه نيټه پوره شی بيابه هغې کې تاخير نه کيږی ، په يوحديث شريف کې راځی چه ملك الموت روزانه هرکورته چکر وهی اوګوری چه دچا چا وخت پوره شويدې چه دچا وخت پوره وی دهغه روح قبض کړی اوچه کله اهل ميّت ژړا او فرياد شروع کړی نوملك الموت ورته فرمايی چه ما دده روزی نده ختمه کړې زه به بيا بيا دې کورته راځم حتّی چه تاسو يو هم پاتې نشئ.

**نکته** په مړی باندې نوحه ، وير اوژړا کول ناجائز دی څکه چه پدې سره مړی ته سزاء ورکولې شی، که وصيت يې کړی وی‌یاپه ژوندانه کې پدې ژړا راضی وو ، البته که په ژوند کې يې بده ګڼله بيا ورته سزاء نشته، نبی اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايی «إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ لَيْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُوْدَ وَشَقَّ الْجُيُوْبَ وَدَعَىٰ بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ»، البته دصدمې دوجهې نه اوښکی بهيدل خيردې حضرت ابوهريرة رضی الله تعالی عنه فرمايی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد اوفرمايلو کله چه يونيك انسان ته مرګ راشی نو فرشتې حاضرې شی او وايی چه «اَخرِجِی اَيَّتُهَا النَّفسُ الطَّيِّبَةُ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الطَّيِّبِ اَخرِجِی حَمِيْدَةً وَّ اَبْشِرِی بِرَوْحٍ وَّرَيْحَانٍ وَّ رَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانٍ فَلاَ تَزَالُ يُقَالُ لَهَا ذَالِكَ حَتّٰى تَخْرُجَ»، يعنې اې پاکه روحه په

پاك جسم كې اوڅه ته پداسې حالت كې چه الله تعالى او مخلوق څخه ستا تعريف كړې شويدې تاتـه دې خوشـخبري وي د راحت او آرام دجنت دپـاكيزه رزق او دالله تعـالى دملاقات چه هغه ستانه خوشحاله دې، تر هغه وخته به ورته ملائك دا وايي ترڅويي چه روح دخوشحالى په حالت كې دجسم نه راووځي، فرشتې به يې آسمان ته يوسي، د آسمان دروازه به ورته خلاصه شي، دربانچي به پوښتنه وكړي چه څوك دې، فرشتې به ورته وايي چه فلانې دې ، هغوئ به ووايي چه «مَرْحَبًا بِالنَّفْسِ الطَّيِّبَةِ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الطَّيِّبِ»، او چه بدكاره سړې مركيږي نوملائكې ورتـه وايـي «اُخْرجِي اَيَّتُهَـا الـنَّفْسُ الْخَبِيْثَةُ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الْخَبِيْثِ اخرجِيْ ذَمِيْمَةً وَ اَبْشِرِي بِحَمِيْمٍ وَغَسَّاقٍ وَ آخَـرُ مِـنْ شَكْلِهِ اَزْوَاجٍ» يعنې اى نفسه خبيثه ددې ناپاك بدن نه اوځـه پداسې حال كې چه ستا مـذمت كـړې شـويدې، اوخوشـخبري دې وي تاتـه دگرمـو اوبـو دپيـپ اودقسماقسم عذابونو، حتى چه روح يې راووځي فرشتې يې آسمان طرفته يوسي د آسمان دروازه خلاصه شي ، دربانچي پوښتنه وكړي څوك دې، فرشتې ورتـه وايـي چه فلانې دې نو دربانچي اووايي خوشخبري دې نه وي دغه ناپاك روح لپاره چه په ناپاك جسم كې وو، واپس څه پداسې حالت كې ستا بُرائي «بې عزتي» كړې شويده، ستا دپاره به د آسمان دروازه نشي خلاصولې، پس دې را وغورځولې شي حتّى چه قبر ته راشي، په يو حديث مبارك كې ليكل شويدي چه كله جنازه قبرستان ته روانه كړې شي نو كه دې نيك وي نو وايي چه «قَدِّمُوْنِي» اوكه بدكاره وو نو چغې وهي «يَا وَيْلَهَا اَيْنَ تَذْهَبُوْنَ بِهَا» اى زما بربادي تاسوماچيرته بيايئ حتّى چه دانسان څخه علاوه هرشې يې اوري كه انسان يې واوري نو بې هوشه به شي هركله چه دې په قبر كې كيښودې شي نـومنكر نكير ورته حاضرشي اول ترينه درب په باره كې پوښتنه وكړي بيا ورتـه ووايـي چه ديـن دې څه دې ، بيا ترې پوښتنه وكړي چه كوم سړې تاته راليږلې شوې وو دهغـه پـه بـاره كې ستا څه خيال دې ،كه دې نيك وي نو صحيح جواب به وركوي چه څما رب الله تعالى دې او دين مې اسلام دې او هغه راليگلې شوې دالله تعالى رسول دې ، بيا د آسمان نه يو منادي «آوازكوونكې» آوازوكړي چه څما بنده ريښتيا وويـل ده تـه دجنت طرفتـه

دروازه خلاصه شی او حد نګاه پورې یې قبر کشاده کړې شی «ویفسح له فیها مدّ بَصَرِهِ» او دکفارو نه چه ملائک پوښتنه وکړی «مَن رَبُّكَ فَيَقُولُ هَا هَا لا أَدْرِي» یعنې های ، های څه نه پیژنم بیا به منادی آواز وکړی چه ده ته ددوزخ طرفنه کړکی خلاصې کړئ دده قبر به په ده باندې دومره تنګ کړې شی «حَتّٰی تَخْتَلِفَ فِيهِ أَضْلَاعُهُ» چه پښتئ یې په یوبل کې ننوځی

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایی چه قبر روزانه فصاحت او صفا آواز سره اعلان کوی چه ای بنی آدمه! تا زه هیر کړې یم زه دتنهایی کور یم د اجنبیّت کور یم دوحشت کور یم د چینجو کور یم او دنهایت تنګی کوریم مګر دهغه چا دپاره چه الله تعالی مې په چا فراخه کړی، بیا حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه «إِنَّ الْقَبْرَ رَوْضَةٌ مِّنْ رِّيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِّنْ حُفَرِ النَّارِ»، یعنې په تحقیق سره قبر دجنت دباغونو نه یوباغ دې یا ددوزخ دکندو نه یوه کنده ده «رواه الترمذی»، حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه به چه کله دقبرسره اودریده نو ډیر به یې ژړل حتّی چه ګیره مبارکه به یې لونده شوه، پوښتنه ترینه وشه چه یا حضرت! تاسو دجنت او دوزخ دذکر دوجهې څخه نه ژاړئ اودلته ژاړئ؟ ده اوفرمایل چه ما دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه: «إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الْآخِرَةِ فَإِنْ نَجَا مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ» «رواه الترمذی»، **ترجمه**: چه قبر دآخرت په منزلونو کې اولنې منزل دې که دې کې نجات وموندې شو نو ما بعدبه یې آسان وی اوکه دې کې نجات پیداء نشو نومابعد کې به سخته دشواری وی» اووې فرمایل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: «مَا رَأَيْتُ مَنْظَرًا قَطُّ إِلاَّ وَالْقَبْرُ أَفْظَعُ مِنْهُ» ، **ترجمه** «یعنې ما دقبر نه سخت منزل ندې لیدلې» ،دحضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنه دبیان مطابق رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه کله یو مؤمن سړې وفات شی نو دقبرستان هره حصه دا آرزو لری چه دې دې ماڅخه دفن شی او چه کله کافر مړشی نو دقبرستان هره حصه پناه غواړی چه دا بدبخته دې ماڅخه نشی دفن کولې

اوبل حدیث شریف کې دی کله چه مؤمن بنده په قبر کې دفن کولې شی نوقبر هغه

ته په خیر راغلې وایی او ورته وایی ته په ماګرځیدونکو خلکو کې ښما دټولونه زیات محبوب وې ځکه چه ښما ذمه واری کې راغلې نو اوبه وینې چه څومره ښه سلوک در سره کوم، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه حد نظر پوري ورته قبر کشاده شی او دهغه لپاره به جنت ځخه دروازه خلاصه شی او هرکله چه یو بد کار یا کافر بنده دفن کولې شی نو قبر هغه ته هرکله راشه نه وایی بلکه ورته وایی ته په ما ګرځیدونکو خلکو کې ښما دټولونه زیات ناخوښه وې او س چه ماته حواله شوې نو ته به وګورې چه زه ستا سره څومره خراب سلوك کوم ، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه «فیلتئم علیه حتی تختلف اضلاعه» چه بیا به قبر ددې سړی دپاره تنګ شی تر دې چه دهغه پوښتئ به یو بل کې ورننوځی دې فرمایلو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم دیو لاس ګوتې دبل لاس ګوتو کې پیوست کړې «رواه الترمذی»

حضرت جنید بغدادی رحمة الله علیه فرمایی چه کله دحضرت سرّی سقطی رحمة الله علیه وفات کیدلو دځنکدن حالت وو زه ورته سرته ناست ووم ما خپل مخ دهغه په مخ کیښودلو ښما دسترګونه اوښکې روانې وې ښما اوښکې دهغه په اننګی پریوتې ، هغه اوفرمایل څوك یی ؟ ما عرض وکړو چه ستاسو خادم جُنید دې ، وې فرمایل مرحبًا «ډیرښه دې وکړل چه راغلې» ما عرض وکړو چه یو آخری وصیّت اوفرمایئ . وې فرمایل چه دناکاره خلکو دمجلس نه خپل ځان وساته هسې نه چه هغوئ سره ناسته پاسته تا دالله تعالی نه جدا کړی

په یو حدیث شریف کې دی چه مرګ دمؤمن تحفه ده «بیهقی» . مطلب دا چه ژوند ددنیا خودفکرونو او غمونواوتکلیفونو سره وی او مرګ نه پس به اجر اوثواب او درجات وی په عالم برزخ کې او په جنت کې خوبیا په اصلی شکل کې دی فلهذا مرګ صرف فنا . اوصرف عدم ندې بلکه تبدیل د حال او انتقال د دار الفناء ځخه دار البقاء ته دې

په یو حدیث شریف کې دی چه یو سړی دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ځخه پوښتنه وکړه «أیُ الناس خیر قال من طال عمره وحسن عمله قال فایّ الناس شر قال من طال عمره وساء عمله» . «حاکم» . **ترجمه** یعنې کوم سړې بهتر دې . نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل هغه چه عمر یی اوږد وی او عمل یی نیك وی . بیا یی تپوس

وکړو چه کوم سړي بد ترين دي ، حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمايل هغه سړي چه عمر يې اوږد وی او عمل يې خراب وی

په يو حديث کې دی چه دمرگ آرزو مه کوئ دهغه ضرر په وجه چه نازل شوي دي که خلاصی نه وی نو بيا داسې وايئ چه ژوندي دې وم کچيرې ژوند خير وی ځما دپاره او مړ مې کړې که مرگ ښه وي ځما دپاره «الله پاك دې زمونږ اعمال نيك کړي اوقبر دي راته آرام گاه وگرځوی ، آمين يارب العالمين»

# دنتائجو اعلان ((يوم الحشر))

محترمو مسلمانانو هر عاقل پدې پوهيږي چه دُنيا دزړه دلگولو او د سکون ځاي ندې او دمنزل مقصود گرځولو قابل ندې دې کې ټولې آرزوگانې نه پوره کيږی او ددي راحتونه نه هميشه دی اونه خالص دی بلکه تکليف ورسره شامل دې او ددې تکليفونه هم هميشه ندی اونه خالص دی بلکه راحت ور سره شامل دې به هرحال ددې راحت او زحمت دبندی خانې راحت او زحمت دې نو د دُنيا منونکو ته د انعام ورکولو اونه منونکو ته دسزاء ورکولو مناسب ځای ندې داسې ناقصه جزاء «سزاء» ورکول دمالك حقيقي دشان سره مناسب ندی، همدارنگه دُنيا کې ډير مظالم وشی البته ظالم درشوت اويا سفارش اويا دمنصب اوقوت په وجه خلاص شی او ډير ځل نيکی وشی او نيکو کار ته څه انعام ورنکړې شی ، خو خامخا يوبل جهان ضروری شو چه صحيح فيصلی پکې وشی او مناسب جزاء او سزاء هرچاته ورکړې شی چه هغه يوم الحشر يعنې دقيامت ورځ ده ، څرنگه چه الله تعالی د انسان دپاره يومخصوص وقت مقرر کړيدې دغسې ددې عالم لپاره يې هم يو عمر مقرر کړيدې چه هغې ته قيامت ويلې شی، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمايي چه دقيامت قائميدونه مخکې به اموال او شهوت داسې ډير شی حتی چه دجمعې په ورځ به «چه دا به دعاشورئ ورځ هم وی» يو آواز اوريدل شروع شی دا به نفخ صور وی په ټولو اطرافو کې به ددې آواز اوريدل

پوشان وی، ورو ، ورو به دا آواز سختیږی حتّی چه ځناور به ځلکوطرفته را تښتیدل شروع کړی او خلك به مړه کیدلو باندې شروع شی په ځمکه به زلزله راشی غرونه. سمندرونه به ختم شی، آسمان به وچوی لمر او سپوږمۍ به ختم شی اوبی نوره به شی په سمندرونو به اُور ولګی غرض دا چه دا نظام به داسې وران اوړنګ شی چه هیڅ شې به پاتی نه شی دغه قیامت دې بیا به دعرش الهی نه باران شروع شی چه دهغې دوجهی نه به بیا بدنونه دژوندی کیدلو قابل شی بیابه حضرت اسرافیل علیه السلام بله شپیلۍ وپوکی نو ټول خلك به بیا ژوندی شی ((فَإِذَا هُم قِيَامٌ يَنظُرُونَ)). (سورة زمر ورواه مسلم) . ددواړو شپیلیو په مابینۍ کې څلوېښت کاله یا څلوېښت میاشتې یا څلوېښت هفتی فاصله ده ((متفق علیه)) . دغه یوم الحساب دې. ددې ورځې مقدار به پنځوس زره کلونه وی (( كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ)). (سورة معارج). په دغه ورځ به هر یوتن دخپلو خپلو اعمالو مطابق په خولو کې ډوب وی لکه چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی ((فَيَكُونُ النَّاسُ عَلَى قَدْرِ عَمَلِهِمْ فِي الْعَرَقِ فَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ الى كَعْبَيْه الحديث)) بعضی به تر ښنګرو په خولو کې وی بعضی به تر زنګنونو. بعضی به تر سینو پورې په خولوکې غرض وی، په یوبل حدیث شریف کې دی چه ((لاتَقُومُ السَّاعَةُ الاّ عَلى أَشْرَارِ الْخَلْقِ)) . (مسلم)، یعنې قیامت به صرف په بدکارو خلقو قائم کیږی. مطلب دا چه دقیامت اوّل منظر به صرف په بدکارو خلقو راځی ، قال علیه الصلوة والسلام ((لاتَقُومُ السَّاعَةُ حَتّٰى لاَيُقَالُ فِى الأَرْضِ اَللهُ اَللهُ)) . (رواه مسلم)، ((یعنې قیامت به قائم ترڅو چه ځمکه کی الله الله ویونکې موجود وی، حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمایی چه ما درسول الله صلی الله علیه وسلم نه ددې آیت کریمه په باره کې پوښتنه وکړه چه الله تعالی فرمایی ((يَوْمَ تُبَدَّلُ الأَرْضُ غَيْرَ الأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ)). ((یعنې په ورځ دقیامت به الله تعالی دا ځمکه بدله کړی غیر له دې ځمکې او آسمانونونه)). یعنې بله ځمکه او آسمان به قائم کړی، نو ما عرض وکړو چه دا خلق به چیرته وی نو وې فرمایل چه په پل صراط ((مسلم)) ، یعنې پُل صراط چه ددوزخ په شا جوړ شوې دی

دیو حدیث شریف مضمون دي حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها عرض وکړو چه ای دالله تعالی رسوله (صلی الله علیه وسلم) چه په ورځ دقیامت بله ځمکه او آسمان راشي نو دا به چیرته لاړشي ، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم جواب ورکړو چه دا شپه راشي نو دا ورځ چیرته لاړه شي یا دا ورځ راشي نو دا شپه چیرته لاړه شي ، یعنې هریو کارخانه دار چه پخپله کارخانه کې یوشې جوړ کړي نو دا بیا یقیني ده چه هغه ګډه وډه کړي بل هم جوړولی شي دا کومه د اشکال خبره نده، حضرت ابو سعید خدری رضی الله تعالی عنه فرمایي چه : رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه زه په آرام او سکون سره څرنګه کینم ((ځکه)) چه دشپیلۍ پوکلو والا ((یعنې اسرافیل علیه السلام)) خوله په شپیلۍ کیښودلې ده او غوږونه یې د بارګاه الٰهی طرفته نیولی دی او تندی یې پورته کړیدې ((یعنې دتیاری په حالت کې دې)) او انتظار کوی چه کله به دپوکولو حکم ملاویږي، صحابه کرامو عرض وکړو چه ای دالله تعالی رسوله ! بیا زمونږ لپاره څه حکم دې ، وی فرمایل دا وایئ چه ((حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الوَكِيْلُ)) یعنې ما دپاره الله تعالی کافی دی او هغه بهتر کارسازدې ، ((ترمذی))

په یو روایت کې دی چه دشپیلۍ دپوکې په وخت کې به جبرائیل علیه السلام دده په ښی طرف وی او میکائیل علیه السلام به یې په ګس طرف وی ((مشکوة)) شپیلي یو ښکر دې ((ابوداوٗد))، الله جل شانه فرمایي ((وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَن فِي السَّمَاوَات وَمَن فِي الأَرْضِ إِلاَّ مَن شَاءَ اللَّهُ)). (سورة زمر) ((او پوکل به وکړې شي په شپیلۍ کې پس بې خوده به شي هغه چه په آسمانونو کې دی اوهغه څوك چه په ځمکه کې دی مګر هغه څوك چه اراده وشي دالله تعالی)) چه هغه څلور مقربې فرشتی علماء ترینه اخلی اوبعضې حملة العرش هم ورسره ملګرې کوی اوبعضې ورسره انبیاء او شهداء هم ملګری کوی، والله اعلم

دحضرت ابوذربن العقیلی رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه ما عرض وکړو ای دالله تعالی رسوله ! الله تعالی به ((دقیامت په ورځ)) دا مخلوق څرنګه راژوندي کړي حالانکه ددوئ جسم اوبدن به خاورې شوې وی ((یعنې دنیاکې یې څه مثال

نشته،» وې فرمایل ولی ته کله دخشکې سیلۍ په دوران کې دخپل قوم په ځنګل کې نه یې تللې چه هلته شنه وابنه «ګلونه» هیڅ په نظر نه راځی بیا چه کله باران وشی «یعنې چه دسپرلی موسم شی» نوهغه خشک بیابان، باغ اوبهار په نظر راځی ، ما عرض وکړو هو داسی کیږی ، وې فرمایل دا نښانه اونښه دقدرت دالله تعالی ده ، الله تعالی به دقیامت په ورځ دا مړی دارنګه را ژوندی کړی «مشکوة»

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه دقیامت په ورځ به میدان دحشر ته خلق خپی ابله اوبربنډ بدن راجمع کیږی ما عرض وکړو ای دالله تعالی رسوله «صلی الله علیه وسلم» ښځې اوسړی ټول چه راجمع شی نو آیا یوبل ته به نه ګوری «یعنې داخوبه ډیره بی ستری وی »، آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمایل ای عائشې «رضی الله تعالی عنها» دهغې ورځې به دومره لوئ اوسخت دهشت اوهیبت وی چه هیڅ یو کس به دبل طرفته نګاه دکتو نشی پورته کولې «متفق علیه»

په یو حدیث شریف کې دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به دقیامت په ورځ په هغه جامو کې پورته شی په کوموجامو کې چه دفن شویدې یعنې دسره به بربنډ نه وی اوبل روایت کې راځی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی چه دقیامت په ورځ به دټولونه مخکې خما ځای پرانستې شی اوپورته به شم دجنت لباس به واچوم او دعرش په ښی طرف به ولاړیم چه هغه ځای کې به خمانه علاوه په مخلوقاتو کې بل چاته ودریدل نه وی، او دقیام په ورځ به په تمام مخلوق کې ابراهیم علیه السلام ته لباس واچولې شی «جامع صغیر» ، علماء لیکی چه ددې فضیلت وجه داده چه ابراهیم علیه السلام به فقراؤ اوضرورتمندوته جامې ورکولې، یا دا چه ابراهیم علیه السلام په مخلوقاتو کې دټولو نه اول شخص دېچه دالله تعالی په لاره کې نمرود بی لباسه کړو او اورته یې ګذار کړو، نو دا اعزاز او اکرام به پدې وجه وی ، والله اعلم بالصواب

حضرت انس رضی الله تعالی نه روایت دې چه یو کس عرض وکړو چه ای د الله تعالی رسوله ! دقیامت په ورځ به کافران په مخ څرنګه راجمع کیږی «یعنې دا خوبه ممکنه نه وی» آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه هغه ذات چه په دُنیا کې

طاقت ورکړيدې په خپو سره دتللو نو پدې هم قادر دې چه قيامت کې طاقت ورګړی دتللو په مخ باندې «متفق عليه»

يعنې دُنيا کې دومره درونډ وزن په خپلو تللی شی غورزيږی نه په قيامت کې نو په قيامت کې په مخ تلل څه مشکل کاردې ؟ بل روايت کې دی چه ځينی خلق به ميدان حشر ته پيدل راشی اوځينی سواره اوځينې په مخونو «ددې حديث مضمون به قدر ضرورت» «ترمذی» ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايی چه په چا کې درې خويونه وی نوده نه به الله تعالی آسان حساب اخلی «پيشی به يی وشی او هغه خپل بد اعمال به ورته اوښودلې شی» اوبيابه يی په خپل رحم او کرم سره جنت کې داخل کړی ، «هغه درې خبرې دادی» ١ـ ته خپل طرفنه مدد هغه چا سره کوه کوم چه تا سره «مدد» نکوی، ٢ـ ته هغه چاته معافی کوه کوم چه تا سره بد کوی، ٣ـ ته هغه چا سره ښه سلوك کوه کوم چه تا سره تعلق قطع کوی

يعنې که دا صفات په يو سړی کې پيدا شی نه به بيا خون خرابی راځی اونه به شر اوفساد جوړيږی نه به بی اتفاقی راځی، مطلب دا چه ته دهربنده مؤمن سره آسان حساب کوې الله تعالی به تا سره آسانی کوی، حضرت جرير بن عبدالله رضی الله تعالی عنه فرمايی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمايل چه : هغه وخت راتلونکې دې «چه دقيامت په ورځ » به تاسو خپل پروردګار په ړڼا سترګو وينئ

حسن بصری رحمة الله عليه دحضرت ابوهريرة رضی الله تعالی عنه نه روايت کوی چه تا جدار انبيا عليه السلام اوفرمايل چه دقيامت په ورځ به خلق «دالله پاك حضورته» درې ځلې پيش کولې شی «چه دې کې به» دوه ځل جرح اوغداری کولې شی اوچه کله دريم ځل باندې پيش شی نو دغه وخت به عملنامې را والوځی او دخلقو لاسونوته به ورسيږی پس دوئ به څه خلق «اهل سعادت اوخوش نصيب وی» په ښی لاس به عمل نامې واخلی اوڅه خلق به «بدبخت وی» په ګس لاس به عمل نامې واخلی «ترمذی»

علماؤ ليکلی دی چه اول ځل به دالله پاك په عدالت کې خلق بالکل منکر شی چه مونږ خبرنه وو اومونږ بالکل ګناهونه ندی کړی اومونږ سره زياتې کيږی ليکن چه الله

تعالی مختلف دلائل پیش کړی یعنې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به پرې گواهی
وکړی چه مونږ دعوت ورکړې وو هغوئ دا جواب راکړې وو او وروسته اُمتونه به په
محکې امتونو گواهی ورکړی چه فلانی قوم ته فلانې پیغمبر راغلې وو مونږ ته دغه
معلومات دخپل کتاب څخه شویدی اوبل به پرې خپل اندامونه گواهی وکړی چه په ما
باندې یی دا عمل کریدې دغه رنگه حفظه ملائکې دی دوئ به وایی چه مونږ عمری
اعمال لیکلی دی او یولیکلې شوې کتاب به ورکړې شی چه لوستلو او پوهیدلو ته به
یی حاجت نه وی پخپله به پرې پوهیږی نو په دویم ځلی به پیش شی نو په خپلو
گناهونو به قائل شی نو بیا به عذرونه شروع کړی مثلاً مانه سهوه اوغلطی شویده،
ستا درحمت اُمید مې لرلو اوپه غفلت کې ووم اوس ماته ښښنه وکړه اوبیرته مې دُنیا
ته ولیږه دابه کوم ، دا به کوم. الله تعالی به ورته اوفرمایی دا ټولې خبرې اوس ستانه
تیرې شویدی ، او چه په دریم ځل پیشی وشی نو حتمی فیصله به وی څوک به جنت ته
ځی او څوک به دوزخ ته غورزوی ((اعاذن الله منه)) ، په یو حدیث شریف کې دی چه
دقیامت په ورځ به خلق ډیری پریشانی کې وی د آدم علیه السلام په خدمت کې به
حاضر شی چه الله تعالی ته زمونږه دپاره سفارش وکړه چه مونږ نه دا سختی ختمه شی
هغه به ورته اوفرمایی چه تاسې ابراهیم (علیه السلام) ته لاړشئ زه دسفارش اهل نه یم
، ابراهیم علیه السلام به یی سوسی علیه السلام ته ولیږی ، موسی علیه السلام به
ورته اوفرمایی چه زه دسفارش قابل نه یم تاسې عیسی علیه السلام ته لاړشئ، ((فَاِنَّهُ
رُوْحُ اللهِ وَکَلِمَتُهُ))، عیسی علیه السلام به ورته اوفرمایی ((لَسْتُ لَهَا وَلٰکِنْ عَلَیْکُمْ
بِمُحَمَّدٍ)) زه ددې اهل نه یم تاسو محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته لاړشئ ،
محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم به ورته اوفرمایی چه آو زه ددې اهل یم اوستاسو
سفارش به کووم، بیابه د اجازت خداوندی نه وروسته نبی اکرم صلی الله علیه وسلم
سجده وکړی، بیا به دالله پاك دطرفنه ورته اوفرمایل شی چه ای محمده (صلی الله
علیه وسلم) سر اوچت کړه ته چه څه وایی زه اوریدونکې یم او چه څه غواړې درکوم به
یی، سفارش کوه ستا سفارش مقبول دې، اوبیا به محمد مصطفی صلی الله علیه
وسلم دُعا اوشفاعت وکړی هر یوتن سره به حساب کتاب کیږی، حتی که دچا په ذمه

دبل چا څه حق پاتی وی دهغې په باره کې به دده نیکی هغه ته ورکولې شی او که نیکی نه وی نو دهغه بدی به په ده اچولې شی ،اودغه سړی ته په حدیث شریف کې حقیقی مفلس ویلی شویدی، حضرت عکرمه رضی الله تعالی عنه فرمایی چه په دغه ورځ به یوتن دخپل خوئ نه په منّت یوه نیکی وغواړی چه زما ضرورت دې اوپدې ځما خلاصې کیږی مگر هغه به انکار وکړی بیابه دښځې اونورو خپلوانو نه مطالبه وکړی نو هغوئ به هم انکار وکړی ، لکه چه الله تعالی فرمایی ((وَإِن تَدْعُ مُثْقَلَةٌ إِلَىٰ حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ))

دحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دې چه ((یوه ورځ) ماته اُور ددوزخ را یاد شو نو ما وژړل، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل ولې ژاړې ، ما عرض وکړو چه ماته ددوزخ اور په یاد کې راغې (لدې خوف نه مې وژړل) او داسې مې ترینه هم پوښتنه وکړه چه هلته به تاسو دقیامت په ورځ خپل اهل بیت هم یاد لرئ ، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه هلته درې داسې موقعې دی چه هلته به هیچاته هیڅوك وریادنه وی یوه موقع هغه ده چه اعمال تللې شی او دمیزان ((یعنې دتول په وخت به مخامخ ولاړوی)) تردې پورې چه معلوم شی ورته (چه نیکی مې ))درنه شوه که بدی، یعنې سخت پریشان به وی چه څه به کیږی ، نو څوك به یې په یاد نه راځی

اوبله موقع په وخت دعملنامو کې ده ترهغه چه دې ونه وایی چه ((هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ))، یعنې بل هغه وخت دې چه جتمی فیصله کیږی اوعملنامې ورکولې شی چاته په ښی لاس اوچاته په چپ لاس کې ، ښی لاس والا به جنت ته ځی او چپ لاس والا به دوزخ ته ځی (نو پدې موقع به یې څوك یاد نه وی)

دریمه موقع هغه ده چه پُل صراط ته نژدې شی اوپل صراط ددوزخ په شاه کیښودلې شویدې نوهرچاسره به دخپل ځان فکر اوغم وی چه آیا زه به په خیریت سره جنت ته داخلیږم اوکه جهنم ته به غورزیږم ((رواه ابوداؤد))، حضرت بریدة رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل څوك چه قرآن مجید ولولی او ددې په ذریعه دخلقو نه څه واخلی او وې خوری نو را به شی په ورځ

دقیامت په داسې حال کې چه په مخ به یې غوښې نه وی صرف هډوکی به وی
دحضرت ابی هریرة رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه دقیامت په ورځ درې کسان دی چه نه به ورسره الله تعالی خبرې وکړی اونه به یې تزکیه وکړی، اوپه یوبل روایت کې دی چه نه به ورته درحم او کرم په نظر وګوری او دوئ لره به عذاب دردناك وی یو بوډا زنا کار، بل بادشاه دروغژن، دریم مفلس متکبرٌ «رواه مسلم»

دیوم الحشر یوعجیبه داستان دې ما دلته مختصر کړلو له وجهې داوږدوالی نه چه دلته یې موقع مساعده نده «الله پاك دې زمونږ نه راضی شی اودقیامت دورځې دتکلیفونونه دې راته نجات اوخلاصې راکړی، آمین یارب العالمین»

# اُخروی قرارګاه ((جنت یا دوزخ))

محترمو مسلمانانو هربادشاه خپل وفادار ته انعام ورکوی او باغی او مجرم ته سزاء ورکوی اوهر بادشاه شاهی مهمان خانه جوړه کړې وی او سنټرل بندی خانه یې هم جوړه کړې وی او چه څومره لوئ بادشاه وی نو دومره دده انعام او سزاء هم لویه وی. پس الله تعالی چه دبادشاهانو بادشاه دې دوفادار لپاره به یې لویه مهمان خانه تیاره کړې وی چه هغې ته جنت ویلی شی او دباغیانو دپاره به یې لویه بندی خانه تیاره کړې وی چه هغې ته جهنّم ویلی شی نو دجنت او دوزخ په وجود او حقیقت باندې ایمان راوړل ضروری دی، همدا اوس هم موجود دی، جنت دمکافاتو ځای دې او دوزخ دمجازاتو ځای دې، په جنت کې داخلیدل دالله تعالی په فضل سره دی او په دوزخ کې داخلیدل دالله تعالی دعدل په تقاضاء سره دی، په وعظونو کې دجنت بیان او ستاینه کیږی خو دجنت څمکه ډیره باکه اوقیمتی ده په دنیا کې دځمکې صفت هغه چاته کیدې شی چه دځمکې داخستو شوق لری او دځمکې د اخستو پیسی اوثمن ورسره وی نو دجنت دبې مثله اوقیمتی ځمکې صفت کول هم هغه چاته فائده ورکوی چه

دجنت خریدار او حاصلولو شوق لری دجنت دخرید کولو ثمن او پیسی کره ایمان، پاك اونیك اعمال دی لکه څنګه چه په کوټه پیسو ددُنیا دخرید اوفروخت ځای کي یومعمولی څادرهم نشی خرید کیدلې نو په قیامت کې به په میدان دحشر کي په کوټه ایمان او په کوټه عمل چیرته دجنت خمکه واخستې شی، راځئ چه په اتفاق سره ټول اهل اسلام مردانه اوزنانه دکره ایمان او کره عمل ذخیره ځان سره جمع کړو چه دجنت دپاکي اوقیمتی خمکي حقدار اوخریدار شو او دعُمری او ابدی بندی خانی ددوزخ نه بچ شو الله تعالی دې همیشه کامیابی اوخوشحالی دجنت راته نصیب کړی، آمین ثم آمین

ددوزخ او جنت نه غافل کیدل ندی پکار ((قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا رَأَيْتُ مِثْلَ النَّارِ نَامَ هَارِبُهَا وَلاَ مِثْلَ الْجَنَّةِ نَامَ طَالِبُهَا)) (رواه الترمذی)، **ترجمه** رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمایلو ما دجهنّم داُورنه زیات خطرناك شی ندې لیدلې چه دهغې نه تښتیدونکی اوده دې او دجنت نه مې زیات ښه شی ندې لیدلې چه دهغې غوښتونکی اوده دی

یعني دجنت خواهش لرونکی اوده ولی دی او د جهنّم نه دتیښتې کوشش ولی نکوی څکه چه خوفی شی نه سړی ځان ساتی او طمعی شې دحصول کوشش کوی

نو اوس به دجنت نعمتونو ته لنډه کتنه وکړو هغه دا چه الله تعالی فرمایی ((إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا + حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا + وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا + وَكَأْسًا دِهَاقًا + لاَ يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلاَ كِذَّابًا)) (سورة النباء)، **ترجمه** بیشکه پرهیزګارانو لره ځای دبری دې ((یعنې کامیابی ده ولی څکه چه)) باغونه دی او ونې دانګورو دی اوښځې پیغلې څوانانې همزولی دی اوپیالې ډکې دشرابونه دی، اونه به اوری هلته عبث (یعنې بکواس، فضول خبری) اونه دروغ))، مطلب دا چه جنت الله تعالی دمؤمن دپاره یو عجیبه مقام پیدا کړیدې چه دې کې دهر قسم نه معاش او سهولت موجود دې ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لاَ عَيْنٌ رَأَتْ وَلاَ أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلاَ خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ فَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ ﴿فَلاَ تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ﴾سورة سجده)) (متفق علیه)، **ترجمه** نبی اکرم صلی الله

علیه وسلم فرمایی د الله پاك ارشاد دې چه ما خپلو نیکو بندګانو دپاره هغه څه سار کړیدی چه نه یوې سترګې لیدلی دی اونه یو غوږ دهغې په باره کې څه اوریدلی دی اونه دچا زړه کې هغه تیر شویدی که تاسو غواړئ نو دا آیت ولولئ «فلا تعلم . الایه ـ» چه دنیکو بندګانو دپاره څومره خوشحالیانې دی چه پټې پرتې دی په قیامت کې به ورته حاصلیږی، اودینه بل کوم زیات اعزاز او اکرام شته چه الله تعالی پرې سلام وایی . لکه چه په سورة یاسین کې فرمایی «سلامٌ قولاً من ربٍّ رحیم» ، ترجمه سلام به وی ویل درب مهربان ، د طرف، نه، یعنې که بالذات وی اوکه په واسطه دملائکو سره وی دابن ماجه په یو روایت کې دی چه الله پاك به پخپله په جنتیانو سلام ارشاد اوفرمایی ، سبحان الله ، څه زبردست انعام دې ، په یو حدیث شریف کې دجنت شان ته اشاره ده «قال رسولُ الله صلّی اللهُ علیه وسلّم موضعُ سوْطٍ في الجنّة خیرٌ من الدُّنیا وما فیها» ، «متفق علیه» ، ترجمه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه دجنت دیوې کوړې دایښودو ځای ددنیا او ددنیا دسراوسامان نه بهتر دی، یعنې هغه مختصر ځای چه سړې پسره پرې غوړوی. یعنې که ددین په وجه دسړی ټوله دُنیا تباه شی ، ددې په بدله کې دجنت یو مختصر ځای سره نه برابریږی، د حضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چه مونږ درسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چه یا رسول الله ، جنت دڅه شی نه پیدا شویدې ؟ «یعنې عمارت یې دڅه شی نه جوړ شویدې» «قال بناؤها لبنةٌ من ذهبٍ ولبنةٌ من فضّة وملاطُها المسكُ وتُرابُها الزّعفرانُ وحصباؤها اللُّؤلؤُ والیاقوتُ من یدخلها ینعمُ ولا یبأسُ ویخلدُ ولا یموتُ لا تبلی ثیابُهم ولا یفنی شبابُهُ» ، «رواه الترمذی» ، ترجمه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل دخښتونه «اوهغه داسې» چه یوه خښته یې دسروزرو ده او یوه یې دسپینو زرو ده او مصالحه دخوشبویه مشکو ده او خاوره یې دزعفرانو په شان زیړه او خوشبویه ده او سرې یې رنګداره چمکداره دملغلرو اویاقوتو په شان دی او څوك چه پدې کې داخل شی عیش اوعشرت کې به وی هیڅکله به خفګان اوغم ونه وینی همیشه به ژوندې وی. مرګ به ونه وینی اونه به یې لباس زیړیږی اونه به یې

خواتې فنا کيږي

ابو هريرة رضی الله تعالی عنه فرمايی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دی کوم خلق چه جنت ته داخليږي پدې کې به د ټولو مخکې داخليدونکې ټولې به دغوار لسمې دسپوږمۍ په شان وی ((يعنې انبياء عليهم السلام))، اودينه پس چه کوم داخليږي هغه به دستورو په شان چمکدار وی او تمام جنتيان به ديو کس دزړه په شان وی ((يعنې خپلو منځوکې به يی دومره محبت وی لکه چه يو زړه وی)) اوهيڅ اختلاف به يی په زړونو کې نوی اوددوئ لپاره بيبيانی وی ((حورې)) چه دومره به ښائيسته وی چه په پونډو کې به يی هډوکی او هډوکو کې به يی مازغه په نظر راځی او ټول جنتيان به سحر او ماښام الله يادوی نه به وږو کې اودس ماتې کوی انه لوئ اونه به توکاڼې لاړې، بلغم وغيره غورځوی، اونه به ناروغه کيږي اوخُولې ((عرق)) به يی دمشکو په شان خوشبويه وی (متفق عليه نقل مختصر لضرورة)، حضرت معاذبن جبل رضی الله تعالی عنه روايت کوی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دی چه جنتی به جنت ته داخليږي ((پداسې حال کې)) چه په بدن به يی ويښته نوی اوبغير دږيرې نه به ځوانان وی او دديرشو (۳۰) يا درې ديرشو (۳۳) کالو به وی يعنې دراوی پدې کې شک دې (رواه الترمذی)

حضرت انس رضی الله تعالی عنه روايت کوی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دی چه جنت کې يو بازاردې، پدې کی به هره جمعه ((يعنې په اندازه دجمعې څکه چه په جنت کې شپه نشته ليکن په هغه اندازه ورځې دجمعې به)) خلق جمع کيږي او هلته به باد ((شمال)) چليږي ((يعنې نرم خوندور)) او دجنتيانو په مخونو او کپړو به (قسم، قسم) خوشبويانې شيندی، دې سره به دوئ ډير ښائسته شی کله چه دې بازار نه خپل اهل اوکورته راشی، نو کوروالا به ورته ووايی چه قسم په الله تعالی دې چه ستا حُسن اوجمال خو ډير زيات شويدې، دې به ورته په جواب کې ووايی په الله تعالی قسم چه ځما دتلونه پس ستاسو حُسن، جمال هم زيات شويدی (رواه مسلم)

دعکرمه رضی الله تعالی عنه څخه روايت دې فرمايی چه اهل جنت نارينه به د درې ديرش (۳۳) کالو وی او ښځې به يی دشپاړسو کالو وی او قدبه يی شپيته گزه وی

په اندازه دقامة دحضرت آدم علیه السلام اوپلن والی به یی دولس گزه وی او د ښخو قد به درې دیرش گزه وی اوپلن والې به یی دیرش گزه وی ځوانانې به وی بی گیرې رانجه دارې سترگې به یی وی دهریو به اویا (۷۰) قسمه جامې وی رنگونه به وهی په هروخت کې اویا (۷۰) قسمه رنگونه ، نو وینی به خپل مخ په مخ دهغې کې اوپه سینه دهغې اوپه پنډو دهغې کې او وینی به هغه مخ په مخ دده کې اوپه سینه دده کې اوپه پنډئ دده کې اونه به نشه لری اونه گرنگ اونوره پلیتی خو ډیره لرې ده، په دوئ به وینښته نوی، مگر دسر او وریځو اوبانو دسترگو اونه به وی وینښته دزیرناف اوترخگونو

په عریضة اللطائف کې دی چه الله تعالی فرمایی ((وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُخَلَّدُونَ))، یعنې گرزې به په دوئ هلکان همیشه، وقوله تعالی ((غِلْمَانٌ لَهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَكْنُونٌ))، هلکان دی دوئ دپاره گویاکه هغوئ ملغلرې دی پټې ساتلې شوی، یعنې غلمان ولدان به وی دوئ به داهل جنت خادمان وی ډیر زیات ښائسته به وی چه څوك یی ووینی هغه به عاشق شی پرې ، پوره طرف شکل یی په شان دسرو دې لاندې صورت یی په شان دښځو دې ، دې دپاره چه دوئ غیرت له وجهی چه خادمان دی ،ملب نه شی چه کله مؤمنان اراده دصحبت وکړی نو مقصود به یی حاصل شی او ویلی شویدی چه هلته به د دُنیا جنتی ښځی په سبب داعمالو سره بهترې خائسته وی په حورو باندې ، دیوحدیث شریف مضمون دې چه یوسړی یعنې جنتی ته به دسلو ښځو طاقت ورکړې شی.

حضرت جابررضی الله تعالی عنه روایت کوی چه یوکس درسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چه ایا جنتی به خوب کوی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل چه : خوب خو دمرگ ورور دې او ظاهره ده چه جنتی مری نه او چه مری نه نو اوده کیږی هم نه ((بیهقی فی شعب الایمان)) ، حکیم بن معاویه رضی الله تعالی عنه فرمایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه جنت کې به د اُوبو دریاب وی اودشهدودریاب به وی او دپیو دریاب به وی او دشرابو دریاب به وی

«دلته ددریاب نه مراد لونه وياله يا نهردي» اوبيا چه جنتيان به جنت کې داخل شي نو ددي نه به واره واره شاخونه بيل شي «يعني دهريو جنتي دکور به منځ کې به بهيږي» «ترمذي ، دارمي»

حضرت ابوهريرة رضی الله تعالی عنه فرمايلي دي چه تاسونه چه څوك دکمې درجې او د ادنی مقام خاوند وي دهغه مرتبه به داوي چه الله پاك به ورته اوفرمايي چه وغواړه چه څه غواړې. هغه به خپل خواهش بيان کړي . الله تعالی جل جلاله به يې خواهش واوري او ارشاد به اوفرمايي «تاچه کومه آرزو وکړه» هغه مې هم درکړو او دومره مې نورهم درکړه «رواه مسلم»

صُهَيب رومی رضی الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي چه کله بول جنتيان جنت کې خپلو خپلو ځايونو ته ورسيږي نو الله تعالی به وفرمايي چه چه ماناسو ته درکړي دي د دينه نور زيات هم درکړم «جنتيان» به عرض وکړي چه يا پروردګاره ولي تا زموږ مخونه منور کړي ندي ، ولی تا موږ جنت ته داخل کړي نه يو . ولی تا موږ له اور ددوزخ نه نجات راکړي ندي «يعني دعذاب نه دې بچ کړي يو او قسماقسم نعمتونه دي به جنت کې راکړي ددې نه به نور زيات څه نعمت وي» رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمايل چه اوچت به کړي حجاب «اوجنتی به نظر وکړي نو وبه وينې ديدار دالله تعالی «معلومه به شي» هغه وخت چه دې نه بهتر نعمت بشته دبل هيڅ شي دجنتي لپاره «رواه مسلم»

به بوروايت کې دي چه ټول نعمتونه به ترينه هيرشي نو الله پاك دې موږ ته دغه نعمتونه نصيب کړي آمين . ثم آمين يا رب العالمين

اوس به دوزخ ته لنډه کتنه وکړو . الله رب العزت بندګانو خپلو ته دهرڅه نه خبر ورکوي ددې لپاره چه دقيامت نه ورځ داسې ونه وايي چه زه دې بې خبره ساتلی وم نو ځکه قرآن مجيد هره موضوع ښکاره کړيده او حديث پاك کې مکمل تفصيل بيان شويدی. الله تعالی فرمايي «واعتدنا لمن كذّب بالسّاعة سعيرا». «سورة فرقان» . اوتيار کړيدي موږ دپاره دهغه چاچه نسبت د دروغو کوي قيامت ته اور ګرم. يعني

دغه ورځ ضروري راتلونکي ده او منکر نه یې د اُور بندي خانه تیاره شوې ده

حضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چه: ((قَالَ أُوقِدَ عَلَى النَّارِ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى احْمَرَّتْ ثُمَّ أُوقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى ابْيَضَّتْ ثُمَّ أُوقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى اسْوَدَّتْ فَهِيَ سَوْدَاءُ مُظْلِمَةٌ)). ((رواه الترمذي)).

**ترجمه**: چه وې فرمایل: بل کړې شوې اُور د دوزخ زر کاله ترهغه چه سور شو بیا بل کړی شو اُور د دوزخ زر کاله ترڅو چې سپین شو، بیا بل کړې شو اُور بیې زر کاله ترڅو چه تور شو نو د دوزخ اُور تور او تاریکي دی (چه اصلاً روشنایي نلري)

ابوسعید الخدري رضی الله تعالی عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چه ((قَالَ لِسُرَادِقُ النَّارِ أَرْبَعَةُ جُدُرٍ كِثَفُ كُلِّ جِدَارٍ مَسِيرَةُ أَرْبَعِينَ سَنَةً)). ((مشکوة))، **ترجمه** چه وې فرمایل: د دوزخ د اُور د احاطی لپاره څلور دیوالونه دي چه د هر دیوال عرض ((پلنوالی)) د څلویښت کاله تګ لارې ((مزل)) په اندازه دی)) حضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه روایت کوي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه ستاسو ((د دنیا)) اُور د دوزخ د اُور نه اویا نیمه حصه ده، یعنې دې اور سره چه یو کم اویا حصی تاو او ګرمي نوره یو ځای شي نو د دوزخ اُور دومره ګرم دی ((متفق علیه))

دیو حدیث شریف مضمون دې چه د دوزخیانو به څه خلق داسې وي چه د څنګرو ((ګیټو)) پورې به په اُور کې وي، او ځینی به د زنګنونو پورې په اُور کې ډوب وي او ځینې به ملا پورې وي او ځینی به داسې وي چه د څټ پورې به په اُور کې وي ((رواه مسلم)). د دې حدیث شریف نه دا خبره معلومه شوه چه د دوزخ عذاب د عملونو د نتیجې مطابق درجه په درجه دې

په یو حدیث شریف کې دی چه په دوزخ کې د ټولونه سپك عذاب د چاوي؟ دهغه کس به وي چه د اُور څپلۍ به ورته په خپوشي چه د پاسه به پرې د اُوردوه تسمې وي ((یعنې لاندې باندې به اُوروي)) او د دغه تاؤ په وجه به د ده په سر کې ماغزه داسې خوټکیږي لکه څرنګه چه دیګ جوش وهي ((او خوټکیږي)) ، او دې به دا وایی چه دا څما عذاب سخت دې حالانکه دا به د ټولونه کم عذاب وی ((متفق علیه))، اعاذنا الله منه

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

په يوبل حديث شريف کې دی چه دوزخ کې به نه داخليږی مگر داخل به شی هغه خلق چه شقي ((بدبخت)) وی صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعين عرض وکړو چه ای دالله تعالی رسوله (صلی الله عليه وسلم) بدبخت (شقی) څوك دې؟ نبی اکرم صلی الله عليه وسلم اوفرمايل هغه څوك دې چه نه دالله تعالی درضاء لپاره اطاعت کوی اونه دالله تعالی درضاء دپاره گناهونه پريږدی ((ترمذی))

مطلب دا چه: نيك عمل کوی نو رياء کاری کوی يا نيك عمل بالکل کوی نه بلکه گناهونو کې غرق وی، دې حديث نه معلومه شوه چه گنهگار لره دوزخ شته. په يوحديث شريف کی دی چه دوزخ کې به پرله پسې خلق غورځوی او دوزخ به وايي چه آيا شته نور افراد، نو الله تعالی به خپله خپه دقدرت پری کيږدی نو دوزخ به ووايي چه بس، بس، ستا په عزت اوکرم می دی قسم وی چه ډك شوم، دغه رنگې جنت کې به فراخه او خالی ځايونه پاتی وی نو دی خالی ځايونو لپاره به الله تعالی نور خلق پيدا کړی او په هغوئ به يی پوره کړی ((متفق عليه)).

په شرح المرقاة کې يی ليکلی دی چه دغه خلقو به په دنيا کې هيڅ نيك عمل نه وی کړې په خپل فضل اوکرم به يی داخل کړی اوخالی ځايونه به ډك شی ((الله پاك دې په مونږ باندې غيبی رحم وکړی، آمين يارب العالمين))

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

ناشر

مکتبه فاروقيه محله جنگی پشاور

زيراهتمام:

عبدالباری منيب لغمانی

★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# چراغ اُمت

## ((حضرت امام ابو حنيفة رحمة الله عليه))

محترمو مسلمانانو: زه نشم کولی پدې لنډه ليکنه کې دنوموړی امام اعظم ابو
حنيفة رحمه الله دژوند په ټولو اړخونو رڼا واچوم نوځکه خما ليکنه اجمالی ده. نو
امام اعظم يې علمی لقب او ابو حنيفة دده اسم کنيه وو چه په معنی دناسک، عابد،
مسلم او مائل الی الحق سره دې. يا په معنی ددواة دسياهی ((يعنې درنگ بوتل)) سره
دې چه دې لازم وو هميشه دسياهی سره. بعضو ويلی دی چه دده دلور نوم حنيفة وه
ليکن دا صحيح نده ځکه چه بغير دحماد صاحب نه يې اولاد ثابت ندې، نوم يې نعمان
دې دثابت ځوئ دې او نعمان په معنی دوينې ((دم)) سره دې چه قوام البدن دې. له
همدې وجهې نه ځينې علماؤ ويلی دی چه دا وينه روح دې نو امام اعظم ابو حنيفة
رحمه الله دفقهی قوام دې او دې هم دلائلو دبيانولو او د فقه دمشکلاتو منشأ ده. يا
نعمان دنعمت څخه مشتق دې نو امام ابو حنيفة رحمه الله هم نعمت دمخلوق الٰهی دې
او د نيکه په نوم کې يې مختلف روايات راغلی دی، خو راجح قول دادې چه دنيکه
نوم يې زوطی اولقب يې مرزبان ((يعنې رئيس)) وو. امام ابو حنيفة رحمه الله په کوفه
کې دهجرت په اتيا ((۸۰)) کال دعبد الله بن مروان په زمانه کې په يوې متدينی
اواصلی شمتنی اوسخی کورنی کې زيږيدلې او دامام شافعی رحمه الله دتولد په کال
په يو سل او پنځوس (۱۵۰) کې وفات شويدې، دامام اعظم رحمه الله دپلار اونيکونه
اصلاً دکابل دشمالی برخو اُوسيدونکی وو چه وروسته يې بيا نيکه کوفې ته دتجارت
په سلسله کې لاړو او هلته ميشته شو. امام اعظم رحمة الله عليه په کوفه کی دنيا ته
راغې او داسې بريښی چه دمور او پلار يو ځوئ وو، پلار يې ثابت په کوفه کی درخت
وجامو دوکان درلود او تجارت يې کاوه چه امام اعظم رحمة الله عليه هم وروسته بيا
دخپل پلار وظيفه په غاړه واخيسته او په تجارت مشغول شو، ده په وړو کتوب کې
قرآن عظيم الشان ياد کړ. خود علم په زده کړه يې څه موده وروسته پيل وکړ. په عقود

الجمال كتاب كې پخپله امام اعظم رحمة الله عليه دعلم لورته د راګرزيدو په هكله داسې حكايت كوي:

يوه ورځ دامام شعبي رحمة الله عليه ترخنګ تيريدم دې ناست وو چه زه يې وغوښتم او داسې راته وويل چيرته ځې؟ ما ورته وويل: فلاني سړي ته ورځم ده راته وويل: مقصدمې بازار او دوكان نه وو بلكه مطلب مې علماؤ ته ستا ورتګ وو ما ورته وويل علماؤ ته كم ورځم ده راته وويل داسې مكوه ا ته بايد په علم مشغول شې او دعلماؤ سره كينې، ځكه چه زه په تا كې ډير وېښتوب او تحريك وينم، امام اعظم رحمة الله عليه فرمايي چه داخبره ځما په زړه كې وغورځيده، د بازار اوتجارت تګ راتګ مې پريښود او په علم مې شروع وكړه چه په نتيجه كې الله تعالى پدې خبره ډيره ګټه راته ورسوله، او په يوبل كتاب «مناقب ابو حنيفة رحمه الله» كې درواياتونو په سلسله كې امام ابويوسف رحمة الله عليه داسې روايت كوي چه ما د ابوحنيفة رحمه الله څخه واوريدل چه ويل يې «زه دخپل پلار سره په شپږ نوي «۹۶هـ» كال چه شپاړس (۱۶) كلن وم حج ته ولاړم چه ناڅاپه ديو شيخ سره مخامخ شوم ډير خلك پرې راټول وو ما خپل پلارته وويل داشيخ څوك دې؟ ده راته وويل: دا هغه څوك دې چه دحضرت پيغمبر صلى الله عليه وسلم سره يې صحبت كړيدې او نوم يې عبدالله بن حارث دې ما خپل پلارته وويل: ده سره څه شې دې؟ ده راته وويل: ده سره هغه احاديث دي چه دحضرت نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه يې اوريدلي دي، ما ورته وويل چه ما ورنږدې كړه ا نو زما پلار مخ ته شو او دخلكو په منځ كې يې راته لاره كوله ترڅو نوموړي شيخ ته ورنږدې شوم اودغه حديث مې ورڅخه واوريدلو چه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي «مَنْ تَفَقَّهَ فِي دِيْنِ اللهِ كَفَاهُ هَمَّهُ وَرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لَايَحْتَسِبُ»، چا چه دالله تعالى په دين كې پوهه لاس ته راوړه نو الله تعالى به ددو لالهاندي اوسرګرداني وركه كړي او دداسې لوري نه به ورته روزي وركړي چه ګمان به يې نه وي، سره له دې چه دحضرات صحابه كرامو رضي الله تعالى عنهم څخه بالذات دامام اعظم صاحب په روايت كولو كې اختلاف شته خو اكثرو مشهورو علماؤ دا

روښانه کړیده چه امام اعظم رحمة الله علیه ته له اصحابو کرامو سره دلیدلو او ملاقات کولو شرف په برخه شویدی او علماؤ کرامو څرګنده کړیده چه دیو شخص د آنحضرت صلی الله علیه وسلم له یوه صحابی رضی الله تعالی عنه سره صرف لیدل دهغه دتابعی کیدو دثبوت لپاره کافی دی ، په هرحال د ثقه او معتبرو روایاتو یوزیات تولګی لکه ابن سعد په طبقاتو کې، حافظ ذهبی رحمه الله په تذکرة الحفاظ کې حافظ ابن حجر رحمه الله دیوې استفتاء په جواب کې حافظ عراقی رحمه الله اونورو علماؤ د حضرت امام ابو حنیفة رحمه الله لیدنه له حضرت انس بن مالك رضی الله تعالی عنه سره چه دحضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم لوئ صحابی او خاص خادم وو تایید اوتصدیق کړیدی

نو دابن خلکان ادعاء بی ځایه اوبی اعتباره ده چه تابعیت څخه یی انکار کړیدې، او په شرح ملاعلی قاری ، صفحه ۱۲۰ کې یی لیکلی دی چه «والحاصل ان التابعین افضل الامة بعد الصحابة رضی الله تعالی عنهم .الخ .» مطلب دا چه تابعین وروسته له صحابه وو نه بهتره دامت دی ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه بهتره دزمانونه ځما ده چه مرا دصحابه رضی الله تعالی عنهم دی اوبیا هغه زمانه بهتره ده چه اهل ددغې زمانی ته نژدی وی چه هغه تابعین دی ، او ملاعلی قاری رحمه الله زیاتوی چه موږ عقیده لرو چه امام ابو حنیفة رحمه الله پیشوا او بهتره دامامانو مجتهدینو دې او ښه پوه او کامل په علومو ددین کې له فقهاؤ څخه دی ځکه له جملې دتابعینو څخه دې او بیا بهتر دامامانو امام مالك رحمه الله دی ، ځکه چه دتبع تابعینو څخه دې او بیا امام شافعی رحمه الله بهتر دې ځکه چه شاګرد دامام مالك رحمه الله دې ، اوبل شاګرد یی امام محمد رحمه الله وو ، او بیا بهتره دامامانو امام احمد بن حنبل رحمه الله دې ځکه چه شاګر د دامام شافعی رحمه الله دې، همدا راز علامه ابن حجر رحمة الله علیه په خیرات الحسان کتاب کی لیکلی دی چه امام ابو حنیفة رحمه الله چراغ دامّت دې ځکه چه اولنې شخص دې چه فقه یی جوړه کړې او تصنیف کړیده ، اوپه بابونو او کتابونو یی ویشلې او ترتیب کړیده لکه څرنګه چه نن موجوده ده تر دې چه فرمایلی یی دی چه اول شخص دې چه کتاب دفرائضو «علم

میراث» او نورې موضوع ګانې یې استنباط او استخراج کړیدي او فرمايي چه امام شافعي حمه الله فرمایلي دي چه «من اراد الفقه فليلزم اصحاب ابی حنیفة رحمه الله فان المعاني قد يسرت لهم». يعنې چه څوك قصد دفقهي لرې نولازم دی ده لره چه اصحاب دامام ابو حنيفة رحمه الله ته ورشي ځکه چه معلومول دمعانيو دوی ته ډیر آسانه دی «يعنې دوی پرې ډیر پوه او عالمان دی» لکه څنګه چه امام اعظم رحمة الله عليه فقيه وو، همدارنګه محدّث هم وو خینی خلك چه دحضرت امام اعظم رحمة الله علیه له حالاتو او سيرت څخه خبرندي داسې ګمان کوی چه امام صاحب رحمه الله يوازې فقيه او مجتهد وو او له احادیثو څخه يې کافي برخه نلرله. حال دادې چه ددوئ دا ګمان پوره غلط دې او دا ګمان ددوئ په بی علمي دلالت کوی. مونږ که دامام صاحب رحمة الله علیه سیرت ته زیرشنو نو په کوفه کې دهغه په زمانه کې داسې محدث به پیدا نکړو چه امام صاحب رحمة الله علیه ورته د شاګردی زنګون نوی اینبې اوله هغه څخه يې د احادیثو درس نوی زده کړې «المحاسن الشامي». دهغو محدثینو او پوهانو شمیر چه په کوفه کې امام صاحب له هغو څخه احاديث زده کړیدی دری نوی (۹۳) پوری ذکر کړې شوی دی. علماء کرامو دامام صاحب له مشهورو استاذانو څخه امام شعبی رحمة الله علیه چه په شام او عربو کې دحدیثو له مشهورو استاذانو څخه ګڼل کیده او قریب له پنځه سوه (۵۰۰) اصحاب کرامو سره يې ليدل شوی بنودلی دی. همداراز په کوفه کې هشام رحمة الله عليه بن عروه وغيره، او په بصره کې قتادة رحمه الله وغيره او په مکه معظمه کې عطاء ابن ابی رياح وغيره څخه دعلم حدیثو درسونه لوستلي اوزده کړیدی چه ټول مشهور محدثين دی. امام ذهبی رحمه الله دحديثو دعلم دناقدينو څخه دې، امام صاحب رحمه الله يې دحديثو دحفاظو څخه ښودلې دې چه دهغوئ نظر دحديثو په معتبروالی او صحت کې داعتبار وړ ګڼلې شوی دې. حضرت عبدالله بن مبارك چه په احاديثو اوفقه کې د استاذ په توګه پیژندل شویدې دامام صاحب رحمه الله له شاګردانو څخه شميرل کیږی. او هغه محترم فرمايي چه. که دامام ابو حنيفة رحمه الله او امام ثوری رحمه الله صحبت نوې نو زه به هم لکه دنورو خلکو په شان وم، او سفيان ثوری او عبدالله بن مبارك احاديث له هغه څخه روايت

کول، او همدارنگه ابو محمد د ابو بکر بن عباس څخه روایت کوی چه ما دامام صاحب رحمه الله څخه اوریدلی دی چه زه یو واري دامام شعبی سره په یوه کشتۍ کې هم سفر ووم چه امام شعبی رحمه الله اوفرمایل: په معصیت اوګناه کی نذر اوکفاره نشته، ما وویل داسې ندی بلکه په معصیت کی هم نذر او کفاره صحیح کیدلې شی څکه چه الله تعالی په ظهار کې کفاره لازمه کړیده حال دا چه ظهار معصیت دې لکه چه الله پاك فرمایی: «وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُورًا» نو دامام شعبی رحمه الله لپاره بل جواب نه وو بغیر لدینه چه ووایی ته قیاس کوونکې یی، همدارنګه شیخینو له حضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه پداسې الفاظو احادیث روایت کړیدی «لوکان الایمان عند الثریا لتناله رجال من ابناء فارس» یعنې که ایمان، دین، علم په مخ د ځمکې اوشپږو آسمانونو کې پاتی نشی بلکه اووم آسمان ته تر ثریا پورې چه نوم دستوری دې ورسیږی حتمًا به یی هغه شخص چه له اولاده دفارس څخه دی راوړی اوپه عالم کې به یی نشر اوتیت کړی. څرنګه چه په فارس کې له امام ابوحنیفة رحمه الله څه بغیر بل څوك لرونکی دهغو صفتونو چه په ده کې موجود وو ندې پیداشوې نو څکه مقصد دحدیث امام ابوحنیفة رحمه الله دې بلل کیږی. اوترجیح دمذهب دده ترې ثابتیږی.

اوس به دامام اعظم رحمة الله علیه صفاتو ته یوه لنډه کتنه وکړو، څکه چه دده فضیلتونه ډیر دی چه یوله هغو نه دادې چه پنځوس حجونه یی کړیدی، یوه ورځ په کعبه کې دننه ددوو ستنو ترمینځ په لمانځه ودریده پنځلس سپاری قرآن شریف یی په یو رکعت کې او پنځلس نوریی په بل رکعت کې قرائت کړ ترڅو چه قرآن شریف ختم شو کله چه سلام یی وګرځولو وې ژړل او له رب خپل سره یی مناجات وکړو او داسې یی اوفرمایل: «الهی ما عبدك هذا العبد الضعیف حق عبادتك لکن عرفك حق معرفتك فهب نقصان خدمته لکمال معرفته، فهتف هاتف من جانب البیت یا اباحنیفة قد عرفتنا حق المعرفة وخدمتنا فاحسنت الخدمة قد غفرنا لك ولمن تبعك ممن كان علی مذهبك الی یوم القیامة «درمختار، صفحه ۳۸، جلد۱»»، «یعنې یا الله لکه

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ځرنګه چه له شانه ستا سره عبادت کول ستا ښايي دغه عاجز بنده ندې کړې خوپه حق او رېښتيا پيژندګلو سره يې پيژندلی يې هغه نقص چه ستا په خدمت کې پيښ شويدې ښښنه يې وکړه له جهته دپوره معرفته ستا ، نو يوغيبي آواز کوونکی له يوطرف دبيت الله څخه آواز وکړو چه يا اباحنيفة په تحقيق سره تا پيژندلې يم په حق پيژندلو سره او خدمت ځما دې په ښه طريقه سره کړيدې اوښښنه مي کړې تاته او هغه چاته چه په مذهب ستا وي او همدارنګه ښښنه مې کړيده پيروانو ستا ته تر ورځی دقيام پوری» اوبل دا چه ځلويښت کاله دسحر لمونځ دماسخوتن په اوداسه اداء کړيدې ، اوبل دا چه ديرش (۳۰) کاله يې روژه نيولی ده ، اوبل دا چه دې په کوم ځای وفات شويدې په هغه ځای کې يې اويا زره (۷۰۰۰۰) واري قرآن شريف ختم کړيدی

اوبل دا چه ده سل (۱۰۰) واری خپل رب په خوب کې ليدلې دې ،علامه الحافظ النجم الغيطی ذکر کړيدی چه کله امام اعظم رحمة الله عليه نه نوی (۹۹) واری الله تعالی په خوب کې وليدلو نو ځان سره يې وويل چه کچيرې سلم (۱۰۰) واری مې په خوب کې وليدلو نو خامخا به زه ترينه پوښتنه کووم چه په څه سره به مخلوق دقيام په ورځ ستا دعذاب څخه خلاصيږی ، نو فرمايي چه سلم ځلی يې وليدلو اوپوښتنه يې ترينه وکړه نو الله تعالی ورته اوفرمايل چه څوك وروسته دصبايي او بيګايي څخه دغه الفاظ لولی «سبحان الابدیّ الابد سبحان الواحد الاحد سبحان الفرد الصمد سبحان رافع السماء بغير عمد سبحان من بسط الارض علی ماءٍ جمد سبحان من خلق الخلق فاحصاهم عدد سبحان من قسم الرِّزق ولم ينس احد ، سبحان الذی لم يتخذ صاحبة ولا ولد ، سبحان الذی لم يلد ولم يولد ولم يکن له کفواً احد» نو ځما دعذاب څخه به خلاص شي.

دعبدالله بن مبارك رحمه الله په مجلس کې دامام اعظم رحمة الله عليه ذکر وشو، نو ده اوفرمايل «ماذا يقال فی رجل عرضت عليه الدنيا والاموال فنبذها وضُرِب بالسياط فصبرعليها ولم يدخل فيما کان غيره يستدعيه» ، يعنې څه وايئ په حق دهغه سړی کې چه دنيا او اموال ورته وړاندې شول نو وي غورځول او په دورو ووهل شو نو صبر يې وکړو دهغوئ مطالبه يې قبوله نکړله،

**دامام صاحب رحمة الله علیه علم:** فرمایی چه محمد بن علي بن الحسین بن علی بن ابی طالب ملاقات وکړو دامام صاحب رحمه الله سره نو ده ورته وویل ای امام اعظم صاحبه ! رسیدلي دي ماته چه ته جوړوې مسائل په قیاس سره او پرېږدې احادیث دنیکه ځما ، پس ده ورته اوفرمایل ای درسول الله صلی الله علیه وسلم خویه زه ستا څخه ددرېو مسائلو پوښتنه کوم نو ماته یې جواب راکړه ایو دا چه لمونځ بهتر دې که روژه ، نو هغه وویل چه لمونځ ، ده وویل کچیرې مونږ قیاس کولې نو پکار وه چه حیض څخه ښځه پاکه شي دلمانځه قضاء راوړي د روژې قضاء رانه وړي، لیکن مونږ وایو چه د روژې قضاء به راوړي نه دلمانځه ، له وجهې دحدیث شریف نه ، دویم دا چه مَنی ډیرپلیت «گنده» دی که بَولی «متیازې» هغه وویل بولې ، نو امام صاحب رحمه الله وویل کچیرې مونږ قیاس کولې نو غسل به مو په بولو لازم کړې وو نه په منیو ، نو مونږ غسل په منی لازم گڼو له وجهی دآیت اوحدیث نه ،دریم دا چه ښځه ډیره ضعیفه ده که سړې ، هغه وویل ښځه، نو امام صاحب رحمة الله علیه ورته اوویل که مونږ قیاس کولې نو پکار وه چه دښځې میراث دوچنده وی ځکه چه دا بې وسه ده لیکن مونږ وایو چه دسړی لپاره میراث دوچنده دې، کما قال الله تعالی «للذّكرِ مِثلُ حَظّ الأنثَيَين» فلهذا زمونږ مذهب بناء دې په کتاب الله اوسنت درسول الله صلی الله علیه وسلم باندې ، بیا په اقوالو دصحابه وو باندې بیا په اجماع دأمت باندې که پدې کې پیدا نشو بیا مونږ اجتهاد کوو په قیاس، نو ډیر عزت ورکړو محمدبن علی ده لره او ډیره مهربانی یې ورسره وکړه او عذر یې ترینه وکړو او دمخالفینو معاندینو قول یې پرېښودلو په حق دده کی په مفتاح السعادة کې یې لیکلی دی چه هرکله ثابت صاحب وفات شو نو دامام صاحب رحمه الله مور دامام جعفر صادق سره نکاح وکړه او امام اعظم صاحب رحمه الله دجعفر صادق رحمه الله په غیږه کې تربیّت حاصل کړو دغه بل ستر منصب دې دده لپاره او دقضاء عهده یې قبوله نکړه هغه خو مشهوره واقعه دهاوبیا چه جیل یعنې بندیخانه کې وفات شو اوچاویلی چه ده ته دزهرو پیاله ورکړې شوه ده وویل زه دخپل ځان خودکش نه جوړیږم بیایې دزهرو پیالۍ په خوله کې ور واړوله اودې شهید شو «الله پاك دې دده له برکته مونږ ته هم وصال ، کامل ، معرفت شهادت نصیب کړی، آمین یارب العالمین»

# ضمیمه ((خاتمه))

محترمو مسلمانانو: حدیث شریف دي چه څوك څما اُمت ته ددین څلویښت حدیثونه اوښایی او دنفعې رسولو په خاطر څلویښت احادیث یاد کړی نو دقیامت په ورځ به الله تعالی هغه دعالمانو په ډله کې پورته کړی او زه به دقیامت په ورځ دهغه شفاعت کوونکې اوګواه یم، نو ځکه مونږ څلویښت احادیث په ذکر سره په دې خاتمه کې خاص کوو

(۱) ((عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمْرِ))، ((رواه الترمذی)).

**ترجمه**: دحضرت انس رضی الله تعالی عنه څخه روایت دې چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: یو داسې وخت به په خلکو راشی چه په هغې کې به اهل دین ته په دین ټینګ پاتې کیدل داسی وی لکه د اُورسکروټې اخستل))

**نکته**: یعنې نیکو خلقو ته خوشخبری ده چه دوئ به سکروټی سره مستی او لوبی کوی ځکه چه بهادران دی

(۲) ((عَنْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُوْلِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُوْلِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ إِلَى امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ))، ((متفق علیه)). **ترجمه**: دحضرت عمربن خطاب رضی الله تعالی عنه څخه روایت دې فرمایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی. ندی معتبر عملونه مګر په نیتونو سره او نشته دی سړی لره مګر هغه چه نیت یی کړې وی نو دچاچه هجرت طرف دالله تعالی اورسول دده ته وی نو هجرت دده الله تعالی اورسول دده ته دې او دچا چه هجرت طرف ددنیا ته وی چه ورسیږی هغې ته یا ښځې طرفته وی چه نکاح وکړی له هغې سره نو پس هجرت یی هغه ته دې چه هجرت یی ورته کړیدې.

**نکته**: ددې حدیث شریف په الفاظو کې ډیر قلت دې، البته معنی یی ډیره اوږده

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ده اوبعضې علماؤ دې حديث ته دنيم علم درجه ورکړيده
خلاصه دا چه هغه عمل الله پاك ته منظور دې او بنده يې داجر اوثواب مستحق کيدې شي چه هغه صرف او صرف دالله تعالى درضاء لپاره وي اوکه عمل درياء كارى په طور وى خواه که هغه عمل مالى وى اوکه بدنى او يا لسانى وى نو دعذاب باعث به وى اوبد اعمال په ښه نيت سره نه ښه کيږى بلکه ښه اعمال په نيت سره لويږى

(۳) ((عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالىٰ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّٰى أَكُوْنَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ)) (متفق عليه). **ترجمه** دحضرت انس رضى الله تعالى عنه څخه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دى چه هيڅ يوكس له تاسونه ترهغې كامل مؤمن نشي جوريدى چه ترڅو ورته زه دخپل پلار اودخپل اولاد او دټولو خلكو نه زيات محبوب نشم

**نکته** هرکله چه دپلار يا دخوئ يا دورور عزيز سره يوداسې مسئله راشي چه هغه دهغوئ په تاوان کې وى يعنې درسول الله صلى الله عليه وسلم د طريقې نه خلاف وى ته به دهغوئ خفگان اوتاوان ته نه گورې او درسول الله صلى الله عليه وسلم دطريقې حمايت به کوې اگر که پدې حقله له تانه ټول خلك خفه شى، يعنې درسول الله صلى الله عليه وسلم طريقې به په خپل خان کې عملى کړى او د پوره عالم سوچ او فكر ورسره پيدا شى

(۴) ((وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالىٰ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحَبَّ لِلّٰهِ وَأَبْغَضَ لِلّٰهِ وَأَعْطٰى لِلّٰهِ وَمَنَعَ لِلّٰهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الْإِيْمَانَ)) (رواه ابوداؤد). **ترجمه** دحضرت ابوامامة رضى الله تعالى عنه څخه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل كوم سړې چه صرف دالله تعالى درضاء لپاره دچا سره محبت ساتى او دالله تعالى درضاء لپاره چا سره بغض اوكينه ساتى اودالله تعالى درضاء لپاره خرچ اومصرف كوى، او دالله تعالى درضاء لپاره مصرف اوخرچ نه كوى نو يقينًا ده خپل ايمان كامل او قوى كړو

**نکته** يعنې محبت صرف دالله تعالى لپاره وى دطمع اوتوقع وغير دپاره نوى

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

اوبغض صرف دهغه چاسره وی چه دشرعی احکامو خلاف عمل کوی او پیسې صرف په نیکو کارو کې مصرف کوی اوپه شیطانی کارونو کې دپیسو دمصرف څخه اجتناب کوی نو دا به دکامل ایمان علامات وی

(۵) ((وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَحْدَثَ فِيْ اَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ)) ، (متفق عليه)، **ترجمه** : دحضرت عائشه رضی الله تعالی عنها څخه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چاچه زمونږ په دین کې نوې خبره را پیدا کړه چه هغه پدې کې نوی نو هغه مردود دې

**نکته** دغه ډیر طولانی بحث دې صرف دومره به ووایو چه دهرعمل ثبوت چه په قرآن مجید اوحدیث شریف کې نه وی نو دهغې ګول بدعت دې

(۶) ((وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاتُقْبَلُ صَلَاةٌ بِغَيْرِ طُهُوْرٍ وَلَا صَدَقَةٌ مِنْ غُلُوْلٍ)) ، (رواه مسلم)، **ترجمه** : دحضرت ابن عمررضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل، چه بغیر د اودس څخه لمونځ نه قبلیږی او دحرام مال څخه خیرات نه قبلیږی.

**نکته** : چونکه اول خو واضح دې نو دمال حرام څخه صدقه ورکول دصدقې توهین دې په نیت دثواب کفر دې البته پدې نیت به یی ورکوی چه ذمه یی فارغه شی او فقیر ته یی اخذ او اخستل جائزدی البته که فقیر ورته دُعا وکړه چه الله تعالی دې اجر درکړی نوسائل هم کافر شو نو دحرامو څخه اجتناب ضروری دې

(۷) ((وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ يَا عَلِيُّ ثَلَاثٌ لَا تُؤَخِّرْهَا الصَّلَاةُ إِذَا أَتَتْ وَالْجَنَازَةُ إِذَا حَضَرَتْ وَالْأَيِّمُ إِذَا وَجَدْتَ لَهَا كُفْئًا)) ، (رواه الترمذی)، **ترجمه** : دحضرت علی رضی الله تعالی عنه څخه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ده ته اوفرمایل : ای علی په درې کارونو کې تاخیر مکوه یعنې بیړه اوجلتی پکې کوه ، یودا چه لمونځ اداء کوه چه اول وخت یی شی،دویم دا چه جنازه کوه کله چه حاضره شی ((یعنې دتکفین، تجهیزاوتدفین پروګرام یی پوره شی)) اودریم دا چه بی میړه ښځه چه سیال یی پیدا شی.

**نکته** : لمونځ پـه وقت مستحبه کې ادا، کول پکار دي، پـه جنازې کې دغلطو ...راجونو ښځه ځان ژغورل ضروري دي او خپل مسؤليت دښځو پـه حقله ترسره کول ...ضروري دي چه د آخرت مسؤوليت ځنځه ځان وساتي

(۸) ((عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ رضى الله تعالى عنها قال لعن رسُولُ الله صلى اللهُ عليه ...وَسَلَّمَ النَّائِحَةَ وَالْمُسْتَمِعَةَ))، (رواه ابوداؤد)، **ترجمه** دحضرت ابوسعيد خدري رضى الله ...تعالى عنه ښځه روايت دي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم پـه هغه ښځه چه (پـه ...مړي)) ژاړي او پـه هغه چا چه دغه ژړا اوري پـه دواړو باندې لعنت ويلى دی

**نکته** : کچيرې چيغې کوی بی ځايه دمړی ستاينه کوی اونور ځان ته متوجه کوی ...نو دغه ګناه ده او اوريدل يې ممنوع دی. البته که دصدمې پـه وجه يې دسترګو ځخه ...اوښکې بهيږی ګډوډ الفاظ نه وايې بيا خير دي. البته که مړی وصيت کړې وی اويا پـه ...حال دژوند کې پرې رضاء وی بيا مړی ته پدې ژړا عذاب ورکولی شی والا فلا

(۹) ((وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا ...ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ أَنْ تَبْذُلَ الْفَضْلَ خَيْرٌ لَكَ وَأَنْ تُمْسِكَهُ شَرٌّ لَكَ وَلَا تُلَامُ عَلَى كَفَافٍ وَابْدَأْ بِمَنْ ...تَعُولُ)) (رواه مسلم)، **ترجمه** دحضرت امامة رضى الله تعالى عنه نه روايت دي چه ...رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل اى د آدم اولاده کوم مال چه ستا دحاجت ...او ضرورة نه زيات دي دهغې خرچ کول ((دالله تعالى درضاء لپاره)) ستا دپاره بهتر ...دی، اوبندول يې ((يعنې دالله تعالى درضاء لپاره خيرات صدقات نه ورکول دالله ...تعالى پـه نيزد هم او دبندګانو پـه نيزد هم)) ستا دپاره بد دی. اوپـه قدر ضرورت مال ...باندې ته ملامت نه يې ((او دخرچ کولو پـه وخت کې)) دخپل اولاد نه شروع وکړه

**نکته** : يقيناً هغه مال بهتر دي چه د آخرت لپاره ذخيره شی اوعلـه دي پکار راشی ...اوبل دا چه صدقاتو کې احق فالاحق باندې نظر اچول پکار دی

(۱۰) ((وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ صَلَاةٌ أَثْقَلَ عَلَى ...الْمُنَافِقِينَ مِنَ الْفَجْرِ وَالْعِشَاءِ وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِيهِمَا لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا))، (متفق عليه)،
**ترجمه** : دحضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه ښځه روايت دي چه رسول الله صلى الله

علیه وسلم اوفرمایل منافقانو باندې دماسخوتن اودسحر لمونځونو نه بل یولمونځ زیات سخت هم نه وی کچیرې پدې دواړو لمونځونو ثواب دوئ ته معلوم شی نو دکناتو په په سرونو به راشی لمانځه ته

**نکته** معلومه خبره ده چه کوم کار کې ثواب ډیر وی اګرچه ډیر سخت وی هلته بنده صالح زیاته منډه وهی ، دمنافقانو غوندې ریاء کاری اوظاهری آسانه اعمالو لپاره خاصکر تیارنه وی

(۱۱) ((عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلَا تَسْتَدْبِرُوهَا)) ، (متفق علیه) ، **ترجمه** دحضرت ابو ایوب انصاری رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل هرکله چه تاسو دحاجت انسانی ځای ته ورسیږئ نو مه دقبلې په طرف مخ کوئ او مه ورته شاه کوئ

**نکته** بیت الله شریف اومکرم ځای ته په قضاء حاجت کې مخ اوشاه کول پکار ندی بلکه ښی اړخ یا چپ اړخ کول پکار دی ، حتّی چه دخپو اوږدوالی اوغسل کی هم مخامخ قبلې ته اودریدل مکروه دی ځکه چه دا سوء ادب دې

(۱۲) ((عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِي لَا يَذْكُرُ رَبَّهُ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ)) ، (متفق علیه) ، **ترجمه** دحضرت ابوموسی رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه . کوم سړې دخپل رب ذکر کوی او کوم سړې یې نکوی دهغه مثال دژوندی اومړی دې ((یعنې ذاکر ژوندې او غافل مړدې))

**نکته** . دمسلمان اصلی مقصد په دُنیا کې دخپل خالق رضاء ده دهغه دمحبت علامه همدغه ده چه خپل محبوب په کثرت سره یادوی

(۱۳) ((عَنْ سِنَانِ بْنِ سَنَّةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّاعِمُ الشَّاكِرُ كَالصَّائِمِ الصَّابِرِ)) ، (رواه الدارمی والترمذی)) ، **ترجمه** : حضرت سنان بن سنه رضی الله تعالی عنه دخپل پلار نه روایت کړیدې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم

ارشاد اوفرمایلو په خوراك باندې شکر کوونکی په شان دصبرناك روژه دار دې

**نکته** : الله تعالی دهغه بنده څخه خوشحاليږي چه دوډۍ خوري اوشکر اوباسی که اوبه څښــی نو شکر اوباسی نودغه دوډۍ تیاریدل بیا غاښونو کې میده کیدل بیا معدې کې ترینه وینه، سوداء، صفراء، بلغم، اوفضولیات جوړیدل ډیر نعمتونه دی که لږ غوندې فکر وکړې شی

(۱۴) ((وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَبُ كَسْـبِ الْحَـلَالِ فَرِيْضَـةٌ بَعْـدَ الْفَرِيْضَةِ)) ، (رواه البیهقی) ، **ترجمه** رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك اوفرمایلو چه دحلالې ګټې کسب تلاش کول یوفرض دی پس له فرضونه

**نکته** : یعنې دفرض لمانځه وغیره نه پس دهغې درجه ده، دا نه چه په هغی داسې مصروف شی چه عبادات یې هیرشی اوچاته چه غِناء ظاهری یا باطنی نصیب وی هغه ددې نه بالکل مستثناء دی

(۱۵) ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي)) ، (رواه مسلم) . **ترجمه** دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه کوم سړې غداری ((دهوکه)) وکړی هغه ماسره تعلق ساتونکې ندې

**نکته** : مسلمان لپاره پکار دی چه هره معامله په ریښتیا سره ترسره کړی، څوك غلط نکړی چه د بد دُعاء باعث وګرځی او دآخرت خُسران یې په برخه شی.

۱۶ـ ((عَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرْحَمُ اللهُ مَنْ لَا يَرْحَمُ النَّاسَ)) (متفق علیه) ، **ترجمه** دحضرت جریر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه څخه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه . الله تعالی په هغه سړی باندې رحم نکوی کوم چه په خلقو باندې رحم ونکړی

**نکته** . پکار دی چه حقوق عامّه اوخاصّه په نظر کې ونیول شی او دحقوق ادائګی په شوق سره ترسره کړې شی

(۱۷) ((وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ اَلْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَـاءُ الـزَّرْعَ)) .

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

«رواه البیهقی»، **ترجمه** رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمایلو چه سندري په زړه کې نفاق پیدا کوی لکه څرنګه چه اوبه فصل لره زرغون کوی

**نکته** فقهاؤ اوصوفیانو چه کوم شرائط دجواز سماع لپاره بیان کړیدی هغه ترینه مستثنی دی. اوتفصیل یی په حق السماع رساله کې دې ورنه دسندرې وغیره اوریدل ګمراهی ده. دا دنفس خوشحالي ده او د آخرت نه انسان غافله کوی

(۱۸) «وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ قَائِمِ اللَّيْلِ وَصَائِمِ النَّهَارِ»، «رواه ابوداؤد»، **ترجمه** دحضرت عائشه رضی الله تعالی عنه نه روایت دې فرمایی چه ما درسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه هغه اوفرمایل چه بیشکه مؤمن دښه خوی په سبب سره دشپې بیدارساتونکی او ورځې روژه ساتونکی درجه حاصلوی

**نکته** دغوصې خوړل او بدی معاف کول او د بدی په مقابل کې احسان ورسره کول بهترین ښه خوئ دې

(۱۹) «عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِتْنَةً أَضَرَّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ»، «متفق علیه»، **ترجمه** دحضرت اسامه بن زید رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه ما دخپل ځان نه وروسته هیڅ فتنه دسړو لپاره له ښځو نه زیاته ضروری پرې نه ښوده

**نکته** انسان لپاره ددې پابندی ضروری ده چه خپل نفس اونس «بطن» شهوات مات کړی څکه چه وایی که دنفس ومنې ورك به شی که دنس ومنې سپك به شې

(۲۰) «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ»، «رواه مالك وابن ماجه واحمد»، **ترجمه** دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاداوفرمایلو چه دانسان داسلام خوبی داده چه هغه خبره پریږدی چه دهغې هغه لره څه فائده مقصود نه وی

**نکته** نو په عبث اوبی فائدې خبرو اوعملونو باندې ژوند ضائع کول دجاهل سړی

کار دې د مسلمان د پاره ضروري دی چه هره خبره او عمل یې د فائدې او نفعې وی

(۲۱) ((وقال عليه الصلوٰة والسلام حُبُّ الدُّنيا رأسُ كلِّ خطيئةٍ)). ((رواه البيهقي))

**ترجمه** رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك او فرمایلو چه د دنیا محبت د هرې گناه جرړه ده

**نکته** د دنیا کسب مذموم نه دې بلکه ممدوح دې البته حب الدنیا مذموم دې د هلاکت باعث دې

(۲۲) ((عَنْ شدّاد بن أوسٍ رضي الله تعالى عنه عن النبيّ صلّى الله عليه وسلّم قال الكيّسُ مَنْ دانَ نفسهُ وعملَ لما بعدَ الموتِ والعاجزُ مَنْ أتبعَ نفسهُ هواها وتمنّى على الله))، ((رواه الترمذي))، **ترجمه** د حضرت شداد بن اوس رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه عقلمند هغه سړې دې چه خپل خان تابعدار کړی او آخرت د پاره عمل وکړی او بې وقوفه هغه سړې دې چه خپل نفس بې خواهشات نفسانیه پسې ولگولو او ((بیاهم)) الله تعالی نه ((بې تویی)) امید کوونکې د مغفرت او سیدلو

**نکته** واقعًا هوښیار سړې د آخرت لپاره تیاري کوی. آخرت مقصود بولی او دنیا صرف ضرورت د آخرت تو بنه گرځوی

(۲۳) ((وعَنْ أنسٍ رضيَ الله تعالى عنهُ أنّ النّبيّ صلّى الله عليهِ وسلّمَ قال كُلُّ ابنِ آدمَ خطّاءٌ وخيرُ الخطّائينَ التّوّابونَ))، ((رواه الترمذي))، **ترجمه** د حضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك اوفرمایلو چه ټول بنی آدم خطائی کوونکی دی او په خطاء کوونکو کې توبه کوونکی بهتر دی

**نکته** توبه دې ته وایی چه په مخکې فعل باندې پښیمانه شی او فی الحال ترینه منعه شی او آینده کې عزم او قصد وکړی چه نه به یې کوم

(۲۴) ((وعَنْ سهلِ بنِ سعدٍ السّاعديِّ رضيَ الله تعالى عنهُ قالَ قالَ رسولُ الله صلّى الله عليهِ وسلّمَ ازهدْ في الدُّنيا يُحبّكَ اللهُ وازهدْ فيما عندَ النّاسِ يُحبُّكَ النّاسُ)) ((رواه الترمذي))، **ترجمه** د حضرت سهل بن سعد الساعدی رضی الله تعالی عنه نه روایت

دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاداوفرمایلو چه ته ددنیا سره بی رغبته اوسیږه الله تعالی به تا سره محبت وکړی، اوڅه چه خلقو سره وی دهغې سره هم بی رغبته اوسیږه هغه خلق به هم تالره محبوب کړی.

**نکته** دزهد معنی دا چه حرص کم کړی دانه چه زړې جامې اوخراب خوراك کې مشغول شی

(۲۵) ((وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ اَلْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِـيْ طَاعَـةِ اللهِ)). (رواه البیهقی) . **ترجمه** رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمایلو (په اصل کې) مجاهد هغه دې چه خپل نفس سره داتباع خداوندی په باره کې جهاد وکړی.

**نکته** لکه څرنګه چه کفارو سره د اعلاء کلمة الله لپاره جهاد کیږی همدارنګه نفس سره هم جهاد کول پکار دی چه نفس دالله تعالی فرمانبردارشی او دا جهاد مقدم او افضل دې په هغه مشهور جهادباندې

(۲۶) ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَـالَ الشَّهِيدُ لاَ يَجِدُ مَسَّ الْقَتْلِ إِلاَّ كَمَا يَجِدُ أَحَدُكُمْ الْقَرْصَـةَ يُقْرَصُـهَا)). (رواه النسائی) .

**ترجمه** . دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه . شهید نه بیا مومی څه اثر (خوږ درد)) دقتل مګر (دومره) لکه چه اومومی یوله تاسونه چیچل دمیږی.

**نکته** . ثوابونه او مرتبې دشهادت هغه چالره دی چه نیت یې خالص دالله تعالی رضاء او داسلام اوچتوالې وی . ورنه که مقصود یې مال عزت وغیره وی بیابه ددې لوړو مراتبو څخه محروم وی

(۲۷) ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَـيْسَ الْغِنَى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ وَلَكِنَّ الْغِنَى غِنَى الـنَّفْسِ)) ، (متفق علیه) ، **ترجمه** دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك اوفرمایلو چه نده غناء دډیره سامانه ددنیا نه لیکن غناء . غناء دزړه ده

**نکته** قناعت اوصبر کول په هغه شی چه الله تعالی ده ته ورکړی وی اګر که لږ وی

هم دا اصلي غني ده

(۲۸) ((قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التُّؤَدَةُ فِي كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا فِي عَمَلِ الْآخِرَةِ))، (رواه ابوداؤد)، **ترجمه** رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارك اوفرمايلو چه قراري اومهلت په هرشي کې بهتر دې مګر په عمل دآخرت کې تندي بهتره ده

**نکته** دفاني دُنيا کارونه نه ځنډيږي ګنه به هغه څوك وکړي چه دآخرت لپاره ځان سره توښه جوړه کړي

(۲۹) ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ شَرُّ مَا فِي رَجُلٍ شُحٌّ هَالِعٌ وَجُبْنٌ خَالِعٌ))، (رواه ابوداؤد)، **ترجمه** دحضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه روايت دې فرمايي چه ما درسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلی دی چه هغه ارشاد اوفرمايلو چه بد ترين عادتونه چه کوم په سړي کې دی هغه دوه دی: يوهغه بخل دې چه بې صبره کوونکی وی، دويم هغه بُزدلي او ويره ده چه ساه ويستونکې وی.

**نکته**: واقعًا بُخل او بُزدلي انسان دناکامۍ سره مخامخ کوی.

(۳۰) ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَأَلَ النَّاسَ أَمْوَالَهُمْ تَكَثُّرًا فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْ لِيَسْتَكْثِرْ))، (رواه مسلم)، **ترجمه** دحضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمايلو چه څوك دې دپاره سوال کوی چه پخپل مال کې زياتوالې وکړی دې ددوزخ سکروټې غواړي اوس دده خوښه ده چه لږ يې غواړي او که زيات يې غواړي

**نکته** سوال اوخيراوصدقات غوښتل بې ضرورته د دُنيا او آخرت تباهي ده

(۳۱) ((قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِيءِ وَلٰكِنَّ الْوَاصِلَ الَّذِي إِذَا قُطِعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا))(رواه البخاري)، **ترجمه** رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمايلوچه هغه کس صِله رحمي کوونکې ندې څوك چه سروبر معامله کوونکې وی صِله رحمي کوونکی هغه دې چه دنورو په قطع رحمي کې دې ورسره صِله رحمي کوی

**نکته** ښه صله رحمي داده چه څوك در سره خپلولي نکوي او ته دالله تعالى درضاء لپاره ښه سلوك ورسره كوې

۳۲، ,,عَنْ اَبِي سَعِيد الْخُدْرِيْ قال قال رَسُولُ اللّٰه صلّى اللّٰهُ عليه وسلّم خصلتان لا تجتمعان في مُؤمِنِ الْبُخْلُ وَسُوءُ الْخُلُقِ،،. ،رواه الترمذي، . **ترجمه** دحضرت ابو سعيد خدري رضى الله تعالى عنه نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاداوفرمايلو چه دوه خوبونه داسې دى چه هغه ،دواړه، مؤمن کې جمع كيدې نشي يو بخل دې اودويم بد اخلاقي ده

**نکته** دمؤمن شان سره دغه دوه عيبونه مناسب ندى كه چاكې وى پكار دى چه زر ترزره بې دخان څخه لرې کړى

۳۳، ,,قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلٌ لِمَنْ يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ وَيْلٌ لَهُ وَيْلٌ لَهُ،،. ،رواه الترمذي، . **ترجمه** رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمايلو خرابى اوبربادى ده دهغه سړى چه دخلقو دخندولو دپاره دروغ خبرې جوړوى، خرابى ده هغه دپاره ، خرابى اوهلاكت دې هغه دپار

**نکته** پدې حديث شريف کې دمحفلونو ښائسته كولو په دروغو باندى سخت وعيد ذكر شو اودغه كسانو ته تنبيه وركړې شوه

۳۴، ,,عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قال قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسَحَّرُوا فَإِنَّ فِي السَّحُورِ بَرَكَةً،،. ،رواه البخاري، . **ترجمه** دحضرت انس رضى الله تعالى عنه نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمايلو خلقوته پيشمني كوئ خكه چه په پيشمنى خوړلو کې بركت دې

**نکته** يو خو د يهودو دروژې سره فرق حاصليږى اوبل ورځ ډيره ښه تيريږى

۳۵ _ ,,عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ يَقُولُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ نَمَّامٌ،،. ،متفق عليه، **ترجمه** دحضرت حذيفه رضى الله تعالى عنه نه روايت دې فرمايي چه ما درسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلى دى چه هغه فرمايل چه چغل خوربه جنت ته نه ننوځي

**نکته** چغلی سړي د جنت څخه محروم کوی او د خلقو په مینځ کې بدبین کیږی

۳۶ ـ ،،عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ تعالی عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ،،. ،رواه البخاری،. **ترجمه** دحضرت سهل رضی الله تعالی عنه نه روایت دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل که سوك ما ته دخپلې ژبې او شرمگاه دحفاظت ضمانت راکړی نو زه به هغوئ لپاره جنت ضمانت وکړم

**نکته** اصلا به انسان کې دغه دوه کمزوری اندامونه دی خو دشیطان دحملې خایونه م دی چه څوك بې د شیطان دحملې څخه بچ کړی نو جنت ته به خی

۳۷ ـ ،،عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ تعالی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الإِيمَانِ،، ،رواه ابوداؤد،. **ترجمه** دحضرت ابوامامة رضی الله تعالی عنه نه روایت دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمایلو چه ساده ژوند تیرول د ایمان نښه ده

**نکته** یعنی په ساده حالت کې ژوند تیرول دمؤمنانو صفت دي څوك چه دآخرت ښانیسته کولو په فکر کې وی دنیاوی ښائستونو سره یې دل کښی نوی

۳۸ ـ ،،عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْكَعْبِيِّ رَضِيَ اللهُ تعالی عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ،،. ،متفق علیه،. **ترجمه** دحضرت ابی شریح رضی الله تعالی عنه نه روایت دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك اوفرمایلو کوم خلق چه په الله تعالی اوپه آخرت ایمان لری هغوئ ته پکار دی چه دخپلو میلمنو خاطر داری وکړی

**نکته** مهمان نوازی اومیلمستیا دایمان تاقضاء ده

۳۹ ـ ،،عَنْ حَارِثَةَ ابْنِ وَهْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ الْجَوَّاظُ وَلاَ الْجَعْظَرِيُّ،،. ،رواه ابوداؤد،. **ترجمه** دحضرت حارثه رضی الله تعالی عنه نه روایت دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاداوفرمایلو چه متکبر سړی به جنت ته نه خی اونه هغه سړی چه ددروغو لافې وهی

**نکته** : جواظ هغه متکبر بدمعاش بدکار اوجمع کوونکی دمال اوبخل کوونکی ته وایی ، اوجعظری هغه سړی ته وایی چه هیڅ ورسره نوی ددروغو دعوی کوی چه دقارون په شان خزانې لرم ،دغه دعوی یوازې دولت پورې مخصوص نده د زهد ، تقوی اوعلم په دنیا کې هم متکبز او ددروغو دعوی کوونکی بیاموندې شي.

۴۰ ـ ((عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰـهُ عَلَيْـهِ وَسَلَّمَ حُفَّتْ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ وَحُفَّتْ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ)). (متفق علیه). **ترجمه** : دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك اوفرمایلو چه : دجهنم لذتونه اودنفس خواهشونه سره تړلی دی او دجنت په سختی اومشقتونو کې دې

**نکته** : مطلب دا چه کوم سړې خپل نفس پسی ځی او دُنیاوی لذتونو کې غرق وی هغه به دوزخ ته ځی اوڅوك چه خپل نفس سره مجاهده وکړی اونفس ته شکست ورکړی اوهرمشقت دالله تعالی دپاره برداشت کړی نو دجنت آرام او راحت به بیا مومی

په آخرکې باید ووایو چه دمسلمانانو دمسؤلیتونو په لړکې ډیر ستر مسؤولیت امر بالمعروف اونهی عن المنکر دې یعنې په نیکیو امر اوله بدیو نه منع کول دی ، دنبی آخرزمان صلیٰ الله علیه وسلم له وفات نه وروسته دنبوت دروازه دتل لپاره تړل شویده او ترقیامته پورې دغه دور محمدی دوردې نو نورو ته دهغه دراوړی پیغام رسول، دټولنې اصلاح دنیکیو تعمیم اوبدیو مخنیوې د نورو ټولومفکورو له منځه وړل او داسلامی نظام نافذول دمسلمانانو دغاړې فریضه ده، پدې وجه اسلامی خدمت که قولی وی که عملی وی که تحریری وی دخپلې وسی موافق ترسره کړی نو ماهم دغه تحریر تحفه خپلو مسلمانانو ورونو ته خصوصاً علماء کرامو اوطلباء عظاموته پیش کړه، هیله مند یم چه دزړه له کومی څخه یی رانه قبوله کړی او ځما لپاره دخیر اوبرکت دعاء وکړی

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی آله واصحابه وسلم اجمعین.

★★★

ستا دښائست ګلونه ډير دي
چولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه

★★★

زه رحمن حلقه بګوش دهر عالم يم
که اعلى دې که اوسط دې که ادنى
چه مرده يې له نفسه ژوندې کيږي
عالمان دي واړه هسې اولياء
په مجلس دعالمانو به سره زرشي
که خوک کاني وي يابوټي دصحراء
هر سړې چه رتبه نلري دعلم
سړي ندې خالي نقش دې ګويا

★★★

مراد ما نصيحت بود وکردم حوالت با خدا کردم ورفتم

★★★

## دمؤلف اعتذار

دالله تعالى په فضل اوکرم سره معراج الواعظين کتاب په سنه (۱۳۷۴ هجري قمري) کی دذی الحجې په مياشت ددوشنبې په ورځ کې اختتام ته ورسيدلو. الله پاک دې زمونږ اوزمونږه دوالدينو او اسناذانو او اولاد اوټولو لوستونکی او اوريدنکی

ددې کتاب معراج الواعظین نه په دواړه جهانه فیض یاب کړې، آمین یارب العالمین

﴿رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾

اللهم اغفرلکاتبه ولوالدیه ولمؤلفه ولاساتذته ولمن سعی ونظر فیه والناس اجمعین، آمین ثم آمین یا ارحم الراحمین

وصلی الله تعالیٰ علی خیر خلقه محمد وعلی آله واصحابه وسلم اجمعین برحمتك یا ارحم الراحمین

تألیف : الحاج مولوی گل رحمٰن حقانی فاضل دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

ناشر

مکتبه فاروقیه محله جنگی پشاور

فون نمبر : ۲۲۱۷۱۸۱

موبایل : ۰۳۰۰۹۰۰۷۵۵۰

کمپوزنگ طالب الدعاء حافظ محمدولی بغلانی

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner




آفس 224 ... پشاور
091-2580006

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner